اِمدادُ الفتاویٰ

پښتو

جلد ۱

حکیم الامت مجدد الملت حضرت مولانا
اشرف علی تهانوی قدس سرہ

کتاب الطهارة

کتاب الصلوٰة

بترتیب جدید
حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمة الله علیه
بانی جامعه دار العلوم کراچی و مفتی اعظم پاکستان

مترجم
مولانا زاهد الله شاه حقانی

مکتبة الحرم
[illegible]
0300-9395918
0306-7916539

اِمدادُالفتاویٰ

پښتو

۱

حکیم الامت مجدد الملت حضرت مولانا

اشرف علی تھانوی قدس سرہ

بترتیب جدید

حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمۃ اللہ علیہ
بانی جامعہ دارالعلوم کراچی ومفتی اعظم پاکستان

مترجم

مولانا زاھد اللہ شاہ حقانی

مکتبۃ الحرم
قصہ خوانی بازار محلہ جنگی پشاور
اکوڑہ خٹک نوشہرہ
0300-9395919
0306-7616569

کتاب پیژندنه...... 

دکتاب نوم: امدادالفتاوی
دمصنف نوم: اشرف علی تهانوی رحمه الله
دمترجم نوم: مولانازاهدالله شاه (حقانی)
کمپوزر: قاری روح الله (صافی)
دیزاین: مولوی محمدبشیر (طیب خیل)
تهیه وترتیب: صافی کمپوزنگ سنټرمحله جنګی پشاور #-0312- 9885005
:Emil Hedayatullha.safi@yahoo.com
ناشر: مکتبة الحرم
مدیرمکتبه: طالب العلم فضل الرحمن حیدری اوحافظ عین الدین ابراهیمی
دچاپ ځای...... اعراف پرنټرز نډیم ټریډ سنټر محله جنګی پیښور

عرض ناشر

زماله ټولو علماء کراموطلباء عزامواو عامو کتونکوڅخه هیله اوتمناده کچیری دی کتاب کښی کومه لفظی اویانوره غلطی وی دابه زمونږ څخه سهواً شوی وی تاسی داغلطی مونږته په ګوته کړی ترڅوی پوری په آینده کښی داتکرارنشی اواجربه تې انشاء الله تعالی الله جل جلاله درکوی والسلام

درابطی نمبر 0306 -7616569 #0300 - 9395919

دامدادالفتاوی داول جلددمضامینوفهرست

Maktaba Tul Ishaat.com

بسم اللہ الرحمن الرحیم

بعدالحمدلاهله والصلوة على اهلهادامجموعه ده دبعضى فتواگانو چه احقر وقتاً فوقتاًپه مختلفو سوالونو باندى ليكلى دى دكوم چه داحوالوپه اعتبارکمى اوزياتى دنظرددغه احقردرى حصى جدا جدا وى يوه هغه چه دطالب علمى په زمانه په ديوبند كى داستاذى حضرت مولنامحمد يعقوب صاحب په امرليكل شوى ۆ. اوكوم باندى چه تقريباداستاذكل حضرت مولناقدس سره تصحيح هم وه اودازمانه ۱۳۰۱ پورى ده. دوهمه هغه كومه چه دمدرسى زمانه په كانپوركى مى ليكلى وه .دغه وخت چه دكوم محقق صحبت نه ۆ، اودعوامودحالت تجربه هم كمه وه .اوداوخت د۱۳۱۵ھ اوايلوپورى ده دريمه هغه چه په وطن كى دقيام په وخت كى ليكل شوى كله چه كله كله شرف دصحبت دمقدام المحققين حجة الله على العالمين حضرت مولنا رشيد احمد گنگوهى صاحب سره مشرف شوى وم،اودعوامودحالت تجربه هم زياته لوړه شوى وه ، اگركه ددغودرى واړوحصوشان سره ممتازكيدل ددى مقتضى ۆچه جدادى جداپاتى وى ،مگرددى په خاطرچه دهغوترتيب دحوادثوموافق ۆپه ابواب ابواب باندى هغه مرتب نه شو،اوعام رغبت اوسهولت دنوم په تبويب كى ليدل شوى لهذاداشاعت په وخت كى دهغوباباً باباًمرتب كول مناسب معلوم شو اودزمانى ترتيب اكثرخاى خپله دتاريخ اوسنى نه معلوميږى چه دخرابونويه اخيركى مرقوم ده اودنظرثانى اويادتجربى قلت سره په كومومضامينوكى څه كمبودۆ،ددى تدارك دترتيب په وخت نظرثانى كولوسره دضرورت په اندازه وكولى شو،اودسهوليت لپاره دهغه څلورجلدونه شول په اول جلدكى دغه مضامين دى طهارت صلوة، تجويداوقرات جنائز،زكوة،صدقه، صوم،اعتكاف،حج،په دوهم جلدكى دامضامين دى ،نكاح رضاعت،طلاق ،حضانت ،نفقه ، حدود ، ايمان ،نذور ،وقف ذبائح ،اضحيه ،حظر واباحت ، په دريم جلدكى دامضامين دى بيع ربوا ،كفالت ،حواله ،وديعت ،عاريت ،اجاره ، دعوى قضاء ،شهادت، غصب، شفعه ،رهن ،هبه ،شركت،قسمت ، مزارعت ،لقطه، وصيت فرائض، مسائل شتى ،مسائل طاعون ، په څلورم جلدكى دامضامين دى مايتعلق بالتفسير ،مايتعلق بالحديث سلوك ،رويا ،بدعات ، تقليد ،عقائداوكلام مناظره باطله ،البحث على الفد.. الحديدة،رساله خطاب الندوة مع مكاتيب كالج على گړه،ددغى مجموعى متعلق دغه اموقابل تذكره دى (۱) دا مجموعه د۱۳۲۵ھ دختم پورى مسايل دى اوابتداء د۱۳۲۲ھ نه ..قلاجمع كولى شى دهغويه نسبت چه كوم حق تعالى نه منظورشوى (۲) په دغى مذكوره مو..ى كى چه څومره مسايل ليكل شوى دى دا دټولومجموعه نه ده ،بلكه بعضى په كوم وجه باندى نقل نشى كولى بعضى غيرضرورى گڼلوسره قصداندى نقل شوى

اوداسى هم په كثرت سره دى خصوصاً زمانه دقيام كانپورخوابونه خوتقريباكل په مدرسه جامع العلوم كى محفوظ دى ،(۳) ددينه مخكى دهغه بعضى اجزاء بلاترتيب ابواب دوه حصى كولوسره شائع كولى شوى دى،كوم چه په فتاوى اشرفيه كى داولى حصى اودوهمى حصى په نوم،سره مشهورى دى هغه دواړه حصى هم په دى مجموعه كى موجودى دى مگردهغه مضامين په دى كى دتبويب په وجه منتشرشوى دى ،(۴) په دى خاطر په اول نوم سره چه بعضى دوستانواينبودلى ۆداخستلوپه وخت كى هم اواوريدلوپه وخت كى هم ماته خجالت وى لهذاددى مجموعى نوم مى دخپل مرشدعليه الرحمة په مبارک نوم باندى امدادالفتاوى كيښود، كوم چه په لغوى يعنى معنى اعتبارسره هم مناسب كيدل ظاهرگرخوم اويه دى خاطرچه دهغه دوه حصى په بل نوم سره شائع شوى دى دكوم نه وروسته دهمدى نوم دآينده حصوته دخلكوانتظارۆمحض ددى پتى لگولود مصلحت سره چه دانوى كتاب ونه گڼى ،په دغه نوى نوم سره په قاعده دترجيح العقل على الطبع دمعروف لفظ په فتاوى اشرفيه باندى اضافه كول مناسب گڼم، اودغه مناسبوالى هغه وخته پورى محدود ده هركله چه ددغه نوى نوم شهرت ونه شى، اودشيوع نه بعدددى مابعدحصولپاره دكوم چه ابتداء د ۲۲كال مسايلونه كولى شى په نوى باندى صرف نوم ليكلوباندى اكتفاء كول خوښوم (۵) په دى خاطرچه احقرته ډيركم فرصت وى هره مسئله دهغى مناسب باب كى وضع اونقل كولوكار دبعضى احبابونه اخستل لازم شول په كوم كى چه بعض مسائل په داسى بعضى بابونوكى موضوع شول چه دهغويه نسبت نوروابوابوسره زيات الصق اواوفق ول، په دى خاطر چه دمبيضه ددرست كيدونه بعددهغواطلاع وشوه دغه وخت دهغويه تغيراوتبديل كى عظيم حرج ۆدليكلوهم دوخت هم دصرف هم،لهذاپه خپل حال پريښودى شوه اوپه بعض بعض خايونوكى چه خيال راغى په حاشيه كى الصفية المذكوره په طرف اشاره هم كړيده چه په مكرره طبع كى په كارراخى (۶) كه كومه مسئله كى غلطى معلومه شى مولف ته دى اطلاع وركولى شى همداشان دمحققوعلماؤپه مددسره داصلاح اختيارهم شته اوكه كوم مضمون داكابروتحقيقاتونه خلاف وى نوترجيح دى داكابروقول ته وى (الثادرامانشاءالله) اوكه همداسى دوو مسئلوكى تعارض پيداشى نومتاخرالتاريخ ته چه دخوابونويه ختم كى په اكثرو مقاماتوكى تاريخ پيداكيږى راجح گڼل كيږى اوكوم خاى كى چه تاريخ نه وى علماؤته دى مراجعت كولى شى (۷) كوم مضمون چه دكوم عامى دقوت فهم نه خارج وى دهغه مطالعه ترک كړى اوكه دفهم نه خارج نه وى مگرپه كوم عارض سره اغلاق پيداشى دعلماؤنه دى حل كړى شى په خپلى راى باندى دهغه په حل كولوكى اعتمادمه كوى دټولوپه آخركى دټولومتفعينواوكتونكونه دحسن قبول اوحسن توفيق اوحسن خاتمه دعاء غواړم. زبره اشرف على التهانوى لمنتصف ربيع الاول ۱۳۲۷ھ

بسم الله الرحمن الرحیم

اللهم لاسهل الاما جعلته سهلاً:

کتاب الطهارة

فصل فی الوضوٴ ونواقضه:

دبنځولپاره دمسواک حکم:

سوال: (۱) په زیوربهشتی کې ئې دبنځولپاره په او داسه کې مسواک سنت کېدل هم لیکلی دی پداسې حال کې چه فقهاء علک (ژاولې) دبنځولپاره دمسواک قائم مقام لیکې لکن دنارینه ود تخصیص لپاره هیڅ دلیل نه پاتې کېږی .لکه چه په احادیثوکې ترغیب اوفضیلت تول بیان شوی دی دخپل عالی رایې څخه مونږ خبرو فرمایې ؟

جواب: خمایه نزد دمسواک مسنونیت عام دی لاطلاق الدلیل خمایه نزدد ژاولې دقائم مقام کیدومعنی دهغی دجواز اقامت دی نه وجوب داقامت چه مستلزم دنفی دمشروعتیا د مسواک دی لعدم دلیل الوجوب فقط (امداد ج۱ ص۱)

دګیرې دمسح کولواووینځلوحکم:

سوال: (۲) په شرح وقایه کې دی چه فعندابی حنیفة رحمه الله: اما اللحیة ربعهافرض .ددې څه مقصد دی آیادګیری مسح هم فرض ده یا یوازې دسرمسح فرض ده اودګیرې مسح سنت ده ؟

جواب: ئیدې کې داسې تفصیل دی چه که چیری ګیره داسې وه چه دهغی نه دننه دمخ پوستکې ښکاریده نودغه پوستکی وینځل هم فرض دی اوکچیرې پوستکې پټ وونو کومه اندازه چه دمخ دحد اودائره دمخ څخه لاندې ګڼ وی دهغه مسح کول سنت دی اوهغه دائره اواندازه چه دمخ دننه وی چه که دغه ویښته ونیول شی اوبیرې کرای شی نودمخ نه بیرون نه شی نوپدې کې څوروایته دی یو روایت هغه هم دی چه په شرح وقایه کې دی .لاکن صحیح روایت دادی چه دتولووینځل فرض دی .هکذافی الدرالمختارورد المحتار فقط ۱۷ محرم ۱۳۲۴ھ (امداد ج۱ ص۹)

سوال: (۳) په اوداسه کې دګنو ویښتو والاګیرې پوستکې چه هلته ویښته تول دی هغوته اوبه رسول پکا ردی یایوازې په ویښتوباندې مسح کول پکاردی ،اودویښتو دمسح کولولپاره نوی اوبه اخستل پکاردی یاهغه اوبه چه دمخ دوینځلو لپاره اخستل شوی ددغو اوبوڅخه په مخ باندې داچولوڅخه وروسته مسح کول پکاردی ؟

جواب: کوم پوستکې چه دویښتوڅخه ښکاری دهغه وینځل خو فرض دی اوهغه چه نه ښکاری مثلاګیره ګڼه وی پدې کې تفصیل دادی چه کومه ګیره چه دمخ دحددننه دی دهغې وینځل فرض دی اوکومه چه لاندې دی دهغې وینځل فرض نه دی بلکه اولی دی ،فی الدرالمختار وغسل جمیع اللحیة فرض یعنی عملیاًایضاعلی المذهب الصحیح المفتی به المرجوع الیه وماعداهذه الروایة مرجوع عنه کمافی البدائع ثم لا خلاف ان المسترسل لایجب غسله ولامسحه بل یسن وان الخفیفة التی تری بشرتها یجب غسل ماتحتها کذافی النهر.۷ ربیع الثانی ۱۳۳۷ھ (تتمه خامسه صفحه ۸۳)

داودس نه وروسته داناانزلنالوستل

سوال: (٤) هغوی دزیوربهشتی په لمړی برخه کې لیکلی دی چه داودس څخه وروسته داناانزلناه اودعا لوستل پکاردی ،او ملاعلی قاری لیکې چه ددې ثابتونکې حدیث موضوع دی او ددې لوستل دسنت خلاف دی آیا مونږ کومه ویناقبوله کړواو تاسودکوم صحیح روایت څخه لیکلی دی نو جواب راکړی ؟

جواب: په منیة المصلی کې داناانزلناه لوستل لیکلی دی او دشیهی [۱] خواب دادی چه داسې ندی لیکلی چه ددې لوستل سنت یاثواب دی اوکه ملاعلی قاری خلاف سنت وائی هغه هله چه دی ته کوم څوک سنت ووائی ګڼی څه حرج نشته نو تعارض پاتې نشو کمافی ردالمحتار تحت قوله واما الموضوع فلایجوازالعمل به بحال واما لوکان داخلافی اصل عام فلا مانع منه لالجعله حدیثابل لدخوله تحت الاصل العام اه ج۱ ص۱۳۳فقط والله تعالی اعلم ،۲۰ جمادی الاولی ۱۳۲۴ هجری (امداد اول ص۱۲)

---

[۱] دحضرت مولنامدظلهم العالی خواب دسایل دبیان دصحت دتسیلم په بناده کې اصل حقیقت داده چه نه ملاعلی قاری دی حدیث ته موضوع ویلی اونه یې دی حدیث باندې عمل کولوته خلاف سنت ویلی دی لکه څنګه داخبره دمولناعبدالحی صاحب دکتاب سعایه۔
څخه څرګندیږی لکه چه هغه لیکلی دی وفی الموضوع فی معرفةالموضوع لعلی القاری حدیث من قرافی الفجربالم نشرح والم ترلم یرمد قال السخاوی لااصل له وکذاقراة اناانزلناه عقیب الوضوء لااصل له وهومفوت سنة وازادالسخاوی انه لااصل

دجنازې په اودس دپنځه ګونولمونځونو حکم :

سوال : (۵) دجنازې لپاره نی اودس وکړ آیاپدې اودس فرض کولی شی که کولی نشی نوولی ؟بینواتوجروا؟

جواب : کولی شی ۱۵ذی الحجه ۱۳۲۵ھ امداد ج ا ص ۱۴،

پوازې په ښی لاس باندې داودس کولو حکم :

سوال : (۶)پوازې په ښی لاس باندې بلاعذرداودس تمامول جائزدی اوکه مکروه ؟

جواب : ددې دکراهت په هکله نه کوم روایت په سترګو راغلی اونه درایت ددې موجب معلومیږی بلکه ځینې اندامونه خوپه دواړو لاسونوهم نه وینځل کیږی لکه یدین الی المرفقین اوپه ځینو اندامونو کې تعسردی لکه رجلین اوروایت هم داکتفاء بالجواز تائدونکې دی، فی

له فی المرفوع والافقد ذکره ابوالليث السمرقندی وهوامام جليل واماقوله وهومفوت سنة ای سنة الوضوء وليس له سنة مستقلة کماحققه الغزالی وانمايستحب ان يصلی بعدکل وضوولم يشترط احدفورية مابعدے وينافی قراة سورة وغيرهاه السعاية ص۱۸۳جلد اول لدينه ښکاره شوه چه ددې دموضوع ويلی نسبت ملاعلی قاری ته بيخی غلط دے بلکه علامه سخاوی ددې نسبت خپولام لااصل له ويلی دی هغه هم موضوع ندی ويلی نوملاعلی قاری ددے دقول توجيه کړی اونورو ديته مفوت السنة ويلی دی خلاف السنة می نه دی ويلی ملاعلی قاری ددې خواب ورکړی نو هغه داناانزلناه دقراة حامی دی نه چه مانع ددينه دسائل دبيان غلطی معلوميږی اوس د سعايه واوره فی الحلية سئل عن احاديث ذکرهاابوالليث فی مقدمة فی فضل قراة سورة القدر بعدالوضو لشيخناالحافظ ابن حجرالعسقلانی فاجاب بانه لم يثبت منهاشی عن رسول الله ص لامن قوله ولامن فعله والعلماء يتساهلون فی ذکرالحديث الضعيف والعمل به فی فضائل الاعمال اه ددينه معلومه شوه چه حديث دقراة سورة قدرضعيف دے موضوع ندے اوداهم معلومه شوه چه دعلامه سخاوی ددې قول خنه چه لااصل له ددې دموضوع کيدل ظاهر ندی نوچه داخبره ښکاره شوه نواوس زدے کړه چه شرح دمنيه کې دی ومن الاداب ان يقرابعد الفراغ من الوضوء سورة اناانزلناه مرة اومرتين اوثلاثا کذاتوارث عن السلف وروی فی ذلک اثارلاباس بهافی الفضائل اه اوپه سعايه کې دی وفی المقدمة الغزنوية فی فروع الحنفية ان من المستحبات ان يقرابعد الوضوسورة اناانزلناه ثلث مرات لقوله عليه الصلوة والسلام من قرااناانزلناه علی اثر الوضومرة کتب الله له عبادة خمسين سنة قيام ليلهاوصيام نهارها ومن قراهامرتين اعطاه الله مايعطی الخليل والکليم والحبيب ومن قرائلث مرات يفتح الله له ثمانية ابواب الجنة فيد خلهامن ای باب شاء بلاحساب وعذاب وروی ايضامن قرااناانزلناه علی اثرالوضومرة کتبه الله من الصديقين ومن قراهامرتين کتبه الله من الشهداء ومن قراها ثلث مرات يحشره الله تعالی مع الانبياء انتهی ددې تولوتصيحاتومجموعی ځخه دومره هرو مروثابتيږی چه قراة سورة اناانزلناه بعدالوضوء اولی اوبدې کې داجرامیدشته ګواکې عقيدے سائل به يادشوي ثواب چه په احاديث مذکوره کې دی جائزندے ځکه چه دغه کاربلانقل صاحب وحی نه معلوميږی اودصاحب ځخه ددې ثبوت نشته نوپه زيوربهشتی باندې کومه شبه پاتې نشوه والله اعلم تصحيح الاغلاط ص۳،

الدرالمختارفی الاداب غسل رجليه بيساره فی ردالمحتار عن شرح الشيخ اسمعيل قال يفرغ الماء بيمينه علی رجليه ويغسلهما بيساره اھ ۲۵محرم ۱۳۲۲ هجری تتمه اولی ص۲،

شبه دوتلودڅاڅکې اوبادماتونکې دی اوکنه ؟

سوال : (۷)زیدته کله کله داودس ځخه وروسته په لمانځه او بیرون دلمانځه قطره راځی اوکله دباددوتلو شک وی دذکر ځخه اوکله کله د شک اووهم ځخه دقطری وتل کتل شوی دی خوهیڅ شی لیدل شوی ندی اوس مابه الفرق والامتیازمونږ ته راوښایاست چه څرنګ یقین وکړی شی چه آیادذکرځخه څاڅکې راغلی اوکه بادچه دهغې لامله نیت مات نکړای شی ځکه دڅاڅکې نه خواودس ماتیږی اوکه باد دذکرځخه بهرشی دهغه نه اودس نه ماتیږی اودغه وهم اوشبه کول هم مه کوي، فقط؟

جواب : محض په شبهی سره دی نیت نه ماتوی لمونځ کولو نه فورا وروسته دی وګوری اوکوم ځه چه دلیدلو ځخه ثابت شی دهغه سره سم دعمل وکړای شی فقط ۳ذی الحجه ۱۳۲۹ھ تتمة اولی ص۸،

دزخم دځلی ځخه زوی اونوروتلل :

سوال : (۸)دزيد يوه دانه دی چه هروخت بهيږی اوپه هغې باندې پې پتی اینښی دی اوهغه نوچه پتی کې وی بیرون ندی وتلی په داسې صورت کې اودس پاتې وی اوکنه ؟

جواب : کچیری نودزخم دسرځخه بیرون راوتلی وی اګرچه د پتی دننه وی نواودس ماتیږی لکن دهغه چاچه زخم همیشه بهیږی دمعذورکیدوپه خاطردهغه اودس نه ماتیږی ۲۹ جمادی الاولی ۱۳۳۱ھ تتمة ثانیه ص۳۲،

دمعذورلپاره داودس باقی پاتې کیدوحکم

اوداچه په داسې اودس اداء اوقضاءلمونځ کولی شی :

سوال :(۹) زیددیر قضاپې لمونځونه کوی اودهغه اودس نه دریږی اوهغه داودس دماتیدوبیماری لری اوس هغه په یوه اودس باندې ځلور پنځه لمونځونه یوځای کولی شی اوکنه ؟

جواب :ترڅوچه دیوه لمونځ وخت پاتې وی دهغه اودس به وی په هغه چه څومره قضالمونځونه کول غواړی ودی کړی ۲۹جمادی الاولی ۱۳۳۱ھ تتمة ثانیه ص۳۳،

دغسل په وخت کې دعطرېټې دغوږنه لرې کول:

سوال : (۱۰)که په غوږ باندې دعطرېټې وی نودمسح کولوپه وخت هغه پټې لرې کول اوغوږوکې دګوتونوېستل ضروري دی اوکنه ؟

جواب : فی الدرالمختارسنن الوضوء واذنیه معاوفی ردالمحتارای باطنهمابباطن السبابتین وظاهرهما بباطن الا بهامین قهستانی وفی الدرالمختارمستحبات الوضوء وادخال خنصره المبلولة صماخ اذنیه عند مسحهمادې څخه څرګنده شوه چه کچیرې پټې نی دغوږ نرمې سره اینبودلې وی نودمسح په وخت دهغې لرې کول سنت دی اوکه په سورې باندې اینبودل شوی وی دهغې لرې کول مستحب دی (۹شعبان ۱۳۳۱هـ تتمة ثانیه ص۲۳)

دعذرپه وخت دګس لاس څخه کار اخستل:

سوال :(۱۱) دیوه سړی لاس داسې دی چه ټول کارونه پرې کولی شی مګر لاس دمخ پورې نه اوچتیږی په یوه لاس یعنی ګس لاس مخ پرېمنځی دغوږمسح خویه چپ طرف کولی شی آیادښی غوږمسح هم په ګس لاس وکړی یایوازې دګس غوږمسح د سنتوپه لحاظ ضروري دی اودښی لپاره ساقطونکې ګرځی ؟بینوا توجروا؟

جواب : هوښی غوږدې هم په ګس لاس مسح کړی ۲ذی الحجه ۱۳۳۱ هـ (تتمة ثانیه ص۹۹)

خیره اوخته چه په نوکانوباندې وی داودس اوغسل د صحت مانع ندی:

سوال :(۱۲)کومه خیره چه په نوک کې راټولیږی دهغه په پاکولو سره اودس کیږی اوکنه؟همداشان دبرسات په ورځ په تګ راتګ کې دپښی په نوک کې خته ونښلی اودس په وخت کې خلال سره لرې کول لازمیږی کنه ؟

جواب : ولایمنع الطهارة ونیم وحناء ودرن ووسخ وکذادهن و دسومة وتراب وطین ولولو ظفرمطلقاای قرویااومدنیافی الا صح درمختاربحث الغسل ددینه څرګنده شوه چه بې له پاکولو څخه اودس کیږی دپاکولوضرورت نشته دی فقط یکم محرم ورځ جمعه ۱۳۳۳هـ (تتمه ثالث ص۵)

دکته یادکومی بلې دوا سره بهیدونکې وینه کچیرې پټه وی څه اعتبارنلری:

سوال :(۱۳)که داسې دانه اوچاود باندې چونه ولګول شی باپان سره بله دوا چه په اوبوونی سترګی ونه لګی اوبه هغه اودس وکړی اولمونځ وکړی نوصحیح دی اوکنه ؟

جواب :فی الدرالمختارلومسح الدم کلماخرج ولوترکه لسال نقض والالاوفی ردالمحتاروکذااذاوضع علیه قطنة او شیئاً آخرحتی ینشف ثم وضعه ثانیاوثالثافانه یجمع جمیع ما نشف الخ ج۱ص۱۴۰ ددینه معلومه شوه چه سترګی نه لګیدل بس ندی، که هغه نه دریږی اوبهیږی مګرد چونی اونور په سبب په سترګونه راځی نودهغه حکم دبهیدلوپه شان دی ۴ ربیع الاول ۱۳۳۳هـ (تتمة ثالث ص۲۳)

یوازې څلورمه برخه سرمسح کول عادت جوړول مکروه دی اولمونځ هم مکروه دی:

سوال :(۱۴)هغه سړی چه تل په اودس کې په څلورمه حصه سر مسح کولوباندې بسیاکوی اوکله هم دټول سره مسح نه کوی د هغه په اودس کې څه نقصان شته اوکنه ؟اوکه وی نودانقصان دلمانځه پورې رسیږی اوکنه یوازې دی اودس پورې به وی ؟

جواب :دی تارک سنت دی ددې دلمانځه پورې دااثروی چه ددې صحت اختلافی ګرځی دوهمه داچه ددې سنت دپرېښودو څخه په طهارت کې نقصان راځی چه په خپلې جزیاتوکې امامت مکروه بلل شوی ،کما فی ردالمحتارولعدم امکان الطهارةایضاًفی المفلوج والاقطع والمجبوب الخ ص۵۸۷ج۱ ، والله اعلم -۲۹جمادی الثانی ۱۳۳۳هـ (تتمه ثالث ص۴۵)

دسردمسح کولولپاره نوی اوبه اخستل:

سوال :(۱۵)داودس په حالت کې دځنګلوپورې دلاسونو د وینځلو څخه وروسته همدغه اوبه دسردمسح لپاره کافی دی اویاعلیحدی نوری اوبه اخستل اومسحه کول پکار دی ؟

جواب : پدې کې اختلاف دی :کمافی الدرالمختار اوبلل باق بعد غسل علی المشهوروفی ردالمحتار قوله علی المشهور مقابلة قول الحاکم بالمنع الی قوله لم یجزالاجماء جدیدلانه قد تطهربه مرةاه واقره فی النهرج۱ص۱۰۲ ، ۲ذیقعدی ۱۳۳۳هـ (تتمه ثالث ص۹۵)

دزخم (تپ) دپټۍ لاندې چه کوم نوګ (زوی)

وی هغه داودس ماتونکې دی اوکنه دتعارض ځواب :

سوال :(۱۶) (۲) په تتمۀ ثانیه ص۳۲امدادالفتاوی کې داودس ارقام شته اوکنه دتعارض ځواب دی دزید یوزخم دی چه هروخت بهیږی اود هغه په سرپټۍ لګیدلی دی دغه نوګ په همدغې پټۍ کې اوسیږی بیرون نه راووځی نودې صورت کې اودس وی اوکنه

جواب : چیری دزخم دسرځخه نوبیرون راځی،اودس ماتیږی اګرکه دپټۍ لاندې وی الخ حضرته! دلاندې عبارتونوځخه په دی صورت کې د اودس ماتیدل نه ثابتیږی په عین الهدایه ترجمه دهدایه کې راغلی که زخم ونوهغه وتړی نوتړل شوی لوند شو کچیری لوندوالی بیرون اړخ ته ښکاره شی نواودس مات شو ګنی نه ماتیږی ،تاتارخانیه په دوم ځای دعین الهدایه د اودس ماتونکو په باب کې راغلی که زخم وتړی نودتړلو سره سره لوند والی ښکاره شی نواودس مات شوالخ اوپه فتاوای هندیه ترجمه دعالمګیریة باب المسح علی الخفین کې راغلی:که چا زخم وتاړه اوهغه تړونکې لوندشی اودغه لوندوالی تربیرونه راشی نواودس ماتیږی ګنی نه ماتیږی،غرض داعرض دی چه که کوم رګ خلاص وی اوپه هغه پټۍ وتړل شی نوکه دغه زخم نه وینه لاړه شی لکن دپټۍ ځخه بیرون نه شی نواودس مات شو اوکنه؟ اود عالی مقام دفتوی اومذکوره عبارتونوپه خپل مینځ کې تعارض شته اوکنه اصلاح وفرمایې اوحق ځه دی ؟

جواب :دغه عبارتونه دپټۍ دتړلوپه باب کې دی چه هغه کې دغه احتمال بیخی نشته چه رطوبت دزخم نه لاړشی اوبیرون ښکاره نه شی اودتتمه ځواب دِ کیږی په باب کې دي چه هغه کې دغه احتمال شته چه دزخم ځخه رطوبت وخوځیږی اوبهر ښکاره نه شو. جمادی الاخری ۱۳۳۲ھ (تتمۀ خامسه ص۵۷)

دپلتۍ په شان ناستې حالت کې که ویده شی نواودس ماتیږی :

سوال :(۱۷) په پلتۍ وهلوسره خوب راغی نواودس له مینځه نه ځی اوپه دی اودس ذکربالمونځ کول روا کیږی ؟

جواب :فی العالمګیریة نواقض الوضوءوان نام متربعالا ینقض الوضوء ددې روایت ځخه معلومه شوه چه پدې صورت کې اودس نه ماتیږی - ۲شوال ۱۳۳۲ھ (تتمه خامسه ص۲۲)

سوال : (۱۸)په پلتۍ ناستې سره که ځودقیقی خوب راشی نو اودس باقی پاتې کیږی اوکنه ؟

جواب : باقی پاتې کیږی،فی العالمګیریة عن الخلاصة وان نام متربعالاینقض الوضوءوکذاالونام متورکابان یبسط قدمیه من جانب ویلصق الیته بالارض اھ.۵رجب ۱۳۴۲ھجری (تتمه خامسه ص۲۲۹)

دقبرپه سرداودس کولوحکم

سوال : (۱۹) په یوه مسجدکې دمسجددصحن ځخه علیحده یو پوخ قبر جوړشوی اودغه وخت دغه قبریوازی په چونه په ښنه شوی باقی فرش هواردی ددې قبرمخی ته دلوړوالی ترځنګ د یوال دی اودغه دیوال ځه مسافه کې دی اوداودس کولوځپاره دی نوکه زیدقبلې ته مخ واړه وی او په دی دیوال کینی اواودس کوی نوداودس ځه لګی اوبه ددغه دښنې په طرف الوتړسره ورځی نوداسې حالت کې پدې ځای باندې دزید اودس کول جائزدی اوکنه ؟

جواب : عن عائشة ان رسول الله ﷺ قال کسرعظم المیت کسره حیارواه مالک وابوداؤدوابن ماجة (مشکوة) اخرالفصل الثانی من باب دفن المیت قال الطیبی اشارة الی انه لایهان المیت کمالایهان الحی(حاشیه)وعن عمرو بن حزم قال رآنی النبی ﷺ متکئاعلی قبر فقال لاتوذصاحب هذالقبرولایوذه رواه احمد(مشکوة) قال الحافظ فی الفتح ای لاقمنه اخ (حاشیه تنقیح الرواة) ددې روایتونواوددغود درایتونو ځخه معلومیږی چه کومه معامله د چاسره په ژوندکې موذی اومکروه دی دمرګ نه وروسته هم همدغه حکم دی،اوښکاره ده که دکوم ژوندی شخص په سرکی کښینی داسې اودس وکړی چه په هغه ځاځکې ورشی نوهغه د ئ ته متضررکیږی اودسپکای موجب ګڼل کیږی نودقبر ساتل هم ددینه ضروری دی - البته که ښنه هم نه وی نوبیا کوم حرج نشته ۲۰ذی القعدی ۱۳۳۸ھ (تتمۀ خامسه ص۱۹۲)

دغاړی دمسح کولوحکم :

سوال : (۲۰) ځرنګه چه دمسح کولوپه وخت په سرباندې لاس راکش کول کیږی،لاس دغاړی طرف دوړلوپه وخت هم دغاړی مسح دوکولی شی یعنی په تندی باندې لاس ایښودوسره چه د غاړی په طرف راغوندولو سره په ټول سرراداراک کولوسره یو ځای په غاړه باندې په همدې وخت کښی راکش کولی همغه شان چه دابوداوددحدیث : مدهماالی القفا - مفهوم معلومیږی پدې طریقه مسحه کول غوره دی یادلاسونوپه شا ګانو سره د غاړی مسحه کول مستحب دی صحیح مطلب اومفهوم د مذکورحدیث ځنګه دی ؟

جواب : ددینه مستحب نه اداکیږي بوخوترتیب رانغی دوم په ظهرید سره ونشوه اودبظهرید۔ قیددفقه په کتابونودرمختارو غیره کي ښکاره دی اودحدیث مطلب ښکاره دی چه هغه کي د څټ مسح رانغلی ده چه دسر بوه برخه ده اورقبه ترې نه بهردی نو ددې څخه دمسح رقبې څخه هیڅ شی مسح ندی اوکه داعموم فرض کړای شی نود- بلوغ قذال – یا مدالی القفا بمعنی الرقبة – څخه دانه لازمیږی چه داقصداوبلکه په استیعاب راس کښې ددې مس کول هم دی اوکه مس قصداومنل شی نو کیدای شی چه په بیان جوازباندې حمل کړای شی اوددینه دمستحب اداکیدل لازم نه شو ۸رجب ۱۳۴۲ھ (تتمه خامسه ص۲۷۱)

سوال : (۲۱) دیروخت کیږی چه په اودس کښې دغاړې مسحه نه کوم څکه په زادالمعادلابن القیم او مکتوبات شریف دمجدد الف ثانی بدعت لیکلی دی اوپه قاضیخان کي هم په لفظ د قیل سره لیکلی دی، اوس دجناب عالی دحکم منتظریم چه د خان په هکله څه وکړم تاسوچه هرڅه صادرکړی سرته ئې رسوم؟

جواب : اکثرپه استحباب باندې دی اوترک کوی نه. ۸ذی الحجة ۱۳۳۰ھ (تتمة اولی ص ۲۱۲)

په اودس کي داعوذبالله اوبسم الله لوستلوحکم

سوال : (۲۲) په زیوربهشتی کي لیکل شوی چه داودس کولوپه مهال بسم الله ولولی اوزبات رواج دی چه دبسم الله سره اعوذبا الله هم لوستل کیږی خینې خلک وائی چه په اودس کولوکښې داعوذبالله لوستل بدعت دی دصحیح شرعی حکم نه موخبر کړی؟

جواب : ف ردالمختاروقیل الافضل بسم الله الرحمن الرحیم بعد التعوذوف المجتبی یجمع بینهماواه عن الفتح وفی شرح الهدایة للعینی المروی عن رسول الله ﷺ بسم الله والحمدلله رواه الطبرانی فی الصغیرعن ابی هریرة باسناد حسن. ددینه معلومه شوه چه یوقول داهم دی چه دبسم الله او اعوذبالله یوځای کول غوره دی نوکوم څیز ته چه په مذهب کي غوره وویل شی هغه څنګه بدعت کیدی شی، البته دحضوراقدس دالفاظواتباع ډیربرکت کاردی ۱۰جمادی الاول ۱۳۴۳ھ (تتمة خامسه ص۳۲۱)

ماشوم ته شیدی ورکول داودس ماتونکې ندی

سوال : (۲۳) شیدووالاښځه په اوداسه وه اوخپل ماشوم ته ئی شیدی (پی) ورکړی یادهغې څخه شیدی په خپله وبهیدی یاهغه په لمانځه کي وه اوماشوم شیدی ورودلی شیدی ووتلی یاونه وتلی نوددې داودس او لمونځ متعلق څه حکم دی؟

جواب : دشیدو(پی) دورکولوڅخه اودش نه ماتیږی لکن که په لمانځه کي وه اوماشوم شیدی رووی اوشیدی هم ووځی نو لمونځ له مینځه ځی اوکه شیدی ونه وتلی نولمونځ له مینځه نه ځی، فی ردالمحتارعن التاتارخانیة مص صبی ثدیهاوخرج اللبن فسد صلوتهاج۱ص۲۵۳. فقط والله تعالی اعلم ۲۵ محرم ۱۳۲۴ هجری (امدادالفتاوی ج۱ص۲۹)

دقدم څخه پرته وینځل وشونواودس صحیح دی اوکنه؟

سوال : (۲۴) دغه څومسئلی چه بنده لاندنه راوړی دهغې په اړه معلومات راوبښی اوهغه دادی

[۱] پرته دوینځلو دخپوڅخه اودس کیږی اوکنه؟

[۲] دبوټ په سرمسح صحیح دی اوکنه؟اوداهم ضروردی چه هغه په نجس ځای کښې استعمال کولی شی لکه (ټټی) او حمام وغیره باندې اغوستلوسره تلل

[۳] دوربنموپه موزه باندې مسح کول درست دی اوکنه چه کلکه وی

[۴] په بوټ اوټی باندې دمسح کولووجه دادی چه دهغه په ځای باندې هروخت دټوټی اوبوټ دموزی سره په خپو کولوحکم دی اودومره فرصت نشته دی چه هغه کولاوشی اوقدم پرېمنځل شی

[۵] داهیوادهم واورین دی اوډیریخ دی دیروخت خپو وینځلو سره هم تکلیف وی اودوینځلونه بغیرهم سوزش وی

[۶] اودادمسافری وخت دی په هغه کي دتودواوبوانتظام هم نشته

[۷] دومره ضروری وی چه سهاروینځل کیږی اوباقی وخت کي مسح کولی شی

[۸] دپاکي اوناپاکي احتیاط هم ډیرلګ وی صرف دالله حکم. ګڼلوسره لمونځ اداکولی شی

جواب : **اول نمبر**: که دپښوکولولپاره داسې موزی نه وی چه مسح پرې صحیح کیږی نودپښو وینځل فرض دی اودپښو (خپو) دوینځلونه پرته به اودس صحیح نه وی، البته که موزه نه وه اووینځل تاوانی ؤ اود تودواوبو کوم انتظام نه ؤ یاتودی اوبه هم تاوانی وی نومسح یعنی

بهیدو الالاس کشول هم کافی دی فی الدرالمختار وکذایسقط غسله فیمسحه ولوعلی جبیرة والاسقط اصلاوفی ردالمختار وکذایسقط غسله ای غسل الراس من الجنابة ج۱ص۲۲۸،

دوم نمبر: په بوټ باندې مسح کول درست وی چه دبنګرو ځخه بره وی او دهغو نه قدم ښکاره نشی فی الدرالمختار فیجوز علی الزربول وفی ردالمختار ویجوزعلی الجاروق الی قوله والظاهرانه الخف الذی یلبسه الاتراک فی زماننا ج۱ص ۲۲۹، اوکه بوټ پلیت شی نوهغه په خمکه باندې په ښه سولولو یادکوم لرګی یاکودړی وغیره سره په مرلو سره پاکیږی فی الدرالمختار ویطهرخف ونحوه کنعل تنجس بذی جرم هوکل مایری بعدالجفاف ولومن غیرهاکخمروبول اصابه تراب وبه یفتی بدلک یزول به اثرهاوالافیغسل وفی ردالمختارقوله بدلک ای بان یمسحه علی الارض مسحاقویًا(ط) ومثل الدلک الحک والحت علی مافی الجامع الصغیروفی المغرب الحت القشر بالیداوالعود ج۱ص ۲۱۹

دریم نمبر: درنګولوسره داهم شرط دی چه دابی له ترلواوبی له په خپوکولو دبوټو په مزل سره دری خلورمیله وګرځیدی شی اونه وغورځیږی اونه وشلیږی فی الدرالمختاراوجوربین ولومن غزل اوشعر الثخینین بحیث یمشی فرسخاویثبت علی الساق بنفسه الخ وفی ردالمحتار بنفسه ای من غیرشدج۱ ص۲۷۷

څلورم نمبر: ددې خواب په لمبردوم کښې وشواودنمبرپنځم بره په نمبر اول کې تیرشو. اونمبرشپږم بره په نمبراول کې تیرشو

نمبراووم: ددې لپاره چه دغه موده دمسح نه اضافه ندی نوجائزدی مګر دامسح پربوټ باندې کول ضروردی پدې شرط کوم بوټ چه په خپو کوی هغه دمسح ترمهاله کولاو شی اوکه بوټ پرانستل شی او اودس هم مات شی نوپه بوټ باندې به مسح کول جائزنه وی. په همدې ترتیب دبوټ نه پرته په خپو باندې مسح درسته ندی بی له دینه چه وینځل مضروی. تفصیل په نمبراول کښی تیرشوی.

اتم نمبر: دبوټ دپاکولوطریقه [1] په نمبر(۲)کې بیان کړای شوی. ذی القعده ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه ص۱۲۰)

[1] البته که په هغه دمتبازوخاخکې ولګیږی نودغه بدن دوینځلونه بغیرنه پاکیږی کمامرایضا فی نمبر۲-۱۲منه.

فصل فی الغسل

دښځولپاره په غسل کې دوېښتوبېخونه لمدول کافی دی

سوال: (۲۵) کله چه غسل کول فرض وُدغه وخت دښځې وېښته پرانستی وُیاغوټه شول په دی صورت کښی خودوینځلوپه وخت کښی یوازی دبیخونولمدول کافی نه دی اودکوخیو پرانستل واجبیږی همدارنګه دحیض څخه د خلاصیدودغسل په وخت هم دوېښتود بیخونولمدول اود وېښتوهم غالبًاکافی دی ددې غسل اودجنابت د غسل ترمینځ کوم فرق نشته؟

جواب: فی الهدایة ولیس علی المرءة ان تنقض ضفائرهافی الغسل اذابلغ الماءاصول الشعر ددینه دوه کاره معلوم شول یودادی که دغسل په وخت کې وېښته اوبدلی شوی وی نو پرانستل ئی واجب نه دی برابره خبره دی چه دحدث په وخت او بدلی وی اوکنه دوم داچه داحکم دمطلق غسل دی هغه دجنابت غسل وی اوکه دحیض غسل وی ،فقط ،والله اعلم (امداد ج۱ ص۲)

دغسل په وخت کښی دښځې دعورت دظاهری برخې وینځل کافی دی

سوال: (۲۶) دغسل په مهال ښځې خپل مخصوص اندام د ګوتی په واسطه دری ځلی پاکول فرض دی اوکه سنت؟ اوددې طریقې پاکولونه بغیرغسل جائزګڼل کیږی اوکنه؟ځنی حضرات فرمائی:که د غسل کولونه وړاندې مخصوص اندام دګوتی په ذریعه دری ځلی پاک نکړای شی په غسل باندې ناپاکې نه لری کیږی، ددوی دغه فرمودی صحیح دی اوکه غلط؟

جواب: نه فرض دی نه سنت اودیته ضروری ویل غلط دی. فی الدرالمختارولاتدخل اصبعهافی قبلهاوبه یفتی والله اعلم ۱۲شعبان ۱۳۲۱ھ (امداد ج۱ ص۳)

په بدن باندې زخم وی نوغسل وکړی اوکه تیمم؟

سوال: (۲۷) کچیری دچانیمانی لاندنی برخه یاپوازی په ذکر باندې دانی وی اواوبه اچول زیان رسوی نوځنګه غسل وکړی؟ څکه بدن باندې داوبواچولوڅخه هرومروهلته اوبه رسیږی آیاده ته دتیمم کولو اجازه شته اوکنه؟

جواب : په دی صورت کښې تیمم ناجائزدی[1] (امداد اول ص۵)

غسل په ناسته وکړی اوکه په ولاړه ؟

سوال : (۲۸) دنارینه واوښځینه دغسل کولوحکم په اودریدو او ناسته کې یوشان دی اویابیل بیل ؟دحدیث څخه دحضوراقدس ﷺ او حضرت عائشیؓ دناستی غسل کولوفرمایل معلومیږی ؟

جواب :یوشان حکم دی یعنی دواړه روادی،اوپه ناستی به ددې لامله چه استردی ډیرغوره وی،مفسرینودانی شنتم تعمیم په من قیام وقعودسره کړی دی نودغسل حالت دهغه نه آسانه دی (محرم ۱۳۲۳ هجری،امدادج۱ص۷)

که غابونوکې دصفائی پوډراونورداخل کړی شی نودغسل څه حکم دی

سوال : (۲۹) څه فرمائی ددین علماء چه که دوه تولی زنخ اودوه تولی نیل طوطیااوکتهه دوه تولی شینړ ماشی معجون جوړشی چه دغابنونو مرضونو لپاره ډیرمفیددی مګردسکرو په شان توریږی نو ایادغه توروالی د سکرو په شان داودس اوغسل مخل دی ؟

جواب : هغه څیزچه داوبودوصول مانع نه وی هغه دطهارت مخل نه دی همداشان کوم څیزچه مانع وی مګرضرورت وی هغه هم مخل نه دی فی الدرالمختارولایمنع الطهارة ونیم وحناء ولوجرمه به یفتی وفی ردالمحتارقوله به یفتی صرح به فی المنیة عن الذخیرة فی مسئلة الحناء والطین والدرن معللا بالضرورة وفی الدرالمختار ولاطعام بین اسنانه اوفی سنه المجوف به یفتی وقیل ان صلبامنع وهوالاصح وفی ردالمحتارصرح به شرح المنیة وقال لامتناع نفوذ الماء مع عدم الضرورة والحرج نوکه دغه توروالی داوبودرسیدلومانع نه دی لکه څنګه چه غالبه دی نوبنکاره دی چه

[1] اصل په امدادالفتاوی کې دامسئله داسې ده الجواب پدې صورت کې چون داکثربدن غسل متعذردے نولهذا تیمم جائزدے فی الدرالمختارتیمم لواکثره مجروحاوبعکسه یغسل الصحیح ویمسح الجریح وفی ردالمحتارقوله وبعکسه وهومالوکان اکثرالاعضاصحیحاً یغسل الخ لکن اذاکان یمکنه غسل الصحیح بدون اصابة لجریح والاتیمم حلبة فلوکانت الجراحة بظهره مثلاواذاصب سال علیهایکون مافوقهافی حکمهافیضم الیهاکمابحثه الشرنبلالی فی الامدادوقال لم اره وماذکرناه صریح فیه اهـ والله اعلم ۱۲ جمادی الثانیه ۱۳۲۲هـ .

داد غسل مخل نه دی ، اوکه دمخل کیدلواحتمال هم وی نوهم دلته ضرورت شته نو عفوه دی والله تعالی اعلم وعلمه اتم ۱۱ جمادی الاولی ۱۳۲۳هـ (امدادج۱ص۷)

سوال : (۳۰) دنزلی لامله په غابنونوکې دردوی او غابنونوکې فرق وی که کومه دواداسې استعمال کړی چه دغابنونوپه مینځ کې تول شی او داسې راتول شی چه دمسوروپه شان شی اوبیاد غابنونوپه مینځ کې کوم فرق اوکشاده ګی نه وی نوداسې دوا استعمال روادی اوکنه اود جنابت په غسل کې به څوکوم حرج نه وی؟

جواب : که ددې دواپه لرې کولوکې حرج اوسختی وی نود هغی لاندې اوبه رسول ضروری ندی،اودا د غسل مانع نه دی یؤیده جزئیات کثیرة مذکورة فی الدرالمختاربحث الغسل ۲شعبان ۱۳۳۱هـ (تتمه ثانیه ص۲۱)

سوال : (۳۱) کوم خلک چه دپان په خوړلو(رویږدی) عادتیان دی همداشان کومی ښځې چه په کثرت سره مصرفوی دیغوی په غابنونوکې چونه یا ( ) پاتې شوی جمع کیږی چه په آسانی سره نه خلاصیږی نوسوال دادی چه دجنابت دغسل کولوپه وخت ، ددې لامله دهغوی بیخ نه اوبه نه رسیږی ترڅوچه هغه پاک نه کړای شی اودهغه پاکول دکوم تیزڅیز نه بغیرګرول ممکن نه دی ، ددې پاتې شوی پاکول ضروری دی اوددې دپاکولوڅخه پرته غسل صحیح کیږی اوکنه؟ دزیوربهشتی اوله برخه کې چه طبع کړی دغسل دبیان په وروستی صفحه کې دامسئله درج ده ، مسئله که دپوستکې راټولی شی دهغې دپاکولواو غرغره ونشی نوغسل نه کیږی ، دامسئله صحیح دی اوکنه ؟که صحیح دی نوپه دی باندې دچونی پاتې هم قیاس کیدای شی او کنه؟

جواب :دامسئله صحیح دی خوپه دی کې یوقیدشته اوهغه داچه په آسانی سره پاکول ممکن وی ګنی که په پاکولوکښې سختی وی نود پاکولو نه بغیردرست دی فی الدرالمختارولا یمنع الطهارة ونیم ای خرءذباب وبرغوث لم یصل الماء تحته وحناء ولوجرمه وبه یفتی فی ردالمحتار صرح به فی المنیة عن الذخیرة فی مسئلة الحناء والطین والدرن معللا بالضرورة الی قوله فالاظهر التعلیل بالضرورة ج۱ص ۲۲۳، نوپه چونه کې همداتفصیل دی چه که په آسانی سره چونه لرې کیدای شی نولرې کول واجب دی ګنی معاف دی ۱۹ صفر ۱۳۴۳هـ (تتمة خامسه ۲۳۲)

دغسل نه وروسته دمنی دوتلو حکم :

سوال : (۳۲) زه دورځی ددولسوبجودآرام خوب کې ووم چه ناڅا په څما سترګی پرانستل شوی ومی لیدل چه غسل ته می حاجت شته، غسل کولوسره می دماسپښنین لمونځ وکړبیاکله چه می متیازی وکړی نو منی راغی ماته سودا راغله چه آیاما جماعت په جنابت سره کړی اوس ډیر پریشانه یم

جواب : فی ردالمحتاروکذالوخرج منه بقیة المنی بعدا لغسل قبل النوم اوالبول اوالمشی الکثیر(هی) ای لابعده لان النوم والبول المشی یقطع مادة الزائل عن مکانه بشهوة فیکون الثانی زائلاعن مکانه بلا شهوة فلایجب الغسل اتفاقازیلعی . ددې روایت څخه ثابته شوه چه مسئوله صورت کې کله چه د احتلام څخه وروسته [1] متیازی شوی دی نو دغسل څخه وروسته چه کوم منی لاړشی دهغې څخه دوم خل غسل واجب نشواولیتی غسل صحیح دی اولمونځ وغیره تول صحیح دی هیڅ وسوسه اواندیښنه نه دی کول پکار. اول ربیع الثانی سنه ۱۳۲۴ ھ (امداد ج ۱ ص ۹)

سوال : (۳۳) کوم شخص دخپلې ښځې سره ملاسته وکړه او متیازی او غیره ئی هم وکړلی بیائی بنه غسل وکړ کله ئی په لمانځه شروع کړله نودمذی یادمنی څاڅکې راغی اوس نوهغه بیاغسل وکړی اوکنه ؟

جواب : که په دغه وخت کې اندام منتشرنه وی نودوهم خل غسل واجب نه دی، اوکه منتشروو اوشوق هم ؤنوغسل واجبیږی (فی الخانیة خرج منی بعدالبول وذکره منتشرلزمه الغسل قال فی البحرومحمله ان وجدالشهوة وهوتقییدقولهم بعدم الغسل بخروجه بعدالبول وفی ردالمحتارای فیقال ان عدم وجوب الغسل بخروجه بعدالبول اتفاقا اذالم یکن ذکره منتشر افلومنتشرالوجب لانه

[1] داحقرمجیب په ذهن کې ترتیب غلط یادشوی چه دمتیازوڅخه وروسته ئې غسل کړی دے په داسې حال کې چه په سوال کې راغلی چه غسل نه وروسته ئې متیازی کړی دی دهغدی لامله خواب په دی ډول ورکول شوی دی نواوس دسوال موافق خواب دادے چه هغه لمونځ خو وشوځکه خروج وروسته وشو. دغسل څخه وروسته چه کوم منی راغلی دی په دی کې د انفصیل دے چه که منی کثیرددینه وراندې پیښ شوی وی نوبیادغسل کول واجب نه دے گنی واجب دے ددې سوال سائل معلوم ندے که سائل دغه مسئله وګوری نوصحیح خواب په پوهیدو سره دی یادکړی که دقاعدی څخه بیاغسل واجبیږی نوخومره لمونځونه چه ددې څخه وروسته اداء شوی هغه دی اعاده کړی اوخومره لمونځ کونکې چه لمونځ کړی هغه یادکړی او لمونځ کونکوته دی اطلاع ورکړی اوکوم چه یادندی هغه معاف دی بیادهم بودوه خله په اجتماع کې اعلان کړی اودغه اعاده ترهغه پورې دلمونځونوبه وی ترڅوچه ددینه وروسته فرض غسل یاسنت غسل نه وی کړی اوددینه وروسته دلمونځونواعادے نشته ۱۲ منه

انزال جدیدوجدمعه الدفق و الشهوة اقول وکذایقیده م وجوبه بعدالنوم والمشی الکثیر ج ۱ ص ۱۲۲. ۲۷ شعبان سنه ۱۳۳۱ ھ (تتمه ثانیه صفحه ۲۵)

دخوب څخه راپاڅیدونکي باندې دغسل واجبیدویا نه واجبید وتفصیل

سوال : (۳۴) کله کله داسې کیږی چه ییخی خوب نه یادیږی او په جامو باندې داغ ښکاریږی په دغه وخت کې وینځل فرض دی کنه؟ اوځنګه معلوم کړای شی چه دامنی دی اوکه مذی یا ودی ددې دریوارویوره څرنګوالی ولیکې؟ څینې وختونه داسې کیږی چه سترګی خلاصیږی او خارجی لوندوالی په دغه وخت کې پاتې کیږی مګرپه داسې زورسره راوتل نه معلومیږی په کوم زورسره چه منی خارجیږی؟

جواب : که داغ نه وی نوترهغوغسل نشته اګرکه خوب ئی یادوی، اوکه لوندوالی وغیره وی نوپه دیکښې څوارلس صورته دی ځکه یاخومنی یقینی دی یادمذی یقین دی یادودی یقین دی یاپه ودی اومذی کې شک دی یاپه منی اومذی کښې ؛ دی یاپه منی، ودی اومذی کښې شک دی، یامنی اودی کې شک دی دغه اوه احتماله د ، اویه هریوه کې دوه احتماله دی دخوب یادیدل یانه یادیدل نودا تول څوارلس صورته کیږی ددې په څلورصورتونوکې غسل نشته یودا چه دمذی یقین وی اوخوب ئی په یادنه وی، دوم اودریم داچه دودی یقین وی او خوب یادوی اوکه نه وی، څلورم داچه په مذی اوودی کښې شک وی اوخوب ئی یادنه وی اونورولسوصورتونوکې غسل واجب دی کذافی درالمختاروردالمختاراودمنی اوودی اومذی حقیقتونه خومشهوراومعلوم دی، مګرکومه داسې یقینی علامه نشته چه دهغې څخه تعین یقینی شی ګنې دشک صورتونه نه محتمل کیږی ۱۴ محرم ۱۳۲۹ هجری (تتمة اولی صفحه ۲)

سوال : (۳۵) لمبر (۱) که کوم کس له خوبه راپاڅیده اوپه خپله بستره او ورون باندې ئی لوندوالی بیاموندل اودا یې یقین دی چه دامذی دی نوپه دی صورت کښې (که خوب ئی یادنه وی) په دی باندې غسل واجب دی اوکنه؟ اوکه خوب ئی هم یادؤ اوددې لوندوالی په هکله ئی دمذی یقین ؤ نوڅه حکم دی ؟

(۲) لمبر که کوم سړی راویښ شی اوذکرپه سوری باندې لوندوالی بیا مومی اودخوب نه وړاندې انتشارموجودنه وی، نوکه خوب ئی په یاد نه وی اوددې لوندوالی په هکله ددی یقین دمذی وی نوغسل واجب دی کنه ؟

(۳) نمبر : که کوم سړی ویښ شواودغه وخت ئی په سوری بائی تور لوندوالی بیانه موندبیاوروسته لږڅه وروسته دویښتیاپه حال کې لږ لوندوالی معلوم شونو ددې په نسبت څه حکم دی ؟ د خوب

پانتشار دیادیدلویانه یادیدلوپه صورت کې که مسئوله حکم کې فرق راځي نووی لیکي ، اوکه په کوم سرې باندې دغه حالت تقریباهره ورځ وی نوددی لپاره څه حکم دی ؟

(۴) نمبر: دمذی اوودی خاصی علامی کومی دی ؟

(۵) نمبر: که پورته (۱) او (۲) سوال دحکم ترمینځ کوم فرق وی نوددې څه علت دی ؟

جواب : عن الکل په دی کې دیرصورتونه راووځی چه یوازی په څلور وصورتونوکې غسل نشته باقی ټولوکې غسل شته. هغه دغسل نه واجبید وڅلورصورتونه دادی یوداچه دمذی یقین ئې وی اوخوب ئې یادنه وی، دوم داچه دودی یقین ئې وی اوخوب ئې په یادوی، دریم داچه یقین ئې دودی وی اوخوب ېې یادنه وی څلورم داچه په ودی او مذی کښی ئې شک وی اوخوب ئې یادنه وی، کذافی الدرالمختار وردالمحتاراود منی، مذی اوودی حقیقتونه یقیناً چه متغایردی مګرد دوی داسې کومه یقینی علامه نشته چه دهغې نه تعین متیقن شی، ګنی دشک صورتونه نه راووځی اوکه په بیداری کې که خروج وی نو ودی کتل شی چه که دفق اوشهوت وی نوغسل واجب دی او کنه نوندی واجب، ددغی کلیی قاعدی څخه هیله دی چه سائل صاحب ته دخپلو ټولوپوښتنوځوابونه معلوم شوی وی خو کچیری کوم خای پټ پاتې شوی وی نوبیادی پوښتنه وکړی، اوس یوازی په دوه کارونوباندې خبرول پاتې دی یوداچه دحکم مدار د انتشاراوعدم انتشارپورې ندی انتشار یوازی یوه قرینه دی دمذی کیدلونوکله چه خوب ئې په یادنه وی نو قرینه په هغه کې منحصره ندی، دمذی په یقین کښی دغه ټولی قرینی راغلی دوم داستفسارکاردپنځم نمبرمتعلق دی اوهغه داچه داول نمبر دوه جزهٔ دی یوجزهٔ دمذی یقینی کیدل اوخوب نه یادیدل دوم جزهٔ د مذی یقینی کیدل اوخوب یادیدل اودوم نمبریعینه داول نمبراول جزهٔ دی نودنمبر (۵) په استفسارکې چه دنمبر (۱) اونمبر (۲) سوال فرق پوښتل شوی کچیری دسائل مقصداول جزهٔ دنمبر (۱) وی نوهغه او نمبر (۲) بیخی سره یوشان دی دفرق پوښتلو څه معنی نشته اوکه مقصددوم جزهٔ دنمبر (۱) سوال وی نودفرق وجه ښکاره دی چه یوه کې خوب یاددی اوبل کې خوب یادندی چه ښکاره قرینه دی دمنی ، اوکه کوم بل څه مقصدوی نوښکاره دی کړای شی ، ۱۱- رجب سـ۱۳۳۱هـ (تتمهٔ ثانیه صفحه ۵۳)

دعرفی په شپه دغسل حکم:

سوال : (۳۶) په غایة الاوطارکې ېې دعرفی دشپې غسل مستحب لیکلی نودغه حکم په مناکې دحاجیانو لپاره دی اوکه دهر چالپاره دی ؟

جواب : فی ردالمحتاروعرفة ای فی لیلتها تترخانیة وقهستانی وظاهر الاطلاق شموله للحاج وغیره ج۱ص۱۷۵ . ددینه معلومه شوه چه دهرچالپاره دی .۱۵ ذی الحجه ۱۳۲۹هـ (تتمهٔ اولی ص۸)

دنابالغی نجلی سره صحبت وشونوپه هغی باندې غسل واجب نه دی

کومه سره که چه د شرابو څخه جوړه شوی وی پاکه دی

سوال : (۳۷) هغه څه چه په شرح وقایه اوهدایه کې لیکل شوی کومه سرکه چه دشرابوڅخه جوړه شوی وی هغه پاکه دی اوهغه څرمنی دغیر ماکول اللحم چه په رنګولو سره پاکیږی په ذکات سره هم پاکیږی نود دی څرمنودپاکوالی لپاره په حلالولوسره کوم دلیل دخبریا اثر شته؟ که شته نود لیکلوزیارګاللوسره مونږ ممنون کړی اوهمدارنګه کوم دلیل دخبریااثرپه خوړلواو پاکوالی دهغې سرکې چه دشرابوڅخه لاسته راغلی وی اوکوم دلیل دخبراواثرپه نه وجبوالی دغسل په موطوءه صغیره باندې

جواب : فی الهدایة ثم مایطهرجلده بالدباغ یطهربالذکاة قال العینی روی الدارقطنی عن ابن عباس لمامربشاة میمونة فقال هلااستمتعتم بجلدهاقالوایارسول الله ﷺ انهامیتة قال ان دباغها ذکاتها فاق حق الجلدفعلمناان الذکاةهی الاصل فی الطهارة وان الدباغ قائم مقامهاعند عدمهاولان الذکاة ابلغ من الدباغ لانهاتزع للدماء والرطوبات قبل التشرب والفساد بالموت .فی العینی علی الهدایة الخامس ام سلمة رضی الله تعالی عنهااخرج حدیثهاالدارقطنی انهاکانت لهاشاة تحتلبهاففقد هاالنبی ﷺ فقال مافعلت الشاة قالوامات قال افلا انتفعتم باهابها فقلنا انهامیتة فقال ﷺ ان دباغهایحل کمایحل خل الخمروفیه قال البیهقی فی المعرفة رواه المغیرة بن زیادعن ابی الزبیر عن جابرعن النبی ﷺ انه قال خیرخلکم خل خمرکم اه قلت والتشبیه فی الحدیث الاول دلیل علی جواز التخلل والتخلیل کمایجوزالانتفاع بالاهاب بعدالدباغ سواءکان اضطراریاً اواختیاریاً فتفقه وتنبه .قال رسول الله ﷺ رفع القلم عن ثلثة عن النائم حتی یستیقظ وعن الصبی حتی یحتلم وعن المجنون حتی یفیق فدل علی کون الصغیرة لایجب علیهاشیی من الاحکام والغسل من جملة الاحکام فلایجب نعم تؤمربالغسل تخلقا واعتیاداًوقدصرح به الفقهاء فلایرد حدیث مروا صبیانکم بالصلوة الخ .۳۰ شوال ۱۳۳۱هـ (تتمه ثانیه ص ۹۰)

دودي حکم

سوال :(۳۸) ما په کتاب کې ولیدل چه کله یقین دوتلو دودي وی او خوب هم یادوی نو غسل واجب ندی اوس په دی مسئله کې دا سوال پیدا کیږی چه ځینې کتابونو کې بې لیکلی دی چه ودی د متیاز وڅخه وروسته راوځی که دا صحیح وی نو د خوب نه د پاڅیدو په حالت کې چه کله لاتراوسه بې بستره ندی پرېښودی نو ودی هیڅکله ندی راوتلی نو بیا داوېناچه د خوب دیادیدلو په حالت کې دلوندوالی په باب دودي یقین وی او غسل واجب نه دی غلطه ده ؟

جواب : داکوم چه په کتابونو کې لیکل شوی دی چه ودی د اودس ماتی نه وروسته خی نوددې څخه دا نه لازمیږی چه د اودس ماتی نه بغیرنه راوځی اونه دالازمیږی چه د متیاز وڅخه وروسته فوراً راوځی، لکن کله کله د اودس ماتی نه بغیرهم راوځی اوداهم کیدای شی چه دویده کیدونه وړاندې بې چه کوم اودس ماتی کړی ؤ د هغه نه وروسته لږ بیلوالی څخه ویده کیدو کې راوتلی وی نو هیڅ اشکال پاتې نه شو او علامه شامی د خزانه څخه یو قول داهم نقل کړی چه ،ان الودی مایخرج بعد الاغتسال من الجماع وبعدالبول وهوشئ لزج جلد۱ ص۱۷۱ .

د خوب نه د پاڅیدونه څه وخت وروسته د رطوبت لیدل

سوال : (۳۹) که کوم سړی وینی شواوخوب بې په یاد ؤ نو د بیداری په حالت کې ددی په بستره د جیږیدونه وړاندې او وینیدلو څخه دوه دری دقیقې وروسته دی ته لوندوالی معلوم شو چه ده ته مذی ښکاریده نو په هغه باندې داگمان وکړچه شاید دا منی د ریدلی ؤچه اوس راووتل غسل واجبیږی او که دی ته گمان کول نه ؤ ښکار بلکه دی ته کتل په کار ؤچه دشوق او دفق سره راوتلی او که څنگه ؟

جواب : جزیی ته کتل نه دی په کار مگر د قواعدو څخه غسل واجبیدل ښکاردی څکه د خوب په یادیدل ددې ښه ده چه دایا منی دی او یا مذی او ددواړو د راوتلو احتمال دغسل موجب دی او ددفق او شهوت کیدلو مقصد دادی چه دانفصال عن المقر به وخت کې شهوت وی گواکې د خروج په مهال نه وی او که کوم عارض مانع نه وی نو دفق به هم وی او په دې صورت کې کیدای شی دانفصال په وخت شهوت به ؤ او ناڅاپه دستر گو د پرانستلو سره د ریدلی وی مگر احتیاطا ووانی او بیا بې پوښتنه وکړای شی ۸،محرم ۱۳۳۲ھ ،تتمه ثانیه صفحه ۱۱۲،

دغسل په وخت کې په زخم باندې دکومی دوانښلولو حکم

سوال : (۴۰) که کومه دانه یا چاود باندې چونه کیښودی شی او دغه چونه د بدن یا پوستکې هغه برخه باندې ونښلول شی او وچ شوی وی چه په اسانی سره هم نه پرانستل کیده په دغسی حالت کې د جنابت غسل وکړای شی او دغسل د اداء کولو څخه وروسته لمونځ وکړای شی اوس لگ ختڼ وروسته د لمانځه څخه د هغه د چونی د لری کولو په سبب نو آیا د بدن او څرمن دغی برخی باندې او به اچول او د لمانځه اعاده ضروری ده او کنه؟

جواب :في الدرالمختاروالمسح يبطله سقوطهاعن برء والا لافان سقطت في الصلوة استانفهاولذاالحكم لوسقط الدواء اوبراموضعهاو لم تسقط مجتبى وينبغي تقييده بمااذالم يضراز التهافان ضره فلا يجز وفي ردالمختارقوله فان ضره اى ازالتها لشدة لصوقهابه ونحوه بحر ا ج ص۳۹۰ .د دینه معلومه شوه چه په مسئوله صورت کې اعاده د لمانځه ضروری ندی ،البته دغه موضع دی بیالمده کړی څکه چه دلاندې طرف څخه ښه وه یوازې د چونې د لری کولو د سختی په سبب په دغه وخت کې وینځل معاف کړای شوی ؤ ۴ربیع الاول ۱۳۳۳ھ ،تتمۂ ثالثه صفحه ۲۳،

د معذور لپاره په اخر وخت کې د لمونځ کولو حکم

سوال : (۴۱) کچیری د ماښام لمانځه ته نږدې څه زخم ولگیږی یا کومه وړه دانه وچاودی او د واړه حالتونو کې وینه بهر راووځی او وینه بنده نه شی بلکه لږ لږ او به راووځی په دغه حال کې د مغرب وخت ډیرلنډوی لمونځ څه ډول اداکړای شی ؟

جواب : في ردالمحتارفي احكام المعذورلوعرض بعددخول وقت فرض انتظرالى اخره فان لم ينقطع يتوضاويصلى ثم ان انقطع في اثناء الوقت الثاني يعيدتلك الصلوة وان استوعب الوقت الثاني لايعيد لثبوت العذرح من وقت العروض اهـ د دینه ښکاره شوه چه مسئوله صورت کې په اخر وخت کې دی لمونځ وکړی ،بیا که د ماسختن وخت کې هغه بند ؤ او د ماسختن د وخت دختمیدو پورې بند پاتی شو نو د ماښام لمونځ دی بیا له سره وکړی ۴ربیع الاول ۱۳۳۳ھ ،تتمۂ ثالث صفحه ۲۲،

د منی دفق د غسل د وجوب لپاره شرط نه دی

سوال :(۴۲) دیوه سړی منی ډیرنږی دی او د خپلې ښځې سره د تفریح په وخت د هغه منی د خیزنه بغیر خارجیږی نو آیا دغه سړی د غسل نه بغیر خپل لمونځونه اداکولی شی او کنه ؟

جواب :غسل واجب دی ، فی الدرالمختاروفرض الغسل عند خروج منی منفصل عن مقره بشهوة ای لذة ولم یذکرالدفق لیشمل من المراة ولانه لیس بشرط عندهماخلافاللثانی، ص۱۲۵وص۱۲۲ج۱، ۸ذی الحجه ۱۳۳۲ھ (تتمه ثالثه صفحه ۱۲۲)

دغسل په وخت دغوږوسوریوته داوبواچولوحکم:

سوال :(۴۳) یوخوان عمر د وړوکوالی څخه غوږ سوری ؤ د غسل کولوپه وخت به ئی بهیدونکې دوا غوږخوله اوس ددې مقصد لپاره چه کرار سوری بند شی دوا اچول ئی پریخودل البته د اوبو څاڅکی غوږخوی دا پوښتنه ده چه که آیا داکافی دی ؟

جواب : فی الدرالمختارولولم یکن بثقب اذنه قرط فدخل الماء فیه ای الثقب عندمروره علی اذنه اجزاه کسرة واذن دخلهماالماءوالا یدخل ادخله ولوباصبعه ولایتکلف بخشب وغیر هاوالمعتبر غلبة ظنه بالوصول وفی ردالمختارقوله ولایتکلف ای بعدالامرارکماقدمناه عن شرح المنیة اهـ (ددې روایت نه معلومه شوه چه څاڅکې غوږخول کافی دی که دڅاڅکې غوږخولوپه وخت کې که له گوتوسره هم لږ ولړېږی ډیراحتیاط دی زیات وهم مه کوی ۲۱جمادی الاولی ۵۳ ۱۳ النورص۸جمادی الاخری ۱۳۵۴ھ

په غسل خانه کې دخبرواتروکولوحکم:

سوال : (۴۴) په اغلاط العوام فی باب الاحکام۸۳ نمبرباندې دغه مسئله شته چه په غسل خانه اوتشناب کې عوام خبری کول ناجائزگڼی نود دی خبری کوم اصل نشته البته بلاضرورته خبری دی نه کوی اوپه مشکاة المصابیح باب اداب الخلاء په فصل ثانی کې دغه حدیث دی ، عن ابی سعید قال قال رسول الله ﷺ لایخرج الرجلان یضربان الغائط کا شفین عن عورتهمایتحدثان فان الله یمقت علی ذلک رواه احمد وابوداود وابن ماجة ،ددې حدیث څخه څرگندیږی چه په کشف عورت کې په خبروکولوسره الله تعالی غصه کیږی اوپه غسل خانه اوخصوصا تشناب کې دعورت لوڅول لازمی دی ؟

جواب :ددې حدیث دحمل ځای دادی چه دواړه داسې لوڅ وی چه یو بل لوڅ ووینی گنی درجلان څه تخصیص ؤ دالرجل بضرب الغائط کاشفاعن عورته یتحدث ، عبارت به ؤ واذلیس فلیس ۹ذی القعده ۱۳۴۵ھ (تتمه خامسه صفحه ۵۳۴)

دجنابت په حال کې ویښته پری کول مکروه دی:

سوال : (۴۵) دجنابت په حال کې خط لیکل،ویښته،اخستل ،او نوکان پری کول روا دی اوکنه؟اوداقول چه په دغسی حالت کې دغسل کولو نه وړاندې دنوکانواوویښتودجداکولوسره ویښته اونوکان جنابت اخلی اوپه قیامت کې فریادکوی چه مونږ بې جنابت کې پریښی یو؛ صحیح دی اوکنه؟

جواب :فی رسالة هدایة النورلمولاناسعدالله په مطالب المؤمنین کې بې راغلی چه خریل اوپری کول دویښتواودنو کانواخستل د جنابت په حالت کې مکروه دی اه ددینه دمسئول عنه کار کراهیت څرگندیږی باقی ددې په هکله چه کوم قول نقل کړای شوی کله دنظر څخه ندی تیر شوی اوظاهراًصحیح هم ندی (تتمه ثالثه صفحه ۱۲)

باب الماء الذی یجوزبه الوضوء ومالایجوزبه:

دچت لرونکې حوض داوبو څخه اودس جائزدی:

سوال : (۴۶) یوحوض لس په لسوکې جوړکړای شواوچت پری هوارشوی داوسپنی دتختوڅخه کله چه حوض بنه ډک وی نوځنگونوپه اوبو کې ډوبیږی دحرکت ورکولونه داوسپنی شاته اوبه نه خوزیږي خیني خلک وائی چه دحوض اوبه ناپاکې دی دحرکت ورکولوسره نه خوزیږي، اوخینې وائی چه ټولی اوبه دلاندی سره یوځای شوي دي دلاندې نه بره پورې داخبره صحیح ده مگردامانع ده ډیراختلاف وی خینې اودس نه کوی خینې اودس کوی تفصیلی ځواب دکتابونوحوالی سره بیان وفرمایې الله تعالی دی دجزاء خیر عنایت وکړی آمـــین

جواب :فی الدرالمختارولوجمدماءه فثقب ان الماء منفصلاعن الجمدجازلانه کالمسقف وان متصلالا لانه کالقصعة وفی ردالمختار قوله وان متصلاً لا ای لایجوز الوضوء منه وهوقول نصیروالاسکاف وقال ابن المبارک وابوحفص الکبیرلاباس به وهذا اوسع والاول احوط الی قوله وفی الحلیة ان هذامبنی علی نجاسة الماء المستعمل ج۱ص۲۰۰ قلت والمفتی به طهارة الماء المستعمل فلم یبق خلاف فافهم ، دیره تقریر اوروایت پراساس ددې حوض څخه اودس بلاتکلفه جائزدی اگرکه اوبه نه خوزیږی

په هغه څيزکي چه نجاست يې معلوم نه وي داوبو بهيدلو سره اوبه نه ناپاکه کيږي:

سوال: (۴۷) دلته په ځاګانو کي نن صبا يوه سوررنګي دوا اچول کيږي چه دټولي ځاه اوبه ډيرزيات سوررنګي کيږي اوهمدغه سري اوبه دلمبلو، څښکلواوخوړلو غرض داچه په هراستعمال کي راځي اوددي دوادماهيت څخه دلته د ډاکترانونه بغيرنور څوک واقف ندی دهغي متعلق نه ويل کيږي چه په دی کي د رنګين کيدونه علاوه کوم ناجائز شی خوداسي نشته چه استعمال يې شرعامنع وی لهذا زه اميدکوم چه دعنايت لپاره موددي امرڅخه مطلع وفرمايي چه آياددي اوبويه استعمال شرعاکوم حرج خو نشته؟

جواب: ځرنګه چه په دی دواکي دکوم نجس څيزموجوديت معلوم اوثابت ندی نوپه قاعدی الاصل فی الاشياء الطهارة پربناء ددي طاهرګڼل پکاردی نودهمدی لامله ددي اوبو استعمال جائزدی، ۱۳ رمضان ۳۱ (حوادث صفحه ۱۱۹-۲۰۱).

اوبه په خوشبويه کيدوسره دمطلق والی څخه نه ووځي

سوال: (۴۸) يوه مسئله پلتنه غواړی چه دعطراوعرق دويستلولپاره ديګي کي کوم تعفن پيداکيږي هغه ظرف چه په هغه کي ياعطرغرق ايستل شوی وي وليږی په يخواوبوکي ايخودلی پاتي کيږي ترڅويه هغه کي بخاردااوبويادغوريويه صورت کي جمع شي لږلږ څندنه وروسته هغه اوبه خی تودي شي دهغه نه وروسته بدليږی په دی اوبو کي کله کله څه اندازه خشبوهم دهغه شی پيداکيږي کوم چه ديګ او لوښي کي وي آيادغه اوبه مستعملی ګڼل کيږی اودهغه نه به غسل اودس درست نه وي ياغيرمستعمل دهغی نه به دغسل اودس کار اخستل درست وي دګلاب وغيره سره يوځای شوي اوبونه غسل اواودس جائزده ياناجائزکله چه په اوبوکي ډيرخه خوشبوی وي علی هذا په کوم صفاشوي ظرف کي اوبه ګرمی شوي په هغه کي غورمعلوميږی ددي نه هم وضوء اوغسل به واجب وي ناجائز؟

جواب: پدي ټولوقسمونوسره وضوء اوغسل درست ده داټول ماء مطلق دي ۲۷ محرم ۱۳۳۲ حوادث (صفحه ۱۲۸).

فصل فی البير

دځاه په نل کي دپليتی لويدلو حکم:

سوال: (۴۹) نن صبا هغه اوسپنيزنل چه دځاه کارورکوی پيدا شوی دی که دهغوی په مينځ کي څوک متيازی وغيره وغور څوی نوآيادغه پليته کيږی اوکنه؟ په اول صورت کي ددي د پاکولوڅه صورت دی؟

جواب: فی الدرالمختاريترح کل مائها الذی کان فيهاوقت الوقوع بعداخراجه الااذاتعذرالی قوله وان تعذرنزح کلهافيقدر مافيهاوقت ابتداء النزح قاله الحلبی ۲۱۸ تا ۲۲۰ ددي روايت څخه ثابته شوه چه په ځاه کي دنجاست غورځيدل هغه پليته کوی ، نوبدي کي چه هم نجاست لويدلی دی ناپاکه کيږی اوداهم معلومه شوه چه دنجاست دغورځيدوپه وخت کي څومره اوبه وی هومره راويستلوڅخه هغه پاکيږی په دی اساس څومره اوبه چه په نل کي دی دهغوپه ويستلوسره نل پاکيږی او داشبه په دی ونه کړای شی چه دنل څخه لاندي دځمکي څخه داوبوراتګ روان وی نوآيا هغه پليته کيږی نه ؟ خبره داده چه هغه اوبه داسي دی لکه چه مشهوروکوهيونه هم علاوه اوبه بهيږی او اوبه ګرځي مګرځرنګه چه هغه په کوهی کي ندی نودهغو اعتبار نشته پدي ترتيب کومی اوبه چه بالفعل دغی اوسپنيزی کوهی کښی نه وی ګواکي دلاندي څخه دراتلونکي دول دځمکي دغدو په ذريعه چه دهغه په مينځ کي راتله هغه معتبره ندی ، البته که دتجربی څخه داثابته شی چه ددغه نل په بيخ کي اوبه جمع کيږی نوهغی ته نجس ويل کيږی او په اټکل سره کله چه دومره راويستل شوی نوځاه پاکيږی، اوپورتنی عبارت څخه يوه بله خبره هم ثابته شوه چه که په دغی اوسپنيزی کوهی کښی داسي نجس څيزوغورځيږی چه نه راويستل کيږی نود دی ويستل معاف دی نوپدي کښی دوه صورته دی ياهغه څيز دی نجاست ده لکه ناپاکه لرګی ياناپاکه ټوټه ، ياعين نجاست ده لکه د مرداری غوښه.په اول صورت کي بلا انتظار معاف دی فقط داوبوپه راويستلوسره پاکيږی په دوم صورت دومره مودی انتظاروکړی چه غالب ګمان راشی چه هغه ختيه شوه بيااوبه وباسی . فی الدرالمختار بعدقوله الااذاتعذرکخشبة اوخرقة متنجسة وفی ردالمختارواشار بقوله متنجسة الی انه لابدمن اخراج عين النجاسة ميتة وخنزيراه ج قلت فلوتعذرايضافقی القهستانی عن الجواهرلووقع عصفورفيها فعجزوا عن اخراجه

فمادام فیها فنجسة فترک مدة یعلم انه استحال وصارحماة وقیل مدة ستة اشهراه جلد۱ص۲۱۹.
(حوادث الفتاوی خامس ص۳۰۴)

سوال : (٥٠) څه فرمائی ددین علماء په دی مسئله کښ چه خمونږ په خای کښ دنل څاه شته دی اودخای سره نیزدی دی، هغه خمونږنل باندې په راتلو په غوشیوباندې ککړولاسونوسره اندل (لاشتی) نیسی اوا وبه ډکوی، نا پاکه څاڅکې داوبودنل په مینځ کښ روانی وی چه دهغې نه داوبودناپاکه کیدواندیښنه پیداکیږی تاسوفرمائی چه اوبه ډکې کړی اوکنه ؟

جواب : لوښی ورکول خودمالک کاردی پاتې شوه داچه که ناپاکې کیږی نو څومره اوبه چه دغه وخت په نل کښ موجودی دی دهغې دراویستلو سره پاکیږی ۲۲ذی قعده ۱۳۳۹ھ (حوادث الفتاوی خامس ص۴۲)

هغه مارچه وینه لری په هغه څاه ناپاکه کیږی

سوال : (٥١) په کوهی کښې دماریچی دلاس اوږدوالی اود یوی گټی هومره غټه ولویده اوورپسیده خوبیله نه شوه آیادهغې په راویستلوسره اوبه پاکې دی اوکه ناپاکې؟ اوکه اوبه ناپاکې وی نودتولواوبو راویستل لازم دی ؟کوم حکم چه دحضورعالی څخه لاسته راشی هغه به په عمل کښ راوستل کیږی

جواب : فی الدرالمختاراومات فیهاحیوان دموی غیرمائی لمامر وانتفخ اوتمعط اوتفسخ ینزح کل مائهاالذی کان فیها وقت الوقوع بعداخراجه اه مختصراًفی ردالمحتارتحت قوله وانتفخ ولافرق بین الصغیروالکبیر کالفارة والادمی والفیل لانه تنفصل بلته وهی نجسة مائعة فصارت کقطرة خمرالخ ج۱ ص۲۱۸، ددینه ثابته شوه چه دغه کوهی ناپاکه شوه که دوچی ماروی نوبه اندازه کولوسره دی وکتل شی چه پدې کښې څومره سوه بوکې اوبه دی هومره دی ویستل شی ، اگرکه مات شوی نه وی پاکیږی ، البته که دتجربی څخه داتحقیق شوی وی چه داسې مارکې بهیدونکې وینه نه وی نودهغه نه کوهی نه پلیتیږی فی الدرالمختارفیفسد (ای الضفدع البری) فی الاصح کحیة بریة ان لهادم والا لا اه قوله کحیة بریة اماالمائیة فلا یفسده مطلقااه ج اص۱۹۰ ،په همدې ترتیب که دغه ماراوبو وی دلته بیاهم څاه نه مرداریږی لمامر، (ذی القعده ۱۳۳۲ھ تتمه ثانیه ص۱۸۰)

دکارغه په گندگی کوهی نه مرداریږی

سوال : (٥٢) مسئله : دکارغه گندگی په کوهی کښ وغورځیږی یاځپله کارغه وغورځیږی داوبوځنل څنگه دی ؟

جواب :فی الدرالمختاروخرء کل طیرلایذرق فی الهواء کبط اهلی ودجاج امامایذرق فیه فان کان ماکولا فطاهروالا فمخفف ثم قال فیه ثم الخفة انماتظهرفی غیرالماء فلیحفظ وفی ردالمحتارواستثنی الحلبی خرء طیرلایؤکل بالنسبة الی البئرفانه لاینجسها لتعذرصونها عنه کماتقدم فی البئرج۱ص ۳۳وص ۳۳۱ ددغه روایت څخه ثابته شوه چه مسئوله صورت کښ څاه پاکه دی سواء کان الغراب ماکولاا وغیرماکول علی الاختلاف فی زماننا ، (تتمه ثانیه ص۱۸۰)

څاه څومره دبیت الخلاء څخه لری کیدل پکاردی

سوال : (٥٣) خاک اندازچه سوری ئی دومره نه وی کنده شوی چه اوبه راووځی اوددی په څلورلسنه فاصله کښ پخه څاه وی نوددغه کوهی اوبه استعمالولی شی اوکنه ؟

جواب :ددې فاصلی شرعا کومه اندازه نشته دځمکې د نرمی او سختی سره حکم فرق کوی ، دومره فاصله پکارده چه دنجاست اثر دڅاه اوبوته رانشی کذافی ردالمحتار ج ۱ص۲۲ ۸ ۱۴شعبان ۱۳۳۰ھ (تتمه اولی ص۱۰)

سوال : (٥٤) دخیمی په شان یوبیت الخلاء دکوهی په ډول اوه ویشت گزه غوج دی ،په دی کښې شپه اوورځ دکورخلک بول اوبرازهره ورځ کوی ، اوددې ځمکې اوبه چه د تتی سره نزدی ۳۵ گزه ویستل شوی راوځی اوس سوال دادی چه دغه بیت الخلاء سره نزدی دڅاه جوړول غواړی په څومره لری فاصلی باندې یعنی څومره گزه لری ئی چه جوړه کړی نوعندالشرع شریف جائزدی ؟

جواب :په دی کښې څوقوله دی (۱) یوداچه پنځه گزه فاصله وی یو قول دادی چه اوه گزه فاصله وی ،څوراجح دادی چه دومره جدایی وی چه درنگ ،بوی یامزی دورتلوڅخه مانع شی اوداد ځمکې دسختوالی او نرمښ دتفاوت څخه توپیرپیداکوی ، اود اندازی تاکلوالو اقوال هم په همدې مبنی بلل کیږی چه هغوی هریوه دخپلې ځمکې په اعتبار اندازه ویلی دی نوبه دی باندې تول قولونه سره موافق دی اوددې معیاردتجربی دخاوندانو وینااده هذاکله فی ردالمحتارتحت قول الدرالمختارالبعدبین البیروالبالوعة بقدرملا یظهرللنجس اثره اهـ فصل فی البرفیل مسائل السوریج۱ ،ص ۲۸۸ ، ۲۲جمادی الاولی ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالث ص۳۹)

سوال : (۵۵) دبیت الخلاء اوخاه ترمینځ څومره فاصله پرېښودل پکار دی چه دهغې نه دنجاست اثردخاه پورې ونه رسیږی عند الشرع کومه فاصله تاکل شوی اوکنه ؟موږ وناروی دلته په سوات کې ډیری بیت الخلاوی څاه لرونکې وی؟

جواب :فی الدرالمختارقبیل احکام السورفرع العدبین البیروالبا لوعة بقدرمالایظهر للنجس اثره وفی ردالمختار اختلف فی مقدار الحدالمانع من وصول نجاسة البالوعة الی البیرففی روایة خمسة اذرع وفی روایة سبعة وقال الحلوانی المعتبرالطعم اواللون اوالریح فان لم یتغیرجازوالا لاولوکان عشرة اذرع وفی الخلاصة والخانیة والتعویل علیه وصححه فی المحیط بحروالحاصل انه یختلف بحسب رخاوة الارض وصلابتهاومن قدره اعتبرحال ارضه ج۱ص ۲۲۸،لدی عبارت څخه لاندې کارونه اخستل کیږی اول داچه چاچه ددغې جدایې اندازه تاکلی هغه دغوخپلوځمکویه لیدلوسره تاکلی دی په هرځای کې داحکم نشی کیدای

(۲) صحیح دادی چه ددې مقدارتاکلی ندی ،بلکه داعتبارورداوی چه دنجاست کوم اثررنګ یابوی یاخوندپه اوبوکې ظاهرنه شی ،اود ځمکې دسختی اونرمی دتفاوت څخه ددې حالت مختلف کیږی ۱۸ شوال ۴۵ھ(تتمه خامسه ۵۳۳)

سوال : (۵۶) دکوهی اوبیت الخلاء ترمینځ څومره فاصله بایدوی اود بیت الخلاء اوکوهی ژوروالی یوشان وی،اودلته څموږ سره ځمکه بیخه کلکه اوسخته دی ؟

جواب :فی الدرالمختارالعدبین البیروالبالوعة بقدرمالایظهر للنجس اثره وفی ردالمختارختلف فی مقدارالبعد المانع من وصول نجاسة البالوة الی البیرففی روایة خمسة اذرع وفی روایة سبعة وقال الحلوانی المعتبرالطعم اواللون اوالریح فان لم یتغیرجازوالا لاولوکان عشرة اذرع وفی الخلاصة والخانیة والتعویل علیه وصححه فی المحیط بحرو الحاصل انه مختلف بحسب رخاوة الارض وصلابتها ومن قدره اعتبر حال ارضه (قبیل احکام السور) لدینه ښکاره شوه چه دفاصلی کوم مقدارتاکل شوی ندی ،دومره فاصله پکا رده چه دنجاست بوی،خونداورنګ اوبوته ونه رسیږی ۱۰ شوال ۴۹ ھ(النور جمادی الاخری کال ۵۰ھ)

دچیلی ،اوزی ،اوغره دګندګی لویدلوسره دڅاه حکم

سوال : (۵۷) په هرهدوالا څاه کې غوشائی ولویږی اوبه پاکی یاناپاکی ساتل ضروری دی اوکنه ؟

جواب :فی الدرالمختارولانزح بخرءحمام وعصفورر کذاسباع طیر فی الاصح لتعذرصونهاعنه وفی ردالمختار ومفا دالتعلیل انه نجس معفوعنه ج۱ص۲۲۸.ددغورروایتونوڅخه معلومه شوه چه کومه الوتکه (پرنده) حرام خوری اوګندګی کوی دهغې نه کوهی نه ګنده کیږی اوداقول دضرورت لامله اختیارشوی دی . ۱۳ صفر ۱۳۳۲ھ(تتمه اولی ص۹)

په کوهی کې دغرشنواوغوښایودغورځیدلوحکم

سوال : (۵۸) دغرخ یعنی هرهدلرونکی کوهی کې غوشائی غورځیږی داوبوپاک یاناپاکه ساتل ضرور دی اوکنه ؟

جواب : فی ردالمختارمسائل البیروفی التاتارخانیة ولم یذکر محمد فی الاصل روث الحمار والخثی (ای البقروالفیل) واختلفوافیه فقیل ینجس ولوقلیلااویابساوقیل اویابسافلاواکثرهم علی انه لوفیه ضرورة وبلوی لاینجس ولانجس اه جلد اول ص۲۲۷.ددینه معلومه شوه چه که لدینه خان ساتل مشکل وی،نولږعفوه[1] دی ۱۴ محرم ۱۳۳۵ھ(امداد ج۱ ص۱۳)

سوال : (۵۹) زیدوائی چه دغرشنو اوخوشایو داوښ یااوزی ددوه پچویه اندازه خوشایې لاهده وی اوکه وچ په څاه کې ولویږی او هغه میده میده شی نواوبه پاکې دی اوکه پلیتیږی نه دلیل بحواله فتاوی قاضی خان مطبع نول کشورص۲وعن محمدالتبنة[2]والتبنتان عفو (دهمدی دلیل نه وائی چه اوبه پاکې پاتې کیږی اوبکروائی که خوشایې لاهده وی یاپچی لاهدی وی لږ وی که ډیری اوپه کوهی کې ولویږی نوټولی اوبه ناپاکه کیږی اودغه نجاست یعنی

---

[1] اصلاح بدې خواب باندې بحث شوی دی چه دامدادالفتاوی تتمه اولی په ملحقاتو ۳۳۲ صفحه کې ذکردے اوددې حصی په اوله تتمه ۳کې حضرت مولنادې خواب په لوری اشاره کړې چه دهغې حاصل دادے چه مراددقلیل څخه ضروری مقداردے اوددې مقدارد مبتلی به په راپې باندې دے نوددې عبارت معنی داشوه چه که دنجاست دوقوع څخه خان ساتل مشکل وی نو ضروری مقدارمعاف دی اودضرورت مقداردمبتلی دراېي په اساس دے والله اعلم . دغه اضافه تصحیح الاغلاط صفحه۴ نه شوی محمدشفیع عفی عنه

[2] تبن خښتونه ویل کیږی الله جل جلاله پوهیږی چه دمسائل په څه یوه شوی چه استدلال یې کړی ۱۲ منه

خوشايې غليظ دی لکه څنګه چه ... [1]کې دی والارواث والاخثاء فکلها نجس نجاسة غليظة عندابی حنيفة رحمه الله اوپه فتاوی قاضيخان مطبع نول کشور ص۲کې دی والروث واخثاء البقربمنزلة البول بدې مسئله کې څرنګه چه تاسوپه نژديک تحقيق دی ارسال يې وفرمايې؟

جواب: فی الدرالمختار حيث عدالنجاسة الغليظة وروث وخثی افادبهمانجاسة جزءکل حيوان غير الطيوروقالامخففة الی قوله وطهر محمداخراللبلوی وفی ردالمختاران الروث للفرس والبغل والحمار ورخثی تاريکسر للبقروالفيل وفيه عن النکت للعلامة قاسم ان قول الامام بالتغليظ رجحه فی المبسوط وغيره وفيه عن التاتارخانية ولم يذکرمحمد فی الاصل روث الحماروالخثی واختلفوا فيه فقيل ينجس ولوقليلا[2]وبابساوقيل لويابسافلاواکثرهم علی انه لوفيه ضرورة وبلوی لاينجس والا نجس اهـ. ديورتنيو روايتونوڅخه دغه کارونه مستفادشول (۱) په خرشنواوخوشايوکې دعلماؤ اختلاف ده (۲) راجح دامام صاحب قول دی چه هغه نجس غليظه دی

(۳) په ځاه کې که لږ وغورځيږی ۳-که ددې کوهی ساتنه دهغو څخه ممکن وی نونه ناپاکيږی يکم صفر ۱۳۲۷هـ (تتمه اولی صفحه۲)

د۹۰۵۸ دنمبرمسئلی متعلق د تسامح اصلاح چه د

امداد الفتاوی ص۲۳۴ لمړنۍ تتمه ملحقاتولاندې درج دی

دسوال خلاصه هغه کوهی چه هر هډ لرونکې وی اوخوشايې پکې وغورځيږی پاکه دی اوکنه؟

دځواب خلاصه که ځان ساتل تری نه مشکل وی نولږ عفودی

دتسامح اصلاح دسوال کونکې سوال دهغې ځاه نه دی چه دبقر په ذريعه شپه اوورځ جاری دی اودهغې خوشايې تل په کوهی کې لويږی لکه چه پدې هيوادکې واقع دی چه دبقرپه بولو او کوهی اوبوککړ خوشايې په کوهی کې غورځيږی ډيره عامه بلوی ده اوځان ساتل ډيرمشکل دی دمسلمانانو اسانتياليپاره داسې ځواب ضروری وچه که عامه بلوی ده اوځان ساتل مشکل اوکوهی جاری دی نوعفوه دی،ددې سندبعينه هغه عبارت دی چه خپله مجيب مدظله په ځواب کې تحرير فرمايلی دی،واکثرهم علی انه لو فيه ضرورة وبلوی لاينجس والانجس ۱۲ ردالمحتار معه مه نده چه دقليل لفظ نې دکوم عبارت څخه استخراج کړی دی

[1] دکتاب نوم نه لوستل کيږی ۱۲منه.

[2] اوقليل په مذا ارکې

هرکله چه په ضرورت دبلوی سره نجس پاتې نشی نوقليل اوکثير برابرشول په حکم کې اوبل سندددې مسئلی راتلونکې روايت دی وعن زفرروث مايوکل لحمه طاهروفی المبتغی الارواث کلهانجسة الا رواية عن محمدانها طاهرة للبلوی فی هذه الرواية توسعة لارباب الدواب فقلما يسلمون عن التلطخ بالارواث والاخثاء فتحفظ هذه الرواية اه کلام المبتغی واذاقلنابذلک ههنا لايبعدلان الضرورة داعية الی ذلک کماافتوابقول محمدبطهارةالماء المستعمل للضرورة ونحوذلک(الی ان قال) وقد قال فی شرح المنية المعلوم من قواعدالمناالتسهيل فی مواضع الضرورة والبلوی العامة کمافی مسئلة آبارالفلوات ونحوها اه ای کالعفوعن نجاسة المعذورعن طين الشارع (الی ان قال) من ان المشقة تجلب التيسير من الله اذا ضاق الامر اتسع والله تعالی اعلم ۱۲ ردالمحتارص ۱۹۵ جلداول.

دنجسو بوټونو لويدل په کوهی کې

سوال: (۶۰) که کلوشی په ځاه کې وغورځيږی اودغه اوبه ونه اوخی نو څه کول پکاردی؟اوکه اووخی نوڅومره اوبه ويستل پکاردی؟

جواب: فی الدرالمختاريترح کل مانهابعداخراجه الااذاتعذر کخشبة اوخرقة متنجسة که ويستل کيږی نودويستلو څخه وروسته، اوکه نه ويستل کيږی ،نوددې دراويستلوڅخه بغيرتولی اوبه دی وويستل شی اوکه بوټونه پاک وی نوکوم حرج نشته فقط. ۱۱ ربيع الاول۱۳۲۵هـ (امدادصفحه۱۳ج۱)

سوال: (۶۱) خماجعفريه ضلع راولپنډی کې دبارانی وياتی په څنده تيټ ځای کې يوکوهی دی چه دهغې څخه دکلی خلک اوبه دکوی ،يوه ورځ يوه نه لس کلنه لاروی نجلی داويود سکلولپاره کوهی ته راغله اتفاقا دهغې ديوی خپې سليپرچه يوډول بوټونه دی په کوهی کې وغورځيدل،چه چاته ددې دپليتی معلومات نشته چه آياهغه سيلپر پاکې وه اوکه پليته؟هودغه وخت کې دری ښځې دکوهی په سر موجودی وی دهغوی وينادة چه کوم سيلپرپه دوهمه خپه باندې وه د هغې په سرپنجه صفاوه نودومره قدری بيان شته اوس التماس دادی چه دغه ځاه په حکم دالقين لايزول الابالقين دپخوانی طهارت په موجب پاک اوطاهرپاتې کيږی لکه څنګه چه فقهاءکرام بلاتيقن نجاسة حکم نزح کل ماء اوبعض ماء ندی ورکړی يوازی دنجاست دشک اواحتمال په اساس دځاه دنجاست حکم ورکولی شی مهربانی وفرمايې ددې ځواب له دليل سره مرحمت وفرمايې

جواب: فی ردالمحتار عن البحر وقیدنا بالعلم لانهم قالوا فی البقر ونحوه یخرج حیالایجب نزح شئ وان کان الظاهر اشتمال بولها علی افخاذها لکن یحتمل طهارتها بان سقطت عقب دخولها ماء کثیرا مع ان الاصل الطهارة اه ومثله فی الفتح ج۱ص ۲۱۹.دا روایت ښکاره ده په پاکوالی ددې ځاه کې فقط کتبه محمد اشرف علی ۱۲صفر ۱۳۲۸ھ تتمه اولی فتاوی امدادیه صفحه ۴،

دامام محمد په قول ددری سوو بوکو ویستلو تحقیق:

سوال: (۶۲) دځاه په طهارت کې دامام محمد څخه چه ددری سوه بوکو قول نقل شوی دی هغه معلول په علت ثابتیږی چه دهغه (محمد) په کلیو کې دومره اندازه اوبه په کوهیوکې موجودی وی اوس خو ښار په کلیوکې برابرخبره دی چه دبی غیرتی لامله یادبی اسبابی لامله دټولو اوبوپه راویستلوکې خوابدی دی ،نودا امرمعلومول غواړی چه کوهی ځاه گانی داسې دی چه اوبه یې ټولی په پوره دقت یاپه آسانی سره ټولی راویستل کیږی دهغې دطهارت حکم هم په دری سوه بوکو وړکولو ثابت دی اوکنه؟ نوکه دامام محمد قول حجت واخستل شی نو هغه علت ته ولی نه کتل کیږی چه هغه ته ملحوظ ؤ؟

جواب: په واقع کې علی الاطلاق ددری سوه بوکوفتوی کمزوری مسلک دی راجع دادی چه علت ته وکتل شی شامی اونوروڅخه معلومیږی چه که ټولی اوبه ویستل کیدای شی نوټولی دی وویستل شی ،اوکه ...لی ویستل کیدای نشی نودلته دتقدیرضرورت دی، اوپه تقدیر کې اختلاف ده خینود عادلو (دوه عادلانو) قول غوره کړی ، اوځینودآسانتیا په سبب په دی دری سوه بوکوفتوی ورکړی ...دې نه معلومه شوه چه سوال کونکې چه دکومو ځاه گانی په هکله پوښتنه کوی دغه اندازه دهغوسره تعلق نه لری اونه پدې باندې دچافتوی شته نوپا... ی قول دتامل ځای دی. فقط والله اعلم یکم ربیع الثانی ۱۳۲۱ھ

نوټ دغه اضافه دتصحیح الاغلاط څخه وکړای شوه چه په امداد الفتاوٰی جلداول کې شته ۱۲.

فصل فی الآسار

دخولی لاړوباندې لمدولوسره په گوته باندې دقران مجید د پاڼی اړولو حکم

سوال: (۶۳) دقرآن کریم دتلاوت په مهال دژبی لحاب یعنی لاړی په گوته اچولوسره دقرآن مجیدورقه اړول کیږی ،آیاداسې دول اړول په شرع کې جائزدی کنه ؟ آیاحرام دی یامکروه تحریمی یاتنزیهی ؟ بینوا مع الدلیل فتوجروا؟

جواب: فقهې مسئله ده چه سورالادمی طاهرددینه دخولی داوبو پاکوالی څرگندیږی،اودحجر اسود د ښکلولودمسنونیت څخه ددې اوبولگیدل خلاف ادب نه کیدل هم ښکاری کوم چه په ښکلولوکې نی احتمال دی ددینه پدې ترتیب دمصحف دپاڼی اړولو جوازیقینی دی ۱۰ذی الحجه ۱۳۲۸ھ تتمه اولی صفحه ۵،

فصل فی التیمم:

دمسجدپه زمکه دتیمم وهلوحکم:

سوال: (۶۴) دمسجدپه خمکه تیمم درست دی کنه ؟

جواب: دی وخت کې روایت ندی پیداشوی ،خوډیرلیدل شوی چه مکروه دی تتمه اولی صفحه ۲،

څومره لری والی داوبو دتیمم دجوازلپاره شرط دی ؟

سوال: (۶۵) که ښکار وغیره کې داسې ځای کې چه هلته داوبو پلټنی سره خولاسته راځی مگرپه لټولوکې دلمانځه دقضا کیدلواندیښنه وی نوپدغه وخت کې تیمم وهلی شی اوکنه ، که تیمم نشی وهلی نوڅه وکړی؟

جواب: که دیوشرعی میل په دننه کې اوبه وی چه دانگریزی میل څخه لږزیات وی نوتیمم جائزندی، اگرکه لمونځ[1] قضاکیږی داوبو پلټنه دی وکړی اواودس دی وکړی اولمونځ دی

[1] اولی داده چه احتیاطادغه وخت تیمم کولوسره لمونځ وکړی اوبیاداوبوپیداکولونه وروسته په اودس کولوسره اعاده وکړی کمافی ردالمحتاران الاحوط ان تیمم ویصلی ثم یعیدانتهی وقال بعدذلک وهذاقول متوسط بین القولین وفیه

قضائي وکړي ١٣صفر ١٣٣٣هـ (تتمة اولی ٢)

هغه څوک چه په قلف بندشوی دی دهغه لپاره دتیمم څه حکم دی؟

سوال :(٦٦)دغه یوه مسئله دځیرنی غوښتونکي ده چه مثلاً څوک دننه په خپل خای کې دی اومزدور په غلطی سره دبیرون له لوری قلف بندکړ اولاړ،اوس مالک دننه دی اودلمانخه وخت راغی اویه مکان کې اوبه نشته اوحتی الوسع دمکان مالک کوشش وکړ چه چاته غږ وکړی اواوبه ترلاسه کړی ،خوپیدانه شواودلمانځه وخت تیریده آیاهغه په تیمم باندې لمونځ کولی شی یانه ؟اوکه کولی شی نوبیاوروسته داوبوپیداکولوسره دغه دتیمم والالمونځ قضاکړی اوکنه ؟

جواب :کولی شی،اودقواعدوڅخه معلومیږی چه اعاده دی وکړی، لانه محبوس من جهة العبد.١٢ربیع الاول ١٣٣٤هـ (تتمه رابعه ص ٢٦)

په یخو ملکونوکې دتیمم وهلو حکم

سوال :(٦٧) دلته واوره اوریدل ډیرزیات وی یخنی هم ډیره زیاته وی، ډیره سخته هواچلیږی،په اودس کولو کې سخت تکلیف وی تردی چه لاس اوخپې پاکولوسره څوساعته بالکل بیکاره کیږی،پدې حالت کې په تیمم یامسح باندې لمونځ جائز شو او کنه ؟

جواب :فی الدرالمختار باب التیمم اوبردیهلک الجنب اویمرضه ولو فی المصراذالم تکن له اجرة حمام ولا مایدفئه وفی ردالمختار قیدبالجنب لان الحدث لایجوزله التیمم خلافا لبعض المشایخ الی قوله وکانه لعدم تحقق ذلک فی الوضوء عادة وفیه ایضانعم مفاد التعلیل بعدم تحقق الضرر فی الوضوء عادة انه لوتحقق جازفیه ایضاً اتفاقاًاه ددغو عبارتونوڅخه معلومه شوه چه که کله شاذ اونادر دغسی صورت وی چه داودس کولوڅخه غالبه اندیښنه دمرض یا هلاکت وی،اوداوبو دگرمولوسامان هم نه وی ،اونه داسې توته وی چه په هغی تاوویدلوسره خپل بدن تودکړی په داسې صورت کې تیمم جائزدی گنی جائزندی اودخپودوینځلو په بدل کې دموزو مسح کیدای شی ١٣ذی القعدی١٣٢١هـ (امدادج ١ص٢)

الخروج عن العهدة بیقین فلذاقره الشارح الی قوله فینبغی العمل به احتیاطاً شامی مصری ص١٨٠ج١ (محمدشفیع عفاالله عنه)

په ریل کې دجنابت دتیمم شرط

سوال : (٦٨) دریل وغیره په سفرکې کله دغسل ضرورت پیدا کیږی اود غسل په اندازه اوبه نه پیدا کیږی،اوچه اودس وغیره پری کیږی هومره پیدا کیږی، نودغسل لپاره په تیمم کولوسره لمونځ اداکیدای شی او کنه ؟ اگرکه په استیشن (تم ځای) کې اوبه ښی زیاتی پیدا کیږی مگر دهغه لپاره په ریل گادی کې غسل کول مشکل دی نوتیمم کولی شی اوکنه ؟

جواب : په استیشن کې غسل مشکل ندی دلنگ په وهلوسره دی په تخته کینی اوسقاوته دی پیسی ورکړی اوورته دی ووائی چه دمشک څخه اوبه راخوشی کړی اوددینه مخکې دی لاندې بدن داورگادی په تشناب یاغسل خانه کې ځای په ځای کولو سره پاک کړی ،یادیه لوښی کې اوبه واخلی یاکه په نل کې اوبه موجودی وی نودهغوڅخه هم په تشناب یاغسل خانه کې غسل ممکن دی ،همت ته ارتیا (ضرورت) ده په دغسی حالت کې تیمم درست ندی. ١٣صفر ١٣٣٠هـ (تتمه اولی صفحه ٩)

باب المسح علی الخفین وغیرهما

په جرابواونښی موزوباندې دمسح کولو حکم

سوال : (٦٩) په نخی موزوباندې مسح جائزدی کنه ؟

جواب :فی الدرالمختار اوجوربیه ولومن غزل اوشعر الثخینین بحیث یمشی فرسخاویثبت علی الساق بنفسه ولایری ماتحته ولا یشف اه ددې روایت څخه معلومه شوه چه که په نخی اکلکوموزوکې دغه څلورشرطونه وي نومسح ورباندې جائزده. اول (١) کلک اوپلن داسې وی چه وازی دایه خپوکړی اودری میله یعنی دولس زره قدمه لاړشی نوهغه ونه شلیږی
دوم (٢) داچه که هغه په خپوکولی کې په پنډی باندې ونه تړل شی نونه غورځیږی
دریم (٣) داچه اوبه تری تیری نه شی
څلورم (۴) داچه ددینه کوم څیزپه نظررانه شی یعنی که په سترگو اچولو سره په دی کې وکتل شی نوڅه ونه لیدل شی ١٣ذی قعده ١٣٢١هـ (امداد صفحه ٥ج١)

سوال : (٧٠) دفقه دکتابونوڅخه دصاحبینورحمهم الله په مذهب مسح په جرابوثابته ده خویه دی کې نی دشخینین شرط لیکلی ددې حدپورې عقل کارنه کوی چه دشیخینوتعریف ترکومه

حده پورې دی ، په قدوری کې خوداليکلی دی چه : يشفان الماء اوپه حاشيه باندې ئی دجوهرنيره په حواله داليکلی دی چه مالايری من ماتحتهمامن خلاله اوپه شرح وقايه کې يستمسکان علی الساق بلاشدليکلی دی ددې کتابونوله مخی دزړه پوره اطمنان نه راځی ددې لامله دجناب عالی په خدمت کې عرض دی چه آيا جرابې يعنی مروجه موزه چه مونږ يې په يخنی اوتودوخی موسم کې اغوندو ،برابرخبره ده پلنه ياتنګه وی چه هغی کې ډېله هم وی اونری هم وی پدې باندې مسح جائزدی اوکنه ؟ خمايودوست چه په دينی علوموکې لاس لری خودتقليدسره ارتباط نه لری هغه ماته لازښونه وکړه چه ته بيدريغه په دغوموزومسح کوه په دی باندې مسح له احاديثواودفقه کتابونونه په پوره ډول ثابته ده ددې لامله ددې دتحقيقی کولوضرورت پيداشو، ځکه چه دټولوعلماؤ دژبوڅخه دشروع څخه ترننه پورې اوريدل کيږی چه دريږه موزوباندې مسح کول وی اودجرابو په هکله مدعی داوائی چه يستمسکان علی الساق چه معنابې دادی چه په پنډی موزه پاتې کيږی اودريږی ،ښنګری پرانستی پريښودل نه دی په کار اومشهوره دادی چه په پنډی باندې دريږی اوديوه فرسخ دوه فرسخه ګرځيدلوڅخه هم موزه يعنی جرابه نه رالويږی ؟

جواب : په درمختارکې ئی دغه ټول مجموعه قيودشرطونه ګرځولی اوکوم علت چه ددې ټولوشرطونو دتحقق لپاره دی يعنی دهغه خف معنی کيدل دغه دليل دی ددې خبری چه دلايستمسکان معنا همداده چه راونه لويږی،اوپه حديث کې چه کوم راغلی دی هغه مبهم اومجمل دی ځکه هغه دواقعی حکايت دی اوحکايت دفعل عموم نه وی لهذا نوروډلايلوپه لوری ګرځيدل پکاردی ځکه خمونږ مشهوره جرابی پدې شان نه دی نو مسح پری جائز نده فقط ۲۵جمادی الاخری ۱۳۲۵ھ(تتمۀ اولی ص۷)

سوال :(۷۱) دشرع متين مفتيانوڅخه ارشاددی زيداوعمروسره مناظردی، زيدوائی چه دپوستکې دموزونه پرته هيڅکله مسح صحيح نده ، هو که جرابې دوړيو يادډبل (وړی) وی اوداسې کلکې جوړی شوی وی چه ګرد اودوړی کې نفودنه شی کولی اوصلابت ئې داسې وی چه که په ځمکه کيښودل شی نوو دريږی نو په هغی مسح صحيح ده بحوالۀ کتب فقه ارشاد وفرمايی بينواتوجروا؟

جواب :دزيدقول صحيح دی په عينی شرح هدايې کې پدې فتوی نقل شوی ده ۲۲ذی الحجه ۱۳۳۱ھ(تتمۀ ثانی صفحه ۱۰۴)

په انګريزی بوټ باندی چه ټوله ښپه پټه کړی دمسحی کولو حکم

سوال :(۷۲) تل بوټ يعنی په هغه بوټ چه په هغه کې ښنګری پټ وی مسح جائزده اوکنه ؟

جواب :فی الدرالمختارباب المسح علی الخفين شرط مسحه ثلثة امورالاول کونه ساترمحل فرض الغسل القدم مع الکعب اويکون نقصانه اقل من الخرق المانع فيجوزعلی الزربول لومشدودا الا ان يظهرقدرثلثة اصابع والثانی کونه مشغولاًبالرجل والثالث کونه مما يمکن متابعة المشی المعتادفيه فرسخا فاکثراه وفی ردالمحتارقوله مشدودالان شده بمنزلة الخياطة وهومستمسک بنفسه بعدالشد کالخف المخيط بعضه ببعض فافهم وفی البحرعن المعراج ويجوز علی الجاروق المشقوق علی ظهرالقدم وله ازراريشدهاعليه تسده لانه کغيرالمشقوق وان ظهرمن ظهر القدم شئ فهو کخروق الخف قلت والظاهرانه الخف الذی يلبسه الاتراک فی زماننااه ددې لامله چه پدې بوټ کې دريواړه شرطونه دجواز دمسحی پيداکيږی کوم چه برنی روايت کې ذکردی نوپدې باندې مسح جائزده البته پدې خاطرچه په ځای دبوټونو استعماليږی اويادنجس والی په خاطر يادسوء ادب په خاطربلاضرورت په هغی لمونځ کول نه دی پکار، والله تعالی اعلم يوم الاضحی ۱۳۲۲ھ امدادصفحه ۲ج۱)

سوال : (۷۳) که اودس هم ساقط شی په دی کلوشومسح کولی شی اوکنه ؟ چه دننه ته يې ګرداوغبارنه رسيږی ؟

جواب :فی الدرالمختارشرط مسحه کونه ساترالقدم مع الکعب اويکون نقصانه اقل من الخرق المانع فيجوزعلی الزربول لومشدودا الاّ ان يظهرقدرثلاثة اصابع وفی ردالمحتار لان شده بمنزلة الخياطة وهو مستمسک بنفسه بعدالشد کالخف المخيط بعضه ببعض فافهم وفی البحرعن المعراج ويجوزعلی الجاروق المشقوق علی ظهرالقدم وله از راريشد هاعليه تسدی لانه کغيرالمشقوق وان ظهرمن ظهر القدم شئ فهو کخروق الخف اه قلت والظاهرانه الخف الذی يلبسه الا تراک فی زما نناج۱ص۲۲۹.ددينه معلومه شوه چه په يادی شوی کلوشی هم مسح رواده پدې شرط چه په ګرځيدوکې دداخل نه پښې ياجرابې په نظررانه شی اوکه په نظرراځی نوپه سوال کې ښکاره کول په کار دی چه څومره په نظرراځی .تتمه اولی صفحه ۸)

دبلو جرابو په سرد پوستکي موزه والغوسته په هغې باندې مسح

سوال: (۷۴) آیا په هغو د پوستکي موزو کي دجرابو پښو کول درست دی چه مسح پری صحیح دی اوکنه؟اویه دغو خرمنو موزو باندي دجرابود پښو کولو په صورت کي مسح درست ده اوکنه؟ صواب لرونکي خواب څخه مومطلع وفرمایی ؟

جواب: فی الدرالمختاراوجرموقه ولوفوق خف اولفافة ولااعتبار بمافی فتاوی الشادی لانه رجل مجهول لایقلدفیما خالف المنقول فی ردالمختارثم الذی فی هذه الفتاوی هونقله عنهافی شرح المجمع من التفصیل وهوان مایلبس من الکر باس المجردتحت الخف یمنع المسح علی الخف لکونه فاصلا وقطعة کرباس تلف علی الرجل لاتمنع لانه غیر مقصود باللبس وقداطال فی رده فی شرح المنیة والدرر والبحر لتمسک جماعة به من فقهاء الروم قال ح وقداعتنی یعقوب باشا بتحقیق هذه المسئلة فی کراسة مبینا للجواز لماساله السلطان سلیم خان اهــ ددینه معلومه شوه چه په سوال کي په مذکوره صورت کي مسح درسته دی. (ج۱ص۳۱ تتمه خامسه ۳۲۲).

باب الحیض والنفاس والاستحاضة:

دټولی شوی وینی نه وروسته چه کومه وینه راشی دهغې حکم

سوال: (۷۵) دعلقه مضغه دغورځیدلو څخه وروسته چه کومه وینه راځی هغه دنفاس وینه ده اوکنه ؟

جواب: نده فی الدرالمختاروالنفاس دم یخرج عقب ولداو اکثره ولومنقطعاً عضواً الاقله فقط (امدادصفحه ۱ج۱)

دحمل دغورځیدونه وروسته دحیض اواستحاض حکم

سوال: (۷۶) که وروسته دحمل دلویدلو څخه کوم اندام ښکاره نه شی بلکه خالصه وینه وی ،یایوازی دغوښی ټوټه وی نوهغه وینه چه داسقاط نه وروسته لیدل شوی حیض ده که استحاضه ؟

جواب: فی الدرالمختاروسقط ظهربعض خلقه کیداورجل اواصبع اوظفراوشعرولدحکما فتصیربه نفساء الی قوله فان لم یظهرله شیئ فلیس بشئ والمرئی حیض ان دام ثلاثا وتقدمه طهرتام والااستحاضة اه وفی ردالمختارقوله وتقدمه ای وجدقبله بعدحیضها السابق لیصیر فاصلابین الحیضتین الخ قوله والاستحاضة ای ان لم یدم ثلثاوتقدمه طهرتام اودام ثلثاولم یتقدمه طهرتام اولم یدم ثلثا ولاتقدمه طهرتام،نوپه مسئوله صورت کي نفاس خونه دی ،بیا که دغه وینه دری ورځو پوري وه اوددینه وړاندي دطهرموده پوره وه نوحیض دی کنی استحاضه ۵ رجب ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه صفحه ۵۰)

داسقاط حمل متعلق حکمونه دنفاس اولمونځ اوروژه اونور

سوال: (۷۷) ددوه میاشتو اسقاط وشودغوښی ټوټه چه دصورت نښی پری ښکاره وی وغورځیده ددي څه حکم دی ،دفن کول اوکفن لازم دی اوکنه ؟اویه دغه صورت کي چه کومه داسقاط نه وړاندي یاوروسته جاری وی هغه په نفاس کي داخل دی اوکنه ؟ لمونځ اوروژه په دغه صورت کي څنګه کول واجب دی اوکنه څکه پوره ولادت نشته ؟

جواب: فی الدرالمختارباب الحیض فی احکام النفاس وسقط ظهر بعض خلقه کیداورجل اواصبع اوظفر اوشعرولا یستبین خلقه الابعد مائة وعشرین یوماً ولدحکمافتصیرالمراة به نفساءالی قوله فان لم یظهرله شئ فلیس بشئ والمرئی حیض ان دام ثلثاوتقدمه طهرتام والا استحاضة وفیه باب صلوة الجنازة والاای وان لم یستهل غسل وسمی عندالثانی وهوالاصح فیفتی به علی خلاف ظاهرالروایة اکرامالبنی ادم کمافی ملتقی البحاروفی النهرعن الظهیریة وان استبان بعض خلقه غسل وحشر هوالمختاروادرج فی خرقة ودفن ولم یصل علیه اه وفی ردالمختار مواخذاعلی تقدیره بمائة وعشرین یومامانصه ولکن یشکل علی ذلک قول البحران المشاهد ظهور خلقه قبل هذه المدة الی قوله ایضاهوموافق لماذکره الاطباء الخ وفیه علی قوله والایستهل مانصه شمل ماتم خلقه ولاخلاف فی غسله ومالم یتم وفیه خلاف والمختار انه یغسل ویلف فی خرقة ولایصلی علیه اه دمذکوره روایت څخه معلومه شوه چه که دانسانی بدن داجزاؤ کوم جزء لکه لاس ،پښه ، ګوته نوک ،ویښته وغیره ښکاره شی هغه شرعاً ماشوم دی ،اوکومه وینه چه دهغه نه وروسته راشی هغه نفاس دی ددي لامله لمونځ ساقطیږی ،اوروژه دی نوروورځوکي قضاء ونیسی،اویه دغه

صورت کې دی هغه ته غسل هم ورکړل شی اوکه کوم څیز ښکاره نشی نوهغه ماشوم ندی، دهغه لپاره غسل اوکفن اونه د قاعدې موافق دفن شته . البته په دی خاطرچه دآدمی جزء دی نو دغسی تنویستل پکار دی ،اودغه صورت کې داوینه هم د نفاس نده ،بلکه ودی کتل شی چه ددینه وړاندې راغلی حیض څومره موده وه ، اودغه وینه څوورځی راغلی ،که حیض راتلل یې دپنځلس ورځی پازیاتی وی او دغه وینه لږ ترلږ دری ورځی راغلی وه نوحیض دی اوبوشرط هم کم شونواستحاضه دی چه لمونځ اوروژه تول پکې صحیح دی . والله اعلم ۲۹ ذی الحجه ۱۳۲۱ هـ امدادی جری امدادصفحه ۴ ج۱،

سوال : (۷۸) که دحمل لویدلوڅخه وروسته کوم اندام ښکاره نه شو بلکه خالصه وینه وه یایوازی دغوښی توکره وه نوهغه وینه چه د اسقاط نه وروسته لیدل شوی حیض دی که نفاس یااستحاض ووائی؟

جواب :کله چه کوم اندام ښکاره شوی ندی نودغه وینه خونفاس ندې اوس کتل غواړی که دغه وینه ددری ورځونه کم کې ونه دریده اوددې وینې دراتلونه وړاندې طهردطهر په حالت کې تیرشوی نوداحیض دی کنه نواستحاض دی ۔فی الدرالمختارفان لم یظهرله شیئ فلیس بشیئ والمرئی حیض ان دام ثلاثاوتقدمه طهرتام والااستحاضة اه باب الحیض والنفاس ۹ ذیقعده ۱۳۳۰ هـ تتمه اولی ص۱۰،

دکومی ښځی چه لمړنی ماشوم وشی دهغه حکم

سوال :(۷۹)کومه ښځه چه اول خل یې ماشوم وشودپاکیدلو لپاره دڅلویښت ورځوانتظار نشته، اودهغې دڅلور ورځو وینه دنفاس راغله اوبنده شوه اویوه شپه اوورځ بنده وه ، نودوهمه ورځ دهغې سره دمیړه وطی جائزده اوکنه ؟ څکه چه په اول اولاد کې دعادت حال هم معلوم ندی، یااول اولادچه دکومی ښځې وی دهغې دمیړه لپاره څلویښت ورځی انتظارکول ضروری دی که ضروری ندی نوڅوورځی وینې راتلو نه وروسته وطی وکړی احتمال شته چه بیاراشی ؟

جواب :فی الدرالمختار وان لعادقالی قوله حق تغسل اوبمضی وق ردالمختارتحت قوله وان لعادقا مانصه وکذا لوکانت مبتداة درددې لامله چه په دی کارکې دحیض او نفاس یوشان حکم دی د مذکوره روایت څخه معلومه شوه چه مسئوله صورت کې وطی جائزده . ۱۲ محرم ۱۳۲۲ هـ تتمه اولی ص۲،

دعادت دهیرونکې حائضی حکم

سوال :(۸۰) یوی ښځې ته دلسوورځونه زیات وینه راغله اودهغې نه لمړنی خپل عادت بالکل هیرشوی چه لمړنی میاشت کې څوورځی وینه راغلی وه نواوس دغی ښځې لپاره څوورځی لمونځ قضاکول لازم دی ؟

جواب : هغه دی تحری یعنی اټکل دی وکړی یعنی یاده دی کړی چه څوورځی تیره میاشت کې حیض راغلی ؤ،اوکومی ورځی چه په غالب گمان کې حیض یادشونوهرمره ورځی دی ځان حائضه وگڼی اودهغولمونځونه دی نه قضاکوی، اوکومی ورځی چه په غالب گمان سره طهر په یادوی هومره دطاهر وگڼی اودهغوی لمونځونه دقضاکړی اودچاچه دواړه جانبه برابروی په احتیاط دی عمل وکړی،یعنی د هغولمونځونه دی هم قضاکړی ،اوکه په راتلونکې میاشت کې هم دمظنونه عادت څخه خبره وه نوبیادهم دلمونځونویه وختونوکې په اټکل باندې عمل وکړی ،یعنی ددغه اټکل څخه کوم وخت چه په غالب گمان سره دحیض معلوم شونوهلته دی دحیض په احکامو عمل وکړی ،یعنی لمونځ وغیره دی نه کوی اوکوم وخت چه دطهر ښکاره شودلته دی غسل کولوسره لمونځ وغیره وکړی،اوهغه څوک چه په غالب گمان سره یې کوم کار پوهی ته رانغلوهغه دی په احتیاط باندې عمل وکړی یعنی کله چه داشبه وه چه زه حائضه یم یعنی تراوسه خماحیض قطع شوی ندی یاطاهره یم یعنی سابقه حیض خمابندشوی نوغسل دی وکړی لمونځ دوکړی اوبدې صورت کې احتیاط داهم دی چه راتلونکې وخت هم غسل کولوسره دوختی لمونځ نه وړاندې دی دهغواعاده وکړی بیادی وختی لمونځ وکړی اوکله چه داشبه وی چه زه پاکه یم یعنی خماروسبنی طهارت دوامداردی حیض شروع شوی ندی یاحائضه یم یعنی حیض شروع شوی نوبه اودس کولوسره دی لمونځ وکړی کذایفهم من الدرالمختار وردالمختارحیث قال وحاصله انها تتحری الخ ۸جمادی الاخری ۱۳۲۹ هـ تتمه اولی ص۲،

دهغې ښځې حکم چه وینه یې ددری ورځوڅخه کمه بندیږی

سوال : (۸۱) کومی ښځې لپاره چه اکثره داسې عادت وی چه دری شپې او ورځوڅخه وړاندې وینه بندیږی آیاهغه په شروع کې دوه دری ورځی روژی قضانه کړی په انتظار کې احتیاطا روژه ونیسی ،که دری شپې اوورځی پوره شی دغه وخت دی نوحیض وگڼی روژی دی

نه شمیری ، اوبیادی دهغو قضابې ونیسی ،که دری ورځواوشپونه په کم کې بنده شی نو استحاضه گمان کولوسره دی پوه شی چه هیڅ روژه نده تللی دلته څه کول پکار دی ؟

جواب :فی الدرالمختارفیه (ای بالبروز) تترک الصلاة ولومبتداة فی الاصح لان الاصل الصحة والحیض دم صحة شمی ردالمختار ج۱ ص ۲۹۲ .پدې ترتیب دلته دعادت په سبب غالب اوښکاره داده چه داد بیماری وینه ده ،اوددې غوښتنه داده چه دابنځه لمونځ اوروژه پری نږدی لکه څنگه چه سوال کې بې تجویزشوی ۱۷ رمضان ۱۳۳۲هـ تتمه ثانیه صفحه ۱۲۲،

دهغې وینې حکم چه داقل طهرنه وړاندې شروع

شی اوداقل طهرنه وروسته پورې روانه وی

سوال : (۸۲) که دچامیاشتی عادت ،۹، نهه یالس ،۱۰، ورځی وی اود شل ورځوپاکوالی عادت ئی وی اودهغې د دوم میاشتی عادت شروع شو اولسم تاریخ پاکه شوه اودپاکیدونه ،۹، نهه ورځی وروسته بیاراشی کومی چه اوس بې شپږمه ورځ ده په دغه موده کې بې لمونځ ، روژه ټول د عادت سره سم کړی دی ، همغه شان چه زیوربهشتی کې دی چه دهر لمانځه لپاره دی تازه اودس وکړی اوس داپوښتنه ده چه اوس دپاکې زمانه پنځلس ورځی شوی نواوس دی سرله صباح میاشتی زمانه شروع کیږی اوکه دعادت موافق ،۲۰، ورځی پاکه پاتې کیږی اودشل ورځوځخه وروسته دمیاشتی زمانه شروع کیږی که دصباځخه دپاکې زمانه نه وی نوپدغه حالت کې اعتکاف درست دی اوکنه یعنی دقرآن اولمونځ تلاوت دی نه کوی یوازی تسبیح وغیره دی وائی ؟

جواب : فی ردالمختار وان وقع (ای الاستمرار) فی المعتادة فطهر ها وحیضهامااعتادت فی جمیع الاحکام ان کان طهرها اقل من ستة اشهر والافتردالی ستة اشهرالا ساعة وحیضها بحاله ج۱ص۲۹٤قلت یرادبالاستمرارظهورالدم فی غیرزمان الحیض فیحکم فی المسئول عنهابالاستمرار لان المدة التی ظهرفیهاالدم لیس بزمان حیض لانه لم ینقض اذذاک اقل زمان الطهر ولایراد بالاستمرار عدم الانقطاع ابدا لانه ح یتعذر الحکم علیها ابدا مادامت حیة هف ویصدق علی هذه ایضا ان کان طهرهااقل من ستة اشهرفیحکم علیهابرده الی عادتها، خلاصه

داچه ددی دغی وینی ته داستحاضی وینه ویل کیږی اودعادت موافق دشلوورځیورې پاکه بلل کیږی ۲۸ رمضان ۱۳۳۳هـ (تتمه ثالثه ص ۸۲،

طهردپنځلس ورځوځخه کم نه وی اگرکه لږکم هم وی

سوال :(۸۳) دفقه کتابونوکې لیکل شوی دی چه کمه موده دطهر پنځلس ورځی پوره تیریدل دی ،اودکومی ښځې حیض ،یانفاس مثلادرمضان په اول تاریخ دماسپښین نه وروسته ودریده اودیادی شوی میاشتی په پنځه لسم تاریخ په همدغه وخت بیاوینه ولیدل شوه آیادری ساعته ، یایو ساعت یادو ساعته کم ته اعتبارورکولوسره دطهرحکم شته اوکنه ؟

جواب :طهربه نه وی څکه چه پنځلس شپه اوورځ څخه کم دی فی الدرالمختارباب الحیض والناقص عن اقله الخ وفی ردالمختارقوله والناقص الخ ای ولوبیسیرقال القهستانی فلورات المبتداة الدم حین طلع نصف قرص الشمس وانقطع فی الیوم الرابع حین طلع ربعه کان استحاضة الی ان یطلع نصفه فحینئذ یکون حیضاو المعتادة بخمسة مثلا اذارات الدم حین طلع نصفه وانقطع فی الحادی عشرحین طلع ثلثاه فالزائدعلی الخمسة استحاضة لانه زادعلی العشرة بقدر السدس اه ای سدس القرص ج۱ص۲۹۳-۲۲ذی الحجه ۱۳۳۱هـ تتمه ثانیه امداد الفتاوی صفحه ۱۰۲،

دحائضی ددعاگانواواورادولوستلوحکم

سوال : (۸٤) دخینومستوراتو سوال دی چه دجناب تالیف کتاب قربات عندالله وصلوات الرسول او مناجات مقبول دحیض په ورځوکې هم دهغوی په کورکې ولوستل شی اوکنه څکه چه په دی کې دقرآن مجید آیتونه اودرسول الله حدیثونه لیکل شوی دی ؟

جواب :فی الدرالمختار احکام الجنب ویحرم به تلاوة القران ولودون اية علی المختاربقصده فلو قصدالدعاء اوالثناء اوافتتاح امراوالتعلیم ولقن کلمة کلمة حل فی الاصح اه وفی ردالمختارقوله علی المختار ای من قولین مصححین ثانیهما انه لایحرم مادون آیة ورجحه ابن الهمام بانه لایعدقارنا بمادون آیة فی حق جواز الصلوة فکذا ههنااعترضه فی البحر تبعا للحلیة بان الاحادیث لم تفصل بین القلیل والکثیروالتعلیل فی مقابلة النص مردوداه قلت (ای اشرفعلی) بانه لیس تعلیلا بل تفسیر للحدیث الناهی کحدیث ابن عمر مثلاعن النبی ﷺ لاتقرء الحائض

ولاالجنب شیئا من القرآن اخرجه الترمذی فان النهی تعلق بالقران ومادون اية لایسمی قرانااو النصوص واردة علی محاورات اهل اللسان فهوایضا عمل بالحدیث ثم ذکرفی الدرالمختارفی احکام الحیض وقراة قران بقصده الخ وفی ردالمختارقوله بقصده فلوقرات الفاتحة علی وجه الدعاء اوشیئامن الایات التی فیهامعنی الدعاء ولم تردالقراءة لاباس به کماقدمناه عن العیون لابی اللیث (قلت وهومانقل فی احکام الجنب ونصه) قال فی العیون لابی اللیث قرا الفاتحة علی وجه الدعاء اوشیئامن الایات التی فیهامعنی الدعاء ولم یردالقرائة لاباس به وفی الغایة انه المختار واختاره الحلوانی لکن الهندوانی لاافتی به وان روی عن الامام الخ د دغوروایتونوڅخه څوکارونه اخستل شوی دی:-

اول امر: دجنب اوحائض قرآن لوستل روانه دی ، پدي کي د چااختلاف نشته ددینه داهم معلومه شوه چه دیوه پوره آیت لوستل جائزندی.

دوم امر: دحدیثونولوستل جائزدی ، پدي کي هم اختلاف نشته

دریم امر: دخینوپرنزددآیت نه کم لوستل جائزندی.

څلورم امر: که قرآن دتلاوت په قصدونه لوستل شي بلکه ددعاء په قصدولوستل شي، کله چه په دي کي ددعامعنی وی نوداکثروپه نزد جائزدی ، خینوپه دی فتوی نده ورکړی.

پنځم امر: ددي لامله چه معناګانی دفقهیه روایتونوحجت دی ، لهذا همدغه روایتونه دحدیثونودقرات په جوازباندي خصوصا ددعاپه حدیثونوباندي دال دی ددي تقریرڅخه مفصل خواب سوال حاصل شو. داخوبیان دنفس حکمونوؤ چه ضروری ؤچه ددلایلوبیانول دعمل کولولپاره ضروری ندی، لکن داهل علمودنشاط لامله دهغوددلایلوپه طرف په لنډول اشاره کوم: داول امردلیل په مذکوره عبارت کي ذکردی یعنی: لاتقرء الحائض ولاالجنب الخ وفی الباب احادیث کثیرة غیر ماذکر. داول امرددوم جزء دلیل هم همداحدیثونه دی څکه چه پدي باندي دقرآن قرائت صادقیږی. ددوم امردلیل هم همدا حدیثونه دی څکه په دی باندي دقرآن قرائت نه صادقیږی همدارنګه پرته د بخاری اونسائی څخه ټولو اصحابودصحاحو داحدیث ذکرکړیدی.کان ﷺ یذکر الله فی کل احیانه کذافی احیاء السنن. ښکاره دی چه دغه حدیث ته هم شامل دی بلکه قرآن ته هم شامل دی ،چون د قران د قرائت څخه نهی وارده ده نوددي څخه مخصوص شوی دی.او د حدیث قرائت په دی عموم کي داخل پاتي دی ،همدارنګه خپله حضور علیه السلام داسي حالاتو کي کلام فرمایلی اودهغه هر کلام حدیث دی نودحدیث دلوستلو جوازدفعلي دلیل څخه هم ثابت شو.

دریم امر: دمانع دلیل هم همداحدیثونه دی منطوقا،پدي بناء چه قرائت په لغت کي دی ته هم شامل دی اودمبیح دلیل هم همداحدیثونه دی مفهوماً پدي اساس چه داپه عرف اومحاوره کي قرائت نده

څلورم امر: داکثرودلیل دغه حدیث کیدای شی ، عن عائشة کان رسول الله ﷺ اذاکان جنباواراداان یاکل اوینام توضا وضوءه للصلوة رواه مسلم وعن عائشة ان النبی ﷺ کان اذا اراداان یطعم وهوجنب غسل کفیه ومضمض فاه ثم طعم رواه الدارقطنی وقال صحیح کذافی احیاء السنن اویه نوروحدیثونوسره په اول د خوراک کي بسم الله اودخوراک څخه په فارغیدلوکي الحمدلله ویل نقل شوی دی اوشرعی اودس هم دجنابت لری کونکي ندی ، اولغوی اودس خواودس ندی ،نودجنابت په حالت کي دبسم الله اوالحمدلله ویل ثابت شول،اودبسم الله قرآن کیدل په تواترسره ثابت اودلایل مطلق دی دتسمیه تامه اوغیرتامه لپاره اوالحمدلله په یوه قول چه دقران آیت غیرتامه هم عام دی قران دی ،خوددي لامله چه ددي تسمیه او حمدله څخه مقصدتلاوت نه ؤبلکه دافتتاح،اختتام،اوتبرک مقصود ؤ،نوجائز وګرځول شوی نوپه امررابع کي داکثرقول ثابت شو،اود بعض قول معلوم شوکه یوازی په تنزه اوحتیاط باندي مبنی (تهاله) دی چه خلک دحدودو څخه تجاوزونه کړی شی ،نودسدذرائع په ډول بي د جوازفتوانده ورکړی ، کنه هغوی هم تسمیه اوحمدله نا جائزندی ویلی څکه چه په دغه وخت کي ددي دقرآن کیدلو خطورهم نه ؤ، نوپدي کي دتجاوز عن الحدود احتمال نه ؤ.

دپنځم امر لپاره دامرثانی تقریرکافی دی فرع ددي لپاره چه دحائض اوجنب په حکمونوکي دومره توپیر نشته نودغه حکمونه اودلایل د دواړو لپاره مشترک دی،داصل سوال خلاصه خواب دادی چه دقربات عندالله قرانی اوحدیثیه دعاګانی دحائضی لپاره لوستل جائزدی، یوازی په ادعیه قرانیه کي دغه قیدشته چه ددعاپه نیت دی ولولی دقران په نیت دی نه لولی اوڅنګه چه ددي احتیاط علماً اوعملاً توقع نه وه هلته احوط اوورع منع دی اوتعجب ندی دفقیه هندوانی لپاره چه هغه دعوامو لپاره ددي منع فرمایلی دی

فائده: ددي تحریر څخه معلومه شوه چه دټولو اهل فتوی هدف د حدیث اتباع ده ګواکي داستدلال په طریقه کي اختلاف شته دی. والله اعلم اشرف علی ۴شعبان ۱۳۵۲ھ،النور رمضان ۱۳۵۷ھ.

باب الانجاس وتطهيرها

دمړه څرمن د رنګولو څخه وروسته پاک دی او دا او کې وغيره حکمونه

سوال : (۸۵) څه فرمايي د دين علماء او مفتيان د شرع متين د هغه حيوان د څرمني په پاکوالي کې چه په خپل قضاء مرشی اور نکمال (رنګ ورکونکي) قوم د هغه حرامه غوښه په خپل تصرف کې راوسته او د هغه پوستکي څخه د رنګ ورکولو څخه وروسته يو جوړه بوټ وغيره تيار وی په ټولو اهل السنة والجماعة مسلمانانو کې دغه کار رواج موندلی دی چه د اودس څخه وروسته خپی دو ښخلو سره په دی کې کړدی، پدې صورت کې د دی خپی او مصله (جای نماز) پاک دی او که نجس ؟ او رنګ ورکړل شوی د کافر هغه څرمن لره چه اصل ېې مرداروی څنګه کيدای شی چه پاک شی ؟

جواب : د خنزير نه پرته چه نجس العين دی او انسان څخه پرته چه مکرم او محترم دی نور د ټولو خارويو څرمن په رنګ ورکولو سره پاکيږی اګر که هغه خاروی مردار وی، وکل اهاب دبغ فقد طهر وجازت الصلوة فيه والوضوء منه الاجلد الخنزير والادمی لقوله عليه السلام ايما اهاب دبغ فقد طهر هدايه جلد اول ص ۲٤ عن ميمونة قالت اهدی لمولاة لنا شاة من الصدقة فماتت فمر بها النبی ﷺ فقال الاد بغتم اهابها فاستمتعتم به فقالوا يارسول الله ﷺ انها ميتة قال انما حرم اكلها ابو داؤد جلد ثانی ص ۲۱۳ نور ډير حديثونه د دې مضمون شة من شائی فليرجع الی کتب الحديث نو کله چه رنګ شوی څرمن پاکه شوه نو په دی کې لمدی خپی په اچولو سره نه مرداريږی (امداد صفحه ۱ جلد ۱)

سوال : (۸٦) د زمری، ليوه، او سپی وغيره په څير خاوری چه مردار دی مسلمانان د دوی هډوکي، او وازړی وغيره استعمالولی شی او که نه ؟ که استعمالولی شی نو په کوم ډول لاره ؟

جواب : د مردارو حيواناتو پوستکي پرته د خنزير نه په رنګولو سره پاکي کيږی د هغوا استعمال روا دی او هډوکي، ملا، شاخ ، ويښته وغيره ټول پاک دی او د هغه نه ګټه اخستل جائز دی او د مردار وازدی (وازړه) ناپاکه ده هغه دی په هيڅ ډول استعمال نکړای شی، ولا بيع جلود الميتة قبل ان تدبغ ولاباس ببيعها والانتفاع بها بعد الدباغ ولاباس ببيع عظام الميتة وعصبها وصوفها وقرنها وشعرها ووبرها والانتفاع بذلک کله ۱۲ هداية ج ۱ ص ۲۷ وکذلک الزيت اذا وقع

فيه ودک الميت فان کان الزيت غالبا جاز بيعه وان کان غالبا لم يجز والمراد من الانتفاع حال غلبة الحلال الانتفاع فی غير الابدان واما فی الابدان فلا يجوز الانتفاع به کذا فی المحيط ۱۲ عالمگيری ج ۳ ص ۱۳۱ فقيل يارسول الله ﷺ ارايت شحوم الميتة فانه يطلی بها السفن ويدهن بها الجلود ويستصبح بها الناس فقال لا هو حرام ۱۲ (ابو داود ج ۲ ص ۱۳۷ فقط ۱۹ ربيع الثانی ۱۳۰۱ه امداد ج ۱ ص ۱۵)

د داد (بيماری ده) څخه چه کوم رطوبت وځی د هغه پاکوالی او نه پاکوالی

تحقيق او په کوم رخت چه دا رطوبت ولګيږی په هغې باندې د لمونځ کولو حکم

سوال : (۸۷) د داد د ګرولو څخه چه کومی اوبه بهيږی هغه پاکې دی او که ناپاکه او پرته جوړيږی نو لمونځ کيږی او که نه ؟

جواب : وفی رد المحتار عن المجتبی الدم والقيح والصديد وماء الجرح والنفطة وماء البثرة والثدی والعين والاذن لعلة سواء علی الاصح د دينه څرګنده شوه چه دا اوبه ما تونکي دی، او په درمختار کې دی .و کذا کل مايخرج منه موجب لوضوء او غسل مغلظ. د دينه ښکاره شوه چه دا اوبه نجسی دی، او د دې لپاره چه دا مغلظه نجس دی د دې داغو نو وينځل واجب دی ۱. او مغلظه نجس ديوه درهم پورې معاف دی نو که دغه داغ د خوريد ولاهله ديوی روپی نه زيات نه وی نو لمونځ کيږی (۱۷ رمضان ۱۳۲۲ه امداد صفحه ۵ ج ۱)

د لامده رخت کومی مرداری ځمکې باندې ايښودل يا مردار رخت سره تاوول

سوال : (۸۸) که يوه جامه پاکولو لپاره وزوبيښل شی او دغه پاکه لمده کپړه په کومی ناپاکی جامی يا بوجی يا ځمکې باندې کيښودی شی نو هغه پاکه کپړه پاکه ده او که ناپاکه ؟

جواب : فی الدر المختار لف طاهر فی نجس مبتل بماء ان بحيث لو عصر قطرت نجس والالا ولو لف فی مبتل بنحو بول ان ظهر نداوته او اثره تنجس والالا. لد دينه معلومه شوه چه هغه ناپاکه لباس پوزه کې وغيره که د عين د کوم نجاست څخه ناپاک وی نو د دې د اثر د راتلو څخه د غه پاک لباس

---

۱ دا هغه صورت کې دے چه د زخم نه لاړې شی اوبه وبهيږی او کيږی باندې ولګيږی، او که اوبه، نو وغيره صرف د زخم په خوله باندې وی او لباس وربانديې څوځله ولګيږی تردی چه په لباس باندې خوری شی دا ناپاک نه دے او نه ئې وينځل واجب دی ۱۲ محمد شفيع

ناپاکه کیږی گنی نه ،اوکه هغه دعین نجاست نه ناپاکه نه وی بلکه دناپاکه اوبووغیره نه ناپاکه شوی وی نوکه دغه پاک لباس دزبیښلو نه په څاڅکو شوی وی نوناپاکه کیږی اوکنه نه ناپاکیږی ۲ ذی الحجه ۱۳۲۲ھ امدادصفحه ۳ج۱)

اصلاح دتصحیح الاغلاط څخه :

ددې لپاره چه په سوال کې لوند شوی پاک ده اووچ نجس ده اود پوښتونکې مقصددادی چه که مبتل طاهرپه نجس غیرمبتل باندې کیښودی شی نوهغه پاک پاتې کیږی اوکنه ناپاکه کیږی . اوپه خواب کې چه کوم فقهیه روایات نقل کړای شوی دی هغه ددې اپوټه (برعکس) دی یعنی مبتل نجس دی اوغیرمبتل طاهر نوپه مذکوره روایت کې نص نه دی شوی ،همدارنګه عنوان دخواب په ظاهره کې دسوال موافق ندی،همدارنګه هغه کېره چه دناپاکواوبوڅخه نجسه شی هغه په نحوبول کې داخل دی خودخواب څخه معلومیږی چه هغه په نجس مبتل بالماء کې داخلولی شی ددې دلایلو څخه دعبارت تغیرهرومرو معلومیږی اودخواب تقریر پدې ډول پکارؤ، ددې عبارت څخه مفهومیږی چه که پوزکې وغیره داوبوڅخه بالکل لوند شوی نه وی، نوکپره پاکه دی،اوکه لوند شوی وی نوکه دومره لوندشوی وی چه په کپړه باندې دومره لوندوالی راغلی دی چه هغه په زبیښلوسره څاڅی.دغه مهال نوناپاکه ده کنه نوپاکه ده څکه چه دغه وخت پوزه کې وغیره نجس مبتل بالماء دی چه دهغې حکم دادی چه بحیث ان عصر، تنجس والالا، لاکن په دی تقریرهم دغه خواب مخدوش دی څکه په صفحه ۱۷۲ دشرح منیه کې راغلی دی. وکذا(ای لاینجس) لونشر الثوب المبلول الطاهر علی مکان یابس نجس فابتل منه لکن لم یظهر عین النجاسة فی الثوب وکذاان نام علی فراش نجس فعرق وابتل الفراش من غیره فانه ان لم یصب بلل الفراش بعدابتلا له بالعرق جسده لاینجس جسده وکذااذاغسل رجلیه ومشی علی لبدنجس فابتل اللبدلاینجس رجله وکذاان علی ارض نجسة بعدماغسل رجلیه فابتلت الارض من بلل رجلیه واسودوجه الارض ای بالنسبة الی اللون الاول لکن لم یظهر اثر البلل المتصل بالارض فی رجلیه لم یتنجس رجله وجازت صلوته بدون اعادة غسلهالعدم ظهورعین النجاسة فی جمیع ذلک اه ددې روایاتونه معلومیږی چه هرکله کوم مبلول طاهر دنجس یابس سره ونښلی نوترهغه وخته به دمبلول لوندوالی دنجس یابس سره یوځای کیدوسره نجس نشی،اونجس کیدوسره طاهرشی سره دوباره متعلق نه شی دغه وخته پورې

طاهر څیزنه نجس کیږی ،اوترڅوچه همداسې وی نونجس گرځی ،برابرخبره ده چه دزبیښلو نه وروسته څاڅکې تری راځی اوکنه،اوپه یادشوی خواب کې دتقاطراشتراط مذکور دی ددې لامله مذکورخواب صحیح نه شو نودرمختاردروایت پربښودوسره دشرح منیه په روایتونو استدلال کول پکارؤ اودخواب تقریر داسې کیدل پکارؤ پوزکې وغیره دکېږی څخه لمدی نه وی نو تردغه وخته پورې پاک ده اوکه لمده شوی وی نوکه دومره لوندی شوی وی چه دهغې لوندوالی په کپړه نه لګیږی نودغه وخت هم پاک دی ،اوکه دومره لوندشی چه دهغې لوندوالی کپړی ته رسیږی نوناپاک شو. اوکه پوزه کې وغیره هم لامده دی نوبیاپه هرحال ناپاک دی هذاماعندی والله اعلم بالصواب :

دفیل دخرطوم (پزی) څخه چه کومې اوبه څې دهغې حکم :

سوال : (۸۹) څه فرمائی ددین علماء پدې مسئله کې چه څوک په فیل باندې سوریږی اوفیل په گرځیدوکې دگرمی په سبب دپوزی په ذریعه دګیډی اوبه نقلولوسرهٔ خپل بدن باندې شیندی دادهغه عادت دی ، آیا دغه اوبه پاکې دی اوکنه -.څکه دسورلی لباس باندې کم اوزیات غورځوی فقط .

جواب :ناپاکه دی فی العالمگیرية - لعاب الفيل نجس کلعاب الفهدوالاسداذاصاب الثوب بخرطومه ینجسه کذافی فتاوی قاضی خان اه ۲۹ مطبع مصطفائی.والله اعلم وعلمه اتم ۷/رمضان ـ۱۳۲۱ھ امدادج۱ص/۸)

دماهی صفراء نجس دی :

سوال : (۹۰) څه فرمائی پدې مسئله کې چه دماهی صفراء (زیړ) پاک دی یاناپاک،دصفراء حکم نی په فقه کې دمتیازوپه شان لیکلی ، مګرد ماهي دمتیازوپه وجودکښې شبه ده اوکه وی هم نوداوبودخاروی په سبب غالباناپاک به نه وی دوهم داچه که دماهی صفراء په پاکواجزاؤ کې شامله شی تیل نی وویستل شی نودماهیت دبدلون په سبب اولری کولودنجسه اجزاؤ لکه (دلړم اوسرطان پیره) جائزدی اوکنه ؟

جواب: نمبر (۱) ناپاک [1] فی الدر المختار کره تحریما من الشاة سبع الحياء والخصية والغدة والمثانة والمرارة والدم المسفوح والذكر وفي ردالمحتار ذكر الشاة اتفاقي لان الحكم لايختلف في غيرها من الماكولات اه.
نمبر (۲) جائز ندی دا د ماهیت بدلون ندی بلکه دیوه خاص ترکیب لامله ددې اجزاء لاسته راورل، یا وروسته د مرکب کیدونه د مجموعه نجس غوړی ترلاسه کول دی، په خلاف د بیری چه هغه بالکل دیونوی څیزنه وروسته استحاله حادث کیږی، او دا کار ډیر ښکاره دی. والله اعلم.
۲۹ رمضان ۱۳۲۱ هجری (امداد صفحه ۸ ج ۱)

د (۹۰) نمبر مسئلې تتمه داولی صفحې تتمه ۲۲۱:

خلاصه د (۱) سوال: دپاکوالی یانه پاکوالی دصفراء (زیړ) دماهی څخه (۲) جواز دلاسته راوړلو دغوړیو د هغه نه

دځواب خلاصه: ددواړو سوالونو څخه ناپاک

تسامح: پاکوالی، نه پاکوالی بل څه دی او حل او حرمت بل څه دی لکه څنګه چه حیوان مائی المولد لکه شمشتی او چنګبنه پاک دی چه که وړ ووړشی او اوبو کې واچول شی اوبه نه ناپاکه کیږی وضوء روادی، مګر د هغوی د حرمت په خاطر اکل او شرب حرام دی. فلو تفتت فيه نحو ضفدع جاز الوضؤ به لاشربه لحرمة لحمه ۱۲ الدر المختار ۱ ص ۱۹۱. نو د ماهی د صفراء د حرمت د ثبوت د منلو سره د هغه ناپاکې نه ثابتیږی کمالایخفی که وویل شی چه مراد د سائل د پاکې او ناپاکې څخه حل او حرمت دی لهذا مولنا د هغه په غرض پوهیدلی ځواب ئې ورکړی، وایم په مفتی باندې ځواب د هغو الفاظو چه د سائل څخه حاصلیږی واجب دی نه د مراد څخه چه داقلبی کار دی د مفتی علم په هغه محیط ندی خصوصاً په ځواب کې مفتی صاحب هم د ناپاک لفظ ویلی دی که داسې وای نو به حرام یا مکروه سره په ئې تعبیر فرمایلی و (تتمه اولی ۳۳۱)

دکرسف دپاکولو طریقه:

سوال: (۹۱) د شامی صفحه ۲۲۱ جلد اول کې متنجس څو قسمه کړیدی: (۱) هغه چه د نجاست جذب پکې نه وی (۲) لږ جذب پکې وی (۳) ډیر جذب وی. دریم قسم دوه قسمه دی (نمبر ۱) زبیښل ممکن دی (دوم نمبر) زبیښل ممکن ندی که ډیر جذب وی او زبیښل ممکن نه وی نو د امام محمد په نزد د طهارت کومه طریقه نشته، او د امام ابو یوسف په نزد د پاکیږی چه دری ځلی پریمنځل

[1] ددې مسئلې مزید تحقیق دد پنه وروسته د نمبر ۹۰ مسئلې تتمه په عنوان کې راځی هلته دی وکتل شی ۱۲ (محمد شفیع)

او وچ کړای شی لکه نوی ساعت وغیره سوال دادی چه کرسف په کس کې داخل دی او ددې د طهارت څه طریقه دی، او داوینا ممکن دی چه دا زبیښل والانتشی کیدای او ډیر جذب کوی؟

جواب: کرسف ظاهراً په دریم قسم کې ښکاری دا د جامی وغیره په منزله کې او زبیښل هم ممکن دی لکه چه ښکاره ده. ۱۲ ذی الحجة ۱۳۳۳ھ (امداد ج ۱ ص ۸)

دلاس دناپاک والی په صورت کې دلوټی وغیره نه داوبو د راویستلو صورت:

سوال: (۹۲) په لوی لوښی کې اوبه شته لکن ددینه داخستلو کوم څیز نشته او دده لاس نجس دی نو په دغسی صورت کې څرنګه اودس وکړی او لمونځ وکړی د لمانځه وخت تیریږی آیا تیمم وکړی او لمونځ وکړی یائې قضا کړی؟

جواب: که دوم سړی موجود وی هغه ته په ویلو سره دی اوبه راوباسی او لاس دی پریمنځی که نو د دستمال په اچولو سره دبیرون راوباسی کومې اوبه ددې څخه وځاځی ددینه دی یو لاس وینځی نو داسې دی وکړی، یا که خوله په کښی ځایږده نو غرغره کولو سره دی لاس ونه پریمنځی، او که دا یو هم ممکن نه وی نو بیدې صورت کې تیمم کولو سره دی لمونځ وکړی او هغه اعاده دی نه کوی. فی الدر المختار ص ۱۱۶ ولو لم يمكنه الاغتراف بشئ ويداه نجستان تيمم وصلى ولم يعد: نور صورتونه په ردالمحتار کې مذکور دی ۱۷ محرم ۱۳۳۴ھ (امداد صفحه ۹ ج ۱)

په هغې کپړې دلمونځ کولو حکم چه د څلورمې برخې نه زیاته نجسه وی:

سوال: (۹۳) که د چادر جامی څلورمی حصی څخه زیاته نجسه وی او اوبه وغیره نه پیدا کیږی چه پریمنځل شی په دې صورت کې لمونځ جائز ده که روا دی نو بیا وروسته د لمانځه اعاده وکړی او که نه؟

جواب: که دده سره ددینه پرته کومه پاکه جامه نشته نو بیدې کې دی لمونځ وکړی او اعاده دی نه کوی. فی الدر المختار شروط الصلوة ولو كان ربعه [1] طاهرا صلى فيه حتما اذ الربع كالكل اه ۱۷ محرم ۱۳۲۴ھ (امداد صفحه ۹ ج ۱)

[1] هذا الجواب مبنى على ماهو الظاهر من السوال من كون النجس من الثوب اقل من النصف ووجه الاستدلال ان الطاهر منه على هذا التقدير اكثر من الربع لامحالة فتجب فيه الصلوة بالاولى وان كان المراد بكون النجس اكثر من الربع اعم فالجواب انه ان كان الطاهر منه بقدر الربع فتجب فيه الصلوة حتما والافان كان اقل من ربعه طاهرا ندب الصلوة فيه وان كان الكل نجسا فان كانت نجاسة عارضة بنحو بول وغيره ندب صلوته فيه ايضا وان كانت اصلية يصلى عريانا حتما كما يظهر من الدر المختار والشامی ۱۲ (نوټ، دا تغیر د تصحیح الاغلاط صفحه ۳ څخه اخستل شوی دی)

په ولایتي رنګ باندې درنګ شوی کپړې حکم:

سوال :(۹۴)فقها، په ډیروځایونوکې نجس شیان داستهلاک په خاطر طاهر ګڼلي دي لکه صابون اوپه کاه ګل کې که بوس بدبویه (متعفن) شول او خوشائي، حتى چه په درمختارکې ئي تردي لیکلي چه په اوبو اوخته کې هر څیزظاهرېږي مرکب دهغې تابع وي ، اګرکه صاحب فتح ددې خلاف ته ترجیح ورکړې ده مګربه هرحال دامسئله دګنجایش قابل دی،نونن صبا په ولایتي رنګونوکې على الاغلب ساده رنګ شاملیږي،که ګنجائش راویستل شي نوځنګه دي؟دخوشایوځخه خود دی حالت لوی نده اوعموم بلوی ددې مقتضي ده چه ولایتي کپړې چه څومره راځي ټول په دغه رنګونوکې رنګي وي،دټولووینځلونه وروسته استعمالول على الخصوص په ژمي کې دخامو کپړې استعمال مشکل دی،خصوصادامام صاحب په مذهب هم ګنجایش شته څکه الکول د انګوروشرابوځخه نه جوړیږي ، اودامام محمد مذهب اګرکه مفتى به ده خوددې لپاره په هغه فتوی ورکول کیږي چه خلک پرهیزوکړي نود همدې لامله شرعاً خوصحیح ده او استعمالا دبحث وړ ده دحدیثونونه هم حرمت ثابت دی نه نجاست ، باقي دعموم بلوی دغه حالت ده چه پرهیزمشکل دی حتى چه څرمن چه په پوښونوکې لګیږي چه دقرآن مجیدپورې ددینه محفوظ ندی پاتې شوی ؟

جواب : دفقهاؤدتصریحاتوڅخه څرګندیږي چه دحقیقت بدلون مطهرده خودوصف بدلون پاکونکې ندی ردالمحتار ج۱ ص۲۳۵- نو دیته دحقیقت بدلون ویل مشکل ښکاری بل هوکالدبس لانه عصير جمدبالطبخ ردالمحتارص مذکور اوپه صفحه ۳۳۵ د هغه کې دی مایستقطرمن دردی الخمروهو المسمى بالعرقى فى ولاية الروم نجس حرام کسائراصناف الخمرآه. نوالکول سره معلومه شوه اوس پاتې شو مرکب ،نوددرمختارپه دی جزیبه کې ډیری خبری دی،او صحیح نجاست ده اودا ضرورت ده نوچه کله دا شته ده چه تحرزنشي کیدای اودامفقود ده درالمختارصفحه ۳۳۴-کې دی چه لواصابه بلا قصداځ پاکوم ضروری شي پرته لدینه نشي جوړیدای ردالمحتار صفحه ۳۲۱کې راغلي دي : بخلاف السرقين اذاجعل فى الطين للتطين لاينجس لان فيه ضرورة لانه لايتهيأالابه حلية البته دغه خبر چه داداشربة منهيه وڅخه نشي جوړیدای دګنجایش ځای دی که ثابت کړای شوتحقیق د وکړای شي بکم ربيع الثانى ـ ۱۳۲۴ھ (امداد الفتاوی ص۱۰ ج۱)

سوال مربوط ددکرشوی ځواب (۹۵)

دالکولونسبت داکترانواوډاکتری کتابونوڅخه چه ترکومه تحقیق شوی دادی چه دشرابوڅخه جوړیږي همدارنګه پدې عموم بلوی کې دخوشایو څخه څودرجې زایددی ، ادنی امرادی چه دهرتعلیم والاجیب کې څه ناڅه کاغذاوخطونه وی چه عموماانګریزی رنائی څخه لیکل شوی وی اوپه پوسته خانه کې دښارنوم لیکل کیږي هغه خوعموما انګریزی رنائی وی بلکه داسې رنائي هم دولایتي رنجوڅخه جوړیږي چه حال ئي دنورو رنګونوپه شان دی ، هغه کتابونه چه په مطبعه کې چاپیږي اوس عموماپه ولایتي رنائي سره چاپ کیږي اوس ترکومې چه پوهیږیوه مطبعه والاد داسې رنائي نه کتاب نه چاپوی پدې ټولو کښې احتیاط ډیرزیادسخت دی هونوخوشایوکې هم احتیاط ممکن دی مکان پوخ پلستریاخام پلسترکړی اوپدې طرف یوشان توجه ګرځول ممکن دی دخوشایوفاندی یوازی دادی چه دکاه ګل (اخيز،لیږ) نه وروسته دچړی والی څخه بندوی ممکن دی چه په دی څیری والی کې ختنه راووځي ددې په هکله په درمختارکې راغلي دی لانه لايتهيأالابه، اوڅرګنده ده چه نن صبارنګ دولایتي رنګ نه بغیرپسته سخته ده غرض داچه ابتلاء څودرجې دخوشایوڅخه زیاته ده اوضرورت ددینه څه کم ندی فقهاءدنجسویوسویه هکله تصریح کړیدی چه کله بدبویه کیدوسره په اخیرکې بوځای شي نودحقیقت انقلاب به منل کیږي ددینه هم ددې حالت کم ندی که پدې باندې نظر واچول شي نو ممکن ده ، غرض دا چه په هرصورت کښې ددې په هکله ښه په اسانی معلومیږي ؟

جواب :دحقیقت بدلون خوتراوسه خماپه زړه ندی لګیدلی البته ضرورت اوعموم بلوی په ربتیا معلومیږي، اوداشربة منهيه ونه نه جوړیدل دګنجایش محل جوړیدودامخکې هم عرض کړای شو ، والله اعلم (امدادصفحه ۱۱ ج۱)

په ناپاک رنګ باندې درنګ شوی جامې حکم:

سوال :(۹۶)که په نیل کې پلیته جامې ته غوپه ورکول شي اودهغې نه وروسته پاکې جامې ته غوپه ورکول شي ، هغه څرنګه پاکه کیدای شي ؟فقط په دری خله پرمینځلوسره یازیات ؟

جواب :دومره وومینځل شي چه اوبه بی رنګه لاړی شي (تتمه خامسه صفحه ۲۴۷)

دشیدواوغوړیو دپاکولو طریقه

سوال :(۹۷)په ترکیب الصلاة کې ئې لیکلی دی چه که شیدی یاغوړی ناپاکه شی نوهغه کې دری حصی اوبه یوځای کولوسره په اوربانديې پخول شروع کړی کله چه تولی اوبه وسوزیږی یوازی شیدی اوغوړی پاتې شی نوپاک شول دهغه استعمال درست وکړی ؟

جواب :فی الدرالختارویطهرلبن وعسل ودبس ودهن یغلی ثلاثاوفی ردالمحتارعن الدررلوتنجس العسل فتهیران یصب فیه ماء بقدره فیغلی حتی یعودالی مکانه والدهن یصب علیه الماء فیغلی فیعلوالدهن الماء فیرفع بشیئی هکذاثلث مرات آ هـ وهذاعندابی یوسف خلافالمحمدوهواوسع وعلیه الفتوی ج ۱ ص ۳٤٥ . ددی روایت نه معلومه شوه چه په دی طریقه پاکیږی _ فقط والله تعالیٰ اعلم ۷ ربیع الثانی ۱۳۲۵ هـ (امداد ص ۱۳/ ج ۱)

دیوکس پاکی کیږی بل کس استعمالوی شی

سوال :(۹۸)دناپاکوکپړودپاکوالی لپاره فقهاؤدنچوړلپاره دومره قدری شرط لګولی چه دطاقت څخه زائدنه وی تردی پوری که ددینه زائدقدرت والاظاهرنه کیږی دامسئله ډیره مشکله ده لازم ګرځی چه وینځل شوی کپړه کی دوهم مونځ نه کیږی

جواب :فی الدرالمختارویطهرمحل غیرهاای غیرمرئیة بغلبة ظن غاسل لومکلفاًوالافمستعمل طهارة محلهاالی قوله طهربالنسبة الیه دون ذلک الغیروفی ردالمحتارلان کل احدمکلف بقدرته ووسعه ولا یکلف ان یطلب من هواقوی لیعصرثوبه.دتولوعبارتونوڅخه معلومه شوه چه که داستعمالونکي غالب ګمان دزوال دنجاست وی ددی په حق کې هم پاکه ده،اوکه نه وه خوغاسل خپل پوره قوت خرڅ کړی دی نود غاسل په حق کې پاکه ده اوداستعمالونکي په حق کې ۱- پاکه نده ، اولدی کبله چه دغه صورت کم دی لهذاکوم مشکل نه لازمیږی والله اعلم ۲ رجب ۱۳۲۵ هـ (امدادصفحه ۱۴ ج ۱)

۱ دردمختارتول عبارت دادي لان کل احدمکلف بقدرته ووسعه ولایکلف ان یطلب من هواقوی لیعصر ثوبه شرح المنیة قال فی البحرخصوصاًعلی قول ابی حنیفة ان قدرة الغیرغیرمعتبروعلیه الفتوی اه ددي عبارت څخه معلومه شوه چه دامام صاحب مذهب دادے چه دبل قدرت ته اصلاً اعتبارنشته،نه دغاسل په حق کې اونه دمتعمل په حق کې کمایدل علیه قوله خصوصاًاوداهم معلومه شوه چه مفتی به قول دامام دے نوداتیجه راووته چه کوم مکلف غاسل په خپل پوره قوت سره وزبیښی نوهغه علی الاطلاق پاکیږی والله اعلم (تصحیح الاغلاط صفحه ۵)

په لوښی باندې دسپی دپس خوردی پاکولو طریقه

سوال :(۹۹)ددین علماء اومفتیان دشرع متین څه فرمائی چه دسپی پس خوردی باندې لوښی ددری ځلی پرېمنځلوسره پاکیږی دفقه دکتابونو په موجب لکه چه پوسنددې کښی داهم ده چه علامه ابن عدی په کامل کې دابوهریره څخه مرفوع روایت کړی دی چه کله سپی دچاپه لوښی کې خوله ووهی نوپکارده چه هغه تشه کړی اودری ځلی ئې پرېمنځی نودسائل مقصددادی چه دمس،نقری اونورولوښی اودختو او لرګیولو ښی اوچینائی لوښی ټول قسمونه دلوښوپه دری ځله وینځلوکې داخل دی اوپاکیږی اوکنه یاڅه فرق اوتفصیل په هغوکې شته؟بینواو توجروا.

جواب : په کوم لوښی کښی چه نجاست جذب نه وی هغه یوازی په دری ځل وینځلوباندې پاکیږی اوکوم لوښی کښی چه جذبیږی لکه دختی نوی لوښی اودهغوپه شان هغه دمفتی به قول پراساس دری ځل وینځلواو هرځل وچولوسره پاکیږی . اودوچولوڅخه مقصدداده چه داوبوڅخیدل ودریږی (وقدربتثلیث جفاف ای انقطاع تقاطرفی غیره منعصرممایتشرب النجاسة والابقلعهادرمختاروان علم شربة کالخذف الجدید المدبوغ بدهن نجس والحنطة المنتفخة بالنجس فعندمحمدلایطهر ابداًوعندابی یوسف ینقطع فی الماءثلثاًویجفف کل مرة والاول اقیس والثانی اوسع اه وبه یفتی در ۱۲ شامی جلداول ص ۲۲۱ والله اعلم ۲۴ شوال ۱۳۰۴ هـ (امدادالفتاوی صفحه ۱۵ ج ۱)

دکرسف لرونکي توتی دپاکولوطریقه او دوړو ماشومانو د متیازوحکم

سوال :(۱۰۰) څه فرمائی ددین علماء چه په بالښت،بړستن باندې غلیظه نجاست ولویږی،نود کرسف راویستل اوپاکول شرط دی یا څنګه؟اود صبی اوصبیې په متیازوکې درضاعت په مودی کې طهارت دبالغینود متیازوپه شان کول په کاردی اوکه څه فرق شته ؟

جواب :دکرسف ویستل شرط نه دی ، بلکه دکرسف سره دری ځله وینځل کافی دی ،اوزبیښل بالکل ضروری ندی که مشکل ؤ بلکه دری ځله اوبه بهول اوهرځل څاځکې دریدل کافی دی ، اوکه زبیښل مشکل نه وی نودری ځل نچوړکول پکاردی وقدربغسل وعصرثلاثاً فیماینعصروبتثلیث جفاف ای انقطاع تقاطرفی غیره ای غیرمنعصر درمختارقوله ای غیرمنعصرای بان تعذرعصره کالخزف اوتعسر کالبساط افاده فی شرح المنیة ردالمحتار.

دوم سوال ځواب دصبی اوصبي متیازي غلیظه نجاست دی، اگر که شودی سکي، وبول غیرماکول ولومن صغیرلم یطعم، درمختار، او دغلام دبول دنضح بول حدیثونه محمول دی په شدید تکلیف پرینود وباندي نه په طهارت یانجاست خفیفه باندي کمافی محله، والله اعلم (امداد ص۱۲ ج۱)

دغیرماکول اللحم دشیدو (پی) حکم:

سوال :(۱۰۱) دغیرماکول اللحم شیدی (پی) نجس یاغلیظه نجاست دی یاپاکي دی؟ بینوا توجروا؟

جواب : پرته دخنزیرنه نوردتولوځاروبوپی پاکي دی اگر که حلالی نه وی نودحرام ځاروی شیدی څښل به حلالی نه وی. کذاف الدرالمختار قبیل فصل البرفقط.

دترجیح الراجح څلورمی حصی (۷۹) صفحی څخه:

(تتمه اولی ص۳) بغیردخنزیرنه دتولوځاروبوپی پاک دی الخ اگر که مسئله مختلف فیه ده مگرترجیح صریح په قول ناپاکي دی. ولبن المیتة والفحتهاعنداني حنیفة وقالانجسة وهوالاظهرالخ ۱۲نفع المفتی ازمواهب الرحمن دمذهب جزئیات په ناپاکي باندي تصریح لری لبن الاتان نجس فی ظاهر الروایة ۱۲نفع بیض مالایوکل لحمه اذا تکسرعلی ثوب انسان فقیل نجس اعتباراللحم مالایوکل لبنه ۱۲ ترجیح صاحب الدرالمختارماخوذازتقدم ملتقی صریح نده وقول شامی وانه لاخلاف فی اللبن الخ غیرمسلم دی قال فی التحریرالمختار حاشیة شامی قوله وان لاخلاف فی اللبن الخ نص علی الخلاف فی البحر فی اللبن کالانفحة ۱۲، خصوصاپه پاکي اوناپاکي کي احتیاط دناپاکي په حکم کي دی دپنځم ترجیح ص۱۵۰ درتحقیق طهارت ونجاست حیوانات غیرماکول اللحم.

سوال :(۱۰۲) په صفحه۳ دتتمه ثانیه دامدادالفتاوی باندي بي لیکلی دی چه بغیردخنزیرنه دنوروتولو ځاوریو پی پاکي دی اودغه مضمون بي ددرمختارڅخه نقل فرمایلی دی ددرمختارپه عبارت کي ددي مضمون تصریح نشته دی اگر که ددي معنی موهم هرومرووده، خود مراقی الفلاح په عبارت کي ددي تصریح شته چه دغیرماکول اللحم ځاروبوپی (شیدی) نجسی دی. لکه چه دمراقی سره له طحاوی ص ۱۹باندي راغلی دی لتولدلعابهامن

لحمهاوهونجس کلبنهاددي لامله دجناب عالی خدمت کي گذارش دی چه دغیرماکول اللحم ځاروبو (پی) شیدی نجسی دی اوکنه؟

جواب : صریح په ضمنی مقدم دی لهذاترجیح نجاست ته دی (۹ جمادی الاخری ۱۳۲۳هـ)

مرداراوحرام ځاروی په غوړوکي سوځولوسره غوړناپاکیږی اوکنه؟

سوال :(۱۰۳) چه غوړیوکي یوحرام ځاروی لکه موږک، مړه، اونور سو خیدلوسره ځاروی کړای شونوددي غوړیوخرڅول، اخستل کول اویه هغه باندي مالش کول بغیردوینځلولمونځ کول درست دی اوکنه بینواتوجروا؟

جواب :فی الدرالمختاروتجزیبع الدهن المتنجس والانتفاع به فی غیرالاکل بخلاف الودک وفی ردالمختارقوله فی غیرالاکل کالا ستصباح والدباغة وغیرهماابن ملک ج٤ص١٨٦، ددي روایت څخه معلومه شوه چه ددي غوړیو خرڅول اواخستل صحیح دی، اود ضرورت لپاره مالش هم روا دی مگربغیردوینځلولمونځ صحیح ندی. ۲۷رجب ۱۳۲۷هـ (تتمه اولی امدادالفتاوی ص۳)

دترجیح الراجح څلورمی حصی صفحه (۷۹ څخه:

تتمه جلد۱ ص۳۰ عنوان دمسئلی مردارحرام ځاروی په غوړیوکي سوخیدلوسره غوړته مرداریږی ۱۲

الصواب : مرداریږی لکه چه په ص۲کي مصرح دی

وینی والا سماره په غوړیوکي سوزولوسره دغوغوړیو حکم:

سوال :(۱۰٤) یوه وینی والاسماردکلموغیره سره دکنجدو په غوړیو کي بنه سوزولوسره سکاره وگرځول شی نودغه غوړی پاک دی اوکنه؟

جواب : ندی (تتمه اولی صفحه ۲)

دحلال ځاروی سوزول شوی غوړیوحکم

سوال :(۱۰۵) کوم ځاروی چه حلال وی هغه که دکلموغیره سره داسي وکړی توغوړی پاک پاتي کیږی اوکنه؟

جواب : نه کیږی (تتمه اولی صفحه ۲)

دفرج دلوندوالی حکم

سوال :(۱۰۶)داکثروښخودرحمونوڅخه سپین لوندوالی همیشه بهیږی آیاهغه پاکې دی اوکنه ؟ اوداخراج په حالت کې لمونځ جائزدی اوکنه ، داخراج په حالت کې خواودس نه ساقطیږی ؟

جواب: دلته دری مواقع دی اوهرځای کې درطوبت حکم بیل دی ، یوه موقع دفرج دخارج دی ددې رطوبت په حقیقت کې خولی (عرق) دی اوهغه ښکاره دی ،اویوه موقع دداخلی فرج باطن دی یعنی ددینه وراندې دی یعنی رحم ،ددې رطوبت مذی یادمذی په قسم دی اوهغه نجس دی اویوه موقع خپله دفرج داخل دی ددې په رطوبت کې تردد دی چه هغه خولی (عرق) دی اوکه مذی دمذی لامله ددې په نجاست کې اختلاف دی اواحتیاط دیته په نجس ویلوکې دی (وان کان الاقوی دلیلا هوالطهارة لان هذا المحل لیس بمعدن للنجاسة ولاالرطوبة هذامن الرحم والمثاهی المجرة محتبسة صارت ماء بالاحتقان فهی کالعرق ومن ثم ابیح الوطی فی هذاالمحل والالم یبح لکونه موضع الاذی کحالة الحیض نومذکوره رطوبت دسوال ددوم قسم څخه دی دهمدی لامله نجس دی البته که محقق شی چه اول قسم دی نوطاهر دی یادریم قسم دی نواحتیاطا نجس دی ،اوکوم چه نجس دی داودس ماتونکې هم دی ، البته که هروخت جاری وی دهغه حکم دمعذوریه شان دی ، فی الدرالمختار ای برطوبة الفرج فیکون مفرعاعلی قولهمابنجاستها واماعنده فهی طاهرة کسائررطوبات البدن جوهرة وفی ردالمحتار قوله برطوبة الفرج الخارج فطاهرة اتفاقاه وفی منهاج الامام النووی رطوبة الفرج لیس بنجسة فی الاصح قال ابن حجرفی شرحه وهی ماء ابیض متردد بین الابیض والعرق یخرج من باطن الفرج الذی لایجب غسله بخلاف مایخرج ممایجب غسله فانه طاهر قطعاومن وراء باطن الفرج فانه نجس قطعاککل خارج من الباطن کالماء الخارج فی الولداوقبیله اه ج۱ص۳۲۲وماقالوامن طهارة رطوبة الولدالخارج من الرحم فالمراد ماعلی بدنه وهوکالدم الذی علی اللحم مع ان الدم السائل نجس فکذلک رطوبة الرحم نجسة ورطوبة الولدطاهرة فافهم ۱۲رمضان المبارک ۱۳۲۷هـ (تتمه اولی صفحه ۳)

سوال :(۱۰۷) ددین علماء څه فرمایې چه دښځو درحمونوڅخه چه کوم لوندوالی څڅیږی هغه ماتونکې داودس دی اوکنه؟

جواب: فی الدرالمختارای برطوبة الفرج فیکون مفرعاعلی قولهمابنجاستها واماعنده فهی طاهرة کسائر رطوبات البدن جوهرة وفی ردالمحتارقوله برطوبة الفجر ای الداخل بدلیل قوله اوخ وامارطوبة الفرج الخارج فطاهرة اتفاقاه وفی منهاج الامام النووی رطوبة الفرج لیست بنجسة فی الاصح قال ابن حجرفی شرحه وهی ماء ابیض مترددبین المذی والعرق یخرج من باطن الفرج الذی لایجب غسله بخلاف مایخرج ممایجب غسله .فانه طاهرقطعاومن وراء باطن الفرج فانه نجس قطعاککل خارج من الباطن کالماء الخارج مع الولداوقبیله اه ج۱ص۳۲۲.

ددې روایت څخه معلومه شوه چه دلته دری موقع دی (۱)بیرون فرج چه وینځل یې په غسل کې فرض دی ددې رطوبت پاک دی ،(۲) دننه فرج چه وینځل یې په غسل کې فرض ندی ددې په لوندوالی کې اختلاف دی اواحتیاط په نجاست کې دی (۳) نه فرج داخل ونه فرج خارج بلکه دفرج داخل نه هم تجاوزکونکې ددې لوندوالی نجس دی ۱۲ذی القعده ۱۳۳۱هـ (تتمه ثانیه صفحه ۹۴)

سوال :(۱۰۸) دخینوښځوڅخه چه کوم سپین والی په اکثروختونوکې راځی داپاک دی اوکه ناپاک اودس ددینه ماتیدونکې دی اوکنه ؟

جواب :فی الدرالمختاررطوبة الفرج طاهرةخلافالهماوفی ردالمحتارتحت قوله رطوبة الفرج طاهرة مانصه ولذانقل فی التاتار خانیة ان رطوبة الولدعندالولادة طاهرة وکذا السخلة اذاخرجت من امهاوکذا البیضة فلا یتنجس بهاالثوب ولاالماء اذاوقعت فیه لکن یکره التوضی به للاختلاف وکذاالانفحة هوالمختاراخ ج۱ص۳۲۱؛ ددینه واضح شوه چه پدې مسئله کې اختلاف شته ،مګردامام صاحب دمذهب کیدوپه سبب اود دی زمانی دضرورت کیدوپه خاطر هم ترجیح دیته دی چه هغه پاک دی اوددینه اودس هم نه ماتیږی ۱۲/ شوال ۲۴هـ (تتمه رابعه ۵۷)

دترجیح خامس اوتحقیق اوتفصیل درطوبت فرج څخه

په امدادالتفاوی څلورمه حصه کې نوشته شوی مسئله په ۲تاریخ دشوال کال ۱۳۳۴هـ کې چه کومه رساله دالامداد له بابت دمحرم ۳۵هـ کې دفرج درطوبت دطهارت متعلق یوخواب شائع شوی ؤلیکل شوی دی په دی باندې لاتدنی خط دیوصاحب علم راغی ،بله دومره مسئله چه په هغې کې ظاهرادجمهورمخالفت لازمیږی دی باندې غورکولوسره داشاعت اصلاح ضروری ده اوهغه داده چه په مذکوره پارچه صفحه ۳۴کې چه دفرج دخارج دسپین والی چه کوم سوال دی

ددینه مراد هغه سپینوالی دی چه په مرض دسیلان الرحم کې بیرون راوځی ،لکه چه نارینه وته چه دجریان مرض وی کوم ته چه داطباؤاوفقهاء په اصطلاح کې ودی ویل کیږی دابالاتفاق نجس اوداودس ماتونکې دی اوتاسو چه کوم عبارت ددرمختارددې سوال په ځواب کې فرمایلی دی په (۳۵) کې دلته هغه رطوبت مراد دی چه په فرج باندې هروخت موجود وی لکه څنګه چه دانسان په شونډو په همدې ترتیب په سپین ګل اودولدپه څرمن چه کوم رطوبت موجود وی هغه پاک دی فتغایرا

ددې ځواب ددې ځایه دالیکل شوی دی:

فی شرح الاسباب والعلامات بحث سیلان الرحم انه قدیعرض النساء ان یسیل من ارحامهن دائماً رطوبات وربماعرض لهن سیلان المنی کمایعرض للرجال وتلک الرطوبات امایکون تولدهافی الرحم نفسه اذا ضعفت القوة الغاذیة التی فیهاوامافضول تصل الیهامن جمیع البدن علی جهة الاستفراغ والتنقیة وفیه ویستدل علی المنی بلونه فی البیاض وقوامه فی یسیر الغلظ وعدم العفونة الی قوله فلذلک یکون (ای المنی السائل) خالیامن العفونة بخلاف الرطوبات الفضلیة التی تصرفت فیها الحرارة الغریبة الی قوله واماسیلان المنی فقدذکراقسامه وفیه قبل ذلک فی تعریف الودی وهورطوبة لزجة تسیل فی مجری البول عندارادته (ای البول) الی قوله وهی اذاکثرت غلظت وسالت بعدالبول ایضاً وفیه اماسیلان المنی وخروجه من غیرارادة ای من غیرمزاولة جماع فیکون امالکثرة المنی لقلة الجماع وکثرة تناول مولدات المنی واماالحدة المنی وحرافته وامالاسترخاء اوعیة المنی وبردمزاجهاوضعف قوتها الماسکة واماالتشنج وتمدد یعرض لعضل اوعیة المنی واماالضعف الکلیة وذربان شحمهافی شدة الشهوة اوکثرة الجماع واما لفکرفی الجماع اوسماع من حدیثه اه ملخصاً وفی ردالمحتار علی قول الدرالمختار ان رطوبة الفرج طاهرة عنده اه مانصه ای الداخل اماالخارج فرطوبته طاهرة باتفاق الی قوله فرطوبته کرطوبة والانف والعرق الخارج من البدن ص۱۷۲ج۱ ،ددې عبارتونونه لاندنی کارونه مستفادشول:

(۱) کوم لوندوالی چه اکثرادرحم څخه بهیږی کوم چه اصل سائل پې پوښتنه کړی ده لکه چه په سوال کې لفظ داکثرتصریح دی هغه ودی ندی همغه شان چه دودی تعریف مذکور فی العبارة الطبیة المذکوره نه معلوم شو۔

(۲) هغه لوندوالی منی هم ندی څکه چه دمنی سیلان دداسې اسبابوڅخه وی چه کله کله عارض اوپېښیږی لکه چه ددی مذکوره اسباب (د) فی العبارة الطبیة المذکوره) نه معلوم شو اوددې مسئوله رطوبت سیلان اکثراً وی

(۳) نوچه نه هغه ودی دی اونه منی اوسائله رطوبت دی ،نوبیا دغه دی چه پدې عبارت کې ذکرشوی دی ، قدیعرض للنساء ان یسیل من ارحامهن دائم رطوبات ، اوددائما څخه مراد همدا دی چه دهغې تعبیراصل سائل په عنوان داکثرسره کړی لکه چه ظاهردی اودارطوبت هغه هم ندی چه سائل دهغه تشبیه دانسان دشونډوسره ورکړی څکه چه داخوبالاتفاق طاهردی لکه چه په عبارت فقهیه مذکوره مصرح دی ،نودیته محل داختلاف څنګه ویل کیدی شی ؟ نوهرکله چه نه ودی دی همغه شان دروستنی سایل شبهه وه اونه منی دی اومذی نه کیدل خوظاهردی نوددې دنجس کیدو لپاره دودی اومنی نجس والی خوکافی ندی ،کوم دوم مستقل دلیل غواړی اونه هغه رطوبت دی ،کوم رطوبت چه دخولی په حکم کې دی چه په اتفاق سره طاهر دی نوداسې رطوبت مغائرة للودی والمنی والمذی والشبهة باللعاب کې امام صاحب اوصاحبینومختلف دی اوپه طریقه دابتلاء سره په اصل خوآب کې قول په طهارة باندې فتوی ورکول شوی په کوم چه دوم سائل ددې دودی کیدوپه اساس شبه وکړه ،نوهرکله چه برنی تقریر کې ددې منهدم والی ثابت شونودشبهی نشتوالی هم ښکاره شو

تنبیه : داصل خوآب په وخت دطب نه پوهیدوپه سبب داحقرذهن ددې تفصیل څخه خالی وو ،بیاوروسته تردد ددوم سوال وشونودیوه میلمه دوست په پته راکولوسره دشرح اسباب په طرف می رجوع وکوله ، نوداپورتنی تحقیق په ذهن کې راغی ددې لاهله چه په طب کې دنه مهارت نقص اوس هم په ماکې باقی دی دنوروعلماؤپه خواب باندې دی نظروکړای شی کوم چه صحیح جواب ثابت شی په هغه دی عمل وکړای شی ۲۰ ربیع الاول ۱۳۳۵ھ

دپنځمی ترجیح ص۸۸ په تحقیق دماتیدوداودس

په رطوبت دفرج سره دهغه دطهارت په صورت کې

یوه لفافه راغله چه په هغې کې خمادیوخواب نقل اودهغه په خلاف دوم خواب نوشته ؤلاندې شته

سوال :(۱۰۹)ښځینوښځونه چه کوم سپین والی اکثروخت راروان وی هغه پاک دی یاناپاک دی اوددینه اودس ماتیږی اوکنه ؟

جواب: فی الدرالمختار رطوبة الفرج طاهرة خلافاً لهما وفی ردالمختار تحت قوله رطوبة الفرج طاهرة مانصه ولذانقل فی التاتارخانية ان رطوبة الولدعندالولادة طاهرة وكذاالسخلة اذاخرجت من امها وكذا البيضة فلاينجس بهاالثوب ولاالماء اذاوقعت فيه لكن يكره التوضی به للاختلاف وكذاالانفحة هو المختار الخ ج۱ص۳۲۱. ددینه ښرګنده شوه چه پدې مسئله کې اختلاف دی ،خودامام صاحب دمذهب کیدوپه سبب هم اودی زمانه کې دضرورت کیدوپه سبب هم هغه ته ترجیح دی چه هغه پاک دی اواودس هم نه ماتیږی.

سوال:(۱۱۰)ماقولكم دام فضلكم فی رطوبة الفرج الداخل هل هی طاهرة ام لاوعلی الاول فلوخرجت من الداخل هل ينتقض بهاالوضوء ام لا؟

جواب: رطوبة الفرج الداخل طاهرة عندالامام لكن ينتقض بهاالوضوء لوخرجت منه فی الوقاية وناقضه ای الوضوء ماخرج من السبيلين اومن غيره ان كان نجسافی شرح الوقاية قوله ان كان نجسامتعلق بقوله اومن غيره فی عمدة الرعاية لابقوله ماخرج من السبيلين فان الخارج من السبيلين ناقض من غيرتقييدوفی البحرالرائق شرح كنزالدقائق تحت قوله لاخروج دودة من جرح بعدكلام ان الدودة حيوان وهوطاهرفی الاصل والشئ الطاهر اذاخرج من السبيلين نقض الوضوء كالريح بخلاف غير السبيلين كالدمع والعرق وفی منية المصلی وشرحه الكبيری ان كانت ای المراة احتشت ای الكرسف فی الفرج الخارج فابتل داخل الحشو انتقض وضوء هاسواء نفذالبلل الی خارج الحشواولم ينفذ للتيقن با لخروج من الفرج الداخل وهوالمعتبرفی الانتقاض لان الفرج الخارج بمنزلة القلفة فكماينتقض بمايخرج من قصبة الذكرالی القلفة كذلك بمايخرج من الفرج الداخل الی الفرج الخارج وان لم يخرج من الخارج واماآذااحتشت فی الفرج الد[illegible]ل فح ان نفذالبلل الی خارجه ای الحشو انتقض الوضوء والاای وان لم ينفذالی خارج فلاينتقض كمافی حشوا لاحليل الخ ومن ههناوضح الجواب والله تعالی اعلم بالصواب،

دلته مولوی حبیب احمدصاحب ځاپه استفسار باندې هغه دغه ځواب ولیکه:

دجناب عالی فتوی دعدم انتقاض درطوبة الفرج درطوبت مذکوره دطهارت په صورت کې بالکل صحیح دی اودمولویصاحب محمدامین ځواب صحیح ندی ،ددې تفصیل دادی چه

لکه څنګه چه دخروج من غیرالسبیلین په صورت کې دانتقاض طهارت لپاره دخارج نجاست ضروری ده همداسې دخروج من السبیلین په صورت کې هم ضروری ده ، اوددې دلیل دادی چه دریح قبل غیرمفضاة غیرناقض کیدومتعلق شرح منیه لیکلی دی الذی عول عليه قاضی خان وغيره ان الخلاف انماهوفی الخارجة من قبل المفضاة ولاخلاف فی عدم النقض فی غيرها لانها غير منبعثة عن محل النجاسة كذافی الهداية وهويشيرالی ان الريح نفسها ليست بنجسة وانماينجس لمرورهاعلی محل النجاسة ددینه معلومه شوه چه دخارج من السبیلین لپاره هم نجس والی ضروری دی خواه بنفسه هوكالبول والغائط يالغيره هوكالريح المستتبع للنجاسة وعلل صاحب مراقی الفلاح عدم الانتقاض بريح القبل بقوله لانه اختلاج لاريح وان كان ريحافلانجاسة فيه وريح الدبرناقضة ل مرورها بالنجاسة كذافی السعاية اوپه سعایه کې دی علل فی البدائع كون الدودة ناقضة بالنجاسة لتولدها من النجاسة وذكرالاسبيجابی ان فيه طريقتين احدايهماماذكرناوثانيتها ان الناقض ماعليهاواختاره الزيلعی كذا فی السعاية داروایتونه نص دی په اشتراط نجاست باندې همدارنګه په سعایه کې دی ،ان كانت ای الدودة من قبل المراة ففيه اختلاف المشائخ فالذين قالوابنقض الريح الخارجة من القبل قالوابنقضهاومن لم يقل به لم يقل به والخارجة من الذكرناقضة كذافی الذخيرة والخلاصة وفی التاتارخانية الدودة اذاخرجت من قبل المراة فعلی الاقاويل التی ذكرناه ددینه هم ضرورت داشتراط ثابت دی اوپه شرح منیه کې دی .وكذا الدودة والحصاة اذاخرج من احدهذين الموضعين ای الدبروالقبل فعليه الوضو لاستتباع الرطوبة وهی حدث فی السبيلين وان قلت بخلاف الخ د هغه نه هم اشتراط ثابت دی لانه قال لاستتباع الرطوبة اذلوكان الخروج مطلقا ناقضالم يحتج الی التعليل المذكورعناية کې دی ان قلت الكلية (ای ماخرج من السبيلين ناقض) منتقضة بالريح الخارجة من الذكروالقبل فان الوضوء لاينتقض به فی اصح الروايتين اجيب بانه خصوص من العموم لان الريح لاتنبعث من الذكروانماهواختلاج والقبل محل الوطی وليس فيه نجاسة ينجس الريح بالمرور عليها وهوفی نفسه طاهرعند المصنف انتهی،ددې ټولو تنصیصاتونه ثابته ده چه په سبیلین کې هم دغیر سبیلین په شان خروج نجس شرط دی هرکله چه دامعلومه شوه نودرطوبت فرج دطاهر والی په تقدیرکې انتقاض دوضوء کومه معنی نشی درلودلای هغه روایت چه مولویصاحب دغنیه څخه پیش

کړی نوددي متعلق ویل کیږي چه هغه مبنی دی درطوبت دنجاست په قول کمایدل علیه دلیله
المذکور بقوله لاستتباع رطوبة نوددي څخه استدلال نشی کیدای اویه البحرالرائق کي چه کوم
عبارت دی الشی الطاهراذاخرج من السبیلین نقض الوضوکالریح دی عبارت کي دطاهرڅخه
مرادطاهرلذاته نجس لغیره دی نه چه طاهر مطلقا همغه شان چه دعبارت مذکوره نه ظاهر دی
همدارنگه په درمختارکي دی وخروج غیرنجس مثل ریح اوشامی ددي لاندي لیکلی دی فانها
تنقض لانها منبعثة عن محل النجاسة لالان عینهانجسة لان الصحیح ان عینهاطاهرةدغه
عبارتونه خمونږ پربیان باندي دلالة واضحه کوی پاتی شوعبارت دشرح وقایه نو ددي خواب
دادی چه هلته دنجس څخه لذاته کالبول والغائط مراد دی اوهرکله چه پدي صورت کي ریح
وتنی ،وودهمدی په خاطرشارح وویلی چه ان کان نجسااو من غیرسره متعلق دی ترڅوچه پدي
کي ریح داخل شی هغه چه طاهرلذاته نجس لغیره وی ،ددي دلیل دادی چه شارح ویلی دی
والروایة النجس بفتح الجیم وهوعین النجاسة همدارنگه شارح دلاوودة خرجت من جرح په
شرحه کي لیکلی دی لانها طاهرة [1]- وماعلیهامن النجاسة قلیلة [2]-واماالخارجة من الدبر فتنقض
لان خروج القلیل منه ناقض ددینه معلومیږي چه خروج دطاهرمن السبیلین ناقض ندی که
نوده نه په کارؤوچه هغه دلان خروج القلیل منه ناقض ته القلیل منه ناقض په ځای لان
خروجهاناقض مطلقاویلی وای کمالایخفی علی من له ذوق سلیم ومعرفة باسالیب الکلام
نوددینه داثابته شوه چه دطاهر وتل هم ناقض دی ،بلکه ددي خلاف ثابت دی ، وفی عمدة
الرعایة صحح صاحب الهدایة والمنیة والمحیط وغیرهم عدم نقضها ای الریح الخارجة من
القبل) قائلین انهااختلاج لاریح وان کانت ریحافلانجاسة ددي عبارت څخه هم اشتراط نجاست
ظاهردی ،اومولوی عبدالحی صاحب چه څه په عمدة الروایة کي فرمایلی دی قوله ان کان ای
الخارج من غیرالسبیلین ناقض من غیرتقیید ددي مطلب دادی چه من غیرتقیید بهذالقیدای
کونه عین النجاسة اونفی دمطلق تقیید مقصد ندی ددي دلیل دادی چه هغه دشارح دقول
متعلق بقوله اومن غیره لاندي بي لیکلی دی لقوله ماخرج من السبیلین والایلزم ان لایکون
ریح الدبر ناقضة لانهالیست بنجسة بنفسهااووجه دلالت دادی که دهغه پرنزد دمصنف داقول

[1] فلاتنقض بنفسها ۱۲ منه
[2] فلاتنقض بغیرهافثبت عدم النقض مطلقا ۱۲ منه

ان کان نجسانجس لعینه ولغیره دواړولپاره شاملیږي سره لدی چه هغه تصریح دشارح خلاف
ده څکه چه هغه دادحیم په فتحی ضبط کړیده اوددي معنی عین نجاست گڼل شوی نوددینه په
تقریرسره ددي چه ما خرج من السبیلین متعلق کیدوسره دریح دسرغیرناقض کیدل نه لازمیږي
څکه چه اگر که هغه بنفسه نجس ندی مگرلغیره نجس دی وحینئذبطل قوله الایلزم ان لایکون ریح
الدبرناقضه وایضابطل تعلیله بقوله لانهالیست بنجسة بنفسهالان عدم کونه نجسة بنفسهالا یستلزم
عدم نقضه لجواز نقضه بالنجاسة المکتسبة العرضیة اوکه بالفرض شارح دوقایې یاصاحب
دالبحرالرائق هم همدامسلک وی چه خروج من السبیلین مطلقا ناقض دی نودایه نوروفقهاء
باندي حجت ندی کوموچه دنجاست شرط لګولی دی فلااعتراض بقوله لمافثبت المدعی باحسن
وجه ولله الحمدتم الجواب الثالث اوس دکتونکي علماؤ نه دی ددي تنقیدوکړی

دینځمی ترجیح ص ۱۲۶ اودموهم تفصیل اجمال متعلق درطوبت دفرج

سوال :(۱۱۱)دتتمه رابعه امدادالفتاوی دالامدادپانه دی ۱۳۳ ھ محرم میاشت کي شروع
صفحه ۳۵۰ باندي چه کوم خواب په ۱۲/شوال ۱۳۳۴ لیکل شوی درج دی هغه دسوال موافق
ندی څکه چه سوال کړای شوی دسپین والی چه خارج وی من الفرج څخه اویه خواب کي چه
کوم دلایل قائم شوی هغه دی دفرج درطوبت سپینوالی خوبسبب دسیلان درحم دفرج څخه
راخی ،لکه څنګه چه دنارینه ولپاره دمنی دجریان په وجه سپینوالی راخی اوذکرشوی رطوبت
په خواب کي هغه رطوبت دی لکه دشونډو رطوبت چه دفرج په پوستکي هروخت موجودوی
،دغه معنی درطوبت مادمرحوم مولنامحمودحسن صاحب څخه اوریدلی ده هیله لرم چه په
دی مسئلی باندي دبیاکتنی سره اصلاح شده شائع وفرمایې اینده کومه رایې عالیۀ وی ؟

جواب : په رښتیا مادطب نه پوهیدوپه سبب دغه رطوبت سائل من الرحم نه ګڼه هغه چه نجس
هم دی اوداودس ناقض هم زه مطلق یوه شوی یم بیاپه دغه مطلق کي په غیرسائل من الرحم یوه
شوم هغه چه دامام صاحب په نزد طاهراوغیرناقض دوضوء دی اوهمداهم غلطی ده دمطلق
ګڼلوپه صورت کي هغه تفصیل ته ضرورت ؤکوم چه دتتمه اولی دامدادالفتاوی صفحه ۳
باندي دداسي یوسوال په خواب مرقوم ۱۲رمضان ۱۳۲۷ھ کي ذکردی چه خلاصه دادی چه
دلته دری موقع دی اودهرموقع درطوبت جداحکم دی لوندوالی دفرج خارج طاهردی، اودفرج
داخل دباطن یعني رحم رطوبت نجس دی ،اوخپله دفرج خارج لوندوالی مختلف فیه دی دامام

صاحب په نزدطاهر دصاحبینوپه نزد نجس اوپه دی خای کې روایتونه هم مذکوردی
نوناظرینوته پکاردی چه دغه مجمل په دی تفصیل باندې حمل کړی اګرکه دغه مفصل په
تاریخ کې مقدم دی خو دغه مؤخربه ناسخ نه ګنی ۴ربیع الثانی ۱۳۴۲ھ

دچنګښی متیازی

سوال :(۱۱۲) دچنګښی بولی پاکي دی کنه که ناپاکي دی نوکومی ناپاکي ؟

جواب : فی الدرالمختار فی النجاسة الغلیظة وبول غیرماکول، نو ددې قاعدی پراساس د چنګښی
بولی غلیظه نجسی دی البته په هغه چنګښه کې چه اوبوکې اوسیږی حکم دنجاست دی ونه
کولی شی للضرورة کمافی الدرالمختارمسائل البیرولاتزح فی بول فارة علی الاصح وفی
ردالمختارولعلهم رجحوا القول بالعفوللضرورة ۹جمادی الاولی ۱۳۳۸ھ (تتمه اولی ص۵)

دچنګښی په پاکوالی باندې شبهه اودهغې ځواب

سوال :(۱۱۳)تاسویه زیوربهشتی کې لیکلی دی دسیندځاروی بغیرد ماهی (مهی) نورتول
حرام وی ،په ګوهربهشتی کې نوشته دی چه د بحری ماهی وازده پاکه ده که پاکه وی نوخوړل
بې پکار دی یاکه په استعمال اوخوړلوکې څه فرق شته ددینه موخبرکړی ؟

جواب :دپاکوالی لپاره حلال والی لازم نده دهمدی لامله خوړل درست ندی (تتمه خامسه ص ۳۲)

کوم چه دباوولوسره پاکیږی

سوال :(۱۱۴) یوسړی چه بوټ لاندې استعمال یې دښنګرو څخه بره پورې په اودس سره
واغوسته اوښکار ته لاړ، په لاره کې دهغوپه تلی باندې ،نجاست خته ، خوشابې وغیره ونښتل
کله چه دلمانځه وخت شو د بوټونو دخټلو څخه معلومه شوه چه پټی خلاصه شوی اودموزی
په غوړخولوسره بوټ ولویدی ددې لامله ددی دبوټونو تلی (بیخ) بې په بوسویاندې په
اینبودوسره ښه صفاکړی اوبیاپه پښوکولوسره بې لمونځ وکړنودالمونځ وشواوکنه ؟

جواب : فی الدرالمختارویطهر خف ونحوه کنعل تنجس بذی جرم هوکل مایری بعدالجفاف ولومن
غیرهاکخمروبول اصابه تراب به یفتی بدلک یزول به اثرها،ددې روایت نه معلومه شوه چه په
مسئوله صورت کې بوټونه پاک دی ۱۳صفر ۱۳۳۰ھ (تتمه اولی صفحه ۸)

موږک دسوی په غوړوکې پوخ کړای شی نودهغه حکم

سوال :(۱۱۵) په پنځه کیلوغوړیوکې یوه سویه وخوټیدی کله چه تحقیق وشو نومعلومه
شوه دغه غوړی پاک دی کنه ؟

جواب : فی ردالمختار وان خراها(ای الفارة) لایفسد مالم یظهراثره ج۱ص۲۲۷ ، ددینه معلومه
شوه چه داغوړی پاک دی. ۲شعبان ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه ص ۲۰)

انسانی اعضاء په غیرمنعصره شیانوکې داخل ندی

سوال :(۱۱۶) ددین علماء څه فرمایې پدې مسئله کې چه شرعی قاعده داده چه کوم ناپاک
څیز نه نچوړ کیږی نوهغه هغه وخت پاکیږی چه دهغه څاڅکې څاڅکې وڅڅیږی نواوس سوال
دادی چه آیادانسان لاس ،خپی پدې مخکینی قاعدی کې داخل دی اوکنه ، که داخل دی
نوهیڅوک هم داسې نه کوی ،یعنی څاڅکې څاڅکې نه څڅوی ،او همداسې دری ځلی پرله پسی
وینځلوسره لاس په لوټه وغیره کې لګوی نوآیالوټه وغیره ناپاکه کیږی اوکنه ؟اوکه داخل نه وی نوڅه
قاعده ده ؟ که دنچوړلوقاعده ده نوهیڅوک بې هم نه نچوړوی ،نو د هیڅا دلمانځه صحیح کیده نه
دی پکار جناب تحریر وفرمایې چه دانسانی اعضاء پاکولوڅه قاعده ده ؟ بینوا توجروا؟

جواب :فی الدرالمختاروقدربتثلیث جفاف ای انقطاع تقاطرفی غیره ای غیرمنعصرمایتشرب
النجاسة والافبقلعها فی ردالمختار قوله والا فبقلعها الی قوله ومثله مایتشرب فیه شئ قلیل کالبدن
والنعل ج۱ص ۳۴۳ .ددې روایت نه معلومه شوه چه په بدن کې داقاعده نده . ۲۴ رمضان ۱۳۳۱ھ
(تتمه ثانیه صفحه ۷۷)

دحراموځارویوپوستکې په ذبح کولوسره پاکیږی

دامسئله ددې فتاوی په صفحه په فصل فی الغسل باندې په پوره توګه لیکل شوی دی

په ګرمی کې اینبودل شوی پوستکې په لمدیدلوسره نه ناپاکه کیږی

سوال :(۱۱۷) داوښ مرداراوخام پوستکې په غوړیوکې داینبودولپاره یولوښی (آخور)
جوړول کیږی دداسې لوښوغوړیوخوړل روادی اوکنه ؟

جواب : درنګولوڅخه هغه پاکیږی اودرنګولویوصورت داهم دی چه هغه بالکل وچ شی اوذره لوندوالی په هغه کې پاتې نه وی نوهغه بیاد لمدیدوسره هم نه ناپاکه کیږی کذافی ردالمحتارفقط ۲۲ذی الحجه ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه صفحه ۲۰۳).

داوبوچینجی نجس ندی :

سوال :(۱۱۸) وچ چینجی په غوړیویاتیلوکې لویدلوسره په کوم اندام باندې ولیګیدہ نوبغیردوینځلونه لمونځ جائزدی اوکنه ؟

جواب : جائزدی ځکه هغه حرام دی خونجس ندی ځکه دموی ندی .۱۲ذی الحجه ۱۳۳۱ھ (حوادث الفتاوی صفحه ۱۲۵جلد۱و۲).

په نجس رنګ باندې درنګ شوی کوزی پاکول :

سوال :(۱۱۹) داوبومنګی په کلیوکې دهندوستان کلالان په نقش اونګار سره جوړوی اودخنزیر دوزرو لاندې بې پټوی ، داوروږکولونه مخکې پټول شوی دی په دی کې داوبو استعمالول جائزدی اوکنه ؟

جواب : دغه رنګ ناپاکه کیږی ،ددې لامله ترڅوچه دغه رنګ پاتې وی هغه په سطح دلوښی ناپاک دی ،البته که هغه بنه سولولوسولولو سره پریمنځی نوپاکیږی خودومره وینځل چه اوبه صفاراوځی .۲۷ رجب ۱۳۳۲ھ (حوادث صفحه ۱۴۵ج۱۱و۲).

هغه منی اومذی چه نری وی دطهارت لپاره سولول کافی ندی :

سوال :(۱۲۰) هغه منی چه پدې زمانه کې دطبیعتونودکمزوری لامله نری وی، که په جامه ولګیږی اووچ شی نودسولولو سره پاکیږی اوکه غسل ته ضرورت ؟ اومذی که په جامه ونښلی نوسولول کافی دی اوکه غسل لازم دی ؟

جواب : ف ردالمحتاروالنص وردفی منی الرجل ومنی المراةلیس مثله لرقته وغلظ منی الرجل والفرک انمایؤثرفی زوال المفروک اوتقلیله وذلک فیماله جرم والرقیق المائع لایحصل من فرکه هذاالغرض فیدخل منی المراة اذاکان غلیظاویخرج منی الرجل اذاکان رقیقالعارض ج۱ص۳۲۲ وفیه قال شمس الائمة الحلوانی مسئلة المنی مشکلة لان کل فحل یمذی ثم یمنی الاان یقال انه مغلوب

بالمنی مستهلک فیه فیجعل تبعاًاه ج۱ص۳۲۱داول روایت څخه معلومه شوه چه نری منی په ګرولوباندې نه پاکیږی اوددوم روایت څخه معلومه شوه چه دمذی وینځل مطلقاواجب دی ،والالم یکن هذا الایرادوالجواب معنی .۸صفر۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه صفحه ۱۲).

هغه چاتی چه خوشابې پری ونښلی په اورباندې دسوزیدونه وروسته پاکه ده :

سوال :(۱۲۱) یوه بله خبره دپوښتنی وړده چه که دچادچاتی بیخ ددارو په وجه په خته اوخوشابوسره پلسترکړه چه هغ داری بندی شوی ، او اوبه تودی شوی نویدې اوبوغسل اواودس جائز دی اوکنه ؟

جواب : کله چه څه اوبه دغه نجاست ته ورسیږی اونوری اوبه دی پورې ننښتی وی ،تولی ناپاکه کیږی ،خوهرکله چه هغه خوشابې دری څلورځله داورپه بلولوسره وسوزیدی نودماهیت په بدلون سره هغه پاک شوی نواوبه هم پاکې شوی ،نودسوزیدلونه وراندې پدې کې اوبه ګرمول اوغورخول پکار دی اودسوزولونه وروسته دغه چاتی پاکه کړی اوپه استعمال کې بې راولی ۱۲ ربیع الثانی ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه صفحه ۲۹).

په ښاتوکې مورک مړشونوددې دپاکولوطریقه :

سوال :(۱۲۲) یوه مسئله دپوښتنی ده چه خمادشهدویوه پیپه وه چه په هغی کې دوه ویشت کیلوشهد ؤو، په هغی کې موږک په لویدلو سره مړشوپرسیدلی اوشیندلی ندی ،شهددبوین کیدویورې هم ونه رسیدل ددې دپاکیدوکوم صورت شته اوکنه ؟ یوجناب تجویزوراندې کړی چه دشهدویه اندازه اوبهٔ ورسره یوځای کړی اودری ځلی بې پاک کړی اواوبه بیلی کړی نوپاکیږی لکه څنګه چه په غوړیوکې بې لیکلی دی ، که پاک نه شول نودموچیانواوچاروکښولاس وروړل ورته درست دی اوکنه؟هرکله چه هغوی دمرداروپوستکوعادتی دی یادکلالانولاس ورورل ورته درست دی اوکنه ؟

جواب :که شهدبهیدونکې دی نوټول ناپاکه شول ،اوبهٔ اچول اوجوش ورکول سوځول دځینوپه نزد مطهردی ، پدې ترتیب سره دی پاک کړ ای شی اوکفاروباندې دی خرڅ کړای شی ،اودنجس خرڅول هم درست ندی، ۲شعبآن ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه صفحه ۵۹).

سپی په شپلوغابونوسره کېږه چړی کړه نوهغه پاکه ده که ناپاکه ؟

جواب : (۱۲۳) دزید په کورکې سپی ده دساتنی لپاره هغه جامه چه دکټ لاندې زورنده ده داری اچوی بوه ورځ سهارزیدپه مسجدکې لمونځ وکړ څادربې په سرکړدلمانځهٔ نه وروسته پته ولګیده چه څادر داړل شوی دی ددینه قیاس چه سپیویه شپه کې داړلی دی ،دسپیولاړی په ضرورلګیدلی وی دسپیوداړل لیدل شوی ندی،اوس دامعلومول غواړی چه دزید لمونځ اومقتدیانو وشویاوګرځول شی ،

جواب : داخولړ لړی خبره ده چه کېږه دکوم بل سبب پخاطر شلیدلی وی اوداهم لړی ده چه لاړی لګیدلی نه وی خودالړی نده چه لاړی دی ددرهم له اندازی نه کمی وی ،خصوصاً کله چه کېږه لړ لړی داړل شوی وی اولړ اندازه مانع دصلاة نده اوهرکله چه دکثیرکوم دلیل نشته نوقلیل باندې حمل کیږی ددې لامله لمونځ درستیږی .۱۲ذی القعده ۱۳۳۳ه رتتمه ثالثه ۱۰۰،

هغه مورک چه حلال شوی نه وی دهغه وازدی ناپاکه دی :

سوال :(۱۲٤)خماپه پنبه باندې دموږکانوچربی رسیدلی خلک وائی نو آیادا نجس دی لمونځ په دی حالت کې درست دی اوکنه ؟

جواب :فی الصلاح الطب عن العالمگیریة الجلدالاول فصل مایجوز به التوضی ماطهر جلده بالدباغ طهرجلده بالزکوة وکذلک جمیع اجزائه یطهر بالزکوة سوی الدم اه ددې جزئیی څخه معلومه شوه چه که موږک بلا ذبح په کومه بله طریقه مړشی نوددی وازدی نجسه دی اودهغې سره لمونځ نه صحیح کیږی البته که دیرزیات ضرورت وی دغه وخت کې استعمال کړی چه دلمانځه په وخت کې وینځل کیږی .۳ محرم ۱۳۳۴ رتتمه رابعه صفحه ۱۰،

دعام ابتلاء په وخت کې دجامو په طهارت کې دګنجایش او توسع احکام :

جواب : (۱۲۵)دلته دسرکارله طرفه،دوبیان کیږی دوینځلولپاره سر کاری حوضونه واړه واړه جوړکړی دی،به هغوکې دغه خلک کیږی وینځی ددې حوضونواوبه دڅاګانونه ډکیږی ډیری کیږی په یوځل دغوحوضونو کې وینځلولپاره غورځول کیږی پدې کې پاک اوناپاک ټول وی،دداسې حوض نه وینځل شوی جامی پاکیږی اوکنه ناپاک او هغو کې لمونځ کیږی اوکنه؟ ددوبی وینا ده چه هغه دری ځلی اوبه بدلولو سرهٔ وینځی خوددې نه اطمنئنان نهٔ وی ددینه علاوه

هندودوبی هم وینځل کوی چه دوینځلوطریقه اوپاکولو طریقه هم ورته معلومه نده ، نو ددې خایه دری میله لری ده نوددې سببه ډیرکم دوبیان هلته کیږی وینځلوباندې پوهیږی،دحوض فراخوالی دومره ده چه دهغه شمیرپه قلتینوکې کولی شی ، چه شایددامام اعظم په نزدجائزنده ؟

جواب :دامسئله داماماتوترمینځ مختلف فیه ده،په سخت ضرورت کې همغه شان چه په صورت مسئوله کې ده ددوم امام قول اخستل جائز دی ،دهمدی لامله کوم شخص چه په بلی طریقی سره نه صفاکوی ددې لپاره دپاکې حکم څنګه به وی؟ ۲۲جمادی الاخری ۱۳۳۴ه رتتمه رابعه ۴۵،

دحضورعلیه السلام فضیلت پاک وُکنه ؟

سوال :(۱۲٦)دمعتبرروایت څخه په احد کې دخینوصحابه وڅخه د حضور علیه السلام دزخم دوینی ختل اودهغې دذائقی حاصلول اود حضور علیه السلام دبولواخستل ثابت دی پداسې حال کې چه دا دواړه څیزونه نجس العین دی نوددې واقعی تاویل څه دی ارشاد فرمایې؟

جواب :په روایت کې خوتنقیدنشته مګرکه داثابته هم شی نوعلما ؤ درسول الله ﷺ دی رطوباتونه طاهرویلی دی ، علامه شامی ددې تحقیق کړیدی نوبیخی کوم اشکال نشته اوددې په کوم دلیل کې مادچاکوم کلام منقول لیدلی ندی خوپه دی وخت کې خماذهن ته راغلی هغه داچه نبی علیه السلام دی شاربینو باندې بدندی ویلی اودهغه ﷺ بدنه فرمایل بالاجماع شرعی جحت دی ربیع الثانی ۱۳۴۱ه رتتمه خامسه ۲۳۸،

سوال :(۱۲۷) یوه واعظ صاحب دلته تشریف راووړوهغه په لاندې ترتیب روایتونه بیان کړل چه دهغو متعلق دلته اکثریاران اختلاف کوی حضور لطفاً داهل اسلام داطمینان لپاره ددې روایتونومتعلق تحریر وفرمایې چه هغه صحیح دی اوکه غلط اوکه تکلیف نه کیږی نودکوم کتاب حواله هم تحریر وفرمایې ؟

روایتونه : (۱)نمبر دانبیاء علیهم السلام بول اوبرازپاکې وی اوخصوصا زموږ درسول الله ﷺ فضلات بالکل پاک ول څکه هغه سرتر خپونورو (۲) نمبر دانبیاؤ علیهم السلام بول اوبراز زمکه ډیرزر هضموی

جواب : هرومرویې داسې خبری بیان کړی مسلمانان پریشانه کړی چه نه په عقایدضروریه وکې دی اونه داحکاموڅخه دی ،دیبانولوڅیز عقائد اواحکام دی ،نه داسې روایتونه چه په هغوباندې نورقومونه هم وخاندی ،داسې روایتونه په څینوغیرمعتبروکتابونوکې راغلی دی

کوم چه تصدیق نه کول ېې واجب دی ، خکه صحیح سند نشته ، اونه تکذیب واجب ده خکه چه په نفسه ممکن دی دهمدی په خاطر په داسې کارونو کې مشغولیدل پکارنه دی،نه تصدیقااونه تکذیبا،اوداسې واعظانو ځنګه دوعظ اوریدل کیږی ، اوددوی نه دسند مطالبه ځنګه نشی کیدای پداسې حالاتوکې حقیقت معلومیږی.۸ربیع الثانی ۱۳۵۰ھ (النور رمضان ۱۳۵۰ھ صفحه ۱۰)

ددینه وروسته ددې متعلق بل خط راغی چه لاندې منقول دی

سوال:(۱۲۸)استادمحمدشریف خان صاحب اوس یوه استفتاء دعالیمقام په حضورکې پیش کړی وه چه ددې عریضی همرشته ده د جواب ځخه داظاهریږی چه مذکوره روایتونه ضعیف دی، اوهیڅ سند دهغوی نشته ،اتفاقا یوه صاحب ته په نشرالطیب کې ددغوروایتونو دلیدلو اتفاق وریپیښ شوهغه دنشرالطیب ۱۳۵ او۱۳۲صفحی ماته راوښودی اوس هغه فتوی اوداتحریر متضادښکاریږی په نشرالطیب کې روایت دعایشې صدیقی په قول بیان کولی شی خواب زرعطاکړی چه ترځو تسکین وشی (۲۲اګست ۱۹۳۱عیسوی)

جواب: ضعیف بی سنده نه وی بلکه په ضعیف سندباندې وی چه په عقایدوکې حجت نه وی په فضایلوکې منل کیږی ،ماپه سابقه تحریرکې همدالیکلی دی چه سندصحیح ندی نودواړوتحریرونوکې تضاد نشته دی خکه چه دضعیف نفی خومی نده کړی ، اوددغه سندی کمزورتیا لامله داسې کتابونه غیرمعتبرکتابونه ویل راغلی دی ،خکه معتبرصحیح ته ویل کیږی اوضعیف ته نه ویل کیږی پاتې شوه داچه بیانوکتاب کې ولی لیکلی دی نوکتاب خوپه فضایلو کې ده په عقایداواحکاموکې نده ، اوکه شاذاونادر داسې کوم یو روایت ولیکل شی نوګنجایش شته،بخلاف دهغه وعظ چه دعقایدو، احکامو دتعلیم لپاره وی په هغوی کې داسې مضامینوته ګنجایش ورکول ندی پکاردنوروعظونواوریدونکې ډیری کم فهم وی اوکتاب لوستونکې والااکثر فهم وی ،۸ربیع الثانی ۵۰ھ۔

اضافه: ددې خواب دلیکلوځخه وروسته می شرح الشفاء دملاعلی قاری کې دابحث له نظره تیرشو،هغه په فصل نظافت جسم نبوی کې پدې باندې ډیرمبسوط لیکل کړیدی چه دهغې خلاصه داده چه دځینوروایتونو ثبوت مقدوح دی اودبعضودلالت اوپه بعضی روایتونو کې دشاربینوداقول ذکردی چه شرتبه وانا لااعلم اویالااشعراوپه یوه روایت کې ددې متعلق دحضورعلیه السلام نهی فرمایل ذکردی ،او هغه دادی،روی ابن عبدالبران سالم بن ابی الحجاج حجمه ﷺ ثم

ازدردای ابتلع فقال اماعلمت ان الدم کله حرام وفی روایة لاتعدفان الدم کله حرام نومسئله بالکل واضحه شوه چه د طهارت دعوی دلیله ده ۸ربیع الثانی ۱۳۵۰ھ (النورشوال ۵۰ھ صفحه ۷)

دالکول په حکم کې تفصیل:

سوال:(۱۲۹) هغه انګریزی دوا چه ځښکل کیږی عموما په هغی کې الکول ګډیږی (داقسم دشرابو اعلی قسم دی یعنی دشرابو اصل دی) نوهرکله چه ددې خبری یقین وشواومسلمان دی نوپه انګریزی شفاخانه کې دواځښکل جائزدی اوکنه ؟

جواب: که الکول دانګورو، ممیزو، (هوسکو) اورطب اوخرماځخه لاسته نه وی راغلی نوبیدې کې ګنجایش شته للاختلاف اوکنه نولازه نشته للاتفاق. ۲۱محرم ۱۳۳۴ھ (حوادث رابع صفحه ۲۲)

دماښام ځالی (شوپرک) متیازی اوګندګی پاکه ده:

سوال:(۱۳۰) دشمکورک متیازی اوګندګی پاک دی اوکنه ؟

جواب: دشوپرک متیازی اوګندګی پاک دی فی الدرالمختار وبول غیرماکول ولومن صغیرلم یطعم الابول الخفاش وخراه فطاهروفی ردالمحتارعن البدائع وغیره لیس بنجس لتعذرصیانة الثوب والاو انی عنهاثم بعداسطر کان الاولی ان یقول فمعفوعنه اه باب الانجاس ، ۱۴جمادی الثانی ۱۳۴۹ھ (النورصفحه ۱۸ رمضان ۴۹ھ)

دنوی کیږی دنجاست دطهارت تحقیق:

سوال:(۱۳۱) نوی کپړه دبزاز دلته بغیردصفاکولوجائزده اوکنه ؟

جواب: فی الدرالمختارثیاب الفسقة واهل الذمة طاهرة جلد ۱ صفحه ۳۲۲،ددینه معلومه شوه چه نوی کپړه په اولی درجه پاکه ده ۱۳۲۵ھ (امداد صفحه ۱۷۹جلد ۲)

سوال:(۱۳۲) دی ورځوکې دلته په اخبارونوکې یومضمون شائع شو چه دشرعی مسئلی پوری ېې تعلق ده دکله نه چه مادغه مضمون لوستلی دی په زړه کې می خفګان پیداشوی دهمدی لامله دځپل اطمئنان لپاره ځان خبرول غواړم هغه داچه دبمبئ دحکومت لخوا تردیدکیږی چه په هندوستان کې چه ددولتی لباس متعلق داخبره مشهوره شوی چه ددې دجلاء ورکولولپاره دخنزیر اوغوائی وازړی استعمال کیږی داغلط دی ددې قیمت زیاتیږی ددې لامله ددې وازړی استعمال نشی کیدای، بلکه دنوروځارویوچربواستعمال کولی شی د

دی مضمون څخه دخوړاوغوائی دوازدی داستعمال تردیدخوکیږی خودوازدی استعمال ثابت دی،په اروپا،یورپ ، کې دحلالولوطریقه رواج نه لری پدې صورت کې دکوم مردارڅاروی وازدی هم نجسه وخته،اودغه صفاکړی شوی جامی اغوستلوسره لمونځ جائزدی اوکنه؟ دکوم په خاطر مونږ مطلع وفرمایې بله داچه اکثره مړوته ددولتی کپړو کفن ورکول کیږی ،که په اصل استعمال دوازدی کې کیږه نجسیږی نوداڅومره دافسوس خبره ده ۲۵/شوال ۱۳۵۰ھ؟

جواب : ددې لامله چه دامسئله دطهارت اونجاست دباب څخه ده دهمدی لامله دقاعدۀ شرعیه څخه داسې روایت ترهغه وخته چه ددې تواترثابت نه شی برابرخبره دی چه تواتربالذات وی یاعارض دقرائت حافه وی ، یاکه متواترنه وی نوترڅوچه متصل سند دمسلمانوراوپاتو ثابت نه وی حجت ندی،همدارنگه ددې تحقیق هم ضروری ده چه دخالصی وازدی استعمال وکولی شی یادکوم څیزسره ترکیب ورکول شی اویه بل صورت کې راشی،پدې ترکیب سره دوازدی استعمال کیږی،لکه څنگه چه په صابون کې دنجسوتیلواستحاله کیږی یا استحاله نه کیږ ی، اوکه دچالپاره بیاهم شبهه وی نووینځلوسره دی استعمال کړی شی . ۲۹، شوال النور جمادی الاولی ۱۳۵۱صفحه ۷،

سوال :(۱۳۳) زیدوائی چه په نویوحکومتی کپړو کې بی دغسل نه لمونځ جائزندی څکه چه کوم وخت چه هندوستان کې دغه خبرشهرت منونکې ؤو، چه ددې په صفایې اواستروکې دخوگ وازدی یوځای کولی شی اوس مهال دکارخانومشران اوشریکانودطرف نه اعلان شوی ووچه مونږ ته دخوگ وازدی نه پیداکیږی څکه هغه مشکل څیز دی دغوائی وازدی پیداکیږی ، خودامعلومه ده چه هلته دماشین په ذریعه ذبح کیږی اوحلالونکې غیرمسلم هم دی،دهمدی لامله دوازدی استعمال پدې کې ضرور کیږی لهذاهغه کیږی ناپاکې دی :کماقی بدائع الصنائع صفحه ۸۱جلداول وقالواق الدیباج الذی ینجسه اهل فارس انه لایجوز الصلوة لانهم یستعملون فیه البول عندالنسج یزعمون انه یزیدق اصل بریقه ثم لایغسلونه لان الغسل یفسده فان صح انهم یفعلون ذلک فلاشک انه لاتجوزالصلوة معه اه عمروائی چه الیقین لایزول بالشک دجدیدوکپړو داهل الذمه لخوا دقرون اولی څخه استعمال راروان دی لهذا دیته دطهارت حکم ورکول کیږی ، کماقی بدائع الصنائع صفحة۸۱ جلد اول ولاباس بلبس ثیاب اهل الذمة والصلوة فیهاالا الازاروالسراویل فانه تکره الصلوة فیهماوتجوز اماالجواز فلان الاصل ق الثیاب هوالطهارة فلاتثبت النجاسة بالشک ولان التوارث جارفیمابین المسلمین بالصلوة ق الثیاب

المغنومة من الکفرة قبل الغسل ،اوطهارت اونجاست ددیانتونوڅخه دی اویه دینیاتوکې دکافراوفاسق خبر معتبرندی دهمدی لامله ترڅوچه عادت مسلم ددې خبرورنکړی کپړوته نجس نشی ویل کیدای ،نو پوښتنه داده چه پدې دواړوکې دچاوینا صحیح قابل عمل ده ،زیداو عمرودواړه دحضور ﷺ دفیصلی دمنلولپاره تیاردی اوبسبب داعتماد سره خوبی دچون اوچرانه بې قبلوی ؟

جواب :دزیدپه دلیل کې فان صح په خبله ددلیل خواب دی پاتې شو دعمرودلیل کې دیوشق کمبود دی چه که دامتواتروی صورة یامعنیٗ او په تواترکې اسلام اوعدالت شرط ندی اوس دحکم مدار ددې خبردشان پوری دی نوددې تحقیق سایل هم کولی شي ۱۹صفر۱۳۵۱ھ ،النور شوال ۱۳۵۱ھ صفحه ۷، تتمه ، اوکه ددې وازدی استحاله کولی شی نوفقهاء دی دداسې صابون دطهارت تصریح وفرمایې

چرگه دحلالولو وروسته بغیردپاکولودمینځ نه بې

په اوبو جوشولوسره ناپاکه ده دشامی په حواله

سوال :(۱۳٤)په ۹صفحه دبهشتی گوهرمطبوعه گورکهپورکې نو شته دی دچرگی یادکوم پرندی ،الوتونکې ، دگیډی دشلولواودپاکولو نه مخکې په اوبوکې جوش ورکول شی لکه څنگه چه نن صبا په انگریزانو اودهغوی په اندیوالانو هندوانوکې رواج ده نوهغه په هیڅ ډول نه پاکیږی انتهی .اوس دامعلومول غواړی چه دامسئله دکوم کتاب اوکوم باب څخه نقل شوی ده مادشامی کتاب الطهارة کتاب الذبایح په پوره ډول اواکثره برخه دالحظروالاباحة لیدلی دی ماته دغه جزیه کله هم پیدانشوه ،ماته پدې مسئله کې څه شبه نشته نوروته دتسکین ورکولولپاره ضرورت دی؟

ثانیا:عرض دی چه دغه چرگه یاپرنده په مسئوله صورت کې به مکروه تحریمی وی یاحرام پدې اطرافو کې قانون ده چه دچرکې دحلالولو وروسته دیخیدوڅخه په اوربانديې سوځول ورکول کیږی ، پدې صورت کې ددې چرگی څه حکم دی ؟ په اول صورت کې بغیردچولونو دمرداریدوپه بسبب ناپاکه دی اوپدې صورت کې په ظاهرډول تلوث نشته ،که ددی گیډه وچول شی اووسوزل شی نوبیا کوم قباحت نه معلومیږی امیدی چه ددې تولوخبرو خواب دکتاب دحوالی سره دصفحی اوباب دقیدراولیږی مونږ ممنون کړی

جواب : په بهشتی گوهر کې خودی وخت کې ندی لیدل شوی خویه شامی کې دغه جزئیه پیداشوه دهغې عبارت نقلوم فی الدرالمختاروکذادجاجة ملقاة حالة علی الماء للنتف قبل شقها فتح وفی ردالمختارقوله وکذا دجاجة قال فی الفتح الحالاتطهر ابدالکن علی قول ابی یوسف تطهروالعلة والله اعلم تشربها النجاسة بواسطة الغلیان اه ص۳٤٥مطبوعه مصر۱۲۹٤قبیل فصل الاستنجاء ،ددینه داهم معلومه شوه چه مسئله مختلف فیه ده اوددې لامله منع ته ترجیح ده چه ددی په نظیرمذکور فیمایستقبل متصلاکې هې عدم طهارت مفتی به گڼل شوی اودیته دامام صاحب قول ویل اوهرکله چه مانعین دیته نجس وائی نوحرام هم ورته ویلی شی پاتې شوا سوزول دهغه حکم دادی چه که ددینه دنجس نښې لرې شوی نو طاهربږی اوکنه نونه؟ فی الدرالمختار تحت قوله ونارکمالواحرق موضع الدم من راس الشاة (بحر) وله نظائرتاتی قریبا ولاتظن ان کل مادخلته النار یطهر کمابلغنی عن بعض الناس انه توهم ذلک بل المرادان مااستحالت به النجاسة بالناراوزال اثرهابهایطهر ولذاقیدذلک فی المنیة بقوله فی مواضع اه ۷/ ذی قعده ۱٤۲۵ه (تتمه خامسه صفحه ۳۱۴)

فصل فی الاستنجاء

داودس ماتی په حال داستقبال اواستدبارجواز

سوال :(۱۳۵) دبول اوبرازیه وخت کې دقبلې په لورې مخ اړول اوشا کول ممنوع دی . اواستنجاء کول یعنی اودس ماتی کول دقبلې په طرف مخ کول یاشا کول څنگه دی ؟

جواب : ددې لپاره چه کوم دنهی نشته نوجائزده (خونه کول دثواب موجب دی کمافی المنیة ان ترکه ادب الخ شامی ص۳۵۳جلداول ، وروسته معلومه شوه چه دامسئله په داسې مسئلوکې درج کړای شوی چه دهغې متعلق دمشایخوباندې ځینې علماء تنبه فرمایلی ده وگوره دتتمه اولی ملحقات دفتاوی امدادالفتاوی صفحه نوټ اضافه دتصحیح الاغلاط صفحه ۱لیکه کړی شوی دی ۱۵شوال ۱۳۲۱هـ (امدادصفحه ۳جلد ۱)

داولنی تتمه صفحه ۲۲۰)

خلاصه دسوال : دمخ اړولوقبلې په لورې (طرف) دقبلې ته داستنجاء په وخت

خلاصه دځواب : جائزدی

تسامح : دکعبې اوقبلې شان په نظرکې نیولوسره چه عین مقصود داهل اسلام ده ضروری وچه پدې ډول بې خواب وزکړی وای

جواب : داادب پرینبودل دی بایدونه کولی شی فلوللاستقبال لم یکره ۱۲الدروف المختارقوله (لم یکره) ای تحریمافی المنیة ان ترکه ادب ولمامرفی الغسل ان من ادابه ان لایستقبل القبلة لانه غالبا یکون مع کشف العورة ولقولهم یکره مدالرجلین الی القبلة فی النوم وغیره عمداً و کذافی حال مواقعته اهله ۱۲ردالمحتار صفحه ۳۵۳،

لمرته دمخ اړه ولودمتیازوپه وخت کې دلمردپوټیدوپه وخت په وریځوکې:

سوال :(۱۳٦) که لمردوریځویه اړکې وی اولیدل کیږی نه نودی طرفته مخ واړه وی اومتیازی وکړی اوکنه؟

جواب : فی ردالمختاروالذی یظهران المراداستقبال عینهمامطلقا لاجهتهماولاضوء هماوانه لوکان

ساترایمنع عن العین ولوسحاباًفلا کراهة وان الکراهة اذالم یکونافی کبدالسماء جلداول ص۳۵۴باب الاستنجاء ددینه څرګنده شوه چه په صورت مسئوله کښ په هغه طرف مخ اړول اومتیازی کول درست دی ،۲۴جمادی الاخری ۲۲ھ ،امداد صفحه ۵ج۱،

په لمانځه کښ داستنجاء دیادیدلوحکم

سوال :(۱۳۷) ددین علماء څه فرمايي پدې مسئله کښ چه امام ته د تحریمه نه وروسته په یادشوه چه استنجاء په لوټه وکړه اواوبه یې وانخستی تواوس څه وکړی ؟

جواب :که نجاست دمخرج نه متجاوز ندی شوی نواستنجاء په اوبو باندې سنت ده اوکه متجاوز ؤنوکه داندازی ددرهم څخه زیات نه وی نووینځل واجب دی اوکه اضافه ؤنووینځل فرض دی اوکه په لمانځه کښ وریه یادشول نوپه آخرنی صورت کښ لمونځ باطلیږی اوپه دوم صورت کښ مکروه تحریمی شوه او [1]اول صورت کښ مکروه تنزیهی دی ، والغسل سنة ویجب ان جاوز المخرج نجس وفی درمختاروفی موضع اخرمنه وعفی عن قدردرهم وان کره تحریماًفیجب غسله ومادونه تنزیها فیسن وفوقه مبطل فیفرض اه والله اعلم ، ،امدادصفحه ۱۴جلد۱،

په جذبونکی کاغذباندې عدم جوازاستنجاکول

سوال :(۱۳۸) دجاذب کاغذپه ذریعه سیاهی وچیږی دغه کارترنن پورې دوچې ختی نه اخستل کیږي ، په وچه خاوره استنجاء جائزده آیاپه جاذب کاغذباندې هم استنجا جائز ده ، په سفرکښ هم ارام ورکولی شی ،په نوم دیته کاغذ ویل کیږی دادلیک لپاره کارنه ورکوی

جواب : فی الدرالمختاروکره تحریماالی قوله وشی محترم وفی ردالمحتار واماالشی المحترم فلما ثبت فی الصحیحین من النهی عن اضاعة المال قوله وشیئ محترم ای ماله احترام واعتبارشرعافیدخل فیه کل متقوم الاالماء کماقدمناه والظاهرانه یصدق بمایساوی فلساًلکراهة اتلافه کمامرثم قال ویدخل ایضاالورق قال فی السراج قیل انه ورق الکتابة وقیل ورق الشجروایهماکان فانه مکروه اه واقره فی البحروغیره والظرماالعلة فی ورق الشجرولعلها کونه علفاللدواب الخ ثم قال واذاکانت

[1] نوپه اخیرنی صورت کښ لمونځ دې مات کړي اودوم کښ دې لمونځ پوره کړي اودریم صورت ئې اعادے هم ضروری دی ،۱۲منه،

العلة فی الابیض کونه الة للکتابة کماذکرناه یوخذمنهاعدم الکراهة فیما لایصلح لهااذا کان قالعا للنجاسة غیرمتقوم کماقدمناه من جوازه بالخرق البوالی وهل اذاکان متقوماثم قطع منه قطعة لاقیمة لهابعدالقطع یکره الاستنجاء بهاام لاالظاهر الثانی انه لم یستنج بمتقوم نعم قطعة لذلک الظاهر کراهیة بلاعذربان وجدغیره لان نفس القطع اتلاف جلد۱ صفحة ۳۵۱، ۳۵۲ ددې روایتونوڅخه څرګنده شوی اومفهومه شوی چه ځینې کاغذونه په سبب داله دعلم اوکتابت کیدو اوبعض په سبب دقیمتی کیدوڅکه چه ددې ادنی یوه پیسه دی د استنجاء کول په کوم ځای کښ چه لوټه وغیره موجودوی مکروه تحریمی ده ،دمال دضائع کیدوپه سبب اوکه دغه ټوټه ددومره قیمت نه وه خوددومره قیمت والا څیزنه څه حصه قطع کول دهغه تلفول دی دهمدی لامله ددې حکم همدا ده ،بهرحال مسئوله صورت صحیح ندی ،اوددې لامله په ختـه باندې قیاسول جائز ندی چه نه هغه دعلم دالاتوڅخه ده اونه دقیمت ورده ۲، جمادی الاولی ۱۳۳۳ھ ،حوادث ثالث صفحه ۱۳۲،

داستنجاء په وخت کښ دسلام ځوابولوجواز:

سوال :(۱۳۹) داستنجاء په وچولوکښ سلام کول یادسلام خواب ورکول جائزدی اوکنه ؟

جواب :جائزدی،خوداستنجاء وچول په داسې ځای کښ چه دتیریدو نکو مخامخ کیدل وی دانسانیت خلاف ده ،۱۹ذی الحجة ۱۳۳۹ھ ،حوادث خامس ص۳۰۷،

داستنجاء په وخت دسلام تحقیق:

سوال :(۱۴۰) داستبراء کولوپه وخت دسلام خواب ورکول یاخپله سلام اچول پکاردی اوکنه ، په حدیث شریف کښ خولفظ د ،اذایبول ، راغلی نوخلک ولی داستنجاء کولودوخت دسلام خواب نه ورکوی ؟ آیاداد هغوی غلط فهمی ده،یاڅه اصل هم شته ،ددې نه علاوه په حدیث شریف کښ دا هم راغلی دی چه حائضه دی هم سلام کوی اودسلام خواب دی وائی ددې نه معلومه شوه چه تقاطردتحیی مانع نده ؟

جواب :فی الدرالمختاراول باب مفسدات الصلوة سلامک مکروه علی من ستسمع الی قوله فهذاختام الزیادة تنفع . په دی بیتونوکښ د سلام دکراهت ځایونه شمیرل شوی دی ، خویدې

کې دغه حالت شمیر ندی اودتامل څخه نورهم کوم دلیل دمنع نه معلومیږی ، نوظاهراً دایو بلاسند محض رواج جوړشوی دی.

دپورتنی خُواب متعلق سوال:

دجناب مولناصاحب دام شرفه په خدمت کې دنیازدسلام څخه وروسته واضح داچه علماء دتاسویډي لیک باندې طعن وائی،اووائی چه داسې کارکول گناه ده چه په استبراء کې سلام اچول ، لهذاستاسو عالی همت خدمت کښی لیکل کیږی بایدچه ددې دنیازبانی په لیدلو سره ددې تحریرخواب دفقه اوحدیث معتبروکتابونوڅخه ولیکې ډیره مننه به مووی.

جواب :عن السؤال الاخیرخماپه خواب کې دلیل دحدیث اوفقه څخه موجوددی اوس نودکوم څیز استفساردی اودڅه انتظاردی؟۹ج۲ص ۴۳ھ(ترجیح خامس ۵۴)

دمتیازونه وروسته په لوټه استنجاء:

سوال :(۱٤۱) داهل تسنن په مذهب کې دوړی اولونی استنجاء صفائی داولی ډلی څخه خنگه وی آیادغه طریقه معمولی دی اوکه دکوم حدیث موافقه ده مهربانی وکړی ددې متعلق دتاسی چه کومه رایه ده دهغې نه مومطلع وفرمائی ؟

جواب :فی نیل الاوطار باب وجوب الاستنجاء بالحجراوالماء عن عائشة ان رسول الله ﷺ قال اذاذهب احدکم الی الغائط فلیستطب بثلثة احجارفانهاتجزئ عنه رواه احمدوالنسائی وابوداؤد والدارقطنی وقال اسنادصحیح حسن قال المصنف وهودلیل لمن قال بکفایة الاحجاروعدم وجوب الاستنجاء بالماء ص۸۸ج۱ ددې حدیث نه چه کله خینې وختونوکې یوازی دلوټی اختلوباندې اکتفاء کول ثابته شوه اوښکاره ده چه کله ئی پدې صورت کې اوبه وانه خستی اودمتیاز وخای هم نجس ؤو چه پاکول ئی ددلایل شرعیه نه واجب دی کقوله استنزهوامن البول نوبغیردلوټی ددې دپاکولوکوم صورت دی،ددینه دوړی استنجاء په لوټه ثابت شول ، اولویه داویو اختلواولویت په نوروحدیثونوکې منصوص دی ۲۷رمضان ۱۳۳۲ھ(تتمه ثانیه صفحه ۱۷۱)

سوال :(۱٤۲) دمتیازونه وروسته دلوټی نیولومتعلق حدیث څخه جناب والاستنباط فرمایلی دی هغه کوم حدیث دی؟ پوښتونکې صحیح غواړی، اگرکه دقضاء حاجت نه وروسته دحضور علیه السلام

بیرون تشریف وړل اواستنجاء کولوڅخه خودلوټی اختلواستنباط کولی شی مگرددینه اصرح مطلوب دی. په ازالة الخفاء کې شاه ولی الله صاحب تحریر فرمایلی دی. ابوبکرعن یساربن نمیرکان عمراذابال مسح ذکره بحائط اوبحجرولم یمسه ماء قلت اجمع علی ذلک علماء اهل السنة ولیس فیه حدیث مرفوع وانماهومذهب عمرقیاساعلی الاستنجاءمن الغائط اطبق علی تقلیده العلماء ؟

جواب : ماته په یادندی،داستنباط متعلق ماکوم خای کښی لیکلی دی، شایدددې مقام دعبارت څخه زیات په یادراځی . بعضی وختونه زه داستنزهوامن البول څخه تقریرکوم چه داستنزاه داهم یوصورت دی وصحح الحدیث ابن خزیمه وغیره کذافی فتح الباری ، ددې عموم په اعتباردیته مرفوع ویل کیدای شی اوپه مرفوعیت کې ددینه اصرح په مجمع الزوایدکې داحدیث دی عن عمربن الخطاب انه بال فمسح ذکره بالتراب ثم التفت الینافقال هکذاعلمنارواه الطبرانی فی الاوسط وفیه روح بن الجناح وهوضعیف اه علمنا)علمناپه رفع کې صریح دی پاتی شو دروح بن الجناح ضعیف نو په هرصورت بعضودهغه توثیق هم کړیدی کمافی التهذیب والمیزان ، نوحدیث حسن شی نوممکن دی چه دحضرت شاه صاحب دنظرڅخه دغه زیادت نه وی تیرشوی یاهغه دضعیف سبب ته اعتبارندی ورکړی خوددې ضعف درجه معلومه شوه دی‌چدې لامله صالح للاحتجاج دی. خصوصاً چه دتعارض نه بغیر نورمویدات هم وی والله اعلم والروایات کلهامن احیاء السنن واستدراکه ۱۲ جمادی الاخری ۵۲ھ(النورصفحه ۱۰جمادی الاخری ۵۴ھ)

دمتیازوکولوپه وخت کومه مستقله دعانشته

بلکه دبول اوبراز دواړولپاره یکې یوه دعاده

سوال :(۱٤۳) تتی ته دتللولپاره چه خنگه دعادی ، دمتیازوکولوپه وخت هم کومه دی شته اوکنه ؟

جواب :مستقله نشته همغه دعاء مشترکه ده لاطلاق اللفظ واشترا کهما فی اکثرالاحکام الفقهیة کمافی الدرالمختاراحکام الاستنجاء ۱۳ ربیع الاول ۱۳۲۹ھ(تتمه اولی صفحه ۲۰۵)

دکتاب الطهارة مربوط خوری وری (منشوره) مسئلي دقران حکايت کونکي بشقاف بلاوضوء مس کولوتحقيق

سوال :(۱٤٤) فوتوگراف چه دآوازنقلونکي وسيله ده پدې کې،تقريرونه، دموسيقى نغمى، اودقاريانونه د قرآن مجيدركوع گانو آوازونه په يو خاص ايجاد سره بندول کيږي ، اوبيا همدا اوازونه په يوازى والى ، مجلسونو، تندارتونونوکي ددې وسيلى اينبودلوسره اوريدل کيږي، نويدې طريقه دقرآن مجيد آوازيدې کښى بندول اوبيادفوتوگراف څخه اوريدل درست دى اوکنه ؟اوفوتوگرافرباجه ده اوکه څه څيزده ، اوددې قسم کلام مقدس آوازقرآن بلل کيږي اوکه څه ورته ويل کيږي حضرت امام اعظم په فقه اکبرکې فرمايي والقران فى المصاحف مكتوب وفى القلوب محفوظ وعلى الالسن مقروء دغه تعريف په ياد شوى آوازباندې په نفى کې صادق کيږي يا په اثبات کې هم دغه امر هم دويلووړدى چه دکومې وسيلى څخه چه دهغه په بشقاف باندې آواز تول راځى ددېنه دهغه په قاف څه خطونه ددوائرويه ډول جوړيږي اوچه کله ددې ماشين چلول کيږي نودهغه يوه پرزه چه په آخرکې ئې د قيمتى کافى بڅرکې لګول شوى وى دغه بڅرکې په دغو دوائروباندې مزل کوى اودهغونه آوازپيداکيږي دغه خطونه خپل مينځ کې هيڅ ممتازنه معلوميږي، بلکه په هرپليټ باندې خطونه يوشان معلوميږي ، ممکنه دى چه فى الواقع کې څه تمايزوى ، لکن نه ليدل کيږي ، د چلونکې لپاره يادساتل پکاردى چه دغه هينت باندې فلانى څيزنقش شوى دى اوهغه باندې بل څيز، نوددغونقشونوڅه حکم دى ؟ اوداخو ظاهره ده چه پدې خاطرچه دادلهوى وسيله ده نه دتذکر، دهمدى لپاره ددې ډکول اواوريدل دادب قرآنى خلاف دىّ ، لکن که څوک بې ډکوى نوبى اودسه ددې پليټ مس کول جائزدى اوکنه ؟ اودقرآن تعريف پدې صادق دى کنه ؟ اوداهم ښکاره ده چه دغه وسيله خپله موزيک نده بلکه يوازى دآوازنقلول کوى ، که موزيک ډک شى نودموزيک آوازاوباسى اوکنه چه کوم څيزډکيږي دهمدى لامله هغه ته مطلقاباجه نه ويل کيږي ، په هرصورت اميددى چه ددې په نسبت حضرت اقدس خپله راي تحريروفرمائى ؟

جواب :دغونقوشوکې ترڅوچه دلوستلوصلاحيت ثابت نه وى دليکل شووتوروپه حکم کې ندى دهمدى لامله دهغه مسح کول د محدث اوجنب لپاره جائزدى لکه په دماغ کې چه دالفاظ قرانيه ارتسام وى اوددې دماغ مسح کول جائزدى ، البته که هغه ولوستله شى نودغه وخت کې بسبب ددلالت وضعية غيرلفظيه هغوته حکم د حروف مکتوبه ورکول کيږي ، دا حکم

خودنقوشودى ، اوکم اوازچه د هغه نه راووځى هغه تلاوت ندى بلکه نقل اوعکس دتلاوت دى دمرغه دآوازاوصدامشابه ،نوددى حکم هم د تلاوت په شان نه شو، اودتاسو دارابې صحيح ده چه ددى حکم دموزيک په قسم ندى بلکه په جوازاو عدم جوازکې دمحکې عنه تابع ده ، لکن پدې خاطرچه ددې نه مقصد بيخ دى دهمدى عارض په وجه دقران ډکول په دى کښى جائزندى همدارنگه اوريدل هم، والله اعلم بحقيقة الحال ۲۷ شوال سـ۱۳۲۵ھ(امدادصفحه ۱۸۳ ج۲وحوادث صفحه ۱۸ ج۱-او۲)

بى اودسه دتفسيراوترجمې مسح کول

سوال :(۱٤٥) اردوقرآن شريف مسح کول بى اودسه روادى اوکنه ؟

جواب :مکروه دى کذافى ردالمختارتحت قول الدرالمختارو التفسيركمصحف قبيل باب المياه (تتمه اولى صفحه ۱۰)

سوال :(۱٤٦) دتفسيرپه کتابونوکې چه کوم ځاى چه آيت ليکل شوى مسح کول ددغه ځاى بى اودسه مکروه دى اوکه محرم ؟

جواب :فى غنية المستملى ويكره ايضاللمحدث ونحوه مس تفسيرالقران وكتب الفقه وكذاكتب السنن الى قوله والاصح انه لايكره عندابى حنيفة ص۵۷) ددې نه معلومه شوه چه هرکله دغيرقرآن عبارت زيات وى دهغه مسح کول مطلقاكماهوالظاهردامام صاحب په نزديک دى، وفى الاخذبه سهولة ،۱۷ صفرسـ۱۳۳۲ھ(تتمه ثالثه صفحه ۱۹)

دقربات عندالله مسح کول بى اودسه اوهر هغه

کتاب مسح کول چه قرانى ايتونه پکښى وي

سوال :(۱٤۷) قربات عندالله وصلوات الرسول چه دتاسو مولفه ده ددې لامله چه لمړى منزل ددى ډيرى قرآن شريف آيتونه دي نوعرض دادى چه ددى بى اودسه مسح کول اودحائضى او جنب مسح کول او لوستل روادي اوکنه ؟

جواب :يوازى ددې حصى بى اودسه مسح کول رواندى او دحائضى او جنب په لوستلو کښى داتفصيل دى چه دقرآن په نيت لوستل بې جائزندى ددعا په نيت بې لوستل روادى ۷ ذى القعده ۴۱ھ (تتمه خامسه صفحه ۲۴۵)

سوال :(۱٤۸)ستاسوپه مواعظوکي اکثرأدقرآن مجیدآیتونه دي اوزه اکثره وخت په فرصت کي مواعظ گورم خوبی اودسه دقرآن مجید مسح کول رواندي ،دمواعظوپه باره کي څه حکم دی ددي کتاب بی اودسه اخستل او لوستل جائزدي او کنه؟

جواب :فی درالمختاروقدجوزاصحابنامس کتب التفسیر للمحدث ولم یفصلوا بین کون الاکثرتفسیرا اوقرانااولوقیل به اعتبار اللغالب لکان حسنااھ وفی ردالمحتارعن السراج عن الایضاح ان کتب التفسیر لایجوز مس موضع القران منهاوله ان یمس غیره وکذا کتب الفقه اذاکان فیها شیئ من القران بخلاف المصحف فان الکل فیه تبع للقران آه الی قوله تعالی ومافی السراج اوفق بالقواعد اھ ج صفحه ۱۸۲ ددي عبادرت نه معلومه شوه چه ددي لپاره چه مواعظ نه دتفسیرکتابونه دي او نه په هغو کي دقران آیتونه په نوروعبارتونو باندي برلاسي دي لهذادهغوي بی اودسه مسح کول جائزدي په همدي ترتیب لوستل په اولی درجه البته په کوم ځاي کي چه آیت لیکل شوی وي یوازي دغه ځای بلاوضومه مسح کوی.
۱۸رجب ۱۳۴۲ھ(تتمه خامسه صفحه ۲۷۱)

دطهارت نه بغیردمسح مصحف په حرمت باندي دخواب دشبهی په استدلال

سوال :(۱٤۹)استدلواعلی عدم جوازمس القران المجیدللمحدث لقوله تعالی لایمسه الاالمطهرون والحال انه محتمل التفاسیر کماذکر وافی التفاسیر فاذاجاء الاحتمال بطل الاستدلال واماحدیث لایمس القران الاطاهرفهوضعیف لایحتج به وکذلک حدیث لایمس المصحف الاعلی طهارة کماجزم بذلک فیهماالنووی وابن کثیرعلی ان بعضهم قال ان المراد بالطاهر المؤمن اوالطاهرمن النجاسة الحقیقیة والمروی عن ابن عباس والشعبی والضحاک وداود جوازمس المصحف للمحدث والجمهوراتفقواعلی عدم جوازمس المصحف للجنب ولکن لم یعرف للجمهوردلیل ؟

جواب : الیس اتفاق الجمهور علامة لکون الحدیث له اصل قوی وان طرءعلیه الضعف لعارض السندوان اشتقتم الی التفصیل فعلیکم بالرجوع الی احیاءالسنن،۱۳ربیع الثانی ۳۷ھ (تتمه خامسه صفحه ۸۳)

په داسي ډول دقرانی ایتونودلیکلوحکم چه دکاغذمسح ونه شی

سوال :(۱۵۰)بی اودسه چه کوم آیت دقران مجیدهم ونه لیکي نوبیو مولویصاحب وویلی چه که دکوم آیت قرانی بلا اودسه دلیکلو ضرورت وی نوبه هغه کاغذباندي لاس مه لگوی په کوم چه قرانی آیت لیکل شوی دی نوداصحیح ده اوکه غلط ؟

جواب : اختلاف شته ،ددي هم امکان شته دی ،وفی الدرالمختار ولا تکره کتابة قران والصحیفة واللوح علی الارض عندالثانی خلافا لمحمد وینبغی ان یقال ان وضع علی الصحیفة ومایحول بینهاوبین یده یوخذ بقول الثانی والافبقول الثالث قاله الحلبی ج۱ص۱۸۰ ، ۲۸رجب ۱۳۴۲ھ(تتمه خامسه ص۲۷۷)

کتاب الصلاة

باب المواقیت

دمابنام اومازیگرترمینځ دلمانځه وغیره حکم

سوال :(۱۵۱)پدي مسئله کي ددین علماء څه ارشادفرمایي چه د ماذیگراومابنام ترمینځ سجده دتلاوت جنازي لمونځ اوقضاء فرض یابل کوم لمونځ په کوم ترتیب اداکول جائزدی اوکنه ؟

جواب : دمابنام اومازیگر ترمینځ پخوا دبدلون دلمرڅخه دتلاوت سجده،دجنازي لمونځ اوقضاء فرض اووترروادی اونوافل اوسنن ممنوع دی اودلمر دتغیرپه وخت دغه ټیزونه [1] منع دی ،تسعة اوقات یکره فیهاالنوافل ومافی معناهاالاالفرائض هکذافی النهایة والکفایة فیجوز قضاء الفائتة وصلوة الجنازة وسجدة التلاوة کذافی فتاوی قاضی خان (وقال بعداسطر منهامابعدصلوة العصرقبل التغیرهکذا فی النهایة والکفایة ۱۲عالمگیری جلد اول صفحه ۵۱ثلث ساعات لایجوزفیهاالمکتوبة ولاصلوة الجنازة ولاسجدة التلاوة اذاطلعت الشمس حتی ترتفع وعند الانتصاف الی ان تزول وعنداحمرارهاالی ان تغیب عالمگیری جلداول والله اعلم (امداد ج۱ص۱۷)

[1] لاکن دهمدي ورځی دعصرلمونځ کول پکاردي ۱۲(منه)

دماسخوتن دلمانځه دوخت بیان

سوال :(۱۵۲)څومره برخه تیریدو دشپې سره دماسخوتن دلمانځه وخت شروع کیږي ؟

جواب :یوه نیمه ګینټه وروسته دغروب [1] څخه دماسخوتن وخت راځي والله اعلم ۲۷ذی قعده ۱۳۲۲ھ (امدادصفحه ۲۴ج۱)

دمازیګروخت

سوال :(۱۵۳) دورځې څومره اندازه تیریدوسره دمازیګر دلمانځه وخت شروع کیږي ؟

جواب :دمازیګرپه باره کې دګومې خاصې برخې دورځې نه ماسره تحقیق شته اونه تجربه شته ،داسې پیچیده معلومه ده چه پوره دولس بجې په وخت بولرګی په هواره ځمکه کې په ادرولوسره ددې دسورې په اندازه واخلې دغه اندازه اوددې لرګی دوه حصې نورې سیورې چه کله وشونو دعصروخت راځي په هرموسم کې داقاعده کلیه ده والله اعلم ۱۳ ذی الحجه ۱۳۲۲ھ (امدادصفحه ۲۴ج۱)

سوال :(۱۵٤)دمثلینوڅخه وروسته چه څوک دمازیګرلمونځ اداکوي دامام اعظم په مذهب درواېتونواو فقهې له مخه داقوی قول دی یادیوه مثل روایت ، اوکوم امام چه په یوه مثل دمازیګرلمونځ اداکوي، اودهغه نه شاته ځینې مقتدیان دهغه هم فکره دی چه هغوی په یوه مثل باندې دعصرلمونځ جائزګڼي ،اوځینومقتدیانوعقیده اوتحقیق په مثلینوده اوهغوی ددې پسې په ناپوهۍ دوخت سره یادفساد نه کیدوپه سبب لمونځ اداکوي ددوی دمازیګرلمونځ اداشواوکه اعاده فرض ده اودابه نفل وي ، اوداسې امام دی دوقسمه خلکو د مسجدامامت کولوګنهګارخونه ګرځي یامقتدی دهغه دامامت څخه په جداکیدو دوم امام دی چه دمثلینونه وروسته دمازیګرلمونځ کول مقررکړل ترڅویقینا دټولو لمونځونه وشی داکول ده یاد مسجددمتولی ذمه واري ده اوداسې انتظام دنه کولوڅخه ګنهګاریږي اوکنه ؟په دلائلواوحواله دکتب معتبره دحدیث اوفقه ولیکې ؟

جواب : دمتونو روایت دمثلینودی ،اواصل مذهب په متونوکې دی کماهو مقررومصرح اواګرکه بعضولکه درمختاروغیره یومثل ته ترجیح ورکړې مګرمحققینو دغه ترجیح نده

[1] په دې فتوے کې دشفق ابیض غیبوبت اعتبارپه کولي شی اوپه زیوربهشتی کې دشفق احمرغروب نوحه دتطبیق داد ے چه په زیوربهشتی کې دحکم تحقیقی بیان د ے

منلی لکه چه علامه شامی په ردالمحتار کې پدې باندې مبسوط کلام کړیدی په ج۱ص ۳۷۱کې اوهمدارنګه براءة ذمه یقینی هم په دی کې ده نوهمدا احوط هم شوه ، اومازیګرپه یومثل باندې له اداکولوڅخه ددې صحت اختلافی شو،دهمدی لامله دفسادیااعادی یقینی وجوب حکم خو نشته دی ،په همدې ترتیب په دی امام باندې دعاصی کیدلوحکم لګول یقینی نشی کیدی ،په همدې ترتیب ددی دعزل وجوب په ذمه دمتولی یاجماعت یقینی حکم نشی کیدلی په اختلافیاتوکې بیا خصوصاکله چه په یوه مذهب کې مختلفه اقوال وي اودواړه طرف ته اکابروی دداسې حکمونو قطع مشکله ده البته دداسې مازیګراعاده غوره کیدل پداسې ترتیب دداسې امام لپاره دتاخیرامرکول اودعدم امتثال په صورت کې دوم امام معین کول دغه حکمونه ټول په احوط اوافضل درجه خواه مخواه دی لکه چه دردالمحتار دغه روایت ددې صریح مؤید دی ، وانظر هل اذالزم من تاخیره العصرالی المثلین فوة الجماعة یکون الاولی التاخیرام لاوالظاهر الاول بل یلزم لمن اعتقد رجحان قول الامام تامل ثم رایت فی آخرشرح المنیة ناقلاعن بعض الفتاوی انه لوکان امام محلته یصلی العشاء قبل غیاب الشفق الابیض فالافضل ان یصلیهاوحده بعدالبیاض ج۱ص ۳۷۲ والله اعلم، ۳محرم ۲۸ھ (تتمه اولی صفحه ۲۵)

دمازیګرد کراهت د وخت توضیح

سوال :(۱۵۵) کله چه احقر په دورۀ حدیث کې وه دغه وخت کې د ژمي موسم کې ترمذی شریف دعصرڅخه وروسته ؤ،په دغه وخت کې حضرت استاذمولناصاحب مدظله العالی خوورځې دغه فرموده اوروله چه دعصر په لمانځۀ کې تاخیرکیدای شی ، ډیروختونه ګمان کیدلی شی چه داصفرار حدته ورسیږي په دې وجه مااکثر،،،په مسجدکې عصراداء کوم هلته ،،،،مسجدته وړاندې لمونځ وي ، حضرت عالی کوم وخت ،،،، په مسجدکې لمونځ کول ؤدلمانځۀ نه دفراغ نه وروسته یوساعت یاڅه زیات ورځ وه ددې نه شبهه پیداکیده چه اوس اصفرار څنګه وی ،خوپدې پوهیدلوسره چه ،،،،صاحب دزیات پوهیدوسره دمازیګر لمونځ بې دغروب څخه یوه نیمه ګینټه مخکې اداکولوکه تاخیرکولو نویوه ګډوډی کیدله ، اوپدې خاطرچه دلته چه کله لمونځ ګذار راځي ،جماعت کیږي ،کوم وخت دساعت له حسابه مقررندی اوکه ټول مقتدیان نه وي راغلي یادوه څلور انسانان د اوداسه نه پاتې شوی وی دهغوی انتظاربې ونه کړ، لمونځ شروع کیدلو پدې ګمان چه کوم وخت اصفرار اوچت نشی

اولمونځ مکروه تحریمی نه شی اوس یوصاحب فرمایي چه حضرت مولنا ،، قدس سره نه یې اوریدلی چه داصفرار وخت دغروب نه لګ مخکې وی کله چه دلمر په سترګه باندې په ښه طریقه نظر کیدای شی ، اوس ددې نه تردد کیدای شی اوس حضرت والاذی ارشاد وفرمایي چه هرکله ورځ وړه وی لکه ښنګه چه دنن صبا ورځ ده پدې وخت کې دغروب نه څومره مخکې داصفرار وخت شروع کیږی دساعت له حسابه اندازه وکړی ووائی ترڅو په هغې عمل وکړی ؟

جواب : فی الدرالمختارمالم یتغیرذکاء بان لاتحار العین فیهاعلی الاصح وفی ردالمحتار صححه فی الهدایة وغیرهاوفی الظهیریة ان امکنه اطالة النظر فقدتغیرت وعلیه الفتوی وفی النصاب غیره وبه ناخذوهوقول المتنا الثلاثة ومشائخ بلخ وغیرهم کذافی الفتاوی الصوفیة اه وفی المسئلة اقوال اخرایضا دی عبارت کې چه دتغیرکوم حددی چه لمرته دکتنې څخه یادیروخت پورې کتلوڅخه سترګی نه خیره کیږی دایومحسوس امردی په دی کې دساعت اوګړی پوښتنې څه ضرورت دی ددې تغیرنه وړاندې دعصرنه فارغیدل پکاردی .۹ ج۲۴۳ه،تتمه خامسه صفحه ۳۲۵،

دظهرمغرب، اوعصردپیژندلوطریقه

سوال :(۱۵۶) دلته دمازیګراوماسپښین اوماښام اوماسختن په مینځ کې دوخت تمیزکول مشکل دی داهغه وخت وی چه دلمرسترګی اوچت والی اومغرب نه وروسته دریاپې ګمان کیدلی شی ،ګنی د ساعت دپیروی څخه خوکوم مشکل نشته مثلاً دغرمی مهال کې دلمر سترګی اوچتوالی دافق څخه یوه نیزه برابره وی ،داسې معلومیږی چه روځ په غروب کیدلوکې یوه کینته تول پاتې شوی دی ،نن صبا پاوکم څلوربجی لمرپریوځی ، یودوه بجی په وخت چه دماسپښین وخت ګڼل کیږی،لمرسترګه دومره ټیټه معلومیږی لکه څنګه چه دعصرآخری وخت وی،نوداسې حالت کې که دظهراوعصرترمینځ فاصله کول ضروری وی نوظهرڅه وخت اداء کولی شی اوعصرڅومره وروسته ددینه ؟

جواب : ددې لپاره یوه دوه ورځ لږ وخت مصرفول لازم دی ،ګینته هم ددې نه وروسته دلارښونی لپاره کافی کیږی ، هغه کار دادی چه کله کومه ورځ څه لمرسترګه وی اوګرمی وی اوغرمی څخه وړاندې یو بالښت، دوه بالښت برابر دزمکې هواره ولوسره پدې باندې یوی مستقیم خط شمالاً اوجنوباً راکش کولی شی قطب نماچه شمالی لوری رانښیی دادهغه لپاره کافی کیږی ، ددینه وروسته ددې خط په جنوبی نقطه باندې یوخل یو بل سیده لرګی یاګز یاتور تارسیده

ودرول شی ،ددې لامله چه دغرمی وړاندې وخت وی ددې لرګی سیوری عین خط باندې نه وی ،بلکه ددې خط نه مغرب په طرف یو اندازه کوږ وی بیاوقتاً فوقتاً دخط په طرف راتګ شروع شی تردی چه بالکل په دی خط باندې منطبق کیږی ، په دغه وخت کې ددې سیوری په آخرباندې ننبی جوړه ولوسره ددغه سوری اندازه اوناپ د کوم بل لرګی وغیره په واسطه واخستل شی اودغه پیمانه دی محفوظه وساتل شی دغه وخت عین دغرمی دی ددینه وروسته هغه سیوری دمشرق په طرف مایل کیدل شروع وکړی دادظهر اول وخت دی بیا لږ لږ وروسته دغه لرګی چه سیوری بې اندازه شوی ؤدغه سطح باندې سیده درولوسره وکتل شی اوڅومره سیوری چه دعین غرمی دوخت ؤچه پیمانه بې دتاسوسره محفوظه ده ددې پیمانی برابرسیوری پریږده نورسیوری وګوری څپله ددې سیوری لرونکې لرګی برابر بهٔ وی اوکنه ؟که نه وی نولږ وروسته وګوری چه کله برابرشی نودادامام شافعی اوصاحبینو په نزد دعصر اول وخت دی اوکله چه ددې پیمانی برابرسیوری پریږدی نودی سیوری لرونکې لرګی څخه دوه برابره سیوری ګرځی دادامام اعظم په نزد دعصراول وخت دی تاسوته آزادی ده چه دامام شافعی په وخت عصروکړی یاد امام ابوحنیفه په وخت کې،کوم وخت چه فرصت اوموقع میلاوشوه،او په اوقات مذکوره کې په څېل ساعت کې وخت ګوری ،بیادهغې مطابق ساعت ته کتلوسره لمونځ اداءکوی بیادیوی میاشتی څخه وروسته په همدې ترتیب سیوری کتل کیږی لږ تفاوت وی ،دغه دشمسی میاشت په قیدسره ضبطوی دتاسوسره یوه کتبوره اوکار آمده جنتری موجودیږی دادعصر د وخت دپیژندلواوضبط طریقه دی .تتمه خامسه صفحه ۴۱۹،

دماښام دوخت پیژندلوطریقه

سوال :(۱۵۷) کله چه وریخ نه وی نودلمرسترګی دپریوتونه وروسته ډیرلږ وروسته پورې یوه صفارنایې یعنی (خلا) پاتې کیږی معلومیږی چه لمرسترګه اوس لویدلی ده .اوریدل شوی دی چه په ګرمیوکې خو دلته دلمرسترګی دپریوتو نه وروسته دساعتونوپورې داسې خلا پاتې کیږی داسې ورځ وی نوآیا پدغه حالت کې دماښام دلمانځه وخت دغه اندازه پورې پاتې وی چه کله پورې دتیارونښې ښکاره نه وی یادلمرسترګی دغروبیدو نه وروسته دکوم معین وخت پورې شمارولی شی .اودعشاء دوخت شماریه کوم لحاظ سره کولی شی دلمرسترګی دلویدلوڅخه وروسته دساعتونو دګمان څخه یادخلاد زایلیدلونه وروسته ؟

جواب :اول پدې پوه شه چه دلمردپریوتو اوابتداء دوخت عشاء تر مینځ دومره جدایې وی څومره چه دصبح صادق دراختلواودلمرد راختلوکې ده اوس زه دصبح صادق قاعده وایم دیته هم کتل پکاردی .قاعدهٔ اکثریه داده چه دقمری میاشتوپه ۲۲شپه کې دسپوږمی د راختلوسره صبح صادق وی پدې ترتیب ۱۲ شپې دغروب سره یوځای صبح صادق وی .په دغودوشپوکې چه کومه شپه زره غواړی دصبح صادق وخت دی وګوری اوپه ساعت دی دلمرختلو پوزې فاصله وګوری .اوددې قاعدی څخه چه کوم وختونه منظبط شول هغه دی له لږ احتیاط سره واخلی یعنی عصر اوعشاء هم دعین اول وخت نه لس پنځلس دقیقې وروسته دی اداکړی شی اوروژه کې دی همدومره اندازه مخکې پیشمنی (سحری) پریږدی اودولسم اوشپږویشتمی شپې نه مراد هغه ده چه دکومی صباېي دولسمه اوشپږ ویشتم تاریخ وی مادیری آسانی کولوسره لیکلی دی بیاهم لږ سوچ سره ولولی (تتمه خاصه صفحه ۴۲۰)

دقوم پابندی دمقرره وختونودلمانځه لپاره دهغه ضبطول په ساعت اوغیره

سوال :(۱۵۸)ددین علماپه دی مسئله کې څه فرمايې چه مسجدونو کې دلمانځهٔ لپاره دوخت ټاکل اوپدې ټاکلی وخت پاندې دلمانځهٔ کول اوپابل پاندې کول روا دی اوکنه ؟

جواب :عن ابی هريرة قال قال رسول الله ﷺ اذااشتدالحرفا بردوا بالصلوه رواه البخاری وعن رافع بن خديج قال كنانصلى العصر مع رسول الله ﷺ ثم تنحر الجزور فتقسم عشرقسم ثم تطبخ فناكل لحما نضيجا قبل مغيب الشمس متفق عليه وعن رافع بن خديج قال كنانصلى المغرب مع رسول الله ﷺ فينصرف احدناوانه ليبصر مواقع نبله متفق عليه وعن النعمان بن بشيرقال اناعلم بوقت هذه الصلوة العشاء الاخرة كان رسول الله ﷺ يصليها لسقوط القمرلثالثة رواه ابوداود والدارمی وعن رافع بن خديج قال قال رسول الله ﷺ اسفروا بالفجرفانه اعظم للاجر رواه الترمذی وعن ابی سعيدقال صلينامع رسول الله ﷺ الحديث وفيه قال ﷺ ولولا ضعف الضعيف وسقم السقيم لاخرت هذه الصلوة رواه ابوداؤد والنسايي وعن ام سلمة قالت كان رسول الله ﷺ اشد تعجيلاللظهر منكم وانتم اشد تعجيلاللعصرمنه رواه احمد والترمذی وعن انس قال كان رسول الله ﷺ اذاكان الحرابرد بالصلوة واذاكان البردعجل رواه النسائی وعن ابن مسعودقال كان قدرصلوةرسول الله ﷺ الظهر فی الصيف ثلثة

اقدام الی خمسة اقدام وفی الشتاء خمسة اقدام الی سبعة اقدام رواه ابو داودوالنسائی، ددې روایتونوڅخه څوکارونه مستفادشول :(۱)سره دتوسیع دوختونودلمانځه دجناب رسول الله ﷺ معمول اکثرا په معینووختونو پاندې لمونځ کول ؤاوددې خلاف کول دکوم عارض په سبب به ؤ. (۲)دتعین اساس دوخت فضیلت اورعایت دحال دمقتدیانوو(۳) صحابه ؤهم پدې ترتیب دتعین معمول همداؤنواوس چه مساجدوکې کوم تعین کیږی دهغې حاصل همدادی چه دمذکوره روایتونونه اخستل شوی پاتې ؤګینته ګړی یعنی دوختونو دانضباط څخه کار اخستل خوهغه خپله مقصود نده بلکه مقصود مخصوصه وختونه دی اوهغه یوازی دوختونود پیژندلوپوه وسیله ده چه داسانیتالپاره معتبر ګڼل کیږی لکه څنګه چه خینې وختونه دزره تحری معیارګرځول کیږی په حقیقت کې ساعت اوګینته دزړه دتحری معین اومرستندویه ده په مشهور طریقه بلاتکلف اوبی تردده جائزبلکه مستحسن اوموافق اودرست دی والله اعلم (تلمذاتم ۲۹صفر ۱۳۲۴ھ امدادصفحه ۷۰ج۱)

په ساعت پاندې دلمانځهٔ دوختونودالتزام حکم

سوال :(۱۵۹) نن صباح خینې مسجدونوکې دساعت ګهنټی داسې پابندی کولی شی چه هرکله مقرره وخت وی که لمونځ کونکې اودس کوی لمونځ شروع کولی شی اودهغه انتظارنشی کولی اوکه دوه لمونځ کونکې هم راشی نودمقرروخت کیدوسره امام ودریږی بغیر دراتلو دنوروټلمونځ کونکو، داسې پابندی په التزام مالایلزم کې داخل ده اوکنه ؟ اودنوروحق تلفی به وی اوکنه ؟ ځکه چه دحدیثونوڅخه داسې معلومیږی چه که لمونځ کونکې لږ مخکې راته نولمونځ هم مخکې کیده اوکه وروسته راته نووروسته کیده ؟

جواب :داالتزام دلمونځ کونکو دآسانتیا لپاره ده اومنع نده ممنوع التزام هغه دی چه ددین دال په کسره یادین په فتح ددال په ډول وی اود حدیث محمل هغه موقع ده چه هلته په التزام کې حرج نه وی فقط ۱۳جمادی الاولی ۱۳۳۴ھ (حوادث رابعه ص۷۲)

سوال :(۱۶۰) (الف) دساعت په اعتباراذان کول پکاردی اوکه دسماویه علامتو په اعتبار ؟ بزرتی سائل

جواب : اصل خوآسمانی علامې دی ،مګرکه چیری دساعت تطابق ددې علاموسره متیقن یا مظنون وی په ساعت پاندې عمل هم روادی کطبل السحور ۴جمادی الاولی ۱۳۴۹ھ (النور شعبان ۱۳۴۹)

دساعت په ذريعه دوختونوپيژندل

سوال :(۱٦۱) (ب) ليدل کيږي چه نن صبادلمانځه دوختونودپيژندلو لپاره دساعت ايښودل اکثروخلکو لازمي ګرځولي دی،دساعت ايښودل اويه شرعيه حکمونوکي دساعت ايښودل کوم حکم کي داخل دی ؟

جواب :في نفسه مباح اودمعين طاعت جوړيدويه نيت داجر موجب دی پدي شرط چه کوم بل امرمانع نه وی لکه دوينتو نقره ياد طلاکولو.

دجواز صلاة بعدالطلوع وقبل الغروب اندازه

سوال :(۱٦۲) خومينته وروسته دلمرختلوڅخه وخت مکروه کيږی او د اشراق لمونځ رواکيږی ،اودغروب نه څودقيقی مخکي کراهت شروع کيږی ددي ځای عواموته ددقيقو دشمير معلومول ضروری دی؟

جواب :فی الدرالمختاروکره تحريمالی قوله معه شروق وفی ردالمختار ومادامت العين لاتحارفيها فهی فی حکم الشروق کماتقدم فی الغروب انه الاصح کمافی البحر(ح) اقول ينبغی تصحيح مانقلوه عن الاصل للامام محمدمن انه مالم ترتفع الشمس قدررمح فهی فی حکم الطلوع لان اصحاب المتون مشواعليه فی صلوة العيداخ ج۱ص ۳۸٤وفيه قدررمح هوالثاعشرشبراخ ا،صفحه ۸۷۰.ددي نه دوه قوله ثابت شول اول ډيراسانه ده دوم ډيراحتياط دی ، ۲۸رمضان۱۳۳۳ه،تتمه ثالثه ۸۵،

دتکبيراولی وخت

سوال :(۱٦۳)دتکبيراولی ثواب ترڅه وخت حاصليږی يعنی په تکبير اولی کي شريک نه شويلکه دفاتحی ياختم سوره نه مخکي په رکوع کي شروع شو نودتکبيراولی ثواب ورته ملاوشو اوکنه ؟

جواب : دی کي ډيراقوال دی يوخودامام دتکبير مقارنت يعنی دواړه دی يوځای وواتي،دوم دامام دثناء نه دفارغيدونه وړاندي ، دريم که مقتدی موجوږ نوددي آيتونو دلوستلونه مخکي اوکه وروسته راغی نوداوو آيتونو دلوستلونه مخکي څلورم دالحمدلله د خلاصولونه مخکي ، پنځم په اول رکعت کي دشريکيدونه مخکي ، وتظهرفائدة الخلاف فی وقت ادراک فضيلة تکبيرة الافتتاح فعنده بالمقارنة وعندهمااذاکبر فی وقت الثناء وقيل بالشروع قبل قراء ة ثلاث ايات لوکان

المقتدی حاضراو قبل سبع لوغائبا وقيل بادراک الرکعة الاولی وهذا اوسع وهوالصحيح اه وقيل بادراک الفاتحة وهوالمختارخلاصه ۱۲شامی والله اعلم ،،امداد صفحه ۲۱ جلد۱،

درمضان مياشت کي دماښام په لمانځه کي دتاخيرحکم

سوال :(۱٦٤)ددين علماء پدي مسئله کي څه فرمائي دلته مسجدته روژه ماتی دخوړلولپاره راوړل کيږی ،اوخلک په حويلی اوسوری لاندي دروژه ماتی لپاره ناست وی ، دماښام دآذان سره روژه ماتی کولوسره خوراک کول راځی چه په دی کي ډيرخلک لاندي ناست روژه ماتوی، اوځينی حضرات په چت باندي روژه ماتوی دآذان کولونه وروسته دلس منټووقفی کولو نه وروسته دجماعت لمانځه لپاره ودريږی چه په دی کي هرمصلی په اطمينان سره دروژه ماتی نه دفارغيدلو نه وروسته په جماعت کي شامليږی مګردچت حضرات په جماعت کي نه شامليږی اوناست وی خپل خوراک کوی،سګرت څښکي پان خوری .کله چه لاندي جماعت تمام شی دغه وخت دغه حضرات په چت باندي دوم جماعت کوی اوس سوال دادی چه دبآم والاحضراتويه اول جماعت کي نه شامليدل اوډيره پوري خوړونکي پاتي کيدل اوبيادوم جماعت کول دشرعی له مخی روادی اوکنه ؟ که روانه وی دداسي کونکو خلکولپاره څه حکم دی ؟

جواب : فی الدرالمختار کتاب الصلوة و(يستحب) تعجيل المغرب مطلقاوتاخيره قدررکعتين يکره تنزيهاوفی ردالمحتارتحت هذا القول ان مافی القنية من استثناء التاخير القليل محمول علی مادون الرکعتين وان الزائدعلی القليل الی اشتباک النجوم مکروه تنزيها ومابعده تحريما الابعذر قال فی شرح المنية والذی اقتضته الاخبار کراهة التاخيرالی ظهور النجوم وماقبله مسکوت عنه فهوعلی الاباحة وان کان المستحب التعجيل اه ونحوه ماقدمناه عن الحلية ج۱ص۳۸۲. ددي عبارت څخه معلومه شوه چه دماښام په تاخيرکي دری درجی دی (۱)اول درجه خود دوه رکعته څخه کم دادچاپه نزد مکروه نه ده (۲) دومه درجه ددوه رکعته په اندازه يادديي نه زيات دستوروډظهورپوري،دادرمختارپه روايت مکروه تنزيهی ده اود منيی دشارح په تحقيق مباح ده خودمستحب خلاف اودريمه درجه چه پکي ستوری ظاهريږی دامکروه تحريمی ده . نودلس دقيقونه زيات تاخيرکول مکروه امرهم نده لکه څنګه چه دځيني روايتونو مقتضی ده بياهم دمستحب ترک کول خوضرور کيږی اوبغيردضرورته دمستحب په پريښودلوټينګار کول

داسې کاردی چه په هغه باندې بعض فقهاؤ دمکروه تنزیهی اطلاق کړی دی لکه څنګه چه دمذکوره عبارت دردالمحتارنه وروسته داعبارت شته انه الی ماقبل ذلک مکروه تنزیهالترک المستحب وهوالتعجیل اودغه دمستحب دپرېښودوبورې هغه وخت وی کله چه جماعت تاخیرکړی .اوکه جماعت په مستحب وخت کې ودرېږی نوتخلف عن الجماعة بلاعذرقوی حراموته نږدې ده اودومره مشغولتیا په اکل اوشرب اودهغه توابع کې دجماعت دپرېښودو په اعذاورکې ندی نودغو خلکو داکاریقیناً شرعاً ناجائزدی ۱۰شوال ۱۳۳۷ھ تتمه خامس ۹۵.

باب الاذان والاقامة :

دلمونځ کونکو حاضریدلو حکم په ټالی نه په اذان :

سوال :(۱٦۵)داذان دآواز احترام څومره دی ،څولمونځ ګذاران دسرکاری زنګ په مقابل کې هیڅ احترام داذان چه نغاره دحاکم حقیقی ده نه کوی ترڅوسرکاری زنګ چه ټاکل شوی غږ وکړی دلمانځه لپاره مسجدته نه راځی پدې کې څۀ حکم دی تفصیلی مطلع وفرمایې اواجر داحترام کولواو تادیب دنه توقیرکولو څومره دی ؟بینواتوجروا؟

جواب :په زنګ راتلل اوپه اذان نه راتلل که دزنګ دتوقیراونه احترام داذان وی یقینادېر قبیح اوشنیع کاردی مګر کوم خای داسې لیدل او اوریدل شوی ندی بلکه دلمانځه تړاو له وخت سره دی اودوخت دمعرفاتو څخه زنګ هم دی ددې لامله چه نورمعرفات اوآلات لکه هغه مقیاس چه دهندیه په دایره کې زوړند دی اوفقهاؤهم ورته اعتبار ورکړی نوهرڅوک چه په ټالی (زنګ) راځی نه په دی حیثیت چه مقصدېې دټالی خصوصیت دی بلکه پدې حیثیت چه هغه دوخت دمعرفاتو څخه دی پروانه لری اوپه مسلمانانو باندې بدګمانی کول خپله داسلام ع احترام دی چه داذان دعدم احترام څخه اشددې.والله تعالی اعلم وعلمه اتم ۹شوال ۱۳۲۳ھ امداد صفحه ۲۲جلد۱.

داذان په دعاء کې دلاسونو پورته کولوحکم :

سوال :(۱٦٦)ددین علماء اودشرع متین فقهاء په دی مسئله کې څه فرمایې چه داذان نه وروسته دعاء غوښتلو کې لاس پورته کول څنګه دی ؟

جواب : بالتخصیص دآذان په دعاکې خولاس پورته کول نشته اوندی لیدل شوی مګرمطلقا دعاکې لاس پورته کول داحادیث کثیره فعلیه،قولیه شهره څخه ثابت دی من غیرتخصیص

بدعاء دون دعاء، نو داذان دعاکې هم لاس پورته کول سنت[1] شول .لاطلاق الدلائل وعن انس قال کان رسول الله ﷺ یرفع یدیه فی الدعاء حتی یری بیاض ابطیه وعن السائب بن یزید عن ابیه ان النبی ﷺ کان اذادعا فرفع یدیه فمسح وجهه بیدیه رواهما البیهقی وعن عکرمة عن ابن عباس قال المسئلة ان ترفع یدیک حذو منکبیک اونحوها الحدیث رواه ابوداود کلها فی المشکوة کتاب الدعوات ووراءهااحادیث متکاثرة موافقة فی هذاالباب یفضی ذکرهاالی الاطناب ۲۷ذی الحجه ۱۳۰۴ھ امدادصفحه ۹۸جلد۱.

سوال :(۱٦۷) حضورپه امدادالفتاوی جلداول مطبوعه ص۹۸منهیه کې لیکلی دی چه داذان نه وروسته ددعاء په وخت لاس نه پورته کول افضل دی پداسې حال کې چه کوم حدیث څخه ددعاء په وخت عدم رفع ید ثابت ندی نه قولاً اونه فعلاً که .اوویل شی چه داذان ددعاوالا حدیث کې درسول الله ﷺ دلاس پورته کولو ثبوت نشته دی.نوددې خواب دادی چه پدې حدیث کې ددعای مسنونه اظهار اوفضیلت بیانول مقصود دی نه کیفیت لکه څنګه چه دترجمة الباب اودحدیث الفاظوڅخه ظاهردی اوددعاء په کیفیت کې مستقل حدیثونه موجود دی دکوموته چه معلومیږی چه هره دعاءکې لاس پورته کول دشرعی په طریقه مستحب اوافضل دی لکه چه ابن ماجه صفحه ۸۴باب من کان لایرفع یدیه فی القنوت کې دی عن ابن عباس قال قال رسول الله ﷺ اذادعوت الله فادع بباطن کفیک ولاتدع بظهور همافاذافرغت فامسح بهما وجهک بس نوهر کله چه دمطلق قولی څخه دمطلق رفع ید فضیلت ثابت دی نوکه کوم فعلی حدیث څخه عدم رفع ید عندالاذان فضیلت رابرسیره کیږی نود اصول فقه ددوو قاعدو خلاف لازمیږی .اوله قاعده خودادہ چه درسول الله ﷺ دکوم فعل جهت معلوم وی په دی فعل کې ددې جهت سراسر اقتداء کولی شی اودکوم چه جهت معلوم نه وی نوهغه په اباحت باندې حمله وو اوداظاهره ده چه دعدم رفع ید جهت معلوم ندی لهذا دفعلی حدیث څخه عدم رفع ید مستحب اوافضل کیدل ثابت شود لمړنی قاعدی عبارت نه راووخی دهمدی لامله هغه نه نقل کوو، اوددوهمی قاعدی عبارت دادی فی نورالانوارصفحه ۲۱۳مبحث افعال النبی ﷺ والمصنف ترک هذاکله وبین ماهو المختار عنده فقال والصحیح عندناان علمنامن افعاله ﷺ واقعا علی جهة من الوجوب اوالندب اوالاباحة نقتدی به فی ایقاعه علی تلک الجهة حتی یقوم دلیل الخصوص فماکان واجبا علیه یکون واجبا علینا وماکان مندوباعلیه یکون مندوبا

[1] دامطلب نده چه افضل وی

علیناوما کان مباحاعلیه یکون مباحالنا ومالم نعلم علی ایة جهة فعله قلنا فعله علی ادنی منازل افعاله وهوالاباحة، اوس په دی صورت کې عدم رفع ید افضل گڼل کیږی یادرفع ید امیدشته چه دخواب څخه د خاکسـار شک رفع وفرمايي؟

جواب : زه درواياتونو دتتبع فرصت نه لرم دهمدی لامله ددرایت څخه چه کوم څه زده کوم اوپوهیږم هغه نقلوم، بهترداده چه دکوم محقق لخواتنقید وکولی شی که کوم دلیل څخه ددې خطاوالی معلوم وی نوموږ دی هم اطلاع کړی ،زه په دی پوهیږم چه دعاګانی دوه قسمه دی یووختی حاجت غوښتنه بغیردتاکلو دالفاظو درفع یدین حدیثونه ددې متعلق دی دوم تاکل شوی دعاګانی برابره ده چه جوامع وی یاموقت وی درفع حدیثونه ددې متعلق نشته الاماوردفیه بالخصوص په اول کې رفع ید افضل دی اوعدم رفع مباح دی ، په دوم کې عدم رفع افضل دا اورفع مباح ده اوپه هره دعاءکې رفع ته افضل ویل ډیرمستبعد دی،په بعضو کې خونفی رفع تقریباًمصرح دی مثلاد منکوحه په اول خلوت کې یاالشتراء رقیق یادابة کې وارد دی فلیاخذ بناصیتها ولیقل اللهم انی اسالک الخ اخذدناصیه ظاهردی چه درفع سره جمع نه شی کیدای یامثلا دجماع په وخت اللهم جنبا الشیطان الخ په دغه وخت کـې رفع بدڅنګه کولی شی یامثلا دانزال په وخت اللهم لاتجعل الشیطان الخ علی هذا والله اعلم ، ٤جمادی الاول ٤٩هـ (النور صفحه ۸شعبان ۴۹هـ)

داذان دمشروعیت ځایونه

سوال :(۱٦٨)ددین علماء څه فرمايي چه کوم کوم ځای اوموقع په طوفان وغیره کې اذان سنت دی اوکوم کوم ځای کې بدعت دی؟

جواب :په دی ځایونوکې آذان سنت دی (۱) فرض لمانځه (۲) دپیدا ینبت په وخت دماشوم په غوږ کې (۳) ددشمنی دختمولوپه وخت (۴) دکفاوردجنګ په وخت(۵) دمسافرنه وروسته (٦) کله چه شیطان ښکاره کیدوډارول وکړی (۷) دغم په وخت (۸) دغصی په وخت (۹) کله چه مسافرلاره ورکه کړی (۱۰) کله چه چاته میرګی راشی (۱۱) کله چه دکوم انسان یاڅاروی بدخلقی ښکاره شی دا ردالمحتاروالا په خپل کتاب کې ذکرکړیدی اودمرضونو دعموم

اودغیرقیدوډاریه وخت دځینو بزرګانو عمل هم لیدل شوی خوکوم روایت ندی لیدل شوی[1] اودطوفان په وخت کې خولیدل شوی خواوریدل شوی ندی البته فقهاؤیدې وخت کې لمونځ لیکلی دی اوپه نورو وختونوکې یې هم لیکلی دی (۱) کسوف (۲) اوخسوف (۳) باد(۴) په تیاره ورځ (۵) دشپې سخته رڼايي کې (٦) ددشمن دار(۷)زلزله (۸) برق (۹) واوره (۱۰) هغه باران چه داودریدونه وی (۱۱) تولوامراض (۱۲) استفتاء داددرمختار صاحب ذکرکړی دی اوتعیمم يې کړی چه کوم آیتونه دالله ﷻ دتخویف موجب وی په هغه وخت کې لمونځ کول ښکاردی ویویډه قوله علیه السلام اذارایتم من هذه الافزاع شیئا فافزعوا الی الصلوة والله اعلم (امدادصفحه ۹۸جلد۱)

په اذان اواقامت اودماشوم په اذان کې دحی علی الصلاه

اوحی علی الفلاح دویلوپه وخت کې دالتفات حکم:

سوال :(۱٦٩) په اذان کې په حی علی الصلاه اوحی علی الفلاح کې مخ شمال اواليمين طرف کیږی نوپه اقامت یاچه کله دماشوم په غوږکې اذان ویل کیږی دلته هم مخ اړول ښکاردی اوکنه؟

جواب :التفات ښی اوچپ طرف ته لکه څنګه چه اذان کې سنت دی همداشان په اقامت اوهمداسې ده دماشوم غوږ ویلتف فیه وکذافیها مطلقاوقیل ان المحل متسع یمناویسارافقط فلایستدبرالقبلة بصلوة وفلاح ولووحده اولمولودلانه سنة الاذان مطلقادرمختارباشامی ج ۱ ص۱۵۹ مورخه ۱۳ جمادی الاول ۱۳۰۳ هـ (امدادصفحه۱۰۵جلد۱)

داذان دتعدد په وخت کې دبیع کراهت په اول اذان دجمعی سره

سوال :(۱۷۰)کله چه دجمعی په ورځ دخطبی اذان ویل کیږی دغه وخت خرڅول ،اخستل منع دی آیاپه ټول ښاربانديې حکم یوشان دی اوکه مختلف دی ؟څکه چه ځینې مسجدونوکې اذان وختی وی اوپه ځینوکې وروسته وی دهرمحلی دمسجدموافق حکم علیحده علیحده ده یادټول ښارلپاره حکم یوشان دی؟

[1] دے مدې لامله ندے ښکار خصوصاکله چه معوامواعتقادپه دې کې د فسادحدے پورې رسیدلې وي ۱۲منه

جواب :کومه بیعه چه مخل دسعی وی دجمعی داول اذان په وخت کې مکروه ده اوکه خوخایه اذان ویل کیږی نواظهرداده چه داول اذان سره کراهت ثابتیږی اگرکه ددې صریح روایت احقرندی لیدلی لاکن دتعدد اذان په اول پکار دی برابره خبره ده چه مسجد دمحلی وی یاغیر کې وی ولوتکراراجاب الاول درمختارقوله اجاب الاول سواء کان مؤذن مسجده اوغیره شامی ج۱ص ۳۲۲ اوبدې حکم کې تول بناریان یو شان دی البته په کوم باندې چه جمعه واجب نده هغه مستثنی دی دهغه بیع جائزده وکره البیع عندالاذان الاول وقدخص منه من لاجمعة علیه درمختارباشامی ج۱ص۱۳۲،۱۳ جمادی الاول۱۳۰۳ھ امدادصفحه ۱۰۲ج۱۔

داذان دځواب ورکولوحکم په تولودی:

سوال :(۱۷۱) څه وخت چه اذان وی اویه کوم ځای کې پنځه لس کسان ناست وی نودټولو لخوا یوځواب ورکول کافی دی اوکنه؟

جواب : ندی لعدم دلیل علیه (تتمه اولی صفحه ۳۴ج۱)

داذان دځواب استحباب

سوال :(۱۷۲) کوم سړی چه مسجد کې وی په هغه باندې داذان ځواب واجب دی اوکه مستحب؟

جواب : مستحب دی فی الدرالمختارولوبمسجدلالانه اجاب بالحضوراخ ورجح الاستحباب فی ردالمحتار (تتمه اولی صفحه ۳۴جلد۱)

څوځله اذان اوریدلوسره داذان داجابت حکم:

سوال :(۱۷۳) څوورځی وشوی چه یوه عریضه می ستاسو شریف حضورته روانه کړیوه اودهغې یوسوال داهم وچه په لاندې ډول سره له ځوابه بعینه پدې عبارت کې مذکور دی سوال یووخت کې داذان ځواب یوځل ورکول واجب دی یاڅومره ځله چه اوری هومره ځله واجب دی؟ (ځواب) ځپله دواجب والی کوم دلیل اوس عرض دادی چه ځماسره دومره بصارت اوطاقت نشته چه ستاسوحضورمخی ته کوم دلیل وړاندې کړم. لاکن دبهشتی گوهر عبارت نقلولی شی دملاحظې څخه وروسته دسوال ځواب په مهربانی سره په داسې ډول عنایت وفرمایې چه دهغې نه کامله تشفی وی، دبهشتی گوهر عبارت په لاندې ترتیب دی دبهشتی زیورپوولسمه

برخه داذان اواقامت حکمونه صفحه ۲۴ کې مسئله کوم شخص چه اذان واوری نروی اوکه ښځه طاهروی یاجنب، په هغه باندې داذان ځواب ورکول واجب دی؟

جواب : په وجوبی اجابت کې اختلاف دی چه بالقدم دی اویاباللسان دبهشتی گوهرفتوی په قول ثانی باندې مبنی ده اودلیل څخه اول قول راجح ده (الشامی) اوبدې صورت کې اجابت باللسان مستحب کیږی بیاکه ډیراذانونه واوری نودرمختارکې بوازی داول اذان اجابت نی اختیارکړی دی، واجب وی اوکه مستحب اودشامی رائې دټولو اجابت ده کمافصله تحت قول الدرالمختارولوتکرراجاب الاول جلد۱ص ۱۰،۴۱۲ ربیع الثانی ۱۳۴۲ھ (تتمه خامسه صفحه ۲۵۸)

داذان په اوریدونکوباندې دسلام ځوابول واجب ندی:

سوال :(۱۷٤) داذان اوریدونکوباندې برابره خبره دی چه هغوی داذان ځواب ورکوی یاغلی وی دکوم راتلونکې سړی دسلام ځواب ورکول واجب دی اوکنه؟ اوکوم شخص باندې داسې موقع کې سلام کول پکاردی اوکنه؟

جواب :داسې وخت کې سلام نه دی پکاراوکه سلام یې وکولوتوڅوک چه داذان ځواب ورکوی په هغه باندې خودسلام ځواب ورکول واجب ندی اوکوم چه غلی دی ظاهره داده چه په هغوباندې واجب ندی، لان سماع الذکر کالذکر کمافی الدرالمختارمفصل وتال ذاکرومحدث خطیب ومن یصغی الیهم ویسمع فقط (تتمه اولی صفحه ۳۷)

په مسجدکې په چپ طرف داذان کولورواج څنگه دی؟

سوال :(۱۷۵) علی العموم داچه کوم رواج دی چه هغه منبرچه په هغه باندې خطبه دجمعی لوستل کیږی هغه په مسجد کې په چپ طرف جوړیږی ددې ثبوت دحدیثونوڅخه دی اوکه محض رواج دی اوکه نبی لاس ته منبرجوړشی اوخطبه ولوستل شی نودرست دی اوکنه اوداذان په باره کې څه حکم دی ددې رواج په پنځه وخته مسجد کې چپ طرف اذان کول دی ددې ثبوت حدیثونو کړیدی؟

جواب :هیڅ اصل خماپه یاد نده (تتمه اولی صفحه ۴۱)

په یوه وخت کې په دوه مسجدوکې دیوسړی داذان کولو حکم

سوال :(۱۷۶) که کوم امام یامؤذن بغیرد کومې طمعې په څومسجدونو کې دیوه وخت اذان وکړي نوڅنګه دی ؟

جواب :فی الدرالمختار باب الاذان یکره له ان یؤذن فی مسجدین وفی ردالمحتارلانه اذاصلی فی المسجدالاول یکون متنفلابالاذان للمکتوبة وهوفی المسجد الثانی یصلی النافلة فلاینبغی ان یدعو الناس الی المکتوبة وهولایساعدهم فیهااه بدائع ج۱ص۱۲،۴۱۵ محرم ۱۳۳۳ هـ (تتمه ثالثه صفحه ۱۰)

په هغه ځایونوکې چه غروب یاطلوع ونه شي دلمانځه وختونه :

سوال :(۱۷۷) حضرت مادلته راتلوسره واوریدل چه په نوروکې کوم چه قطب شمالی ته نږدی دی یویودی دلته دژمی په موسم کې اودګرمی په موسم کې دوه میاشتې داسې وی چه دوه میاشتوپورې ورځ ورځ پاتې کیږی اودوه میاشتوپورې شپه شپه وی نوحضرت پدې صورت کې څنګه لمونځ ادا کیږی ؟

جواب : (من الاحقر) آیادغودومیاشتوکې غروب بیخې نشته یاطلوع بالکل نشته یالږ دیروخت لپاره وی دهر یوجدا حکم دی

ددې په ځواب کې لاندې خط راغی :

ددوم سوال متعلق داعرض دی چه دوه میاشتو پورې غروب بیخې نه وی، تولـه ورځ وی اوپه ټول کال کې دوه میاشتې داسې کیږی چه لمر نه راووځی دامونږ ته دلته په راتلوسره معلومه شوه خماسره دلته کومه لویه جغرافیه نشته ترڅو زه هغه اوس فوراً اولولم معلومات وکړم دلته اکثره خلک دمذهب متعلق سوال کوی نوګمان دی که څوک سوال وکړی چه داسې ملک کې چه هلته لمرسترګه نه راووځی یاخو راوځی خوغروب نه وی نوبیالمونځ څرنګه وکولی شي نوخماسره ددې هیڅ کوم صحت ورکونکې ځواب نه وؤ، پورتنی پوښتونکې

الجواب من المولوی عبدالکریم :

په کوم موسم کې چه ورځ یاشپه ډیره لویه وی دغه وخت داحکم دی چه ددې علاقې سره ډیری نږدی علاقې دی داوختونه معلوم کړی (کوم ځای چه عادی حالت سره غروب کیږی) اوروژه اولمونځ ټول دی په همدې حساب سرته رسوی ،مورخه ۹جمادی الاخری ۱۳۵۰هـ

ددې حاصل (من الاحقر) دادی چه په کوموځایونوکې دوه میاشتې شپه اودوه میاشتې ورځ وی داکتل په کاردی چه ددې داطراف په ځایونو کې چه کوم ځایونه داسې وی چه په همدې ورځوکې هلته ټول شپه او ورځ څلیرشت ساعته وی پدې مقاماتوکې کوم ډول مقام دبل مقام په نسبت، دغه پورتنی مذکورمقام طویل النهار اوطویل اللیل ته نسبة نږدی دی ددغه عادی طلوع اوغروب والا مقام په حساب دی ددغه طویل اللیل والنهاروی،حسابه وی،یعنی په عادی مقام کې دفجر نمازنه څوساعته وروسته دماسپښین لمونځ وی همدومره ساعته وروسته په دغه طویل اللیل والنهارمقام باندې دظهرلمونځ کولی شی په همدې ترتیب نورلمونځونه په همدې حساب دغه اوږدی شپه یا اوږدی ورځ کې ددوه میاشتولمونځونه دساعتونوپه حساب اداکړی ، په کوم ترتیب چه دهغه ځای اوسیدونکې خپلې نوری معاملې ، نوکری، مزدوری داسې حساب کولوسره سرته رسوی ،یعنی په دغه اوږدی ورځ کې مزدور خلک دیوی ورځی مزدوری نه اخلی بلکه ددوه میاشتو اخلی په همدې ترتیب دغه لویه شپه کې دکارخانې خلک مزدورانونه په رخصت ورکولوکې یوه شپه نه شمیری پدې حساب په لمونځونوپوهیدل دی ، همدادول روژه ماتی به دساعتونوپه حساب وی اودځینوعلماؤ قول دی ،اوخماپه نزد پدیکښې ډیرسختی دی دهمدې لامله دنوروځینوعلماؤقول ته ترجیح ورکوم یعنی په کوم موسم کې چه څومره لویه شپه اوورځ وی ددغې شپې اوورځې مجموعه کې پنځه لمونځونه فرض دی ،یعنی دصبح صادق اوطلوع شمس په مینځ کې دفجرلمونځ بیادورځې پورته کیدوسره ماسپښین وعلی هذانورلمونځونه اوروژه په داسې اوږدی ورځ کې اداکول فرض ندی بلکه په عادی ورځوکې دی قضایې ونیول شی نصف جمادی الاول ۱۳۵۰هـ

لوړی نمبرنوټ: (۱) نمبر په آینده کې په ځواب کې داعانت لپاره دمسئلوڅخه په لاندې ډول تنقیحات دعاقلانه ځواب انتظاردی (۲) دهغه ځای هستوګن خپل حسابونو اومعاملوکې دغه شپې اوورځې شماروی نودهغومعیار څه دی ؟ دکوم نه چه منضبط کولی شی دکوم په بناء چه دتیاروځینې برخې دورځ اودرڼایې ځینې برخې شپه ګرځول کیږی (۳) ددې فرع داده چه هلته

یوکال دولس میاشتی گڼل کیږی یادکمو میاشتو، پدې ترتیب هره میاشت ۲۹-۳۰-۳۱ شمیر کولی شي یادخینو میاشتوکم؟

دوم نمبرنوټ (۲) ددې خواب متعلق یوه نقشه دهغه ځای دطلوع او غروب یوماهرفن لخوا مرتب کولوسره ملحق کړی شوه، اشرف علی،

طلوع، غروب، وشفق، اوصبح صادق عرض البلد ۵۵ درجی ۵۳ دقیقی طول البلد څلور ۴ درجی ۲۳ دقیقی مشرق این فیروواقع په اسکاټ لنډ کې (دمحمدمظهر تهانوی دبهوپال اوسیدونکې لخوا) دلوېې برطانی دریلوی وخت په حساب

(استینډرډټائم)

	طلوع آفتاب		طلوع		غروب		شفق	
	گنته	منت	گنته	منت	گنته	منت	گنته	منت
جنوری 1	6	28	8	50	15	56	18	17
11	6	26	8	54	16	10	18	28
جنوری 21	6	19	8	33	16	28	18	54
31	6	7	8	17	16	49	19	0
فروری 10	5	50	7	57	17	11	19	19
20	5	30	7	34	17	33	19	38
مارچ 2	5	2	7	7	17	55	19	59
12	4	49	7	44	18	16	20	21
21	4	9	6	17	18	26	20	46
اپریل 1	3	36	5	51	18	56	21	13
11	3	0	5	25	19	15	21	45
21	2	17	5	0	19	37	22	24
مئی 1	1	19	4	36	19	50	23	23
11			4	14	20	17		
21			3	56	20	26		
31			3	42	20	52		
جون 10			3	33	21	4		
20			3	35	21	10		
30			3	35	21	26		

پورتنی اعد اوداشماردشاهی ترصدخی څخه چه ګرینویچ کې واقع دی شائع شوی دناتی کل المنک په امدادتیارشوی

دنقشې ضمیمه : دترتیب ورکونکې ددې نقشې دکاریه ذریعه چه عبارت نی دادی چه دطلوع څخه ترغروب پورې دوخت له نیمایې کولو څخه زوال معلومیږی اودشفق دمقدار څخه یوربع کم مقدارته نژدی کله چه په غروب کې وخت وی نودعصروخت شروع کیږی اهـ اشرف علی (النور صفحه ۳ ذی قعده ۵۰هـ تاالنور صفحه ۷ ذی الحجه ۵۰هـ)

په بیان دفصل دماښام اوماسختون په لمانځه کې په هغه ځای کې چه علم دغروب شمس اوطلوع دصبح صادق هلته مشکل دی

سوال :(۱۷۸) دلته نن صبا پنځه بجوته نژدی لمرسترګه راووځی اود شپی نه (۹) بجی غروب وی .زه دماښام لمونځ (۹) بجی کوم او ماسخوتن لس نیمی بجی اداءکوم .لکن څوورځوکې لمرسترګه تقریبا څلورنیمی بجی راوتل کوی اوغروب پاوکم لس بجی وی ، ددې متعلق عرض دی چه په دې صورت کې دماښام اوماسختن ترمینځ کم ترکمه څومره جداېې پکارده؟

جواب : (من الاحقر) کلیه قاعده داده چه څومره جداېې دصبح صادق او طلوع شمس ترمینځ وی همدومره دغروب څخه دعشاء دوخته پورې نوکه مخکې فصل معلوم شی نودومره نورګڼل کیږی او که معلوم نه وی نویه دغی پانی باندې دی بیاوایس ګړای شی زه به د دی فن پوهانونه تحقیق کولوسره اطلاع درکوم.

ددینه وروسته بل خط راغی:

سوال :(۱۷۹) دهغه جناب دحکم په موجب پانه واپس کوم دصبح صادق معلومول مشکل دی څکه چه دلته رڼاېې دصبح صادق په شان دشپې کله دیری بجی پورې پاتې وی اوددې طرف نه بیادری بجی ته نژدی شروع کیږی .دلته وختونه زرزربدلیږی وړاندې ورځوکې دجون میاشت کې دلمرسترګی دراختلووخت دڅلوروبجولوری راغلی ؤاو غروب دشپې لس بجی کیدلولاکن لږوخت وروسته اوس دطلوع وخت شپږبجی دی اودغروب وخت اته نیمی بجی کیدلی دامعلومه شوی چه ورځ په ورځ غتیږی اوتردی لوییږی چه طلوع دورځی نه بجی وی او غروب دورځی دری بجی نه مخکې ، ددې چه داصورت وی حضرت! په دی صورت کښی دلمانځه

وختونه په کوم ترتیب قايميدلی شي او که رمضان شريف په دی زمانه کې راغی نودروژی اوپيشلمی څه وختونه کيدل پکاردی . (پورتنی سائل)

جواب : (من المولوی عبدالکريم) دصبح صادق پيژندل دادی چه مشرق کښې يوه اوږده رڼائی شروع کيږی يعنی دلمردراختلوپه ځای يواوچت دستنی په شان وی دغه صبح کاذب دی دمغه نه وروسته دغه رڼائی تقريباغايب کيدلوسره دوهم ځلی يوه رڼائی دآسمان په عرض کې يعنی شمالاوجنوباخوريږی ددې دابتداء نه مخکې پيشملی بندول لازم دی اوددې په خوريدوسره دفجردلمانځه وخت شروع کيږی اودغه مذکوره رڼائی دخپريدوڅخه مخکې پدې ترتيب دغه سپينه رڼائی ترهغه وخته چه دغروب نه وروسته پورې وی هغه شفق دی دغه وخته پورې دی دماسخوتن لمونځ نه اداء کيږی ، کله چه دغه رڼائی غائبه شوه ماسخوتن دی اداءکولی شي،پيشلمی خوړلوسره روژه شروع کيږی اودلمرپه غروب باندې افطارکول پکاردی ، برابره خبره ده چه ورځ وره وی اوکه اوږده وی هغه څه اعتبارنلری (البته که ډيره زياته لويه وه دهغې حکم بل دی ، کومه چه نمبر۳او۱۷سوال کې مذکورده ، حاصل من الاحقردادی چه دصبح صادق معلومولی مشکل نه دی په همدې ترتيب دغروب څخه وروسته دشفق سپينه رڼائی معلوم والی مشکل ندی ځکه چه ددې خاص اوچتوال همدادی ، يعنی دشپې تياره خوممتازځيزدی نوکومه رڼائی چه مشرق يامغرب کې ددې خلاف وی هغه هم ممتازدی خودارڼائی ترهغه وخته پورې چه دمغرب په طرف وی دمغرب وخت دی اوترڅوچه هغه غائبه شي هغه دعشاء وخت دی اودی شان رڼائی ترڅوچه مشرق کې ښکاره شوی نه وی هغه شپه ده اوکله چه په مشرق کې ښکاره شی هغه صبح صادق دی دلمانځه وخت شو ، (النورشوال ۱۳۵۰ھ صفحه ۱۰ دالنورصفحه ۳ذی قعده ۵۰ھ .

نوټ: نمبر۷۲-او۸۳سوالونه ديوه سائل دی چه انگلستان هيوادرين فرواستکلندڅخه راغلی دی

داقامت ځواب يواځې په مقتدی باندې دی اوکه په ټولو:

سوال :(۱۸۰)داقامت خواب دی مقتدی،امام اوفارغ الصلاة ټول ورکوی يافقط مقتدی ؟

جواب :امام اومقتدی ټول دی ورکړی [1] اوفارغ له لمانځه دی هم خواب ورکړی فی الدرالمختار

[1] فی الجواب بحث من وجوه اماالاول فلان الرواية المنقولة متعلقة بالاذان والسائل يستفتی عن حکم الاقامة وجوابه انه استدلال بالنظيرعلی النظيرلان الاقامة فی الجواب مثل الاذان وهوظاهرواماالثانی فلان سببية السماع فی غيرالفارغين

ولوتکرراجاب الاول وفی ردالمحتارويظهر لی اجابة الکل بالقول لتعددالسبب وهوالسماع کمااعتمده بعض الشافعية اه قلت دل علی سببية السماع فاذا وجدالسماع وجدالاجابة ايا من کان والله تعالی اعلم . ذی قعده ۱۳۲۲ھ (امدادصفحه ۲۴جلد ۱)

دماښام اذان اولمانځه ترمينځ دجدائی حکم

سوال :(۱۸۱)دجناب عالی په خدمت کې داعرض دی چه هرکله چه حاضر خدمت ؤمادجناب څخه يوه مسئله پوښتلی وه مگرپه هغه وخت کښې د وخت دتنگی لامله کافی خواب می حاصل نه کړل شو ، تاسوفرموده هم وه چه دمسئلی په ليدوسره وايم نودغه وخت نه ليدل کيږی بيازه دلته راتلو سره مسئله می په هداية اول کې وليدله اوهغه مسئله داده: ماپوښتنه کړی وه چه ځينې حضرات وائی: چه دلته دماښام لمانځه کې اذان نه وروسته کافی ډيروخت وی،همدارنگه دمونږهم ځوخل داگمان ؤخودپوښتنې فرصت نه ملاويده .دامام اعظم فعل اوقول داؤچه هغه دماښام داذان نه فوراوروسته اقامت کاوه اودا په باب الاذان دهداية اول کې ذکرشوی دی (صفحه ۷۲مطبوعه مطبعه عليمی دهلی) اوهغه عبادت دادی ويجلس بين الاذان والاقامة الافی المغرب وهذاعندابی حنيفه (اوپه ۷۴صفحه باندې دیعقوب) څخه روايت ده چه داسې ده (قال يعقوب: رئيت اباحنيفه يوذن فی المغرب ويقيم ولايجلس بين الاذان والاقامة.اوددينه ئی صريح په (باب المواقيت)کې بيان کړی اودادامام شافعی قول دی: صفحه ۲۴باب المواقيت اوله هدايه مطبع علمی دهلی) عبارت دادی : وقال الشافعی مقدارمايصلی ثلث رکعات لان جبريل عليه السلام ام فی يومين فی وقت واحد يوازی دصاحبينوخلاف دی هغوی وائی چه داسې خفيفه جلسه پکارده چه په خطبتينوکې کيږی ، دائی هم په باب الاذان کې ذکرکړی ده، اوس هغه څه چه ددې حاصل شودهغې نه مومتنبه کړی ماچه ددې کوم خواب په خپل زړه داسې ورکولوچه شايد مسئله هغه وخت وی چه کله امام په يومسجد کې مقرروی اوهغه ته دکوم سبب لامله مجبوريت وی،يا په راتگ

مسلم واماالفارغون فلا لانه دعاءلغيرالفارغين لاللکل فيکون الجواب عليهم لاعلی الکل وجوابه ان شرعية الجواب لمراعاة حسن الادب مع داعی الله وهولايختص لغيرالفارغين ويؤيده ے ماقلناماقال العلامة الشامی فی ردالمحتارحيث قال هل يجيب اذان غيرالصلوة کالاذان للمولودلم اره لائمتناوالظاهرنعم ولذا يلتفت فی حيعلته کمامروهوظاهرالحديث الا ان يقال ان ال فيه للعهداه مافيه اقول فان کان للجنس اوالاستغراق فظاهروان کان للعهد فلايضرفی مانحن فيه لانه يشمل ح کل اذان للصلوة وفيه المدعی (داعبارت دتصحيح الاغلاط صفحه ۱ نه ليکلی شوی دے)

کې زیدوشی نودهغه انتظارکول پکاردی خوددې نه تشفی نه کیدله نومادې اشکال دلری کولولپاره دجناب ځخه استفساروکړامید دی چه دتاسودځواب ځخه کافی تشفی وشی ؟

جواب : په سوال کې دمندرجه روایتونوځخه یوازی عمل ثابتیږی ، او دزیات تاخیرکراهت ورځخه نه ثابتیږی ، نوعمل په استحباب باندې هم حمل کولی شی اومقصودبالبحث کراهت ده ، نوپه درمختاراو ردالمحتارکې ددې نه هم تعرض دی چه حاصل ئی دادی چه په تاخیر مادون الرکعتین کښې خوکراهت نشته اوددې نه زیات داشتباک نجوم دقبیل پورې دشرح منیی په تحقیق سره مباح اوځینواقوالوپه تحقیق مکروه تنزیهی اوداشتباک نه وروسته تحریمی دی.روایتونه دادی فی ردالمختاروالمستحب الی قوله دتعجیل مغرب مطلقاو تاخیره قدرر کعتین یکره تنزیهاوفی ردالمختارافادان المراد بالتعجیل ان لایفصل بین الاذان والاقامة بغیرجلسة اوسکتة علی الخلاف وان مافی القنیة من استثناء التاخیرالقلیل محمول علی مادون الرکعتین وان الزائدعلی القلیل الی اشتباک النجوم مکروه تنزیها وبعده تحریما الا بعذرکمامرقال فی شرح المنیة والذی اقتضته الاخبارکراهة التاخیرالی ظهورالنجوم وما قبله مسکوت عنه فهوعلی الاباحة وان کان المستحب التعجیل اه ونحوه ماقدمناه عن الحلیة او عذرکې کراهت هم نشته اودلته امام ته انتظارکې تاخیرددوه رکعتونو ځخه لږ وی هغه هم کله نه استمراراًاوعادتاً او که دمادون ځخه څه اندازه اضافه هم فرض کړی شی نوپه یوتحقیق مباح دې اودکراهت تنزیهی قول باندې عذردکراهت نفی کونکې دی.اوفقهاؤ دعذرمثال اکل اوسفرورکړی دی اودحصرکوم دلیل نشته. اود امام لپاره اودس اودقوم لپاره دمقرراامام انتظارخصوصاکه هغه حاضروی نواکل ځخه قوی عذردی،والله اعلم ۲محرم سـ۱۳۵۳ (النورصفحه ۹ربیع الثانی سـ۱۳۵۸ھ)

داقامت په وخت په حی علی الفلاح باندې دودریدو حکم:

سوال :(۱۸۲)دکانپورپه ځینومسجدونوکې دمودی راهیسی دتکبیرپه وخت دمؤذن نه علاوه ټول خلک ناست وی،اوکله چه مؤذن حی علی الصلاه وائی دغه وخت ټول خلک ودریږی اودشرح وقایه ددغه عبارت حواله ورکوی (ویقوم الامام والقوم عندحی علی الصلاة ویشرع عندقد قامت الصلاة) صفحه ۱۵۵سطر ۱۲) اوکوم شخص چه مخکې نه ولاړوی هغه

ته په بدی سره ګوری،په دی مسئله کې دجناب څه رایه ده اوېدې مسئلی عمل کونکې دبدعتی نوم سره یادوی،اوعمل نه کونکوته وهابی وائی .فقط

جواب : دشرح وقائی عبارت مبهم دی ځکه چه په دی کښې ددې عمل درجه نه ده بیان کړی شوی اوځینونورو کتابونوکې مفسرده دهمدی لامله مبهم به دمفسرطرف ته راجع کوو لکه چه په درمختار کې قبیل فصل صفة الصلاة داعبارت ده : ولهاآداب ترکهالایوجب اساءة ولاعتاباکترک سنة الزوائد لکن فعله افضل الی قوله والقیام لامام ومؤتم حین قیل حی علی الفلاح الخ ثم قال وشروع الامام فی الصلوة مذقیل قدقامت الصلوة ولواخرحتی انهاالاباس به اجماعا وهوقول الثانی والثلاثة وهو(ای التاخیر) اعدل المذاهب کمافی شرح المجمع لمصنفه وفی القهستانی معزیا للخلاصة انه الاصح اه وفی ردالمحتار قوله انه الاصح لان فیه محافظة علی فضیلة متابعة المؤذن واعانة له علی الشروع مع الامام اه) ددغو عبارتونوځخه لاندې امورمستفاد شول (۱) دغه کاردادابوځخه دی چه پرینبودل ئی داساءت اوعتاب موجب ندی نوددې په تارک باندې نکیرکول دحدودونه تجاوزدی هغه چه دبدعت فرددی ، نوکه دغه عمل کونکې په تارک باندې نکیرونه کړی نوعامل بالادب دی اوکه نکیروکړی نومبتدع دی (۲) دادیبونوله جملی ځخه دقدقامت الصلاه ویلوپه وخت دامام شروع کول دی خوددې باوجودددې تاخیرکول دیوعارض لامله اصح اواعدل بلل شوی چه دافضل والی مستلزم دی اوهغه عارض دمؤذن اعانت ده په شروع مع الامام باندې همداسې داهم دیوعارض لامله دی چه هغه دعامة الناس داعتبارپه وجه دلازم په شان ګرځیدلی : ګنجایش شته چه داقامت نه وړاندې ودریدلوته افضل وویل شی اوهغه عارض تسویه د صففوده چه نهایت موکددی ، دهمدی لامله چه دعوام الناس نه پاملرنه اواهتمام کم والی په وجه لیدل کیږی چه په حی علی الصلاة باندې له ودریدوځخه دامام دتحریمی تروختله پورې دصفونو برابر والی نشی کیدلی بلکه اکثرلیدل شوی چه که دمخکې نه ولاړودصف برابرولو انتظار وکولی شی نوداقامت او تحریمه دامام ترمینځ دفصل ضرورت کیږی . ۲۰صفرسـ۱۳۵۰ (النورصفحه ۵رمضان المبارک سـ۱۳۵۰ھ)

سوال :(۱۸۳)اذادخل الرجل عندالاقامة یکره الانتظارقائما یقعدثم یقوم اذابلغ المؤذن حی علی الفلاح یفهم منه کراهة القیام ابتداء الاقامة والناس عنه غافلون (طحطاوی علی مراقی الفلاح) دطحطاوی نه علاوه په شامی البحرالرایق شرح وقایه،ملتقی الابحر،مجمع الانهر، مظاهرحق اونوروکتابونو کې تصریح ده چه خمونږ ددریوارو اماماتو په نزدپه حی علی الصلاه،حی علی

الفلاح (علی اختلاف الاقوال) اودریدل پکار دی اوپه قدقامت الصلاة باندې شروع کول پکاردي،خوپه مراقی الفلاح کې تصریح دی چه که داقامت دخلاصید ونه وروسته لمونځ شروع کړی لاباس به فی قولهم جمیعا،لاکن د اقامت په شروع کې داودریدلو ډیروسعت پیدا نشو،بلکه کراهت ثابتیږی،داکابرو تعامل لیدلوسره شبه پیداکیږی چه ممکن دی چه کوم امرمانع دتعامل وی چه داحقرنظرپه هغې ندی لګیدلی دهمدی لامله مؤدبانه عرض دی چه ددې پوښتنوځوابونه عنایت وفرمایې؟ (۱) دقامت په ابتداء کې ودریدل مکروه دی اوکنه؟ (۲) که مکروه ندی نوداول نه ودریدل افضل دی اوکه دحی علی الصلاة نه؟ (۳) که دحی علی الصلاة نه ودریدل افضل وی نودجمعې په ورځ دخطبې نه دفارغیدو سره امام په ممبرناست پاتې شی یاپه جای نمازترڅوچه مؤذن حی علی الصلاة ته ورسیږی؟

جواب: مقدمة الروایات یفسربعضهابعضاددینه وروسته پوهیدل پکاردی چه په حی علی الصلاة اوحی علی الفلاح باندې اودریدلوته درمختارقبیل فصل صفه الصلاة کې من جملة اداب ویل شوی دی ، اوداد بونوپه صفت کې تصریح ده چه (ترکهالا یوجب اساءة ولاعتا بالکن فعله افضل الخ ددې نه معلومه شوه چه په یکره له الانتظارکې مراد دیکره څخه ترک افضل ده ددې نه وروسته ددې ادبونوپه جمله کې بې دامام شروع بې په لمانځه کې په قدقامت الصلاة باندې شمار کړی ویلی بې دی ولواخرحتی اتمهالاباس به اجماعااوددې نه وروسته لان فیه محافظة علی فضیلة متابعة الموذن واعانته له علی الشروع مع الامام ددې قیاس څخه معلومیږی چه کله بې دیوه ادب ترک ته یعنی دامام دشروع تاخیر دعارض دمحافظت اواعانت په سبب ترجیح ورکړی په همدې ترتیب ددوم ادب یعنی قیام عندحی علی الصلاة ترک یعنی تقدیم قیام علی الحیعلتین بې دتسویة صفوف دعارض په وجه راجح ګڼل کیږی ،اودا دتسوی عارض ډیر موکددې ،اودعوامو دعدم اهتمام اوقلت مبالات په وجه لیدلی شی چه په حی الصلاة باندې داودریدونه ترتحریمی وخت پورې دصفونو تسویه نه کیږی بلکه اکثر لیدل شوی چه دوړاندې نه په اودریدلوسره هم که دتسویة صفوف انتظاروکولی شی نوداامام تکبیر تحریمه اواقامت ترمینځ فصل حتماراځی ،نوددغه موکدعارض لپاره دغه ادب ترک کوددې څخه دټولوسوالونوځواب معلوم شو.

اطلاع: داسې یوځواب ۲۰ صفر ۱۳۵۰ھ کې لیکل شوی دی ، ۲۳ صفر ۵۱ھ (النورصفحه ۸ شوال ۱۳۵۱)

په حی علی الفلاح باندې دودریدلوحکم

سوال: (۱۸٤) ددین علماء اودشرع متین مفتیان څه فرمایې په دی مسئله کې چه زیدوائی چه دجماعت لمانځه لپاره ټولومقتدیانو اوامام لپاره مناسب دی چه دقدقامت الصلاة نه وروسته ودریږی که دقد قامت الصلاة دویلوسره ودریږی نوګنهګاریږی تردی چه که کوم سړی اودس کوی اواقامت شروع شی اواودس کونکې داسې وخت داودس څخه فارغ شی چه لاتکبیر قدقامت الصلاة ته نه دی رسیدلی نو دغه سړی دی هم اول ناسته بیادی لمانځه کې شریک شی اوس سوال دادی چه دقدقامت الصلاة نه وروسته دلمانځه لپاره ودریدل واجب دی اوکنه سنت یا مستحب؟ اودقدقامت الصلاة ویلونه وړاندې ودریدلوسره امام یامقتدی ګنهګاریږی اوکنه؟ فقط بینواتوجروا؟

جواب: په دیکې ډیراقوال دی څوټولوکې وسعت دی ،کوم یونه کوم قول اختیارونکې ته ګنهګارویل نه دی پکار اونه دګناه کوم دلیل شته په اعلاء السنن څلورمه برخه باب وقت قیام الامام والماموین للصلاة کې ټول قولونه ددلایلوسره چه آثاردی لیکلی دی ،اوخینو ثقه ونقهاؤ ددې ټولو اقوالوپه بناء دتوقیت محمل داویلی دی چه ددې نه تاخیر مه کوی اودامراد نه دی چه له دی نه تقدیم مه کوی لکه چه په مذکورکتاب کې دی وقال العلامة الطحطاوی والظاهرانه احترازعن التاخیرلاالتقدم حتی لو قام اول الاقامة لاباس وجازاه لکه څنګه چه داسې یوه جزئیه کې همدا شروع الامام فی الصلاة مذقیل قدقامت الصلوة تصریح ده ولواخرحتی اتمهالاباس به اجماعا (کذافی الدرالمختارقبیل فصل بیان تالیف الصلوة اودترمذی په څلورم سنن باب الجنائز کې دافیصله د الفقهاء هم اعلم بمعانی الاحادیث اه کتبه اشرف علی ۱۸-رجب ۱۳۵۲ھ (النور صفحه ۷ شعبان ۱۳۵۷ھ)

په رمضان کښې دفجراذان تعدددپیشمنی اوصبح صادق په وخت

سوال: (۱۸۵) دپیشمنی لپاره اذان ویل بیادصبااذان ویل لکه څنګه چه دحدیث څخه ثابت دی آیاپه دی باندې په قرون ثلاثه کې کړه وړه ؤ؟ خمونږ فقهاؤ هغوی داذان دمواقعو څخه ندی لیکلی نوآیادلته خمونږ سره مکروه دی؟

جواب: قال مالک فی المؤطااخرماجاء فی النداء بالصلوة مانصه لم تزل الصبح ینادی بهاقبل الفجرالخ وفی الجزء الثانی من عمدة القاری باب اذان الاعمی فی بیان اذان ابن ام مکتوم وبلال

فی وقت الصبح تحت قوله اصبحت قال عیاض ولانه العمل المنقول فی سائرالحول بالمدینة اه ، ددې نقلونوڅخه معلومه شوه چه دپیشمنی په وخت اذان کول په خیرالقرون کې معمول ؤ. په راتلونکې کې دابیل بحث دی چه په دی باندې اکتفاوکولی شی اوکنه ؟ په دی کښی مشهوراختلاف دی دااختلاف نفس نقل عمل کښی مخل اوقادح نه دی قال محمدفی المؤطاباب مایحرم الطعام علی الصائم تحت حدیث ان بلالاینادی بلیل فکلواواشربواحتی ینادی ابن ام مکتوم وبطریق اخروکان ابن ام مکتوم لاینادی حتی یقال له قداصبحت ماتصه کان بلال ینادی بلیل فی شهررمضان لسحورالناس وفی عمدة القاری باب الاذان قبل الفجرتحت قوله وحاطامانصه فیه ان الاذان الذی کان یؤذن به بلال کان لرجع القائم وایقاظ النائم وبه قال ابوحنیفة . ددغونقلونوڅخه معلومه شوه چه امام ابوحنیفه دغه اذان ته مکروه ندی فرمایلی لکه څنګه چه دامام محمددکراهت نه نقلول اود عینی قال ابوحنیفه ویل ددې صفادلیل دی ،اودباقی فقهاونه لیکل په دی سبب دی چه دادمقاصدوڅخه ندی ، لاکن فقهاء دکراهت حکم هم نه کوی نومذهب کې مخیرفیه پاتې شو، لاکن دقواعدوڅخه دامقید کولی شی د تشویش دنشت والی سره والله اعلم ۱۰ ذی قعده ۵۵ھ النورصفحه ۱۲ ذی قعده ۲ ۵ھ

باب شروط الصلاة وصفتها:

دتحریمی په وخت دقیام فرضیت:

سوال :(۱۸۶)مدرک کله چه امام په رکوع کښی دی دتکبیرتحریمه نه وروسته فوراً رکوع ته لاړشی اوکه ثناویلوسره یادثناداداء په اندازه قیام کولوسره رکوع ته لاړشی،اوکه مدرک ددینه هم داریږی چه دثناپه اندازه ادریدوسره رکوع نشی نیولی نوڅه وکړی ؟ یعنی داقیام فرض دی اوکه یوازی سنت یامستحب ؟

جواب : فی الدرالمختاراول باب صفة الصلوة من فرائضهاالتی لا تصح بدونهاالتحریمة قائماوفیه فی فصل یلیه ویشترط کونه قائما فلووجدالامام راکعافکبرمنحنیاان الی القیام اقرب صح ولغت نیة تکبیرة الرکوع وفی هذاالفصل وهومخیربین قراءة الفاتحة وتسبیح ثلاثاوسکوت قدرهاوفی النهایة قدرتسبیحة وفی ردالمحتارقوله قدرتسبیحة قال شیخناوهوالیق بالاصول حلیة ای لان رکن القیام یحصل بهالماموان الرکنیة تتعلق بالادنی وفیه فی مفسدات الصلوة ویفسدهااداء رکن وهو قدرثلث

تسبیحات مع کشف العورة اه ددې روایت څخه معلومه شوه چه په تکبیرتحریمه کې قیام فرض دی . اوداهم معلومه شوه چه دادنی مقدار درکن دیوی یادری تسبیحوپه اندازه ده ، نودغه شخص باندې په ولاړی والی کښی تکبیرتحریمه ویل پکاردی ، اودومره خنډدی ولاړوی [1] چه یو یادری ځل سبحان الله ویل کیږی بیادی رکوع ته لاړشی اوثناویل او یا دثناء په اندازه ولاړیدل ضروری ندی البته داچه کوم عادت دی چه دالله اکبرسره داول څخه رکوع ته رسیږی ددغوخلکولمونځ نه کیږی ۱۷ ذیقعده ۱۳۲۳ھ امدادصفحه ۲۷ جلد ۱

درکوع نه مخکې دقیام نه بغیردتکبیرتحریمه حکم:

سوال :(۱۸۷)دجناب په کتاب بهشتی گوهریولسمه برخه بهشتی زیور صفحه ۲۲۷ دتکبیر تحریمه په بیان کې دامسئله بیان شوی چه دهغې مطلب دادی چه ،کله امام په رکوع کښی وی نوکوم خلک چه دقیام نه بغیر تکبیرتحریمه وائی اورکوع کې داخلیږی نودهغه لمونځ نه کیږی په داسې حال کښی چه په شامی کښی دی چه داعارضی قیام کافی کیږی په دی هم لمونځ رواکیږی اگرکه داسې کاربنه نه دی تاسوشامی وگوری ؟

جواب : په شامی کښی دی فلوادرک الامام راکعافکبرمنحنیالم تصح تحریمته (ج۱ص۴۷) اوبه دی کې دی فلوکبرقائمافرکع ولم یقف صح لان ماتی به من القیام الی ان یبلغ الرکوع یکفیه قنیه فی ردالمحتارقوله فرکع ای وقرائی هویه قدرالفرض اوکان اخرس اومقتدیااواخرالقراة ج۱ص۴۲۳، دگوهر بهشتی داعبارت دی ، راځی کړیدوسره څی اوبه دغه حالت کښی تحریمه تکبیروائی الخ دغه عبارت دشامی دمخکینی عبارت فکبرمتحنیابنکاره ترجمه ده . شاید سایل سره ددرمختاردبل عبارت ولم یقف څخه شبه پیداشوی وی نود اوقوف بعدالتحریمه للقراءة دی.اگر که دعارض په سبب قراءة ونه شو،لکه څنګه چه په دی قول باندې دشامی قول وقرائی هویه الخ صریح دلیل دی ، نوددې نه ضرورت دانتفاء دقیام للتحریمه نه لازمیږی لکه چه په درمختارکښی ددې لم یقف څخه مخکې فکبرقائماددې قیام ضرورت ثابتوی ۱۰ شوال ۱۳۴۲ھ تتمه خامسه صفحه ۵۹۵

[1] دتکبیرتحریمه په ولاړی اداکولوسره بیادری یایوځل تسبیح برابر ولاړیدلوضرورت دمسبوق لپاره دکوم فقهی روایت څخه ثابت ندی ددې خواب په (۸۱) سوال کی چه کوم څه حضرت فرمایلی دی هغه پدې شاهد دی اوهلته دشامی په حواله داالفاظ هم منقول دی لوکبرقائمافرکع ولم یقف صح یعنی که یوازی تکبیرتحریمه دقیام په حالت اداء کولوسره رکوع ته لاړشی اواضافه څه قیام یې ونکړنو لمونځ صحیح کیږی دهمدی لامله دغه ځاے کی چه دلمانځه نه کیدوکوم حکم فرمایلی پدې کی څه تسامح شته صحیح داده چه لمونځ کیږی ۱۲ محمدشفع .

دلمانځه په نیت کښې د اقتدیت بالقران ، جملې ویلو حکم

سوال :(۱۸۸)دانیت دامام جائزدی اوکه ناروا (نویت ان اصلی لله تعالی رکعتی صلوٰة الفجر فرض الله تعالی اناامام لمن حضرولمن لم یحضر اقتدیت بالقران متوجهاالی جهة الکعبة الشریفة الله اکبر یعنی په قران می اقتداوکړ اودرسول الله پسې لمونځ کوم آیادغه روادی اوکنه ناروا اودغه نیت امام لپاره ضروری دی اوکنه ؟

جواب :ددې شخص نه پوښتنه پکارده چه دقران پسې اقتداء کولو اورسول الله ﷺ پسې دلمونځ کولو څه څه مقصددی که ددې نه دامطلب وی چه په قران یارسول الله ﷺ پسې اقتداء کوم اودادواړه ماته لمونځ راکوی بیانوددې فساد او بطلان ښکاره دی قران خوامام نه جوړیږی اورسول الله بالفعل ده ته لمونځ نه ورکوی نوپدې صورت کې خپله ددې سړی لمونځ ونه شو، لان الانفرادفی موضع الاقتداءمفسد کعکسه ص۶۴۳شامی ولانه نوی الاقتداء بمعدوم وهو لایجوز شامی ص۴۴۳،کله چه دده لمونځ ونه شونودده پسې دنورولمونځ هم ونه شو، اوکه ددې سړی دامطلب وی چه زه درسول الله دتعلیم په طریقه اودقران دامرپه اساس لمونځ کوم نودامطلب صحیح ده لکن په دی کې دلمونځ داقتداء ویناپوه مخترع اصطلاح ده په دی صورت کې لمونځ کیږی مګرداسې الفاظونه هرومرزوشورش پیداکیږی دهغوپرېښودل واجب دی.والله تعالی اعلم ۷ربیع الثانی ۱۳۲۱ھ (امدادصفحه ۷۳ج۱)

په لمانځه کې دنیت تلفظ کولوحکم اومجددصاحب دقول تحقیق

سوال :(۱۸۹)دزیوربهشتی دوهمه برخه صفحه۱۰۸ دلمانځه دشرطونودبیان فصل کې لاندې مسئله درج ده، مسئله ؟ که په ژبه باندې نیت ویل غواړی نودومره ویناکافی ده چه نیت کوم ددن ظهرفرضو الله اکبر الخ ددینه معلومه شوه چه که په ژبه نیت وکړی څه حرج نشته مګرمجددالف ثانی په مکتوبات کې تحریردی اول جلد یوسل وشپږ اتیایم لیک نقل په لفظ اوهمدارنګه دده هغه څه چه علماؤ دلمانځه په نیت کې مستحسن ګڼلی چه دقلب دارادی سره سره بایدپه ژبه هم وویل شی په داسې حال کې چه دحضور ﷺ څخه ثابت شوی ندی،نه په صحیح روایت اونه په ضعیف روایت اونه داصحاب کرام اوتابعین عظامونه چه په ژبه بې نیت کړی وی ،بلکه کله بې چه اقامت ویلی تکبیرتحریمه بې ویله نوپه ژبه باندې نیت بدعت دی اودی بدعت ته بې حسنه ویلی دی.اودغه فقیرپوهیږی چه داڅه دسنت رفع کوی بلکه دفرض

رفع کوی څکه چه په تجویزددې کې اکثرخلک په ژبه اکتفاء کوی اودقلبی غفلت پروانه کوی نوپه دی ضمن کې یوفرض دفرضونو دلمانځه چه قلبی نیت دی پرېښودل کیږی اولمونځ فسادته رسوی.دتطبیق وجه ولیکې؟

جواب :دامجددالف ثانی خپله خاصه رایه ده لکه چه داجمله چه این فقیرمیداندپه دی صریح ده دنوروتولو لپاره منع فرمایونکې هم نده بلکه خاص دهغه لپاره کوم څوک چه پدې اکتفاء کولوسره دزړه نه بالکل اراده نه کوی لکه چه دعبارت آخرپه دی صریح دی نودفقهاؤاو مجددصاحب په قولونوکې کوم تعارض پاتې نشو.۱۱شعبان۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه صفحه ۲۱)

په سجدی کې حکم دوضع رکبتین قبل الیدین

سوال :(۱۹۰)درکوع نه وروسته سجدی ته دتللوپه وخت لاس لګولو سره دی خی ؟

جواب :حدیثونه په دی کې مختلف دی چه سجده کې لمړی زنګونه ږدی اوکه لاس ؟ دوائل بن حجرڅخه وضع الیدین مروی دی ، اود ابوهریره څخه دوه روایته دی ،یومذکوره روایت ،دوم ددې عکس امام طحاوی فرمایې:دابوهریره روایتونه دمرتفع دتعارض په وجه ساقط دی ،دوایل بن حجر حدیث دتعارض څخه سالم پاتې شولهذا دیته ترجیح ورکول شوه اودادحنیفه زعمل دی (امداد صفحه ۹۹ج۱)

په سجدی کې د الیتین درفع تحقیق

سوال :(۱۹۱)زیدچه مولوی اومشهورعالم دی کله چه نوافل وغیره د ناستی په حال کې اداکوی نو سجدی کولوکې کناتی دځمکې څخه نه پورته کولواوخپلومقتدیانو او اتباعوته بې حکم کاوه چه نفل په ناسته کوی نوسجدی کې کناتی دځمکې څخه مه پورته کوی ګنی لمونځ فاسدیږی اودصحیح مسلم شریف دحدیث واقعة باب جواز النافلة قاعدا وقائماڅخه استدلال کوی،ان النبی اذاصلی قائماركع وسجد وهوقائم واذاصلی قاعداركع وسجدوهوقاعد،اودفقه لاندې عبارت پیش کوی،من صلی قاعدا فسجد لایرفع الیتیه وان رفع الیتیه فسدت صلوته لان الالیتین فی صلوة القاعد بمنزلة القدمین واذارفع قدمیه فی صلوة القائم فسدت الصلوة فکذاالیتیه کذافی المحیط چلپی والاصل ان المریض اوغیره اذاصلی قاعدا لایرفع کمالایرفع رجلیه فی السجدة واذارفع رجلا واحداو الیة واحدة لاتفسد کذافی چلپی ابن الملک

والمختاران يقعدق حالة التشهد وهوالذى اختاره الفقيه ابوالليث وشمس الائمة السرخسى وقال ابويوسف اذاهات وقت [1] الركوع والسجود يقعدكمايقعد فى التشهدكذافى العينى شرح الهداية ۸۲۱ ج۱انتهى اوس سوال دادى چه دصحيح مسلم دحديث معنى همداده چه زيدپرى پوه شوى چه دقائم اوقاعدهيئت سجده کې رفع اليتين اوعدم رفع اليتين ترمينځ فرق کول پکاردي اودفقه دعبارتونو تصحيح وکړى داسې واقع دى اوکنه اومفتى بهادى اوکنه . همغه شان چه دعلماؤ اواساتذه اوشيوخو دتعامل څخه رفع اليتين فى السجده ليدل شوى .بينواباسنادالکتب المعتبرة عند الحنفيه توجروايوم الحساب ؟

جواب :دزيدپه قول کوم صحيح دليل قائم ندى دمسلم په حديث کې که دسجدوهو قاعد دامعنى ده چه دسجدى په وخت هم دقعود هيئت درلوده . نواول خوداخپله دزيددمقصود څخه خلاف دى ځکه چه په ځمکه باندې دسراينبودوڅخه دقعودهيئت باقى نه پاتې کيږى اوکه څنني هيئت مراد وى نوهغه درفع اليتين په حالت کې هم حاصل دى . دوم لازم ګرځى چه پدې طريقه ددې حديث دغه جزء سجدوهوقائم هم دغه معنى وى چه دسجدى په وخت قيام هم درلوده په داسې حال کې چه دابالاتفاق باطل ده نومعلومه شوه چه دحديث دغه معنى ندى . بلکه مراددادى چه اکثراًبې داسې نه کول چه رکوع اوسجدى نه مخکې به اودريدى اوبيادقيام څخه به رکوع ته اودهغې نه وروسته سجدى ته راتلولکه څنګه چه کله کله داسې هم کولولکه څنګه چه دمذکوره حديث څخه وروسته په دوم حديث دمسلم کې دى قلت لعائشه کيف کان يصنع فى الرکعتين وهوجالس قالت يقرء فيهافاذااراد ان يرکع قام فرکع .هغه ديرعبارتونه دفقهيه کتابونو ددې څخه اول عبارت يعنى من صلى قاعداًودوم عبارت يعنى والاصل الخ اول خودتصحيح دنقل محتاج ده مستدل لپاره ددې عبارتونوپوره پته ويل پکارده چه دکوم خايه يې نقل کړى دى ترڅو چه دماخذسره مطابق کولى شى دوم داچه په اول عبارت کې يې چه کوم دليل بيان کړى .لان اليتيه فى صلاة القاعدالخ هغه په مذکوره دعوى باندې نه تطبيقيږى ځکه هغه که دسجدى دحالت بيان وى نودليل کې د واذارفع قدميه فى الصلاة په ځاى به رفع قدميه فى السجودؤ ګنى دفى صلاة القائم قيدڅخه لازميږى چه په صلاة قاعدکې به رفع قدمين فى السجودمفسد دصلاة نه ؤاوصلاة قائم کې به ؤ په داسې حال کې چه ددلائلو اطلاق دتفاوت مبطل ده ددې نه غالب ګمان داکيداى شى چه پدې عبارت کې فسجدد ناقل

[1] دالفظ پوهي نه رانه غى په ظاهره کې حان دے

ياکاتب غلطى ده اوددې عبارت مطلب دادى چه دقيام حکمى په حالت کې رفع داليتين مه کوى ګنى هغه به داسې وى لکه څنګه چه په قيام حقيقى کې کوم سرى رفع قدمين وکړى چه مفسددصلاة دى پدې تقرير سره د دغه بحث څخه خارج دى اوپه عبارت ثانيه کې خولايرفع اليتيه سره قيددفى السجدى هم مذکورندى ، نوددې نه به هم همدا مراد وى چه لايرفع اليتيه فى القيام اوراتلونکې کې چه کوم دشبه به سره فى السجدى مذکور دى نوهغه محتمل ده چه يوازى دلايرفع رجليه سره متعلق وى اوتشبيه يوازى په فسادکې وى. که دا احتمال هم متعين نه وى اګرکه دمستدل لپاره مضرده لانه اذاجاء الاحتمال بطل الاستدلال دريم په متونو شروحواومشهورفتواګانوکې چه مطلقا دتارينه ؤ دسجدى هيئت ليکلى دى هغه ددې خلاف ده اوپه قاعدى درسم المفتى هغه مقدم دى نوکه دمذکوره عبارتونودنقل صحت او دلالت دواړه مسلم وى نودى وخت کې هم دمشهوره روايتونودتعارض په وجه غيرمقبول اوغيرمعمول بهاګرځى اواخرنى عبارت يعنى دردالمحتارالخ هم نه دموجودوالى په وجه دعينى منطبق نه شى کيدلى غالبا ددې په نقل کې هم څه غلطى به پاتې وى لکه څنګه چه دهات مهمل والى په دى دال دى خوددينه په قطع نظرکولوسره ويل کيږى چه ددې مبحث څخه هيڅ څه خطاندى په دى کې يوازى دقعود دکيفيت بيان دى اودتربع وغيره څخه احتراز ده په هرحال دزيد نه دعوى درست اونه استدلال صحيح دى والله اعلم يکم جمادى الاولى ۱۳۲۲ھ

په تکيه باندې دسجدى کولودحکم تحقيق

سوال :(۱۹۲)په لاندنى مسئله اوراتلونکې روايت کې تعارض ښکاريږى ددې تحقيق مطلوب دى مسئله دسجدى کولولپاره د بالښت اونورکوم اوچت ځيزاينبودل اوپه هغه باندې سجده کول پکار ندى.کله چه دسجدى توان نه وى نويوازى اشاره دى کوى دبالښت په سردسجدى کولوضرورت نشته بهشتى زيورمطبوعه الامدادپريس باب صلاة المريض صفحه ۲۸ دومه حصه

روايت ولايرفع الى وجهه شيئا يسجدعليه فانه يکره تحريمادرمختار قوله فانه يکره تحريماقال فى البحرواستدل للکراهة فى المحيط بنهيه عليه الصلوة والسلام عنه وهويدل على کراهة التحريم اه وتبعه فى النهرافول هذامحمول على ما اذا کان يحمل الى وجهه شيئا يسجد عليه بخلاف ماذاکان موضوعا على الارض يدل عليه مافى الذخيرة حيث نقل عن الاصل الکراهة فى الاول ثم قال فان کانت الوسادة موضوعة على الارض وکان يسجدعليهاجازت صلوته فقدصح ان ام سلمة

کانت تسجدعلی مرفقة موضوعة بین یدیها لعلة کانت بهاولم یمنعهارسول الله ﷺ من ذلک اه فان مفادهذه المقابلة والاستدلال عدم الکراهة فی الموضوع علی الارض المرتفع ثم رایت القهستانی صرح بذلک ردالمحتار جلداول ص۵۰۹باب صلوة المریض؟

جواب :فی مراقی الفلاح وجعل ایماء براسه للسجوداخفض من ایماء براسه للرکوع وکذالوعجزعن السجودوقدرعلی الرکوع یؤمی بهمالان النبی ﷺ عادمریضافراه یصلی علی وسادة فاخذهاورمی بهافاخذعودالیصلی علیه فرمی به وقال صل علی الارض ان استطعت والافاوم ایماء واجعل سجودک اخفض من رکوعک رواه البزازوالبیهقی عن جابرکذافی نصب الروایة ج۱صفحه ۳۰۴قال المجیب الی قوله فان فعل ای وضع شیئا فسجدعلیه وخفض راسه للسجود عن ایماء للرکوع صح ای صحت صلوته لوجود الایماء لکن مع الاساءة لماروینا ج۱ص۲۵۰وفی حاشیة الطحطاوی علیه قوله وجعل ایماءه للسجود اخفض تمیز ابینهما ولایلزمه ان یبالغ فی الانحناء اقصی مایمکنه بل یکفیه ادنی الانحناء فیهما بحر عن المجتبی .دبهشتی زیورمذکوره صفحه ددې صریح تابیدی نوتطبیق پدې ترتیب کیدی شی چه کراهت دعدم عذرپه حالت کې وی اوعدم کراهت دعدم عدرپه حالت کې وی عذرداچه دبالښت نه بغیرپه ټیټدلوکې تکلیف وی وفی عبارة الحاشیة نفی لماکتب فی المکتوب السابق من لزوم اقصی مایمکن من الانحناء فالنص یقضی علی الرای (ترجیح خامس صفحه ۱۲۵)

دمذهب حنفیه تحقیق ددواړو سجدوترمینځ په ماثوره دعاګانو وغیره کې

سوال :(۱۹۳)عن ابن عباس ان النبی ﷺ کان یقول بین السجدتین اللهم اغفرلی وارحمنی واجبرنی واهدنی وارزقنی رواه الترمذی صفحه ۲۸مطبوعه اصح المطابع حنفیانو دایه نوافلو باندې حمل کړی ددې دلیل قوی څه شی دی ؟

جواب :روی الشیخان عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ اذاصلی احدکم للناس فلیخفف مشکوة باب ماعلی الامام وفی ردالمحتارتحت قول الدرالمختارولیس بینهماذکرمسنون مانصه بل فیه اشارة الی انه غیرمکروه اذلوکان مکروها لنهی عنه وعدم کونه مسنونا لاینافی الجواز کالتسمیة بین الفاتحة والسورة بل ینبغی ان یندب الدعاء بالمغفرة بین السجدتین الخ وفیه عن

الحلیة ان ثبت فی المکتوبة فلیکن فی حالة الانفراد اوالجماعة والمامون محصورون لایتثقلون بذلک جلداول صفحه ۵۲۷،و۵۲۸، ددې روایتونوداستیعاب څخه وروسته معلومیږی چه احناف په مکتوباتو اوجماعت کې هم مطلقا نه منع کوی بلکه کله چه په قوم باندې ثقیل وی چه خپله په متفق علیه حدیث کې مصرح دی اودسنیت دنفی څخه دموکده نفی مقصود ده .نوپه دی کې دکوم حدیث سره تعارض نشته ، والله اعلم ۲۵ربیع الاول ۱۳۲۵ھ(امدادصفحه ۸۲جلد۱)

په قومه اوجلسه کې دماثوردعا، دجواز دثبوت ځواب:

سوال :(۱۹۴)دقومی اوجلسی په باره کې هم په دی رسالی کې ماثوره دعاء لیکلی ده اودمسلم دحدیث حواله یې ورکړی اوامام صاحب په فرائضوکې منع فرمایې که مناسب وی ددې سبب هم ارشادوفرمایې؟

جواب :لمړنی مقدمه په فرائضوکې اصل جماعت ده دوهمه مقدمه په نص دحدیث امام ته په لمانځه کې دتخفیف صلوة امرده دریمه مقدمه په دې اذکارو کې اوږدوالی لیدل کیږی .نوتولی دریواړه مقدمی دلیل دی حمل علی التطوع باندې اوتفصیل ددواړوخوابونوپه مطولاتو کې شته چه دضرورت په اندازه ئې په اعلاء السنن کې هم نقل کړی ۲۸ذی الحجه ۱۳۴۲ھ(تتمه خامسه صفحه ۳۷۷)

دامامت نیت:

سوال :(۱۹۵)که امام داقتداء نیت یعنی دمقتدیانودلمانځه ونه کړی نولمونځ کیږی اوکنه ؟ اودچانیت کول په هغه لازم دی ؟

جواب :که دامامت نیت ونه کړی شی نودامامت ثواب به ترلاسه نکړی شی .نودامامت دثواب دحصول لپاره دامامت نیت ضروردی دمقتدی دلمانځه دصحت لپاره نوکه مقتدی نارینه دی نوضرورنده اوکه ښځه وی نوهغه که دکوم نارینه محاذی ده دغه وخت دهغې دلمانځه دصحت لپاره دامامت نیت ضروری ده .اوکه محاذی نده نوبیدې کې اختلاف دی .اوپه جنازه کې بالاجماع اوپه جمعه اوعیدینو کې بناپه صحیح قول دهغې داقتداء نیت شرط ندی والامام ینوی صلوته فقط ولایشترط لصحة الاقتداءنیة امامة المقتدی بل لنیل الثواب لوام رجالاوان ام نساء فان اقتدت به المراة محاذیة لرجل فی غیرصلوة جنازة فلابدلصحة صلوتها من نیة امامتهاوان

لم تفتدمحاذية اختلف فيه فقيل يشترط وقيل لاكجنازة اجماعاوكجمعة وعيدعلى الاصح درمختاروالله اعلم امداد صفحه ۱۰۲ ج ۱،

په اولين دفرضو کې دقراءة دوجوب تحقيق اوورسره په اخرينيو کې دسورت يوځاى كول اوددې متعلق نورمسائل

سوال :(۱۹۵)اى ددين علماء اودشرع متين مفتيانو په فرضو دماسپښين اومازيګرکې په شفع اولى کې قراءت فرض دى اوكه په اخرى کې يامطلق دوه ركعتونو کې كه په اولى کې فرض ده نوهغه سړى چه په اخرى کې قصداً قراءت ترک كړ هغه لمونځ صحيح شواوكنه ؟ اوكوم سړى چه سهواًترک كړى په هغه باندې سجدهٔ سهو واجب ده اوكنه ؟كه كوم شخص په شفع ثانى کې قصداً ياسهوا سورت يا بعض سورت دفاتحې نه وروسته ولوست نوپه دى باندې په كوم صورت کې سجدهٔ سهو واجب ده،اوكوم صورت کې نده ،كه كوم شخص قصداًياسهواً دسورت يوځاى كول ترک كړ نودهغه سړى په كوم صورت کې په شفع ثانى کې سورت قضاكړى ،اودقضاپه صورت کې په سرى اوجهرى دواړو لمونځونو کې بې قضاكړى يابوه کې ؟اوپه كوم صورت کې په دى باندې سجدهٔ سهوا واجبيږى ،په سهارلمانځهٔ کې ضم دسوره په ركعتينوکې واجب دى اوكه يوه کې ،دماسپښين په لمانځه کې دسورى ضم په كومو ركعتونو کې واجب ده اوكوم چه سنت دى دڅلورو ركعتونو په څلور واړو ركعتونو کې قراءت فرض دى ياشفع اول ياثانى يابعض کې اوضم دسورت په ټولو ركعتونوکې واجب دى يابعضوکې اوڅور كعتونوکې دترک ضم سورت څخه سجده واجبيږى ،كوم سړى چه دماسپښين ياعصردفرضوپه څلورم ركعت کې شريک شوهغه پاتې درى ركعته په څه ترتيب اداءكړى ،دڅو ركعتونو څخه وروسته جلسه وكړى په څوركعتونوکې ضم دسورت وكړى ؟او څومره ركعتونه دسورت نه بغير وكړى ، اوكوم سړى چه دريم ركعت کې شريک شى هغه خپل پاتې ركعتونه په كوم ترتيب اداء كړى ،اوضم دسورت په څوركعتونوکې وكړى ،څواب فقط دكتاب په سندتحرير وفرمايې ،بينواعندالله توجروا؟

جواب : په فرض کې دوه اولو ركعتونو کې قراءة واجب دى په اخرينيوکې اختيار دى چه قراءت وائى اوكنه ؟ ياتسبيح وائى ياساكت پاتې كيږى ، والقراة فى الفرض واجبة فى الركعتين وهومخيرفى الاخريين هداية ، نوكه اخيرينيوکې قصدا قراءت ترک كړى نولمونځ صحيح دى اوكه سهواً بې ترک كړى هلته هم په راجح قول لمونځ صحيح دى اوسجدهٔ سهوه واجب ده

ولهذالايجب السهوبتركهافى ظاهرالرواية هدايه اوپه شفع ثانيه کې قصداياسهوأدفاتحې نه وروسته دسورت ياخينې سورت له يوځاى كولوسره سجده سهوواجب نده دا خلاف اولى ده واكتفى فيمابعدالاوليين بالفاتحة فانها سنة فى ظاهرالرواية ولوزا دلاباس به درمختار فكان الضم خلاف الاولى ردالمحتار ،اوكه په شفع اولى کې بې قصداً ضم دسورت ترک كړه نودواجب پريښودل قصداً وشونولمونځ مكروه تحريمى شو،اعاده واجبه شوه،اوسجدهٔ سهو كافى نده ، اوكه سهوائى داسې وكړ نوپه اخريين کې دى دفاتحې نه وروسته ولولى اوپه جهرى لمونځ کې فاتحه اوسورت دواړه په جهرسره ولوله،وان قرءالفاتحة ولم يزدعليها قرء فى الاخريين الفاتحة والسورة وجهر ويجهربهماهدايه اوسجدهٔ سهوواجبيږى اودسرى اوجهرى دواړو حكم يودى دسهاردلمانځه دواړو ركعتونو کې قراءت فرض دى ،اود ظهراوعصرپه شفعهٔ اولى کې فرض دى لمامرمن الهداية ان القراءة فى الفرض واجبة فى الركعتين ،په سنن رباعية کې څلور واړوركعتونو کې قراءة فرض دى ، كه سهواً بې ترک كړنوسجدهٔ سهو واجبيږى ،هغه څوک چه يودوه ركعت بې دامام سره فوت شوى وى هغه مسبوق بلل كيږى ددى پاتې لمونځ دقراءة په حق کې اول دى اودتشهد په حق کې آخردى ويقضى اول صلاته فى حق قراءة وآخرها فى حق تشهد ، درمختارنوكوم سړى چه دعصراوياماسپښين په څلورم ركعت کې شريک شوداامام دفراغت نه وروسته دى په ودريدلو سره ثناء اوتعوذ ولولى فاتحه اوسورت دى ولولى اودركعت په پوره كولوسره دى قعده وكړى بيادى ودريږى داركعت دى هم فاتحه اوسورت ولولى وربسى ركعت دى يوازى په فاتحې لوستلوسره پوره كړى ،اوپه دريم ركعت کې شريكيدونكې دى دواړه ركعتونه په فاتحه اوسورت سره اداء كړى اوددې دواړوپه مينځ کې دى جلسه نه كوى ، ددواړونه وروسته دى قعدى كولوسره فارغ شى هغه چه په مغرب کې په دريم ركعت کې شريک شو هغه دى دواړوکې فاتحه اوسورت ولولى اوپه هرركعت دى كينى ، والله اعلم امدادصفحه ۱۰۷ ج ۱،

په لمانځه کې ورون (كناټى) زنګون درى عضودى اوكه دوه

سوال :(۱۹۶)دنارينه ؤدنامه نه تركناټيوپورې بدن پټول فرض اوپه لمانځهٔ کې څلورمه برخه اندام لوڅيدل مفسددصلاة دى نوآياكناټى علاحده ،او ورون اوزنګون علاحده اندامونه دى ياداټول يودى ؟

جواب : كناټى يوعضوه دى،اوورون اوزنګون يوځاى كولوسره يوعضو فقط (تتمه اولى صفحه ۳۵)

په جامو باندې ناپاکې لیدونکې باندې دڅو وختونو لمانځه اعاده کول لازمي دي :

سوال :(۱۹۷)**سوال**: یوسړی دجمعې په ورځ جامې بدلې کړې اوددشنبې په ورځ کې په دې کپړو باندې دناپاکي لګیدل ولیدل نودې سړي باندې دڅو لمونځونو راګرځول شته ؟

جواب : فی الدرالمختارفصل البیر وجدفی ثوبه منیاالی قوله اعاده من اخراحتلام ای من اخرنوم کمافی ردالمحتار ،ددې نه معلومه شوه چه داخیرنی خوب څخه چه پاڅیده ددغه وخت څخه لمونځونه دی راوګرځوی فقط ۳۰رجب ۱۳۲۹ھ (تتمه اولی صفحه ۳۲)

سوال :(۱۹۸)یوسړی چه دشپې جامواغستلوسره ویده شي سهارېې په دغې جامې باندې دناپاکي اثر پیدا شوی ده ته دامعلومه نده چه دڅو ورځوداودینځلو حاجتمندوه،اوس داسړی دڅوورځو لمونځونه راو ګرځوی ،او داسړی ډیرپریشان دی ؟

جواب :وجدفی ثوبه منیااوبولاودمااعادمن اخراحتلام وبول ورعاف کذافی الدرالمختاروفی ردالمحتار فی بعض النسخ من اخر نوم وهو المراد بالاحتلام لان النوم سببه کمانقله فی البحر، ج۱ص ۲۲۲، ددې روایت څخه معلومه شوه چه دوروستی خوب نه دی لمونځونه راوګرځوی یعنی که خوب نه پاڅیدل په فجرکې بې ولیدل نوېدې دی پوه شي چه دی دشپې احتلام شوی غسل کولوسره دی فجر اداء کړي اوکه دفجرد ادا کولونه بې وروسته ولیدل نودسهار لمونځ دی راوګرځوی ۲۴جمادی الاولی ۱۳۳۳ھ

دامام لپاره جهربالتکبیرسنت دی واجب ندی :

سوال :(۱۹۹)که امام په سهوې سره دانتقالاتودتکبیرونوڅخه کوم تکبیرپه جهرونه ویلی ،خفیه بې وویلی ددینه سجدهٔ سهولازمیږي او کنه ؟

جواب : نه څکه دتکبیراتوپه جهرو ویل دتکبیراتو سنت دی ،کذافی الدرالمختارفی سنن الصلوة حیث قال وجهرالامام بالتکبیراه فقط ۱۲ شعبان ۱۳۲۹ھ

دتشهدپه وخت کې دسبابې ګوتې پورته کولوحکمت

سوال :(۲۰۰)په التحیات کې چه کومه دشهادت ګوته پورته کیږی دهغې څه اساس دی ؟ داسلام شارع کوم سبب بیان فرمایلی اوکنه ؟

جواب : دتوحیدهغه اشاره دی چه شیطان لپاره ناخوښه ده درو ایاتو په نظر

سوال :(۲۰۱)دسلام تروختنه درفع سبابه پاتې کیدلوڅه دلیل دی ؟ مادیری هلې خلې وکړې خوپیدا نشو بلکه مولناعبدالحی صاحب په التعلیق الممجد کې دملاعلی په حواله دانقل کړی والصحیح المختار عندجمهوراصحابنا ان یضع کفیه علی فخذیه ثم عند وصوله الی کلمة التوحیدیعقدالخنصروالبنصر ویحلق الوسطی والابهام ویشیربالمسبحة رافعالهاعندالنفی واضعا عندالاثبات ثم یستمرعلی ذلک لانه ثبت العقد عندذلک بلاخلاف ولم یوجدامریغیره فالاصل بقاء الشئ علی ماهو علیه ددینه معلومیږی چه رفع سبابه یواځې دنفی په وخت کیدل پکاردي بیادهغې ایښودل پکاردی اوهمدا ترتیب حلق سره له وضع سبابه دلمانځه تراخره پورې پکارده اوکوم حدیث چه دترمذی په ابواب الدعوات کې ده دهغه نه رفع اسبابه الی آخرالصلاة نه ظاهریږی بلکه دهغه نه یوازې دامعلومیږی چه قبض اصابع اوبسط سبابهٔ دلمانځه تراخره پورې پکارده په هرکیف درفع سبابه الی اخرالصلاة کوم روایت سره دهلوخلوپه سترګو رانغلو؟

جواب : ربنتیا دترمذی روایت په بقاء اشاره کې صریح نده اګرکه متحمل ده اودملاعلی قاری دعبارت مدلول هم په حقیقت کې دقبض اصابع اوبسط سبابه ده اوبقاء اشاره نده نودزیوربهشتی دمضمون څخه رجوع کوم اوهغه په دی ترتیب بدلوم په تشهدکې دلاالٰه په وخت ګوته پورته کړه اوپه الاالله باندې بې کوزه کړه خودعقداوحلقی هیئت دلمانځه ترآخره پورې باقی پریږده وجزاکم الله علی هذاالتنبیه یکم صفر۱۳۳۵ھ (ترجیح ج۵صفحه ۲)

سوال :(۲۰۲)سائل دیوه طالب العلم څخه اوریدل شوی چه جناب والادابقاء اشاره الی اخر القعدتین پورې څخه رجوع فرمایلی ده بنده پدې کې شکې دی کومه چه دحل په غرض عرض ده امیددی چه دخواب ورکولوسره سرفرازکولوسره ممنون وګرځوی دشبهې تقریر دادی چه رفع عندالنفی ووضع عندالاثبات لکه څنګه چه صاحب دمحیط اوبرهان،درمختاراوعلی متقی اوملاعلی قاری ،اودهغوې په اتباعوکې شیخ عبدالحق ،محدث ده لوی اومولنا عبدالحی للکهنوی وغیر هم رحمهم الله اختیارفرمایلی دی ددې ثبوت کوم حدیث یااثر یاروایت عن الائمة څخه لاسته رانغلی سواء ددینه چه دشمس الائمة حلوانی څخه مروی ده اونکته درفع النفی اووضع للاثبات لپاره متضمن ده

مجیب شمس الائمه (حلوانی)دشامی دتصریح مطابق ددریمې طبقې دفقهاؤ څخه دی چه خمونږ لپاره دهغه بلکه دهغه نه وروستوخلکوقول هم حجت دی لکه څنګه چه په درمختارکې دی وامانحن فعلینااتباع ماارجحوه وماصححوه الخ بیادنورو مصنفینو کثیرینو نقل کول دال

دی چه داقول منصور اومعتمد دی شاذ اومرجوح ندی دهمدی لامله دتزیین العبارت والادیته دجمهور قول ویلی دی عبارت هکذاوقالوا (ای جمهور علمائنا) برفع المسبحة عندقول لا اله ویضعها عن قول الا الله ج ۲ ص ۳ اوپه بوځای کې بې ویلی دی الصحیح المختارعند جمهوراصحابنا انه یضع الی قوله و یشیرالمسبحة رافعا لها عندالنفی واضعالهاعندالاثبات ص ۷ ،نوموني ته دمقلدینوپه حیث دهغه مخالفت اویادهغه نه ددلیل مطالبه کولو گنجایش نشته ، فی ردالمحتارتحت قول الدرالمختار کمالو افتونا حیاقم مانصه ای کماتبعهم لوکانوااحیاءوافتونا بذلک فانه لایسعنامخالفتهم ج۱ ص ۸۰ البته که ددې په مقابل مذهب کې بل قول هم منقول وی نو دهغه ترجیح ممکن وه ،یاکوم صحیح اوصریح حدیث ددې خلاف وای بیاددې قول ترکول به واجب ؤ ،اوکه په حدیثیه روایتونوکې غور وکولی شی نودتهلیل په وخت داشارې تخصیص پته هم لگیدله .فی تزیین العبارة عن معاذ بن جبل وفیه یشیر باصبعه اذادعا رواه الطبرانی فی الکبیرص۸ ،اوددعا تفسیرپه تشهدسره مسلم ده او ظاهرده داذا کلمه دتوقیت لپاره ده چه معلومیږی چه اشاره یوازې دتهلیل په وخت وه نودتهلیل په ختمیدوسره اشاره هم ختمیږی او همداحاصل دی درفع عندالنفی ووضع عندالاثبات اودابوداود اونسائی په روایت کې دی رافعا اصبعه السبابه وقدحناها شیئاای امالهاتزیین ص۸ اوپه اشاره کې دگوتې سیده والی لیدل شوی نودغه انحناء هغه وخت وی چه اشاره ختمه وی لکن دعقدهیئت دی باقی پریږدی نودینه دوه کاره ثابت شول یوداخره پورې اشاره مستمرنه کیدل ،دوهم دعقدمستمر کیدل بیاداشارې دعدم استمرارتفسیردلته دحدیث داذا دعاځخه کیږی

سائل په خلاف دابقاء داشارې ترآخر القعدتین چه ددې ثبوت کې څوجهې په ذهن کې راځی چه دهغونه دځوعرض دی اوله وجهه دترمذی روایت کې مندرجه وجه ثانی ملاعلی قاری په تزیین العبارة کې دنقل کولوسره فرمایلی دی وروی ابویعلی نحوه (ای نحوماروی الترمذی الاتی فی الوجه الثانی)وقال فیه بدل بسط یشیر بالسبابة انتهی وهکذانقل الشامی فی رفع الترددعن تزیین العبارةداحدیث دابویعلی دحضور ﷺ دسلام پورې داشارې باقی پاتې کولوباندې صراحة دال دی

مجیب په دی روایت کې زماتحقیق نشته که داقواعدوموافق قابل احتجاج وی نویقیناپه دی عمل اودهغه مشهورقول پریښودل ضروری ده اوچه کله احتجاج کیدل ثابت نه شول نوددې وجودکالعدم دی اودهغه قول دترک کومه وجه نشته نودابویعلی دروایت دزجالو تحقیق پکاردی

سائل دوهمه وجه : من عاصم بن کلیب عن ابیه عن جده قال دخلت علی رسول الله ﷺ وهویصلی وقد وضع یده الیسری علی فخذه الیسری ووضع یده الیمنی وقبض اصابعه وبسط السبابة وهویقول یامقلب القلوب ثبت قلبی علی دینک رواه الترمذی داروایت هم دابویعلی دروایت مؤیددی ددې لامله چه سبابه دعقداو تحلیق په وخت لې کړه وی تام هواری نه وی ترهغه پورې چه اوچته نه شی

مجیب : داخودمشاهدی خلاف دی

سائل نوددې روایت هم مطابق نه صحیح التزامی مدلول استمرارد اشارې ده همداوجه ده چه په راتلونکې روایت کې چاپه یشیربالسبابه او چاپه بسط السبابه باندې تعبیر کړی ده

مجیب دهمدی په مبنی دمشاهدی خلاف کیدل مذکورشول

سائل (دریمه وجه) عن ابن عمر ان النبی ﷺ کان اذا جلس فی الصلوة وضع یدیه علی رکبتیه ورفع اصبعه الیمنی تلی الابهام ودعابهاالحدیث (رواه مسلم وابوداودوالترمذی) وفی شرح معانی الاثار عن وائل بن حجرالحضرمی فلماقعدعقداصابعه وجعل حلقة بالابهام والوسطی ثم جعل یدعوبالاخری دغه حدیثونه هم ددعاء په وخت په اشاره کولودال دی اوکه مذکوره حدیثونوکې ددعاء ځخه دلمانځه اخره دعاء مرادوانه خیستل شی اودعاء دتشهدیاتهلیل په معنی مرادکړی شی نوپدې وخت کښې هم رفع عندالنفی اووضع عندالاثبات درست نه کیږی ددې لپاره چه طحاوی وغیره ثم جعل یدعوبالاخری روایت کړی چه په استمراردال ده اوداپه همدې کښې مقصوددی

مجیب : دلالت علی الاستمرارغیرمسلم دی

سائل (ځلورمه وجه) امام طحاوی دحدیث ثم جعل یدعو بالاخری ځخه عدم تورک فی القعدة الاخیره باندې استدلال کوی ، اوداهغه وخت مستقیم کیږی چه په حدیث دی ثم جعل یدعوکښې دعاء داخر الصلاة مرادوی نوددې نه دطحاوی هم داستمراراشاره الی آخرالصلاة قائل والی لازمیږی (فی شرح معانی الاثارقال ابوجعفرفهذایوافق ماذهبوالیه من ذلک وفی قول وائل ثم عقداصابعه یدعودلیل علی انه کان فی اخر الصلوة)

مجیب : دیدعو په تفسیرکې دطحاوی قول حجة لازمه نده

سائل (وجه خامس) عن بشرانه سمع ابن عمریقول ان رفعکم ایدیکم فی الصلوة لبدعة والله مازادرسول الله ﷺ علی هذایعنی با صبعه (رواه ابن ابی شیبة) ددې اثرڅخه معلومه شوه چه اشاره فی الصلاة درفع یدین قائم مقام ده اوظاهره ده چه رفع یدین مع بسطهماد سوال لپاره موضوع ده نه چه دتهلیل لپاره چه عادتاً سائل دمسئول عنه په طرف لاس اوږدولوسره دعا غواړي اوشریعت هم داسې ادبونه ددعا شمار کړی دی . نورفع یدین به دسوال محل شی دکوم نه چه لازمیږي چه ددې نائب مناب (اشاره بالسبابه) محل دسوال هم یعنی دعاء دآخرت دصلاة وی دابیله خبره ده چه تهلیل ددعاء مقدمه کیدوسره دکاالجزء کیدو په سبب هغه هم محل درفع یدین کښی داخل شواوددې په واسطه په محل کښی ددی نائب هم داخل شو، دهمدی لپاره دتهلیل دابتداء څخه داشاری امرده ، علاوه له دینه په اشاره کښی دنیابت لرفع الیدین دجهت سره یوبل جهت اشارة (فعلیه) الی التوحیدوالاخلاص وه چه بیهقی روایت کړی ان النبی ﷺ کان یشیر بهاللتوحید ، اودابن تمیمی څخه روایت دی (سئل ابن عباس عن تحریک الرجل اصبعه فی الصلوة قال ذلک الاخلاص) دتهلیل دابتداء څخه حکم ؤه چه ددعاءدادب کیدوسره یوبل هدف یعنی اشاره الی التوحید والاخلاص هم حاصل شی اودقول اوفعل ترمینځ مطابقت راشی بیاباریکې داچه ددې فوائدوتر څنګ نوری فائدی لکه انقطاع دطمعی شیطان لاضلاله ابعد والقائه فی الشرک ، ورفع سهووقمع شیطان وتخویف شیطان هم مرتب کیږی چه واردده هی ای الاشارة اشدعلی الشیطان من الحدید (رواه البیهقی) او وارد دی چه هی مذبة الشیطان لایهواحدکم مادام یشیرباصبعه،اوواردده چه تحریک الاصابع فی الصلاة مذعرة الشیطان،رواه البیهقی، الحاصل اشاره بالمسبحه درفع الیدین فی ادعاء دقائم مقام کیدلوپه سبب دسلام دآخره پورې به پاتې وی

مجیب دابن عمرقول په دې کښی صریح ندی داهم یوه معنی کیدی شی چه حرکت درفع یدین دلمانځه دهیئت سره منافی ده څکه درسول الله ﷺ څخه په لمانځه کې دومره حرکت څخه زیات ثابت نده،دغه حرکت په کومه موقع ؤ ددینه روایت ساکت دی اونور روایتونه مبین دی،چه دتشهدوخت ؤ،پاتې شوه په مذکوره حدیثونو کې که داوجه ثابته هم وی په مانحن فیه کې هیڅ څه غلط ندی او وروستی حدیث ته خوابن حجرضعیف هم ویلی دی کمافی المرقاه جلد۱ص۵۵۵ اوسائل چه تهلیل دصلاة دآخرددعاء دمقدمه کیدلو په سبب داشاری ځای ګرځولی که داکارصحیح وی نوپه قاعدة اولی کښی به اشاره نه وه چه هلته تهلیل ددعاء

مقدمه نده وهوکماتری نوری دعاګانی داخرصلوة موکدی ندی نولازمیږي چه دهغه په ترک باندې اشاره عبث ده وهوکما تری

سائل وجه سادس هرکله چه دصحیحه کثیره حدیثونواواثار صحابه څخه سنیت داشاری ثابت شول اوددې په مقابل کې کوم حدیث یااثر صحیح ضعیف هم داسې نشته چه داشاری نیت رفع شی ، نوقیاس حلی داسې غواړی چه داشاری سنیت دقعدی اخره پورې پدې ترتیب دوامداره پاتې کیږی چه داصول مسئله ده چه شی په خپل سابقه حالت باندې باقی پاتې کیږی ترڅوچه کوم بدلونکې امرپیداشوی نه وی نوداشاری سنیت حکم به دقاعدی آخره پورې باقی پاتې وی

مجیب دلته دبدلونکې نه پیداکیدل یقینی ندی ، ددریمی طبقی فتوی ظنی دلیل ده ، دمغیردوجود دوهم داچه یوقیاس ددې معارض هم دی هغه داچه اصل عدم اشاره للعارض ده نودعارض دلیری کیدلو سره اشاره مرتفع کیږی لکه څنګه دلمانځه په اصل کښی رفع یدین عدم ده مګردانتقال دعارضیدوسره ددې تحقق کیږی ، بیاددې دارتفاع څخه هغه رفعه هم په وضع یاپه ارسال باندې بدلیږی ، ګنی دسائل دقیاس مقتضی داده چه مثلاً دوترپه دریم رکعت کښی چه دقراءت نه وروسته رفع یدین کولی شی اوددینه وروسته وضع یاارسال په روایتونوکې منقول ندی نوپکارده چه همغه هیئت درفع درکوع تروخته پورې دوامدارپاتې شی،اوقنوت همدغه هیئت رفع په حالت کښی ولوستل شی،فافهم،البته ددې قیاس څخه په تزیین کې داستمرارهیئت عقدلپاره کاراخستی ده (ویشیربالمسبحه رافعالها عندالنفی وواضعالهاعندالاثبات ثم یستمر علی ذلک لانه ثبت العقد عندالاشارة بلاخلاف ولم یوجدامریغیره فالاصل بقاءالشئ علی ماهو علیه واستصحابه الی اخرامره وماله الیه هذاص۱۷) اوهیڅ معارض ددې قیاس هم نشته بلکه دترمذی حدیث ددې مؤیددی نوپه استمرار عقدکښی به په دی قیاس باندې عمل وی

سائل وجه سابع داسې ده چه هرکله خمونږ دری امامان ابوحنیفه وصاحبین څخه حکم دسنیت داشاره په معتبره روایت ثابت شواوددې په مقابل کښی کوم رافع پیدانشونوائمه ودمذهب په بناء هم داشاری دسنیت حکم ترآخره باقی پاتې کیږی ؟

مجیب فیه ماقدمرفی الجواب عن الوجه السابق

التماس: (۱) که تزیین العبارت دلته وی نوتکلیف وفرمائی دلته نی امانت راولیږی [1] دهغې مطالعه ضروری ښکاری (۲) دلته کتابونه نشته ماته داولی وجهی دروایت مذکوره څخه تردد پیداشو، که دهغه خای حضرات دټولواجزاؤتحقیق وکړی اخیری خبره ترلاسه کړی شی زه به دهغی اتباع وکړم ۱۲جمادی الاول ـ۱۳۳۵ (ترجیح ۵ص۲)

سوال: (۲۰۳) په بهشتی زیوردوهمه حصه کښی لیکلی دی چه دتشهد لوستلو په وخت کله چه کلمی ته ورسیږی نودمینځنی اوغټی ګوتی نه دی حلقه جوړه کړی دکلمی ګوته دی اوچته کړی اودسلام ترګرځولو پورې دی همداسې اوچته وساتی، لکن ددې خای څوملایان صاحبان په دی معترض دی اووائی چه دادشافعی المذهب طریقه ده اوپه حنفی مذهب کې ترآخره پورې دګوتی اوچت ساتل په کوم کتاب کښی نشته لکه چه دغوخلکوداردوه یریوکتابونه ماته راوښودل چه پکې (دشامی اوکبیری وغیره) حواله نشته، په کوم کښی چه لیکلی دی چه داشهدان لااله دوینا په وخت کښی دکلمی ګوتی اوچتول اوکله چه الاالله په ژبه وائی په دغه وخت کښی ګوته راوغورځوی؟

جواب: لږئی راکږه کړه دامعنی ده دراغورځولواوحلقه جوړه ساته اوبیخی نی مه غورځوه، صرح به ملاعلی قاری فی رسالة تزیین العبارة بتحسین الاشارة (۱۴ جمادی الثانی ـ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه صفحه ۴۱)

دښځولپاره په تشهدکې دسبابه اوچتول

سوال: (۲۰۴) ښځې په تشهد کښی رفع دسبابه وکړی اوکنه؟ که دهغوی لپاره هم درفع حکم وی لکه څنګه چه ظاهره ده نوزیوربهشتی کښی نی لیکل پکارؤ داکاردزیات تست هرمرو خلاف ده خوهیڅ چاپه دی خای کې فرق بین النساء والرجال ندی لیکلی؟

جواب: ددې لپاره چه فقهاؤپه باب صفة الصلاة کې التزام کړی ده چه په کومو حکمونوکې دنراوښځې ترمینځ تفاوت شته دهغې تصریح بې کړی دی اورفع سبابه پکې تصریح ده داددې دلیل ده چه دا مشترک حکم دی، پاتې شوه شبه دزیات تستر دخلاف کیدلونو ضعیف ده څکه رفع الیدین په اتفاق سره عند التحریمه مشروع او ممنون ده اویقیناپه دی کښی داشاره بالسبابه څخه زیات کشف دی فقط (امداد صفحه ۳۱ج۱)

[1] لکه چه هغه رساله پیداشوه هغی ته په کتلوسره په دی خواب کی لږلږ اضافه هم واقع شوه ۱۲ منه

دقدمونودبرابرولوحکم په ولاړه کې

سوال: (۲۰۵) صفحه ۲۰۲ جلد ۲ الهادی دجمادی الثانی ۱۳۴۵ ۸ سطرکښی نی دحضرت انس په روایت حواله ورکړیده چه درسول الله ﷺ دتاکیدسره تولوخلکوصف سیده کاوه نودمونږ څخه هریوځیله اوږدی دهمځنګ داوږوسره ملاوه وله، اوخپل قدم بې دهغه دقدم سره ددینه علاوه هم ډیرتاکیدلیکل شوی مګرمونږ په هرخای کښی لیدلی چه ددې نه څوک کوم خیال کوی اونه خمونږ علماء کله ددې تاکیدکوی که کوم ډیرمحتاط عالم کله تاکیدهم وکړی نوددینه زیات نده چه اوږه داوږی سره یوخای شی اودقدم ذکرمی کله هم نه دی اوریدلی؟

جواب: آیاداهم لیکل شوی چه هغوی ترآخره پورې یوخای پریښې دلی. آیاداممکنه نه ده چه دصف دسیده کیدلولپاره قدم می دقدم سره یوخای کولوسره لیدلی دی. بیا نی په خپل حالت باندې پریږدم، خما خلاصه داده چه محاذات یاالزاق چه حدیثونوکې راغلی ددې لغوی مدلول دمحاذات یاالزاق حدوث یادهغه بقاء ده. ۲۷صفر ـ۱۳۵۱ (النورصفحه ۱۰ شوال المکرم ـ۱۳۵۱ھ)

دهغه انحراف عن القبله اندازه چه مفسدنه وی


سوال: (۲۰۶)

فی ردالمحتاروکان الخط الخارج من جبین المصلی یصل علی استقامة [1] الی هذاالخط المارعلی الکعبة فانه بهذاالانتقال لاتزول المقابلة بالکلیة لان وجه الانسان مقوس ثم قال المفهوم مماقدمناعن المعراج والدررمن التقییدبحصول زاویتین قائمتین عندانتقال المستقبل لعین الکعبة یمیناویسارااله لایصح لوکانت احدهماحادة والاخری منفرجة بهذه الصورة ـ وفیه ان الانحراف الیسیرلا یضروهوالذی یبقی معه الوجه اوشئ من جوانبه مسامتاللکعبة اولهوائهابان یخرج الخط من الوجه اومن بعدجوانبه ویمرعلی الکعبة اولهوائهامستقیما ولا یلزم ان یکون الخارج علی استقامة خارجامن جبهة المصلی بل منهااو من جوانبهاکمادل علیه قول الدررمن جبین المصلی فان الجبین طرف الجبهة وهماجبینان ج۱ص۳۰۰ وص۳۰۱ شب ۲۷ صفر ـ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه صفحه ۱۸)

[1] ای علی زاویتین قائمتین ۱۲

دقبلې څخه دانحراف حدچه مفسددلمانځه نه وي:

سوال :(۲۰۷)پدې مسئله کې ددین علماء څه فرمائي چه دافریقا هیواد د بربون په ښهارکې
یو مسجدواقع دی دلاندینی نقشې مطابق لهذا په دی صورت کښې کوم طرف چه دمحراب
څخه واقع دی که لمونځ وکړای شی نوجائز دی اوکنه ؟



دمسجدصورت دادی، دغلطی لامله په دی ارخ باندې بناکیږی دمعلو میدلوڅخه اوس دقبلې
دطرف فرق دومره دی چه بره چه ددنیاکومه نقشه دی په هغې کښې دبربون ښارچه په کوم
طرف واقع دی هغه هم ملاحظې لپاره وراندې دی ؟
S په مستقیم طرف چه کوم خطکش کړی شی که د مصلی دتندی اواوچولی کومی برخې څخه
هم داسې خط راووځی چه دلمړی خط څخه په قائمه زاویه باندې تقاطع وکړی نویه دومره
انحراف سره لمونځ کیږی اوکوم چه دکوم جزء څخه داسې خط راونه وځی نولمونځ نه کیږی
اوس داویه خپله وکتل شی دلیل المسئلة [1](مافی ردالمحتار وکان الخط الخ قلت ماخذه قوله
تعالی فول وجهک شطر المسجد الحرام حیث امربتولیة الوجه لاالجهة خاصة   ثانیه ص۱۸،

دربع دائرې پورې دطرف اختلاف مضرندی:

سوال :(۲۰۸)دجماعتونودجوړولوپه وخت کې په پنجاب کښې قبله نی دستاری دقطب څخه
شمال جوړولو سره پدې زاویه قائمولوسره مغرب جوړولواویه هرمسجدکښې دکعبې طرف
برابرد مغرب طرف جوړدی، خوګمان دی چه کله حمله کونکو مسلمانانواومبلغینود تولونه
وراندې دهندوستان سندته راغلل نوصورت ته نژدی بندرګاه باندې کوزشول هلته چه په اولنی

[1] قدمرت هذه العبارة قبل هذاالسوال متصلا ۱۲ منه

بت خانه کې دمسجدتعمیروشو، په صورت یاهغه ته قریب خودمسجددغه طرف بالکل
مغرب کې درست دی . لکن په شمالی هندکښې دمسجد ونوطرف دکعبې په طرف ندی
ګرځولی شوی ددې څه انتظام وکړی شی؟دګجرات په ښارکې دمسجدونو دطرف امتحان
دکمپاس په ذریعه واخستل شونو په تولوکښې فرق راووته دځینولږ درجې فرق ؤاودځینو
زیات،دری مسجده هم،نوتقریبادیرشومسجدونوکې یوطرف نشته دهمدی لپاره دحضور
دراپې اوشرعی مسئله معلوموول غواړی آیاداغلطی دعلماؤ دکومی کمیټی له خواؤویا
مسلمانانویودبل په تقلید کښې هرځای کې داغلطی کړیده ؟فقط.
جواب :دربع دائرې څخه کم اختلاف مضرندی، دتولولمونځ کیږی

داول خط پسی دوهم خط:

برنی مندرج خواب آیادجناب فتوی په ذاتی ګمان باندې مبنی ده اویاد دی تاپېددکوم کتاب
په حوالی سره کیدی شی ؟
جواب :فی ردالمحتارمن الدررووجهتهاان یصل الخط الخارج من جبین المصلی الی الخط المار بالکعبة
علی استقامة بحیث یحصل قائمتان الی قوله ویؤیده ماقال فی الظهیریة اذاتیامن اوتیاسر تجوز لان و
جه الانسان مقوس الخ وفیه یلزم ان یکون الخط الخارج علی استقامة خارجا- من جبهة المصلی
بل منهااومن جوانبهاکمادل علیه قول الدرر من جبین المصلی فان الجبین طرف الجبهة وهما
جبینان وفیه ولایخفی ان اقوی الادلة النجوم والظاهران الخلاف فی عدم
اعتبارهاانماهوعندوجودالمحاریب القدیمة اذلایجوزالتحری معها کماقدمناه لئلایلزم تخطیة السلف
الصالح وجماهیر المسلمین بخلاف مااذاکان فی المفازة فینبغی وجوب اعتبار النجوم ونحوهافی المفازة
لتصریح علمائناوغیرهم بکونها علامة معتبرة اه (شرائط الصلوة) داتول عبارتونه خماپه دعوی
باندې کافی اوواضح دلیلونه دی چه دربع دائرې څخه کم اختلاف مضرنده. فقط
بقیة السوال:دلته خمونږ سره حکومت یوه احاطه دمسجد لپاره وقف کړیوه چه دقبلې په
لورنده لاکن پدې کې دربع دائرې نه ډیرکم یعنی په اندازه د ۱/۲ حصه ددائرې فرق کیدای شی
آیاهلته مسجدجوړکړی شی؟ څکه چه دقبلې مخ طرف کولو کې دځلورطرف څخه دټوټودکاټ
کولو څخه څلوردیوالی بالکل له مینځه ځی، که په داسې ترتیب مسجد جوړولوکښې اعتراض
نه وی نومسجدډیرزیات لوییږی اود ضرورت تول ځیزونه جوړیږی ؟

جواب :برنی گنجایش دمسجدونودجوړولولپاره مذکورده ترخود جمهورمسلمین خطاکول لازم نه شی لاکن په قصدسره مسجدمنحرف جوړول چه پکې مذکوره مفسدی یعنی دتخطیه ځخه زیات مفاسددي : لکه افتراق بین المسلمین واطالت لسان معترضین وجسارت عوام علی الخروج عن الحدودواستخفاف حدودوامثالهاد مصلحت خلاف دی نظیره مامرمن عدم اعتبارالنجوم فی المساجد القدیمة وفی اعتبار هافی المفاوز ددغومفاسدوپه مقابله کښې دا حاطی کم والی ډیر اسانه دی دا خماراېې ده،بهتره وه چه دنورو اهل علم حضراتو ځخه هم مشوره شوی وی. کتبه اشرف علی۲ رجب ۱۳۵۲ھ،النور صفحه ۹شعبان ۵۷ھ

دښاووړغوی دبغې عورت کیدلوتحقیق

سوال :(۲۰۹)ددې نه مخکې دالیکل کیدل چه کله ښځه دلاس دوړغوی شا لوڅولوسره لمونځ اداء کړی نوددې اعاده کول لازمی دی اوکنه ؟

ددې خواب جناب عالی داتحریرفرمایلی چه ددې لمونځ صحیح دی اعاده دی نه کوی اوس داخبره دمعلومولوده چه هرکله په درمختارکښې دا لیکلی دی چه ، فظهرالکف عورة علی المذهب ، نوهرکله چه په لمانځه کښې سترعورت ونه شونولمونځ ونشونوددې اعاده ضروری شوه،لهذاددې تردد رفع وفرمائی ؟

جواب :ددې لپاره چه ظهرکف عورت کیدل مختلف فیه دی مادسهولت اوعامی بوختیالپاره دوم قول واخسته. ۲۱جمادی الاولی ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه صفحه ۲۹)

په سجدی کې داکثرتندی اېښودلووجوب

سوال :(۲۱۰)ددین علماؤ پدې مسئله کښې څه فرمائی چه په لمانځه کښې دسجدی په حالت کښې څومره برخه دتندی لګول په زمکه باندې واجب دی ؟ که لږبرخه دتندی په زمکه کیښودی شی اواکثره کیښودل شی نولمونځ بلاکراهته کیږی اوکنه؟ بینواتوجروا

جواب :فی الدرالمختاروسجدبانفه وجبهته ووضع اکثرها واجب و قیل فرض کبعضهاوان قل وفی ردالمختاراختلف هل الفرض وضع اکثرالجبهة ام بعضهاوان قل قولان ارجحهما الثانی نعم وضع اکثر الجبهة واجب للمواظبة کماحرره فی البحروفی المعراج وضع جمیع اطراف الجبهة لیس بشرط اجماعافاذا اقتصرعلی بعض الجبهة جازوان قل کذا ذکره ابو جعفرفی الخزائن ج۲ص۵۲۰ ددې روایت

ځخه معلومه شوه چه اکثره برخه دتندی اېښودل اګرکه علی الاصح فرض اوشرط ندی لاکن واجب دی دداسې نه کولوسره به لمونځ مکروه وی. ۹ذی قعدی ۳۳ھ(تتمه ثالثه صفحه ۹۸)

دهغه چادلمانځه داداکولوطریقه چه لمونځ کولو باندې نه پوهیږی اوتعلیم ته محتاج وی

سوال :(۲۱۱)په رمضان کې دوه دری سړی داسې هم راځی چه په لمونځ کولونه پوهیږی اویوسړی یویولفظ کولوسره ورته وائی ددې لمونځ کیږی اوکنه ؟ که نه کیږی نوځه کول پکاردی ؟ ځکه پدې طریقی سره خوهغه لمونځ هم کوی مسجدته راځی،اوکه ورته ونه ویل شی نو هیڅکله مسجدته نه راځی په دی مسئله کې معتکف وی یاغیر معتکف برابر دی اوکنه ؟

S :داسې سړی دی دوهم ځل لمونځ وکړی ، یوځل خوپه همدې ترتیب هغه دی دلمانځه تعلیم وشو اودوهم ځل بلاتعلیم په هغه ترتیب چه دلمانځه نه مخکې ورته وویل شی چه ددې لپاره چه تاته دلمانځه اذکاراوقرائت یادندی ته په هررکن کښې دری ځل سبحان الله وایه دابه دهغه اصلی لمونځ وی. ۱۵شعبان ۱۳۳۷ھ(تتمه خامسه صفحه ۹۲)

دسجدی ځخه دپورته کیدلوبه طریقه

سوال :(۲۱۲)په لمانځه کې کله چه دسجدی نه پورته کیدل غواړی نوپه ورتونوباندې دی لاس اېښودوسره دی پورته شی ؟

جواب :هو.

تتمة السؤال :یادی په زمکه باندې لاس ښخولوسره ودریږی؟

جواب : نه الابعذر.

تتمة السؤال :یادی کوم ځای باندې لاس نه ښخوی په هر صورت د اودریدوښه طریقه اودستورکوم یودی ؟

جواب :بره لیکل شوی ، فی الدرالمختارویکبرللنهوض علی صدورقدمیه بلااعتماد قعو داستراحة فی ردالمختاربلااعتمادای علی الارض – قال فی الکفایة اشاربه الی خلاف الشافعی فی موضعین احدهما یعتمد بیدیه علی رکبتیه عندناوعنده علی الارض الثانی الجلسة الخفیفة الخ ، فصل ای فی بیان تالیف الصلوة، ۱۹ ربیع الاول ۱۳۵۵ھ النورصفحه ۷صفرالمظفر ۱۳۵۲ھ ،

دامین بالجهرجواز

سوال :(۲۱۳)امین بالجهرویل جائزدی اوکنه ؟

جواب :جائزدی لکه څنګه چه بالسرهم جائزدی اومرجع داحد الشقین یاتحقیق دی یاتقلید
۲صفرسنه۱۳۴۱ھ (تتمه خامسه صفحه ۲۳۳)

جوازرفع الیدین

سوال :(۲۱٤)په لمانځه کښې رفع الیدن جائزدی اوکنه ؟

جواب :جائزدی لکه څنګه چه عدم رفع هم جائزدی اومرجع داحد الشقین تحقیق دی یاتقلید
(برتی تاریخ اوحواله)

دنارینهٔ ولپاره دښنګرونښلولوحکم

سوال :(۲۱۵)په دوهمه حصه دبهشتی زیورکې دفرض لمانځه د اداء کولود طریقی بیانول درج دی چه په رکوع کښې ددواړو لاسونوګوتی سره یوځای کولوسره په ورنونوباندې کیږدی اودواړه بازوګان بنه یوځای کړی اود دواړوپښووښنګری دی بیخی یوځای کوی دوه اول الذکرکارونوکښې دنارینه ولپاره چه کوم اختلاف ده هغه خوپدې صفحه کې درج ده په آخر الذکرامرکښې کوم اختلاف درج نه دی فرمایل شوی نوداکاردپوښتنې ده چه آیادنارینه ولپاره هم ددواړوخپودښنګرویوځای کول پکار دی په دی حقله په ګوهربهشتی کې هم څه تذکره نشته؟ دښځولپاره دتکبیر تحریمه دوخت څخه ددواړوخپودښنګروملاوول پکاردی یایوازی درکوع په وخت ؟ دنارینه ؤلپاره که ددواړوخپودښنګرونه ملاوه ول پکاردی نو ددواړو خپوتر مینځ څومره فاصله راوستل پکارده ؟

جواب : (۱)په رکوع کې دښنګرودملاوولومتعلق دفقهاؤپه کلام کښې عموم پیداکیږی یعنی دنارینه ؤلپارهٔ هم الصاق دکعبینولیکلی دی مګر په حدیث کښې می کله هم ندی لیدلی لهذادمیلاوولوبناء په روایات فقهیه وباندې دی اودنه میلاوولوبناء علی عدم النقل فی الاحادیث دی ددواړوامکان شته (۲) د قیام په حالت کښې دښنګرو ملاوول دنظرڅخه تیرشوی ندی (۳) په کوم حالت کښې چه ښنګری نه میلاویږی لکه قیام کې په دی کښې دڅلور ګوتودخپوپه اندازه فاصله پریښودل پکارده فی ردالمحتار بحث القیام وینبغی ان یکون

بینهما (ای بین القدمین) مقدار اربع اصابع الیدلانه اقرب الی الخشوع هکذا روی عن ابی نصر الدبوسی انه کان یفعله کذا فی الکبری ج۱ص۲۴۲۲ربیع الثانی سنه۱۳۴۲ھ (تتمه خامسه ص۲۵۲)

سوال :(۲۱٦)دسلام مسنون دشروع نه وروسته په سل نیازسره عارض د خپلې مدعایم چه دجمادی الاولی میاشت کال ۱۳۴۲ھ صفحه ۱۳دالنور کې دالصاق کعبین سوال په ځواب کې تحریرفرمایلی چه دفقهاؤ په کلام کې عموم پیداکیږی مګرپه حدیث کې کله هم ندی لیدلی لهذا په ملاوولواونه ملاوولوکښی ګنجایش شته انتهی ملتقطاً اومولناعبد الحی مرحوم په سعایه کښې په دی مسئله په پوره بسط سره بحث فرمایلی دی په آخرکې نی فرمایلی دی چه دفقهاؤ مراد دالصاق څخه محاذات احدی الکعبین ده باالاخرته الصاق حقیقی ، همدارنګه فرمایلی دی چه امام دهغوکسانوچه الصاق نی راوړی زاهدی دی اونسبت دزاهدی یې په نافع الکبیراوفوائد بهیه کې لیکلی دی اوهغه داچه (کان اماماجلیلافی الفقه لکنه متساهل فی نقل الروایات وایضاهومعتزلی الاعتقادحنفی الفروع قال صاحب ردالمحتارفی تنقیح فتاوی الحامدیة فی کتاب الاجارة الحاوی الزاهدی مشهوربنقل الروایات الضعیفة ولهذاقال ابن وهبان وغیره انه لاعبرة بمایقوله الزاهدی مخالفا لغیره) انتهی ملخصاً. د برکت نه ډک خدمت کې عرض دی چه کوم څه چه دسعایه اوالنورڅخه ډیر صحیح وی دمهربانی له مخی تشفی وفرمایې ؟

جواب ::ددې لپاره چه منطوق قاضی ده په مفهوم اومفسر مبهم باندې لهذا تحقیق دسعایه په عمل کې ترجیح اوخماقول چه کله می په حدیث کې ندی لیدلی اشاره همدې خدشې ته وه چه دقواعدوڅخه په زړه کې رالویدلی وه . ۵رجب المرجب ۱۳۴۲ (ترجیح خامس صفحه ۱۳۸)

دتسمیع نه وروسته دښځې دتحمیدتحقیق

سوال :(۲۱۷)جناب عالی په صفت صلاة دزیوربهشتی بیان تحریر فرمایلی دی چه بیادسمع الله لمن حمدہ په ویلوسره دسر اوچت کړی کله چه ښه سیده شی نوبیاالله اکبرویلوسره سجدی ته خی نوآیا دښځې لپاره دربنالک الحمدویل ندی پکاریاد کاتب سهوه ده یاکه دچهاپ غلطی ده مونږ مطلع کړی ؟

جواب :په عبارت کې کموالی شوی دی داسې کیدل پکار دی چه کله چه ښه سیدی ودریږی نوربنالک الحمدله ویلوسره الله اکبرویلو باندې دی سجدی ته لاړشی اوس دامعلومه ندی چه

دمولف غلطی دی اوکه دکاتب حیرانتیا نشته هغه بې دسمع تابع گڼلی دی دمستقل لیکلواهتمام بې ونه کړو زیات نظریه دی باندې دی چه دسیده ودریدونه بغیر سجدی ته راتشی لکه څنگه چه دخینو عادت دی (ترجیح خامس صفحه ۱۰۸)

دقومې دوجوب یاسنیت تحقیق

سوال :(۲۱۸)داعرض دی چه دامسئله چه تاسوپه دوهمه حصه دزیور بهشتی کې تحریرفرمایلی دی چه مسئله :که درکوع نه وروسته په ښی طریقې سره ونه دریږی لږ سراوچتولوسره سجدی ته روان شی نولمونځ دی له سره اداء کړی ددې په حاشیه کې لیکلی دی چه که قصداً بې داسې وکړلونوبیادی اداءکړی اوکوم چه په غلطی سره بې وکړونو سجدهٔ سهودی وکړی ،غرض داچه یومولوی صاحب وائی چه پدې صورت کې سجدهٔ سهوه نه لازمیږی څکه درکوع نه وروسته سیده والی واجب نده سنت موکده ده پدې صورت کې سجدهٔ سهونشته اوس حضور تحریروفرمایې چه داټیک ده اوکه هغه چه په زیوربهشتی کې لیکل شوی هغه ټیک ده په خواب مومشرف کړی!

S :ددې په سنیت اووجوب کې اختلاف دی دغه مولویصاحب دسنیت په بناء دافرمایلی اودزیور بهشتی مضمون ددې دوجوب په بناء ده اوډیروعلماؤ وجوب ته ترجیح ورکړی ده دهمدی لامله په زیور بهشتی کې نی هم همداقول اختیارکړی ده کماق ردالمختارعن البحرو وجوب نفس الرفع من الركوع والجلوس بين السجدتين للمواظبة على ذلک كله وللامرفی حديث المسئ صلوته ولماذكره قاضيخان ومن لزوم سجودالسهوبترک الرفع من الركوع ساهياالی قوله والقول بوجوب الكل هومختارالمحقق ابن الهمام وتلميذه ابن امير الحاج حتی قال انه الصواب والله الموافق للصواب اه وقال فی شرح المنية ولاينبغی ان يعدل عن الدراية اذاوفقتها رواية علی ماتقدم عن فتاوی قاضيخان وفيه عن القنية فيمكث فی الركوع والسجودوفی القومة بينهماحتی يطمئنكل عضومنه هذاهو الواجب عندابی حنيفة ومحمد حتی لوتركها اوشيئا منهاساهيا يلزم السهوولوعمدايكره اشد الكراهة ويلزمه ان يعيد الصلوة ويكون معتبرة فی حق سقوط الترتيب ونحوه ج۱ص۴۸۳وص۴۸۴، ۲/ ذی الحجه ۱۳۳۸ھ (ترجیح خامسه صفحه ۱۱۰)

دهغې شبهې څواب چه دتحریمې نه مخکې په نیت دتوجیه په جوازباندې دی

سوال :(۲۱۹)په خینورسائلوکې صحیح حدیثونه نوشته دی چه دنیت نه وروسته توجیه یعنی انی وجهت وجهی الخ دلاس دتړلو اوتحریمه نه وړاندې ثابت ده خمونږ امام صاحب منع فرمایې ددې سبب که مناسب وی وی لیکې؟

جواب :دتحریمه نه مخکې دتوجیه کوم حدیث په ذهن کې حاضر ندی که داسې وی نودامام صاحب دقول سبب ښکاره دی چه ددلیل نه بغیرڅنگه قابل اوسی اوکه کوم حدیث وای نونقل به بې کړی ؤالبته دتحریمې نه وروسته منقول دی لکه څنگه چه په مسلم کې روایت دی امام صاحب داپه نوافلو باندې حملوی لکه څنگه چه دنسابې په روایت کې تصریح دی دادواړه حدیثونه په مشکوة باب مایقرء بعدالتکبیرکې شته (تتمه خامسه صفحه ۳۷۷)

باب القراءة:

په لمانځه کې دوه سورتونه داسې لوستل چه مینځ کې یو سورت پاتې شی

سوال :(۲۲۰)په لمانځهٔ کې دوه سورته داسې لوستل چه په مینځ کې یوسورت خوشی شی مثلاپه اول کې دفتح سوره یعنی اذاجاء اودوهم کې داخلاص سوره لوستل څنگه دی ؟

جواب :که په مینځ که لوی سورت پریښودل شی په کوم [۱] که چه دوه رکعته کولی شوجائزدی وروکې ناجائز. والله اعلم ۲ رمضان ۱۳۱۹ھ

په ایتونوباندې دجدابې کولوحکم دیوه سورت په قراءت سره په دوه رکعتونو

سوال :(۲۲۱)امام دسهارپه لمانځهٔ کې سورهٔ دهرولوستله په اول رکعت دیل اتی نه ترمشکوراپورې یعنی یوه رکوع بې ولوستله په دوهم رکعت کې دان هولاء څخه دسورت دخلاصیدوپورې بې ولوستله په مینځ کې واړه واړه دری ایتونه پریږدی دمقتدیانو یوسړی دیوسلام دگرځولونه وروسته دسجدې سهوی لپاره تکبیروویلی امام سجدی سهوونه کړله او

---

[۱] دامې دیاده لیکلی ؤوبیاکوم رایت مساعد نشودتتبع څخه معلومه شوه چه ددې مطلب چه دلوی سورت مینځ پریښودل ناروا دی داده چه هغه سورت چه له اول څخه لوی وی چه ددې له لوستلوڅخه دوم رکعت داول رکعت څخه اوږدیږی لکه چه داذاجاءنه وروسته تبت یدالوستلوسره همدامرلازمیږی کذافی ردالمحتارفصل القراءة ۱۲ منه.

وی ویل چه لمونځ وشو، تکبیرویونکي وویل چه وخوشومګرکراهت راغی ځکه په مینځ کي دوه واړه سورتونه اویاددي په اندازه دسورتونو عبارت پرېښودل پکاردی چه په هغودورکعته اداءکیږی .امام وائی چه ددوه سورتونوپرېښودل کومه ضروری خبره ندی که دی نوپه وروسورتونو کي دی په لوی سورت.کي چه څومره غواړی پرېښودوسره لمونځ کوه تردی چه که کوم وړوکي آیت هم ددوه رکعتونوپه قراءت کي پاتې شی دغه وخت هم لمونځ بلاکراهت کیږی .تکبیرویونکي وویلی چه خمالمونځ ونه شویدي سبب چه پورته ذکرشودوهم ددي سبب څخه چه دامام صاحب ګټکي په پرتوګ پټی وی اودلمانځه نه مخکي هم ویل کیدی چه پرتوګ پورته کړی شی نوخیرپورته شونودغه یعنی ګټکي مه پرانیزی ،ددغو وجوهاتوپه نظرکي نیولوسره دوهم ځل وکولی شی اودجماعت په تکرار امام صاحب هم شریک شوآیاپه مذکوره صورت کي لمونځ بلاکراهته شویاله کراهت سره که دکراهت وی نوداکراهت تحریمی دی اوکه تنزیهی اوددوه رکعتونو دقراءت په مینځ څومره عبارت پرېښودل پکاردی چه پکي څه قسم کراهت پاتې نشی بینوابالکتاب توجروا یوم الحساب ؟

جواب :ف الدرالمختار(ولاباس ان یقرا ف اولی من محل وف الثانیة من خرولومن سورة ان کان بینهماایتان فاکثروف ردالمختار تحت قوله ولومن سورة لکن الاولی ان لایفعل بلاضرورة لانه یوهم الاعراض والترجیح بلامرجح شرح المنیة ج۱ص ۵۷۰.ددي روایت څخه ثابته شوه چه په مینځ کي ددری ایتونوپه پرېښودوسره کراهت نشته دی البته خلاف اولی شو.لاکن داویناچه که ددوورکعتونو د قراءت په مینځ کي یووړوکي آیت هم پریږدی نودغه وخت هم بلا کراهت لمونځ کیږی داغلط دی لمامرفی الروایة من قوله ان کان بینهماآتیان فاکثرفقط والله اعلم ۱۵ربیع الثانی ۱۳۲۷ه(تتمه اولی صفحه ۱۵)

دقراءت خلف الامام په مسئله کي دحنفیه وُدلیل:

سوال :(۲۲۲)دامام شاته دمقتدی سورة [1] فاتحه لوستل جائزدی اوکنه ؟دامام اعظم په مذهب د کوم دول آیت شریف په حواله منع فرمایي چه دامام پسی مقتدی الحمدونه لولی ؟

جواب :دامام اعظم په نزدممانعت ده اواګرچه دواذاقرء القرآن فاستمعوالہ وانصتواڅخه پدي خبره استدلال ممکن ده اوعلماؤ کړی دی خواصل استدلال دصحیحه حدیثونوڅخه دی لکه

[1] یتعلق بالحدیث څخه زیات وافق دے ۱۲

چه په صحیح مسلم کي داذاقرء فانصاتواحدیث موجوددی ،وجه داستدلال دقراءة اطلاق دی نوجهری سری اوفاتحه اوغیرفاتحه ټولونه شامل دی بنده په رساله اقتصادکي دنوړومسئلوسره دامسئله هم لږ تفصیل سره لیکلی ده. ۱۲ رجب ۱۳۲۴ه(امداداول صفحه ۷۹)

دجنازي په لمانځهٔ کي دفاتحي دقراءة حکم اوپه اودس کي د غاړی مسح:

سوال :(۲۲۳)په لمانځه کي قراءة [2] خلف الامام ماثوردی اوکنه ؟او حنفیه ؤ په څه دامتناع کوښښ کړیدی اودجنازي په لمانځه کي د فاتحي سورت لوستل هم سنت دی اوکه مستحب یامکروه اوممنوع بینواتوجروا؟دغاړی مسح کول په اودس کي مستحب دی اوکه بدعت؟

جواب :خلاصه دخبری پدي هکله داده چه پدي هکله حدیثونه په دری ډوله تقسیم دی ځنی په وجوب دلالت لری ځنی په جواز دلالت لری کمافی قوله لاتقولواالابام القران ، اوځیني دلالت په امتناع دلالت لری کماذکره الامام محمدفی موطاه دصحابه ؤاقوالواوافعالو ته مورجوع وکړه هغه مومختلف وموندل قیاس ته لاړو دترجیح اوتطبیق په بیلا بیلوطریقو راووتلو.فکل اخذبما رای دحنفیه علماؤ دوجوب حدیثونه په مطلق قراءة عام له حقیقة اوحکمیة باندي حمل کړی دی یعني تبعا للامام بي ګرځولی کماهو مویدببعض الروایات ،مثل قوله علیه السلام من کان له امام فقراءة الامام قرائة له الحدیث ، اوکماقال اوحرمت ته بي په جوازترجیح ورکړی ،کماهومقررفی اصولهم لئلایلزم تکرارالنسخ ، نودوجوب په دلائلوباندي عمل دقراءة دامام په ضمن کي لاسته راغی،باقی پاتې شول دلایل دجواز اومنع که جائز پریږدو کومه ملامتیا نشته په خلاف دارتکاب دممنوع چه د خطر ځای ده . همداداحنافومسلک دی اماپه سنیت د قراءة فاتحه په صلاة جنازه کي کلام نوبیوه شه چه سنت په دوه معنا اطلاق کیږی،یوداچه کله دجوازاوغیره بیان لپاره چه دمصالح شرعیه دشارع ﷺ څخه بي یوفعل کړی وی په دی معنی سره دسنیت دفاتحي څخه دجنازي په لمانځهٔ کي انکارنه شی کولی لکه څنګه چه ابن عباس اقعاء ته سنت فرمایلی دی بله داچی نبی علیه السلام دهغه ځیز داستحسان عمل کړی وی لکه چه اکثراًاطلاق ددي لفظ په همدي معنی ده په دی معنی کي دفاتحي په سنیت کي کلام شته امام صاحب نفی فرمایلی ده اونوروفقهاؤ دا ثبات کوښښ کړی دی اوکه انصاف وکړو اودترمذی قول په یاد کړو(الفقهاء هم اعلم بمعانی الحدیث دمجتهدینوڅخه مطالبه نه کیده چه

[2] دغه تحقیق مایتعلق بالحدیث لیکل زیات مناسب و ۱۲منه

دامعنایې دکوم خایه تعین کریده دهغوی په حق کې دزړه استفتاء دصدریه شرح کې کافی ده .نوتنګ دامام صاحب دسنیت په طرف په اوله معنی سره اودنورو فقهاؤ په معنای ثانی سره امکان لری ، ددوی څخه ددلیل غوښتل په منزله ددلیل غوښتلو دی له زرګرانو څخه په حکم د بنه والی اوخرابوالی دسرواوسپینوفافهم وانصف علاوه لدینه ابن عمر چه شدید التفحص والاتباع د سنت درسول الله ﷺ ؤیه جنازه کې بې فاتحه نه لوستله کمارواه مالک فی الموطا دغه روایت هم دابو حنیفه مویددی ددینه زیات لفظ دحدیث دفاخلصواله الدعاء رواه ابن ماجه دامام ابوحنیفه درایې مویددی چه اصل دصلاة جنازه دعاء ده .او اخلصوا خرنګه لطیفه اشاره کوی چه غیردعاء ددعاء سره نشی ګډولی دهمدی خایه که دثناء او [1] دعاء په نیت وویل شی اجازه فرمایې او دشارح فعل که په همدې معنی محمول شی په خای ده په هرحال شرح صدر دمجتهداوفعل دابن عمراولفظ داخلاص دامام همام درایې مویددي .خومره بنه ده چه که لولی بې چه ددعا په نیت بې ولولی چه عمل بالحدیث هم ترسره شی اودبن دمشرانوداختلاف څخه هم بهر شی.والله اعلم امادغاړی مسح نوعلماؤپه دری لاړوتلل کړی سنیت ، استحباب اوکراهت ، اقرب الی التحقیق دوم قول دی حسان روایتونه پدې باب کې وارد شوی دی چه داستحسان عمل مفید اودفضایلومثبت کیدلی شی ذکرهذه الروایات وحید عصره المولوی عبدالحی اللکنوی فی رسالة تحفة الطلبة فی مسح الرقبة .والله اعلم فقط امداداول صفحه ۲۹.

ادنی درجه دقراءت سریه

سوال :(۲۲٤)په زیوربهشتی کې لیکل شوی چه په لمانځه کې دقاری قراءت وانه اوریدل شی نولمونځ نه کیږی ددې څه مطلب دی اکثر لمونځ کونکې خپل لوستلی دشوراوغالمغال له سببه نشی اوریدلی اویاکوڼ اوبی پروا دی څکه دهرخیزدوه درجی دی یوه اعلی اویوه ادنی مثلا دجهراعلی درجه داده چه دقاری قراءة لری خلک هم واوری .اوادنی داچه نژدی چه ولاړدی هغه یې اوریدلی شی اودسری قراءة اعلی درجه داده چه دقاری قراءة خپله قاری واوری وبل څوک بې وانه وری اګرکه یوخای ولاړوی اوادنی درجه داچه دقاری دژبې اوستونی حرکت وشی اوخپله قاری یې وانه وری مګرقلبی توجه وی چه زه لوستل کوم لکه حنفیه کرام چه دلته په

[1] یعنی بلاالتزام

کومو لمونځونوکې چه جهرنشته دیوروولوستل اولی دی داکومه درجه ده ادنی یااعلی اوپدې ترتیب سره چه دلمونځ کونکې حلق اوژبه حرکت وکړی اوغوږ یې وانه وری نولمونځ کیږی اوکنه ؟

جواب :فی الدرالمختارفصل القراءة وادنی الجهر اسماع غیره وادنی المخافة اسماع نفسه .اوپه ردالمحتارکې دغه قول هندوانی ته منسوبولوسره اصح اوراجح ویل شوی اوددې لپاره چه په دې کې احتیاط ؤ نودزیوربهشتی مولف دااختیارکړاوبوقول دامام کرخی دی یوازی دحروفوتصحیح کافی ده اګرکه خپله هم وانه وری اوخینوخلکو ددې هم تصحیح کړی ده .کذافی ردالمحتارنواحوط خودامام هندوانی قول دی باقی داچه دامام کرخی په قول دعمل کونکې لمونځ هم کیږی .والله اعلم ۲۷ربیع الاول ۱۳۲۵ھ امداداول صفحه ۸۸.

په لمانځه کې دقاری دعامه زلاتو، څوبېدنو ،حکم دپورتنی فتوی متعلق دتحقیق سره

سوال :(۲۲۵)ددین علماء څه فرمایې ددې مسئلې په هکله دحنفی فقهې موافق چه نن صباخومره علماؤ اوخومره غوام لکه څنګه چه هغه جناب ته هم ښکاره دی چه دتجوید علم څخه بالکل ناخبردی ، یعنی دکوم باخبراستاذڅخه بې ندی زده کړی بلکه په خپله خوښه سره په خینوحرفونوکې فرق کولوسره بې له سوچه دمخرج اوصفاتوبې لولی مثلاد س اوص ترمینځ اوبات اوط کې په داسې حال کې چه د تجوید دفن ماهرین لیکې چه دحروفودتمیز باوجود چه حرفونه دخپل مخرج څخه اداء نشی خصوصا دض توری چه داخو عمومابرابره خبره دی چه عرب وی اوکه عجم کوم یوهم داحرف دهغه دمخرج څخه نه راوباسی خینې دظا مشابه اوخین بې دالذال مشابه بیاخینې بې صفا دال اوخینې بې مفخم دال لولی اوخینې بې په لوستلوکې بیرواوهم پوهی ته راځی نوپه دغسی حالت کې څه حکم دی ؟آیادغه خلک د معذورینوپه حکم کې دی اودحرفونو زده کول اودهغومخارج سره دصفاتواداءکول په هغوی باندې فرض اودترک کولوسره ګنهکاردی ؟ ددې لپاره چه دحرفونو مخارج مشترک وی خوفرق په صفاتوکې وی یادعموم بلوی په سبب مطلقا دلمانځه دصحت فتوی ورکول شوی ده که ورکول شوی وی نودلیل تحریر وفرمایې .اوس په داسې حالت کې که کوم سړی حرفونه په عمدی طریقی سره دمخرج څخه راوباسی اودضاد حرف هم دمخرج څخه راوباسی اګرکه ددی صورت دظاء سره مشابه وی نودداسې سړی لمونځ دمذکور الصدرخلکوپسی چه کوم په خپله خوښه حرفونه متمیزکولوسره لولی اودضاء حرف بسط دال یامفخم دال کولوسره یادظاء سره مشابه کولوسره لولی صحیح کیږی اوکنه ؟ خصوصاکله چه داسړی چه په تجویدپوه دی

دلمانځه دضروریه مسایلو پوه هم وی اوبل سړی دفقه اوحدیث عالم وی مګردهغه قراءت دتجویدد قواعدو موافق نه وی بلکه ددې زمانې مروجه قراءت په شان وی، که ددې واقف تجوید لمونځ صحیح نه وی نوددې قاری دمقتدی کیدلوپه وخت دامام دتورو مقتدیانو لمونځ هم درست شواوکنه . لکه څنګه چه کله قاری دامی پسې اقتداء وکړی په دغه وخت دهیچا هم لمونځ نه کیږی ندامام اونه دمقتدیانو احقرته ددغو عبارتونو دفقهاؤ څخه معلومیږی چه مونږ خلک داهل علم دمشهورتیاباوجود دامامت قابل نه یواودتجوید زدی کول فرض دی اودهغه په ترک کولوهروخت ګنهکاردی آیا ددې عبارتونوڅخه دافهم داحقرصحیح دی اوکنه ؟(انه بعدبذل جهده دائمالای فی اناءاللیل واطراف النهارفمادام فی التصحیح والتعلم ولم یقدرفصلوته جائزة وان ترک جهده فصلوته فاسدة قال فی الذخیرة وانه مشکل عندی لان ماکان خلقة فالعبد لایقدرعلی تعبیره کالامی فلایلزم الامثله ولاتصح صلوته اذا امکنه الاقتداءبمن یحسنه اوترک جهده اووجد قدر الفرض ممالالثغ فیه هذاهوالصحیح المختارفی حکم الالثغ وکذافی ردالمختارباب الامامة ، ددې څخه معلومیږی چه کله ګونګ چه فطرةً معذوردی معنی بلکه مجبوردی نه معافیږی بلکه په دوامداره توګه په هغه باندې زده کول اوکوښښ کول فرض دی تردی چه کله تردی زده کول کیږی نولمونځ درست کیږی اوکنه نولمونځ فاسدیږی اودکوښښ نه وروسته هم هغه امی دی کله چه داسې فطری معذورمعذورندی،نوکوم سړی چه دفطرت په اعتبار مجبورندی فقط دخپل تهاسل په خاطر دزده کولواراده نه کوی څنګه معذور وشمیرل شی اوڅنګه دده لمونځ صحیح شی اوڅنګه به ګنهکارنه وی البته دشامی دذخیره دعبارت نقلول شبه پیداکوی چه شاید ددې حکم په تصحیح کې کوم کلام شته،راتلونکې عبارت ددې نه زیات تصریح کوی ، وکذامن لایقدرعلی التلفظ بحرف من الحروف وذلک کالرحمن الرهیم والشیتان الرجیم والالمین،ایاک نابدو ایاک نستعین وانامت فکل ذلک حکمه مامر من بذل الجهددائما فلاتصح الصلوة) اوس په دی حکم کې هغه خلک هم داخل دی اوکه ندی چه دضادحرف دمخرج څخه نه راوباسی که نه وی نوڅه دلیل دی؟نودفقهاؤدعبارت څخه رامعلومیږی چه دضاد زیات مناسبت دی له ظاسره نه دذال سره؛ لکه څنګه چه دزلة القاری دشامی کې دی وان لم یکن الابمشقه کالظاء مع الضادوالصاد مع السین فاکثرهم علی عدم الفساد لعموم البلوی په بل ځای کې راغلی (وفیهااذالم یکن بین المشائخ

) په قاضیخان کې دی لوقرا الظالین بالظاءوبالذال لاتفسدصلوته ولوقرا الدالین بالدال تفسد) ددې عبارتونو څخه چه ترکومه ځایه معلومیږی هغه داده چه ددال په مشابه لوستلوڅخه فاسددی اودظاء مشابه لوستلوسره دخینو په نزدفاسدندی ،خودمتقدینودقاعدی مطابق صحیح ندی نوپه داسې صورت کې کوم سړی چه دضاد حرف له مخرج څخه راوباسی ددې لمونځ دتن صباعلماؤ پسې چه اکثرا دواد لولی صحیح کیږی اوکنه اودچا امام جوړول پکار دی ؟ خومسئوله امورو کې مختصراعرض کوم (۱) دواجب تجویدمقدارڅومره دی آیاتمییز بین الحروف مطلقا یااداء الحروف من المخارج مع الصفات (۲) دشرع په نزد امی څوک دی اوقاری څوک دی ؟ (۳)دضادحرف دمخرج څخه نه راویستونکې برابره خبره ده چه ظاء ولولی یامشابه بالدال ولولی امی دی اوکنه ؟ (۴) کوم سړی چه ضاد دمخرج څخه راوباسی دده لمونځ دمذکورشخص پسې کیږی اوکنه که نه کیږی نودمقتدی کیدلوپه وخت ددې قاری دامام چه دواد لولی اودمقتدیانو لمونځ هم کیږی اوکنه ؟(۵) دواد لوستونکې عالم امام افضل دی یاقاری چه دضروریه مسایلو دلمانځه څخه خبروی (۶) سایل دقراءت درسالې یوعبارت نقل کوی چه هغه دفتح القدیر اووسیلة السعادة حواله ورکوی، پوه شه چه لوستل اوپوهیدل دقران په تجویدسره چه عبارت له ورکولو دحقوقودحروفوڅخه دی فرض عین اولازم دی په هرچاباندې چه قران لولی ددې لپاره تجوید نازل شوی اوهمدارنګه درسول الله څخه داسانده په واسطه منقول شو لکه څنګه چه په شرح دمقدمه جزری کې یې راوړی اګر که محترم فقهاء یدې سبب چه لمونځ فرض عین دی په زلت اویه تجوید کې په خطاء کولوکې وسعت کړی لمونځ یې جائز ګرځولی دی امادمذکور شخص دامامت دپریښودو یې فرمایلی دی معلومه ده چه معنی دزلت اوخطاهغه بی اختیار ناخوښه فعل دهوښیارسړی څخه صادریدل دی نه داچه هغه څه چه نه پری پوهیږی هغه ته زلة وائی لکه څنګه چه په وسیلة السعایه کې چه یودمعتبروکتابونو دفقه څخه دی راغلی دی هغه څوک چه دحروفود اداء اوقرانی قواعدو درعایت څخه عاجزوی هغه ته لازمه ده چه پاتې عمرشپه اوورځ د قران په تعلیم کې کوښښ وکړی والالمونځ یې جائزندی کمافی فتح القدیر لابن الهمام، نوددې نه څرګندیږی چه دانن صباچه کوم جاهل اوعالم دتجویددعلم څخه غافل وی دهغه لمونځ نه کیږی اوامامت خودی هیڅکله نه کوی نوداسې سړی امامت جائزدی اوکنه؟(۷)قاری عبدالرحمن په خپله رساله تلفظ الضادکې تحریر فرمایې چه دمعجمه ضاد مخرج دټولوحروفوڅخه جدا دی که دخپل مخرج څخه راونه وځی اودکوم حرف دمخرج څخه راووځی دظاء یادال وغیره څخه نوهغه

وشونه داچه ضاد شواوکه دمعتبرحرف ځخه راونه وځي دحروفو په شمارکي نه شوبلکه مهمل شو، ‹۸› بیافرمايي: چه داسي نده چه هرسړی چه څرنګه وغواړي قران دی ولولی دحضرت علی څخه چاتپوس وکړو چه مونږ قران په خپله ژبة کي ترجمه کړو ترڅومونږ ته لوستل اسانه شي وی فرمايل چه هیڅکله نه بلکه قران پاک دهغه په منزلو حرفونو باندي وی، هویه خپله ژبه باندي تفسیر وکړه ،حضرت علی ﷺ ترجمه جائزه نه کړه نودحرف تبدیلول څرنګه رواشول چه دقران صریح تحریف دی هرکله چه دقران اوحدیث په هدایت دعجم په لهجه لوستل ممانعت معلومیږی نودغه وخت ددي په مقابل کي دبعضی مفسرینولکه تفسیر کبیروغیره اقوال چه دمکلف انسان سره تمیز دحرف ضاد نه بغیرڅخه دخپل خان څخه دی نه اوردیدل کیږی بلکه په دی ځای کي دحضرت علی اوامام ابوعمر دوانی قول چه امام قرات اوتجوید کړی وی مقبول کیږی چه دی بزرګانوڅومره تاکید دتصحیح اوتجوید فرمايلی دی غرض داچه دقراءت فن یوجدا فن دی چه دمدارسو یوازی نقل او روایت دحضور علیه ﷺ څخه دی اوقیاس پدي کي بالکل دخل نه لری .اوکوم چه خینومفسرینو لیکلی دی چه دصحابه ؤپه زمانه کي چه کوم عجم ؤ هغوی درسول الله څخه صحیح کړی ؤ اوکومو صحابه ؤچه سره دتعلیم آنحضرت اودهغه دکوښښ سره سره دهغه دژبی مطاوعت ونکراوقابوکي نه شوهغه معذورول الغرض داسي مضمونونه دبزی .ابوعمرودانی اوملاعلی قاری په کتابونوکي وګوره چه داخلک دقراءة امامان ول اومحدث فقیه اومفسرول اودالفظ یواځی دعرب دی نه دعجم په خپله ژبه باندي چه عجم لپاره اسانه ؤ هغه یي اداکړه اودخاص عرب چه دواړه یوکورده هغه یي ترتنه پوري صحیح لولی ددي وخت دعربو اداء دحروفو داستدلال لائق نده ‹۹› بیافرمايي: چه دضاد مخرج پریښودل اودکوم بل حرف دمخرج څخه قصدا اداء کول خوحرام دی بلکه لری ندی چه کفروی اوکه قصداً یي اداء کول دضاد صحیح کړه بیادژبی دسبقت لامله غلطی وشی په دی صورت کي دالله تعالی دمعافی امیدواریو اوکه دژبی دعدم مطاوعت په سبب یي کړی وی اوژبه په واک کي نه ده نو لوستل دصحیح ضادپوري مشق کول ترصفاکولوپوري معاف دی .اوچا چه داستادڅخه زده کړه هم نده کړی اوبنه بنکاره دغسی غلط لوستل کوی،نولمړی ګنهکاری خودغلط لوستلو دوهمه ګناه د واجب دپریښودلو ،اوکه دتعلیم کولو سره صحیح نه شولوستلی نوبیاً دغه سړی معذوردی اودغه سړی نه امی وی اودمخکینی زده کولو څخه معذورنه شو،اوفقهیه روایتونه دمعذور دلمانځه دجواز په حق کي دی نه دکاهل په حق کي ‹۱۰› بیافرمايي: دغلط لمونځ کونکي د جوازپه هکله په فقهاؤکي اختلاف دی اواصح

عدم جواز دی ددغو اصولیه قواعدو موافق دی، اذا دارالامربین الحظر والاباحة فالفتوی علی الحظر ، دوهمه داچه دفقه مسئله دقرات په مسئلی قیاس کول درست ندی ، دریم داچه دجواز اوعدم جواز دقراءت معنی بله ده چه صحت دقران دی اود جوازاوعدم جوازصلاة معنی بله ده ،چه براءة الذمه ده نوهرکله چه محمول مختلف شونوقیاس مع الفارق شو اوهغه باطل دی.څلورم داچه جواز اوعدم جواز ددرمیانه فقهیه روایتونو محمول دی دلمانځة په جوازباندي غرض داچه دمونږ تولوڅخه ګذشت وکړی اونظرقطع کړی چه قاضیخان اوشامی اوتولو روایتونه فقهاء دزلة القاری اوغلط خوان ذکرکي راوستی دی پسبب دعدم مطاوعت دژبی اوعموم بلوی دجوازحکم ورکول شوی، نوبیا چاچه فتوی ورکړی ده دلمانځه دجواز دهغه سړی حکم ده چه ژبه یي په واک کي نده ،اوبیاوروسته زده کول غلط شول دقاری صاحب عبارت تمام شولهذاګذارش دی چه ددغو عبارتونومخالف چه دحدیث یا فقهیه عبارتونویه خاطر دداسي سړی دلمانځه اوامامت دجواز وی تحریروفرمايي داوسنی زمانی دفقهاؤ فتوی چه هرڅه وی هغه ظاهره دی مګرددي لپاره چه قاری صاحب هم دهغه زمانی محدث اوفقیه اومفسرؤنوقاری صاحب ولی مخالفت کړی ددي لپاره ددلیل ضرورت دی چه په څه کولوسره دداسي خلکو لمونځ کیږی اود کومی درجی ګنهکار ګرځی ‹۱۱›که کوم سړی دماهراستادڅخه تجویدزده کول شروع کړی نودتعلیم په دوران کي دامامت لایق دی اوکنه ؟ ‹۱۲› که جوازدامامت اولمونځ دی اوبیا هم کوم ماهرتجوید سړی پدي سبب چه دامسئله اختلافی ده اول داچه دمتقدمینو اومتاخرینو اقوالوکي اختلاف دی بله داچه قاری عبدالرحمن صاحب اودنورو علماء حال داختلاف دی دهمدی لپاره په احتیاط باندي عمل وکړی .اوددي لمونځ داعاده چه غیرمجودامام اوقاری پسی یي کړی وه وکړی پسبب دلریوالی داختلاف څخه نودا روا ده اوکنه ؟ ‹۱۳› اودمذکوره نمبرپه موجب دسهاراومازیګر دلمانځه اعاده کولی شی اوکنه ؟

جواب :اول امردفقهیه روایتونو دتتبع څخه معلومیږی چه دزلة القاری څوقسمه دی اوبه اکثرو اقساموکي درِوایتونوتوسع موجود ده لکه چه هغه اقسام دادی (۱) خطاق الاعراب (۲) ابدال حرف په بل حرف (۳) تخفیف دمشدد(٤) تشدید دمخفف (٥) دحرف زیاتول (٦) دحرف کمول (۷) نابښلول دحرف له کلمی سره (۸) قطع بعض الکلمة عن بعض (۹) وقف وابتداء (۱۰) دمدپریښودل (۱۱) دکلمی زیاتول (۱۲) دکلمی کمول (۱۳) تقدیم (۱٤)

تکرار کلمه (۱۵) تبدیل دکلمی اوروایتونه دادی (۱) فی ردالمحتاروامّا المتاخرون کابن مقاتل وابن سلام واسمعیل الزاهد وابی بکر البلخی والهندوانی وابن الفضل والحلوانی فاتفقوا علی ان الخطاء فی الاعراب لایفسد ولواعتقاده کفرلان الناس لایمیزون بین وجوه الاعراب قال قاضیخان وماقاله المتاخرون اوسع وماقاله المتقدمون احوط (۲) وفیه قال فی الخلاصة الاصل فیمااذاذکرحرفامکان حرف وغیرالمعنی الی قوله قال القاضی ابوعاصم ان تعمد ذلک یفسدوان جری علی لسانه اولایعرف التمیز لاتفسدوهوالمختارحلیه وفی البزازیة وهواعدل الا قاویل وهوالمختار (۳) وفیه قوله اوتخفیف مشدودقال فی الفتح عامة المشائخ علی ان ترک المدوالتشدیدکالخطاء فی الاعراب اه قلت وقدمرعدم الفسادفی الخطا فی الاعراب آتفاق الروایة الاولی . (۴) وفیه قوله وعکسه قال فی شرح المنیة وحکم تشدیدالمخفف کحکم عکسه فی الخلاف والتفصیل (۵) وفیه قوله اوبزیادة حرف قال فی البزازیة ولوزادحرفالا یغیرالمعنی لاتفسدعندهماوان غیرافسده بعداسطرلکن فی المنیة وینبغی ان لاتفسدثم قال اقول والظاهران مثل زرابیب ومثالین یفسد عندالمتاخرین ایضاً اذلم یذکروافیه خلافا. (۶) وفیه قوله اونقص حرفاامالن یغیرالمعنی اولافان غیرتفسدالی قوله وان لم یغیرلایفسد اجماعا.(۷) وفیه قوله اوبوصل حرف بکلمة – الخ قال فی البزازیة انه لایفسدوفی المنیة لایفسدعلی قول العامة (۸) وفیه بعد اسطروامّا قطع بعض الکلمة فافتی الحلوانی بانه مفسدوعامتهم قالوا لایفسد لعموم البلوی فی انقطاع النفس والنسیان وعلی هذالوفعله قصدا ینبغی ان یفسدوبعضهم قالوان کان ذکرالکلمة کلهامفسدافذکر بعضهاکذلک والافلاقال قاضیخان وهوالصحیح والاولی الاخذبهذافی العمدوبقول العامة فی الضرورة (۹) وفیه قوله اوبوقف وابتداء قال فی البزازیة الابتداءان کان لایغیرالمعنی تغییرافاحشالایفسدالی قوله وان غیرالمعنی لایفسد عندعامة المشائخ لان العوام لایمیزون (۱۰) وفیه قوله الاتشدیدرب عزاه فی الخانیة الی ابی علی النسفی ثم قال وعامة المشائخ علی ان ترک التشدیدوالمدکالخطا فی الاعراب لاتفسدفی قول المتاخرین (۱۱) وفیه قوله ولوزادکلمة اعلم ان الکلمة الزائدة امان تکون فی القران اولاوعلی کل امان تغیراولافان غیرت افسدت مطلقاوان لم تغیرفان کان فی القران لم تفسدفی قولهم والاتفسدوعندابی یوسف تفسد(۱۲) وفیه قوله اونقص کلمة قال فی شرح المنیة

وان ترک کلمة من اٰیة فان لم تغیرالمعنی لاتفسدوان غیرت فانه یفسدعندالعامة وقیل لا والصحیح الاول (۱۳)وفیه قوله اوقدمه قال فی الفتح فان غیرت فسدت والافلا (۱۴) وفیه قوله وکذالوکررکلمة قلت ظاهره ان الفسادمنوط بمعرفة ذلک فلوکان لایعرفه الی قوله ینبغی عدم الفسادوکذالولم یقصد شیئا(۱۵) وفی الدرالمختارکمالوبدل کلمة بکلمة وغیرالمعنی نحوان الفجارلفی جنات اه ای یفسد) ددغوروایتو نوځخه ځرگندیږی چه پرته دزیاتوالی اوکموالی دحرف یاکلمی یا تقدیم اوتبدیل دکلمی چه کله داتول دمعنی مغیروی په نوروتولو قسمونوکي توسع پیداکیږی

دوم امر: فی المقدمة الجزریة والاخذبالتجویدحتم لازم من لم یجود القران اثم

وهواعطاءالحروف حقها — من صفة لهاومستحقها

وردکل واحد لاصله — واللفظ فی نظیره کمثله

داول شعرځخه دتجویدوجوب اودوهم ځخه دصفاتورعایت اوددریم ځخه دمخارجورعایت دتجوید داهمیت کیدل ثابت دی نومجموعه پورتنیوروایتونواودی شعرونوځخه معلومه شوه چه جوازپه معنی د صحت دصلاة اوجوازپه معنی درفع اثم ، دواړه متلازم ندی،نه صحت دصلاة مستلزم درفع اثم دی اونه وجوددائم مستلزم دفساددصلاة دی دریم امر: (فی الدرالمختارولاغیرالالثغ به ای بالالثغ علی الاصح کمافی البحر من المجتبی وحررالحلبی وان الشحنة انه بعدبذل جهده دائماحتما کالا می فلایؤم الامثله ولاتصح صلوته اذاامکنه الاقتداء بمن یحسنه وفی ردالمحتاران یحن مایلثغ هوبه اویحسن القران وهذا مبنی علی ان الامی اذاامکنه الاقتداء یلزمه وفیه کلام ستعرفه ثم قال بعداوراق تحت قول الدرالمختار بخلاف حضورالامی بعدافتتاح القاری اذالم یقتدبه وصلی منفردافانهاتفسدفی الاصح اه مانصه وهو مخالف لماقبله الذی صححه فی الهدایة فان ماقبله شامل لمااذاشرعامعااوافتتح الامی اولاثم القاری اوبالعکس الی قوله والتحقیق الاول الذی فی الهدایة الخ) ددغوځخه د الثغ دامی په شان کیدل اودامی منفردالمونځ صحیح کیدل علی الراجح معلوم شول اوس دتحقیق نه وروسته دامورثلاثه مویده بالدلایل والروایات پوهیدل غواړی چه دحرفونوپه صحیح نه اداکولوکښی ابدال دحرف په حرف ده دکوم حکم چه دامراول دتحقیق په ضمن کښی دعبارت دخلاصی ځخه معلوم شوچه دمعنی دتقدیرپه صورت کي تعمداً دصلاة دفسادموجب ده.اوعدم تمیزیاجریان

اللسان په صورت کې مفسد نده،نوکوم خلک چه دمشق اوریاضت نشتوالی په وجه په هغوکښې تمییزښتی کولی دهغوی لمونځ صحیح کیږی اوپه همدې معنی معذوردی ، لاکن داضروری نده چه دعدم اثم په معنی هم معذور وی لکه څنګه چه په دوهم امرکښې بیان وکولی شو، بلکه په تصحیح کې کوښښ کول دده په ذمه واجب [1] ده اوظاهراًهمدامعلومیږی چه دصحیح اداءکونکووالا لمونځ دداسې سړی پسې صحیح ندی،هرکله چه په معنی کښې تغیر راځی،جوړ خپله په المعنی المذکور سره معذورګڼل کیږی اودقواعدو مقتضا داده چه په داسې خاص حالت کښې داسې قاری په لمانځه کې شریکیږی اود مقتدیانو لمونځ هم ددې غلط ویونکې پسې صحیح نه شو همغه شان چه ددریم امرڅخه مفهومیږی . لاکن داوینا چه که هغه د تصحیح کوښښ ونه کړنوخپله دهمدی سړی لمونځ صحیح ندی غلط ده لکه چه په دریم امرکې دی احقرتصریح کړی ده ، اوښکاره هم ده څکه په امی کښې چاندی ویلی چه که هغه سعی ونه کړی نودهغه لمونځ صحیح ندی ، نوهرکله چه دغه سړی دامی په شان دی نودهغه دعدم صحت صلاة کومه وجیهه وجه ندی معلومه،نودفساددصلاة حکم خماپه نزد مهرمؤول دی په کوم مناسب تاویل سره،وی به داکارچه په ظالین سره به لمونځ نه فاسدیږی په دالین سره کیږی،ددې مبنی داګڼل دی چه دظاء اوضادپه مینځ کې مشابهت دی،اودقاضیخان دجزئی څخه ددې موید کول اوددې بناء څخه داحکم کول چه هرځای کښې ظاء لوستل پکاردی داصحیح نده ، څکه په قاضیخان کې نورجزیبات دغه مبنی ورانه کړی لکه څنګه چه ماته یادیږی چه پدې کښې غیرالمغضوب علیهم اووالعادیات ظبحاًلوستلوته دصلاة مفسدویل شوی دغه وخت کتاب [2] موجود ندی ګنی په جزم به می لیکل کړی ؤ، لاکن داسې جزیبات په هغه کې بالیقین مذکوردي ، نوکه مذکوره مبنی صحیح ؤه نودی باب کښې تول مواردضادبرابربدی شی ، اوددې فرق کومه وجه نه وه نومعلومه شوه چه ددې کومه بله وجه ده کومه چه احقرخپلوخپلې [3] تحریراتو کې هم ذکرکړی ده ،اوپه دی صورت دفقهاؤ دعدم فسادحکم بالظاء کښی دی کله چه عمداً نه وی ، لکه چه وان لم یکن الابمشقة ویل خپله ددې دلیل دی اوکه عمداً وی نوپه فسادکې شبهه نشته لکه چه نور جزیبات دقاضیخان په همدې

[1] داولینی رابې ده چه دلستنباط په طورقائمیدله ددې نه وروسته فتوی چه ص۱۲۳باندې واقع دے هغه ته دی رجوع وکړی شی۱۲تصحیح الاغلاط ص.۲۰.
[2] دارروایتونه دغه باب التجوید داول سوال په خواب کی مذکوردے اوس جزم وشولو۱۲منه
[3] ددې نه مرادهمغه خواب داول سوال ددغه باب التجوید دے.

مبنی دی اوداول امرد تحقیق دخلاصی څخه ددې تصریح کیږی اوهغه عبارت مطلق دی په کوم حرف پدې مقیدندی دمذکوره تقریرڅخه معلومه شوه چه قصداً داسې ونه کړی، اوکه بلاقصدپه سبب دعدم مشق ولوستل شی،بیالې څه اداء وشی نوخپله دهغه لمونځ کیږی،لکن د صحیح خوان امامت دی نه کوی، بلکه صحیح خوان چه دضروریه مسائلوڅخه واقف وی احق بالامامت دی لکه څنګه چه تول کارونه دالله په فضل مفصل اومدلل لیکل شوی ددې تقریرڅخه اجمالاًداکثروسوالونوخوابونه ووتل مګرد سهولت لپاره دتولوپاتو سوالونو خواب فرادی،فرادی لیکل کیږی (۱)اداءالحروف من المخارج مع الصفات کمامرمن الجزریة (۲) دچاچه قدرمایجوزبه الصلاة یادنه وی هغه امی دی [1] اوپه کوم ترتیب چه عام خلک قرآن لولی داحکم په صحت دصلاة کښی صحیح دی . کمایفهم من الفتوی الآتیة (۳) کالامی [2] دی (٤) ندی اوندی (٥) کوم قاری چه دضروریه مسائلوباندې خبردی هغه په امامت کښی اقدم دی. (٦) خپله دهغه خولمونځ صحیح دی ، کمامرفی الامرالثالث البته دصحیح لوستونکې امام دی نه جوړیږی ، (۷)و(۸)و(۹)و(۱۰) دمسلم وجوب دی،اوددې دترک سعی کښی ګناه هم ثابته ده لاکن عدم صحت دصلاة غیر مسلم ده همغه شان چه په امرثالث کښی بیان واواول امرکښی روایتونه مذکورول اوپه دی خاطرچه دغه مسئلی اختلافی دی نودبعض روایتونو په اخستلوکې نه په قاری صاحب باندې ملامتی ده اونه په نوروباندې . (۱۱) چه ترڅوصحیح نه شی نوکالامی ده (۱۲)احتیاط جائز ده (۱۳)کله چه هغه د عدم صحت په روایتونو باندې عمل وکړنو دعصراو فجراعاده هم جائزده.والله اعلم وعلمه اتم ۲۱صفر ۱۳۲۲ھ(امداد صفحه ۱۱۷ج۱)

سوال :(۲۲٦)محترم المقام دکوم وخت نه چه احقردغه فتوی لیدلی ده کومه چه مولوی کفایت حسین صاحب دقراءت په باره کې دحضور والا څخه غوښتل شوی دهمدغه وخت څخه پریشان یم ، اګرکه حکم صاف دی مګردزړه دتسکین لپاره ددې متعلق څوکارونه معلومول غواړم کله چه دغه خبره قرارپیداکړی چه تجوید فرض دی اوخصوصا دحرف ضادد مخرج نه راویستونکې دامی په شان دی ، اوداسې سړی اقتداء کې قاری کوم چه دغه حرف له مخرج څخه راوباسی وکړی نودهیڅ لمونځ نه کیږی نواوس په داسې حالت کښی که دغه قاری په جماعت علماء کښی وای څه وکړی آیاهغه مطلع کړی مګرپه دی کښی سخته بی ادبی ده

[1] دغه جزیبات دغه باب التجوید داول سوال په خواب کی منقول دی ۱۲منه
[2] ددې نه په آینده فتوی کې رجوع کړی ده ۱۲تصحیح الاغلاط صفحه ۲۰.

اوصورت تعالی ده اوخپنوخایونوکې دفساد اندیښنه ده یااطلاع ورنکړی نوپه دی کې دفتوی موافق دتولولمونځ فاسددې یادی دغه سړی په جماعت کښې شریک نه وی اوترک د جماعت دی وکړی ، الغرض څه و کړی محترمه ماته تشویش لاحق دی هغه ډیرسخت دی چه په ژبه راویستل ئی ډیرمشکل دی ؟

جواب : ف الدرالمختارولاغیرالالثغ به ای بالالثغ علی الاصح الی قوله وکذامن لایقدرعلی التلفظ بحرف من الحروف اولایقدرعلی اخراج الفاء الابتکراروف ردالمحتارقوله علی الاصح ای خلافالماف الخلاصة عن الفضلی من انها جائزة لان مایقوله صارلغة له ومثله ف التاتارخانیة وف الظهیریة وامامة الالثغ لغیره تجوزوقیل لاونحوه من الخانیة عن الفضلی وظاهره اعتمادهم الصحة وکذااعتمده صاحب الحلیة قال لمااطلقه غیرواحدمن المشائخ من انه ینبغی له ان لایؤم غیره وکماف خزانة الاکمل وتکره امامته اتفاقاولکن الاحوط عدم الصحة کمامشی علیه المصنف وفیه بعداسطر (تتمه وسئل الخیرالرملی واماذاکانت اللثغة یسیرة فاجاب بانه لم یرهالائمتنا وصرح بهاشافعیة بانه لوکانت یسیرة بان یاتی بالحرف غیرصاف لم تؤثرقال وقواعدنالاتاباه اه ومثله افتی تلمیذالشارح المرحوم اسمعیل الحائک مفتی دمشق شامی ج۱ ص ۳۹۲مجتبائی ف العالمگیریة وان جری علی لسانه اوکان لایعرف التمیز لاتفسد وهو اعدل الاقاویل المختارهکذاف الوجیزلکردری .ددې روایتونوڅخه معلومه شوه چه په کوم ترتیب سره اکثره عوام اوډیرخواص هم قرآن لولی دداسې ډول لوستونکوهم دامامت امکان شته ، اودعموم بلوی په سبب په دی روایتونوباندې عمل کول جائزدی دهمدی لپاره خما په نزدپه مسئوله صورت کښی دفجرلمونځ کیږی . والله اعلم (امداد صفحه ۱۲۵ ج۱)

دعصرپه سورت کښی دامام دوعملوالصالحات دپریښودو حکم

سوال :(۲۲۷)تن دمغرب په لمانځه کښی پیش امام صاحب څخه په سورة عصرکښی وعملواالصالحات سهوآپاتې شونودې حالت
لمونځ وشواوکنه؟اوسجدة سهوة هم نده کړی که کړی وای نو آیا لمونځ کیږی ؟

جواب :په صورت مسئول کې دقراءت فرض خواداء شودهمدی لامله فرض لمونځ هم اداشو لاکن علاوه دواجب قراءت څخه دفاتحی سورت یو اوږدآیت یادری لنډآیتونه اداء نشول [۱] ځکه چه دآخری ایت دبعض اجزاؤ دپاتې کیدوسره آیت پوره نه شو ،لهذادواجبو پریښودل وشول چه دهغه تدارک په سجدی سهوی سره کیږی نواوس دغه لمونځ واجب الاعاده شوپه وخت کښې اعاده کولوسره بالکل مکمل لمونځ به ؤ . اوس هم دااحوط ده چه ټول لمونځ کونکې پوازی ، پوازی دغه لمونځ اعاده کړی والسلام ۲۰ محرم سنه ۱۳۳۲ھ (تتمه اولی صفحه ۱۰)

دیوه سورت څوبرخی کولوسره دلمونځ کولوحکم

سوال :(۲۲۸)خینې امامان چه دقرآن سورت په دوه رکعتونوکې دوه ټوټی کولوسره اداء کوی یادهرځای څخه رکوع لولی داسنت دی اوکه خلاف اولی دی یامکروه ؟

جواب : ف العالمگیریة الافضل ان یقراف کل رکعة الفاتحة وسورة کاملة ف المکتوبة فان عجزلان یقرالسورة ف الرکعتین کذاف الخلاصة ولوقرابعض السورة ف رکعة والبعض ف رکعة قیل یکره وقیل لایکره وهوالصحیح کذاف الظهیریة ولکن لاینبغی ان یفعل ولوفعل لاباس به کذاف الخلاصة ولوقراف رکعة من وسط سورة اومن اخرسورة وقراف الرکعة الاخری من وسط سورة اخری اومن اخرسورة اخری لاینبغی له ان یفعل ذلک علی ماهوظاهرالروایة ولکن لوفعل ذلک لاباس به کذاف الذخیرة ف الحجة لوقراف الرکعة الاولی اخرسورة وف الرکعة الثانیة سورة قصیرة کمالوقرامن الرسول ف رکعة وقل هوالله احدف رکعة لایکره کذاف التاترخانیة قراة اخرسورة ف الرکعتین افضل من قراة السورة بتمامهاان کان اخر هااکثرایة من السورة وان کانت السورة اکثرایة فقراءتهاافضل هکذا ف الذخیرة ج۱ص۹ ٤فصل رابع ف القراة) دلیکل شوی روایت نه معلومه شوه چه په مسئوله صورت کې بقول اصح مکروه نده مگر ددې خلاف

---

[۱] ددې فتوے مداریه دې دے چه دری لنډآیتونه پوره نشی لکن ددرمختاراوشامی وغیره دتصریحاتوڅخه داثابت دے چه ددری آیتونوپوره کول شرط ندی بلکه دوړونه دروآیتونوپه اندازه کیدل کافی دي دکوم چه مثال په درمختارکې په ثم نظرثم عبس وبسرثم ادبرواستکبر ورکړشوی اوددې نه وروسته ئی لیکلی دي وکذلک لوکانت الاية اوالایتان تعدل ثلاثاقصاراذکره الحلبی ، اوشامی دغه مزیده توضیح فرمایلی چه دې دری آیتونوکې دیرش حرفه دي که څوک داسې یویادوه آیتونه ولولی چه دیرش حرفه وي نوواجب اداشودهمدې لامله په مندرجه صورت دسوال کې اعاده واجبه نه معلومیږی والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۲بندے محمدشفیع

اعاده اولی ده اوکه احیاناوی نو درجه مسنون کې دی (لما رواه مسلم عن ابن عباس قال كان رسول الله ﷺ يقرا فی رکعتی الفجر قولوا امنابالله وماانزل الينا. والتی فی ال عمران قل یااهل الكتاب تعالواالی کلمة سواء بيننا وبينكم. مشكواة فصل اول من باب القراة فی الصلوة ۳محرم سـ۱۳۲۸هـ (تتمه اولی صفحه ۲۴)

په والعصرکښې والتين الخ:

سوال :(۲۲۹)په والعصرسورت کښې دوعملوالصالحات په ځای فلهم اجر غیرممنون څخه انتقال کولوسره سهواً دوالتين والزيتون سورت ختم کړی نولمونځ صحیح شویامعنی بدله شوه اوکنه؟

جواب :: صحیح شو ۲ربیع الاول سـ۱۳۳۰هـ

دمقتدی دشرکت څخه وروسته دبقیه قراءت دجهردوجوب ترجیح اوعدم وجوب اعاده دقراءت وروسته داتمام دقراءت

مقتدی دشرکت په سبب:

سوال :(۲۳۰)که کوم لمونځ کونکې اقتداء وکړه وروسته دلوستلودتولی اوجزء دفاتحی په وروسره نوفاتح دی په جهرسره اعاده کړی ، بحر الرائق داعاده کولووجه دالیکلی ده چه دبل داقتداء په سبب په دی باندې جهر واجب شو، اوس که یوازې پاتې قراءت په زورسره لولی نو په یوه رکعت کې ورواوکه ورواوپه زوره لوستل سره یوځای شی په داسې حال کښې چه داکاریدده نودجهردواجبیدلو څخه وروسته ورو لوستل ترک واجب ده لهذا اعاده په جهرسره لازمه ده، غاية الاوطار ، شامی په دی مسئله کې ډیر قيل اوقال کړی جنابه لږ شامی وګوری اوتحریروفرمایې چه دشامی قول درست دی اوکه دغاية الاوطاراوپه کوم صورت کې چه دالحمداعاده کولی شی نوسجدۂ سهویه کولی شی اوکنه؟ اوکه سجدۂ سهوه وکولی شی نوپه هغه کې داخدشه وی په دی صورت کښې دفاتحی سورت اعاده بالقصد ده اوسجدۂ دسهوی دسهوی په وجه کولی شی . مولوی عبدالشکور صاحب لکهنوی په علم الفقه کښې پدې صورت کښې سجدۂ سهولیکلی ده اودشامی دقول څخه هم سجدۂ سهو معلومیږی داخونی دسورۂ فاتحه په باره کې عرض کړی اوکه کوم سړی یوازې لمونځ لولی اودالحمدنه وروسته دسورت ختم هم وکولی شی په دغه وخت کښې چااقتداء وکوله نوڅه وکړی ؟ یاکه دالحمد دلوستلووروسته نی اقتداء وکړه نوڅه کړی ؟

جواب :ماشامی ولیدله دعدم اعادی اوجهربالباقی متعلق شامی دا لیکلی دی : وهواهل من لزوم الجمع بين الجهروالاسرارفی رکعة علی ان کون ذلک الجمع شنیعاغيرمطردلماذکره فی اخرشرح المنية ان الامام لوسهافخافت بالفاتحة فی الجهرية ثم) تذكرجهربالسورة ولا يعيدولو خلافت باية اواکثرىتمها جهراولايعيدالی قوله فدعوی انه ضعيف رواية ودراية غيرمسلمة فافهم ج۱ص۵۵۵ نوهمداخماپه طبیعت لګیږی اود شامی رایې هم ددې ترجیح معلومږی چه پاتې فاتحه [1]په جهرسره ولولی اوس په همدې ترتیب که په سورت لوستلوکې یی اقتداء وکړه نوخومره نورقراءت لوستل غواړی هغه دپه جهرولولی اوکه دقراءت دختمولوڅخه وروسته نی اقتداء وکړه نوبه کومه برخه ددې قراءت کښې جهرواجب ندی ۱۲/ذی الحجة ۱۳۳۱هـ (تتمه ثانیه صفحه ۹۹)

دلمانځه صحت وروسته متدارک دزلة القاری:

سوال :(۲۳۱)که چاامامن ثقلت موازينه فامه هاويه ولوست اوفوراً نی صحیح کړه لمونځ نی اداکړلمونځ نی صحیح دی اوکنه؟

جواب :: فی العالمگیریة ذکرفی الفوائدلوقرافی الصلوة بخطاء فاحش ثم رجع وقراصحیحاقال عندی صلوته جائزة وکذلک الاعراب « ج۱ص۱۰ قلت وکذلک سمعت شيخی مولنامحمدیعقوب رحمه الله . پس بناء علیه نمازاې کسی صحیح باشد .یکم محرم یوم الثلاثاء سـ۱۳۳۴هـ (تتمه رابعه ص۴)

دهرلمانځه لپاره دسورت دتعینوالی کراهت:

سوال :(۲۳۲)لکه څنګه چه دسورت تعین په فرائضوکې مکروه دی آیاپه نفلونوکې هم مکروه دی اوکنه؟

جواب :فی العالمیگیریة ویکره ان یوقت شیئامن القران بشیء من الصلوة الخ ج۱ص۴۹ ددې روایت نه معلومه شوه چه فرائض اونوافل په دی حکم کې یوشان دی یکم محرم سـ۳۴هـ (پورتنی حواله)

[1] اوداتول هغه وخت دے چه داشخص دامامت کیدونیت هم وکړی اوکنه نوکه اوس هم ځان منفردوګنی نودامامت احکام چه په هغوکې جهردقراءت ده دباندې به واجب نه وی اودمقتدی لمونځ به هم صحیح وي چه دمقتدی دلمانځه دصحت لپاره دامام نیت شرط نده ۱۲منه

دخيني قرانيه غلطيوحكم په لمانځه كي:

سوال :(۲۳۳)داعرض دی چه ددې مسائلوخواب ارشادوفرمايې (۱) يوسړی دميثاقه الذی واثقكم په ځای چه دمائدی سورت دوهمی ركوع كښی دی ميثاقه الذی واثقكم په تراويح كې ولوستله اوس دالمونځ جائزدی اوكنه واوعاطفه ګټل په همزه باندې زورولوستل شی ؟
(۲) يوسړی دانعمت عليهم په ځای انعمت عليهم دزوربه ځای پيښ ولوست بياچه كله الحمدپوره شوه ده ته ياده شوه دياديدلو په سبب يې دانعمت په تاء باندې زورولوسته اوس دالمونځ جائزدی اوكنه ؟ مهربانی كولوسره تحريروفرمايې ؟

جواب :اولنی غلطی دمعنی مفسده نده بلكه دلفظ بې معنی كونكې دی دهمدی پخاطرلمونځ وشواودوهم ځای دمعنی مفسددی،خوكله چه ددې[1] تدارک وكولی شونوكالعدم شوه .دهمدی په خاطر پدې كې هم لمونځ وشو.داخواب می دقواعدو څخه ليكلی،جزئيه مې نده ليدلی، بهتره ده چه كوم محقق هم ويوبنتل شی ۲/ربيع الاول ۱۳۲۹ھ(تتمه خامسه صفحه ۱۸۲)

ليری كول دهغې شبهې چه مسافرمقتدی په ذمه باندې دقراءت نشتوالی باندې وارده ده په نورلمانځه كې:

سوال :(۲۳٤)كله چه مقيم يامسافرامام سلام ګرځوی نوباقی پاتې لمونځ والا مقتديانو دامام سره اود امام دهغو مقتديانو سره هيڅ تعلق پاتې نه شوځكه چه دسلام دګرځولو څخه وروسته امام چه څه غواړی هغه كولی شی دامام دفعل دمقتديانو باقيمانده لمانځه كې كوم دخل اواثرنشته.اوكله چه دامام دسلام ګرځولونه وروسته په مقتديانو باندې په باقيمانده لمانځه په ركعتونو كې دالحمد اوسورت لوستل لازم دی، اوپه حديثونو كې واردده چه كوم ركعت كې چه الحمدونه لولی هغه ركعت نده اګركه دغه حديث دامام اومنفردپه حق كې دلمانځه دتكميل لپاره دی لاكن بيا دكوم سبب لامله دی چه دمسافرامام دسلام ګرځولو نه وروسته ، دوه يايو ركعت پاتې والا مقتدی په خپلوباقی پاتې ركعتونوكې الحمداوسورت نه لولی اودری ياڅلور ركعت پاتې والامقتدی ياهيڅ ركعت پاتې نه والاقعدی نيونكې مقتدی په

[1] داحكم دمقدمينوظابطی مطابق ده،اومتاخرين خودمعنی مفسدونكې زيراوزورغلطی هم دلمانځه مفسدنه ګرځولی ۱۲ محمدشفيع

خپلو باقی ركعتونو كې الحمداوسورت هرومرولولی دنه لوستونكې والا دلمانځه دصحيح كيدلو دليل دصحيح حديث څخه ليكل وفرمايې؟

جواب :ددې لپاره چه دمسافرامام دسلام نه وروسته مقيم لاحق دی اولاحق دمؤتم په منزله دی نودهمدی لامله ددی حكمونه به دمؤتم په شان وی،فی الدرالمختارفی احكام اللاحق وحكمه كمؤتم فلاياتی بقراة ولاسهوولاتغيرفرضه بنية اقامته ويبدا بقضا مافاته عكس المسبوق، اودمؤتم قرائت نه ويل دحديث څخه ثابت دی اودلاحق دمؤتم په شان كيدل دصحيح قياس څخه ثابت دی اول دجمادی الاولی ۱۳۲۲ھ(امدادصفحه ۱۵جلد۱)

كراهت دجداې په واړه سورت سره اوقرائت بلاترتيب بې دلزوم دسجدی سهو:

سوال :(۲۳۵)كه دكافرون سورت دلوستلونه وروسته اناعطينا ياالايلاف وغيره ولولی نوخلاف دترتيب قرآنی لوستلوكې لمونځ كيږی اوكنه ؟ اوكه سجده سهووكړی نوكراهت له مينځه ځی اوكنه؟ (۲) په اول ركعت كې بې اناعطينا اودوهم ركعت كې اذاجاء ولوستله نولمونځ مكروه كيږی اوكنه ددې لپاره چه هغه وړوكې سورت ... يو يې په مينځ كې پريښودوسره اداء كړ د په سجدی سهوی كولوسره د لمانځه كراهت له مينځه ځی اوكنه ؟ (۳) په اول ركعت كې وړوكې سورت ولولی اودوهم كې لوی سورت ولولی نولمونځ مكروه كيږی او كنه ؟اودسجدی سهوی سره لمونځ ټيک شويعنی كراهت له مينځه ځی اوكنه ؟

جواب : (۱) فی الدرالمختارفصل القراة ويكره الفصل بسورة قصيرة وان يقرء منكوسا) ددې نه معلومه شوه چه لمونځ وشو اوسجدهٔ سهولازمه نده خصوصاكله چه بلاقصده وی نوكراهت هم نشته، لماقی[1] الردقوله ثم ذكريتم افادان التنكيس والفصل بالقصيرة انما يكره اذاكان عن قصدفلوسهوفلاكمافی شرح المنية اه ص۵۷۱(۲) فی الدرالمختارويكره الفصل بسورة قصيرة فی ردالمختاراما بسورة طويلة بحيث يلزم منه اطالة الركعة الثانية اطالة كثيرة فلايكره شرح المنية) ددې نه څرګنده شوه چه وړوكې سورت چه په مينځ كې پريښودل مكروه دی نوهغه كې شرط داده چه متروكه سورت داول سورت څخه لوی نه وی كنی مكروه ندی اوچون مسئوله[2] صورت كې متروكه سورت يعنی دالكافرون سورت دالكوثرنه لوی دی دهمدی لپاره داترک

[1] دلته دتصحيح الاغلاط ص۱۰ څخه په عبارت كې اضافه وكولی شوه.۱۲
[2] دلته هم تصحيح الاغلاط صفحه ۱۰ څخه دعبارت ترميم وكولی شو۱۲ محمدشفيع عفی عنه

مکروه ندی البته ددوهم رکعت اوږدوالی دکراهت موجب شوکمافی الدرالمختار ایضا واطالة الثانیة علی الاولی یکره تنزیها لاکن سجدهٔ سهو لازم نده (۳) مکروه په معنی دخلاف سنت ده لمامرفی الجواب عن السوال الثانی لاکن سجدهٔ سهوواجب نده والله تعالی اعلم وعلمه اتم ۲ذی الحجه ۱۳۲۳ھ (امدادصفحه ۲۸ ج۱)

تحقیق دراګرځولودسورت په ورستنیوکي په وخت دسهوپه اولینوکي

سوال :(۲۳۶)دماسپښین په لمانځه کي سهوأپه ابتدایي رکعتونوکي دضم دسورت څخه قاصرراغی لاکن په اوله قعده کي ده ته پته ولګیده اوس په پاتي دوه رکعتونوکي هغه قصداً ضم دسورت ونه کړ اودایي وګڼله چه اوس څه ضرورت دی ، سجدهٔ سهوبه وکړم لکه چه سجده سهو یې وکړله تولمونځ وشواوکنه ؟ اودسهوی نه وروسته په خآلی رکعتونوکي داعادی په طورضم کول دسورت واجب ؤوکه څنګه ؟

جواب :فی الدرالمختارولوترک سورة اولیی العشاء مثلاولوعمد اقراهاوجوباوقیل ندبامع الفاتحة جهراف الاخرین الخ فی ردالمحتارتحت قوله مثلازاده الی قوله ولیعم الرباعیة السریة فانه یاتی بهافی الاخرین ایضاً افاده (ط) والماخص المصنف العشاء بالذکرلمکان قوله جهراالخ وتحت قوله وجوباوقیل ندباً بعد بحث طویل والحاصل ان اختیارصاحب الفتح والبحروالنهرالندب لانه صریح کلام محمد) ص۵۷۸ وص ۵۵۵ ددینه څرګنده شوه چه اخیرینن کي ضم دسورت مستحب وو ، که وی نه کړنودلته هم درست ده اوپه دواړوحالاتوکي سجدهٔ سهوشته، لترکه تعیین الاولیین للسورة وکان واجبا ۱۰رمضان ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه صفحه ۷۴)

په لمړی رکعت کي د(الاعلی) اوپه دوهم سورت کي دالغاشیه سورت د لوستلوحکم په داسي حال کي چه ایاتونه زیات دی

دغاشیه سورت ایتونه زیات دی:

سوال :(۲۳۷)په سوره اعلی اوسورة الغاشیه دی دواړوکي دسورهٔ غاشیه آیتونه داعلی دسورت نه زیات دی په لمانځه کي ددي دواړو دلوستلو څخه څوڅه قسم کراهت نشته ؟

جواب :[۱] لکونه ماثور افیستثنی من الکراهة ۲۳/رجب ۱۳۴۹ھ

فصل فی التجوید

دضاداوظاء تحقیق:

سوال :(۲۳۸)خلکوپه قران شریف کي دضادپه لوستلوباندي بیل بیل لاری اختیارکړی دی،ډیرخلک دوادوائی،ډیرخلک ضفادال وائی،ډیر خلک ظایازاء وائی ، ډیرخلک عجیبه ګډوډی کوی ،چه څه ځای دواد وائی اوڅه ځای ضفادال لولی اوددي ګډوډ کونکو والاو تعدادپه دنیاکي ډیرمعلومیږی،همداخلک دی چه خپل لوستل دحنفیانو موافق ګڼی ،نورلوستونکي په خپل ګمان غیرمقلد پیژنی ، په دی کي شک نشته چه ضادته ظاء ،یازاء یاذال ویل ټول غلط دی ، خوکوم سړی ئی چه په کوم ترتیب لولی هغه دتجوید دقواعدو موافق ګڼی اوپه نوروطریقوسره لوستونکوته په غلطی باندي وایي،اودهغوی لمونځ فاسدګڼی دعوامو څخه شکایت نشته،ددي بیچاره ګانو خوشیین اوقاف پوري درست نه وی،نن صبادغه بلاء په نوروعلماؤکي ګورم ، اعراب ډیرځای معروف وائی اوډیرځای مجهول ،وقف کوی اونفس نه بندوی، اظهار اواخفاء بیخی نه کوی ،دترقیق اوتفخیم دنامه څخه په بنهٔ ترتیب واقف ندی،دقلقلی اواستعلاء حرفونووغیره کوم یوڅخه خبرندی،په همدي داحال دی چه یوه ډله دبلی ډلی لمانځه ته باطل وائی او تولـه جګړه بالاخره یواځی دضاد په سر راځی ،په کوم ترتیب چه دضاد ،ضادلوستل دتجوید دقواعدو سره موافق دی په همدي ترتیب نوری خبری هم دی،مګرداخبره په پوهه کي نه راځی چه نوروخبروکي ولی جګړی نشی کولی؟څیني علماء دافرمایي چه حرفونه د هغودمخارجونه اداکول پکاردی اوبس داخبره هم په طبیعت نه لګیږی ځکه چه په کوم ترتیب چه حرفونه دخپلو مخارجونه اداء کول ماموریه دی په همدي ترتیب دتجویدنوری خبری هم ماموریه ډی ،بیایوازی یوی قاعدی باندي عمل کول اودنوروپریښودو سره لمونځ څنګه صحیح یاکامل ګرځی شایدددواړو ماموربه کیدوکي څه فرق وي په کوم چه زه نه پوهیږم بعض حضرات فرمایي چه دضادپه دوادیلو باندي اجماع شویده داخبره خماپه طبیعت نه لګیږی ځکه چه دبعض ماهرین فن څخه مي اوریدلی دی چه

---

[۱] داسوال اوځواب النورمحرم ۱۳۵۰ھ څخه لیکل شوي دي کي څونوری نمبري هم وي چه دهغه تبویب کي چه پل ځاے کي راتلل مناسب و ،همالته درج کیږی ۱۲ بنده محمدشفیع عفی عنه

هغوی دوادنه لوستلو.بعض حضرات درتل القران ترتیلاځخه دفن تجوید زده کول وجب فرمایلی دی که داخبره صحیح دی نولوی مشکل دی دلکهاولمونځونه برباد دی اوبربادیږی اوبربادبه وی.ځکه دافن سخت مشکل دی،حضرات علماؤکې کله دوه ځلورمجود راووځی.مگرهغه خلک چه واجب فرمایې دایې ندی ویلی چه څه مقداردواجب دی،ځینې په زورکې راغلی دایې ویلی دی چه دحرفونو دمخارجو څخه اداءکول دومره مقدارواجب دی، لکن ددې څخه که پدې خبره باندې کوم نقلی دلیل طلب کړی نو فضول خبری جوړی کولی شی دځپلې ذاتی رایې نه بغیرهیڅ ځواب نه جوړیږی امید کوم چه دضاد متعلق چه څه عرض کولی شی په دقت سره ملاحظه فرمایلوسره کافی شافی ځواب مرحمت شی ترڅوقلب ته تسکین وشی اودهغه مطابق اعتقاد اوعمل وکولی شی ؟

جواب :فی[۱] فتاوی قاضیخان (وان ذکرحرفامکان حرف وغیر المعنی فان امکن الفصل بین الحرف من غیرمشقة کالطاء مع الصاد فقرا الطالحات مکان الصالحات تفسدصلوته عندالکل وان کان لایمکن الفصل بین الحرفین الابمشقة کالظاء مع الضاد والصاد مع السین والطاء مع التاء اختلف المشائخ فیه قال اکثرهم لاتفسدصلوته اه وفیهاایضاولوقراوالعادیات ظبحابالظاءتفسد صلوته اه وفیهاوکذا لوقراغیرالمغضوب علیهم بالظاء وبالذال تفسدصلوته ولوقراالدالین بالدال لاتفسدصلوته ولوقراالدالین تفسدصلوته اه ولوقرا ونخل طلعهاهضیم قرء بالظاء وبالذال تفسد صلوته اه وفیهاایضاولسوف یعطیک ربک فترضی قرافترظی بالظاء تفسدصلوته اه وفیهاکید هم فی تضلیل قرابالظاء بعضهم لاتصح اه وفیهاومن یضلل الله قرابالظاء لاتفسدصلوته اه وفیها الذی فرض علیک القران قرء بالظاء تفسدصلوته اه وفیها اذاضللنا قرء بالظاء ظللنا لاتفسدصلوته وهو قراة فمن فرض فیهن الحج قرابالظاء فرظ وبالذال تفسدصلوته اه) دغورروایتونوکې دتدبر کولونه وروسته څوکارونه معلومیږی (۱) یوداچه دلمانځه فسادهغه وخت وی چه کله

---

[۱] په دې ځای کې داخبره هم په یادساتلوده چه ضاددوادااوظاءدوارویه ترتیب لوستل غلط لکن دظاء په لوستلوکې علاوه دمفسده غلطی څخه بوه لویه مفسده داده چه د دې کې تشبه بفرق ضاله مثل روافض وغیرمقلدین اودهغوداتباع ده،په خلاف ددوادچه پدې کې یوازې مفسده غلطی ده.دهمدې لامله دعاجزلپاره په حکم داذابتلیت بیلیتین فاخترأهونهماددوادلوستلواجازه ورکول کیږی اودظاء لوستونکی بندول پکار دی ددې څخه ددې لاز هم معلومیږي چه خلک ضادپه ظاءباندې لوستونکوباندې زیات ملامت کوی اوداسې کولو باندې شوروشغب کولی شی ۱۲والله اعلم (تصحیح الاغلاط ص۱۸)

بلامشقت په دوه حرفونوکې تمیزوکړی اوضالین په دال لوستلو مفسد دصلاة په همدې بناءده اوبنکاره ده چه په کوم ترتیب اکثرخلک ضالین وائی هغه دال ندی دکوم چه امتیازممکن دی البته که کوم شخص خالص دال وائی نودده لمونځ ته فاسد ویل کیږی ،اوپه کوم ترتیب چه اکثراددې لوستل تعارف دی اگرکه دمشق دنه کولوپه وجه هغه صحیح نده مگرصحیح حرف اوریدونکې والا دغه امراوچتولی شی چه داطریقه مشهوره دهغه مشابه ده په دی ترتیب چه دواړوترمینځ تمییزشاق دی حتی چه کوم سړی چه ضاد دصحیح مخرج څخه مشق کول غواړی اوهغه دلوستلوسره اوریدل غواړی ،هغه داداء کولوپه وخت کله کله ددې مشهوری طریقی اداءکولوسره ناست وی ،اودواړوکې ددې تمیزمشکل وی دهمدی لامله دغه مشهوره طریقه په دال کې داخلولو سره مفسد دصلاة ویل بعیده ده.

(۲) دوم کاردامعلوم شو چه دضادپه ځای دظاء ویلوته مفسدصلاة عندالاکثرنه ویل علی الاطلاق ندی بلکه داهغه وخت دی چه کله بلا عمد وی گنی داهم مفسدصلاة ده گنی په والعادیات ضبحا او مغضوب علیهم اوهیم اوفترضی ،اوفرض کې دظاء لوستلوته مفسد دصلاة نه دی ویل شوی لکه چه مدار دعدم فساد یې عدم امکان الابمشقة رامخی ته کول ددې دلیل دی ځکه عمداً یې هغه لولی چه بلامشقة یې فصل کولی شی نوددی حاصل داشوچه دکوم سړی لپاره بلامشقت جدائی ممکن نه وی اوهغه دضاد لوستلوقصدکوی مگر ظاء راوځی ددی لمونځ صحیح کیږی اودده دتعمداجازه دفساد صلاة مذکوره جزئیات ردکوی (فافهم) (۳) دریم کار دامعلوم شو چه په ولا الضالین کې دظاء لوستل چه مفسدندی ددې داساس نده چه دضاد په ځای عمداً دظاء لوستل جائزدی گنی دمغضوب علیهم اوضالین تر مینځ څه فرق وچه په مغضوب علیهم کې خوظاء ته مفسدویل کیږی اوپه ضالین کې غیرمفسد ،بلکه ددې مبنی داده چه په ضالین کې د معنی فساد نشته اونه وی لکه څنگه چه دقاموس څخه معلومیږی چه ظل په ظاء سره معنی لیل اوجنح الیل اوسوادالسحاب هم ده نود ظالین معنی مثلا داخل فی الظلمات کیږی چه دضلال بالفساد حاصل دی یا به داد افعال ناقصه ظل یظل څخه وی په معنی دالکائنین اوخبریه مقدروی فی ضلال یافی غضب بقرینة مغضوب علیهم لکه څنگه چه په اذاظللنا یابالظاء په قرائت کې به هم همدا توجیه وی لکه څنگه چه په راتلونکې کې مذکورده همداوجه ده چه قاضیخان په والعادیات ضبحا وغیره کې ظاء ته مفسدویلی دی ،اوکوم کوم ځای چه دضلال ماده راغلی ده لکه ومن یضلل الله اواذاظللنا هغی ته یې غیرمفسدویلی دی گنی ددې هیڅ سبب نشته چه هرځای کې فساد

دغی مادی پورې خاص کولی شی لکه چه په اذاظللناکې خپله هم ظللنایو قرات په ظاء هم نقل کړی دی ددې نه واضح معلومه شوه چه ددې قراءت دمراعات ځخه هرځای کې په دی مادی کې دمعنی دصحیح کیدلوتاویل کولی شی په همدې ترتیب مفسدندی ویل شوی او اګرکه چه تضلیل کې چه ددې مادی ځخه دی دبعضو دلاتصح قول نقل کولی شی مګرددې قول دخپل طرف ته نه منسبول بعض مجهول طرف ته منسوب کول خپله قرینه ده چه دا دده مختار نده نوپه مذکوره بناء باندې دلته هم ارجح عدم فساد کیدلی شی فتدبروتشکر اودتجوید مقدار واجب یوازی تصحیح دحروفو اورعایت دوقفونودی پدې ترتیب چه دمرادتغیرونه شی اونو، مستحسن «فی فتاوی قاضیخان وان تغیرالمعنی تغیرافاحشا نحوان یقرء لااله ویقف ثم یبتد بقوله الاهوالی قوله قال عامة العلماء لاتفسدصلوته لماقلناوقال بعضهم تفسدصلوته اه قلت الاختلاف فی الفساد یوجب الوجوب، په همدې اساس اکثره خلکو داواجب حاصل کړی اودیرتارکین هم دی خودهغوی لمونځ هم داکثروعلماؤپه قول کیږی ، البته ددا سې خلکودامامت ځخه احتراز واجب دی فی فتاوی قاضیخان فان کان لاینطق لسانه فی بعض الحروف الی قوله لایوم غیره کذاالرجل اذاکان لایقف فی مواضع الوقف اه» والله اعلم ۱۸ربیع الاول ۳۲۱ھ (امداد صفحه ۱۰۸ج۱)

سوال :(۲۳۹)دضادپه ځه ترتیب لوستل پکاردی اوداکثرفقهاؤقول ځه دی؟ اواکثره کتابونوددينيات کې ددې ذکرځنګه لیکل کیږی ؟

جواب :فی الجزرية والضادمن حافته اذولی الاضراس من ایسا ویمنا هاهرکله چه مخرج معلوم شونود ضاد داداءکولوطریقه همدا ده چه ددی د مخرج ځخه راوویستل شی ددې راویستلو ځخه چه دعدم مهارت په سبب برابره ده لړ راووځی عفوه ده اوکه قصداً دال یاظاء ولولی هغه جائز نده لکه ځنګه چه ددال لوستل نن عادت ګرځولی دی ،او د ځینوفقهاؤ په کلام کې دالیدل چه ضاد دظاء سره مشابه ده دظاء لوستل بې شروع کړی پداسې ځای کې چه دمشابهت حقیقت یوازی مشارکت فی بعض الصفات دی، اوداشتراک فی بعض الصفات ځخه دذات اتحاد نه لازمیږی کیدی شی چه دقاضیخان ددې جزئې ځخه چه لوقراوالاالظالین لاتفسدصلاته دظاء لوستل پوهیدل اخستل د قاضیخان نوری جزئې ددې ردکوی «وهی هذه لوقراوالعادیات ظبحا بالظاء تفسدصلوته اه وکذلوقرء غیرالمغظوب علیهم بالظاءاو بالذال تفسد صلوته وامثال ذلک من الفروع المتعددة» والله اعلم ۱۰ربیع الثانی ۱۳۲۲ھ (امدادصفحه ۱۳۲ج۱)

سوال :(۲۴۰)دمخدوم مکرم جناب مولنادام مجدهم په خدمت کې دمسنون سلام نه وروسته التماس دی چه خوار دالله په فضل په خیریت دی اودتاسو دمزاج خیریت غواړی دلته دضاداوظاء ډیره جګړه ده یوه ډله ضادلولی اوبله ډله ظاء اوپه دی کې دومره غلوده چه یودبل پسی لمونځ نه کوی، ضادوالادډیروفقهې روایتونوموافق دظاء لوستلو ځخه لمونځ فاسدګنی اوظاء والادضادحرف محض یوغلط حرف او دعوامو راجوړکړی حرف ګڼلوسره دلوستونکو پسی بې لمونځ نه کوی ، تاسو خپله هم عرب لیدلی چه ټول ضاد لولی اوڅوک ظاپیژنی هم نه ، بیادغه هم نه دی چه عوام اوناخبره لولی بلکه واقفین دفن بې هم ضاد لولی لکه ځنګه چه اکثرقراء دعرب اومصروغیره بې همداسې لولی ،استاذ عبدالله قاری صاحب چه ددې فن ځخه په ښی طریقی سره واقف دی،دهغه په خدمت کې پاتې کیدل اتفاق راپیداشواو لږه مشغولتیادتجویدهم وه، هغه هم ضاد لولی،په عربوکې پدې معاملی باندې کومه جګړه نده پیدا شوی دلته راتلوسره می داجګړه ولیدله، نودقراءت اوصرف وغیره کتابونودلیدلواتفاق وشو، چه دهغه ځخه په طبیعت کې یوه اندیښنه ده ځکه چه داکثرکتابونودفقهې اوقراءت ځخه معلومه شوی چه دضاد صورت دظا اوزوغیره سره مشابه ده اوپه کوم ترتیب چه مونږ اوعرب اوغیره لولی ددې ثبوت په صحیح طور نه معلومیږی ددې لپاره چه اکثره کتابونودفقهې قاضیخان وغیره کې لیکل شوی چه کوم دوه حرفونو په مینځ کې تمییزمشکل وی لکه ضاد اوظ ددوی ځخه که یودبل په ځای ولوستل شی نولمونځ صحیح کیږی ،ددې ځخه هم معلومیږی چه ض په صورت کې دظ مشابه دی اوددې صحیح تلفظ ضاد دی، بیاهغه په کتابونو دفقهې کې داهم لیکل شوی چه ډیروځایونوکې دض په ځای ظ یادظ په ځای ض ولوستل شی نولمونځ نه کیږی ،ددینه معلومیږی چه دواړه بالکل مغائر دی،اوپه ظاهرکې دتعارض صورت معلوم شو،مګر ددې خواب خوداپه ذهن کې راځی چه دعدم جواز صلاة هغه ځای کې دی چه کوم ځای کې په معناګانوکې فاحش تغیروی ،اوکوم ځای کې چه تغیر نه وی هلته لمونځ صحیح دی، بیادقراءت کتابونه ولیدل شول نوصفا معلومیږی چه ظ اوضادکې ډیرصفتونه مشترک دی دضادپه حرف کې استطالت شته اوپه ظ کې نشته،نورپه مطبقة اومصمة،او مستعلیه رخوه اومجهوره کیدلوکې دواړه شریک دی ،په خلاف ددال دکوم چه ض مشابه لوستل کیږی چه دض اودال ترمینځ اکثرصفتونه مخالف دی ددینه هم معلومیږی چه ض اوظ قریب المخرج اومتحد الصوت دی،اګرکه دمتحدالمخرج کیدلوځخه دصوت اتحادنه لازمیږی خودقراءت دانموږدتصریحاتومتحدالصوت کیدل معلومیږی مثلاً په

رعایاکې چه دابومحمدمکي تصنیف دی مذکور دی ، الضادحرف یشبه لفظه فی السمع بلفظ الظاء الخ ، بیادضاد چه کوم مخرج لیکل شوی چه دحافه دژبی له اضراسوسره له لګولونه راووځی چه دلام مخرج ده په صحیح ډول باندی دمخرج څخه راووځی نو ظاء راووځی نود ضادپه صفاتوکې پرورخوت هم ده ،دغه خای هم ضاد راوځی ض که راووځی نواطراف لسان دثنایای علیانه جداکیږی .لکه څنګه چه نورحروف درخوه مثلاً ز،ظ ،س ، زعیرخ کې بلکه دض په اداءکولوکې اواز بندیږی اودشدیدی په طور اداء کیږی ، پخلاف ددې چه څه وخت ظا داداء کولی شی یعنی همزهٔ مفتوحه ددې سرکې لګولوسره چه دمخرج دمعلومولوطریقه ده اواز راوځی ،نوپه دی کې رخوت یعنی جریان داواز همغه شان وی ددینه هم معلومه شوه چه ضاد په اواز کې دظ مشابه ده بیارعایه کې لیکل شوی دی (فلیحفظ بترقیق الذال فی اللفظ فان دخلهاتفخیم فیؤدی الی الاطباق فیصیرعندهاظاء اوضادالاهااخت الظاء فی المخرج وقریبة من الظاء) ددینه معلومیږی چه ض، اوذاوظاپه صورت کې مشابه دی په تفسیرکبیرکې لیکل شوی دی (الا انه حصل فی الضاد انبساط لاجل رخاوتهاوبهذه السبب یقرب مخرجه من مخرج الظاء) شاه صاحب په تفسیرعزیزی کې فرمایې پوه شه چه فرق دظاء اوضاد دمخرج ترمینځ ډیرمشکل دی په شرحه دقصیدی نونیه کې دی (لان الظاء تشارک الضادفی الاوصاف المذکورة غیرالاستطالة فلذلک اشتدشبهة به وعسر التمییزواحتاج القاری فی ذلک الی الریاضة لاتصال بین مخرجیهما بیابې په تمهیدکې لیکلی دی لولاالاستطالت واختلاف المخرجین لکانت ظاء، په بل خای کې وائی : فمثال الذی یجعل الضادظاء کالذی یبدل الصاد سینا) اوپه همدې شان دامام محمد مرعشی په رساله اوجهدالمقل اورعایه کې صفاتصریح ده چه (الضادوالظاء والذال والزاء المعجمات الکل متشارکة فی الجهرو الرخاوة متشابهة فی السمع)په شعله شرح دشاطبی کې بې لیکلی دی (ان هذه الثلاث ای الضادو الظاء والذال متشابهة فی السمع والضاد لاتفترق عن الظاء الاباختلاف المخرج وزیادة الاستطالة فی الضادولولاهما لکانت احداهماعین الاخری) ددې ټولوڅخه واضحه معلومیږی چه دض اوازدظاء سره مشابه ده په کوم ترتیب سره بې په موږ لولو کوم ته چه دال مطبقه ویل پکاردی ددې ذکرپه کم کتاب کې نشته دی دطوالت دخوف څخه می ډیر دلایل پرینبودل ګنی ډیری صفاطریقی سره دټولوکتابونوڅخه معلومیږی چه دض اواز دظاسره مشبه دی ،شاه صاحب په تفسیرعزیزی

تحریرفرمایې : پوه شه چه دضاد اوظامخرج کې فرق ډیرمشکل دی ، داشکال هغه وخت کیدای شی چه کله ض دظامشابه ولوستل شی اوکوم ترتیب چه ددې لوستل مشهوردی که په دی ترتیب ولوستل شی نوفرق کول ذره مشکل هم ندی،شیخ جمال مکي په خپله فتوی کې لیکې چه ضاد ظالوستل لغت داکثراهل عربو ده امام رازئي په تفیسرکبیر کې فرمایې (فثبت بما ذکرناان المشابهة بین الضاد والظاء شدیدة وان التمیزعسیرواذاثبت هذا فنقول لوکان هذا الفرق معتبر الوقع السوال عنه فی زمان رسول الله ﷺ اوفی ازمنة الصحابة لاسیماعنددخول العجم فی الاسلام فلمالم ینقل وقوع السوال عن هذه المسئلة علمنا ان التمیز بین هذین الحرفین لیس فی محل التکلیف انتهی مختصرا)ددینه ښکاره معلومیږی چه دظ اوض دفرق کولوڅه ضرورت هم نشته امام غزالی په احیاالعلوم کې فرمایې : (وفرقة اخری تغلب علیهم الوسوسة فی اخراج حروف الفاتحة وسائر الاذکار من مخارجهافلایزال یحتاط فی التشدیدوالفرق بین الضاد والظاء وتصحیح مخارج الحروف فی جمیع صلوته لایهمه غیره ولایتفکر فیماسواه ذاهلاعن معنی القران الخ) ددې نه معلومیږی چه داخبره کومه نوی نده بلکه علماء تل ضاد دظاء مشابه لولی اودی کې فرق کول بی فائدی بولی دغه مروج ضادکوم نوی ایجاد ده په مخکینو کتابونوکې ددې هیڅ پته نشته آخردا دکوم خایه راغله اوبیاټول امت په دی غلطی کې څنګه مبتلاء شول عامیانه خواب خوداکیدلی شی چه ټول عرب اومکي اومدینی والاپه همدې ترتیب لوستل کوی،مګر یومحقق انسان ددومره زاړواونوو کتابونو دتصریحاتوسره دغه خبره څه قسم منلی شی خصوصاپه دی وخت کې چه دعربانوژبی ډیری خرابی دی اودقاف په خای ګاف اوپه همدې ترتیب ډیرغلط الفاظ وائی ، اګرکه عربان په قران شریف کې غلطی نده کړی .مګردترکانوڅخه می خپله اوریدلی دی چه په قران شریف کې هم دک په خای چه وائی که مروجه ضاد صحیح وی نوددې څه معنی؟ دنشرصاحب لیکلی دی ، لیس فی الحروف مایعسرعلی اللسان مثله فان سنة الناس فیه مختلفة وقل من یحسنه فمنهم من یخرجه ظاء ومنهم من یخرجه بالذال الخ) داالدیښنه هغه وخت وی چه څه وخت دض مشابه ظاء ولوستل شی ګنی دضادپه لوستلوکې ذرهٔ هم اندیښنه نشته ، دجهدالمقل والا وائی : (منهم من یجعلهاظاء الضادالخ هذالیس بعجیب لثبوت التشابة وعسرالتمیز بینهمافانه یشارک الظاء فی صفاتهاکلهاویزیدعلیها بالاستطالة فلولا اختلاف المخرجین والاستطالة فی الضادلکانت ظاء ، ملا

علی قاری رحمه الله دجزریه دشرحی دی شعرلاندې : چه : والضادباستطالة ومخرج ميزعن الظاء وكلهاتجئ) تحریرفرمائی (لماكان تمیزه عن الظاء مشكلة بالنسبة الى غيره امرالناظم بتمیزه نطق ، دکیمیای سعادت په شرح کې امام غزالی تحریرفرمائی : چه دضاداوظاء ترمینځ دی فرق وکړی اوکه ونه کولی شی نورواده ، ددې تصریحاتوڅخه غرض په واضح ډول معلومیږی ، چه ض اوظ کښی یوازی داستطالت اومخرج فرق دی کنی دواړه متحدالصوت دی اوبله دامعلومه شوه چه دظ اوض ترمینځ داسې فرق دی چه څنګه دس اوص اوت اوط کښی دی بیانوڅخه وجه ده چه دعامی بلوی په ډول هیڅ کوم هم پدې ترتیب نه لوستله بلکه هغه مطبقه ئی لوستلودکوم چه اړو پته نه معلومیږی ، غیرمقلدین ئی پدې ډول لولی ، اودغه دلایل دهمدغوخلکودی اوپه ظاهره قوی معلومیږی ماداندی عرض کړی چه په واقع کې دادلایل قوی دی یاضعیف ، زه دخپلومحدودواقفیت په اساس عرض کوم چه زه تاسوته یوازی دهمدې عرض سرهه لیکم چه تاسودی فن کښی واقف هم یاستی اودفقهې کتابونوته هم ښه واقف ئی ، ددې لپاره چه ددې خلکودلایل دی اوپه ظاهرډول قوی معلومیږی اوض چه په کومه طریقه چه مونږ اوتاسی لولو ددې کومه پته نه معلومیږی ، دا حواله په اکثروکتابونودقرات کښی وه اوس دفقهې کتابونوطرف سوچ و فرماییې : درمختارلیکلی دی : ولوزادكلمة ونقص كلمة اوحرفااوقدمه او بدله باخرالی ان قال اماماشق تمیزه کالضادوالظاء فاکثرهم لم يفسد ها ، په فتاوی قاضیخان اوفتاوی عالمگیری کښی راغلی دی : (فان ذكرحرفامكان حرف وغيرالمعنى فان كان الفصل بين الحرفين بلامشقة كالطاء مع الصادفقرالطالحات مكان الصالحات تفسد صلوته عندالكل وان كان لايمكن الفصل الابمشقة كالضادمع الظاء والصادمع السين والطاء مع التاء اختلف المشائخ فيه قال اكثرهم لاتفسد ، علی هذااکثرو کتابونو څخه دا فکر په زړه کښی راځی چه په کوموډوه حرفونوکې فرق کول مشکل ندی دهغه په بدلیدلوسره که معنی ته زیان رسیده نودتولویه نزدلمونځ فاسدیږی اودکوموچه فرق کول مشکل دی دهغویه خپل مینځ کې دبدلیدلوڅخه لمونځ نه ماتیږی په همدې اساس که دضادپه ځای دال ولوستل شی لکه چه اکثره خلک ئی وائی لمونځ فاسیدیدل پکاردی ، بیادحرمینوشریفینو دعلماؤیه فتوی کښی هم همدامضمون ولیدل شو . لکه دمکې دعلما ؤشیخ احمدوحلان مرحوم شیخ العلماء تحریرفرمائی : (ولوابدل الضادبغيرظاء لم تصح قرائته قطعا) داسې فتوی شیخ جمال

حنفی تحریرفرمائی چه (محمدبن سلمة قال لاتفسدلانه قل من يفرق بينهما) مفتی عنایت احمدصاحب په البیان الجزیل فی الترتیل کې لیکلی دی چه دی زمانه کښی یوه لویه بلاداشوه چه ضاد د دال په صورت لوستل کیږی دائی مشتبه الصوت دال ګرځول شوی چه دال ډک ندی او هغه ډک دی نوداخبره دټولوکتابونودقرات اوتفسیرسره خلاف ده ، په ټولوکتابونوکې ض دظامشتبه الصوت کیدل ثابت دی نه ددال سره ، دمفتی صدرالدین یوه فتوی دی چه په کې تحریرفرمایې : دمودو راهسې ددې ښاراومضافاتو دمسلمانانویه مینځ کې په ضادمعجمع کې نزاع پیداشوی ده ځنی ضادمعجمع دمفخم دال مشابه لولی اوبعضی دظاء معجمه مشابه ، بلکه دیندراکثرعوام معجمه ضادپه قران کې په داسې ترتیب لولی چه ددال حرف مشابه بلکه عین دال کیږی ددال سره ئی دومره فرق کوی چه ضاددمفخم دال اوډک اوازسره راوباسی ، داپخپله خطااوفاحشه غلطی ده په څودلیلونودینه وروسته ددې غلطی په لیکلو سره فرمائی : ددینه وروسته واضحه شوه چه معجمه ضادهغه ده چه دمعجمه ظاء سره مشابهت لری ، نه هغه چه مخرج ئی ددال دمخرج سره نژدی دی لکه څنګه ئی چه د هندوستان عوام خلک بلکه بعضی خواص ئی هم وائی څکه چه دال له ضادسره پوره مخالفت اوتبائن لری په صفاتوکې اوفرق کول وربادې آسانه دی اومشکل ندی ، په خلاف د معجمی ظاء الخ ددې مطلب هم همغه دی چه ض دظاء مشابه لوستل پکاردی ، یوه دوهمه بله فتوی ده چه په هغې باندې دنواب قطب الدین خان صاحب اومفتی صدرالدین صاحب امضاګانی دی په هغې کې ئی هم همدالیکلی دی چه د مفتی صاحب الفاظ دادی : اوددې منطقی خلک په ضاداودال کښی فرق نه کوی ، اوجاهل اوبی تمیزه دی بیایوه فتوی د عذر ، اوبلوی څخه وراندې همغه ده چه په هغې باندې دمولوی نوازش علی صاحب اومیرمحبوب علی صاحب ، اوخواجه ضیاء الدین صاحب اومولوی عبدالرب صاحب او مولوی محمدیعقوب صاحب مهرونه دی ، په دی کې هم همدادی چه ضاد ډیرمشابه دظ سره ده نه ددال سره دی ، اود مولوی عبدالحی یوه فتوی می هم لیدلی په کومی کې چی لیکل شوی دی چه ض ددال سره مشابه لوستلوسره په لمانځه کې خلل کیږی ، اوداد ظاء مشابه لوستل صحیح دی ، مادتاډیروخت ضائع کړتاسومعافی وکړی څکه دلته ددې ډیرزیات شایعه ده ، اویوازی دهمدی په سبب دښمنی او عداوت اوپارټی جوړی شوی ، اوهریوه دبل پسی لمونځ کول پرېښی ، دهمدی وجهی څخه یوازی د خپل اطمینان په خاطرتاسوته تحریروکولی شو ، تاسوته خوبه یقیناتکلیف وی خوډیروخلکوته به ګټه وی ، تاسوډیرمفصل اومدلل خواب ددې

تحریروفرمایې ، که ددې کومه رساله ترتیب شینوغالباً ډیروخلکوته به فائدی وی څه زیات جلدونه نه په آسانی چه هر کله تاسی تحریر وفرمائی خو ډیره مدلله اومحققه خبره پکارده کومه چه مخالف هم تسلیم کړی ،زه خویقینا هغه څه چه تاسونی تحریروفرمائی منم ماته تراوسه پورې خپل گټورمطلب یوازی دومره معلوم شوی چه شافعی جاربردی وغیره هغسی ضادچه دظاء مشابه یابین بین ولوستل شی بداوغیرمصحح لیکلی دی ، داخبره یقینااسې وه چه زړه ته لویدله خوددومره تصریحاتو او قاطعه دلایلوپه وړاندې داخبره څنگه پیش کولی شی نوهغه خلک وائی چه دا هغه وخت بدده چه کله ددې مخرج اوصفات په پوره ډول مراعات نه کړی شی که دادمخرج اوصفاتوڅخه اداء وکولی شی نوبدندی اوعلی سبیل التسلیم بدض هم ضاددې پخلاف ددې چه ددال مشابه ولوستل شی، ددې لپاره چه هغه ضاندی په هرترتیب بدض ددال اومشابه ددال څخه بهتردی،که دتاسوپه نزدهم ددال مشابه لوستل غلط دی،نوددې څخه جوازصلاة دبلوای عام په بناء ده یاڅنگه؟ که په دی کښی عامه بلواده نو د عوامو څخه سواچه کوم خلک هغه صحیح وائی هغه دی داپه کوم ترتیب ولولی،دحرمینواوعربواتباع کولوسره ضادولولی،یاقوی دلایلوکتلوسره ظادولولی، اگرکه ددې بی معنی دفترپه لوستلوکې ستاسوډیروخت مصرفیږی،خوالله تعالی تاسوددې کارلپاره هست کړی یاست چه تاسود الله مخلوق ته هدایت وکړی ددې ض اوظ په گرداب کې ډیرمخلوق مبتلادی تاسوضرورتحمل اوصبروکړی اودمظلومانومددوکړی،داوړدالی له ډاره می ډیری خبری پریښودی، کومی چه خپله دتاسودادنی توجه څخه معلومیږی ما ددې اندیښنی دلری کولولپاره دخپل زړه څخه ډیره مشوره اخستی ده مگردتاسونه سوابل طرف ته رجوع نه کوی دهمدی لپاره تاسو حتی الوسع خمادااندیښنی درفع کولوکښی دریغ مه کوی فقط والسلام ؟

جواب :دضادپه باب کښی عوام پریږدی خواص اواهل علم دحالت تتبع کولوسره په حصراستقرائی سره شپږصورتونه پیداکیږی (۱) اول ض اوظ په مخرج کې میانه تمیزنه وی یعنی ضادواضح مخرج دظاء څخه راوویستل کیږی (۲) دوم په مخرج کښی تمیزوی لاکن په صوت کښی بالکل تمییزنه وی یعنی دخپل صحیح مخرج څخه خوراویستلی شی، لاکن ددواړوپه صوتونوکې تشابه تام وی کوم ته چه اتحاد صوت ویل کیږی (۳) دریم په مخرج اوصوت دواړوکې تمیزوی مگراقرب الی الظاء وی یعنی دصحیح مخرج څخه راوویستل هم شی اوددواړوصوت کې تشابه تام نه وی، بلکه من وجه دون وجه وی، لاکن غالب مشابهت دصوت ظاء ده اودغه دریواړه صورتونه دتشبیه بالظاء دی (۴) څلورم د ضاداودال مخرج کې

تمیزنه وی اگرکه دتفخیم فرق کولی شی، یعنی ضاد واضح ددال مخرج څخه راویستل کیږی (۵) پنځم : په مخرج کښی تمیز وی ،لاکن په صوت کې تمیزنه وی یعنی راویستل خوکولی شی دخپل صحیح مخرج څخه لکن ددواړوپه صوت کښی تشابه تام وی . (۶) شپږم په مخرج اوصوت دواړوکښی تمیزوی مگراقرب الی الدال یعنی راویستل کیږی هم دصحیح مخرج څخه اوددواړوپه صوت کې تشابه تام هم نه وی،بلکه من وجه دون وجه وی،لاکن غالب مشابهت ددال دصوت وی اودغه دریواړه صورتونه دتشبیه بالدال دی،اوس اکثرداختلاف کونکو خواول اوڅلورم رااخستلوسره اختلاف کولی اوددغودواړوصورتونو باطل والی داسې بدیهی ده چه بیان ته احتیاج نه لری څکه چه ظاهره ده چه دیوه حرف دبل حرف دمخرج څخه اداء کول عادة محال دی اوبعضو په اختلاف کښی دوم اوپنځم صورت نی رااخیستی دی اودا خلک په اهل اختلاف کې محقق شمیرل کیږی ،اودتامل کولوڅخه دغه دوه صورتونه هم صحیح نه معلومیږی څکه پدې باندې کوم دلیل قائم ندی اومطلق تشابه ،په تشابه تام کې منحصره نده بلکه ددې په خلاف دلیل قائم دی لکه چه خپله په سوال کښی دجهدالمقل څخه نقل شوی لثبوت التشابه وعسر التمیزبینهما،اوعسر تمیز خپله وائی چه تمییزخوشته مگرعسیردی گنی عسردتمیزنه پاتې کیږی بلکه عدم التمییزگرځی اوکله چه دضاء څخه متمیزدی سره لدی چه دواړه په ډیروصفاتواوقرب مخرج کې شریک دی نو ددال څخه په اولی درجه به متمیزوی څکه عسردتمیز نی په جهدالمقل کې په دی علت سره معلل کړی دی (فانه یشارک الظاء فی صفاتهاکلها) اودعلت لری کیدل علت ده دمعلول دارتفاع نوپه صفاتوکې ددال عدم مشارکت دلیل ده دعدم عسردتمیزنوتامه تشابه نفی شوه وهذاهوالمطلوب اوس دریم اوشپږم صورت پاتې شوپه کوم کې چه ترددکیدلی شی، لاکن دریم حق معلومیږی چه صوت کې تمییزشته مگرپه نسبت سره دال وغیره ته اشبه بالظاء دی دتمیزلپاره دجهدالمقل دعسرتمیزحکم کولی اودا شبهیت لپاره هغه ته متشارک الصفات ویلودلیل کافی دی په هغه شان چه اوس د دواړوتقریرتیرشو، هرکله چه په تولوصورتونوکې ددریم صورت حق والی تعین شو، نواوس په سوال کې چه څومره شبهات لیکل شوی دهغوڅخه یوه هم ددې صورت لپاره مضره نده . لکه چه قاضیخان کښی عسرتمیز لیکلی دی نوپه دی کښی خپله دتمییز اثبات وشو، اودعسرسبب اشبهیت دی راتلونکې کتابونودقراءت څخه نی داشتراک فی الصفات اثبات کړی دی ددینه هم اشبهیت ثابتیږی نه چه اتحادراتلونکې کې درعایه عبارت نوشته ده (هی یشبه لفظه فی السمع الخ نوددې تحقق دمطلق اشبهیت څخه هم کولی شی،تشابه تام

اواتحادلازم ندی راتلونکې کې دمخرج ښخه په راویستلوباندې دظادراویستلودعوی کولی شی،دامسلمه نده البته اشبه بالظاء راووخی،راتلونکې کې درخوت ښخه استدلال دی داددال په صوت راویستلوته مضرده نه مطلق تمیزعن الخطالپاره راتلونکې کې ئې درعایه عبارت نقل کړی دی چه (فلیحفظ) الخ ددینه هم مطلق تشابه ثابتیږی نه اتحادفی الصوت اوکه شایدددې تردیدښخه شبهه وی فیصیر عندهاظاء جوړیږی اوکه مخرج هم محفوظ پاتې شو، په ځای دطرف دژبی به حافه دژبی وی نوضادجوړشولکه چه ددې تردیدنه وروسته د هغه داوینا، لانهااخت الظاء فی المخرج الخ ددې مؤیددی ، راتلونکې کې د تفسیر کبیر عبارت دی الاانه حصل الخ پدې کې هم په اتحادباندې کوم دلالت نشته دی اودمشابهت انکار نشته، لاندې دشاه صاحب قول دی نو عسرتمیزخپله مسلم دی،مگراتحادغیرمستلزم راتلونکې کې دشرح قصیدۀ نونیه عبارت دی پدې کښې هم عسر تمیزواشتداوشبهه مذکوره ده چه مضره نده راتلونکې کې دتمهید عبارت دی په دی کښی یوازی استطالت اواختلاف مخرجین فارق کیدل بیان شوی ،نوهمدادتمیزبینهمامبنی ده ددینه تمیزفی الصوت نفی کول دکوم ځای ښخه راغلی،په همدې ترتیب په بل عبارت کې دمشابهت اثبات دی دتمیزنفی نده، وریسی دمرعشی مضمون دی پدې کښی هم دمطلق مشابهت حکم دی. وریسی چه دجهد المقل اورعایه ښخه کوم نقل کولی شی هغه کې هم مطلق تشابه فی السمع مستلزم دنفی تمیزنده، وریسی دشاطبی دشرح عبارت دی په هغه کې اثبات دمطلق تشابه فی السمع افتراق فی المخرج والاستطالة) ده ددینه هم اتحادصوت نه لازمیږی ،اوکه دنفی اواستثناء دال علی الحصر ښخه شبهه وی چه په دی کښی نفی دافتراق فی الصوت هم وشوه گنی حصرنه پاتې کیږی،په هرصورت کله چه دادمسلماتوښخه ده چه (الشی اذاثبت ثبت بلوازمه) نوکوم سړی چه افتراق فی المخرج ملزوم دافتراق فی الصوت ومنی هغه به واٸی چه په دی حصرکې دمجموعه لازم اوملزوم نه بغیرنفی ده .نه چه دلازم چه دشاه صاحب قول په سوال کې مکررشوی دی،ددې خوابپورته تیرشوی،وریسی دشیخ جمال اوامام غزالی په اقوالو ښخه په همدې استدلال کړی دی، چه دضاداو ظاء فرق کولوضرورت نشته دی اول خودغه تصریحات دفن دکتابو نوخلاف دی، لکه چه خپله سوال کې دجزریه شعروالضادالخ منقول دی په کوم کې چه دتمیزامرکولی شی او په صنهاج التجوید کې ئې درعایه ښخه نقل کړی چه (ولابدللقاری من التحفظ بلفظ الضادحیث وقعت الی ان قال ومتی فرط فی ذلک اتی بلفظ الظاء اوالذال) اودنشرښخه ئې ویلی : فلیحذرمن قلبه الی الظاء اودربع اول داحیاء العلوم

ښخه ئې راوړی ، ویجتهدفی الفرق بین الضادوالظاء اودجزری دشرح دمقدمی ښخه :ان الضاداعسرالحروف علی اللسان فلیحسن برعایتهاای لاتکون مشابهة بالظاء والذال والزاء۔ اوملاعلی قاری دجزری مقدمی په شرحه کې ویلی دی. لیس فی الحروف مایعسرعلی اللسان مثله والسنة الناس فیه مختلفة فمنهم من یخرجه ظاء ومنهم من یخرجه دالامهملة اومعجمة ومنهم من یخرجه طاومنهم من یخرجه مهملة ومنهم من یشبهه دالاومنهم من یشبهه بالظاء المعجمة لکن لماکان تمییزه من الظاء مشکلابالنسبة الی غیره امرالناظم بتمییزه لفظاه ددې تصریحاتومقابله کې دهغوحضراتوویناچه خپله د متابعینوداهل فن ښخه دی دفن دائمه وښخه ندی حجت کیدلی نشی ددینه علاوه دامام غزالی مقصد[1] دانه دی چه دضاداوظاء تمیزونه کولی شی اوهغه ضرورت نشته بلکه دهغه مقصد په هغوخلکو انکارده چه هغوی تصحیح دحروفو دلمانځۀ مقصود گرځولی دی ،اوتدبروتفکر فی المعانی وغیره ئې چه دلمانځه مغزده بالکل پریښودی ده اودلیل ددینه علاوه دهغه دنوروعباراتونوخپله همداعبارت ده ،ځکه چه هغه چه په کوم ترتیب فرق بین الضاد والظاء داعتراض قابل بللی ندی دتصحیح مخارج حروف محل داعتراض واقع کړی دی نوکه داول اعتراض مقصد داوی چه ضاد اوظاء ترمینځ فرق ضروری ندی نود ثانی اعتراض همدا مقصدکیدل پکار دی چه دجیم اوخاء دال اوسین کې هم امتیازضروری نده ،ولایقول به احدفثبت ماذکرنا دوم راتلونکې سوال کې بې خپله دغزالی قول کړی دی (فرق میان ضاد وظاء بجاء آرد) داقول دمخکنی معارض دی ،دریم محمول کیدی شی په معذور باندې لکه چه رازی اول لیکلی دی (ان المشابهة شدیدة وان التمییز عسیر) بیابې داذاثبت په ویلوسره هغه بې متفرع کړی اوپه کیمیای سعادت کښی بې دپورتنی عبارت ښخه وروسته ویلی دی اگرنتواند روباشدوریسی دشراوجهدالمقل وغیرهماعبارت دی د هغه نه همداعسردتمیز معلومیږی نه چه عدم تمیزبلکه په جزریه کې خوامربالتمیزتصریح دی وریسی بې ددال دلوستلو وجه پوښتلی په هرصورت مونږ خپله دغه صورت ته صحیح ندی ویلی دهمدی لامله خمونږلپاره مضرندی،وریسی دغیر مقلدینودلوستلو په نسبت لیکلی که مقصد دهغودلوستلوتصحیح ده نودغه وخت ترکومی لیدل شوی اوریدل شوی دغه خلک اول صورت لولی یعنی دظاء خالص

[1] دلته دماذکرناپورې دتصحیح الاغلاط ۲۰ص ښخه اضافه شوې ده ۱۲داتسلیم بالنظرالی الذات دے گنې که په خارجی عارض یعنی تشبه بالروافض وغیره باندې نظرواچول شی نوبیاخلورم صورت راجع دے کمابینامن قبل ۱۲تصحیح الاغلاط صفحه ۲۱)،

له مخرج څخه بې لولی دکوم چه غلط والی پورته تیرشوی ، اوهمدارنګه ددې غلط والی دقاضیخان څخه معلومیږی چه په هغی کې غیر المغضوب کې دظاء په لوستلوسره صلاة مفسد لیکلی دی همدارنګه په ۴۴ درسالة محوالفساد کې دامام ابوعمرودانی څخه نقل کړی دی (وقدکان بعض الفقهاء من اصحابنا لایقرء الصلوة خلف من لم یمیز الضاد من الظاء وذلک لانقلاب المعنی وفساد المراد) بلکه داکثراً نی دظاء دمخرج په خای دزاء له مخرج څخه وائی، بلکه خپله ظاء هم دزاء دمخرج څخه لولی چه غلط والی بې نورزیات ظاهردی، اوکه مقصد ترجیح ورکول وی نوبه خلورم صورت باندې ترجیح مسلم ده اوپه پنځم اوشپږم باندې غیرمسلم ځکه چه دی دواړوکې مخرج خوصحیح دی ،اوخالصه ظاء کې خومخرج نه پاتې کیږی اوښکاره ده چه دحرف په حقیقت کې دمخرج ډیرزیات اثردی،ورپسی دعالمګیری درمختار اوقاضیخان عبارتونه دی هغوکې دوه حکمونه دی اول عسر دتمیزهرچند مسلم ده خودنفی تمیز مستلزم ندی دوم حکم دفرق په مینځ دحروف عسیرالتمیز اوحروف یسیر التمیز په صحت اوعدم صحت صلاة کې نو اول خوبعض جزئیات ددې معارض دی لکه چه په غیرالمغضوب علیهم کې دظاء مفسدصلاة کیدل دقاضیخان څخه تیره شوی چه معلومیږی چه په حروف عسیرالتمیز کې هم تبدیل مفسددی همدارنګه په قاضی خان کې دی (ولوقرایعوذون برجال یعدون بالدال لاتفسدصلوته) اولې ډیروروسته شته چه ولوقرا وماهو علی الغیب بذنین لاتفسدصلاته هرکله چه ض اوذپه بضنین کې په عدم فسادکې مساوی وی اودال اوذال په یعوذون ک په عدم فساد کې مساوی وی اودمساوی مساوی مساوی دی نودال اوضاد مساوی شول نودلته په یسیرالتمیز حرفونوکې تبدیل هم مفسدنه شو، اوقطع نظردمساوات دقیاس څخه بلاواسطه هم په یعوذون کې ددال اوذال تبدیل ته مفسد نه ویل ددې حکم مستلزم ده چه دیسیرالتمیز حرف تبدیل هم مفسدنه وی ځکه چه په دال اوذال کې تمیز ډیراسان دی نوداجزیهات ددې قاعدی سره تول خلاف دی بله داچه خینوفقهاؤ په یسیرالتمیزحرفونوکې دعموم بلوی په وجه فتوی دجواز ورکړی ده لکه چه شامی په زلة القاری کې تصریح کړی ده نوپه تبدیل دض په ذال کې هم حکم فساد یقینی نه شی کیدلی ، ددینه وروسته دشیخ احمدوحلان قول دی لم تصح الخ دابناء په بعض الاقوال ده دکوم چه التزام لازم ندی ،وروسته دمحمدبن سلمه قول دی دهغه نه مضرکیدل ظاهردی ،ورپسی دلکنهواودهلی دعلماؤ اقوال دی نودریم صورت لپاره هیڅ مضرنده دکوم دصحت چه التزام کولی شی پاتې شوه د قبحی کیسه په هغی باندې داشبهه بالکل ضعیفه ده چه

دتصریحاتو په وړاندې دپیش کولوقابل نده ،که دهغه دلالت په مقصود باندې ومنل شی نوددې شبهې خواب ډیرصفاظاهردی چه داحکمونه د عربیت دائمه وڅخه ماخوذ دی اوقاریان خپله په دی احکاموکې دائمه وتابع دی اوپه شافیه جاربردی وغیرهماکې دعربیت دائمه و اقوال جمع شوی دی دهمدی لامله دی ته په تولوباندې ترجیح وشوه ،اود نورو اقوال په دی طرف ته راجع کړو، په دی ترتیب داعذرچه کله د مخرج اوصفاتو لحاظ نه وی نودغه وخت بدی داهم په نهایت کې دال دی ځکه دغه وخت خودادض دماهیت څخه راووځی نه چه ض مستهجن ګرځی ځکه چه جمله د مسلماتودی (ثبوت الشی للشئ فرع ثبوت المثبت له) اوهرکله چه مثبت له یعنی ض باقی پاتې نه شونوددی لپاره استهجان څنګه ثابت شوبالاخره عذرپه اول عذرباندې مبنی دی لکه چه تصریحاویل کیږی چه مستهجنه ض هم ض دی الخ نودمبنی ورانی اوس وشواوکه تقریرپدې ترتیب بدل کړی شی همغه شان چه بعضوویلی دی چه ظاء ته ددې لپاره ترجیح ده چه هغه خوکوم حرف دی اومفخم دال خو کوم حرف هم ندی ،البته داخقدرمعقول امردی ،لکن ددې معارضه پدې طریقی سره کولی شی چه مفخم دال اګر که کوم حرف ندی ،مګر د نورو حرفونه دظاء وغیره څخه ممتازخودی اوپه دی لازم کې ض شریک دی اوظاء وغیره کې خوامتیاز هم نشته اوامتیازخپله فی نفسه مطلوب دی دهمدی لپاره هغه ته په ظاء باندې ترجیح ده ،نوددې معارضې جواب داول مرجح مسئولیت پاتې کیږی ،اوددې نه دی دانه پوهول کیږی چه مونږ ددې ترجیح قایل یو،یوازی ددلیل حال لیدل مقصود دی ګنی خمونږ مسلک خودریم صورت ده همغه شان چه پورته بیان شو،نوداستهجان په دلیل سره ددغو شبهاتوڅخه هیڅ شبه واقع نشوه،البته خپله خماداشبه ده چه شاید بین بین په اعتباردمخرج وی، یعنی که دحافة اللسان اواضراس څخه سره له استطالته اداء شی نوض فصیح دی ،اوکه دطرف اللسان اوثنایاؤڅخه اداء شی نوظاددی، اوکه دحافه اواضراس څخه بلا استطالته اداء شو نومستهجن ضاد دی ځکه چه پدې صورت کې دغه مخرج بین مخرج الضادالفصیحة وبین مخرج الظاء به وی نوداپه بین بین کې به وی نه په صوت کې دهمدی لامله په مدعاء باندې دال ندی ، ددې شبهې خواب کې ماډیرسوچ وکړمګرنه کوم کتاب راسره شته او نه کوم ماهرفن قریب دی اوزه خپله ماهرنه یم ددې لپاره داشبه ماهرینو ته حواله کوم په هرحال ترڅن پورې چه خومره نظراوفکر کارورکړی ددینه ددریم صورت ترجیح معلومیږی اوعوام ته ددال دمخرج څخه لوستل اودغیرمقلدینودظاء دمخرج څخه لوستل محض غلط ثابتیږی پاتې شول فساد اوجواز دلمانځه اګرکه په دی کې فقهیه روایات سخت

مخالف اومتعارض دی مگرظاهراً ددي ټولو لمونځ کیږی ځکه دټولو قصد د(ض) اداکول دی بوازی غلطی په پوهیدلوطریقی داداکولو دمتاخرینوفقهاؤ دقول ځخه په دی ترتیب وسعت معلومیږی.خلاصه داچه دخپل قدرت موافق خومشق وکړی په دریم صورت کښ باقی لمونځ دغیرمشاق په هرترتیب کیږی ،اوکه دغیرمشاق دژبی ځخه بلاقصد غلط راووځی ددی لمونځ هم کیږی البته که دمشاق کیدوسره په دی قصدبې ولولی چه زه ظاء لولم یادال لولم ددی لمونځ بلاشبهه فاسددی (فی الشامیه عن الخزانة الاکمل قال القاضیخان ابوعاصم ان تعمدذلک تفسدوان جری علی لسانه اولایعرف التمیز لاتفسدوهوالمختارحلیة وفی البزازیة وهواعدل الاقاویل وهوالمختاراه)والله اعلم وعلمه اتم واحکم ۱۴جمادی الاخری ۱۳۲۲ھ (امدادصفحه ۱۲۲جلد ۱)

الفتوی المتعلقة بالضادفیه کلام فی مواضع :

سوال :(۲٤۱)الاول قوله فی الجواب عن السوال الاول معجمه ضادپه امتیازدخپل مخرج دظاء معجمه آوازته مایل بایدتلفظ کړی ،قلت که مقصد دادی چه ددې دواړو حرفونوپه مینځ کښ امتیاز محض په اعتبار دمخرج دی اوپه اوازکښ اصلاتمائزنشته دی (فلادلیل علیه والحکم بالتشابة فی کتب القراة لایستلزم الحکم بالتشابه التام بل یمکن تحققه فی ضمن التشابة الغیرالتام) اوکه مقصددادی چه په صوت کښ هم امتیازبایدوکړی نوعبارت ددې مقصدلپاره کافی ندی [۱] بالخصوص د بعضی عوامویه اعتبارچه دخالصی ظادویلومینان دی هغوی به دا عبارت دخپلې هواموافق محسول کړی وی الثانی قوله فی لاجواب عن السوال الثانی باعث دعدم تعسر دامتیازددواړو ترمینځ یعنی ضاد او دال به بالاتفاق دلمانځه مفسد وی الخ قول فی ردالمختارمانصه وفی التاتارخانیة عن الحاوی حکی عن الصفارانه کان یقول الخطاء اذادخل فی الحروف لایفسدلان فیه بلوی عامة الناس لانهم لایقیمون الحروف الابمشقة اه وفیها اذالم یمکن بین الحرفین اتحادالمخرج ولاقربه الا ان فیه بلوی العامة کالذال مکان الضاداوالزای المحض مکان الذال والظاء مکان الضاد لاتفسد عندبعض المشائخ اه قلت فینبغی علی هذا عدم الفسادفی ابدال الثاء سیناوالقاف همزة کماهولغة عوام زماننافانهم لایمیزون بینهماویصعب علیهم

[۱] فی نفسه عبارت کافی دے ځکه مفتی مایل په صوت ظاءویلی دي نه په صوت دظاءنعم په مظنه دغلط فهمي دعوام دے چه پداسی باریکیونه پوهیږي یادتعصب لامله دهغې نه سترګی پټي ګړي ،په همدي اساس ددي تخصیص په ضرور دي چه بایددظاءپه اوازتلفظ ونه کولی شی ۱۲تصحیح الاغلاط ۱۲

جداً کالذال مع الزاء ولاسیما علی قول القاضی ابی عاصم وقول الصفارنوپه حکایت کښ اتفاق دکلام دی اوشک نشته چه ځنی عوام لکه ځنګه چه دضاد معجمه په بدلولوکښ په ظاء خالصه سره مبتلا دی همدارنګه ځینې بلکه اکثرپه بدلولوسره یې په دال باندې ککړدی ،نوعموم بلوی په دواړوکښ مشترکه ده ،اودردالمحتاردروایت مطابق دواړه په عدم فساد کښ مساوی دی اودهغه څه چه دقاضیخان وغیره ځخه فساد په ابدال ددال په دال سره نقل شوی خپله قاضی خان په مغضوب علیهم والعادیات ضبحاکښ ابدال دضاد په ظاء ته مفسد ویلی دی فکان الابدال متساویین الثالث قوله فی الجواب عن السوال الثالث بلاقصد واختیار عین ظاء په ژبه جاری شی یافرق نه پیژنی الخ قول داصحیح دی لکن اکتفاء کول په یوه مشق باندې ددې لپاره دعواموليپاره مضردی چه ظاء والا قصداً اوختیاراً ظاء وائی هغوی دعدم قصد اواختیار دقیدځخه قطع نظر کولوسره په لوستلودخالصی ظاء به تمسک کوی ،هوکه دوم مشق هم تصریحامذکور وی چه دقصد په حالت کښ لکه چه دزمانی عوام یې کوی رواندی نوددې اضرارواحتمال به پاتې نه وای بیافرق نه پیژندل مشترک دی ددال اوظاء په مینځ کښ دضاد ځخه نوصحت دصلاة بایدمشترک حکم وای اوممکن ده چه دټول کلام منشاد احقرعدم مهارت په تجویدکښ وی لاکن ددستخط نه کولولپاره یوعذرکافی دی قال الله تعالی ولاتقف مالیس لک به علم وقال ﷺ لاتشهد حتی تری مثل الشمس فقط والله تعالی اعلم وعلم اتم ۷رجب ۱۳۲۲ھ (امدادصفحه ۱۲۹ج۱)

سوال :(۲٤۲)دمتین دین علماء څه فرمایي په دی مسئله کښ چه داختر په ورځ دض مشابه له ظاء اوض مشابه له دال دانزاع په سبب په دوه علیحده علیحده ځایونوکښ لمونځ شوی اعنی دوه جماعته اول ض مشابه دال علیحده ،دوم جماعت ض مشابه له ظاء سره علیحده دفریقینو په مینځ کښ نقیض دی چه ستاسولمونځ درست ندی یوله بل سره متنازع دی؟ اجیبوا وبینواوالله تعالی اعلم

جواب :قاضی خان وان کان لایمکن الفصل بین الحرفین الابمشقة کالظاء مع الضادالخ وفیه لوقرء غیرالمغضوب بالظاء اوبالذال تفسد صلوته ولوقرء الظالین بالظاء اوبالذال لاتفسدصلوته ولوقرء الدالین بالدال تفسدصلوته) داول روایت ځخه معلومه شوه چه ضاداشبه دی دظاء سره ددال ځخه اوددوهم روایت ځخه مفهومه شوه چه قصدا ظاء لوستل اوهمدارنګه دال لوستل رواندی ،نوواجب دی چه دهغه د صحیح قصدوکولی شی،دصحیح لوستلوقصدسره سره لوستلوکښ

غلطی عفوه ده لعموم البلوی نومفسده دنزاع ددې مفسدی څخه اقبح اواشنع ده ،دداسې کارونه دتفریق بین المسلمین ګرځول لویه ګناه ده.[۱] اماامام ته لازمه ده چه دظاء دلوستلوڅخه ځان وساتی ، چه په هغې کې علاوه دغلطی څخه چه مشترک دی ددال لوستلوددوارو شبهه داهل هواسره مثل الروافض خذلهم الله اوغیرمقلدین اوپیروی دهغوی دهوا تابعداری اودهغوی دبدعت روا جول دی والله تعالی اعلم وعلمه اتمه واحکم ۹شوال ۱۳۲۳ھ(امدادصفحه ۱۴۰ج۱)

سوال (۲۴۳): ددین علماء څه فرمایي چه کوم سړی چه دمعجمه ض حرف دهغه دمخرج څخه په اداکولوباندې قادر نه وی هغه سړی دغه مذکورحرف دمنقوط ظاء په صورت کې چه دواړه حرفونه مفخم او مشبهة الصوت دی همغه شان چه په کتابونودقراءت اوتفسیر اوفقهې لکه جذری،اوفتح العزیزاواتفاق اودقاضیخان اوفتح القدیر وغیره کې تصریح ده اوصفاتوکې هم لکه رخوه ، استعلاء اواطباق اوغیرد دوی دی متحد دی ولولی کمابحث عنه فی موضعه یادمهمل دال په صورت چه مرقق اوغیرمشبهة الصوت اوبعضی صفات متضاده دض معجم لکه شدت اوانخفاض او انفتاح سره یوځای متصف کړی همغه شان چه زمونږ زمانی کې نی دیرخلک لولی ؟بینواتوجروا؟

جواب: داخوظاهره ده چه تغایر دمخارجوپه تغایر دحروف خارجه باندې دلالت کوی اوتغایر دمخارجو دضاد ،دال اوذال اوظاء مجمع علیه اومصرح به دی کمالایخفی نودغه دلیل په دی خبری چه دضاد ذات بیل دی اودظاء اودال ذات بیل دی،هرکله چه ذاتی تغایر ثابت شونواوس ضاد ظاء یادال لوستل داسې دی لکه چه باتاء یاثایا جیم جاء اوخاء لوستل وهذاباطل بالاجماع فکذا ذلک اودصفاتودااتحاد څخه د موصوف اتحاد لازم ندی لکه څنګه چه جیم اودال په صفات جهر او شدت اوانفتاح اوانخفاض اواهمات اوقلقله کې متحددې دمذکوره صفاتو دااتحاد باوجود بیادوارو کې دځمکې اوآسمان تفاوت دی وعلی هذالقیاس اوددینه علاوه داخبره چه لکه څنګه چه په ضاد اوظاءکې تشابه تام شته،اویوازې تغائرفي المخرج اواستطالت فارق دی په همدی ترتیب په ضاداودال کی تقارب بلیغ دی چې یوازی تغائرفي المخرج اواطباق فاصل دی ، کماصرح به في المفتاح الرحماني فی علم القراة لولاالاطباق فیهالکان الصادسیناو الطاء تاء والظاء ذالاو الضاددالاانتهی ،، ددې نه ثابت

---

[۱] دلته په عبارت کې دتصحیح الاغلاط صفحه ۲۱څخه ترمیم وکولي شو ۱۲منه

شوه چه د ظاء دذال سره اوضاد ددال سره تام قرب دی چه یوازی اطباق ممیزدی ،بلکه دمخرج په اعتبارضادددال سره زیات اقرب دی ،په نسبت سره ظاء ته . لکه چه په شافیه کې دی ؛ والضادالمعجمة اول حافة اللسان ومایلیها من الاضراس واللام مادون طرف اللسان الی منتهاه ومافوقه والراء منهمامایلیهاوالنون منهمامایلیهاوالطاء والدال المهملتین والتاء المثناة طرف اللسان واصول الثنایاالعلیاوالصادوالزاء والسین طرف اللسان والثنایاالسفلی والظاء والذال والثاء طرف اللسان وطرف الثنایاالعلیاالی ان قال کل مخرج قدم ذکره فهواقرب الی الصدر ممابعده وکذاکل حرف سبق ذکره فهواقرب الیه ممابعده انتهی نوکله چه دضادنه وروسته ددال ذکرشوی او ددواړوترمینځ خلورحرفه یعنی لام ،راء ،نون ،طاء مذکوردی اوظاء یې دتولوڅخه وروسته ذکرکړی اوددې اودضادترمینځ خوحرف یعنی لام، راء ،نون ،ظاء ،دال ترضاد،زاء ،سین ،مذکوردی معلومه شوه چه دضاد [۱] اودال په مینځ کې زیات قرب دی په نسبت سره ضاد ،ظاء،ته ،نومتحققه شوله چه لکه څنګه چه دضادله ظاء سره تشابه ده همداشان ده یازیاته ددال سره ده اولکه څنګه چه ددال سره ذاتی تغایرشته همغه شان دظاء سره ،نودضاد له ظاء اودال دواړوسره اقل درجه برابرنسبت وشو اودواړه په جواز یاعدم جواز کې متساوی [۲] لاقدام دی که ضاد ظالوستل جائزدی نودال لوستل هم جائزدی اوکه دال لوستل جواز نلری نوظاء لوستل هم جوازنلری،اواول یعنی ضادددال اوظاء په اوازلوستل بالاجماع باطل دی،نودوم متعین شوچه هیڅ صورت کې لوستل جائز ندی ،اوهمدارنګه په تصریح دائمه ودقرائت دغه ضاد محض [۳] دظاء په مشابهت دمستهجنه حروفوڅخه راځی وفی الشافیة والضاد الضعیفة فمستهجنة انتهی وفی النظامیة شرح الشافیة والضاد الضعیفة ای التی تکون بین الضادوالظاء وقال فی الکفایة شرح الشافیة والضادالضعیفة بین الضادوالظاء انتهی نوهرکله چه داستهجان په سبب دظاء مشابه لوستل جائزندی نودبعینه ظاء لوستل څنګه جائزشول ،بلک که عمداً یې ولولی نودده دلمانځه په صحت اوفساد کې اختلاف دی اومفتی به فساد صلاة ده قال فی الخانیة والخلاصة الاصل فیمااذاذکرحرفامکان حرف وغیرالمعنی ان امکن الفصل

---

[۱] یعنی دتعمداداپه اعتبار۱۲منه
[۲] یعنی په اعتباردقربیت دمخرج نه دصفات اوصوت
[۳] یعنی مشابهت سره دتبدیل دمخرج اداشی مشابهت صوت لازم دي ۱۲منه

بينهمابلا مشقة تفسدوالا يمكن الابمشقة كالظاء مع الضاد المعجمتين والضاد مع السين المهملتين والطاء مع التاء قال اكثرهم لاتفسدوفي خزانة الاكمل قال القاضي ابوعاصم ان تعمدذلك تفسدوان جرى على لسانه اولايعرف التميز لاتفسدوهوالمختارحلية وفي البزازية وهواعدل الاقاويل وهوالمختارانتهى نودمذكور تحقيق څخه واضحه شوه چه ضاد،ددال یاظالوستل ناجائز اوصریح تحریف ده وقدوردفیه ماوردقال الله تعالى يحرفون الكلم عن مواضعه الاية بلکه حتى الوسع ددهغه دمخرج څخه دراویستلو قصد وکړی ، راووخي اوکه راونه ووځي ، صحیح راووځي اوکه غلط ظاء راووځي اوکه دال معمله یاغیره په دواړوکې هغه شرعا معذور اومصیب دی لقوله تعالى : لايكلف الله نفسا الاوسعها الاية ، دتکلیف اومشقت سره که اداء نه شودغه وخت هم دوه اجر په لاس ورځي اجردمشقت اواجر دقراءت عن عائشة قالت قال رسول الله ﷺ الماهربالقرآن مع السفرة الكرام البررة والذى يقرا القرآن ويتتعتع فيه وهوعليه شاق له اجران متفق عليه لاکن همیشه ددې ددزه کولو کوښښ کول واجب دی لقوله تعالى ورتل القرآن ترتيلا په خپنې تفسیرکې ددې آیت لاندې راوړی چه مرتضى اودمرتضى علی ؓ نه نقل کړی چه مراد دترتیل څخه حفظ د وقفونو ده او اداء دحرفونو اورتل دوجوب لپاره ده ددې په عملی کولوکې سعی کول واجب دی اوکه په جهدا وطلب کې کوتاهی وکولی شی ګنهکاربه شی ، لامرمن الامرالمذكورولمافي الدرالمختارفي بحث عدم جواز اقتداء غيرالالثغ بالالثغ هكذاوحررالحلبي وابن الشحنة انه بعدبذل جهده دائما حتماكالامي وفي الشامي قوله دائمااى في اناء الليل واطراف النهارفمادام في التصحيح والتعلم ولم يقدر عليه فصلوته جايزة وان ترک جهده فصلوته فاسدة كمافي المحيط وغيره قوله حتمااى بدلا حتمافهومفروض عليه انتهى داحکم دالثغ وچه دراء اوسین په تلفظ باندې قادر نه وی اوهمداحکم دی دهغه سړی چه دکوم خاص حرف یعنی ضادوغیره په تلفظ باندې قادر نه وی لمافي الدرالمختار : وكذامن لايقدرعلى التلفظ بحرف من الحروف اه وفي الكلام سعة لايتحمله المقام والله الهادى الى الصواب وهوالمنعام فقط ۲۲رجب روځ یکشنبه ۱۳۰۲ھ،امداد صفحه ۱۴۲ج۱،

سوال :(۲۴۴)دتجویدله مخې دضادحرف مخرج دحافتى اللسان او دواړه ژامو څخه دی ،کچیرې دضاد اصلی مخرج نه ویستل غواړې نو ضاددظاء په صوت اداء کولی شی،اودمروجه مخرج څخه یعنی دمخامخ غاښونوداوریوڅخه یعنی ددال دمخرج څخه

دمعمول مطابق راویستل کیږی نوضاد دمفخم دال په صوت اداء کیږی ،دفقهاؤ سلف کتابونوخوضادپه صوت دظاء ثابتیږی اورواج ددال په صوت دی څکه چه په حقیقت کې ددې مخرج مشکل دی ،اودتجویدله مخې ضاداومعجمه ظاء په صفاتوکې یوشان دی ،یوازې دطول اوقصرفرق دی ،اوددال سره ډیر تفاوت شته لهذا اوس التجاء داده چه مونږ ته دناپوهوسره څه کول پکاردی ، ضاد دظاء په صوت جائزدی اوکه په صوت دمفخم دال به جائز وی ، څکه چه اوس دالله تعالى به فضل اوکرم سره څمونږ علماء موجوددې بیاځمونږ لپاره داندیښنی کولوضرورت نشته ترهغه خایه پورې چه دکتابونوڅخه مې تحقیق کړی ضاددظاء په صوت معلومیږی ،اوس تاسوجناب ددې دتحقیق څخه خبرولو سره مومعزز وفرمایې ؟

جواب :پدې کې چه کوم دوه عادته دی یوددال دمخرج څخه راوتل اوبل دظاء دمخرج څخه راوتل دواړه غلط دی ،دصحیح مخرج څخه راویستل پکاردی ،دهغه نه صوت مشابه له ظاء پیداکیږی نه عین ظاء دمشاق په اداءکولو کې په ذاوض اوظ کې فرق متمیزکیږی ،فقط والله اعلم ، ۲۵جمادی الاخری ۱۳۲۹ھ،تتمه اولی ص۴۴،

سوال :(۲۴۵)زیدمعجمه ضادحرف ددال یاظاء مشابه لولی ،اوکه زده یې کړی نوصحیح یې زده کولی شی ،خونه یې زده کوی ،دغیر مقلدپشان یې ظاء لولی ،اوکلیوال پنجابی دال غتولوسره لولی ،اوکه تمرین وکړی نوصحیح یې لوستی شی ،کوم چه ضاداداکولی شی هغه داسې نه وائی چه دهغه لمونځ نه کیږی اونه دهغه پسې لمونځ کول درست دی؟

جواب :داحرف چه څوک غلط دصواب په ګمان اودصواب په قصد یې ولولی لکه چه عامه ابتلاء ده ددې لپاره چه عموم بلوی دتخفیف اوتیسیردموجباتوڅخه ده نوځماپه نزددتولولمونځ صحیح کیږی دا بیله خبره ده چه دصحیح لوستلودنه کوښښ په سبب ګناه ده ،والله اعلم ۲ذی الحجه ۱۳۲۹ھ،تتمه اولی صفحه ۴۴،

سوال :(۲۴۶)یوسوال راغلی دی چه خلاصه یې داده چه دالین لوستل اوظالین لوستل هریونه یوه یوه ډله مفسدلمانځه وائی دلته داخواب ورکولی شی ؟

جواب :دضادپه ځای دال لوستل هم غلط اوظاء لوستل هم غلط، قصداًلوستل ګناه ده اګرکه دعموم بلوی په سبب ددواړولمونځ نه فاسدیږی دکوم ماهرتجویدڅخه دمشق کولوسره دصحیح ویلو کوښښ وکړی که په دی هم غلط راووځي نومعذوریت دی ، ۱۰صفر ۱۳۳۹ھ،تتمه خامسه صفحه ۱۷۵،

سوال :(۲۴۷)بسم الله الرحمن الرحيم الحمدلله الذی خلق صوت کل حرف من الحروف متخالفاومتغاير اوان کان اشتراک بعضها مع البعض ف الصفات ظاهرا والصلوة والسلام علی من لاينطق عن الهوی ان هوالاوحی يوحی وعلی صحبه الذين من تابعهم فقداهتدی ومن خالفهم فضل وغوی) امابعدفاقول اولا چه سره داختلاف دمخارجودحروفو اواشتراک دبعضی صفتونو اتحاددصوت یاتشابه دهغوی یودبل سره لازميږی اوکنه لکه مخرج ددال اوجيم مختلف دی اوپه څوصفاتوکي لکه جهر،شدت،انفتاح،انخفاض ، اصمات ،جرس اوقلقله سره شريک دی همدارنګه کاف اوفوقانی تاسره دیلوالی دمخرج په صفت دهمس،شدت انفتاح،انخفاض، اصمات، جرس او سکونت کي سره مشترک الصفات دی نوآياصوت ددال اوجيم ، همدارنګه صوت دکاف اوتاء فوقانيه متحداويوشان دی اوکه مختلف اوګڼل؟ دوم داچه هغه اختلاف اوافتراق چه اهل تجويد اوارباب قراءت په مينځ دمخرج دضاداوظاء کي فرمايلی دی صحيح اوټيک دی اوکنه ؟ ثالثا داچه مفرده حرفونه دتهجی چه عربی ژبه ددي څخه جوړه شوی،په اعتبار د انحصار دعربودقراءپه نه ويشتو حرفونوکي منحصره دی اوکنه ؟ رابعاً داچه کوم حرف دانحصار دعربو دقراؤڅخه زايد دی څه نوميږی اومخرج يې څه دی ؟ خامساً داچه دمخارجو دمخالفت اوتغايرداصواتو دحرفونوکه څوک قصداً يوحرف دبل حرف په اواز اداءکوی مثلاً والظالين په معجمه ظاء سره لولی آيا لمونځ يې صحيح اودرست دی اوکنه ؟که لمونځ يې صحيح دی نوهغه څه چه مولنامحمدقاسم صاحب نانوتوی په رساله الدليل المحکم صفحه ۱۲۱کي ليکل کړيدی چه جناب لکه څنګه چه دباپه خای تااوددال په خای ذال اودهاء په بدل کي خااودشين په عوض کي سين اودعين په مقام غين او دلام په خای ميم نوڅوک لولی اونه يې څوک روا بولی (ګڼی) په همدي ډول دضادپرينبودل اودظاء لوستل هم دعقل اونقل خلاف دی ، داخبره دعقل اونقل له مخی يوډول تحريف ده ،دکوم چه بدوالی په خپله کلام الله کي موجود دی بيانده معلومه چه دنن صبا عالم په کوم دليل داسي نامعقوله خبره قبولوی،کيدای شی عوام دفتوا ګانودمهرونو دليدلوسره درميانه جوړيږی اوداڅوک پوهيږی چه دکتابونو پوهيدل هرچاته نه ورځی انتهی څه معنی لری؟اودضادپه خای دظاء قاری عمداً مرتکب دکبيره دی اوکنه ؟اوداسي تعليم ددی چه شاګردانوته يې ورکوی دغراؤ شريعت له مخی باعث دثواب دی اوکه عقاب ؟ بينواتوجروا؟

جواب :الکلی الاجمالی اماعن الاول اتحادباطل دی اجماعاً اوتشابه نه لازم ده اونه ممتنع بلکه ددليل تابع ده او دتشابه دليل په ضاد يادظاءکي دفن دماهرينونه منقول ده نه په ضاد يادال کي وعن الثانی دهغه په صحت کي څه شبهه شته وعن الثالث والرابع داحتمال په درجه هم باطل ده لکن ددي پوښتني غرض ذهن ته ندی راغلی بياهم دامحذوريه لوستلو دضادپه صورت دمفخم دال کي الزم دی ، نه په لوستوکي يې دظاء په صورت کي ،اګرکه بل محذور مثلا تحريف په لازم وی کماسياتی وعن الخامس صحت اوفسادلمانځه دمعنی دصحت اوفسادتابع دی ، لاکن په دواړو صورتونوکي معصيت مشترک دی اوداحکم مخصوص ندی دضاد په تغيرسره نده ،لکه چه که څوک په شبهی سره د (ذلک الکتب لاريب فيه) په خای (هذالکتاب لاريب فيه) ووائی لمونځ نه فاسديږی ،اوداتغيردضادپه سبب دشبهی ده باقی تشخيص کول دکبيره ياصغيره والی دمجتهدکاردی اوښکاره خبره ده چه دمعصيت زده کول هم معصيت ده ،لاکن همداشان چاپوري تړل دمعصيت بلادليله ،اودتشابه فاعل ته داتحاد فعل وبل هم معصيت دی ، په هر حال ضاد مستقل حرف دی نه عين ظاء ده اونه عين دال اګرکه مشابه الصوت ده له ظاء سره ، لاکن دمشابهت مفهوم خپله مستلزم دامتياز دی ،څکه ديوشی مشابه والی په خپل ذات کي معنی نه لری مشابهت په متغايرينوکي وی،نوامتياز داواز علماً ياعملارفع کول ښکاره غلو دی ،امادامتياز داواز دکتابونو څخه لاسته راځی دماهر څخه داوريدلوپوري تړلی دی مادپانی پت دقاريانو څخه چه په دی فن کي خاص امتياز لری داحرف اوريدلی دی دهغوی په اداء صريح امتياز محسوسيږی، هم دظاء اوهم ددال هذا اوپنځم خواب تتمه هم لری اوهغه داچه دمتاخرينو په فتوی حکم دفساد دصلاة عام ندی بلکه مخصوص ده دقادريه صحيح اداپوري،اماغير قادرنولمونځ يې اوهمدارنګه امامت يې دصحيح لوستونکي لپاره اوغلط ويونکي لپاره په داوړوصورتونوکي صحيح دی ،برابره خبره ده چه ددال په صوت يې ووائی اوکه دظاء په صوْت ، چه دهغه لغت ګرځيدلی يياغلط اداکولوپه صورت کي آيامفخم دال ته ترجيح ده چه اګرچه غلط دی لاکن ممتازدی په خلاف دظاء چه ممتازهم ندی يادمعجمه ظاء لپاره ده چه اګرکه ممتاز ندی ،لاکن دقران حرف دی په خلاف ددال، دابله خبره ده اوپه هرطرف کي يوه ډله شته داهل علمولکل وجهة هوموليها۱۳ جمادی الثانی ۱۳۵۳هـ النورصفحه ۹جمادی الاولی ۱۳۵۳هـ

دعواموډفتنې داحتمال په وخت په سبعه قرات کې له غلوڅخه ممانعت

سوال :(۲۴۸)په بعضې مقاماتوکې دسبعه قراءت اوازه دحدڅخه تجاوزکولوسره روانه ده ډیرو حافظان ماشومان اوناپوهانو ته مختلف روایتونه یادولوسره لولی اونورته یې ورزده کوی اوداصریحادریاپه غرض لولی اونوروته یې وراوروی په تراویح کې هم داسې کیږی ،د کوم څخه چه خان بنودلونه سواکومه نفع نشته آیاداسې ترتیب لوستلو اوزده کولو څخه په دی جنجالي زمانه کې داډار نشته چه جهال او مخالفین داسلام ددې اختلافاتوپه اوریدلوسره مشوش شی ،اودفتنې خوف نشته لکه چه ډیرې حفاظو داویلی دی چه په یورکعت کې د حفص روایت لولی اوبل رکعت کې دقالون روایت چاه یوسړی ته وویل چه ته نه پوهیږی چه داسې صورتونه بنه نه معلومیږی آیاداکار دبندولوقابل ندی ،مهربانی وکړی که دممانعت قابل دی نو که ددې خواب لړ په تفصیل سره په الامدادکې طبع کړای شی نوبهتره ده خماخیال داهیڅکله نده چه ددې تعلیم بندشی، بلکه ټینګارکیږی چه دتجوید نوم قرائت ده اوعوامونه ددې ضرورت دی ، که کوم لیکونکې ، لوستونکې انسان ددی حرف هم ښهٔ وی نوهغه سبع لوستل کیږی ، سفیهان اوتنګ نظره خلک دی یوازی تجوید لولی اوقراءت غوښتونکوته ښکاره چه هرکس اوناکس ته سوادروایت دحفص اوتجویدڅخه کوم څیزونه لولی ؟

جواب :قال الله تعالى ولاتسبوالذين يدعون من دون الله فيسبوالله عدوابغير علم فى تفسيربيان القرآن ددې څخه شرعیه قاعده ثابته شوه چه مباح بلکه مستحب هم کله چه دحراموسبب وګرځی هغه حرامیږی الخ وروى البخارى عن على قال حدثواالناس بما يعرفون اتحبون ان يكذب الله ورسوله فى حقيقة الطريقة دډیرې بی ادبه خلکوپه وړاندې بی تکلیفه دقائق بیانولوسره ناسته دی ډیرې عوام دهغوی تکذیب کوی اوډیرې دشرعیت مشهوره قواعدو څخه منکریږی نوپه هرحال دالله اورسول د تکذیب تحقق وشو، والثانى اشدمن الاول په دی حدیث کې ددې عادت ممانعت ده وروی مسلم عن ابن مسعودانه قال ماانت بمحدث قوما لايبلغه عقولهم الاكان لبعضهم فتنة فى حقيقة الطريقة ددې حديث نه هم همغه مضمون ثابتیږی کوم چه ددې حدیث نه مخکې حدیث څخه ثابتیږی ص (۸۲) وفی ردالمحتارتحت مسئلة كراهة تعيين السورة فى الصلوة من الدرالمختارمانصه حاصل كلام هذين الشيخين بيان وجه الكراهة فى المداومة وهوانه ان راى ذلك حتمايكره من حيث تغيير المشروع والايكره من حيث ايهام الجاهلج ۱ ص۵۲۸. دآیت حدیث اوفقهې تولوڅخه دغه قاعده ثابته

شوه په دکوم عمل نه چه په عواماو جاهلانوکې مفسده فتنه اعتقادیه یاعملیه یاحالیه پیداشوه ددې پرېښودل په خواصوواجب ده باقی دفتنې حدوث یاعدم حدوث دمشاهدی څخه معلومیږی ،په سوال کې په ډیرو حالاتوکې چه کومه فتنه په سبعه باندې مرتبه کیدلوذکردی هغه دمشاهدی څخه وروسته شرعی فتوی شوه چه خاص په دغواحوالوکې دسبعه استعمال ممنوع کیږی ، اوکه ددې سره دقاری نیت هم اظهار دعلم ، دعوای کمال، اوریاء اوتصنع اوتفاخروی نوداقتنه دهغه لپاره اضافه ده لهذاپه دی باب کې چه کومه مشوره په سوال کې مذکوره ده واجب الاتباع ده ۱۴ذی الحجه ۱۳۳۵ھ (تتمه خامسه صفحه ۱۴)

دبیان القرآن په عبارت باندې دشبهی خواب چه دابن مسعود دقراءة نقلولوپه باره کې ده وعلی الوارث ذی الرحیم بلاسند الخ

سوال :(۲۴۹)دبیان القرآن په منهیه کې دابن مسعودقراءة وعلى الوارث ذى الرحم یې بلاسندذکرکړی ؟

جواب :دتفسیرمظهری څخه اخیستلی چه په نقلولوسره یې مفسر لیکې چه امام ابوحنیفه په خپلې اصلی قاعدی عمل کړی چه دابن مسعوددقرات څخه یې دکتاب تخصیص اوپه هغه باندې څه زیاتوالی جائزدی اوهدایه کې هم داقرائت نقل شوی، نوکه داحقرپه کتاب باندې شبهه وی چه ددې خواب دومره بس دی چه دهغه ماخذ فلانی کتاب دی اوکه شبهه دهغه په کتابونوباندې دی نودهغې تصریح ښکاره چه بل خواب ورکول شی ۹جمادی الاخری ۴۳ھ (ترجیح خامس صفحه ۱۴۹)

تحقیق داثبات اواسقاط دالف دتثنیی دذاقا اوقالا الحمد وغیره

سوال :(۲۵۰)د[1] تثنیی الف لکه الف دذاقا الشجرة وقالا الحمدلله الذى اوواودجمع لکه وقالوالحمدلله . وافعلو الخير دکلام په درج کې ساقطیږی اوکنه ؟اودهغولوستل ښکاردی اوکنه ؟

جواب :پدې باب کې کوم معتبر سند خماله سترګونه دی تیرشوی البته حضرت مولناقاری عبدالرحمن صاحب په خپلوبعضو رسائلوکې دالتباس په موقع کې دتثنیی الف څقدر په اظهارکې لیکلی دی مګر د جمع واویې ندی لیکلی مګرددې لپاره چه په دی باندې کوم دلیل نشته لهذا داخمامعمول ندی اوالتباس خوپه ډیرو ځایونوکې دجمعی واوکې هم دی .لکه

[1] سهوږکاتب نه دوم نمبرسوال ۲۴۲و۲۴۳ دهغه د خواب سره دکتابت څخه پاتې شوی دتصحیح په وخت کتابت کولوسره تارک داخل کړای شومګردنمبراوسلسله ۲۴۴ ۲۴۵ لیکل شوی ده کتاب ثانی کې به درست کړای شی ۱۲

ځنګه چه په قل ادعوالله اوادعوالرحمن کې په داسې حال کې چه دلته هيڅوک قائل نشته اودالتباس دلرې کولولپاره سياقيه قرينه کافي ده والله اعلم ۲۵رجب ۱۳۲۵ھ امدادصفحه ۱۱۲ج۱.

سوال :(۲۵۱)په نولسمه سپاره کې چه دولقدآتيناداودوسيلمان علما وقالا الحمدلله الذی داعرض دی چه په قالا الحمدلفظ کې الف قطع کيږي اوکنه؟ قالال دی اوکه قالل دی نوصيغه به تثنيه پاتې نشی که قالال وی نواجتماع دساکينوراځی دلته مې دحافظانو څخه معلومات وکړنواختلاف شته ،څوک ېې قالال وائی اوڅوک ېې قالل وائی نومحترمه ددې تصحيح وفرمايې؟

جواب :زه الف نه لولم اونه ترشه دالف لوستلوکوم دليل پيداشو، او داشبهه عجيبة ده چه تثنيه نه پاتې کيږي آيا دتثنيې الف دکوم عارض په سبب لفظ نه ساقطيږي ګنی لازميږي چه دسورة بنی اسرايېل په اخرکې په قل ادعوالله کې هم واوظاهر کولوسره ولولی ګنی جمع به پاتې نشی پداسې حال کې دلته هيڅوک هم دواولوستلو قائل ندی .که چاته دالتباس شبهه وی نودمقام خصوصيت دهغه دافع دی ګنی په قل ادعوالله کې هم دمفرد سره دالتباس اعتبارکول پکاردی، که دسماع عن القراء څخه استدلال کولی شی نوددې خلاف هم مسموع عن القراء ده، ۲۴جمادی الاخری ۱۳۲۲ھ امدادصفحه ۱۳۸ج۱.

تحقيق اخفاء

سوال :(۲۵۲)آيااصحيح ده چه په اخفاء کې ساکن نون ياتنوين پدې ترتيب اداکړی چه څه نون ساکن ياتنوين راووځی اوڅه هغه حرف راووځی چه دساکن نون ياتنوين څخه وروسته دی مثلاً رنګون اورنګت وغيره؟

جواب :صحيح دی ځکه چه حقيقت داخفاء بين الاظهار والادغام دی اوپه اظهارکې نون خالص وی .اوپه ادغام کې بالکل نه پاتې کيږي .ګواکې غنه شوه نوداپين بين شو فقط ۵رجب ۱۳۲۱ھ امدادصفحه ۱۱۲ج۱.

تحقيق دادغام دظاپه اذظلمواکې

سوال :(۲۵۳)په ولوانهم اذظلموا کې ايادذال ادغام په ظاء کې به وی په خيتوقرانونوکې په ظاء باندې تشديدوی؟

جواب :په اذظلمواکې بالاتفاق ادغام دی ،کمافی غيث النفع المدغم اذظلمواللجميع اوددی لپاره چه اول حرف ساکن دی دغه ته په اصطلاح کې صغيره ادغام ويل کيږي داهم په مقدمه

دغيث النفع کې شته اودسابقه عبارت نه وروسته چه (ک) ليکل شوی چه دکبير ادغام رمزدی،يعنی هغه وخت چه حرف اومتحرک وی دادمابعد مواقعولپاره ده،داتعريف اواصطلاح هم په مقدمه کې ده النورصفحه ۸محرم ۱۳۵۸ھ

په بعض اوقات باندې دشبهې رفع کول

سوال :(۲۵۴)اذيعدون فی السبت کې اذالقريه لپاره ظرف دی يعنی واسئلهم عن القرية التی کانت حاضرة البحر کې چه کومه قريه ده ددې مضاف محذوف دی اذيعدون ظرف دی ددې مضاف نوداذجدا کول دقريه څخه رواشول،يعنی بحر داڅسره يوځای لوستل پکاردی بيايه بحر باندې وقف آيا علماؤ بی دتحقيقة ليکلی دی اوکه کومه وجه شته نوبيان ېې کړی؟داځويه سوره اعراف کې وه ،همدارنګه په سورة المومنون کې په اعناب باندې وقف لازم ګنی پداسې حال کې چه داوقف هم قبيح دی ځکه چه اعناب مفعول دی دانشاناالپاره يقيناً او وشجرة تخرج معطوف دی په اعناب باندې دمعطوف اومعطوف عليه په مينځ کې فصل کول خصوصاً کله چه مفردات وی جملی نه وی نا جائزدی نودانشانا څخه تر للاکلين پورې وقف کول رواندی ،نوپه اعناب باندې هم وقف کول نارواشول، ناروانه لازم ويل معاذ الله سخته ګناه ده بلکه که پوهه اودانسته سرة ووائی نوکافرکيږي مثلاًدپردی لمس کول نارواډی که څوک ديته واجب ووايی نو دمسلمانانوپه اتفاق سره کافرکيږي؟

جواب :اول څومقدموباندې پوهيدل پکاردی ،لمړی مقدمه : د آيتونودسرونوڅخه علاوه چه هغه دسبعه قراءت په شان توقيفی دی، اوکوم اختلاف چه په هغوکښی شته هغه بناء علی اختلاف للروايات دی، اوپاتې څومره اوقاف چه دی هغه ټول اجتهاديه اوذوقيه امور دی، اوذوق لسانی څخه په هرلغت کې دافصل او وصل په مختلفو مواقعو کې استعمالولی شی،اوپدې کې اختلاف په اساس اختلاف علی التفسير والتاويل والاعراب دی لکه اختلاف دمسايل قياسيه حنفيه وشافعية،په همدې اساس دوقفونو په باب کې دقراءت داامامانواصطلاح بيله بيله ده، لکه چه د بعضوپه نزدداڅوقسمه دی تام، اتم، کافی، اکفی ، حسن، احسن، صالح، اصلح، قبيح، اقبح اودامام سجاوندی رحمه الله داصطلاحات دی مطلق، جائز، مجوز،مرخص، اوپو قسم ددې مطلق لازم دی اودخينوداصطلاحات دی تام،شبهه بالتام، ناقصا ، شبه بالناقص حسن ،شبيهه بالحسن،قبيح، شبيه به قبيح لکه چه

داتول اصطلاحات په منارالهدی کې موجود دی دکوموچه عنوانونه،معنونات،تعین دمواضعوتولومختلف دی

دوهمه مقدمه: په وقف لازم کښې لزوم په معنی دواجب یافرضیت ندی بلکه په معناد مؤکد استحسان دی اوددې لزوم مداریه ایهام دی که وصل د غیرمرادارادی موهم وی هلته وقف لازم ګڼل کیږی

دریمه مقدمه: په همدې ترتیب په وقف قبیح کې قبح دکفریامعصیت دلزوم په معنی نده بلکه په معنی دعدم استحسان ده اوددې لزوم مدارهم په ایهام ده څه وقت چه فصل دغیرمرادارادی موهم وی هملته وقف لازم ګڼل کیږی لکه چه ددواړومقدمودلیل په منارالهدی کې شته،

اذاعلمت هذاعرفت بطلان قول من قال لایحل لمن یؤمن بالله والیوم الاخران یقف علی سبعة عشرموضعافان وقف علیها وابتدامابعدها فانه یکفرولم یفصل والمعتمدماقاله العلامة النکزاوی انه لاکراهة ان جمع بین القول والمقول لانه تمام قول الیهودوالنصاری والواقف علی ذلک کله غیر معتقدلمعناه انماهوحکایة قول قائلها حکاهاالله عنهم ووعیداحقه الله بالکفارو المدارک ذلک کله علی القصدوعدمه ومانسب لابن الجزری من تکفیرمن وقف علی تلک الوقوف ولم یفصل ففی ذلک نظرنعم ان صح عنه ذلک حمل علی مااذاوقف علیهامعتقدامعناه فانه یکفرسواء وقف ام لاالی اخرماقال واطال وفیه ایضاالقبیح وهومااشتدتعلقه بماقبله لفظاومعنی ویکون بعضه اقبح من بعض نحوان الله لایستحی فویل للمصلین فانه یوهم غیرمااراده الله تعالی فانه یوهم وصفالایلیق بالباری سبحانه وتعالی ویوهم ان الوعیدبالویل للفریقین وهولطائفة مذکورین بعده الی اخرماقال واطال وفی الجزریة ولیس فی القران من وقف واجب ولاحرام غیرماله سبب وقال الملاعلی قاری فی شرح البیت وحاصل معنی البیت بکماله انه لیس فی القران وقف واجب یاثم القاری بترکه ولاو قف حرام یاثم بوقفه لانهمالایدلان علی معنی فیختل بذهابهماالاان یکون لذلک سبب یستدعی تحریمه وموجب یقتضی تحریمه وکان یقصدعلی مامن اله وانی کفرت ونحوهما کما سبق من غیرضرورة اذلایقصدذلک مسلم واقف علی معناه واذالم یقصدلایحرم علیه لاالوصل ولاالوقف فی مبناه . او بناء علی المقدمة الاولی، ممکنه دی چه دی ایهام کې قاریان مختلف وی

څلورمه مقدمه په اجتهادیه امورو کې داختلاف کولوڅخه تضلیل یا تفسیق نه کیږی، ګنی به تولومجتهدینوباندې به عافیت تنګ شی

پنځمه مقدمه فی منارالهدی یظلمون کاف شرعاًجائزوفیه ایضا واعناب جائزومثله کثیرة ومنهاتاکلون کاف علی ان قوله وشجرة منصوب بفعل مضمرتقدیره وانشاناشجرة وانبتناشجرة ولیس بوقف ان عطفت شجرة علی جنات وخینئذلایوقف علی واعناب ولاعلی کثیرة ولاعلی تاکلون

شپږمه [1] مقدمه په اذیعدون فی السبت کښې دااحتمال هم شته چه اذد عامل مقدرلپاره ظرف وی، اودا کلام مستانف وی، یعنی کله چه دا وویل شی واسئلهم عن القریة التی کانت حاضرة البحر،ماکان حالهم نویدې باندې قدرة داسوال پیداکیږی چه متی ؟ ددې خواب ورکول شوچه اذ یعدون فی السبت ای کانت تلک الحال اذیعدون فی السبت اوهمدا احتمال دسجاوندی په ذهن کې راجح دی

اومه مقدمه: په لکم فیهافواکه کښې هم داستئناف قوی احتمال دی،څکه هرکله چه دانعام په طورداوویل شول فانشانالکم به جنت من نخیل واعناب نودلته سوال پیداشوای نعمة کان لنافی انشائها ددې خواب ورکول شولکم فیهافواکه کثیرة ومنهاتاکلون، سجاوندی دغه احتمال غوره کړی

اتمه مقدمه ددې لپاره چه دوقوف علم ډیردقیق علم دی چه پکې دډیرو علوموضرورت دی دهمدلامله ددې تولوآلاتواوعلومونه بغیرپوازی دلږ مناسبت ددرسی علوموپه سبب پدې کښې کلام جائزندی همغه شان چه دتولواجتهادیاتوحال دی،وروسته دتمهید دې مقدماتوپه خواب پوهیدل پکاردی ،چه په سوال کې په دواړو ځایونوکې چه کوم وقف لازم دی هغه دسجاوندی په قول دی ،دکوم چه سبب دادی چه په وصل کې ایهام داداو واسئل دمتعلقاتوڅخه دکیدلواوهغه دسجاوندپه ذهن کې دقرانی مرادخلاف دی څکه دهغه په نزدداجمله مستانفه ده ، همغه شان چه په شپږمه مقدمه کې ظاهرشوی ،دهمدی لامله هغه په بحرباندې وقف کړی، اوایهام داعناب دموصوف اوجمله دلکم فیها فواکه کثیرة دصفت کیدلوالخ دغه ایهام

[1] په اصل کتاب مطبوعه مجتبائی دهلی کې لس ځایه دلته مقدمات شته.لاکن ددې سره ضمیمه په نوم دتصحیح الاغلاط کې ددې مقام څخه اتمه اونهمه مقدمې دحذف کولوهدایت کړې شوې اوباقی مقدماتوکې اوبیاپه اصل خواب کې ئې ځای په ځای ترمیم اواصلاح فرمایلې شوې،احقر دتصحیح الاغلاط دهدایت موافق دواړه مقدموحذفولوسره اته پې باقی رښودي اونورومقاماتوباندې هم دترمیم قابل عبارتونوکې دحضرت تحریرکړې ترمیم درج کړې پوازې دری ځایه داسې اوچه په هغوکې خوحضرت دترمیم ضرورت فرمایلې خودترمیم نه وروسته پې چه کوم عبارت ایښودې دی هغه پې تحریرندے فرمایلې دهغې لپاره دغه ځایونه پې بعینه پریښودې دی اودحضرت تحریرپه دغوځایونوکې دحاشیې په طورلیکلې دي ۱۲ محمدشفیع دیوبندي عفی الله عنه

په وقف باندې نه لرى كيږى .څكه وقف په كوم ترتيب په دى باندې دلالت نه كوى چه داداعناب صفت ندى ، بلكه نخيل واعناب ټول يادجنات صفت دى .لهذا استدلال هلته پكار دى چه دسجاوندى په نزد داكلام مستانف دى همغه شان چه په اومه مقدمه كې ظاهره شويده ،اويه وصل كې دجنات ، يانخيل واعناب دصفت كيدلو شبهه وه كومه چه دده په نزد خلاف مرادقرانى ده دهمدى لپاره هغه وقف كړى پاتې شوه شبهه دقبيح وقف كيدلو نوهغه دپورتنى بيان څخه دفع شوه .څكه بره معلومه شوه چه عدم وقف كې دسجاوندى په نزد خلاف مراد ايهام دى دهمدى لپاره وقف ضرورى شو نه چه قبيح ، اوكه پوازى دفصل په موجب قبيح ويل كيږى نواول خودا تفسير قبيح هيچاندى كړى اوكه داتوى اصطلاح تسليم هم شى نووقف كولوباندې څه موقوف دى، خپله په دوهمه موضع كې دومره لوى كلام فاصل شولكم فيهافواكه كثيرة ومنها تاكلون دقبح دلزوم لپاره كافى كيدل پكاردى ،داتمى مقدمى په حكم، بلكه داسې قبح [1] خوقران مجيد كې سلهاځايونه لازميږى مثلاپه مذكوره آيت كې وقيله كې دنصب دقرائت په بناء چه متواتره قرائت دى داخفش داختيارمطابق چه دنحوى جليل امام دى ،دقيله عطف په سرهم اونجواهم باندى تجويزشويدى چه كوم كې عامل اومعمول ترمينځ اوه توقيفى اجماعى آيتونه فاصل دى اودزجاج دقول مطابق په ساعة باندې دعطف تجويزشوى دى په كوم كې چه دوه ايتونه فاصل دى ،دنهمى مقدمى په حكم ، نوكه فصل مطلقا دقبح موجب وى نودغوبزرگانوامامانويه قران كې دذدومره قبائحولزوم څرنگه برداشت كړى [2]، علاوه ددې چه بناء دشبهاتوده چه په اذْيعدون كې اذددې مضاف ظرف دى الخ ياشجرة دانشانا لپاره مفعول دى ،خپله په همدې كې كلام كولى شى ددې لپاره چه داتوجيه هم ممكن ده چه داذعامل محذوف وى مثلاكانت حاضرة ياوقعت القصه يادديې په مثل، لكه چه په قران كې ددې نظايرپه كثرت سره موجوددي،نويه هرحال دقبح دلزوم هيڅ كوم اساس پاتې نه شواووروسته دالتيااوالتى كه هرومرو څوك دقبح قائل وى ،اودچاپه دى كې شرح دصدروى نودهغه دغه تحقيق په خپل نفس باندې حجت كيدلى شى،په قايلين بالزوم باندې دچاچه مستند دليل صحيح شته حجت ندى ،داولى مقدمى په حكم ، بيالمس اجنبيه باندې

---

[1] دااعتراض هم سائل باندې نه واردېږى څكه چه دجملى معترضى فصل نګڼل كيږى په خلاف دلازم دهغه توضيح په دې سره كيدى شي قتلت اليهود لعنهم الله تعالى واذاقهم عذابالحريق الانبيا بالاتفاط جائزده اويه قتلت اليهود والانبياء كې يهود باندې وقف لازم صحيح ندى لهذادغى اعتراض ساقطيدل پكاردى ۱۲ تصحيح الاغلاط ص۱۹ ج۱

[2] داصحيح ده خوپه دې كې دومره نوره اضافه په كارده چه سجاوندى هدا تركيب اختيار كړى ده اويه همدى بناء ئې وقف لازم كړى نه لكه چه وړاندې بيان كړاى شوى ده ۱۲ منه تصحيح الاغلاط ص۲۰ ج۱

چه قطعى حرام اجماعى ده قياس كول داختلافى اجتهادى امر اول خوغفلت دى دمعنى دلازم اوقبيح څخه بيا به په سبب د فارق قطعيت اواجتهاديت څرنګه صحيح كيږى ، دخلورمى مقدمى په حكم ، لكه چه صاحب دمنارپه كانت حاضرة البحر باندې وقف نه دى ګرځولى اويه اعناب باندې يې وقف جائزمنلى ، دپنځمى مقدمى په حكم ، لاكن داقسم اختلاف لكه چه صاحب دمناردامام سجاوندى سره كړى ده زموږ پشان خلكو لپاره چه نه دومره علم شته اونه هغه ذكاء اوسلامت دنظر رواندى ، دلسمى مقدمى په حكم ، فقط والله اعلم /اول دشعبان ۱۳۲۱ھ (امدادصفحه ۱۳ ج۱)

دتجويداوقرائت دعلم دوجوب تحقيق

سوال:(۲۵۵)دقرائت دمدرسى دخدمت څه څه فضيلتونه ايښى دى اود آعلم اياواجب دى اوكه مستحب؟

جواب:قال الله تعالى وتعاونوا على البر والتقوى ددې څخه په هرامر خيركې اعانت باندې امراوفضل ثابت دى .البته كله كله خيركې شر يو ځاى كيږى دهغه اصلاح واجب ده ، اوددې علم درى شعبى دى تصحيح دحروفودامكان په اندازه ،اومراعات دوقفونويه دى معنى چه كوم ځاى چه دوقف كولوڅخه په معنى كې فساداو اختلال وى هلته وقف مه كوه اويه اضطراركې عفوه ده لكه ديوى دووكليمو اعاده كول احوط دى دا دواړه كارونه خوعلى العين واجب دى ،اودچاچه په كوښښ كولوسره هم د حصول څخه نااميدى وى هغه معذور دى اويوه شعبه داختلاف قرات ده ،داپه مجموع امت باندې على الكفايه واجب ده ، كه څينې پوهيدونكې موجودوى ،يابعض د يو قرات حافظ وى اوبعضى دبل قرات نوداواجب د ټولو ددې څخه اداء كيږى يوه شعبه درعايت دادغام ، تفخيم ،اظهار او اخفاوغيره ده چه هغه مستحب ده يظهرهذاكله من المراجعة الى كتب الفقه والقراءة فقط والله اعلم ۱۲ ذى تعده ۱۳۲۵ھ (امدادصفحه ۱۴۰ ج۱)

دكلام مجيداوقانونبوت

سوال:(۲۵۶)داكوم رموزونه چه په قران شريف كې موجوددي اودقراؤ معمول بهادى ددې ثبوت دكوم ځايه څخه دى لكه آيت ،سنت اجماع اوقياس دى اوكنه ؟اوكوم شخص چه په دى باندې قصداًعمل ونه كړى دهغه په هكله څه حكم دى ؟

جواب :[1] آیتونه اووقفونه دقران مجیددکتاب،سنت،اجماع ،او قیاس څخه ثابت دی اماالکتاب فقال الله تعالی ورتل القران ترتیلا حضرت علی فرمایلی دی چه دترتیل معنی داده چه دحرفونو تجویداو سرته رسول دوقفونودقاری مرحوم قادربخش دمصنف مختصر التجوید څخه فی الصراح ترتیل ،اوارلوستل اوښکاره لوستل ، وقال الله تعالی – ولقداتیناک سبعاایات [2] وهی الفاتحة بیضاوی ۱۲اما السنة فعن ام سلمة قالت کان رسول الله ﷺ یقطع قراته یقرا – الحمدلله رب العلمین ثم یقف الرحمن الرحیم – ثم یقف ترمذی ج۲ص ۱۳وعن ابی هریرة عن النبی ﷺ ان سورة من القران ثلاثونه ایة شفعت لرجل حتی غفرله وهی تبارک الذی بیده الملک ترمذی جلد۲ص۱۲٦وفی الحدیث [3] من ضمن ان یقف علی عشرمواضع فی القران ضمنت له بالجنة کذافی الدرة دمرحوم قاری سیدمحمدی دهلوی دمصنف نهایات البیان څخه واجماع دادې چه ترننه پورې په سلف اوخلف کې چاددې خلاف ندی کړی بلکه همیشه په دی فن کې تصنیفات فرمایې کمایعلم من مطالعة رسائل القراة اوقیاس داچه په کلام کې مواضع دفصل اووصل مینځ ته راځی نودهغوله جملې څخه دحسن کلام مراعات ددې هم رعایت دی مګردومره فرق دی چه دژبې خاوندانولپاره په دی کې څه تکلف اومشقت نه وی اوغیردژبې والاو لپاره مشکلات پیداکیږی دهمدی لپاره صحابه یې کرامو رضی الله عنهم ته د دغه تعلیم اوتعلم حاجت نه وګله چه قران شریف ټولوملکونوته خپورشواودهغوی ژبه عربی نه وه نوګډوډی مینځ ته راغله اوبې موقع اوغلط لوستل پیداشول دهمدوی لپاره دسلف علماو دقران اعراب اورموز دقران تجویز وفرمایلو اوضبط یې وکړلو ترڅوهغوی ته سهولت وی،نوددې ثبوت دڅلوراړو شرعیه ادله وڅخه دی اوحتی الوسع دهغو مراعات ضروری دی چه بعضی ځایونوکې دمخالفت کولوڅخه معنی ته زیان رسیږی ،لکه په براءة سورت په والله لایهدی القوم الظالمین آیت کې دریدل لازم دی اوکه دلته ونه دریږی اوالذین امنوا وهاجروا سره یې یوځای کړی نومعنی بالکل فاسدیږی کمالایخفی وکفی قدوة بماقال النبی ﷺ

---

[1] په دی مبحث احقرکې یو تحریرمبسوط ده چه داستباط وقف لازم رسالی په اخرکې چاپ شوی ۱۲ منه

[2] آیت هم وقف بالمعنی الاعم کې داخل دی ۱۲ منه

[3] دا حدیث د حدیثویه کتابونوکې خماله تره نده تیرشوی

ماراه المسلمون حسنا فهو عندالله حسن ،اوڅوک چه ددې قصداًمخالفت وکړی هغه دجماعت مخالف دی،والله اعلم محرم ۱۳۰۱ھ (امدادصفحه ۱۴۱ج۱)

سوال :(۲۵۷)یوازی دادی چه قران مجیدکې هرځای کې چه دا(لا) علامه وی هلته وقف کول یانه کول حضرت رسالت مآب ﷺ وقف فرمایلودادحضرت ام سلمه دروایت څخه ثابت دی لکن دګجرات حفاظ اوعلماء دغلته دوقف څخه منع کوی لهذا دحضور څخه معلومات کول ؟

جواب :نه کول اولی دی مګرکوم ځای چه منقول وی هلته وقف کول اولی دی ۹ذی القعده ۱۳۳۲ھ (تتمه خامسه صفحه ۷۱)

دوقف په ځای وقف نه کول :

سوال :(۲۵۸)دوقف په مواضع کې دقران مجیددقرات وقف یوازی په اسکان دحروف موقوف علیهابلا انقطاع انفاس تیریدل لکه چه داکثرو حفاظو عادت جائز ده او کنه ؟

جواب :شرعا روا ده یعنی ګناه نده ،لکن دعربی اوفن قرات خلاف ده فقط ۹محرم ۱۳۲۲ھ (تتمه اولی صفحه ۴۲)

په مشددحرف باندې دوقف کولوطریقه :

سوال :(۲۵۹)په مشدده حروفوباندې وقف دسکون سره کولی شی یاپه اشاره دتشدید ، اویه دی حکم کې د(را) او(نون) اونورو حروفوکې څه فرق شته اوکنه ؟

جواب :څه اندازه داثرښکاره کول په کاردی هرحرف چه وی ،فقط ۹محرم ۱۳۲۲ھ (تتمه اولی صفحه ۴۲)

[1] د انعام سورت په ایتونوباندې دشبهې ځواب :

سوال :(۲٦۰)دسجاوندی په اوقافوکې اکثرا اندیښنه وی مخکې می هم عرض کړی ؤ اوس په دوه ځایونوکې اندیښنه ده که دمبارک په خیال کې کومه توجیه راغله یامویه کوم کتاب نظر وغورزیده نواعلام یې وفرمایې (۱) واقسموابالله جهدایمانهم لئن جائتهم اية ليؤمنن بهاقل انماالایات عندالله ومایشعرکم انهااذاجاءت لایؤمنون جمله دومایشعرکم ترلایؤمنون

---

[1] په اصل کتاب کې دا عنوان لیکل شوی ده الاسئلة المسئولة من بعد الاجلا الاجلة مدفیوضهم ۱۲

[2] المراد سیدنا الخلیل علیه السلام

پورې په قراۃ دان مفتوحه سره دماقبل څخه منقطع ده دقول په مقوله کې داخل نه معلومیږی
.اودعدم وقف په صورت کې شبهه پیداکیږی چه په مقوله کې داخل وی لهذا په ښکاره په
عندالله باندې وقف لازم ده .مګرپه کوم قران اوياکتاب کې وقف ندی نوشته .حضرت چه په
خپل تفسیرشریف کې ددې ایت متعلق چه کوم څه تحریرفرمایلی دی هغه هم تحریر وفرمایې
نوډیربنه به وی (۲) الاانهم من افکهم لیقولون ولدالله وانهم لکاذبون .ددې لپاره چه په ظاهره
کې جمله دانهم لکاذبون دماقبل څخه بالکل منقطع ده اودقول داخل نده .لهذا وقف لازم دی
.درحالیکه سجاوندی کې لانوشته دی تعجب ده .هوکچیری دقول لاندې بې داخل کړی
اودسیاق خلاف ضمیروانهم مرسلین په طرف راجع کړی نو کومه مضائقه نشته مګرنهایته
بعیده معلومیږی اوپه منارالهدی کې دغه ځای کې جائز لیکلی دی ؟

جواب: داول مکرره دلیدلوڅخه معلومیږی چه ابن عامر،اوحمزه . په قراء سبعه ؤکې انهاپه
فتح دان اولاتومنون ئی دخطاب په صیغه لوستلی ده نوپه دی صورت کې جمله دومایشعرکم
دمقولی داخل کیدلی شی، ویکون المعنی مایشعرکم ای لاتعلمون بل یعلم الله تعالی
انهااذاجاءت لاتؤمنون نوممکنه ده چه دسجاوندی هم همدا قراءت وی .اوباقی قراءت باندې
هم یوه توجیه ادا کیدلی شی چه دقل مقول له کفارنه وی .بلکه دکفارودقسم په اوریدلوسره
کومو مسلمانانوته چه دهغوی دایمان طمع اوددغی طمعی څخه دایتونو دظهور تمنی
پیداکیدله هغوی ته ددواړوجملوڅخه انما الآیات څخه هم اودومایشعرکم څخه هم معلومات
وشواوکفار ددې په سبب چه معانددې دخطاب قابل ونه ګرځول شول والله اعلم .

دوهم: دغه وخت نورڅوځایونه هم په یادراغلل په هرځای کې چه دکفارو قول نقل کړی دهغه
ردنې کړی اوددواړوپه مینځ کې وقف لازم دی، نوپه دی کې داویل کیږی چه که داصل څخه
دکوم خاص نکتی په وجه عدول وی نومضائقه نشته اودلته اصل وقف ؤ مګردنکتی په سبب
عدول کړی شوی دی .اوهغه نکته هغه ده چه شایدچه جناب یوخل فرمایلی ؤو چه تعجیل
تنزیه دحق اوتعجیل ابطال دباطل مقصود ده والله اعلم ددینه علاوه اوقاف اجتهادی دی
والاجتهاد یحتمل الخطاء والصواب. اوداهم[1] ویل کیږی چه لازم وقف هلته وی چرته چه وقف
نه کول دخلاف مقصود موهم وی اودلته عقلیه قرینه ددې ایهام قطع کونکې ده .څکه چه
پدې دلالت کوی چه یوسړی دیوه کاردعوی وکړی اوخپله بې ددې سره سره .تصریحا اوالتزاما

[1] اوهم دغورکولونه معلومیږی چه په وقف لازم کې دکفرایهام نه دیح کیدواعتبارکړای شوی دی نوکه کفارکومه خبره دایمان وکړی نوداکفرنده لهذا په داسی مقام باندې وقف لازم نده شوی ۱۲منه،

ددې ابطال وکړی .داعادۃ ممتنع ده . نودلته په وانهم لکاذبون کې ضمیرخویقینا دیغو
دقائلینوپه طرف دی . دمذکوری بناء په اساس دامتنع دی چه هغه خلک چه ولدالله هم وائی
اوخپله هغه کاذب هم ووائی علی هذاپه وقالواتخذالله ولداسبحانه آیت کې په پورتنی اساس
باندې دامتنع دی چه هغه خلک اتخذالله ولداً هم ووائی اوتنزیه هم وکړی نوددې لپاره چه
ایهام دمقصود خلاف نه ؤ لهذاپه دغومواقعوباندې وقف لازم نه شووالله اعلم ۴شوال ۱۳۳۲ھ
(تتمه اولی صفحه ۱۳۳۲ھ)

دسبعه قراءت دضرورت په شکله دالامدادپه رسالی باندې دشبهې خواب

سوال: (۲۶۱) د ۱۳۳۲ھ ربیع الثانی دمیاشتی دالامداد۱۷رسالی په مضمون کې چه حضور
د یوسوال په خواب کې تحریر فرمایلی دی چه په وړاندې کولوسره یوصاحب ډیرمعترض
شوچه ته وائی چه دقراءت سبعه فن زده کول فرض کفایه دی .اوټولوخلکوباندې لږ اوزیات
حتما زده کول پکاردی ترڅوچه ددې علم دفقدان اوانعدام ګناه په ټولوباندې نه وی ماهغوی
ته خواب ورکړی مګرددهغو په نزدخواب ددې درجی ندی چه داطیمنان قابل وګرځول شی
احقرته هم ددې مضمون په لیدلوسره په یوه درجه کې داشبه پیداکیږی چه هرکله چه داددین
علم دی خصوصا دقران پاک علم دی .نوهرکله چه دعوامودتشویش په ګمان هغه ترک وکولی
شی نوبیاپه څه کولوسره قائم اورائج کولی شی .دلته داهل علمولپه مجموعه ده. خوسبب
ناخبرتیاده .استعجاب خو پرېږده اکثر استهزاء اوانکارکولی شی نوبیاڅنګه کولوسره ددې
دبقاء اوداجراء طریقه اختیارکړی شی . مثلاپه خینومقامونوکې په تښهدکې اشاره بالسبابه
دبر زیات بد ګنلی کیږی دهغه اصلاح کول پکاردی اوهغه مسنون ظاهرکولی شی پاتې
شوددې خواب سوال کې چه کومی خرابیانی ظاهری کړای شوی دی یقیناهغه هرومرو واجب
الاصلاح دی. نه داچه دهغه دتعلیم اوتعلم سلسله ممنوع وګرځول شی .قریب اوتقریبا ددې
معترض داعتراضونو ماحصل دی احقردخپل پوره قلبی اطمینان لپاره داعریضه ډرلیږی.

جواب: دسایل په کلام کې ښکاره مشوره ده اوپه خواب کې ددې تقریر هم شوی دی چه که
دکوم لوستونکې اولیکونکې انسان حرف هم بنه وی نوهغه ته د سبعه وویلی شی سفهاؤ
اوتنګ خیالو خلکولپاره دتجوید ولوستلی شی الخ اودا داکثروکفایه فروضو حال دی.مثلا
تبحرفی العلوم الشرعیه فرض کفایه دی. لکن ددې سره داحدیث هم شته دی چه واضع العلم
فی غیراهله کمقلدالخنازیراللؤلؤ والجواهر اوکماقال اومشاهده هم ده چه خینې بدطبیعت

خلک دي اودعلومو دتحصیل سره مقتدا جوړ شو. ددینه څه څه مفاسدپیداشوی دي اوددي مفاسدو اشداد ددینه بغیر څه دی چه نااهلان دی درجی ته اوچتول نه دي پکارپادقضاء په منصب چه په حدیثونوېدي څومره وعیدونه راغلی دی سره له دی چه فرض کفایې ده وفی حدیث ابی هریرة مرفوعا العرافة حق (ای واجب ولوعلی الکفایة) ولکن العرفاء فی النار (اذاکانواغیراهل لها) اوکوم خلک چه تن صبا ددې فن مخالف دی نوهغه خونفس فن ته فضول وائی. دهریوه لپاره بلکه دهراهل فهم لپاره هم اوهری شعبی لپاره حتی چه دتجویدلپاره هم فشتان بینهماغرض داچه منکرین ددوه کلیومدعیان دی اودی خواب کې التزام کړی شوی دی ددوه جزېو اوښکاره ده چه جزېه مستلزم دکلیه نه شی کیدلی اودسبعه دعامه فرضیت دعوی څنګه کیدلی شی هرکله چه په خپله په یوه قرات سره هم دقران اتمام فرض عین ندی اوداظاهره ده. شوال ۳۶ هـ تتمه خامسه صفحه ۲۷،

په قران کې دابراهیم په لفظ کې دیاء نه لیکلوسبب:

سوال :(۲۶۲)په قران مجیداوفرقان حمید کې په سورۂ بقره کې چه څومره خایونوکې دابراهیم لفظ راغلی په هغو کې (ی) نده لیکل شوی یوازی ولاړزیر (ابراهام) ورکول شوی، اودسورۂ بقری نه علاوه نورڅومره چه په ټول قران کریم کې دابراهیم لفظ راغلی دی په هغوکې (ی) لیکل شوی ده په عجیبه مخمصه کې یم ایا په معنی کې څه تفاوت شته یاد قراءت باعث دی، امید دی چه داخادم الناس دخواب څخه په سرفراز کولو سره دهغه درازڅخه موخبرکړی؟

جواب :دمخمصی کومه خبره نشته په بعضی خایونوکې دهشام قراءت ابراهام دی نوپه بعضی خایونوکې ددې په مراعات (ی) نه لیکل کیږی چه ددواړوقرائتونو رعایت وشی، پاتې شوه داچه په ټولو مواقعوکې ددې مراعات ولی نشته نودنکتی اطراد ضروری ندی، فقط ۱۹ رمضان ۱۳۲۷ هـ (تتمه اول صفحه ۴۴)

سوال :(۲۶۳)بنده ته اکثروخت دکلام مجید دتلاوت کولوکې داخیال ؤ او شته چه دابراهیم علی نبینا علیہ السلام مبارک نوم په ټول کلام مجید کې ۱۷۷ خایونوکې راغلی دی د۱۷۷ خایونوله جملی څخه په ۷ خایونو کې دزیرسره لیکل شوی او ۱۷۰ خایونوکې دیاء سره په ابتداء کې ګمان داووچه کاتب یدې ترتیب لیکلی دی، پنځه، لس نور کلام مجیدونه می هم وکتل ټول می همداسې. ومونډل اوس حیران یم چه حتما ددې کومه خاصه وجه به وی؟

جواب :رسم خط دسلفوڅخه همداسې راروان دی چرته چه (ی) نشته د بعض قاریانودابراهام قرات ده عجیب نده چه دهغه دمراعات څخه ابراهم ولیکل شی په دواړه طریقوسره لوستل زدی کړی ابراهیم اوابراهم. والله اعلم ۱۱ جمادی الاولی ۱۳۳۱ هجری (تتمه ثانیه ص ۲۷)

دنورسورت رجال لاتلهیهم کې په رجال باندې دوقف تحقیق

سوال :(۲٦٤)په پنځمه رکوع دسورت نورکې دیسبح له فیهابالغدوو الآصال نه ترذکرالله پورې، یوسری لیکلی دی چه درجال نه وروسته سجاوندی دط وقف لیکلی دی، اواکثرومطبوعه قران شریفونوکې (لا) جوړ کړی داغلط دی ابوبکر وغیره کوم خلک چه یسبح په صیغه دمضمول سره لولی دهغوی په نزدیه الآصال باندې ط، کیدل پکاردی اویه رجال باندې لا، اوڅوک چه ئی معروف لعل دهغه په نزدیه رجال باندې ط بودن پکاردی اویه الآصال باندې (لا) دحفص په قراءت کې په رجال باندې لالیکل غلط اوسهودکاتب ده، نه وایم چه په اکثرقرآن کتبی په رجال باندې لالیکل شوی اویه بعضوکې هیڅ هم نشته. کوم چه قریب المعنی ده لاته اوتبادر د معنی هم مشعرده چه رجال باندې دیادولولپاره هم وقف قبیح ده دکوم چه علامه لا ده ددې لپاره چه لاتلهیهم جملة صفت ده لهذاپه رجال باندې فصل بین الصفة والموصوف راځی چه قبیح ده، اوآیت هم ندی، نوط ایښودل په رجال باندې مناسب دی بالاپه هرحال په ټول قرآن شریف کتبی اتفاق دقیاس موافق معتبرشو اوپه رساله دسجاوندی کتبی په رجال باندې وقف مطلق دکاتب سهویاد سخی اختلا وغیره باندی محمول کیږی یاد سجاوندی رساله معتبره شوه؟

جواب :خماپه نزددواړه توجیه صحیح کیدلی شی دمشهور مصاحفو په تقدیرخوظاهره ده اودسجاوندی په تقدیریدې ترتیب چه رجال ته موصوف ونه ویل شی بلکه دبعض په معنی اخستلوسره کلام ته خاتمه ورکول پکاردی، وریسی جمله استنافیه دسوال په طورویل شوی وی چه هغه رجال څرنګه دی؟ اورجال څنګه دی (داسې داسې دی) فارتفع الاشکال ۲۱ ذی حجة ۱۳۲۹ دوشنبی ورځ (تتمه اولی ص ۴۵)

د یاسین شریف په سورت کې په من مرقدنا مدصحیح دی او که سکته ؟

سوال :(۲۶۵)اکثروقرآن شریفونوکې دسورت یاسین په من مرقدنا باندې وقف لازم وغیره لیکل شوی، اودحفص څخه سکته منقول ده ، نوسکته لیکل صحیح دی او که وقف لازم دسجاوندی اومناری الهدی درسالود اختلاف په صورت کې کوم یوزیات داعتبارقابل ده ؟

جواب :خمابه نزددداروترمینځ تعارض نشته څکه چه دوقف لازم داده چه هلته فصل کول پکاردی پدې خاطرچه دوصل څخه دمعنی دفسادایهام ده اودغه غرض دسکتې څخه هم حاصلیږی نووقف په اعتبار د قطع نفس ضروری نه شویه همدې خاطر تعارض پاتې نشو ۱۳ذی الحجة۱۳۲۹ھ تتمه اولی ص۴۵.

(فکانت سراباً) کې دادغام تحقیق

سوال :(۲۶۶)دفکانت سراباآیت لوستل په څه ترتیب دی یعنی دفکانت ته ساکنه پاتې کیږی او کنه،یاسین مشدد کیږی اوت موقوفه کیږی؟

جواب :دابوعمرو،اوحمزه اوکسائی په نزدت دکانت په سین دسر ابا کې مدغم کولوسره لوستل کیږی اودنوروائمه ویه نزدچه امام عاصم پکې هم دی دکوم چه قراءت په هندوستان کښې لوستل کیږی دادغام نه بغیرلوستل کیږی .کذافی المکرره ۲۴ربیع الاول ۱۳۳۰ھ تتمه اولی ۴۲.

په عبارت دتنشیط الطبع ووجوه المثانی شبهې څواب چه دحرف لین چه منځکې وزڅخه مفتوح وی دمدپه باره کې

سوال :(۲۶۷)دتنشیط الطبع اووجوه المثانی متعلق دیوه طالب العلم دالیک راغلی :خمابه تنشیط الطبع اووجوه الثانی کښې څه شبهه ده اوهغه داچه دتنشیط الطبع ص۷یامقدم اولین مؤخربه بیان کې دالیکل شوی دی چه یاء باندې فتحه وی نولین کښې به طول وی په داسې حال کې چه په صاه غیث النفع باندې دوعسی ان تکرهوا شیئا لاندې داسې لیکل شوی دی (یاتی ءالی الفتح فی عسی التوسط والطویل فی شیئ ویاتیان ایضاعلی التقلیل) اوپه صـ۱۲۸دوجوه المثانی باب الهمزتین من کلمة کښې دالیکل شوی دی : اوله همزه مفتوحه وی اودوهمه مکسوره وی نوقالون اوبصری لپاره ادخال دالف [illegible] په داسې حال کښې شاطبی دهشام لپاره هم دخلف سره لیکلی دی لکه چه ومدک قبل الفتح والکسرحجة بهالذوقبل الکسر خلف له ولا،فرمایلی دی شرح ابن القاصح ص۲۱فقط؟

جواب :داورکړل شو،کتاب مقدم دی یاوباپه سرسری مطالعې باندې د دواړومقاموتواصلاح مسلمه ده که کوم صاحب دغه رسالې بیاچاپوی هلته په حاشیه باندې دی متنبه کړی اودغیث النفع مطلب خوظاهردی اودشاطبیه مطلب دادی چه که دوهمه همزه مفتوحه یا مکسوره وی نو بصری اوقالون، اوهشام دکوموتومونوبه طرف دحاواوبااولام څخه اشاره کولی شی ددې اولی همزی په مینځ کې دیوه الف په اندازه مدکوی مګردهشام څخه یوازی دهمزهٔ ثانیهٔ مکسوره په صورت کې دمدترک هم مروی دی ۲رجب دجمعې ورځ ـ۱۳۳۴ھ ترجیح رابع ص۷۷.

تحقیق دشبهې دنقص حسنات په بعض قرات

سوال :(۲۶۸)فلان مولوبصاحب په خپل کتاب کې هم لیکلی دی اوپه وعظ کې نی هم فرمایلی دی چه دابوعبدالله محمدبن شجاع ثلجی څخه منقول دی چه فرمایې چه خماعادت دالحمدشریف په لوستلو کې دمالک یوم الدین والاقرات لوستونکې ول،یوه ورځ مادیوه لوی عربی یوه ادیب فاضل عالم څخه واوریدل چه هغه ملک یوم الدین بی الف والاقرات لوستلواوداثې فرمایل چه دابی الف قرات نهایت فصیح، بلیغ قرات دی دهمغې ورځې څخه ما هم په ملک یوم الدین لوستل شروع کړی ده ، هغه قرات می چه په هغه کې بوالف زیات وه موقوف کړ،یوه شپه می په خوب کې ولیده چه غیبی آوازماته چیغې وهی اوداوائې چه ای بنده تاولې دقرآن شریف یو حرف پرینودو، ستالس نیکیانې کمې شوی،آیاتادجناب سیدالمرسلین ﷺ عالی فرمان نه دی اوریدلی چه دقرآن مجیددلوستونکو لپاره دهرحرف بدله لس نیکیانې میلاویږی،ددې نه معلومه شوه چه هغه چه پکښې ملک یوم الدین دی ویل پکارندی ولی خپلې لس نیکیانې کمې کړم ،دادکوم ځای پورې صحیح دی که ربښتیاکمیږی نوددې لوستل پکاردی اوکنه؟ دوهم عرض دادی چه که قل هوالله احدالله الصمدسره یوځای کولوسره یانستعین داهدناالصراط سره ولولی یعنی په وصل کولوسرهٔ ولولی نودهمزې دغورخولوبه سبب په دواړوکښې نیکیانې کمیږی اوکنه؟

جواب :اووړه قرائتونه متواتراومنقول عن النبی ﷺ دی. دمنقول په اتباع کې څه قسم نقصان نه وی په حدیث کې دقرائیه احرفوبه باب کې راغلی دی کلهاشاف شاف،پاتې شوه شبهه دنقص ثواب بنقص دبناء علی الحدیث،نودنقص فی الکم څخه نقص فی الکیف نه لازمیږی آیامعلوم ندی چه یودوچند ددویوچند څخه باوجود ناقص والی فی العددکښې په کیف اوکمیت کښې برابردی پاتې شوخوب نواول خوهغه حجت ندی بله داچه هغه ته دانتبیه ددې

لپاره ورکولی شوی چه یوقرات ئی مفضول گڼلوسره هغه ئی پریښودی دی نوپه یواعتبار سره ددې فاضل کېدل ورته وویل شول،پاتې شووصل کښې دهمزهٔ وصل کم والی ئ اول خوددې همغه خواب دی کوم چه اوس ولیکل شو،دوهمه داچه ممکنه دی چه هغه حکما ملفوظ کېدلوپه سبب مکتوب الاجرشی . والله اعلم،اشرفعلی ۴شوال۳۵ھ ،تتمه خامسه ص۳۴، رساله ضیاء الشمس فی اداء الهمس، د قاری محمدیامین صاحب مدرس تجویدمدرسهٔ امدادالعلوم تهانه بهون

په تاء اوقاف کښې دهمس داداء کیفیت :

سوال :(۲۶۹)ددین علماء اودقرآن مبین قراء څه فرمائی پدې مسئله کښې چه دکاف اوتاء حرفونه چه مهموسه حرفونه دی ددې دهمس صفت څه معنی ده اوبه څه ترتیب اداء کولی شی،یوصاحب فرمايې چه دکاف اوتاء دهمس صفت څوک اداکولی نشی،اوهغه خپله ئی پدې ترتیب اداء کوی چه په کاف اوتاء ساکن اومتحرک کښې دها، هوزاوریدل ورکوی آیادغه آوازصحیح دی اوکنه؟ همدارنگه هغه صاحب دخپلې اداء دکیفیت په تایید کښې دجهدالمقل کتاب لاندنی عبارت پیش کوی واماالشدید المهوس فهی حرفان الکاف والتاء المثناة الفوقیة فلشدتهمایحتبس صوتهمابالکلیة بل نفسهماایضا حین احتباس صوتهمالان احتباس الصوت بالکلیة لایکون الاباحتباس النفس بالکلیة لان حقیقة الصوت هی النفس ثم ینفتح مخرجاهما ویجری فیهمانفس کثیرمع صوت ضعیف لیحصل الهمس اھ، آیاددې عبارت څخه دهغه صاحب داداء تایید کیږی اوکنه،که کیږی نوداقول قابل عمل دی اوکنه؟ بینواتوجروا؟

جواب :همس دجهرمقابل دی اوجهرپه لغت کې قوی اواوچت اوازته ویل کیږی،اوهمس ضعیف اوخفیف اوازته ویلی کیږی،اودقراء په اصطلاح کې دغه لس حرفونوته چه مجموع ئې فحثه شخص سکت ده حروف همس اومهموسه ویل کیږی،ځکه ددغوحرفونو داداکولوپه وخت کې دهغوی د مخرج څخه آواز داسې کمزورتیا سره راولاړیږی، چه نفس جاری پاتې کیږی ،او آواز ضعیف ضعیف اوخفی کیږی، دهمدی څخه دجهرتعریف اوحروف هم مقابلة معلوم شو،کماقال العلامه علی القاری الهمس فی اللغة الخفاء، وسمیت حروفه مهموسة بجریان النفس معهالضعفهاولضعف الاعتمادعلیهاعندخروجهاوضدها المجهورة اھ منح الفکریة علی متن الجزریة ، مطبوعه مصرص ۲۰، اودحروف مهموسه وڅخه دوه حرفونه کاف اوتاء شدیده دی اونور رخوه دی،اودشدت معنی لغة قوت اوسختی ده اواصطلاحاً دغه اته

حرفونه کوم چه په اجدک قطبت کې راټول دی دیته حروف شدت اوشدیده ویل کیږی ځکه چه دهغو داداء په وخت کې اوازد هغویه مخرج باندې داسې قوت سره رابهرکیږی چه بندیږی، اوپه اوازکې قوت اوسختی پیداکیږی اوددې لپاره چه شدت درخوت مقابل دی لهذا دشدت لغوی اوعرفی معنی څخه مقابلةً درخوت معنی هم معلومه شوه، او علاوه دحروف شدیدهٔ مذکوره اونورپنځه حرفه دمتوسط لن عمر څخه باقی شپاړسو حروفوته رخوه ویل کیږی،نودمذکوره تمهیدڅخه معلومه شوه چه کاف اوتاء مهموسه هم دی اوشدیده هم دی،لکن دیادشوی تعریف پراساس دهمس اوشدت په اجتماع کې په ظاهره اشکال واردیږی، اوهغه داچه دهمس په تعریف کې داعتمادضعف ،اوضعف دصوت اوجریان نفس مذکوردی، اودشدت په تعریف کښې قوت داعتماد او صوت اواحتباس دصوت ماخوذده په داسې حال کښې چه داکارونه یودبل مخالف اوضددې،لکن په حقیقت کښې هیڅ اشکال نشته ددې لپاره ؛ دجهر،اوهمس اوشدت اورخوت په تعریفونوکې چه کوم قوت اوضعف داعتماداوصوت اوجریان اواحتباس نفس او صوت بلل کیږی دااضافی اواعتباری اموردی،یعنی په هریوه صفت کې ددی دمقابل صفت په نسبت قوت،ضعف،جریان اواحتباس پیدا کیږی نوپه کافاوتاءکې من حیث الهمس چه کوم ضعف اعتماداو صوت اوجریان نفس شته هغه په نسبت سره حروف مهجوره ته دی، او من حیث الشدة چه کوم قوت اعتماداوصوت اواحتباس صوت شته هغه په نسبت سره رخوه حروفوته دی فارتفع الاشکال،همدارنگه په هر یوه صفت کې حرفونه په خپل مینځ کې هم سره په قوت اوضعف، جریان اواحتباس نفس وصوت کې تفاوت پیداکیږی،بسبب دگډیدو دنوروقویه یاضعیفه صفاتوسره نوکاف اوتاء په نسبت دصادضعیف دی،ځکه چه په صادکې دری دری قوی صفتونه موجوددې اطباق، اواستعلاء اوصفیر،اوپه نسبت سره ثاء صاء اوضاء اوسین اوشین اوفاء اوهاء قوی دی اوپه نسبت سره نوروشدیده حروفوته ضعیف اوخفی الصوت دی،مگردشدت صفت په سبب پدې کې جریان د نفس لږدی په نسبت سره نورومهموسه حروفوته ، لانه فی الشدة یوجد احتباس الصوت واحتباس الصوت یستلزم احتباس النفس کمافی جهد المقل ، نودمذکوره تقریرڅخه ثابته شوه چه کاف اوتاء کې همس حقیقی یعنی ضعف اوخفاء صوت په هرحیثیت پیداکیږی، خوجریان دنفس په ښه ډول نه وی،اوددې لپاره چه په نسبت سره نورومهموسه حروفوته په دوی کښې جریان دنفس ډیرکم وي دهمدی لامله خینو علماؤددې په مهموسه والی کښې اختلاف کړیدی اوهغوی ته ئی مهجوره ویلی دی،ځکه داسې لږجریان نفس څخه خومهجوره حرفونه

هم خالي ندی لکه چه ملاعلي قاري ددې خلاف په منح الفکريه شرح جزريه کې دشافيه دابن حاجب څخه نقل کړی.همدارنګه دنورو محقيقنو دفن تجويدوالقراءة واقوالوڅخه هم داامر ظاهريږي چه په کاف اوتاء کښې جريان نفس په ښه ډول نه وی ياکم وی دنورومهموسه تورو څخه لکه چه حضرت مولناقاري عبدالرحمن صاحب پاني پتي تحريرفرمايي. لاکن جريان دنفس په کاف اوتاء کې ښه نه معلوميږي اګرکه ضعف دصوت شته.لهذاځيني علماء ددې په مهموسه والي کې اختلاف کړی دی اه. تحفة نذريه مطبوعه بلالي پريس ساډهوره ص۱۹، حضرت قاري محمدعلي خان صاحب جلال آبادی تحرير فرمائي. ترجمه دفارسي اماجريان دنفس په کاف اوتاء کښې لږ کم دی اوپه نوروکښې اکمل دی آه حجة القاري مطبوعه محمود المطابع کانپورص۱۲۔همدارنګه داهم واضح شوه چه قوت اعتماد ،ياضعف اعتماد ،اوجهر الصوت ياخفی الصوت کيدل خوپه حرفونوکې په هرحال پيداکيږي، متحرک وی اوکه ساکن ځکه چه داکارونه دحرفونو په صفاتوپه تعريف کښې دذاتياتوله جملې څخه دی.لکن جريان يا احتباس دنفس ياجريان او يااحتباس دصوت دادعرضياتودجملې څخه دی چه دسکون په حال کښې دهغوظهورکيږي اوچه کله حرفونه متحرک وی نودنفس اوصوت جريان اواحتباس نهايته خفاء کې وی، کماقال صاحب الرعاية ان جری النفس فی الهمس وحبس النفس فی الجهرفی الساکن زايدمن المتحرک وفی الوقف ازيدمن الساکن اه هکذاقال الجاربردی وذکرالجاربردی ان جريان الصوت وعدم جريه عنداسکان الحرف ابين منهماعندتحريکه الخ نوکه کاف اوتاء متحرک وی نوددې لپاره چه دحرفونواداء کيدل دمخرج دانفتاح سره وی لهذادانفتاح په سبب فی الجمله جريان دصوت خامخاوی،نوکله چه دصوت جريان وی نوددې سره جريان دنفس خواه نخواه وی،.په موجب دقاعدی مسلمه جريان الصوت ايستلزم جريان النفس کذا فی الجهد. مګرداجريان دنفس اول خوپه سبب دتحريک دحرف دوهم په سبب دقوی صفت دشدت په آخره درجه خفاء کښې به وی، چه خپله قاري ته هم دهغه پته نه لګيږي بلکه معدوم ويل پکاردی لکه څنګه چه دخينوپه قول دقلقة حروفوڅخه دحرکت په حالت هم دقلقلي صفت نه جداکيږي اونون اوميم متحرک هم دغني له صفت څخه خالي نه دی مګر دعدم ظهوراوغيرمحسوس والي په وجه قلقله اوغنه کاالعدم ګرځي په همدې ترتيب په کاف اوتاء متحرک کې هم اګرکه جريان دنفس وی مګرپه سبب دعدم ظهوراوغير محسوس والي لايعبابه دی.دانفصيل خودتاء اوکاف متحرک متعلق ؤ.اوکه تاء اوکاف ساکن وی،نوددې لپاره چه دحرف ساکن اداء کول داستقراء صوت اوالتصاق مخرج سره وی خصوصاپه حروف

شديده کې چه په هغوی کې تصادم کوم چه بالقوه وی لهذاشدت اتصال کوم چه دهغه په سبب چه کله صوت محتبس شي نونفس هم حتمامحتبس کيږي، کماذکره صاحب الجهد. نوکله چه دواړه نفس اوصوت بندشي نودغه وخت پورې مخرج ته جنبش نه وی ترڅوچې کوم حرف نه وی اوريدل شوی.دهمدې لپاره دحروف شديده وڅخه په حروف قطب جدکې په سبب دصفت جهرقوی په حالت وسکون کې صفت قلقله يعني په مخرج کې جنبش دقوت سره ابښودل شوی ترڅوپه آوازکې قوت جهرپيداشي دومره چه نزدی اوريدونکي ته هم محسوس کولی شي لان ادنی الجهراسماع الغير، مګراکثرو همزه دقلقلي څخه ويستی ده وتوجيهه مذکورفی المطولات،اودواړه حرفونه کاف اوتاءساکن کې په سبب د ضعيف همس جنبش (خوزښت) ډيرضعيف اونرمي سره ګرځولی شوی تر څوپه آوازکښې ضعف اوخفاقائمه پاتې شي دومره چه خپله قاري هغه محسوس کولی شي لان ادنی المخافة اسماع نفسه خوددې کمزوری جنبش څخه ،چه د همس صفت داداء په غرض کولی شي ، چه کوم نفس جاری کيږي دهغې سره کوم قسم صوت نه جاری کول پکاردی.ځکه چه دهمس په تعريف کې جريان نفس ماخوذدی نه چه جريان الصوت اودنفس او صوت ترمينځ همدافرق دی چه که دانسان دداخل څخه راوتونکې هوامسموعه وه نوصوت دی اوکه غيرمسموعه وه نونفس دی کماقال صاحب الجهدلقل اعلم ان النفس الذی هوالهواء الخارج من داخل الانسان ان کان مسموعا فهوصوت والافلاانتهی ص۲۷وقال مؤلف حقيقة التجويدفی رسالته المذکورة فالتنفس يوجدفی کل صوت ولايوجدصوت فی کل تنفس بل بعضه مع الارادة واذاخرج الحرف من فم الانسان بغيرارادته ولايطلق عليه الحرف ولايرادمنه المعنی فالصوت علی قسمين جهری وخفی والجهری مايسمعه الغيروالخفی مايسمعه النفس کماقال الفقهاء، وادنی الجهرما يسمعه الغيروادنی المخافة مايسمعه النفس فی القراءة والطلاق والعتاق والبيع والاستثناء، والتسمية علی الذبح ووجوب السجدة بتلاوة اية السجدة وغيرها والمراد من الادنی حدالجهروالخفی اه ص۱۲ نودمذکور تقريرخلاصه داشوه چه اول خوپه کاف اوتاء کښې مطلقا ساکن وی اوکه متحرکه جريان دنفس په ښه ډول نه وی.اودنورومهموسه حرفونوڅخه ډير کم وی اوبالخصوص په متحرک کې دساکن څخه هم لږ لکه څنګه چه ددلائلواودمحققينودشواهدوڅخه ثابته کړی شوه ، دوهم دهمس صفت داداء کولوپه غرض په کاف اوتاء متحرک کښې دمخرج دانفتاح سره اوپه ساکن کښې کمزوری اوخفی جنبش سره چه کوم څه جريان دنفس راځي هم ددې صوت جاری کيدل ضروری دی.ځکه نفس عام دی اواوازونه خاص اودعام دتحقيق سره

دخاص تحقق لازم ندی همدارنگه دصوت جاری کول درست هم ندی نه عقلاً نه نقلاً، عقلاً په دی سبب چه که اواز جاری کولی شی نوتاءاوکاف به شدیده پاتې نشی، بلکه رخوه به وی، ځکه چه جریان داوازپه رخوه کې وی نه په شدیده کې اوداخبره دادنی تامل څخه ښکاره کیږی، چه کوم دشدت په بااوجیم دباری اوجاری کښی دی هغه په بااوجیم دبهاری او جهاری کښی نه شی کیدلی، په همدې قیاس کوم شدت چه دکانااو تاناپه کاف اوتاء کښی دی هغه دکهانااوتهاناپه کاف اوتاء کښی نشته اونه پیداکیږی نویوصفت دهمس چه مختلف فیه ده ددې دادا کولوپه سبب دشدت صفت چه متفق علیه ده ورکیږی اودارواندہ اونقلاً پدې خاطرچه امام جزری شدت لپاره علیحده کتاب النشرفی القراءات العشرکې اوملاعلی قاری څخه منح الفکریه علی متن الجزریة کښی ددې عدم جوازغلط والی ثابتیږی لکه چه په کتاب النشرفی القراءات العشرکې دی والتاء یتحفظ بمافیهامن الشدت والهمس لئلاتصیر رخوتا کماینطق بعض الناس والکاف فلیعن والهمس لئلایذهب الی الکاف الصماء الثابتة فی بعض لغات العجم فان ذلک من الجائزفی لغات العرب ولحذرمن اجراء الصوت معهاکمایفعله بعض الاعاجم. ددینه ثابته شوه چه اجراء دصوت دعجمواداء ده کومه چه ممنوع او قابل احترازده. ملاعلی قاری منح الفکریه علی متن الجزریه کې فرمائلی دی ثم ان النفس الخارج الذی هوصفت حرف ان تکیف کله بکیفیة الصوت حتی یحصل صوت قوی کان الحرف مجهوراوان بقی بعضه بلاصوت یجری مع الحرف کان الحرف مهموساوایضاوان انحصرالصوت فی مخرجه انحصاراً تاماً فلا یجری جریاناًسهلایسمی شدیدآواماإذاجری جریاناتا ماولا ینحصر اصلایسمی رخوة. ددې عبارت څخه هم ثابته شوه چه په مهموس من حیث مهموس کښی نفس بلاصوت یعنی د غیرمسموع جریان به وی، او د فلا یجری جریانا سهلاًڅخه په شدیده ؤکې دضعیف صوت دجریان تولونفی وشوه، نو ددې لپاره چه دجهد المقل مذکوره عبارت په سوال کښی مفهوم په ظاهره دکتاب النشرفی القراءات العشراومنح الفکریة دمذکوره عبارتونوسره معارض ده لهذاامام جذری اوملاعلی قاری په مقابل کې دصاحب دجهدالمقل دقول اعتبارنشی کولی، ددینه علاوه دجهدا لمقل په عبارت کې کافاوتاء متحرک مراد،ؤ،ساکن یاتاء متحرک خو مرادنشی کیدلی، ځکه چه اول خوخپله دجهدالمقل په صفحه ۲۰دا عبارت حاصله انهما ناقصان عند تحریک الحرف ، دهغه معارض دی دوهمه داچه حرکت خپله دمخرج دانفتاح څخه پیداکیږی، بیاذئم ینفتح کومه معنی نه جوړیږی اوددینه [illegible] هم نفی وشوه، ځکه چه متحرک ته شامله دی نولامحاله دجهدالمقل مرادمذکوره

عبارت څخه ساکن کاف اوتاءدی، نوریسی عبارت دجهدالمقل موافق دی تلفظ وکړی نودساکن تاء اوکاف نه وروسته صوت جاری ساتل پکاردی ځکه چه دثم حرف دتعقیب اوتراخی لپاره ده. اوس که دغه صوت دکوم حرف دی نوزیادت فی القرآن لازمیږی اوکه صوت مسموع غیرحرفی پیداشونوددینه عدم جواز داداء داعاجمودنشراومنح څخه ثابت شو، نوحکم دادی چه که صوت حرفی پیداشونولحن جلی شوه اوکه غیرحرفی ؤنولحن خفی شوه، اوکه دجری الصوت وهم اوشبهه وی نویااداء مطابق داداء دمحققینوده اوهمداکیدل پکاردی، اوغالباً مرادذجهدالمقل همدادی، لهذاپه اکثروخایونوکې دهغه دکلام تاویل کول راځی اویاداویل کیږی چه په هغه باندې عجمیت غالب ؤاویدې مقام اوهمدارنگه په نورومقامونوباندې چه څه وخت ویل کیږی جریان نفس کثیراوصوت ضعیف ویل کیږی، داخوفیه کیدلی شی چه دجهدالمقل مراددجریان نفس کثیرڅخه کثیرپه نسبت سره حروف مجهوره ته دی، اگرکه دنورومهموسه حرفونوپه نسبت قلیل دی اومراددصوت ضعیف څخه صوت خفی غیرمسموع دی لان ادنی المخافه اسماع نفسه نوددې توجیه په اساس دجهدالمقل دعبارت څخه دامخصوص صوت یعنی کاف اوتاء مخلوط بهاء وی هم ثابت نشول، نودکاف اوتاء جریان نفس کښی دومره مبالغه کول چه دهغې نه دهاء هوزیادکوم بل حرف آوازپیداشی (همغه شان چه بعضی دسین مهمله اوبعض دثاء مثلثه آوازراوباسی) اوعربی حرفونه مخلوط باتلفظ عحجمی وگرځی کاناکهنا او اېترابتهر لوستل تقلت، په نقلتهاوذکرک، ذکرکهلوستل ،پدې ترتیب دهمس صفت لوستل بالکل غلط اوبی اصل دی، نه می دکوم ماهراو محقق قاری څخه اوریدلی اونه په معتبره کتابونودمحققینوکې ددې ذکر شته. البته دبعض اعاجم لکه اهل خراسان اوترکستان اوایران اوبعضا عراب دعربولکه په اهل نجدووغیره کې داقسم اداء اوریدل شوی ده ، اودکتابونو دائمهٔ فن لکه شیخ جزری، اوملاعلی قاری څخه تغلیظ د داقسم اداء ثابتیږی کماذکر، ددې قسم اختراعی اوبی اصله اداء څخه خو د هغوبعضی علماؤ په قول باندې عمل کول بهترؤ. کوم چه کاف اوتاء ته مجهوره وائی همدارنگه دنورومحققوقراؤ داقوالوڅخه هم دداسې قسم اداء غلط والی ثابتیږی، لکه چه حضرت مولناقاری عبدالرحمن صاحب پانی پتی په تحفهٔ نذریه کې تحریرفرمائی. اوښکاره دی وی چه د حروفو د صفاتوپه مقام کښی داسې فسادقائم کړی چه که دمخترعه قواعدو په ترتیب کلام الله ولوستل شی خواهی نخواهی کلام الله محرف کیږی څه وائی چه دمهموسه په وقف کښی وروسته دسکون دتاء اوکاف بل اوازپیداکیږی کله چه ددې قول معنی

دشاگردانو ځخه ویوښتل شوه وی ویلی چه په لفظ دخلقت کښی باید خلقتس وویل شی، یعنی دتاء دسکون نه وروسته دساکن سین اواز باید راوباسو، چه اجتماع دساکینو وشی پرته لدینه دهمس صفت نه حاصلیږی همدارنګه په ساکن کاف کې دکاف دسکون نه وروسته وقف کې بایدیوساکن سین په خفیف اوازسره ووائی .همدارنګه د قلقلی په حروفو کې اونورو کې په فسادونوسره اختراع کړی اودخلکوتعلیم ئی ګرځولی، سبحان الله دقراءت دکتابونو په عبارتونو کې ئی څه غلط فهمی کړیده اوکوم شریف علم ئی دخپل مرکب جهل سره فاسد ګرځولی انتهی بقدرالحاجة ص ۸ تحفه نذریه مطبوعه بلالی پریس ساډهوره همدارنګه په مذکوره رساله کښی په بل مقام ص۳۲ کښی فرمائی په کاف کښی داحتیاط وکړی ترڅوکاف فارسی چه هغه ته کاف صماء وائی ونه ګرځی، خصوصاکله چه مکرروی لکه بشرککم، اوهم د مهموسه وراندې راشی لکه تستکثراوبسباکې دی احتیاط وکړی چه په هغه کې صوت جاری نه شی لکه چه لغت دبعضی عجمیانو دی آه حضرت قاری محمدعلی صاحب جلال ابادی په حجة القاری مطبعه محمودالمطابع نص ۵۳کښی فرمائی کاف به دفارسی کاف سره نه ګډوی اوهادهوزیکې پیدانشی خصوصاکله چه مخکې دحروف مهموسه څخه راشی محوتستکثرواهمدارنګه که مکرروی نحوبشرککم آه وقال العلامة الجزری فی مقدمته وراع شدة بکاف وبتاء، کشرککم وتتوفی فتنتافقط والله اعلم وعلمه اتم واحکم

کوم چه نهایت صحیح اومدلل اودمتقدمینو اومتاخرینو دکتابونو او اداء څخه وی، عبدالرحمن المکي ثم الابادی عفی عنه حضرت مولنا دمرشدناتهانوی افاض الله تعالی علی برکاتهم احقرته دغه فتوی راوښودله احقردې خواب سره حرف په حرف موافق دی اوداحقرڅخه اکثروخلکوداقسم سوالونه کړیدی دکوموچه په مختلف طورجوابونه ورکړی شوی دی کوم چه د الله په فضل سره په خواب کې سره دشی زایده مضمون موجود ده احقردفرصت اواسبابو د دشتوالی لامله دی حدپورې هم ونه کولی شول .ددې تکمیل څخه نهایت مسرت پیداشو، کمترین دمخلوقاتوعبدالوحیداله آبادی عفی الله عنه خادم درجه قراءت مدرسه عالیه دیوبندضلع سهارنپور زه ددیری مودی څخه دداسې تحقیق شائق وم ددې رسالی په لیدلوجوش دمسرت کې می دغه شعرپه جوړښت دزړه راغله لله الحمدهرآن چیزکه خاطر میخواست .آخر آمدزپس پرده تقدیرمدید. جزی الله تعالی المولف خیرالجزاء . اشرف علی ۷ربیع الاول ۱۳۳۸ه تتمه خامسه صفحه ۱۰۷.

دجمال القران ضمیمه نوشته دقاری محمدیامین صاحب

په جمال القران باندې دسوالونوځوابونه

سوال :(۲۷۰)۱- په جمال القران کې یومکان باندې پوه نشوم معلوم ندی چه دمطبعی غلطی ده اوکه پوهه کې نقص ، خویدم کیص ، ۱۴۳و۱۴۴ عدد ۷ لئن بسطت اواحطت اوقرطتم الم نخلقکم کې الخ ص۴۷ داولی تصحیح ځلورلفظونوکې ناتمام ادغام متعین اوپنځم الخ په دی کې می دغه خبره پوهی ته رانه غله چه صفحه ۱۴۳و۱۴۴ باندې تول صرف ۴ لفظونه دی نودځلور اوپنځم کوم چه په تصحیح کې ده په څهٔ مطلب وی ؟

دوم سوال دض مخرج کې حافه لسان داضراسو دبیخوسره ملاوول پکاردی .یا په ضواحک .اوطواحن اونواجذ کې دکوم یوه سره تماس دحافه دلسان کافی ده ؟

جواب :داولی شبهی خواب د۱۴۳و۱۴۴صفحی قاعده کې غالباً دمطبعی دغلطی لامله دمافرطتم نه وروسته اومافرفت پاتې شوی نومذکورلفظ دملاوولوسره ځلر لفظ شول چه پدې کې ناتمام ادغام متعین دی اوالم نخلقکم پنځه لفظ دی چه پدې کې تام ادغام بهترده

ددوهمی شبهی خواب:

دضاد مخرج دحافه لسان نه پورته پنځه واړه غاښونه ، ضاحکه او دریواړه طواحن اوناجذ ښی طرف وی اوکه چپ طرف ، دبیخونوملاوول پکاردی یوازی یودووسره ملاوول کافی ندی اولاندې د اضراسوسره ملاوول غلط دی ۲۷شعبان ۱۳۳۹ه تتمه خامسه ۱۹۵.

دضعف بالضم قرات متعلق دسوال [1] خواب

واقعه دسورت روم دمولناقاری عبدالسلام صاحب پانی پتی عباسی

سوال :(۲۷۱)امابعد دسورة الروم په آخره رکوع کې من ضعف په ضمه دضاد دحفص په روایت کې لیکل شوی دی امام عاصم دغه ضاد په فتح سره لولی په داسې حال کې چه دحفص څخه دواړه روایتونه اودالوستل درست دی ددې څخه غلط روایت نشی کیدلی ، فان

[1] فائدے متعلقه ددې خواب سره، دروم په سورت کې چه کوم دری ځایه لفظ دضعف واقع دے دهغودضاد ضمه حفص اختیار کړې ده پداسې حال کې چه دعاصم په قراءت کې فتح ده پدې باندې داسوال راځې چه هرکله دواړه قراءته متواتردې نوبوه ته دترجیح کومه وجه کیدلې شي.وفی المصباح الضعف لفتح ضادفی لغت تمیم وبضمهافی لغت قریش خلاف القوة والصحة کتب احقرعبدالکریم عفی عنه ۲۳شعبان کال ۴۴.

قلت هل يقرء الحفص بهذا الاختيارلانه وان لم يروه عن عاصم فقدرواه عن غيره وثبت قرائته به لانه خالف شيخه وخرج عن طريقه وروايته قلت المشهور المعروف جواز القراءة به بذلک قال الذانی واختیاری فی رواية حفص منه طريق عمر وعبيد الاخذبالو جهين بالفتح والضم فاتابع بذلک عاصماعلی قراته ووافق به حفصاعلی الاختياروقال المحقق وبالوجهين قراة له وبهما اخذ غيث النفع سورة روم (محمد عبد السلام عباسی، تتمه صفحه ۳۲۷)

رسالة التدقيق الجلی فی تحقيق النون الخفی

بسم الله الرحمن الرحيم:

سوال :(۲۷۲) الحمدلله الذی هونعم الوکيل والصلوة والسلام علی رسوله النبی الجليل واله وصحبه الذين هم اولوالبروالصبرالجميل،

امابعد دمخفی نون په اداء کښ دکتابونوڅخه دهغه ځايه پوري پته لګيږی تقريبادنيمی صدی راهيسی ترنن پورې قاريان په دی ترتيب سره اداءکوی اوليکلوسره راروان دی چه دنون مخرج بالکل نه ادا کيږی فقط غنه دمابعدسره يوځای کولوسره راووخی لکه څنګه چه په اردوکښ پنکها جنګ اوسنګ اودا اداء دومره شائع اوخپره ده چه عرب اوعجم ماهران اوغيرماهران تول پدې کښ مبتلاء شوی دی پداسې حال کښ چه په اداء کولواودناقص ادغام په اداءکښ دمن يقول په شان پاتې شو،لاکن دکريم الله تعالی سل زره شکرچه امام العصر وحيد الدهر ته معلومه نده چه په څه دول بې توجه وکړله چه يويوبې په يو مضمون کښ ليکل وفرمايل چه په هغه کښ ثابت شوی چه اداء داخفاء مروجه ، کوم چه پدې ترتيب وی چه ژبې ته ذره پوره دخل نه وی ، يوازی دخيشومی صوت دمابعد حرف سره ديوځای کولوسره اداء کيږی ، صحيح نده بلکه پدې ترتيب سره کيدل پکار دی چه دژبې څو که دنون په مخرج کښ په اخره درجه ضعف سره ولګيږی يعنی اتصال کوم کښ چه اخره درجه ضعف وی لکه چه ددې اثبات ددلايلو اوعللوسره فرمايلو سره دغه عالی مضمون خپل دغه ناڅيزه خادم ته هم راوليږه هغه اوچت مضمون بتمامه په اخره اندازه معمولی توضيح او تشريح اومختصرلفظی تغيرسره اوهغه هم مقطعاً په لاندې دول ده لايقال لابدمن عمل اللسان فی النون والشفتين فی الميم مطلقاً حتی فی حالة الاخفاء والا دغام بغنة وکذاللخيشوم عمل حتی فی حالة التحريک والا ظهارفماهذالتخصيص لانهم نظر والا غلب وحکمواله بانه المخرج فلماکان الاغلب فی حالة

اخفائهما اوادغا مهمابغنة عمل الخيشوم جعلوامخرجهما حينئذ ايضاکماافاده البعض عن العلامة الشبر املسی ،اودهغه ارشد تلاوة علامه احمددمياطی په خپل کتاب اتحاف فی القرات الاربعت عشر کښ ليکلی دی يجب علی قاری ان يحترزمن المدعنداخفاء النون فی نحوان کنتم وعندالاتيان بالغة فی النون والميم فی نحوان الذين واماقدء وهوخطاء قبيح وتحريف ويتحرزايضا من الصاق اللسان فوق الثنايا العليا عنداخفاء النون فهوخطاوطريق الخلاص منه ان تتجافی اللسان قليلا من ذلک الخ مع الاختصاراوپه نهايت قول المفيدکښ دی قال فی المرعشی يجب علی ان يحترز فی حالة اخفاء النون من ان يشبع الضمة والفتحة والکسرة وليحترزايضامن المدعندالايتان بالغنة فی النون والميم فی نحوان وامافان ذلک خطاء صريح وزيادة فی کلام الله تعالی وليحترز ايضاًمن الصاق اللسان فوق الثنايا العليا عنداخفاء النون فهو خطاايضاً وطريق الخلاص منه ان يجافی اللسان قليلا من ذلک انتهی مع الاختصار، اوامام جزری په النشرفی القراءت العشر کښ ليکی ،الحرف السابع عشروهوالغنة وهی تکون فی النون والميم الساکنين حالت الاخفاء اوماقی اخفا حکمه من الادغام بالغنة فان مخرج هذين الحرفين يتحول فی هذه الحالة عن مخرجهاالاصلی علی القول الصحيح کمايتحول مخرج حروف المدمن مخرجهاالی الجوف علی الصواب بيابې وريسی داحکام النون والتنوين په تنبيهاتوکښ ليکلی : الاول مخرج النون والتنوين مع حروف الا خفاء الخمسة عشرمن الخيشوم فقط ولاحظا هما معهن فی الفم لانه لاعمل للسان فيهما کعمله فيهمامع مايظهران اويد غمان لغنة اوملاعلی قاری په منح الفکريه کښ ليکلی وان النون المخفاة مرکبة من مخرج الذات ومن تحقق الصفة اودامام مکی په کتاب الرعايه کښ بی ليکی دی الاخفاء ام هوان تخفی الحروف فی نفسه لافی غيره والادغام انما هوان تدغم السين واخفيت النون عندالسين ولاتقول خفيت فی السين ولااخفيتها فی السين وتقول ادغمت النون فی الواوولاتقول ادغمتها عندالواواوامام شبراملسی احمددمياطی مرعشی امام جزری ملاعلی قاری امام محمدمکی ددې تولوائمه ؤ داقوالوڅخه ثابته شوه چه په نون مخفی کښ داصلی مخرج دخل دی ، لکن دضعيف اعتمادسره کوم چه هريو په مختلف عنوان څخه تعبيرکړی ده مثلاشبراملسی په مقلوب اودمياطی اومرعشی په تجافی قليل او جزری دکعمله په قيدسره اواول قول کښ ديقول په لفظ اومحمدمکی په فی نفسه لافی غيره

اوملاعلی قاري مركبته من مخرج الذات سره تعبير كړی ده اوس هر كله چه دكلام دائمه و دسياق اوسباق څخه داخبره ثابته شوه چه خيشومی صوت بدون داعتماد مطلق پدې اندازه نه پيداكيږی .او مخكې خلكوداهم ثابته كړيده چه نون مخفی دخپل اصلی مخرج څخه دخيشوم په طرف اړول كيږی اوذات دنون باطليږی .اودڼږی دالصاق څخه هم داحترازحكم دی نو هرومرو ددې څخه توليد دحرف مدلازميږی .ځكه چه هر كله نه خوذات دنون باقی ، اونه الصاق دڼږی دكوم مقام پورې نوخيشومی صوت يوازی دجنوف څخه اداء شو اوهمدا توليدمده دی .كوم چه محذور اوممنوع دی او زيادت فی كلام الله دی ..... نوبيادې څخه دخلاصون طريقه چه نون خفی هم اداء شی اوتوليددحرف مده هم نه وی اوالصاق دڼږی هم نه وی دادی چه اعتمابه خپل اصلی مخرج باندې ضعيف وی كوم څه چه هرچا په مختلفوعنوانوسره تعبير كړی لكه څنګه چه پورته تيرشو ، اوس تعارض بين الاقوال هم پاتې نه شو .اودحقيقی اختلاف صورت هم رفع شو ، يوازی دلفظی نزاع صورت دی اوس هر كله چه داكارثابت شوچه په نون مخفی كې داصلی مخرج دخل نشته اوبدې باندې اعتماد ضعيف شی نودنون خفی داداء كولوپه وخت دمابعدحرف په مخرج باندې اعتمادكول لكه سنګ، جنګ وغيره بالكل باطل شول اوددوی څه اصل نشته.په داسې حال كې چه موږخلك عموماًوخصوصاً پدې كې مبتلايو .ثانياداچه كه اعتماد په مابعدڅه اصل وای نود تحول الی الخيشوم ليكلوكوم ضرورت نه وُبلكه تحول الی مخرج ما بعد الحرف به ئې ليكلی وُددينه علاوه دمخفی نون عندالجمهورپنځلس حرفه دی اودامام جعفريه نزد اولس دی ، نوتعجب دی چه اهل فن د تجويد ذره ذره دقائق په خپلوكتابونو ليكلی دی مګر دومره مخارج لرونكې والاحرف بې پرېښودی دی ، او كوم ځای كې بې اشاره هم اعتماد دمابعد الحرف نه دی ذكر كړی ثالثا داچه ددې لپاره چه دنون مخفی په ادا كې مظنه دتوليددحرف موجودوی لهذاكه لسان يعنی اصلی مخرج ته كوم دخل نه وی نودحرف مده پيداكيدل پكار وُ لكه څنګه چه دما سبق عبارتونوڅخه څرګنديږی ، په داسې حال كې چه دمابعد حرف د مخرج اعتمادڅخه ددې مظنه هم نشی كيدلی نودتوليدمده دمظنه نه معلومه شوه چه اعتماد په مابعدالحرف باندې صحيح نه دی.

سوال :(۲۷۳)كه څوک داشبهه وكړی چه توليد دحرف مده خودمبالغة فی الغنه لپاره وی همغه شان چه ليكلی بې دی ويبالغ فی الغنه ؟

جواب :دی كې دادی چه دحرف مدڅخه دغنې تقويت نه كيږی بلكه نورمانع عن الغنه وی لكه څنګه چه داكثروغيرمشاقولخواه په انحا جونی وغيره كې غنه نه اداكيږی كه مده دغنې لپاره

مويده وی نودغه وخت به نه وی ، نودمذكور عبارت مطلب داده چه ان يبالغ فی الغنة يعنی فی اخراج حرف الغنة من الخيشوم رابعاً داچه په جهدالمقل كې راغلی چه فيحذرالقاری عن اطباق اقصی اللسان الی الحنک عند التلفظ بالغنة قبل القاف والكاف ددې تحذيرڅخه صفاظاهره شوه چه غنه يعنی دمخفی نون دقاف اوكاف نه مخكې داداكولوپه وخت كې حنک اعلی داقصی لسان څخه اطباق كول ندی پكار لكه څنګه چه په اردوكې پنكها اوسنګ وغيره كې بې موږكوو ، خامساً داچه د امام جعفرله طرفه په خاء اوغين كې هم اخفاء كيدلی شی .اودلته اعتماددمخرج دمابعدكوم صورت نشته ،سواددينه چه دادنی حلق څخه صوت خيشومی مفخم په ډيردقت سره اداشو .بلكه پدې كې دغين اوخاء څه بوی اوشايبه هم مسموع وی، ددې څه خصوصيت به وی،بلكه په اكثروحروفوكې دنون مخفی داداكولوپه وخت درانلونكې حرف شايبه وی ،خصوصابه حروف مستعليه كې مفخمه غنه ادا كيږی .اودامموع اومنهی عنه ده لكه څنګه چه په نهاية القول كې دحروف فرعيه په بيان كې دی قال الحلبی وزاد القاضی الميم والنون المخفاة وهووهم اذليس فيهماشائبة حرف آخرولم يقعا بين مخرجين اوملاعلی قاری په شرح شاطبی كې ليكې وان النون المخفاة ليس فيهاشائبة حرف آخرولم تقع بين مخرجين وكونهاذات مخرجين لايلزم بنيتهاحلبی اوملاعلی قاری تصريح كړيدی چه دخفی نون شايبه په بل حرف كې نشته اونه له دوو مخرجونوڅخه اداكيږی ځكه مخرج خو خيشوم وګرځول شو .اواصلی مخرج په سبب دضعف اعتماد او تجافی قليل كالعدم وګڼل شو،نواوس بل مخرج چرته چه نون خفی ته حرف فرعن وائی اوكه مابعدحرف باندې اعتماد صحيح وای نولم يقع بين المخرجين به بې نه ليكل .بلكه وقع بين مخرجين به بې ليكل اونون بې په فرعيه حرف كې داخل كول .ځكه دنون خفی لپاره خويومخرج خيشوم ؤدوهم دحرف مابعدمخرج كيدلی شو ،نودفرعی تعريف ماتردد بين مخرجين صادقيږی.

سوال :(۲۷٤)ددې لپاره چه داثابته شوه چه دخفی نون مخرج خيشوم ده اودڼږی هم دخل نشته نودحرف فرعی تعريف ماتردد بين المخرجين خوصادق شونوبياحلبی اوملاعلی قاری ولی لم يقع بين مخرجين ليكلی دی ؟

جواب :داده چه دلته صفت مذوف ده يعنی لم يقع بين مخرجين متغايرين حرفاهمااودمابعد حرف اعتماد يعنی دسنګ په مثل اداء كولوباندې صادق راځی وقع بين مخرجين متغايرين حرفاهما او وقوع بين مخرجين مغايين حرفاهمالپاره لازم ده،ترددبين المخرجين همغه شان

چه الف مماله صاد مشممه همزهٔ مسهله گرخي پداسې حال کې داعلم وشو چه په نون خفی کې دبل حرف شایبه هم نه وی، نو د همدې لپاره حلبی ددې دجزئیت څخه انکارکړی لکن ددې لپاره چه ملاعلی قاری دفرعی حرف تعریف په بل ډول لیکلی یعنی ماعدل عن مخرجه الاصلی اوالصفة الذاتیة لهذا ددې تعریف په موجب خفی نون اومفخم لام هم فرعی گرځي سادساداچه حضرت شیخ عبدالحق صاحب محدث دهلوی په درة الفریدکې داخفاتعریف وغیره نه وروسته لیکې چه ولایخفی مافیه من اللطف والدقة که همدا اعتماد مابعدالحرف معتبر وی یعنی دپنکهاوغیره په شان اداء وکړی نودقت بې کولودقت په دی کې دی چه داظهار والاهم اعتمادنه وی اوادغام والاهم نه وی علاوه په دی شیخ داخفاء لپاره ددې وبناڅه خصوصیت وه هرکله چه په ادغام ناقص اواخفاء کې کوم فرق نه ؤ ؟ سابعاداچه ټول اهل فن سلفاوخلفا دالیکې چه په مخفی کې تشدید نه وی اویه مدغم کې تشدیدوی دافرق تولولیکلې اودتشدید داتعریف کوی هوشدة اتصال الحرفین مع امتزاجهما فی السمع بحیث یرتفع اللسان ارتفاعاً واحداً اوس مونږ خلک کوم چه په مابعدحرف باندې زورکولوسره اخفاء اداء کوویدې کې تشدیدپیداکیږی اومذکورتعریف صادقیږی ،مگرناقص تشدیدلکه چه داحطت اوبسطت په ادغام کې ناقص تشدیدوی، ثامناً داچه مرعشی وغیره لیکې چه داخفاء کوم حرفونه دنون څخه بعید المخرج دی په هغوکې به نون اقرب الی الاظهار وی ،اواقرب الی الاظهار هله اداءکیږی هرکله چه دنون خپل اصلی مخرج سره تعلق وی اواعتماد زیات وی ،پداسې حال کې چه داخفاء په مروجه اداء کې په حرف فا، قاف اوکاف کې داصلی مخرج سره څه ذره بیرون هم دخل نه وی لهذا ددغوټولو ادله اونقلونوڅخه داثابته شوله چه دغه اعتمادمابعدالحرف اومروجه اداء باطل اوبی اصله دی ،اود دی درواج سبب یوازی دتجوید دماهرانوبی توجهی اوقلت ده ،بله دا چه دامنل شوی قاعده ده چه په اصع ې اسهل جذبیږی ،ځکه چه دطبیعت پاملرنه داصعب په طرف وی دکوم نه چه داسهل خرابی مینځ ته راځی ،نوددې لپاره چه ساکن نون دحروف اخفاء نه مخکې په ژبه باندې ثقیل وی ،دهمدی لپاره ساکن نون په مابعدحرف کې کوم چه سهل الخروج دی جذبیږی لهذادغه اعتماد مابعدالحرف مروج شو.

سوال :(۲۷۵)که داشبه وکولی شی چه داخفاء تعریف حالة بین الاظهارولادغام عارمن التشدید ده ، او بیښته هغه وخت وی کله چه دما بعد سره هم لگیدلی وی ؟

جواب :داده چه عارمن التشدیدپه منزله دفصل ده اوددې اندیوالی یعنی اعتماد سره دناقص ادغام په شان کیږی په کوم کې چه تشدید هم ناقص کیږی ، پداسې حالی کې چه په اخفاء کې هیڅ قسمه تشدید هم نه وی ، بله داچه مخفی نون ،اومدغم نون وغیره دنون مطلق قسم دی اودمقسم داقسامویه مینځ کې تباین وی ،اوددې اعتمادڅخه مخفی اومدغم دناقص داغام سره په مثل دیقول څه ناڅه داسې فرق به وی ، دکوم څخه چه دادغام تعریف صادقیږی ،دبین الادغام والاظهار حالت معنی دالیکې لااظهارفیه ولاادغام ، داظهار معنی ده دخپل اصلی مخرج اوداصلی صفاتوسره اداکول ، اوادادغام معنی ده دحرف گډول سره بحیث یرتفع اللسان ارتفاعا واحدمع شده الاتصال فیهما اودگډولو دری صورته دی یاخودخلط سره قلب دذات دټولو صفتونو به وی لکه چه په قل رب کې دی ،یاقلب دذات سره له بقاء دصفت غنه لکه چه په من یقول ، اومن وال کې دی یاخلط سره دشدت اتصال او انعدام دبعضی صفات لکه چه په احطت کې وی ، اوس دمذکوره تعریف مطلب باندې پوه شو،په اخفاء کې دنون ذات په کامل ډول سره خپل مخرج څخه نه اداکیږی نواظهار ونه شو اوددې لپاره چه څه مخرجونوکې هم کحل دی اودغنی صفت هم باقی ده مگرادغام خلط او دشدت اتصال سره به وی ،اویه اخفاء کې داخبره نشته ،لهذا اوس داتعریف داخفاء چه بین الاظهار والادغام ده هم صادق شو، اولااظهار ولاادغام هم صادق شو، دهمدی لپاره نودغیره فی نفسه معنی ای فی مخرجه اودعندغیره معنی ای عندحروف الاخفاء لاغیر، اودلافی غیره معنی ای لافی مخرج غیره اویه ادغام کې لیکې اخفاء الحرف فی غیره وهذاخلاف ماصرحوابه .

سوال :(۲۷٦)بله داچه څرگندیږی چه امام سخاوی اوامام دانی په یاء اوواوکې ادغام ناقص لیکلی چه حقیقت کې ادغام نده بلکه هغه اخفاء دی ؟

جواب :داده چه دغوحضراتودمطلق ادغام هیڅکله نفی نه ده کړی ، بلکه دتمام نفی یې کړیده . ځکه چه په تیسیرکې لیکې والناقون یدغمون فیهمای فی الواووالیاء لکن القلب الصحیح مقنع فیهما ددې وروستنی جملی څخه معلومه شوه چه نفی دکامل قلب ده پاتې شو ادغام ناقص ته اخفاء لیکل دامنشالري چه داخفاء تعریف ده حالة بین الاظهار والادغام ددې تعریف څخه د اخفاء اوادغام ترمینځ قدرمشترک ثابت شو سره لدی چه خپل مینځ کې قسیم دی لهذا یویه بل باندې اطلاق کولی شی ،گنی ددواړو حقیقت بیل بیل اومستقل دی اومتباین ځکه دومره عبارت بین الاظهار والادغام خویه منزله دجنس ده اوددې نه وروسته

عبارت عارمن التشدید دقیدپه طور دکوم څه چه واني اوسخاوی هم تصریح کړیده دایه منزله دفصل ده ددې قیدسره اخفاء دادغام څخه ووځی .بلکه بره چه کوم تعریف دادغام اواخفاء بیان کړای شودهغه سره خوادغام اخفاء ده شاید ناقص ده ولی به نه وی هیڅ مناسبت نشته .یوازی په لغوی معنی کې اشتراک شته یعنی محض مطلقا استتار دهمدی په خاطرامام جزری اوملاعلی قاری وغیره لیکلی دی چه دااطلاق داتی اوسخاوی چه ادغام ناقص ته اخفاء لیکل صحیح نه دی ، یاداوویل شی چه ددغو حضراتو اصطلاح بیله ده لکه چه لیکې الاخفاء مابقیت معه الغنة ، ددې عبارت مطلب داشوچه داول حرف هلته څه اثر باقی پاتې شو، مګربیاتفصیل هم دهغوی داقوالو څخه ثابتیږی چه په اقساموکې کله بلاقلب وخلط وبلاتشدید همغه شان چه په اخفاء حرفونو کې وی، اوکله مع القلب والخط والتشدید مع الغنه همغه شان چه په من یقول اومن وال کښی وی،اوکله خلط بلاقلب مع التشدید لکه چه په احطت کښی وی، فی الحال دهغوتفصیل څخه واضحه شوه چه ادغام ناقص اواخفاء دواړه غیردی اوهغه اطلاق محض اصطلاحی دی،دټول تحریرحاصل دادی چه مخفف نون دنون مظهردمخرج څخه په ملتیا دفرع ضعیف اداء کولی شی اودمابعدحرف په دی کښی شایبه هم نه وی اونه د هغه په مخرج باندې اعتماد وی، واخردعواناان الحمدلله رب العلمین فقط.

داستاذالاساتذه حضرت مولاناقاری عبدالرحمن صاحب اله ابادی لخواتصدیق:

ان هذالهوالحق ان یتبع عبدالرحمن بن محمدبشیرخان الاله آبادی

(تتمه خامس ص ۲۲۰)

دجمال القران دځینوعبارتونو اصلاح اودزینة القران

دعبارتونو سره دظاهری تعارض دفعه کول:

سوال :(۲۷۷)په ص ۲۰ قاعده ۴۵ دجمال القران کښی لیکل شوی دی: کچیری دنون ساکن اوتنوین څخه وروسته دباء توری راشی نودغه په میم باندې په بدلولوسره الخ نوکه باء په میم باندې بدله کړی شی نودمن بعد څخه من معدجوړیږی اویه کتابونوکښی لیکل شوی چه که باء دنون ساکن اوتنوین څخه وروسته راشی نودغه نون ساکن یاتنوین په میم باندې بدلولی شی نویدې صورت کښی به داسې شی یعنی من بعدبه میم بعدشی آیادجمال القرآن عبارت صحیح دی یاخما دکم فهمی په سبب ذهن ته راتغله ؟

تنبیه :په رښتیادجمال القرآن په عبارت کښی لغزش شته داسې لیکل پکاروچه دانون په میم باندې بدل کړه ربیع الاول سـ۱۳۳۵ھ (ترجیح خامس ۲)

سوال :(۲۷۸)داعرض دی چه احقردزینت القاری اردورسالې مطالعه وکړه ،بعض مضامین یې دجمال القران مخالف پیداکړ،لهذادجناب والاڅخه استفسارکوم چه امیددی چه په شافی خواب سره مومنون وفرمائی، اوس یوازی دری سواله تاسوخدمت ته درولیږل شول ځکه چه ستاسوجناب مقرره قاعده وه چه دوه دری سوالونوڅخه زیات په یوځل نه پوښتل کیږی لهذاتورسوالونه به په آینده کښی انشاء الله درولیږم؟

جواب :السلام علیکم ! ددې لپاره چه دفن قراءت متعلق سوالونه ول لهذامادخواب لپاره قاری محمدیامین صاحب مدرس مدرسة هذاڅخه وکړلولکه چه لاندې منقول دی:

سوال (۱) په جمال القرآن کښی دلحن جلی په صورتونوکې یودا لیکلی شوی چه دیوه حرف په ځای بل حرف ولوستل شی،اودلحن خفی په تعریف کښی لیکل شوی دی چه دحرفونو حسن والی چه کومې قاعدی مقررکړی دی دهغولوستل (صفحه ۳او۴لمعه ۲) اویه زینت القاری کښی کې مذکوره صورت ته لحن جلی ندی لیکلی بلکه دا نی لیکلی دی چه جلی اعراب سهوه کیدلوته ویل کیږی،یاپه لفظ کې دهغې داصل څخه څه کم کولوته.اولحن خفی ویل کیږی دحرف مخرج خلاصولوته په دی ترتیب سره چه حرف دځپل مخرج څخه اداء شوی نه وی.انتهی (ص۱مطبوعه مجیدی کان پور) بیانی دځینې مشتبه الصوت حرفونومثالونه لیکلی دی.نویه مشتبه الصوت کښی یودبل په ځای لوستلوڅخه دجمال القرآن په وینالحن جلی به وی.اودزینت القاری په وینا خفی اوخلاف دقواعد حسن لوستلوسره ئی لحن ندی لیکلی نودمحقق امرڅخه مومطلع وفرمائی؟

جواب :ظاهراومسلم امردی چه په متعارضواقوالوکښی داسې قول ته ترجیح وی چه دکوم مویدنظریه ویناداکابروعلماؤاو معتبرو سلفو اقوال وی،په هندې بناء دجمال القرآن قول محقق اودرست معلومیږی ځکه چه ملاعلی قاری شارح دمقدمة الجزریه اومرعشی صاحب دجهدالمقل دغه دواړه حضرات دفن تجویداوقراءة لوی محقق اوماهر اومستنداوعالم مسلم دی،ددغودواړودکلام خلاصه دلحن جلی او خفی په متعلق نهایة القول المفیدفی علم التجوید مطبوعه مصرچه په فن تجوید کې بهترتصنیف دی اومقبول او متداول بین القراء والمجودین دی په صفحه ۲۲کې په دی ترتیب منقول دی وهواى اللحن نوعان جلی وخفی

ولكل احدمنهما حد يخصه وحقيقة يمتاز بهاعن صاحبه فاماالجلي فهوخطاء يطرا على الالفاظ فيخل بالعرف اعنى عرف القراء وسواء اخل بالمعنى ام لم يخل وانماسمى جلياً لانه يخل اخلالاً ظاهراً يشترک فى معرفته علماء القراءة وغيرهم وهو يكون فى المبنى اوالحركة اوالسكون والمرادمن المبنى حروف الكلمة ومن الخطاء فيه تبديل حرف باخركتبديل الطاء والاترک اطباقهاواستعلائها اوتاء يتركهما وباعطائهاهمساواماالّلحن الخفى فهو خطايطراعلى اللفظ فيخل بالعرف ولايخل بالمعنى وانما سمى خفيالانه يختص بمعرفته علماء القراءة واهل الاداء وهويكون فى صفات الحروف كذااطلق لكن ينبغى ان يقيدالخطاء بمالايودى الى تبديل حرف بآخر كترک الادغام واماإذاادى اليه كترک الاطباق فى الطاء وترک استعلائها فهومنار الحن الجلى نوددي عبارت مدلول دجمال القران دمدلول سره مطابق دى، دوهمه خبره داده چه دلحن په تعریف کې فیمابین جمال القرآن اوزينة القارى هيڅ تعارض نشته، ځکه په زينة القرآن کښي دلحن جلي د ځلوروصورتونوځخه دري بيان شوي دی.اودیو پریخودی شوی ، نوديوه دپريښود وځخه تعارض نشي کيدلی اودلحن خفي تعريف خپله مصنف دزينة القارى مولناكرامت على صاحب جونپوري په خپلې بلې رسالی شرح هزري جزرى کښی دجمال القرآن مطابق بيان كړی دی په ۲۴صفحه کښی ليکلي :دوهمه طريقه داچه معنی بدليدل نه وی لکه چه باريک ډک اوډک نرى يااظهاريه مقام کې ادغام وکړی يااخفاې وکړه دی ته لحن خفي وائي ددې غلطی ځخه خومعنی نه بدليږی مګردقرآن په ښکلاکې خلل غورځوی اودهغه خوبانی اوزړه رابنکونه ضياع ورکوی

دوم سوال په جمال القرآن کښی ل.ن.رته ذبقيه اوظ.ذ.ث ته لثويه ليکلی دی، رص۹لمعه ۴، اوپه زينة القران ليکلی شوی ذبقيه حروف يعنی هغه چه دژبی دباريکې يعنی څوکې ځخه راووځی.ظ.ذ.ث اولثويه يعنی هغه چه له اوربوځخه راووځی ل.ز.ن.انتهی.ص۱۰و۱۸، دابالکل عکس دی نوكومه خبره ټيک ده تحريروفرمائی؟

جواب :دجمال القران قول ټيک ده ځکه چه فن تجويداوقراءة متداوله مذكوره كتابونه اوشرح دملاعلى قارى المقدمة الجزرية المسمى بمنح الفكريه اونورمستند كتابونه دزينة القارى موافقت نه کوی، غالب داد ناسخينوغلطی معلوميږی.اودجمال القران قول دتجويدد كتابونوسره موافق دی. فظهرالامرللمقدمة المذكورة

دريم سوال په جمال القرآن د راء دتكريرصفت متعلق ليکلی دی چه ددې نه ځان ساتل پکاردی اګرکه په دی باندې تشديدهم وی الخ ص۱۷لمعه۵ اوپه زينة القارى کې ئی ليکلی دی چه

راپه داسې دول اداکره چه دهغه دکرارصفت له مینځه لاړنشی دکه هم وی اودتکرار صفت هم باقی پاتې وی خصوصاکله چه مشدده وی، رص۱۲، دا ښکاره تعارض ده،امیدده چه دشافی جواب سره زرمشرف وفرمايې ترڅوچه نورسوالونه زرپه خدمت کې دروليږم؟

جواب :دجمال القران قول محقق دی كماقال المحقق ملاعلى فى منح الفكرية على المقدمته الجزرية المطبوعة فى مصرص۲۳مانصه فى شرح قول المتن وبتكريرجعل والمعنى ان الراءيوصف بالتكرار ايضاًكما وصف بالانحراف والتكراراعادة الشئ واقله مرة على الصحيح ومعنى قولهم ان الراء مكررهوان الراء له قبول التكرارلارتعاد اللسان به عندتلفظه، كقولهم لغيرالضاحک انسان ضاحک يعنى انه قابل للضحک وفى الجعل اشارة الى ذلک ولهذاقال ابن الحاجب لماتحسه من شعبه ترديد اللسان فى مخرجه واماقوله ولذالک جرى مجرى حرفين فى احكام متعددة فليس كذلک بل تكريره لحن فيجب معرفة التحفظ عنه للتحفظ به وهذاكمعرفة السحرعن تضرره وليعرف وجه رفعه قال الجعبرى وطريقة السلامة ان يلصق اللافظ ظهرلسانه باعلى حنكه لصقا محكما مرة واحدة ومتى ارتعدحدث فى كل مرة راء قال مكي لابدفى القراءة من اخفاء التكريروقال واجب على القارى ان يخفى تكريره ومتى اظهرفقدجعل من الحرف المشدد حرفاًومن المخفف حرفين.انتهى والله تعالى اعلم.ترجيح خامس ص۱۰۵.

دفاتحې سورت په دواړوځايونوکې دالصراط كلمی په قراءت کې تحقيق

سوال :(۲۷۹) احقر دتيسيرمطالعه كوله،په يوه مقام کښی شک واقع شو.ماپه دغه مقام کې وجوه المثانی راويستلوسره وليدلو لکن اطمينان مې ونه شو.دهمدی پخاطردحضورپه خدمت کښی عرض دی چه جناب عالی څواب تحريروفرمايې چه په كوم عبارت باندې عمل وکولی شي؟شک دادی چه مطلب دعبارت دتيسيرپه الصراط کې خلف الصادصادپه اشمام دالراء سره لولی اوخلاد هم يوازی په سورة فاتحه کې صادپه اشمام دالزاء سره لولی.مطلب د عبارت وفى المثانى په الصرادا کښی صاد.خلف په اشمام دالراء سره لولی اوقنبل بالسين اوباقی قاريان ئی خاص صادلولی ددې نه داثابتيږی چه خلاد هم داصادلولی.په داسې حال کښی چه خلاد خصوصاپه دی کښی اشمام بالزاء کوی.يعنی دفاتحې په سورت کښی.اميددی چه جاب وباصواب سره ځواب باندې مونږ معززاوممتاز وفرمائی؟

جواب :مادمکرره ځخه دارساله مرتبه کړیده په دغه وخت مادهغه په طرف مراجعت کړی معلومیږی چه دهغه دعبارت ځخه په هغه وخت کې په غورسره کارنه واخستل شوی دهغه اودتیسیرلیکلي یومطلب دی لکه چه خمارساله تنشیط کښی دتیسیرموافقه ده اوس دهغه دعبارت داسي ترمیم کوم.قوله تعالى: الصراط الاول المعروف فيه قراءت الاولى بالاشمام وهوان ينطق القارى بحرف متوبدبين الصادوالزاى مخلفة والثانية بالسين لقنبل كجميع القران والثالثة بالصادالخالصة للباقين كالجميع قوله تعالى صراط الثانى المنكرفيه قراءتان الاولى بالاشمام خلف كجميع القران والثانى بالسين لقنبل كماذكر والثالثة بالصاد الخالصة للباقين ،ومنهم خلاد، که په دی عبارت کښی هم شبهه وی نوځه په په زیات غورکولوسره بیابه ئی درست کړم اوکه شبهه نه وی نودخواب حاجت نشته، مکرر داچه دسوال عبارت دتوضیح قابل دی.پدې ترتیب قوله خلا دهم په فاتحی سورت کښی الصراط بلام التعريف کښی الخ وکذاقوله حالانکه خصوصاً په دی کښی الی قوله یعنی په سورة فاتح کې الخ داداسي کیدل پکاردی خصوصاً په دی کښی یعنی دسورة فاتحی په الصراط ل اوراکښی ۲۴رجب ۱۳۳۵ھ ترجیح خس ص۲۲

تحقیق دمزلقه اومصمته:

سوال :(۲۸۰)بفضله تعالی په سندی ژبه باندې دجمال القران ترجمه کوم.اوچه کله الله تعالی وغوښت نودهغه په فضل سره ددې دچاپولو بندوبست به وکولی شی. دجمال القران ص۱۵کې صفت نوشته دی چه (ددې صفت مطلب دادی چه هغه حرفونه دژبی اوشوندوبرسره ځنګونځخه نه اداء کیږی اوسوادمزلقه ځخه نورټول مصمته دی) عرض دادی چه ددې نه معلومه شوه چه په مصمته حرفونوکښی دژبی اوشوندوداړخوتودخل به نه وی.په داسې حال کښی چه په برسر۹ صفحه کښی لیکل شوی دی (۱۳مخرجدطا،،ذال،اوثا، دی اوهغه دژبی ځنګونه اودثنایای علیا سرونه دی.ددې نه معلومه شوه چه په دیارلسم مخرج کې دژبی دځنګونو دخل شته په داسې حال کښی چه داحرفونه مصمته دی نه مزلقه حضرت داخماشبهه صحیح ده اوکه غلطه خمااصلاح وفرمائی ؟

جواب :ماته ددې فن مسائل مستحضری ندی .ددیروکتابونوځخه دکتلوسره به لیکل وی اوس دکوم مستقل ماهرځخه تحقیق کولوسره ددې په اصل باندې خان پوه کړی.ترجیح خامس ۸۳

دتوبی سورت په پیل کښی دبسم الله تحقیق

سوال :(۲۸۱)سیدی ومولائی دام ظلکم العالی السلام علیکم داعرض دی چه تاسوجناب دبراءت په سورت کې دبسم الله پرېښودل دعوامویه اغلاطوکې داخل کړی ده اوپه مکروه کې راغلی دی، واجمع القراء على ترك البسملة فى اول براة سواء ابتدابها اووصلهابالانفال همداسی ده په شاطبیه کې لهذا ستاسی دقول اومکروه ترمینځ که کوم صورت دتطبیق وی هغه تحریروفرمایې ؟

جواب :رښتیا ماددواړوقولونوترمینځ تطبیق ونه کولی شومګرداسئله دقرات دفن نده دعمدی په خاطرخماپه نزد پدې کې دقاری قول حجت نده خماپه نزد دفقهیه قواعدومقتضا هغه ده چه مالیکلی ده والله اعلم .ددې کرښو دلیکلوځخه وروسته یوه وجه دتطبیق چه ماته ډیره باریکه معلومیږی په سوچ کې راغله ، هغه داچه په شروع دسورة براة کې دبسم الله دلوستلودوه حیثیته دی یوحیثیت دابتداء په مطلق القرءة اوبل حیثیت دابتداء بالسورة نوپه اغلاط العوام کې داول اثبات دی اوپه مکروه اوشاطبیه کې دثانی نفی ده فلاتعارض والله اعلم .ترجیح خامس۱۰۳

دبسم الله دجزئیت په حقله دعاصم او امام صاحب

دقولونو ترمینځ دتعارض رفع کول:

سوال :(۲۸۲)خاورین په الامدادکې یوعبارت په عنوان دسوال اوځواب دبسم الله په حقله لیدلی و. چه دځواب خلاصه داده چه بسم الله دمبسملینوله طرفه جزء دهر سورت نده، او دشاطبی چه کوم شعردی

وبسمل بين السورتين بسنة **** رجال نموها وريته وتحملا

ددیته دانه ثابتیږی چه بسم الله دمبسملینوله لوری جزء دهرسورت دی.بلکه داثابتیږی چه دغوی دهر سورت نه وړاندې بسم الله لوستلې ده . یقیناً داصحیح ده لکن په پینوری شاطبی کې چه په حاشیه باندې یې دوه شرحې پرتې دی دهغوله جملې ځخه شرح دکنزالمعانی هم ده دکنزالمعانی ۳۸صفحه کې ددغه شعرپه شرحه کې دی ،ثم المبسملون بعضهم عدها اية من كل سورة سوى براة وهم غيرقالون وعدها حمزة من التاركين اية من الفاتحة فقط .ددې

عبارت څخه واضحه معلومیږی چه دابن کثیر، امام عاصم اوامام کسایي په نزد بسم الله دهرسورت جزء ده جنابه ! ددي تحریرخواب وفرمایي؟

جواب :ماته هم ددي عبارت څخه په خپل خوآب کي تردد واقع شو، او کوم خواب چه مادسوال ورکړی ؤه هغه بیادخواب محتاج شو. خماسره نه کتابونه شته اونه وخت ،نوروعلماؤد قرات ته دی رجوع وکولی شی اوکوم شافي خواب دی ترلاسه کړی ،دمهلت په شرط دی ماته دی هم اطلاع راکړی زه به یې په خپل کومی رسالي کي نقل کړم . یوه توجیه ذهن ته راځی اوهغه داچه په دغه سورت کي بسم الله لوستل خودروایت پوري ترلی دی ،اوجزء کیدل اونه کیدل داجتهاد پوري ترلی دی ،په روایت کي به دعاصم قول جحت وی اوپه اجتهادکي دامام صاحب نوخپل خواب روغ پاتي شو، ۱۲شوال ۱۳۳۹هـ)

مخدوم مکرم دامت فیوضهم :

دسلام نه وروسته په سلوتعظیمونوعرض دادی چه اعلی لیک صادر شوجناب قاری عبدالرحمن صاحب محدث انصاری پانی پتی د تسمیه په هکله دامامانو داقوالو په نقل کولوسره داسي لیکي اوټول قولونه حق دی اودقبیلی داختلاف قرات دی ،هغه نورپه داسي عبارت باندي خپله منیه کي لیکلی دی هغه داده یوه شه چه دبسم الله په هرسورت کي دجزییت دقراء اختلاف ده نوپه قاری دقراة دمبسملین باندي په تراویح کي دهر سورت په سرکي بسم الله ویل جهراواجب شول، اوکنه نودیوسلواو څوارلس آیتونوترک په ختم کي لازمیږی اول رواندہ اودحنفی المذهب دمناطقو معمول ددي په خلاف دی نوسبب دتارکینو اودغفلت معلوم نده اوپه بله رساله کي یې چه خاص په همدي مسئله کي ده داسي لیکلی دی دتسمیی مسئله اجتهادی هم نده ځکه چه په منصوصاتو کي اجتهاد روا ندی لهذا ددي په خاطرچه مونږ دحضرت امام ابوحنیفه مقلدیو په اجتهادیه مسایلوکي نه په مسائل منصوصه کي نوپه مونږ باندي یدي خبره قایل کیدل لازم شول چه مونږ په فقهیه مسایلوکي خودامام ابوحنفیه مقلدیوځکه چه هغه امام اومجتهدمطلق ؤ اوپه قرات کي مقلد دامامانو دقرات او راویانودقرات یوځکه چه هغوی دهرتوری اوهرتکي سندمتصل اومتواتر دحضور علیه السلام پوري لری اوړدی یې ، اوپه قرات کي امام ابو حنفیه هم دقران دراویانومقلددی اویدي مسئله کي داجتهاد احتمال دمنلوندی اوپه راتلونکي ځای کي لیکي اودلایل دمبسملینو اوتارکینو دواړو صحیحه حدیثونه دی ،دلته داجتهاد څۀ دخل دی دواړه اجتهاد ته قران کي دخل نه

ورکوی ،که دخل ورکوی نونښه ووایاست داجتهاد دعاصم اوابوحنیفه که مراد داجتهادڅخه فرض اوتحسین وی نومقبول نشی کیدلی اوکه مراد فقهي قیاس دی ،نو دلته مقیس اومقیس علیه اووصف مشترک اوبدل اوعلت دوصف مشترک څه دی ؟انتهی ؟

جواب :ق عبث النفع بعدنقل بعض الاختلافات فی البسملة تحت عنوان البسملة وسورة الفاتحة مانصه : وایضا فان المحققین من الشافعیة وعزاه الماوردی الی الجمهور علی انها آیة حکمالا قطعا قال النووی والصحیح انها قرآن علی سبیل الحکم ولوکانت قرانا علی سبیل القطع لکفرنافیها وهوخلاف الاجماع وقال الحلی عندقول المنهاج فقهیهم والبسملة منهای من الفاتحة عملا لانه ﷺ عدها آیة منها ما صححه ابن خزیمة والحاکم لاتصح صلوة من لم یات بها فی اول الفاتحة وهونظیرکون الحجر من البیت ای فی الحکم باعتبار الطواف والصلوة فیه لاله لاباعتبار انه من البیت اذلم یثبت ذلک بقاطع واذا قلنا انها آیة قطعا لاحکما کماهوظاهرعبارة ابن کثیرفیکون من باب اختلاف القراء فی اسقاط بعض الکلمات واثباتها وکل قرائها تواترعنده والفقهاء تبع للقراء فی هذاوکل علم یسال عنه اهله والمسئلة طویلة الذیل وماذکر ناه لب کلامهم وتحقیقه ص۱۹، ددي عبارت څخه واضحه څرګندیږی چه خماقول هم امکان لری اودقاری صاحب هم ،بله دغورقابله کاردادی چه که دقاری صاحب تولی مقدمی ومنل شی نودترایحو څه تخصیص دی دامقدمات خوقرات فی الفرض کي هم جاری دی نوولی احناف دوجوب جهر بالبسملة فی الفرائض التزام نه کوی . ۲۰شوال ۳۳۹هـ(ترجیح خامس ۱۱۹)

ایضاً

سوال :(۲۸۳)یوه دیوبندتی ور خبره ده اوهغه داچه په باب البسمله کي دامام عاصم په نزدبین السورتین بسمله ضروری دی،اودامام ابو حنیفه په مذهب کي دلته په تراویح کي په هرسورت باندي بسم الله ویل نه کوی نوپه دی صورت کي دحفص په روایت عن العاصم الکوفی په پوره ډول دکلام مجیدختم په څنګه کولوکیږی ، دهمدی لامله بسم الله دیوه غیرمعین سورت په اول کي لوستل کیږی ،اوباقی یوسل اودری سورتونو په اول کي نه لوستل کیږی دقران مجیدپه ختم کي دامام عاصم په قول باندي عمل کول ضروری دی، اوکه دامام ابوحنیفه په رایې عمل وکولی شی نودکلام مجیدختم به ناقص ختم وی دلمانځه نه بهر [illegible] . په قول باندي عمل کولوکي کوم مشکلات نشته ، په لمانځه کي دلته په زوره

ویل دهرسورت په سرکي دبسم الله داحنافوپه نزد جائزدی اوکنه ؟که داحنافوپه نزد جائزده نو زموږ په زمانه کي په دی باندي عمل کولوکي خوبه کوم حرج نه وی؟

جواب: دبسم الله په بابله یوه مسئله دقراءة متعلق ده اویوه دفقه متعلق ده ،دعاصم قول داولی مسئلی تحقیق دی اودامام ابوحنیفه قول ددوهمی مسئلی تحقیق ، داولی مسئلی حاصل داده چه اګرکه بسم الله دسورت جزء نه وی ، خوسره دعدم جزیت روایة ددي لوستل په هرسورت موافق نه شوګواکي کوم جزء متروک نه شوکله چه کم له کمه په یوه سورت باندي بي ولولی اوددوهمی مسئلی حاصل دادی چه ګویا روایة په هرسورت باندي بسم الله منقوله وی ،لکن دهرسورت جزء نده بلکه دمطلق قرآن جزء ده ،که یوځای کي بي هم ولولی نوپوره ختم دقران کیږی اګرکه دهغه د روایت موافق دهغه قراءت ونه شو،نودامام عاصم اوامام ابوحنیفه په قول کي هیڅ مخالف نشته ځکه چه ددواړودنفی اواثبات حیثتونه جلاجلادی اودحیثیتونو په بدلو لوسره تعارض له مینځه ځی ، دا هغه وخت ده چه په هرسورت باندي بسم الله ونه وائی اوکه وی لولی نودی شبهی اوګنجایش نشته ،اودامام صاحب هم خلاف ندی ،ځکه چه امام صاحب تسمیه په هرسورت باندي ضروری نده ویلی داته ده چه جائز بي نه دی ویلی په درمختاریا ردالمحتارکي بي په هرسورت باندي تسمیه حسن ویلی ،پاتي شوه په هر ځای کي په زوره ویل دابلاشبهه داحنافو خلاف دہ اوامام عاصم هم جهرضرورنه وائی یوازی تسمیه ضرورګنی ، والله اعلم وعلمه اتم ۲ ربیع الثانی ۱۳۲۴ھ (امدادصفحه ۷۲)

باب الامامة والجماعة

دزیارت کونکي عالم دامامت حکم سره دحکم دلمانځه په استرلرونکي فرش

سوال:(۲۸۴)په دی مسئلوکي دشرع متین علماء څه فرمايي (۱) که په مسجدکي دوه استره فرش دامام سره له مقتدیانولپاره وی نو درست دی اوکنه ؟

(۲) دیوه جامع مسجدامام دی چه دلمانځه فرضونه ،واجبات ، سنن ، ماتونکي وغیره په ښه طریقه پیژنی اوصحیح ویونکي دقران شریف دی خوعالم ندی اویوعلمداروی نولمونځ هغه دکلی امام چه همیشه قدیمی موجودوی ورکړی اوکه توی راغلی عالم بي ورکړی ، اوکه دغه عالم دامام الحی داجازی نه پرته لمونځ ورکړی درست دی اوکنه ؟ اولمونځ ورکول دعالم

بغیرداجازی دامام الحی چه موجودوی درست دی اوکنه ؟ یا د امام الحی داجازی دعالم نه بغیرلمونځ ورکول درست دی اوکنه ؟اوپه دغوخاصو صورتونو کي لمونځ کیږی اوکنه ؟

جواب :للسوال الاول استرلرونکي فرش باندي لمونځ درست دی وان یجدحجم الارض وفی درمختار تفسیره ان الساجد لوبالغ لایتسفل راسه بلغ من ذلک فصح علی طنفسة وحصیروحنطة وشعیروسریر طحطاوی جلداول ص ۲۲؟

جواب :للسوال الثانی په مذکوره سورت کي دامامت استحقاق دامام الحی دی ،اوهم هغه به لمونځ ورکوی هغه ته دعالم داجازت څه ضرورت نشته اودغه عالم ته بغیرداجازت دامام حی لمونځ ورکول نه دی پکار ،اوکه ورپی کری نولمونځ رواکیږی[۱] باقی الستحقاق دامام حی دی فی سنن ابی داود قال رسول الله ﷺ ولایوم الرجل فی بیته ولافی سلطانه ولایجلس علی تکرمته الاباذنه ص۸۷ وفیه ایضاً قال علیه السلام من زار قوما فلایؤمهم ولیومهم رجل منهم ص۸۹ دخل المسجد من هو اولی بالامامة من امام المحلة فامام المحلة اولی کذافی القنیة (عالمگیری ص۸۲) والله اعلم (امداد صفحه ۱۷ ج ۱)

دفرضونو څخه دمتخلف لپاره په جمعی سره دوترکول

سوال:(۲۸۵)پدي صورت کي څه حکم دی چه دوه دری کسان وروسته داداء دفرض لمونځ څخه امام په جماعت دتراویح مشغول دی په هغه کي حاضرشول دغه کسان فرض لمونځ په جماعت سره اداکړی یا علیحده علیحده کولوسره دترایحوپه جماعت کي داخل شی اوبیادوترلمونځ دامام سره وکړی اوکه یوازی ځکه چه امام بي دفرضوپه جماعت موندلی ندی ؟

جواب :دربواړه کسان دی وروسته داداء دجماعت فرض چه امام په تراویحوکي مشغول دی مسجدته راغلل فرادی دی لمونځ اداء کولو سره دامام سره دی شامل شی اودوترولمونځ دي دامام سره وکړی اګرکه فرض بي دامام سره ندی ګیرکړی (ولوترکوا بجماعة فی الفرض لم یصلوالتراویح جماعة لانها تبع فمصلیه وحده یصلیهامعه درمختار ،امالوصلیت بجماعة الفرض وکان رجل قدصلی الفرض وحده فله ان یصلیها مع ذلک الامام شافعی جلداول ۴۷۶ولولم

[۱] یعنی مع الکراهة که دغه امام حی قرآن غلط لولی اوعالم ئی صحیح لولی نودامام حی امامت درست ندے اوهغه عالم دی لمونځ ورکړی

يصليها التراويح بالامام اوصلاها مع غيره له ان يصلى الوترمعه بقى لوتركها الكل هل يصلون الوتر بجماعة فليراجع درمختارقوله فليراجع قضية التعليل فى المسئلة السابقة بقولهم لانها تبع ان يصلى الوتر بجماعة فى هذه الصورة لانه ليس بتبع للتراويح ولاللعشاء عندالامام رحمة الله ، انتهى حلبى طحطاوى مصرى جلد اول ص ۲۹۷ ،ددې روايت څخه معلومه شوه چه هركله لمونځ دتراويح چه دفرضوتابع دى اداء كول يې دمتخلف لپاره جائزدى ،نووترچه ناتابع دى په جماعت سره اداء كول څنګه به روا نه وى [۱] امدادصفحه ۲۰.

دامام ديوسلام نه وروسته داقتداء حكم

سوال :(۲۸۶) زيددامام ديوسلام نه وروسته شريک شونودپاني لمانځه لپاره كله ودريږى اوشروع وكړى . اودلفظ سلام څخه وروسته شركت په جماعت كې جائز دى اوكنه ؟

جواب : په مسئوله صورت كې دامام سره شركت صحيح ندى ،نو تكبير تحريمه دى له سره حلى خپل لمونځ دى يوازې پوره كړى،اوله تحريمه باطله شوله ،څكه اقتداء دانفراد په موضع كې دلمانځه لپاره مفسده وه او دادانفراد موضع وه ، كمافى الدرالمختارفى واجبات الصلوٰة وتنقضى قدرة بالاول قبل عليكم على المشهورعندنا وعليه الشافعية والله اعلم امدادصفحه ۲۱ ج ۱.

دهغه لمانځه داعادى تحقيق چه دفاسق امام پسى اداء شى

سوال :(۲۸۸) خمونږ په كتابونوكې دى چه كه دفاسق اوبدعتى پسى لمونځ وكړى نودلمانځه اعاده ضرورى ده .لكن كله چه دحضرت عثمان په زمانه كښى بلوى وه اوصحابه حضراتودبلواګرانوپسى د لمونځ كولوپه هكله دحضرت عثمان څخه وپوښتل شونوهغه حضرت اجازه وركړه اوداېې ونه فرمايل چه وكوى اوبيا اعاده وكړى،پداسې حال كې چه څوک ديرزيات فاسق اوبدعتى به وى خصوصاً داسې بلواګران چه په بر حق خليفة المومنين اودرسول الله زوم اوپه عشره ؤ داخل باندې ئى بلوى كړى وى ؟

---

[۱] اوهمدارنګه په صغرى كې په صريح عبارت سره همدغه مذكورحكم ذ ے وهوهذااواذالم يصل الفرض مع الامام قيل لاتبيعه فى التراويح ولافى الوتروكذالم يصل معه التراويح لاتبيعه فى الوترالصحيح انه يجوزان يتبعه فى ذک كل ۱۲ منه

جواب : داروايت ماته ندى ميلاوشوى،كه حواله وليكل شى نو تحقيق به وكولى شى .البته په درمختاركې يې قاعده په واجباتود لمانځه كښى ليكلى كل صلوٰة اديت مع كراهة التحريم تجب اعادتها .اوپه ردالمحتار كې ئى ددې په عموم باندى يوقوى اعتراض كړلوسره دتصحيح لپاره دغه توجيه وركړى ده ، الان يدعى تخصيصها بان مرادهم بالواجب والسنة التى تعادبتركه ماكان من ماهية الصلوٰة واجزائها ، نواول خوپه صلاة خلف الفاسق ونحوه كښى كوم امراجزاء دصلوٰة مختل شوى ندى.لهذا قاعده دوجوب داعادى جارى نه شوه دوهم په انفرادسره دهغه سره.لوستل اولى دى.اواعادى كې چه غالباً على الانفراد به وى داولى څخه دغيراولى په طرف راتلل دى فى الدرالمختارصلى خلف فاسق اومبتدع نال فضل الجماعة وفى ردالمحتارافادان الصلوٰة خلفهااولى من الانفراد فقط ۲۷ محرم ۱۳۲۲ھ امدادص ۴۷ ج ۱.

داخلاق ذميمه خاوندپسى داقتداء دكراهت تحقيق

سوال :(۲۸۹) ګيره خريل ،ياسودخوړل وغيره وغيره خوداسې فسق دى چه دصورت په ليدلو يا اوريدلو يا معاملى څخه معلوميږى ،خود ذميمه اخلاقولكه ريا ،بخل،عجب،حسد ،بغض وغيره وغيره پته د نوروله مشكلاتو سره روان وى اودغه ذميمه اخلاق هم يقينافسق دى آياكه كوم سړى كښى دغه ناوړه اخلاقوڅخه كوم ذميم خوى وى او كوم مقتدى ته ددې پته معلومات وركول شى نو دمقتدى د لمانځه اعاده واجب ده اوكنه؟

جواب : په [۱] اعادى كښى خويره خبرى وشوى .البته دكراهت سوال كول هم نه پيداكيږى نودغه صفتونه ذووجهين دى دهمدى په خاطر ددې صفاتو د موصوف يقينافسق نه معلوميږى اوپه مومن كې اصل عدم فسق دى لهذا دهغوامامت مكروه ندى ۲۷ محرم ۱۳۲۲ امدادص ۴۸ ج ۱.

دفرضومتخلف لپاره په جماعت سره دوترو كول

سوال :(۲۹۰) ددين علماء اومفتيان دشرح متين پدې مسئله كښى څه فرمائى چه يوسړى دعشاء فرض په تنهائى سره وكړلوپه دغه حالت كښى دغه سړى وترپه جماعت اداء كړى

---

[۱] يعنى دېرتى سوال په جواب كې ۱۲ منه.

اوکنه؟ یاکه یوسړی داسې وخت کې مسجد ته ورسیده چه دعشاء دفرضوجماعت شوی ؤدغه سړی وترپه جماعت سره اداء کړی یاعلیحده علیحده یوازی ؟ په بهشتی گوهرکښې دامسئله داسې ده دتراویحوبیان دی. مسئله که کوم سړی مسجدته په داسې وخت ورسیده چه دماسختن لمونځ شوی ؤ،نوده ته پکارده چه اول دعشاء فرض وکړی بیاپه تراویحوکښې شریک شی.اوکه په دی مینځ مینځ کې دتراویحوځه رکعتونه وکولی شی نودهغونه وروسته دوترولوستل غوارې نوودی کړی.اودغه سړی دی په جماعت سره اوکړی ،درمختاراوصغیری لاکن په غایة الاوطارترجمة اردو درالمختار باب الوتروالنوافل کښې داسې لیکلی دی اوکه تراویح نی دامام سره ونکړی اویاپې تراویح دبل امام سره وکړی نولمونځونه جائزدی،داچه وتردی دامام سره وکړی ددې مطلب دادی چه فرض نی دجماعت سره وکړل نووتردجماعت سره کولی شی، لکن که فرض یې یوازی وکړل نووتردی په جماعت سره نه کوی کذافی الشافی داعبارت دی نواوس څه کول پکار دی یعنی فرض یې له جماعت سره نه دی کړی نووترپه جماعت سره وکړی اوکنه؟

جواب :کوم سړی ته چه دفرضوجماعت ملاونشی یوقول دادی چه هغه دی وترپه جماعت سره وکړی .فی الصغیری شرح المنیة واذالم یصل الفرض مع الامام قیل لایتبعه فی التراویح ولافی الوترکذا اذا لم یصل معه التراویح لایتبعه فی الوتروالصحیح انه یجوزان یتبعه فی ذلک کله کذاکتب الی بعض ثقات احبابی اویوقول دادی چه وتردی په جماعت سره وکړی،کمامرمن قوله قیل لایتبع فی التراویح ولافی الوتر.اوظاهرعبارت دردمختارداول قول موافق دی لکه چه شامی ددرمختاردقول لاندې فمصلیه وحده یصلیهامعه ویلی دی وبه ظهران التعلیل المذکوربقوله لانهاتبع فیماترک القوم الجماعة فی الفرض لم یصلوالتراویح جماعة لایشمل المصلی وحده فظهر صحة التفریع بقوله فمصلیه وحده الخ لاکن ددرمختاردراتلونکې ولولم یصلهاالخ لاندې دقهستانی څخه یوه جزیه لکنه اذلم یصل الفرض معه لایتبعه فی الوترنقل کولوسره ددرمختارپه قول ولولم یصلهاکې یې تاویل کړی دی ای وقدصلی الفرض مرة، البته په دی کښې نی تعمیم کړی دی چه دی امام سره فرض وکړی یادبل امام سره لکن که ټول قوم فرض بلاجماعت اداکړه په دی کښې دټولوپه نزدډې تراویح اووتردجماعت نه بغیروکړی،یوازې اختلاف دیوه دوه کسانود فرض جماعت پاتې کیدلوکښې دی لکن په صغیری کښې نی اول قول نه صحیح ویلی دی کمامرمنه لهذادیته به ترجیح وی ۲۲ رمضان سـ۱۳۴۲ هـ تتمه خامسه ص۳۰۵،

دهغه چاپسی داقتداحکم چه ښځهٔ یې بې پردې وی

سوال :(۲۹۱)دکوم سړی چه ښځه ،یالور،یامورياوخوريې نقاب اوحجابه بازارته ځی آیادداسې سړی سره خوراک څکاک کول اودهغه پسې لمونځ کول شرعابلاکراهة جائزدی اوکنه؟اوحجاب دعاموموءمناتو لپاره هم واجب دی اوکه سنت اویامستحب دی فقط؟

جواب :په فقهیه کتابونوکې مصرح ده چه دحره ټول بدن بغیر د ورغو او خپوچه فی نفسه اوزوجه وغیره په عارض دفتنی واجب السترډی او دواجب پریښودل معصیت ده ، اوپه معصیت باندې سره دوجود قدرت په منع کولوسکوت اوتسامح کول فسق دی اودفاسق پسې لمونځ مکروه تحریمی دی تحریماعلی الارجح نوکوم سړی چه خپل هغه اقارب چه هغوباندې قدرت لری اوهغوی نه منع کوی نوهغه په دی حکم کې داخلیږی اوکه قدرت نه وی اویادهغه ښځه اوخوروغیره عمرخوړلی دی چه دمځ د لوڅولوڅخه خوف دفتنی نه وی.یاپه خپل مخ باندې کپړاچولوسره و وځی نویدې خاطرچه دعسی وتل دخائف لپاره جائزدی دهمدی په خاطرمنع واجب نده اوترک د فسق ندی په همدې خاطرپه امامت کې کوم حرج نشته .اویادسائل پکاردی چه پورته کوم صورتونه دفسق لیکلی شوی دی هیڅ دبیرون تلونکولپاره خاص ندی بلکه دهغو بې پردی ناستوپه حق کې هم دی چه دخپل نامحرم اقارب سره مخامخ بې حجابه مخامخ کیږی وهذاکله ظاهرفقط ۲۲ جمادی الاخری سـ۱۳۲۱ هـ امدادص۵۴ج۲

سوال :(۲۹۲)کوم شخص کې چه پرده نه شته دهغه پسې لمونځ درست دی اوکه چه قدر کراهت شته. او پرده واجب ده اوکه فرض اوپرده نه کونکې څومره درجه کې گنهکاردی ؟

جواب :څومره پرده چه فرض اوواجب ده دهغې دترک څخه گناه اود هغی څخه په بې پروائی کولوڅخه په امامت کښې کراهت دی اوکنه نو نشته اوددې تفصیل دفقهې په اردورسایلوکې موجوددی (تتمهٔ اولی ص ۱۷)

په نوروباندې دراتب امام دمخکې کولوحکم

سوال :(۲۹۳)په یوځای کښې دشاهی زمانی تعمیرجوړیدلو.اود تعمیر د خلاصیدلونه وروسته دجامع مسجددامامت منصب یودصلحی سړی ته وسپارل شولکه چه دهغه وخت څخه ترننه پورې دهمغه امام اولاد پلارترپلاره امامت په تقلیدوسره راروان دی.مگرتخمیناپنځه. اوه کاله موده تیره شوه چه دوخت امام په کوم اخبارکې څه مضمونونه د

انتظامی قواعدو په نسبت طاعونی شکایتونه چاپول چه دهغې نه خپنې سرکاری افسران خبرشول دنباره خپنې زېښانوته ئې هدایت وفرمایه چه امام دمسجدته بهتره دی چه علیحده کړلې شي لکه چه دوخت دمصلحت په اساس دهغه په ځای ئې دهغه ورارہ دامامت په منصب مقررکړ. خوکاله هغه هم کاروکړ، څه موده وروسته هغه نه د خپلو ضروریه حوائجو په سبب اتفاقا سفر ورپېښ شوچه دهغه په سبب ئې په خپل ځای ئې یومولویصاحب قائمقام مقررکړلهذااوس دڅو کالو راهیسې نوموړې مولویصاحب امامت کوی، اوس څه موده وروسته هغه امام صاحب دجامع مسجدچه مولویصاحب ئې خپل قائمقام مقررکړی ؤکومه جمعه ئې قصد دامامت وکړنودغه کاریه مولویصاحب سخت ناخوښ تمام شو، په کوم چه هغه دخپلو څو معتقدینوپه ذریعه ددې امرکوښښ وکړاوتر اوسه ئې کوی چه دا امامت ځمانه لاړنشی اوخساره دنل لپاره پاتې وی، مګراکثراو سیدونکې دښاردخپل زاړه امام په پرېښودلواودمولویصاحب د امامت په قبلولوناراضه دی اوپه هیڅ ډول هغه نه خوښوی اګرکه په مولویصاحب کښې دزاړه امام په مقابله کې حتما ډیرعلم شته لاکن دهغه په نزددخپلوخوګمانونودسلف څخه ترڅنه دومره دسنت تابع عالمان تیرشوی اواوس هم موجوددي، اوهمدارنګه دهغه پیروعام مسلمانان ټول دهابیان اوبیدینه دی، خصوصادآخری زمانی بی مثله عالم مولنا شاه محمد اسحاق صاحب، اومولنااسماعیل صاحب شهید دهلوی، او مولنا رشید احمدصاحب ګنګوهی اوددیوبندعلماء اوپه ندوه کې شرکت کونکې عالمان په ناجائزوالفاظو یادول ئې وظیفه ده، اوددې ټولوخیروسره سره، بعضی صاحبانود شردد فع کولوپه منظورد مولویصاحب په خدمت کښې ئې عرض وکړچه تاسودیوی جمعی لمونځ دامام صاحب پسې وکړی اوپه راتلونکې کې به دمعمول سره سم دقدیمی امام له طرف په اداء کولی شی، داخبره نه خوښوی اوفرمایې چه مونږ ته دیزیدی بیعت نشته، په داسې حال کښې چه دامام صاحب عقایدداهل السنة والجماعة دعقیدی خلاف ندی، نوپه داسې صورت کښې دامامت استحقاق دزاړه لپاره دی اوکه دامامت غوښتونکې مولویصاحب حق دی څکه چه په دی حقله ددواړوطرفونو نه کوښښ کولی شی، کومه فرقه په حقه ده اوکومه په غلطه ده؟ فقط

جواب :اول خوکله چه داول امام وراره حقیقی دښار اهل حل اوعقدو د امامت په منصب باندې مقرر کړی ؤ ترڅوچه هغه معزول نکړی شی او معزول کونکې هم دښاراهل حل اوعقددې، ددغه وخته پورې که دغه دوم امام دهغه عالم صاحب په مقابله کې مینی امام ثالث احق للامامة هم داؤځکه چه دغوصفاتوته اعتباردنصب په وخت کښې دی، نه وروسته دنصب

نه صفه شان چه په ردالمحتارکښې دی قوله اعتبراکثرهم لایظهرهذاالافی النصب اودچادنائب جوړولوڅخه اصل نه معزوله کیږی، دوهم سوال څخه معلومیږی چه امام ثالث ډیرعلماء دحق متبعین دسنت ته بدوائی چه ترڅنه معلومیږی چه دریم امام په عقایدوکښې دسنت خلاف دی، عین مبتدع دی اوبده وبناخپله دفسق عمل دی اودفاسق اومبتدع امامت مکروه دی فی الدرالمختاروفاسق واعمی ونحوالاعشی نهار الان یکون ای الفاسق اعلم القوم فهوالاولی ومبتدع ای صاحب بدعة وهی اعتقادخلاف للمعروف عن الرسول لابمعاندة بل بنوع شبهة. دریم سوال څخه داهم معلومیږی چه دښاراکثره خلک دمولویصاحب دامامت څخه ناراض دی، اوپه هیڅصورت کې هغه نه خوښوی، اودوهمې وجهې څخه معلومیږی چه په مولویصاحب کښې دناراضی وجوه هم شرعی دی، نو خپله داسې صورت کښې امامت کول مکروه دی فی الدرالمختارولو ام قوماً وهم له کارهون ان الکراهة لفسادفیه اولانهم احق بالامامة منه یکره لاذلک تحریمالحدیث ابی داودلایقبل الله صلوة من تقدم وهم له کارهون وان هواحق لاوالکراهة علیهم. څلورم که په ثالث امام کښې کوم خرابوالی هم نه وی دغه وخت هم ددې لپاره چه اکثره خلک د سابق امام په طرف دی په دی صورت کښې اکثرته اعتباردی. فی الدرالمختارفان استووا یقرع بین المستویین اوالخیارالی القوم. فان اختلفوا اعتبر اکثرهم پاتې شوه ددریم امام عالموالی نویوازی عالموالی موجب داحقیت دامامت ندی، بلکه پدې کې داهم شرط دی چه هغه شخص مطعون فی الدین نه وی، ګنې هغه احق للامامة ندی فی الدرالمختاروالاحق بالامامة الاعلم باحکام الصلوة وفی ردالحتار الاعلم بالسنة اولی لان یطعن علیه فی دینه لان الناس لایرغبون فی الاقتداء به. لهذا په مسئوله صورت کښې دامامت استحقاق دزاړه امام لپاره حاصل دی اوددغه مولویصاحب طالب امامت هیڅ حق ندی. والله اعلم ۲شعبان سـ۱۳۲۲ھ (۵۳)

سوال :(۲۹٤)یوشخص حافظ سید، شریف النسب امام دکومې محلې دمسجدمقرردی دهغه په موجودیت کښې اوبلا اجازت دهغه بل کوم سړی لمونځ ورکولی شی اوکنه؟ که ورئې کړی نولمونځ بلاکراهته جائزکیږی اوکنه اوپه لطایف الحیل سره چه دمذکورامام آمدنی چه د بناديووغیره په مواقعوکښې مقرردی دغه شخص واخلی اومذکور امام محروم پاتې شی نوددغې آمدنی اخستل ددغه شخص جائزدی اوکنه؟

جواب :فی الدرالمختارواعلم ان صاحب البیت ومثله امام المسجدالراتب اولی بالامامة من غیره مطلقا الخ وفی ردالمحتارقوله مطلقاً ای وان کان غیره من الحاضرین من هواعلم واقرامنه الی قوله فان قدم واحد منهم لعلمه وکبره فهوافضل واذاتقدم احدهم جاز ج۱ص۵۸۴، ددینه معلومه شوه چه دمقرراِمام داجازی نه بغیردچا امام جوړیدل مکروه دی او دهغه لطائف الحیل تفصیل ولیکې نو حکم معلومیدلی شی ۲رمضان سـ۱۳۳۳ھ ،تتمه ثالثه ۷۰،

دنابالغ اوهلک پسی دلمانځه حکم

سوال :(۲۹۵)دنابالغه اویی مخی هلک پسی فرض لمونځونه کیدلی شی اوکنه مراداچه بالغ خوشوی مګرګیره اوبریت هیڅ ندی راغلی حافظ وی اوکه ددین دعلم لوستونکې وی اومقتدیانوکې دورکوالی په سبب دهغه په امام والی کښی اختلاف دی؟

جواب :که هغه ښکلی دی اوهغه ته دخلکو په شهوت سره دکتلو احتمال شته دغه صورت کښی که هغه حافظ یاطالب العلم هم وی مع هذاهم مکروه ده اوکه داکارنه وی اویوازی دعوامونوخوښی ده نوکه هغه دټولو مقتدیانوځخه په علم اوقرآن کې ښه وی نودهغه امامت مکروه نده اوکه ددومره عمروی چه دګیری درابهرکیدوامیدنه پاتې کیدو نوهغه امردنه پاتې کیږی. فی الدرالمختار باب الامامة وکذا تکره خلف امردوفی ردالمحتارالظاهرانهاتنزیهیة ایضا والظاهر کماقال الرحمتی ان المرادبه صبیح الوجه لانه محل الفتنة وهل یقال هنهاایضاً اذاکان اعلم القوم تنتفی الکراهة فان کانت علة الکراهة خشیة الشهوة وهوالاظهرفلاوان کانت غلبة الجهل ونفرة الناس من الصلوة خلفه فنعم فتامل وفیه عن حاشیة المدنی شخص بلغ من السن عشرین سنة وتجاوزحدالانبات ولم ینبت عذاره فهل یخرج بذلک عن حدالامردیة الی قوله فاجاب بالجوازمن غیرکراهة اه، فقط والله تعالی اعلم ،۲۵شعبان سـ۱۳۳۳ھ،امدادص۵۲ج۱،

سوال :(۲۹۶)دبهوپال په ریاست کې تقریباد۷۵کالوراهیسی داسلسله روانه ده چه ۹، ۱۰کلونوهلک پسی یوازی تراویح کولی شی،اوهمدا وجه ده چه په دی دوران کښی په لحاظ دآبادی په بهوپال کښی دقرآن دحفظ خاص ذوق ؤ،سابقه علماء، مولناایوب صاحب مرحوم مولنا عبدالقیوم صاحب مرحوم اونورقضاة اومفتیان دبهوپال تل دغه فعل مستحسن خیال کړی ده ، په موجوده زمانه کې هم دجناب قاضی رحمه الله دجوازفتوی ،په دی الفاظوشائع شوه

"تمیزلرونکې نابالغ هلک اقتداء په تراویح کې اختلافی مسئله ده، په دی کښی مشایخ د
17 متاخرینوفقهاؤدجوازقائل دی اودعاجزجناب والدصاحب مرحوم اود جناب مولنا عبدالقیوم صاحب مرحوم مسلک هم فتوادجوازدتل لپاره پاتې ده.البته نورعلما دهغوی سره متفق ندی.دماشومانودحفظ قرآن وغیره ترغیب کې موانع نه کیدل هم داصول شرعیه په اعتباریدې کې لحاظ دی دجناب قاضی صاحب دستخط .دهمدی لامله عرض دی چه جناب معظم هم عالی توجه مبذول کولوسره دمفصل خواب ځخه شکرګذاروفرمائی.اوداهم واضح وفرمائی چه حددبلوغ داحناف فقهاؤعلیهم الرضوان په نزدځه دی اوکه ۹کلوځخه واخله ۱۳، ۱۴کال پورې هلک پسی یوازی تراویح وکولی شی نوآیاد شرعیه قواعدوپه اساس اومتاخروفقهاؤداحنافوپه نزدجائزدی فقط رمضان المبارک ۴۹،

جواب :الروایة الاولی: فی الدرالمختارولایصح اقتداء رجل بامراة او خنثی اوصبی مطلقاولوفی جنازة ونفل علی الاصح وفی ردالمحتارقال فی الهدایة وفی التراویح والسنن المطلقة جوزه مشائخ بلخ ولم یجوزه مشائخنالی قوله والمختارانه لایجوزفی الصلوات کلهااه.

الروایة الثانیة :ایضاً فی الدرالمختارویکره تحریماجماعة النساء ولوفی التراویح.

الروایة الثالثة : فی الدرالمختارفی تعلیل عدم صحة بعض الاقتداء البناء القوی علی الضعیف په اول روایت کښی تصریح ده چه باوجوداختلاف ترجیح عدم جوازته ده اوپه روایت ثالثه کښی ددغې ترجیح داصولوځخه مؤیدکیدل ثابتیږی ددې لپاره چه دصبی تراویح محض نفل دی اودبالغ سنت مؤکددی،بلکه داچه دصبی نفل دشروع ځخه واجب نه وی اودبالغ واجب وی نودصبی لمونځ ضعیف دی په هغه باندې دبالغ قوی لمونځ بناء کول دخلاف اصول کیدلوپه سبب جائزندی اوپه روایت ثانیه کښی خواب دی دمصلحت مذکوره فی السؤال .ځکه په دی کښی دمستوراتولپاره دحفظ قرآن په ترغیب کې دموانعو پیدا کیدلواحتمال شته.اصل دادی چه داحکاموبناء په دلائلو باندې ده په مصالحو باندې نده. علاوه ددینه داده چه په صبی کښی دمصالحوسره مفاسدهم شته چه .اکثراً هغه دطهارت، صلاة داحکامو ځخه ناواقف اومتساهل هم وی،نوددې په تجویزد بالغانودلمونځونو فسادډیرغالب دی،بیادتراویح په ځای دهغو نوافل اداکول ددغو محتمل رکاوټ تدارک هم شته.لکه چه ددی کافی کیدل مشاهددی، اوکه کومه علامه دبلوغ هم ونه لیدل شی نوپه مفتی قول سره د پنځلسوکالوپه

عمرباندي دیلوړ حکم کولی شي په دغه وخت دهغه پسی په تراویح کښې اقتداء جائزده. والله اعلم ۱۲ رمضان المبارک سـ۱۳۴۹ھ (النورص۹جمادی الاولی ۵۰ھ).

په مزدوری سره دامامت حکم

سوال:(۲۹۷) دمسجدامام لپاره مقتدی څه مقررکړی دمشاهدی په طوریا کلیزیابلاتقرر اوتعین څه ورکړی نودداسي امام پسی لمونځ جائزکیږی یا مکروه؟

جواب: فی الدرالمختارباب الاجارة الفاسدة ویفتی الیوم بصحتها لتعلیم القران والامامة والاذان ، ددینه معلومه شوه چه دامام دشرط کولو سره هم ورکول درست دی اوبی له شرطه په اولی درجه درست دی نودده پسی لمونځ مکروه نه شو.فقط والله اعلم ۲ ذی الحجة سـ۱۳۲۲ھ (امداد ص۲۴ج۱)

په قیام الی الخامسه کښې دامام دعدم متابعت حکم

سوال:(۲۹۸) که کوم سړی په جماعت کښې دوهم،دریم څلورم رکعت کښې اخر یوځای شوی ؤ اوامام اتفاقا د څلوررکعتونودپوره کیدلونه وروسته سهوه شو.اودپنځم رکعت لپاره ودریده اومقتدیانوته هم په یادنه شو او فتحة ورنه کړه اوټول ودریدل.اوس ددغه امام دپه یادیدلوپورې هغه شخص چه وروسته په کوم رکعت کښې راتلوسره یوځای شوی ؤ د دغه امام متابعت وکړی اوکه خپل پوره رکعتونو کولوسره فارغ شی؟

جواب: ف الدرالمختارباب سجودالسهووان قعدفی الرابعة مثلاقدرالتشهدثم قام عادوسلم ولوسلم قائماصح ثم الاصح ان القوم ینظرونه فان عادتبعوه وان سجدللخامسة سلمولانه تم فرضه اذلم یبق علیه الاالسلام اه. ددې روایت څخه معلومه شوه چه که امام په څلورم باندې له ناستی نه وروسته ودریږی نومسبوق دی منتظراوسی که هغه راوګرځیده نوترسلام پورې دی دهغه سره اوسي کنه نوخپل لمونځ دی پوره کړی اوکه هغه په رابعه باندې نه وه ناست نوبیادی هم انتظارکوی که پنځم رکعت دسجدڅخه وړاندې راوګرځی نوبیا د هم ترسلام پورې اوسی.اوکه راونه ګرځیده نودټولولمونځ باطل شو.والله تعالی اعلم ۹ صفر سـ۱۳۲۴ھ (امدادصفحه ۲۹ج۱)

د شارع عام په مسجدکې ددوهم جماعت دکراهت اوعدم کراهت تحقیق

سوال:(۲۹۹) فی جامع الاثارلهذاالعبدالحقیرهکذاکراهة تکرارالجماعة فی المسجدعن ابی بکرة ان رسول الله ﷺ قبل من نواحی المدینة یریدالصلوة وقدصلوافمال الی منزله فجمع اهله فصلی بهم رواه الطبرانی فی الکبیروالاوسط وقال الهیثمی رجاله ثقات قلت ولولم یکره لماترک المسجدوعن ابراهیم النخعی قال قال عمرلایصلی بعدصلوة مثلهارواه ابن ابی شیبة قلت واقرب تفاسیره حمله علی تکرار الجماعة فی المسجدوعن خرشة الحران عمر کان یکره ان یصلی بعدصلوة الجمعه مثلها رواه الطحاوی واسناده صحیح قلت دل علی کراهة تکرار الجماعة خاصة وفی حاشیته تابع الاثاروما وردمن قوله علیه‌السلام من یتصدق لایدل علی جواز التکرار المتکلم فیه وهواقتداء المفترض بالمفترض اذاالثابت به اقتداء المتنفل بالمفترض ولانحکم بکراهته بل وردفی جوازه حدیث احرمن قوله علیه‌السلام اذاصلیتمافی رحالکماثم اتیتماصلوة قوم صلیا معهم واجعلا صلوتکمامعهم سبحة کماهوظاهروماهورواه البخاری تعلیقاعن انس محمول علی مسجد الطریق اونحوه لمانقل فیه انه اذن واقام وهومکروه عندالعامة اه اما الروایات الفقهیة فی هذاالباب ففی الدرالمختارویکره تکرار الجماعة باذان واقامة فی مسجدمحلة لافی مسجدطریق اومسجدلاامام له ولامؤذن وفی ردالمحتارقوله ویکره ای تحریماالقول الکافی لایجوزوالجمع لایباح وشرح الجامع الصغیرانه بدعة کمافی رسالة السندی قوله باذان واقامة عبارته فی الخزائن اجمع مماهیهناونصها یکره تکرار الجماعة فی مسجد محلة باذان واقامة الااذاصلی بهمافیه اولاغیراهله اواهله لکن بمخافته الاذان ولوکرراهله بدونهما اوکان مسجد طریق جازاجماعاً کمافی مسجد لیس له امام ولامؤذن ویصلی الناس فیه فوجافوجافان الافضل ان یصلی کل فریق باذان واقامة علی حدة کمافی امالی قاضیخان اه ونحوه فی الدرروالمرادبمسجد المحلة ماله امام وجماعة معلومون کمافی الدروغیرهاالی ان قال ولان فی الاطلاق هکذا تقلیل الجماعة معنی فانهم لایجتمعون اذاعلمواانهالاتفوتهم ثم قال بعدسطرو مقتضی هذاالاستدلال کراهة التکرار فی مسجدالمحلة ولوبدون اذان ویؤیده مافی الظهیریة لودخل جماعة المسجدبعدماصلی فیه اهله یصلون وحداناوهو ظاهرالروایة اه وهذا مخالف لحکایة الاجماع المارة ج۱ص۵۷۷، وفیه مانصه وفی اخرشرح المنیة وعن ابی حنیفة

لوكانت الجماعة اكثرمن ثلاثة يكره التكرار والافلاوعن ابي يوسف اذالم تكن على الهيئة الاولى لاتكره والاتكره وهوالصحيح وبالعدول عن المحراب تختلف الهيئة كذافي البزازية وفي التاتارخانية عن الولوالجية وبه ناخذج١ص ٤١٠ وفيه قوله الافي المسجدعلى طريق هومالیس له امام ومؤذن رابت فلا يكره التكرار فيه باذان واقامة بل هوالافضل خانية ج١ص ٤١٠ .دفقهيه مذكوره روايتونوڅخه څو صورتونه اودهغوحكمونه معلوم شول اول صورت دمحلي په مسجد كي غيراهل لمونځ وكړي .دوهم صورت دمحلي په مسجدكي اهل بلااعلان اذان يابلا اذان په اولي درجي سره لمونځ وكړي .دريم صورت هغه مسجد دلاري په سروي. څلورم صورت په دغه مسجدكي امام اومؤذن معين نه وي . پنځم صورت دمحلي مسجد وي يعني د هغه لمونځ كونكي اوامام معين وي.اوهغوي پدي كي داذان داعلان د صورت سره لمونځ وكړي نوپه اولوڅلورو صورتونوكي خوبالاتفاق دوهم جماعت جائزبلكه افضل دی همغه شان چه دافضيلت تصريح موجوده ده اوپه پنځم صورت كي كه دوهم جماعت داول جماعت په صورت وي نوپه دی وخت كي مكروه تحريمي ده همغه شان چه په درمختاركي دتحريمي كيدلوتصريح ده اوكه داول په هيئت نه وي نوداكلام خاى دى دامام يوسف په نزد مكروه نده ، اودامام صاحب په نزد مكروه دی لكه چه په ظهيريه كي ددي دظاهرالروايت كيدلو مصرح دی ، البته دامام صاحب څخه يوروايت دادی چه كه ددري څخه ديرانسانان ول نومكروه دی اوكنه نومكروه ندی.داخودروايتونوظاهری مدلول ، اوس په آينده كي دوه مسلكه دی ياخوبه دامام صاحب اوابو يوسف اقوالو ته د تعارض ويل پكار دی .يادواړوته تطبيق وركول شی كه معارض وګڼل شی نودرسم المفتي په اعتبار، واختلف فيمااختلفوا فيه والاصح كمافي السراجية وغيرها انه يفتى بقول الامام على الاطلاق ثم بقول الثاني الى قوله وصحح في الحاوی القدسی قوة المدرك الخ هكذا في الدرالمختار دامام صاحب په قول به عمل وی، اوكه دسراجيی قاعدي ته ترجيح وركول شی نودغه وخت خوښكاره ده اوكه دحاوی قدسی قاعدي ته ترجيح وركول شی نودغه وخت هم د امام صاحب نقلي دليل حديث دی كوم چه اول نقل شو.اوقياسي دليل دردالمحتار څخه ولان في الاطلاق الخ معلوميږي دكوم چه قوت ظاهر دی.اوهغه حديثونه چه دامام ددلائيلودی سره ظاهراًمتعارض دی ددي تولوځواب

كافي شافي تابع الاثارتيرشوی اوكه بعضوته[1] شبهه داجماع[2] على الجوازحكايت په حقله وی چه امام صاحب دحكم بالكراهة څخه رجوع كړی ده نوشامي دظهيرية دروايت دنقلولوڅخه وروسته چه دعدم ثبوت داجماع تصريح يې كړی ده نوداً استدلال قطع شواوكه دامام صاحب اوابويوسف په اقوالوكي تطبيق وكول شي نوددي تطبيق وجه داكيدلی شی اوامام صاحب خودكراهت تنزيهه مثبت دی اوامام ابويوسف دكراهت تحريمه نافي دی .ددي قرينه داده چه درمختاركي چه په كوم مسجدمحله كي داذان سره جماعت ثانيه ته مكروه ويل شوی په دی باندي شامي تصريح كړی ده چه مراد كراهت تحريمه ده نوددي په مقابله كي چه په نوروصورتونوكي دعدم كراهت حكم وی دهغونه دكراهت مذكوره نفي وشوه نود كراهت تنزيه نفي مستقل دليل ته احتياج لري.لكه څنګه چه په اولوڅلورو صورتونوكي دافضليت تصريح بالاستقلال دكراهت تنزيه په نفلي باندي دال دی نوپه څلورو اولوصورتونوكي دنفي دكراهت څخه كراهت تحريمه منتفي شواودافضليت دحكم څخه تنزيهی كراهت منتفی شو، اومندوبيت ثابت شويه خلاف دمتكلم فيهاصورت چه په هغه كي خود انتفاء كراهت تحريمه دليل قائم دی لكن دكراهت تنزيهيه دانتفاء هيڅ دليل نشته.اوپه ظاهرالروايات كي دكراهت

---

[1] اولاً داشبهه بيځايه ده څكه چه نزاع په محل اجماع منقول شوي نده بلكه په هغوصورتونوباندي ده چه دهغوي په هكله په فتوے كي ويل شوي دي چه بالاتفاق لمونځ جائزبلكه افضل ده اوثانياً دهغه خواب چه شامي وروسته دنقل دروايت ظهريه دعدم ثبوت اجماع تصريح يې كړيده ،نامناسب ده څكه كه هغه تصريح ومنل شی نودغه فتوے دهغي دعوي مخالفه شوه چه دغوالفاظوڅخه كولي شی نوپه څلورواولو صورتونوكي خوبالاتفاق دوم جماعت جائزبلكه افضل شواًه. څكه چه څلورصورتونه چه دهغوي په هكله داجماع دعوی كولی يې په دوی كي يوصورت داهم دے چه دمحلي په مسجدكي اهل دمحلي بلااعلان د اذان يابلااذان په اولي درجه دي لمونځ وكړي اودظهيري څخه ددغوصورتونو كراهت ثابتيږي.نوداجماع دعوی صحيح نه شوه الحاصل څواب دشبهي دسابقه دعوی څخه مخالف دے دهغه دي پخاطرداځواب مناسب ندے نوپه دي صورت كي دواړه شبهه اوځواب ساقطول پكاردی.هغه ارنګه كوم څلورصورتونوكي چه په عدم كراهت باندي اتفاق نقل كولی شی دهغه څخه په نوروصورتونوكي اختلاف نقل كيدل پكار دی.اوياد شامي قول ومقتضی هذالاستدلال الخ رد كول پكاردی، ۱۲ تصحيح الاغلاط ص۱۱

[2] په دي ځاي كي مولنارشيد احمدصاحب دكراچي دارالعلوم مدرس په يوي حاشيي ليكلی دي دهغي درج كول غواړی اوهوهذاولوكراهله بدونهمانه جائزبالاجماع ويل شوي دي په داسي حال كي چه كه اول هيئت باندي تكرار دے يعني عدول عن المحراب ني نه دے كړی نوبالاتفاق مكروه ده.اودعدول عن المحراب حالت كي دنزاع ځاے دے نودغه قول چه په محل دنزاع كي اجماع منقول نده صحيح نده. هغه ارنګه داقول چه دظهيريه څخه په څلورواولوصورتونوكي په صورت ثانيه كي ددي كراهت ثابتيږی صحيح نده صورت ثانيه داده چه اول جماعت بلااذان يابغيراعلان اذان وي اوپه ظهيريه كي ددي كراهت مذكوردے چه ثانيه جماعت بلااذان وي.الغرض داصل ځواب عبارت صحيح ده اودتصحيح الاغلاط عبارت صحيح نه معلوميږي. والله اعلم انتهی. ۱۲ محمدشفيع

اثبات دی،نوکراهت تحریمه منتفی شو، اوکراهت تنزیهی ثابت پاتي شو، نودامام صاحب د اثبات اودابویوسف دنفی کوم تعارض پاتي نشو،اوکه داشبهه وی چه دجازاویباح وغیره عباراتوڅخه کراهت تنزیهی منتفی معلومیږی نودهغي خواب دادی چه دجائز لفظ کله کله مکروه ته هم شاملیږی کذا فی درالمحتارص۱۲۵ج۱ اولکه څنګه چه په درمختارکي اذان د صبی ته جائز بلاکراهت ویلی دی ،اوشامی ویلی دی چه مراد نفی دکراهت تحریمه ده اوتنزیهی ثابت دی صفحه ۴۰۲ج۱ اوهمدارنګه په کراهت تحریمه باندي اجماع په کوم کي چه دتعارض دتقدیرپه صورت کي کلام شوی دی په دغه تقدیردتطبیق باندي بحالها پاتي کیدلی شی ، چه په نفی دکراهت تحریمه باندي اجماع ده اوکه دثبوت دنفی کراهت تنزیهه څخه قطع نظرهم وکولی شی اواباحة بالمعنی المتبادرومنل شی دغه وخت هم چونکه ندب اواستحباب نه ددلیل څخه ثابته دی اونه د ابویوسف څخه منقول دی په همدي خاطر دنفی کراهت سره ثبوت دثواب نه لازمیږی ،همغه شان چه په جماعة فی التطوع دردالمحتار کي صرف دنه مسنون کیدوپه سربي دثواب نفی کړی ده اګر که په بعضی صورتونوکي مباح هم دی (۲۷۴۱ج۱)، نوغایة مافی الباب یوفعل مباح شو،په کوم کي چه نه ثواب اونه عقاب دی اوامام صاحب دکراهت قائل دی ،په دغه وخت کي هم اسلم اواحوط دهغه ترک دی څکه چه په فعل کي خواحتمال دکراهت شته اوپه ترک کي هیڅ ضرر محتمل نده حتی چه حرمان دثواب هم نشته ، نوترک راجح شوداتول تحقیق په اعتباردحکم فی نفسه دی اوددي مفاسد که امام ابویوسف ته مخامخ کړی شی نویقینادکراهت شدیده حکم به وفرمایي لکن ددي په خاطر چه مسئله مختلف فیها ده اودعلماؤ فتوی ګانی هم مختلفی دی نو په هیچاباندي دچالخوا نکیرشدید اوطعن بنه ندی والله اعلم ۱۰ جمادی الاول ۱۳۲۴ھ (امدادصفحه ۷۳ج۱)

جماعت ثانیه

سوال :(۳۰۰)داحنافوپه نزد دوم جماعت مکروه دی اوپه حدیث کي دی عن ابی سعید قال جاء نی رجل وقدصلی رسول الله ﷺ فقال ایکم یتجرعلی هذافقام رجل وصلی معه رواه الترمذی ص۵۹،اصح المطابع وفی البخاری عن انس تعلیقاوابی یعلی موصولانه جاء انس الی مسجدقدصلی فیه فاذن واقام وصلی جماعة نوددي حدیث څه خواب دی اودبازاراودکلی مسجدونه په دی حکم کي برابروی اوکه څه فرق شته اوکه فرق نشته نودلیل يې څه دی ؟

جواب :دابوسعیدپه حدیث کي دمتنفل پسی دمفترض اقتداء او کلام په دغه جماعت ثانیه کي ده په کوم کي چه دواړه مفترض وی فلاحاجة فیه اودانس فعل ممکن ده چه دلاری په مسجدکي ؤ، لکه داذان تکرار ددي قرینه ده څکه دجماعت ثانیه مجوزین هم تکرار داذان منع کړی فقط (امدادصفحه ۸۲ج۱)

سوال :(۳۰۱)دبعضی صاحبانوداقول دی چه دنزدی مسجد دننه محراب شته دجماعت نوڅه خلک که پاتي شی اوهغوی دجماعت په صحن کي دوهم جماعت اداء کړی نوهیڅ دول مکروه نده ،څکه چه ددي ځای هرمسجددوه مسجدونه دی یوداوړی یعنی حویلی اوبل ژمی یعنی ددنه مسجدچه اکثرا چت لرونکي وی یادبوجیووی اوپه درمختارکي دجماعت په باره کي ولوفاتته ندب طلبها فی مسجدالخ ظاهره ده چه دمسجد حویلی بل مسجددی لهذاپه دی کي جماعت ثانیه هیڅ نوع مکروه ندی خواب ورکول شوچه ددي ځای په مسجدونوکي صحن دوم مسجدندی ، په حقیقت کي ددي ځای مسجدونه یویومسجددی ، څکه چه په عرف کي په یوه مسجدسره تعبیرکولی شی وګوره نفائس اللغات دانګنابي لغت په معنی دکور حویلی په عربی کي ساحت ، سرح ، فناء که دتولو اضافت دکورپه طرف وشی نوصحن دکوراوکه دمسجدپه طرف مضاف شی نودمسجدصحن اوفناء ویل کیږی اوفقهاء هم دغه صحن ته دمسجدصحن،دمسجدفناء سره تعبیرکوی ،لکه چه پوهانوته معلومه ده دظاهری اوباطنی علومو واقف مولناصاحب رشیداحمد ګنګوهی ددي ځای په مسجدونوکي دجماعت ثانیه دکراهت په باره کي یوه رساله تحریرفرمایلی که ددي ځای مسجدونه دوه مسجدونه وی نوجماعت ثانیه ته هغوی مکروه ندی فرمایلی بلکه دجماعت ثانیه کیدل مکروه فرمایي اوتصریح هم کوی چه دمسجدصحن دوهم مسجددی اوهمدارنګه دحاجیانونه هم معلومیږی چه په مسجدنبوی او مسجد حرام کي هم صحن شته ، په داسي حال کي چه حضور علیه السلام دځپل مسجد د لمانځه اومسجد حرام کي فی مسجد هذا ومسجد الحرام فرمایي فی مسجدی هذین وفی مسجدی الحرام يې نه دی فرمایلی ددینه معلومیږی چه دمسجد حویلی دوهم مسجدندی اود اوری اوژمی مسجدونه په بل طریقه دی یعنی دهغوی هریومحراب بیل بیل وی،یودبل سره په څو اړخونوکي واقع وی اوپه مینځ کي یولنډ دیوال په اندازه دیودوه ګزه،په دی کي یوه فرجه وی لکه چه قاضیخان ص۴۲ څخه معلومیږی محمل علی ماکان الحائط قصیر اسدمقدار فرج بین الصفین ذراع اوذراعین کمایکون بین المسجد الصیفی والشتوی ، لهذا جناب عالی ته تکلیف ورکوم چه دراتلونکو مفصله مسایلوخوابو نه صفا

تحریرفرمایلو سره ماخاورین ممنون اومشکوروفرمایې؟ (۱) داچه ددې ځای هر مسجد حقیقتاً اوبرین اوژمین دی اوکنه؟ (۲) داچه داصل مسجد محراب په کوم ځای کې دی ایاهغه طاخچه یعنی محراب چه د مسجد په غربی دیوال دقبلی په طرف وی یابل ځای کې (۳) دمعراج نه منقول د شامی دقول والسنة ان یقوم الامام فی المحراب تحت قوله یقف وسط ص۳۹۹ مطبوعه مصروقول شامی منقول من تاتارخانیة یکره للامام ان یقف فی غیرالمحراب الالضرورة صفحه ۴۵۳ تحت قوله لان العبرة للقدم څه مطلب دی آیاددې ظرفیت څخه کامل قرب دمحراب مراد دی یامحاذ د محراب، قریب وی اوکه بعید مراد ده، که مذکور محاذمراد وی نودقی څه موقع ده اوپه دی کې څه نکته ده؟ یاپه حقیقت کې په عین محراب کې ودریدل مراد دی همغه شان چه په ظاهرکې دقی مقتضی ده . دبعضی صاحبانوخیال دی چه په حقیقت کې دمحراب اودریدل مراددې ځکه چه داصحیح مذهب دطحاوی اوسرخسی رحمهماالله دی چه علت دکراهت قیام فی المحراب خفاء امام دی نه مشابهت داهل کتابو سره که خفاء ده نوکراهت به وی گنی نه به وی،، اگرکه د سرخی ته مختار په اول کې داهل کتابو مشابهت و.

(۳) ددې ځای په مسجدونوکې په گرمی کې په هغه صورت کې چه مسجدصیفی اوشتوی نه وی دمحراب دپرېښودوضرورت پیښیدلی شی ، همغه شان چه په شتوی اوصیفی کې وی چه دگرمی له وجهی صیفی ته راځی اودیخنی لامله شتوی ته ورځی ، اوکنه ، اوددې ځای په مسجدونو کې عمل درآمدددې چه کله گرمی شی نوامام دمسجد په صحن کې بلانکیر څخه لمونځ ورکولی شی صحیح دی اوکنه اودغه عمل درآمد په کومه بناء دی؟

جواب: ددغو بعضی صاحبانو قول غلط دی ، دمجیب خواب بالکل درست دی ، البته دمجیب په تفسیر دلفظ دفناء کې تسامح شته ، ځکه چه فناء هغه ځای ته ویل کیږی چه دمضاف الیه څخه بهروی ، دهغه برخه نه وی، اودمسجدحویلی دمسجدبرخه ده، باقی ټول تقریرډیر صحیح اوکافی دی دادتمهید متعلق عرض وکولی شی ، اوس دجزئې سوالونودخوابونومتعلق لیکل کیږی (۱) ، نه دی (۲) هغه هم اوددې محاذات کوم چه دمسقف آخره درجه اودغیرمسقف په مقدم کې وی هغه هم (۳) دلته فی محراب عبارت دی له فی الوسط څخه ، ځکه چه محرابونو په وسط کې وی ، کله چه دمحراب څخه مرادوسط شونوفی په خپله حقیقی معنی باندې پاتې شوه ، صرف مجاز لفظ دمحراب پاتې شو ، نوعندالقرینه هیڅ مشکل نشته

اوقرینه لفظ دوسط واضح دی (۴) هرکله چه دمحراب څخه مراد وسط دی نوعدول عن المحراب لازم نشو ، والله اعلم ۲۳ رمضان المبارک ۱۳۲۸ هـ (تتمه اولی صفحه ۳۰)

سوال: (۳۰۲) دلته بازارکې یومسجددی چه جمعی لمونځ هم پکې کیږی ، اودجماعت هم معقول انتظام شته ، یعنی تنخواه لرونکې امام ، موذن او نائب امام مقرر دی په داسې مسجدکې دوم جماعت جائز دی اوکنه؟

جواب: دبعضی خوابونوڅخه جوازمعلومیږی (فی الدرالمختار ویکره تکرار الجماعة باذان واقامة فی مسجدمحلة لافی مسجد طریق اومسجدلاامام له ولاموذن وفی ردالمحتارولوکرراهله بدونهما او کان مسجدطریق جازاجماعا کمافی مسجدلیس له امام ولاموذن الخ وفیه والتقییدبالمسجد المختص بالمحلة احترازمن الشارع الخ وفیه وامامسجد الشارع فالناس فیه سواء لااختصاص له بفریق دون فریق اه ومثله فی البدائع وغیرها ومقتضی هذاالاستدلال کراهة التکرارفی مسجد المحلة ولوبدون اذان ویؤیده مافی الظهیریة لودخل جماعة المسجدبعدماصلی فیه اهله یصلون وحداناوهوظاهر الروایة اه وهذامخالف لحکایة الاجماع المارة اه قال الناقل ولم یتعرض الشامی لمسجدالطریق فبقی حکمه المذکور سالماً عن الخلاف وفیه : لکن یشکل علیه ان نحوالمسجدالمکی اوالمدنی لیس له جماعة معلومون فلایصدق علیه انه مسجدمحلة بل هوکمسجد شارع وقدمر انه لاکراهیة فی تکرار الجماعة فیه اجماعاً اه (ج۱ص ۵۷۷) قال الناقل بنی الشامی الجواب علی کونهمامسجدشارع مع ان لهماماما مامؤذناً معیناً ، والله اعلم ، ۲۳ رجب ۱۳۳۳ هـ (تتمه ثالثه صفحه ۵۶)

سوال: (۳۰۳) ددین علماء په دی مسئله کې څه فرمایې چه دبازار مسجداوشارع عام اوغیرآبادی وغیره نه بغیرد ابادی په مسجد کې لکه دکلی مسجد یاجامع مسجدکې دثانی جماعت کول څنگه دی؟

جواب: اختلاف دی ۱۳۳۸ هـ (حوادث خامسه ۳۲)

دمقتدیانوپه مصلی دون امام کیدل یابالعکس حکم

سوال: (۳۰۴) دمقتدیانولاندې مصله اودامام لاندې نه وی نولمونځ څنگه دی او چه ددې پرعکس وی نولمونځ څنگه دی؟

جواب :داجزیه می دنظرنه نده تیره شوی البته دامام لاندې او مقتدی بره اودریدلو سره دمکروه تنزیهی ویلووجه شته ،لکن که کوم عذر وی نوکوم مشکل نشته. ۲۰جمادی الاول ۱۳۲۴ھ (امدادصفحه ۷۸ج۱)

دنوافلو دجماعت حکم

سوال :(۳۰۵)داهتمام نه پرته دتراویحونه علاوه دنوافلوجماعت جائز دی اوکنه اوپه دی کې دانسانانو څه تعدادشرط دی اوکنه ؟

جواب :فی الدرالمختارولایصلی الوترولاالتطوع بجماعة خارج رمضان ای یکره ذلک لوعلی سبیل التداعی بان یقتدی اربعة لواحد و فی ردالمختاراماالقتداء واحد بواحد او اثنین بواحد فلا یکره وثلاثة بواحد فیه خلاف بحراه.ددغوروایتونوڅخه معلومه شوه چه په مسئوله صورت کې که مقتدی یویادوه وی نوکراهت نشته اوکه څلور ؤو نومکروه دی اوکه دری ول نواختلاف دی ۱۲رمضان ۱۳۲۴ھ (امداد صفحه ۸۰ج۱)

سوال :(۳۰۶)دتاسودکتاب بهشتی گوهرمطبوعه بلالی واقع ساډهوره دجمعی دلمانځه دصحیح کیدلوشرطونه دعنوان لاندې دغه عبارت موجود دی چه که کوم سړی دشرطونو د نه موجودیت سره دجمعی لمونځ وکړی نودی لمونځ نه کیږی .دماسپښین لمونځ کول ورباندې شته ، اوپه دی خاطرچه دالمونځ نفل گرځی اودنفل کول په دومره اهتمام سره مکروه دی لهذاپه داسې حالت کې دجمعی لمونځ کول مکروه تحریمی دی (درمختار) ددې عبارت څخه تردد اواندیښنه زړه ته راغله ددې لپاره چه ددغه عبارت نه تعمیم معلومیږی چه خواه کومه میاشت کې په دی اهتمام سره دجمعی لمونځ اداء کولی شی رمضان وی یاغیررمضان .دجمعی دشراطیو دعدم په صورت کې دجمعی لمونځ کول مکروه تحریمی دی اوراتلونکې عبارت په ظاهرکې ددې خلاف معلومیږی اوهغه دادی ؛ فی الهدایة ولایصل الوتربجماعة فی غیرشهررمضان علیه اجماع المسلمین والله اعلم تحته فی فتح القدیرلانه نفل من وجه والجماعة فی النفل فی غیررمضان مکروه فالاحتیاط ترکهافیه .ددې شبهی خواب هم مفصل ورکړی .ددې لپاره چه خینې علماء په ډیرو ورو ورو ځایونوکې چه حنفی المذهب دی دجمعی لمونځ کوی اوچه کله ورته وویل شی نوهغوی دی عبارتو نوسره خواب وائی چه مونږ خونفل کوو.او په رمضان شریف کې په جماعت سره دنفل کولو سره قباحت اوکراهت نشته ؟

جواب :دفتح القدیردعبارت والجماعة فی النفل الخ مقصد دجواز فی رمضان څخه ایجاب کلی ندی بلکه دجواز فی غیررمضان کلی سلب دی یعنی دامطلب ندی چه په رمضان کې هرنفل جائزدی بلکه مطلب دادی چه په غیررمضان کې هیڅ نفل جائز ندی اوپه رمضان کې بعض نوافل جائزدی اگرکه هغه من وجه نوافل شول لکه وتراوتراویح ۲۲رمضان ۱۳۲۲ھ (ترجیح خامس صفحه ۱۴۴)

دغیرمقلداومبتدع اومخالف مذهب پسی داقتداء حکم

سوال :(۳۰۷)دغیرمقلدپسی دجمعی لمونځ کیږی اوکنه اوڅنگه کیږی؟

جواب :غیرمقلدډیردی بعضی داسې دی چه دهغو پسی لمونځ کول خلاف احتیاط یامکروه یاباطل دی ددې په خاطرچه پوره حال معلومول فی الفورمشکل دی نو احتیاط داده چه دهغه پسی لمونځ ونه کولی شی.فقط والله اعلم۱۴جمادی الثانی۱۳۲۵ھ (امداد صفحه ۹۰ج۱)

سوال :(۳۰۸)بعضی مومن موحد دبدعتی پسی نیت نه کوی داڅنگه دی اودبعضوویناده چه ودی کړی خوبیادی خپل لمونځ بیا اعاده کړی؟

جواب :اگرکه دمبتدع پسی لمونځ کول مکروه دی کمافی الدرالمختارومبتدع لکن دیوازی کولوڅخه دجماعت کول افضل دی (وفی النهرصلی خلف فاسق اومبتدع نال فضل الجماعة درمختارو فی ردالمحتار افادان الصلوة خلفهما اولی من الانفراد اه او اعادی اگرکه دسنت دترک په وخت کې مستحب دی لکن په دی شرط [1] چه په اعادی کې ترک دسنت لازم نه شی اودلته په اعاده کې دجماعت د سنت ترک لازمیږی نو اعاده هیڅ ضرورنه ده (امدادصفحه ۱۰۲ج۱)

سوال :(۳۰۹)که دماښام اذان [2] نه وروسته دامام دموجودیت سره سره شپږاوه دقیقی توقف وکولی شی په عذروی اوکه بغیرعذر آیا جائز ده اوکنه ؟

---

[1] هغه وخت هم په ذهن کې راغله او اصل دلیل دادے چه کوم سنت چه په لمانځه کې داخل دي دهغه په ترک سره اعاده شته دلته داسي نده ۱۲منه

[2] عبارت واضح نده دغه وخت مطلب داپوهیدلی شوي ؤچه امام لمونځ شروع کړی بیاکله کوم سړی علیحده ولاړپاتې کیږی داڅنگه ده.خواب په دي منطبق دے، اوکه دسوال دامطلب وي چه امام اوجماعت دي تول تول په کوم سبب سره ولاړپاتې دي نودهغه خواب دادے چه ترڅوچه مستحب وخت باقي پاتې وي تاخیرجائزده په مغرب کې هم داذان سره دلمانځه اتصال واجب نده۱۲منه مگرپه دي خواب باندې هم بعضی علماؤخبري کړیدي کوم چه په ملخصات تتمه اولی کې درج دي اومونږپه اصطلاحات کې ددي خواب ورکړي دے چه حاصل ئی داده چه دلته دجوازدحکم څخه مطلقاً کراهت تحریمي نفي مقصددے ۱۲تصحیح الاغلاط صفحه ۱۷

جواب: دجماعت څخه تخلف په مغرب کې وی او که بل وخت کې وی بې له عذر ډیر بدکاردی کما ورد لایتخلف عنها الا المنافق ،البته که کوم شرعی عذروی یادامام موافق المذهب انتظاروی نوجائزدی ، مثلاًدامام شافعي والامخکې اداء کوی که د حنفي په انتظارکې ناست وی څه حرج[1] نشته ولوکان لکل مذهب امام کمافی زماننا فالافضل الاقتداء بالموافق سواء تقدم اوتاخرعلی مااستحسنه عامة المسلمین وعمل به جمهورالمؤمنین من اهل الحرمین والدمشق ومصروالشام ولاعبرة بمن شذمنهم ، شامی ج۱ص۳۷۹ ، والله اعلم .۱۳جمادی الاولی ۱۳۰۳ھ (امدادجلداول صفحه ۱۰۲)

غیرمقلدپسی اقتداء:

سوال: (۳۱۰) ددین اوشرع متین علماء څه فرمایې په دی مسئله کې چه آمین بالجهر ،اورفع الیدین اوبهٔ لمانځه کې په سینه باندې لاس ایښودونکې والا اوهمدارنګه دامام پسی الحمدلوستونکې والاپسی زمونږ اهل السنة والجماعة والالمونځ کول جائزدی اوکنه خواب دی دقران شریف اوحدیث څخه وی ؟

جواب: ددې خلکواختلاف داحنافوسره صرف په همدې فرعیه مسایلوکې دی یاپه عقایدوکې هم اودغه خلک دامام والی په حالت کې آیادطهارت په مسایلوکې دخلاف مراعات کوی اوکنه ، ۲۸/ شعبان ۳۳۷ھ (تتمه خامسه صفحه ۹۰)

سوال: (۳۱۱) تمهید: داقتداء بالمخالف په باب کې دیوه قول نسبت په علم فقه کې داعبارت دی ،په حقیقت کې داقول بالکل بې دلیله او ډیر دنفرت سره دکتلوقابل دی که په دی قول باندې عمل وکولی شی نوخپل مینځ کې به سخت افتراق ولوېږی اولوی مشکل به مینځ ته راشی اه په دی باندې غلاة فی البدعات په غیرمهذب عنوان سره لیکل کړی اودمولف په حق کې داالفاظ لیکې نه سنی دی، نه حنفي نه داسې امام ګرځول حلال اونه ددې پسی لمونځ جائزاو نه دده وعظ اوریدل روا دی ، هغه خان خوښی دی ، او کوږ فهم اوبې ادب دائمهٔ سره ګستاخ اودشرعیهٔ مسایلوتوهین کونکې اوخپله دخپل اقرارسره فاسق معلن ، وهابی، غیر مقلددی ،ددی پسی لمونځ نه کول پکاردی او نه ددی وعظ اوریدل پکار دی

[1] داپوقول دے چه دغه وخت کې راجح معلومیږي اوډیرمحققین دغه انتظارمنع کوي البته انتظارهغه وخت دے چه شافعی دخلافیاتومراعات نه کوي. ۱۲منه

،هغه عوام الناس بې لارې کوی او هیڅکله هغه ته نژدی کیدل ندی پکار داسې ګندم نماجوفروش څخه اجتناب پکاردی ،دوی فاسق وګڼی دهغه مدح مه کوی چه دفاسق د مدح څخه دذوالجلال غضب راکوزیږی دغیرمقلدبعض عقاید نه ګڼلویه سبب مستحق دکفردی اه دمولف جماعت لپاره دخانقاه تحریر پکاردی اولاً عذروکړی شوثانیاً مکرره استدعاء باندې لاندې خواب ورکول شو ،مکرمه سلمه : السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته لفافه ددری مطبوعه قطعات اوکارد سره موصول شومونږ ته په خواب لیکلوکې مکرره مشوره راکولی شوه، امتثالا للامرڅه لیکم ، اوکه ستاسې وی خماله طرفه ددې داشاعت هم اجازت دی ،چه دملاحظې څخه معلومیږی چه ما دکوم عذرلامله خواب نه لیکلو ددې عذرحاصل دادی چه خماخواب اصلي مسئلې ته من کل الوجوه مفیدندی اوخماڅه خصوصیت دی شایدکوم حنفي څخه دداسې خواب ملاویدوتوقع نه وی چه من کل الوجوه مفید اوموافق وی ،اګرکه من وجه چه په یوه اعتبارسره اصل مقصود دی خواه نخواه مفیددی .

اول امر: ددې لپاره چه پدې فرعیه مسئله کې داقوال مختلفه په جمله کې خماپه نزد احوط هغه تفصیل دی چه درمختارکې ئې دبحرڅخه نقل کړی دی (بقوله ان یتقن المراعات لم یکره اوعدم مالم یصح وان شک کره) اوکوم چه ترجیح یې په ردالمحتارکې دحلبی څخه نقل ده (بقول هذاهوالمعتمد لان المحققین جنحواالیه وقواعدالمذهب شاهدة علیه الخ البته ددې تفصیل دریم جزء زه مول اومقیدګنم تاویل داچه مراد دکراهت څخه خلاف اولی دی او تقید دا چه دخپل مذهب امام بغیرد ارتکاب هرکله چه څه محذوراعراض عن الجماعة وغیره میسرشی ومبنی التاویل مانقله فی ردالمحتارعن حاشیة الرملی علی الاشباه الذی یمیل الیه خاطری القول بعدم الکراهة اذالم یتحقق منه مفسداه ووجه التقیید ظاهر ، همدارنګه دمراعات محل صرف فرائض دی کمافی ردالمحتار ای المراعات فی الفرائض من شروط وکان فی تلک الصلوة وان لم یراع فی الواجبات والسنن کماهوظاهرسیاق کلام البحروظاهرکلام شرح المنیة ایضاً حیث قال واماالاقتداء بالمخالف فی الفروع کالشافعی فیجوزمالم یعلم منه مایفسدالصلوه علی اعتقادالمقتدی علیه الاجماع انما اختلف فی الکراهة اه قلت وفی التمثیل بالشافی الذی الاصل فیه عدم التعصب خرج من الحکم القائلون محرمة التقلیدالمدعون للاجتهاد لانفسهم الذین الغالب فیهم التعصب وقدصرحوابکراهة الاقتداء بالمتعصب ، اود دې لپاره چه زه هغه احوط ګنم

اواحتیاط شرعا محمود اومطلوب دی لکه چه دزمعه قصه په صحاح کې مذکوره ده چه هغوی ولدته دفراش حق وفرمایه اوسره ددې حضرت سودته بې ددې مولود ښخه داحتجاب حکم ورکړ د کوم نه چه داهم ثابته شوه چه که ددې قول غیرراجح والی هم ثابت شی وانی لاخذذلک. دغه وخت هم داحتیاط لپاره ددې اختتل حفظول به حفظ للدین وی، دهمدی لپاره دغه احوط قول ته بی دلیل اودویرنفرت سره دکتلوقابل اودشدیده افتراق موجب اوعظیم اشکال قرار ورکول زه نه خوښوم بلکه په کومی مجتهد فیها مسئلی باندې هم دمونږ والوپشان حکم کول غیرمرض دی خصوصاً کله چه دسلف ښخه داسې جزئیه منقول هم وی،لکه چه دامام مالک په مدونه کښی دی . قال وسئل مالک عمن صلی خلف رجل یقرء بقراة ابن مسعودقال یخرج ویدعه ولایاتم به قال وقال مالک من صلی خلف رجل یقرء. بقراة ابن مسعودفلیخرج ولیترکه قلت فهل علیه ان یعیداذاصلی خلفه فی قول مالک قال ابن القاسم ان قال لایخرج فاری انه یعیدفی الوقت وبعده ص٨٤ قلت وظاهران من کان یقرء بقراءة ابن مسعود فهویعتقدها قرانا و مع ذلک لم یجوزمالک الصلوة خلفه والمسئلة مجتهدفیهاکمایظهرمن مراجعة نیل الاوطارباب الحجة فی الصلوة بقراءة ابن مسعود الخ اوددې قول دعلم الفقه دقول مختارسره مغایروالی ظاهردی،ددې ښخه اول امرثابت شوچه ځماخواب د اصل مسئلی لپاره من کل الوجوه مفیدندی.

دثانی امربیان دی چه باوجودعلم الفقه دقول دقائل دنه کیدلواود مقابل په نسبت دمذکور رایې نه خوښولوبیاهم دمذکورقول خاونداود مذکوررایې په شان دداسې فتواګانواوداسې الفاظ چه په اشتهار واجب الاظهارکښی نقل کړی شوی دی، معصیت، اوحرام او غلواو تعصب ګنم دکوم چه نه اعتقاد جائز دی اونه نقل جائزالاللرد خصوصا دهغوی په محاسنواوفضایلو اودینیه خدماتوباندې نظر ثانی کولو سره دهغوی کلام په صحیح محلل واجب دی اوبعض محاملو کښی داشتهارواجب الاظهاریه خواب کښی د نظایروسره هم وړاندې کولی شی۱۲اوکه د خواب ضرورت کیدلونودومره کافی ول چه مسئله مختلف فیها ده او زمونږ په تردددوم قول راجح دی او د مجتهد فیه په نسبت داسې الفاظ ښکلی ندی دهمدی لپاره مشوره ورکول کیږی چه ګواکې دفتوی ښخه رجوع مکوی.اګرک اولی واوفق بالمصالح العالیه داهم ده لاکن هرومرو د داسې الفاظو ښخه رجوع،ءف مانی چه اقرب الی ادب الحکام اوابعد عن تشویش العوام ده اونحو ذلک ،ددینه ثانی امرثابت شو، چه ځماخواب

داصل مقصدپه اعتبارسره ،چه وجوب دکف لسان دی د علم الفقه دمولف دسب اوشتم ښخه، مفید ده وفی هذا کفایة ان شاء الله تعالی لمن انصف ولم یتعسف والله اعلم والسلام مع الاکرام خیرختام،۱۲ذیقعده ـ۱۳۴۴ھ،تتمه خامسه ص۴۳۵،

سوال :(۳۱۲)مقلد د غیرمقلد امام شاته دحنفی مسئلی له مخې په کوم حالت کې لمونځ کولی شی او کنه، که کولی نی شی نوبه کوم حالت کې اوکه کولی نه شی اوبه ناخبرتیاکې وکولونودمقلدمقتدی لمونځ وشواوکنه؟که لمونځ ونه شونوداعادی ضرورت شته اوکنه؟فقط

جواب :لمونځ دفقهیه قواعدومطابق وشو مګر احتیاط په اعادی کې دی،۲۴ذی الحجة ـ۱۳۲۷ھ ،تتمه اول ص۲۴،

سوال :(۳۱۳)ماقولکم رحمهم الله تعالی فی هذه المسئلة،اقتداء الحنفی خلف غیرالمقلد جائزام لابینوا بالدلیل

جواب :مبسملاً و حامداً ومصلیا اقول التفصیل عندی ان غیر المقلدین هم اصناف شتی فمنهم من یختلف مع المقلدین فی الفروع الاجتهادیة فقط فحکمهم فی جواز الاقتداء بهم للحنفیة کالشافعیة حیث یجوز بشرط المراعات فی الخلافیات الصلوتیة وفاقاً وعند عدم المراعاة خلافاً وبالاول افتی الجمهور فان امرالصلوة ممایبنغی ان یحاط فیه ،ومنهم من یختلف معهم فی الاجماعیات عنداهل السنة کتجویز النکاح مافوق الاربع وتجویز المتعة وتجویز سب السلف وامثال ذلک وحکمهم کاهل البدعة حیث یشتبه الحال فالاولی ان یقتدی بهم دفعاً للفتنة ثم یعیدا خذاً بالاحوط ولوکانت للفتنة فی الاقتداء فلایقتدی صوناً للمسلمین عن التخلیط فی الدین والتجره علی الشرع المتین، والله تعالی اعلم وعنده علم الیقین والحق المبین ثانی یوم النفرمن ذی الحجة سن ۱۳۲۹من الهجرة المقدسة ،تتمه اولی صفحه۳۹،

دلمانځه دپابند دغیرپابندپسی داقتداء کولو حکم

سوال :(۳۱٤)یوقرآن حافظ چه صحیح قران لولی خودلمانځه پابندنه ؤ کله کله به نی کولواواکثربه نی پریښودلو اوس هغه په رمضان کښی دتراویح ورکول غواړی دداسې حافظ پسی دهغو خلکو لمونځ چه همیشه دلمانځه پابند دی بلاکراهته کیږی اوکنه که مکروه کیږی او هغه دغه وخت توبه وکړی چه نوربه لمونځ نه پریږدم اوځومره لمونځونه چه قضا شوی دی دهغو به قضائی راوړم نوکراهت زایلی دی شی اوکنه؟

جواب: په توبې سره کراهت زایل کیږي، ځکه علت دکراهت فسق دی اوپه توبې باندې فسق زایلیږي اومطالب بالحقوق پاتې کیدل دفسق موجب ندی، وهذاظاهرفقط ۲۴شعبان ۱۳۲۵ھ (امداد ص ۹۰ج۱)

دهغه سړي دامامت حکم چه علیاثنایانه لري:

سوال: (۳۱۵)کوم عالم یاحافظ چه علیاثنایاونه لري چه دطاء دال مخرج دی نودداسې سړي پسې لمونځ درست دی اوکنه په اول تقدیرمع الکراهت او که بلاکراهت ددې مسئلوځواب سره له سنده دمعتبر کتاب تحریر و فرمائي اوداختلاف اوشک رفع وفرمائي، که درست نه وي نوکوم شخص چه دهغه پسې اقتداء وکړي دهغه اعاده لازمه ده اوکنه بینواتوجروا؟

جواب: اختلاف ده احوط عدم صحت ده اواوسع صحت د، خماپه نزد په دې زمانه کې د صحت ترجیح کول ښکاره ده ۵ شعبان ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه ص ۱۵۲)

دالثغ دامامت حکم:

سوال: (۳۱۶)یوحافظ الثغ دی اودلمانځه دپابندۍ په هکله دده حال دحافظ مذکورفی الصدر [1] پشان دی دواړه سین په خای لوی شین اودجیم په خای زباذیابالعکس دهغه دژبې څخه اداء کیږي دمزید کوښښ سره سره هغه د مذکوره حروفوپه اداء باندې قادرندی، دصحیح قران لوستونکوخلکو لمونځ اوتراویح به دداسې حافظ پسې درست وي اوکنه؟

جواب: دالثغ امامت د غیر الثغ لپاره مختلف فیه دی کمافی الحاشیته الشامیه، نوداحقرپه نزدپه فرایضو او وترو کښې عدم جواز احوط ده اوپه تراویح کښې دجوازحکم اوسع دی والله اعلم ۲۴ شعبان ۱۳۲۵ھ (امداد ص ۹۱ج۱)

دهغه سړي دامامت حکم چه د راء په تلفظ قادرنه وي:

سوال: (۳۱۷)دکوم شخص څخه چه راء نه راووځي دهغه پسې لمونځ کیږي او کنه؟

جواب: فی الدرالمختار و لاغیرالا لثغ به ای بالالثغ علی الاصح ، وفی ردالمختار خلا فالماف الخلاصة عن الفضلی من الجائزة الی قوله وظاهره اعتمادهم الصحة ثم قال ولکن الاحوط عدم

---

[1] یعنی هغه چه په سابق سوال کې مذکورشویعنی هغه حافظ چه صحیح نې لولي خودلمانځه پای بند ندے ، ۱۲

الصحة وفیه هوالذی یتحول لسانه من السین الی الثاء وقیل من الراء الی الغین اواللام اوالیاء زادفی القاموس اومن حرف الی حرف وفیه انه (ای اللثغة) انکانت یسیرةً بان اتی باحرف غیرصاف لم تؤثراخ (ج۱ص ۲۰۸،۲۰۹)، ددې روایتونوڅخه دغه کارونه مستفادشول (۱)که راء راووځي خوصفانده نو معتبره نده (۲) اوکه په لام وغیره بدلیږي نو اختلاف دی لکن کوم خای کښې چه بلوی وي دصحت حکم مناسب دی ۱۰رمضان ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه ص۱۲۱)

دمسبوق دصف دمینځ نه دمقتدی دکشولوحکم وروسته دپوره والی دصف:

سوال: (۳۱۸)په دې مسئله کښې ددین علماء څه فرمائي چه مثلایو سړي مسجدته داخل شواوجمعه ولاړه ده او اول صف پوره شوی ده اوس دغه سړي دصف دکوم خای څخه دلمونځ کونکې درانیولو سره د خپل خای سره یوخای کړي اوکه دصف دوسط نه راونیسی نوپه ظاهره کې دولاتذروا فرجات الشیطان خلاف لازمیږي اوکه دصف دکنارو څخه راونیسی او هلته ئې ودروی نودتوسطواالامام خلاف راځي اود کنارڅخه ئې مینځ د صف ته راولی نوډیرحرکت کیږي ،اودنیت تړلو سره رانیول بهتردی اوکه خارج دلمانځه ئې راونیسی ؟ فقط

جواب: تصریح خونده میلاوشوی ،لکن په ظاهرداسې معلومیږي چه دصف دوسط څخه راونیول شی پاتې شوه داچه دا خو د لاتذروا الخ خلاف لازمیږي نود فرجاتودبندولوحکم دصف جوړولوپه وخت کښې دی اودلمانځه په مینځ کې که دکوم ضروري عارض څخه په مینځ کې فرجه راشي نود داسې فرجاتو د کراهت هیڅ دلیل نشته،لکه چه که امام لاړشي اودهغه د استخلاف حاجت وي یادکوم مقتدی اودس مات شی اوهغه لاړشي ښکاره ده چه په دې صورت کښې فرجه موجب دکراهت نده په همدې ترتیب په مسئوله صورت کښې هم هغه ضروري عارض دسنت اقامت او تحرزعن القیام خلف الصف وحده څخه ،لهذا کراهت ونشو،البته کوم سړي چه ددې نه وروسته راغی هغه ته ښکاردی چه هغه فرجه بنده کړي اگرکه مرور د مصلی مخی ته لازمیږي ځکه دشرعي ضرورت په وخت دا هم مکروه نده دا خو تحقیق دی ددغه جذب المصلی دحکم لاکن په درمختار او ردالمحتارکښې تصریح ده لکن قالواقی زماننا ترکه اولی لغلبة الجهل علی العوام فاذاجره تفسدصلوته اه ج۱ص ۲۷۲اورانیول د نیت تړلو او نه تړلو دواړو صورتونو کې درست دی (فی العالمگیریة الفصل الخامس من الباب الخامس من کتاب الصلوة فجاء ثالث وجذب المؤتم الی نفسه قبل ان یکبرالافتتاح حکی عن الشیخ

الامام ابی بکربن طرخان انه لایفسد صلوة المؤتم جذبه الثالث قبل التکبیراو بعده الخ . والله اعلم،۲۲رمضان ۱۳۲۵ھ امداد صفحه ۹۳ج۱)

دهغه سړی جماعت الصلاة کې دنړیکیدلوحکم چه لمونځ یې کړی وی:

سوال :(۳۱۰)ددین علماځه فرمائی چه مقتدی لپاره دفرایضوداداء کولونه وروسته دځه وخته پورې شرکت مستحب دی؟

جواب :دفرایضوداداکولونه وروسته که په ماسپښین اوماسختن کښې جماعت پیداشی شرکت بهتر دی اوپه فجرعصر،مغرب کې ندی پکارق الدرالمختارومن صلی الفجر والعصروالمغرب مرة فیخرج مطلقاوان اقیمت لکراهة النفل بعدالاولین وفی المغرب احد المخطورین البتیراء اومخالفة الامام آه (امدادص۹۹ج۱)

دبغیردعمامی د امامت حکم مع ذکرعبارات کتاب نفع المفتی اوفتاوای اشرفیه وغیره:

سوال :(۳۱۱)که دامام په سرعمامه نه وی اودمقتدی په سروی نوپه لمانځه کې کراهت شته اوکنه؟

جواب :کراهت نشته (تتمه اولی ص۱۷)

سوال :(۳۱۲)مشهوره ده چه فقهاؤ لیکلی دی چه عمامه موجوده وی نوبدون عمامه لمونځ مکروه ده صحیح ده اوکنه؟

جواب :صحیح ندی.البته که کوم سړی بی له عمامی دکورنه نه وی وتلی ددغه سړی لپاره خپله لمونځ بلاعمامه مکروه دی امام وی اوکه نه فی الدرالمختاروصلوته فی ثیاب بذلة یلبسهافی بیته (۱۲شعبان ۱۳۳۱ھ تتمه ثانیه ص۲۴)

سوال :(۳۱۳)که دچاداخیال وی چه په لمانځه کې دی د عمامی ضرورت وګڼلی شی اوداسې ضروری نده او هغه دهمدی لامله عمامه موجوده وه نه ئی تړله نوددی دغه فعل بدګی اوکنه؟

جواب :که کله کله وی نوبد ندی ونظیره مافی ردالمختارفی تعیین السورفان ایهام اللزوم ینتفی بالترک احیاناً (ج۱ص۵۲۸ ۱۲شعبان ۱۳۳۱ھ تتمه ثانیه ص۲۵)

په لاندې سوال اوځواب باندې مشتمل یوخط راغی:

سوال :(۳۱٤)پدې مسئله کې ددین علماء ځه فرمایې چه په خولی بدون دعمامه لمونځ کول مکروه دی اوکنه؟

جواب :مکروه دی په غرائب الفتاوی کښی ئی راوړی :رجل صلی مع قلنسوة ولیس فوقهاعمامة اوشی آخریکره ۱۲ ،اوپګړی په سرتړل مسنون دی خصوصاپه لمانځه کې ملاعلی قاری په مقالة عذب کې روایت کوی انه ﷺ کان یلبس القلانس تحت العمائم وبغیرالعمائم اوپه فردوس دیلمی کې دجابرنه روایت دی رکعتان بعمامةخیرمن سبعین رکعة بلاعمامة وابن عمر آورده صلوة تطوع اوفیضة بعمامة خمس مائة وعشرین صلوة بلاعمامة وجمعة بعمامة تعدل سبعین جمعة بلاعمامة اوهمدارنګه په مذکوره مقاله کښی وائی :اماماحدثه فقهاء زماننامن انهم یاتون المسجدبعمامة کبیرة ثم یضعونهاویلفونهابلفافة صغیرة ویصلون بغیرعمامة فمکروهة غایة الکراهة انتهی والله الموافق فتاوی سعدیة ،ص۵۱

دسوال تتمه: جناب عالی عرض دادی چه دمذکورسوال لپاره مذکور ځواب په فتاوی سعدیه کښی دپورتنی مسطور موافق دی لاکن په فتاوای رشیدیه کې دمذکوره مسئلی په حقله مولناګنګوهی جائز فرمائی په دی کې ځه خبره ده ؟ بل عرض دادی چه په کومه جامه کې دانسان بیرون تلل عیب جن بلل کیږی که په دی سړی لمونځ وکړی دهغه لپاره ځه حکم دی؟

ددې ځای ځنځه لته کې نه دهغه دغه ځواب ولیکل شو:

دواړوفتواګانوترمینځ تطبیق داکیدلی شی چه دهغه لپاره کراهت شته چه څوک بلاعمامه مجامعوته نه راځی ،اوعدم کراهت دهغه چالپاره چه جامعی ته بلاعمامه تللی شی دهمدی ځخه دا سوال دآخر ځواب معلوم شوچه مکروه دی (۲۷جمادی الاولی ۱۳۳۷ھ تتمه خامسه ص۸۴)

سوال :(۳۱۵)بسم الله الرحمن الرحیم درسالة الامامة بالعمامة دتحریر ځخه دتوپی ایښودلو سره لمونځ کول مکروه تحریمی معلومیږی اود کتاب نفع المفتی ص۸۸ ځخه مکروه نه معلومیږی همداسې دی په فتاوای اشرفیه تتمة جلد۱ص۱۷ کې چه دجناب تصنیف دی ماهم مکروه ندی ویلی، مذکوره دواړه رسایل ستاسوخدمت ته پیش کولی شی تر ځوچه دملاحظه فرمایلوسره دباصواب ځواب ځخه موږ شرف وفرمائی ترڅوتسلی وشی اوجناب اجرپیدا کړی ؟

جواب: ماتوله رساله ولوستله دکوم دلیل څخه کراهت ثابت ندی لکه چه دبعض استدلالاتوخواب دمولنا عبدالحی په کلام کې تصریح دی.او د بعض خواب ښکاره دی دهر استدلال خواب دکوم خایه پورې ولیکم نویوه رساله جوړیږی. تاسو ته چه کوم دلیل دمدعاموجب معلومیږی دهغه پوښتنه وکړی د کوم چه خواب دمولناعبدالحی په تحریرکې نه وی.ددې کرښودلیکلونه وروسته دغه روایتونود مکروهات صلاۃ می په نظرو لګیدل وصلوته حاسرااي كاشفارأسه للتكاسل ولاباس به للتذلل واما لا هانتها فكفرولو سقطت قلنسوته فاعادتهاافضل الخ وفي ردالمحتارعن الدر وعن التاتارخانية والظاهر ان افضلية اعادتها حيث لم يقصد بتركها التذلل على مامرج١ص ٢٧٠.ددې څخه څوکاره مستفادشول یوداچه بالکل لوڅ سر لمونځ کول هم مکروه ندی کله چه دتکاسل په خاطرنه وی، نوپه توپی باندې اکتفاء کول کله چه د تکاسل په خاطرنه وی یوازی په طریقه دعادت وی څنګه به مکروه شی؟ البته که کوم سړی یوازی په توپی کې بازارونواواجتماعاتوداحبابوته نه ځی نودهغه لپاره یوازی په توپی باندې اکتفاء کول لمونځ مکروه کیږی په کوم کې چه انفراد ،امامت او اقتداء تول برابردی دامام تخصیص نشته دداسې شخص لپاره یوازی توپی سپک اوخراب لباس دی چه پکښی لمونځ کول مکروه دی لاکن که د عمامې وسعت نه وی نوبیادداسې سړی لپاره مکروه نده دوم کارددې نه دا استفاد شوچه دتوپی په غورځیدلو باندې اعاده افضل ده اوکه قصد د تذلل وی نواعاده نه کول افضل دی.دا جزیه دهغه سړی په حق کې کیدی شی چه یوازی په قلنسوه یعنی توپی کښی لمونځ اداء کوی بیادغه جزیه ذکرکولوسره اوورسره داالانه یکره بقاعده والسكوت عن البيان في موضع الضرورة . نه ویل واضح دلیل دی دعدم کراهت ١١رجب ١٣٤٠ھ تتمه خامسه ص٢٢١.

عدم جوازدجماعت دترکولوپه توهم دقلت درعب دزړونود رعیت څخه:

سوال: (٣١٦) حضرته ! تراوسه پورې مادذې امرتعمیل نه دی کړي چه مسجد ته په راتلوسره لمونځ وکړم، دلته په جماعت سره لمونځ کوم دتهانی مسجد څخه چه تقریباسل قدمه اوبا ددینه څه زیاته فاصله کښی چه کوم خلک دی هغوی ته خما دتګ راتګ سره تکلیف وی، بار بار ودریږی منع کوم ئی نه ئی قبلوی . د ورځی که کله څه پنځه خله راشم نو غالبا هغی بالکل بی حجابه کیږی ددې څخه دعهدی چه کوم اثر او رعب دی په رعایاو باندې هغه کمیږی اوبه

کار کښی خرابی پیدا کیږی اګر که خپله بی تعظیم پالونی قطعا مقصود نه دی یوازی داخیال چه دعهدی وقارله مینځه ځی، اوهرکله چه ددې عهدی په رعایاؤ باندې اثر نه وی انتظام نه ټهیک کیږی په همدی وجه مسجد ته نه ځم آینده چه څه حکم وی اوس خوصرف دجمعی په ورځ اونن صبا دتراویحو لپاره ځم ؟

جواب: دتاسی شانته سلیم الفهم هوښیارڅخه داسې ګمان عجیب دی اول خو دا محض یوتوهم دی چه دتجربی اومشاهدی نه خلاف دی بلکه ددې څخه وقاراوچتیږی اول خو د دینداری داخاصیت دی خصوصا کله چه په ممتازشخص کې دینداری وی.په ژبوباندې دهغه مدح اوزړونوکې دهغه عظمت وی

اول خوداهیبت مع الوحشه والنفرة ؤو بیاهیبت مع الانس والمحبة ګرځی، بیاددې یودلیل هم شته چه په حدیث کې واردده :من هاب الله هابه کل شئ: ددې تولونه علاوه که کوم مقام کښی عوام په دی خیال کې وی چه دګیری خریلوسره زیات مرعوب کیږی په نسبت سره ګیری پریښودو یادکفارودلباس څخه مرعوبیږی په نسبت سره اسلامی لباس ته یاددې نه هم اوچت کیدلو سره دعیسائی نه زیات مرعوبیږی په نسبت سره دمسلمان کیدلوڅخه آیاددی مصلحت رعایت دی حدپورې توسیع کولی شی ١٣ رمضان ١٣٤٢ھ تتمه خامسه ص٥٩٠.

دامام اوخطیب دبعضی نواقصو احکام

سوال: (٣١٧) ددین علماء اودشرع متین مفتیان څه فرمائی په دی باره کې چه دلته په جامع مسجد کې ددې منطقی دنورومسجدونو په شان داقانون راروان دی چه دجمعی په ورځ داول اذان نه وروسته دومره وقفه کولی شی چه څلورسنتونه په اطمینان سره ولوستل شی یعنی تقریباً نه لس منته وروسته په عربی ژبه خطبه شروع کیږی دمذکور جامع مسجد امام صاحب په هکله دمقتدیانوشکایت دخطبی داوږدوالی په هکله دمخکې نه ؤ، اودهمدی نه په هغوی باندې سختی وه ددې نه علاوه هغه دځوجمعو راهیسی نوی لاره اختیارکړی ده چه دڅلورو سنتونه وروسته په مقرروخت دخطبی شروع کولوپه ځای اول په اردو ژبه باندې دخطبی دمضمون نه علاوه نورتقریرونوشاملولوسره بیان کول شروع کړی دی.په کوم کې چه مقتدیانومحسوس کړی ده چه په دی تقریرونوکې په مسلمانانوباندې دروغ اوطعنیه جملی اوغیره ذاتی نفسانیه جذبات هم شامل دی ددغو تقریرونونه وروسته ثانی اذان کولوسره ممدوح عربی خطبه ولوستله ،د مسجدمتولیان وغیره اول یودوه خله څه خیال نه ؤلاکن

وروسته هغه وکتل چه په مقتدیانو کښې دهغې سره شوراوغوغاپیداشوه اوهغوته قوی اندېښنه پیداشوه چه داسې نه شی چه کرار کرار په ځای دعربی خطبې اردوخطبه جاری شی.ددېنه علاوه ددې لپاره چه ډېرزیات تعدادلمونځ کونکې دمځکې څخه راغلی وی اودلمانځه نه وروسته خوراک کوی په همدې بناء په تاخیراوطوالت هغوی ته نوره هم زیاته سختی راځی .د خطبې داوږدوالی په هکله دمسجدمتولیانودموصوف امام صاحب توجه راوړ ولی وه چه کومه خطبه چه اوږده لوستل کیږی هغه دمسنون طریقې مطابق مختصروفرمایې اوپه خطبه اوتقریرونوکې دخپلو جذباتوڅخه کاراخستلوسره په کوم مسلمان باندې حمله اوطعن مه کوی.اوس دغه صورتحال په لیدلوسره اومذکوره وجوهوته په کتلو سره هدایت کړی چه آینده کې به اذان اول نه وروسته په زاړه دستور باندې عمل کوم یوازی په عربی خطبه باندې قناعت وکړی چه دغه نوی طریقه دموصوف مسجدپه لمونځ کونکوکښې دتفرقې اوجنګ باعث ګرځی ددې لپاره چه دمذکوره سختی نه علاوه چه غیرعربی ژبه باندې دخطبې لوستلوقابلینوتعداد دلته ډېرکم دی اوتش په نوم دی، دمتولیانوله طرفه امام صاحب ته ددې هم اطلاع ورکول شوی چه که دلمونځ کونکومخی ته چه بیان فرمایل غواړی نودجمعې دشپې دماسختن دلمانځه نه وروسته په کوم کې چه هم سلګونه لمونځ کونکې وی ،دصحیح صحیح خطبې مطلب داده په ساده ګی سره بیان فرمایل دی اودمتولیانو دا هم په خپل مینځ کې فیصله کړی ده چه که دامام صاحب خواهش وی هغه ته به د جمعې دفراغ نه وروسته دتقریرموقع ورکول شی ،په دی صورت کې به ډېرمځکې راغلی اووړی خلک کورته تلونکې چه څوک غواړی تللی شی په هغوی باندې به کوم جبرنه غورځی نوارشاد دی چه په مسئوله صورت کې دمتولیانو دمسجدامام موصوف منع کول شرعادرست دی اوکنه ؟ فقط بینواتوجروا؟

جواب :ومنه الصدق والصواب په سوال کې دامام دڅونواقصو یادونه شوی ده چه ټول په ټول دشریعت داحکاموڅخه خلاف دی دغه احکام په دی روایتونوکې دی (۱) الاولی عن عمارقال سمعت رسول الله ﷺ یقول ان طول صلوة الرجل وقصرخطبة مئنة من فقهه فاطیلوا الصلوة واقصرواالخطبة الحدیث رواه مسلم (باب الخطبة والصلوة) قلت معنی قوله علیه السلام طول صلوة الرجل یعنی بالاضافة الی الخطبة فان الطول الثقیل قدنفی عنه کماسیاتی عنقریب ،(۲) الثانیة فی الدرالمختار باب الجمعة ویسن خطبتان خفیفتان وتکره زیادتهما علی قدرسورة من طوال

المفصل وفی ردالمحتارعن القهستانی وزیادة التطویل مکروهة اه قلت والتقدیر بسورة من الطوال یراد به التطویل الغیرالثقیل کمافی الدرالمختار باب التراویح عن المجتبی عن الامام لوقرء ثلاثا قصاروایة طویلة فی الفرض فقداحسن ولم یسیء فماظنک بالتراویح اه وبالجمعة رعایة الخفیف واجبة علی کل حال، (۳) الثالثة عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ اذاصلی احدکم للناس فلیخفف فان فیهم السقیم والضعیف والکبیرواذاصلی احدکم لنفسه فیطول ماشاء متفق علیه عن قیس بن ابی حازم فی حدیث طویل قال رسول الله ﷺ ان منکم منفرین الحدیث متفق علیه (باب ماعلی الامام) (٤)ارابعة فی الدرالمختارباب الامامة ویکره تحریما تطویل الصلوة علی القوم زائدا علی قدرالسنة فی قراء ة واذکاراخ قلت انظرماقدسبق تحت الروایة الثانیة وفی الدرالمختارفصل الامامة فی مقدارالقراءة المسنونة واختارفی البدائع عدم التقدیروانه یختلف بالوقت والقوم والامام وفی ردالمحتار عن البدائع والجملة فیه انه ینبغی للامام ان یقرا مقدار مایخف علی القوم ولایثقل علیهم بعدان یکون علی التمام وهکذافی الخلاصة اه ، (۵)الخامسة عن النعمان بن بشیرفی حدیث طویل قال رسول الله ﷺ فمن اتقی الشبهات استبرا لدینه وعرضه ومن وقع فی الشبهات وقع فی الحرام کالراعی یرعی حول الحمی یوشک ان یرتع فیه (الحدیث متفق علیه) (٦) السادسة فی الدرالمختارفصل فی القراءة ویکره التعیین کالسجدة وهل اتی بفجر کل جمعة بل یندب قراء تهما احیانا وفی ردالمحتارتحت قوله بل یندب بعدکلام طویل حاصل معنی کلام هذین الشیخین بیان وجه الکراهة فی المداومة وهوانه ان رای ذلک حتمایکره من حیث تغییر الشرع والایکره من حیث ایهام الجاهل الخ . (۷) السابعة فی الدرالمختارباب سجود التلاوة وسجدة الشکرمستحبة به یفتی لکنهاتکره بعدالصلوة لان الجهلة یعتقدونها سنة اوواجبة فکل مباح یودی الیه فمکروه اه وفی ردالمحتارتحت قوله فمکروه الظاهرانهاتحریمة لانه یدخل فی الدین مالیس منه والا حادیث کلهامن المشکوة) ددغواوفقهیه روایتونوڅخه دغه امورا مستفادشول (۱) دلمانځه نه دخطبې اوږدول دسنت خلاف دی اودسنت خلاف کولوباندې دوام کول کراهت شدیده وی (۲) دامام داسې کارکول چه جماعت ته تنګسیا اوسختی پیداکیږی مذموم دی (۳) کوم داسې کار کول چه فی نفسه مباح وی مګرپه غالب ګمان هغه مفضی کوم منکر ته وی دشرع له طرفه سخت قبیح دی هرکله چه دامام افعال ددې احکام خلاف کیدل ثابت شول

نوصاحب قدرت ته بالعمل بندول واجب دی همغه شان چه په نصوصوکښ تصریح ده اودمسجدمتولیان دقدرت خاوندان دی لهذاپه هغوی باندې واجب ده چه ددې منکراتو مخنیوی وکړی ، والله اعلم (کتبه اشرف علی ۲ذی الحجه ۱۳۵۷ھ (النورشعبان ۵۸ھ ص۸)

دګوامامت

سوال :(۳۱۸)دګوډ امامت روادی اوکنه ؟

جواب :که خپې سیده نه اودرېږی نوتنزیهی مکروه دی کذافی ردالمحتاراول صفر۱۳۲۹ھ (تتمه اولی ص ۳۳)

په عذرسره په خپوناسته کونکی امامت

سوال :(۳۱۹)یوسړی دقران حافظ هم دی اودومره علم هم ورسره دی چه په مقتدیانوکښ دهغه برابرنشته . اودپوخ عمراوپرهیزګار هم دی مګر په زنګنونو کښ د درد په سبب دتشهدلپاره دناستی په وخت دخپو په ادرولوسره کینی ،په داسې ترتیب چه دواړه ورنونه دپندیوڅخه بیلوی خودواړه لاسونه په عادی ډول په ورنوتوباندې ږدی اونورارکان ، واجبات، سنن اومستحبات په عادی طریقه اداء کوی .ددې سړی امامت سره دوجود تندرست مقتدیانواوهمدارنګه حافظ دقران موجودوی درست دی اوکنه .که مکروه وی نوکوم قسم مکروه تحریمی اوکه تنزیهی اوکه مکروه هم نه وی نوترک اولی دی اوکنه اوپه مقتدیانوکښ چه کوم حافظان خلک دی په هغوی کښ هیڅ څوک هم دمذکورشخص سره په علم او فضل کښ برابرندی .اوپه عمرکښ هم کم دی بعضې وربرونه دی اوبعضې واړه ورونه دی ؟

جواب :ددې سړی امامت بلاکراهت صحیح دی (وفی الدرالمختار وقائم الی قوله وکذابا عرج وغیره اولی باب الامامة .۵ربیع الثانی ۱۳۳۰ھ (تتمه اولی ص ۴۱)

په قیام باندې چه قادرنه وی دهغه دامامت

جواز سره د استحباب ترک امامت دهغه

سوال :(۳۲۰)ددین علماء اوشرع متین مفتیان څه فرمایې په دی مسئله کښ چه زه یوه ورځ په مسجدکښ وم اودمغرب وخت شواذان ویل کیده چه حافظ صاحب هم راغی مګریه استنجاء اوادس کولو باندې ېې ډیر ځنډ وشو ، دمسجدملامانه دلمانځه دکولوویل اول خو ما عذر

وړاندې کړوبیادوخت دتنګی په سبب دلمانځه کولولپاره کنیاستم [1] تکبیرویل کیده چه یوسړی دویلی چه دی پسی لمونځ جائزندی څکه بل روغ حافظ موجوددې خلاصه داده چه څینې وخت مابیچاره ناپوهه خلک تنګوی دلمانځه دکولولپاره مجبوره کیدلوسره لمونځ کول لازم شی اوس امیدواریم چه کله جائز دی اوکله ناجائزدی دهغه جناب دستخط په کاردی څکه چه تولوکښ تشویش موجوددې

جواب :فی الدرالمختاروقائم بقاعدیرکع ویسجدوقائم باحدب وان بلغ حدبه الرکوع علی المعتمدو کذا باعرج وغیره اولی اھ باب الامامة ، ددې روایت نه معلومه شوه چه ستاسوامامت جائزدی لاکن بهتره داده چه ترڅوچه بل ښه امام میسر وی ترهغه وخته لمونځ مه ورکوی ، ۱۸ذی الحجه ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه ص ۹۵)

د جماعت پابندی لپاره دبالغ هلک د و هلوحکم

سوال :(۳۲۱)داسې بالغ هلک چه دلمانځه دجماعت پابندندی یعنی کله کله خوشریکیږی اوکله ناغه هم کوی ددې تاکید دپابندی کښ وهل شرعاڅنګه دی شبهه داسې کیږی چه دجناب رسول الله شریف عبارت (اختارایسرالامرین مالم یکن اثماً)؟

جواب :که ددې حدیث دامعنی وی نوفاضربوهم علی الصلوة وهم ابناء عشرسنین) به ېې نه فرمایل اوجماعت هم واجب دی چه عملاً دفرض مساوی دی اوداحکام عملیه په ډولونوکښ دی فقط ۴ذی الحجه ۱۳۳۰ھ (تتمه اولی ص۴۲)

تجاوزدکراهت دلمانځه دامام مقتدی ته

سوال :(۳۲۲)که دامام په لمانځه کښ مکروه شی نومقتدی دهغه نه بچ پاتې کیږی اوکنه ؟

جواب :په دی باب کښ هیڅ روایت نه دی میلاوشوی ،لاکن دقواعد وڅخه داپوهه راځی چه که کراهت دکوم فعل داخل فی الصلاة سره دی مثلاً ترک دواجب ،یازاید فعل نوهغه کراهت دمقتدی لمانځه پورې متعدی کیږی څکه چه په دغه صورت کښ دهغه لمونځ هم مکروه شوروصلوته متضمنة لصلاة المقتدی اوکه کوم کار خارج عن الصلاة څخه دی لکه دکوم هیئت

[1] داسائل معذوردې نه شی ودریدی ۱۲منه

غیرمشروعه څخه نوهغه نه متعدی کیږی ځکه چه دغه وخت لمونځ نه مکروه کیږی یوبیل فعل مکروه دی نود داسې سړی امام جوړول مکروه شو ۱۲ شعبان ۱۳۳۳ تتمه ثانیه ۲۴،

دمعذورد امامت حکم په وخت دانقطاع دعذر

سوال :(۳۲۳) دشرعی معذوره معذوریت دشرط باوجود دلږ ارام سره دومره چه لمونځ په کې کولی شی امامت جائز دی اوکنه ؟

جواب :فی الدرالمختارباب الامامة ولاطاهر بمعذورهذا ان قارن الوضوء الحدث اوطرابعده وصح لوتوضاوصلی کذلک اه ددینه ثابته شوه چه په مسئوله صورت کې امامت جائزدی ۴ ذالقعده ۱۳۳۲ھ تتمه ثانیه ص ۱۸۰،

دهغه امام داقتداء حکم چه مخکې دپوره کیدلو تشهدد مقتدی قیام وکړی اویاسلام وکړی

سوال :(۳۲٤) که مسبوق په اوله قعده کې په جماعت کې شریک شواو ځنګه چه هغه شریک شوهمغه وخت امام دریم رکعت لپاره سیده پورته شونومسبوق ته هم دامام متابعت کول پکاردی اوکنه اوکه مسبوق التحیات شروع کړی وه نوالتحیات په ختمولوسره پورته شی اوکه امام سره یوځای اودریږی ؟

جواب :دتشهد ختمولونه وروسته دی اودریږی ،وفی الدرالمختار فصل صفة الصلوة بخلاف سلامه اوقیامه لثالثة قبل اتمام الموتم التشهدفانه لایتابعه بل یتمه لوجوبه وفی ردالمحتاروشمل باطلاقه مالواقتدی به فی اثناء التشهدالاول اوالاخیرفحین قعدقام امامه اوسلم الی قوله ثم رایته فی الاخیرة ناقلاعن ابی اللیث الخ ج۱ص ۵۱۷ ۲رجب ۱۳۳۲ھ تتمه ثانیه صفحه ۱۵۱،

دامام دسلام نه وړاندې دمقتدی دسلام حکم

سوال :(۳۲۵) مقتدی په اخره قعده کې دنیمائی التحیات نه وروسته اودامام دسلام دګرځولونه مخکې داودس دماتیدلوویری یابه دی مینځ کې مرغوب خوراک خوړل کیده اویاکوم بل ځیزته نقصان ؤ دامام نه وړاندې سلام ګرځولوسره لمونځ صحیح اودرست شواوکنه ؟

جواب :آخره قعده په قدردتشهدفرض ده هرکله چه هغه په نیمایې التحیات باندې سلام ګرځولی دفرض دترک کیدلو په سبب لمونځ فاسد شو. اوکه دټولی التحیات نه وروسته مګردامام نه مخکې یې سلام وګرځاوه نودلمانځهٔ فرض خواداء شوی دی لکن که بلاعذره یې

داسې وکول نودمکروه ارتکاب یې وکړوسبب دترک دمتابعت واجبه اوکه په عذریې داسې وکول نو کراهت هم نشته اوخوف دحدث عذردی اوکوم ځیز نقصان په دی باب کې عذرکیدل یې مصرح ندی لیدل . فی ردالمحتارلواتم الموتم التشهدبان اشرع فیه وفرغ منه قبل اتمام امامه فاتی بمایخرجه من الصلاة کسلام اوکلام اوقیام جازای صحت صلاته حصوله بعد تمام الارکان الی قوله وانماکره للموتم ذلک لترکه متابعة الامام بلاعذر فلوبه کخوف حدث اوخروج وقت جمعة او مرورماربین یدیه فلاکراهة ج۱ص ۱۰۵۴ رمضان ۱۳۳۲ھ تتمه ثانیه ص ۱۲۱،

دکوپ پسی داقتداء حکم

سوال :(۳۲۶) دکوپ امام پسی لمونځ درست دی اوکنه ؟

جواب :جائزدی لمافی الکنزوقائم بقاعدوباحدب وبسط القول فیه فی البحرالرائق ج۱ص ۳۸۲ وص ۳۸۷ ۱، ربیع الثانی ۱۳۳۳ تتمه ثالثه ص ۲۸،

دهغه ولدالزنادامامت حکم چه عالم وی

سوال :(۳۲۷) دوالدالزنا اوډم خوی امامت عندالشرع بلاکراهت جائز دی اوکنه مسئول عنه سړی تائب کیدو سره دعلوم دینیه څخه فارغ شوی دی لاکن دښار خلک په سبب دخبریدویه دی خبره چه هغه دډم خوی دی اویوی مودی پوری هغه په همدغه ښار کې مزامیره وغیره د ډمانو سره کړی ده دهغه امامت څخه نفرت کوی اونه هغه خپل امام جوړوی بیاهم په داسې حالت کې دهدایې په مذکور عبارت تنفیر جماعت عندالشرع موجود پوهیدل غواړی اوکنه ؟یادعوام الناس تنفیرچه دهغه دا صلیت څخه پوره واقفیت لری داعتبارقابل نه ګرځولوسره بلاکراهت امامت کیدلی شی اوکنه اودیوشریف النسب دموجودګی په وخت کې ،کوم چه دضروریه دینیه مسایلوڅخه خبردی ، دافضلیت تقدیم دچالپاره دی آیا د ولدالزنا چه خلک ترینه نفرت کوی تقدیم افضل دی یاددغه شریف النسب سړی دچانه چه خلک خوشحاله وی ؟

جواب :فی الدرالمختارویکره امامة عبدالی قوله الاان یکون ای غیرالفاسق اعلم القوم فهواولی فی ردالمختارقوله ای غیرالفاسق تبع فی ذلک صاحب البحرحیث قال قیدکراهة امامة الاعمی فی المحیط وغیره بان لایکون افضل القوم فان کان افضلهم فهواولی اه ثم ذکرانه ینبغی جریان هذاالقید فی العبد والاعرابی وولدالزناونازعه فی النهربانه فی الهدایة علل الکراهة بغلبة الجهل

فیهم وبان فی تقدیمهم تنفیر الجماعة ومقتضی الثانیة ثبوت الکراهة مع انتفاء الجهل وفیه بعداسطر لکن ماعنه فی البحرصرح به الاختیارحیث قال ولوعدمت ای علة الکراهة بان کان الاعرابی افضل من الحضری والعبد من الحروولدالزنا من ولدالرشدة والاعمی من البصیرفالحکم بالضداه ونحوه فی شرح الملتقی وشرح دررالبحاروالعل وجهه ان تنفیرالجماعة بتقدیم یزول اذاکان افضل من غیره بل التنفیر یکون فی تقدیم غیره اخ (ج۱ص۵۸۵) ددې عبارت څخه معلومه شوه چه په کوم ځای کې چه د ولدالزنا دامامت څخه جماعت ته نفرت نه وی ددی دافضل والی په صورت کې هغه احق باالامامت دی اوهغه ځای کې چه سره دافضلیت ددی چه نفرت وی نودکراهت دعلت دبقاء په سبب یعنی نفرت . دهغه امامت مکروه دی حیث علل کون الحکم بالضد بزوال التنفیر فحیث لم یزل التنفیر لایکون الحکم بالضدبل یحکم بالاصل ای الکراهة نوپه مسئوله صورت کې دشریف النسب تقدیم افضل دی ۲رمضان المبارک ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه ص۲۸)

دامام دلمانځه اوږدولو کراهت:

سوال :(۳۲۸) یوامام په رکوع دومره څنډ کوی چه مقتدی د۱۳-تر۱۷ پورې تسبیح درکوع اوسجدی ویلی شی اوپه تشهد کې دومره تاخیر کوی چه مقتدی التحیات ،درود وغیره څخه فارغیدلو سره ددینه ډیر زیات وخت پورې چپ ناست وی اومقتدیان کاریگراومزدوران خلک دی دهمدی لامله دغه تاخیرپه مقتدیانو باندې سخت اوشاق تیریږی اوچه کله امام صاحب ته وویل شی نودهغه ځواب دادی چه لمونځ په خشوع اوخضوع سره پکار ده آیادالمونځ بلاکراهت جائزدی اوکنه ؟

جواب :فی الدرالمختارویکره تحریماتطویل الصلوة علی القوم زائداعلی قدرالسنة فی قراة واذکار رضی القوم اولالا طلاق الامر بالتخفیف (نهر) وفی ردالمحتار و قدتبع الشارح فی ذلک صاحب البحر واعترضه الشیخ اسمعیل بان تعلیل الامربماذکریفیدعدم الکراهة اذارضی القوم ای اذاکانوا محصورین ویمکن حمل کلام البحرعلی غیرالمحصورین تامل (ج۱ص۵۸۲) ددینه ثابته شوه چه په مذکوره صورت کې دامام اوږدول مکروه تحریمی دی اوتطویل خشوع اوخضوع ته نه ویل کیږی بلکه ددې تطویل څخه دمقتدیانو خشوع اوخضوع ورک کیږی .۲رمضان ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه ص۷۰)

احیاناً جماعت په ترک کولو کې دخوف ضیاع مال عذرکیدلو تحقیق:

سوال :(۳۲۹) بنده دپوستکوتجارت شروع کړی دی مگربنده ته ددې علم نشته دهمدی پخاطر یوبل سړی چه په دی کاربنه خبردی بغیرد اصل مال دمحنت شریک کړی دی اوس ددې کارپوښتل دی چه بعض وختونه دجماعت لمونځ نه شی اداکولی .څکه که بنده دلمانځه لپاره مسجدته لاړشی اوددی نه وروسته څه مال خرڅ شی اودقیمت ارزښت دځان سره کړی اوبنده ته ونه وائی په دی عذرجماعت ترک کول او داسې قسم تجارت کول جائز دی اوکنه .څکه چه په گوهربهشتی کې لیکل شوی دی چه که د عذرلامله په جماعت کې شامل نه شونوجائزدی اودایه ظاهره خمایه خیال کې یوقسم عذردی لهذا دحضورڅخه پوښتنه کیږی چه دکوم کار څخه د کوم وخت جماعت اکثرا فوت شی نوهغه کارکول څنگه دی بینواتوجروا؟

جواب :فی الدرالمختارفی اعذارترک الجماعة اوخوف علی ماله وفی ردالمحتار ای من لص ونحوه اذا لم یمکنه غلق الدکان اوالبیت مثلا ج۱ص۵۸۱ وفی العالمگیریة اویخاف ضیاع ماله ج۱ص۵۲، ددې روایتونو څخه ددې گنجایش معلومیږی مگردادعادت نه گرځوی .هرکله چه کوم انتظام نشی کیدلی نودغه وخت معذورگرځی گنی که ممکن وی ددکان په بندولوسره دی جماعت ته حاضرشی اول محرم ۱۳۳۴ھ (تتمه رابعه ص۵)

دهغه مقتدی لپاره چه صحیح لولی اغوط دادی چه شرکت کولونه وروسته اعاده وکړی دغلط خوان امام پسی چه په عذراومجبوریت سره لمونځ وکړی:

سوال :(۳۳۰) یوسړی قران صحیح لولی مگردناسورعذرپه سبب (چه هروخت بهیږی اوعدم قدرت په قیام اوجلوس، دسنت موافق امامت نشی کولی اوتول اوسیدونکې دده دکلی دجواز صلاة په قدرقران نشی لوستلی اوس هغه څه وکړی که دهغوی سره په جماعت کې شریکیږی نودهغه لمونځ نه کیږی اوهغه لمونځ نشی ورکولی دهغه تقاعدعن الجماعة جائزدی اوکنه ؟

جواب :ددې لپاره چه دعموم ابتلاء په سبب بعضی علماؤ داسې اقتداء ته صحیح ویلی دی نوبناپه احتمال صحت تخلف عن الجماعة دوعیدځای دی اوځینې نورصحیح وائی په همدې بناء عدم صحت دصلاة محل د وعیددې نوجمعابین الادلة احتیاط داده چه دجماعت نه تقاعدونه کړی اووروسته دخپل لمانځه اعاده وکړی ۲ربیع الثانی ۱۳۳۴ھ (تتمه رابعه ص۲۱)

سوال :(۳۳۱)بکر د یو مسجد امام دی او د قران حافظ هم دی مګر قران ډیر غلط لولی ځيني الفاظ داسې سوزیدلی لولی چه که چاته د مخکې نه هغه الفاظ یاد نه وی نو په پوهه کې نه راځی ، د دینه علاوه په بعضی ځایونو کې زیر دومره اوچتوی چه الف پیدا کیږی مثلا فقروافافروا اوفقداقلح قداقلحاوغیره لولی په ځینو ځایونو کې ساکن متحرک لولی مثلا اهدناالصراط المستقم اهدنا په کسر دهاء سره او ځینې ځایونو کې متحرک ساکن لولی لکه الم ترکیف فعل الم ترکیف په سکون د عین سره لولی د دینه علاوه ځای په ځای په مینځ کې وقف کوی او د وقف په وخت د لفظ آخر ساکن نه لولی بلکه همیشه یې متحرک لولی او بیا مخکې روان وی ، په کوم لفظ باندې یې چه وقف کړی وی هغه دوباره نه وائی د داسې حافظ قران پسې لمونځ کول څنګه دی ؟ که د هغه پسې لمونځ مکروه یا ناروا وی مګر خلک دی امام وګرځوی نو د غه شخص لپاره آیا ترک د جماعت کول پکار دی چه د ټولو داسې غلطو څخه بچ شی ؟

جواب :فی فتاوی قاضیخان اماالخطا فی الاعراب اذالم یغیر المعنی لاتفسدالصلوة عندالکل وان غیر المعنی تغیرافاحشا فسدت صلوته فی قول المتقدمین واختلف المتاخرون فی ذلک وماقاله المتقدمون احوط وماقاله المتاخرون اوسع انتهی مختصراً وفیها ایضاً واماترک المدان لم یغیر المعنی کماقی قوله انا انزلناه انا اعطیناک لاتفسدصلوته اه قلت وکذالمدفیمالیس فیه کماهوظاهر) نو کومې غلطیانې چه په سوال کې مذکورې دی د دې لپاره چه مغیرد معنی ندی نو لمونځ کیږی ،کوم سړی چه داسې غلطیانو څخه محفوظ وی هغه ته ترک د جماعت ندی پکار والله اعلم ۱۸ربیع الاول ۱۳۲۱ھ (امداد ص ۱۱۱ ج ۱)

د جماعت په لمانځه کې د تراص او الزاق معنی

سوال :(۳۳۲)نن صبا د لته د غیر مقلدی ډیر زیات زور او شور کیږی حتی چه په لمانځه کې و یل کیږی چه بجلک د بجلک او ګوتې د ګوتو سره یو ځای کول و سره او د ریږی او ډیر خلک د ریږی هم ؟

جواب :فی المشکوة باب تسویة الصف عن انس قال قال رسول الله ﷺ سووا صفوفکم وقاربوابینها وحاذوا بالاعناق الحدیث رواه ابوداؤد عن ابی امامة فی حدیث طویل قال قال رسول الله ﷺ سووا صفوفکم وحاذوابین مناکبکم الحدیث رواه احمد،په اول حدیث کې درصوا نه وروسته قاربوا راغلی دی ظاهره ده چه که تراص په معنی د مماست اقدام وغیره واخستل شی نو د قاربوا سره به منافی وی چه مقاربت غواړی عدم مماست ،لکه چه ظاهره

ده ، د دینه معلومه شوه چه مقصد مقاربت دی د دې مبالغه تراص یا په بعضی حدیثونو کې الزاق فرمایلی دی او وریسی یې چه حادوا راغلی ګویا د هغې تفسیر دی ، او د دې تعبیر په بل حدیث کې په حادوا بین مناکبکم سره کړی دی وهذا ظاهرجداً والله اعلم وعلمه اتم واحکم ۲۹رمضان ۱۳۲۲ھ (امداد ص ۷ ج ۴)

سوال :(۳۳۳)د لته یو مولوی صاحب چه خپل شمیر په اهل حدیث کې کوی لاکن یو بزرګ او هوښیار سړی دی ،نن صبا یې تشریف راوړی دی په مسجد کې د جماعت لمونځ هم هغه ورکوی ،هغه په صف تړلو کې الزاق الکعب ته ډیر رواج ورکړی دی هر سړی په جماعت کې خپی د خپل څنګ والا د خپو سره نښلوی په دی کې څو نقصانه وی اول د دواړو خپو په مینځ کې دیوه انسان نه زیات ه فاصله وی دوهم د چاچه قدمونه واړه دی او د صف څخه شاته معلومیږی یعنی د دی او ږه د هغوی له او ږو سره نه یو ځای کیږی دریم کله چه سجدی ته ځی نو د ټولو خپی د خپل ځای څخه پورته کیږی بیا کله چه دوهم رکعت ته ودریږی نو د خپو په طرف ملتفت کیدلو سره د هغو دواړه طرفونه پورته کولو سره یو بل سره یو ځای کیږی د غه غیر مومار بها حرکت او التفات په مکروه فکر کولو سره په خپلې طریقی باندې قائم پاتې شوم او یم په بعضی حضراتو ماته و ویل نو ما خواب ورکړو چه څما د فعل سره د تاسو څه بحث دی؟ لاکن یوه ورځ ممدوح مولوی صاحب په دی باندې زه ملامت کړم او وی ویل ته د موکد و سنتو تارک یې ما و ویل چه د دې سنت والی غیر ثابت دی نو تاسی په ما باندې افتراء کوی د تاسو ته مناسبه نده هغه په ثبوت کې د نعمان بن بشیر روایت چه د هغه جز نه داده (رایت الرجل منایلزق منکبه بمنکب صاحبه وکعبه بکعبه ، او د حضرت انس روایت فکان احدنایلزق منکبه بمنکب صاحبه وقدمه بقدمه فی الصف رواه البخاری پیش کړل ما و ویل د اول حدیث څخه مواظبت نه راووځی او د ثانی حدیث څخه د الزاق الکعب استدلال صحیح ندی ،ډیر خفه شو بیا یې و ویل چه خپل شبهات تحریرا پیش کړه زه به ستا اطمینان وکړم ما یوه برخه تقریر لیکلو نه وروسته ولیګه ترننه پوری یې خواب ندی راکړی په دی شبهه ټول خلک بیا د الزاق الکعب تارک شول او س تاسو ته عرض دی چه د ابیان مفصلا تحریر وفرمایې چه څما او د خلکو اطمینان وشی ؟

جواب :په دې باب کې مختلف الفاظ راغلی دی د بخاری الفاظ خو په سوال کې مذکور دی ،او په سنن ابوداود کې د نعمان بن بشیر څخه د غه الفاظ راغلی دی ؛ قال فرایت الرجل یلزق منکبه بمنکب صاحبه ورکبته برکبة صاحبه وکعبه بکعبه او د حضرت انس څخه مرفوعا د غه الفاظ دی قاربوا بینهما وحاذوا بالاعناق او د عبدالله بن عمر څخه مرفوعا د غه الفاظ دی

حاذوابالمناکب اودامریقینی دی چه ددې تولو عبارتونومعبرعنه یودی دهغه څخه کله په الزاق سره تعبیر کړی اوکله په مقاربت سره کله په محاذات سره ددینه معلومیږی چه محاذات او مقاربت ته الزاق ویلي شوی دی مبالغة فی المقاربة دوهم که دالزاق حقیقی معنی واخستل شی نو الزاق المناکب اوالزاق الکعب په دی صورت متعارف اومعتادکې جمع کیدلی نشی ،چه مصلی په قدمونو کې ښه انفراج پریښودی څکه چه په دی کې الزاق الکعب خوبه وی لکن الزاق المناکب به نه مراعات کیږی ،کوم شخص ویلی شی چه الزاق المناکب اصل دی لوالزاق الکعب غیرمقصود دی ،دریم دالزاق الکعب چه کوم صورت هم واخستل شی دالزاق الرکب سره ددې تحقیق هیڅ صورت نشته څکه درکبه په معنا د زنګون الزاق دبلی رکبی سره هغه وخت کیدلی شی چه دواړه سره متقابل اومتواجه وی لکه چه ظاهره دی البته محاذات درکب په هرحال ممکن دی ددې وجوهوڅخه ثابته شوه چه دکوم الزاق دعواکولی شی حدیث په هغه باندې دلالت نه کوی بلکه دفرجاتودپریښودودممانعت سره دهغه نفی کیږی. والله اعلم وعلمه اتم ۹ شوال ۱۳۲۳ھ،امدادص ۸ج۴،

تحقیق دصحت اقتداء اولوی مسجددلوی فصل سره سره

سوال :(۳۳٤)ستاسوپه خدمت کې داعرض دی چه دګوهربهشتی مطبع مجتبایې صفحه ۵۵ مسئله نمبر ۷ کې راغلی دی کهمسجدډیر لوی وی،په همدی ترتیب که کور لوی یاځنګل وی اودامام مقتدی ترمینځ دومره خالی میدان وی چه دوه صفه پکې راتلی شی نودغه دوه ځایونه یعنی هغه ځای چه مقتدی ولاړدی اوهغه ځای چه امام ولاړدی مختلف ګڼل کیږی او اقتداء به درسته نه وی ددینه معلومیږی چه دګرمی په موسم کې چه خانه کعبه ته متصل ختیځ طرف ته امام ولاړوی یودوه صفه هم دهغه سره ولاړوی دهغوی اقتداء خوصحیح کیږی اوډیرصفونه دشل پنځه ویشت صفه په فاصله باندې ولاړوی ،په مینځ کې ځای خالی پروت وی دهغوی اقتداء نه صحیح کیږی اوس دسوال مقصود دادی چه دبنده خوکاله هلته قیام ؤ اولمونځ بې په فاصله والاجماعت کې شریکیدوسره کړی دی اوس هغه اقتداء صحیح نه وی نولمونځ وشواوکنه ، که درست نه دی نوڅه کول پکار دی،دډاکې دبعضوعلماؤنه می پوښتنه وکړه خوشفاورکونکې خواب ندی ملاوشوی ،حضرت چه څه فرمایې هغه به انشاء الله په عمل کې راولم؟

جواب :دډیرلوی مسجدمثال بې په درمختاروغیره کې قدس مسجد لیکلی نومسجدحرام هومره لوی ندی ،دهمدی لپاره هلته کوم اشکال نشته اوپه ردالمحتارکې دنوازل څخه دجامع

قدیم خوارزم هم په مثال کې راوړی دی اودهغه صفت داسې لیکل شوی فان ربعه علی اربعة الاف اسطوانة اودجامع قدس په تفسیر کې لیکل شوی دی اعنی مایشمل علی المساجد الثلاثة الاقصی والصخرة والبیضاء کذاق البزازیة په دی باندې هم همغه تفریع ده والله اعلم ،اودعالمګیریه په باب خامس فی الامامة فصل رابعه کې په مسجدکې علی الاطلاق فصل غیرمانع عن الاقتداء ویلی دی اګرکه څومره لوی مسجدچه وی عبارتها والمسجد وان کبرلایمنع الفاصل فیه کذافی الوجیزللکردری نودبهشتی ګوهرمسئله په یوه روایت دتفصیل محتاج اوبه بل روایت غیرمعمول بهابه وی .اشرف علی ۲۳رمضان ۵۲ھ،النورص ۱۰، جمادی الثانی ۱۳۵۷ھ،

دفاسق امام پسی دلمانځه دجوازحکم اوعدم کراهت د اضطرارپه وخت کې

سوال :(۳۳۵)دهغه جامع مسجدپیش امام چه په زرګونه مخلوق هلته لمونځ کوی یوجاهل ،سودخور، بخیل، بی تقوی ،متعلق ،کاذب ، او حریص وغیره وغیره سړی دی په جماعت کې عالم ،فاضل، زاهد، عابد، قاری اومتقی داخل دی نولمونځ دهغوی څنګه دی ،اکثرقوم ناخوښه دی یوازی دحکومت له طرفه دوراثت په طریقه هغه پیش امام مقررشوی دی تول خلک دحکومت لخوامجبوره دی شرعابایدڅه وکولی شی؟

جواب :بایدصبر وکولی شی دحکومت سره مخالفت ښه ندی ، ددې لپاره چه مقتدیان دامام په لری کولو قادر ندی نودا تول کراهت به په امام باندې وی ، دمقتدیانو لمونځ به بی کراهته صحیح وی .تتمه اولی ۳۱۵،

په ځان باندې دمقتدی مخکې کول کله چه امام په لمانځه کې بی اودسه شی

سوال :(۳۳٦)زیدامام لمونځ ورکولو په کوم رکعت کې هغه بی اودسه شوددې لپاره چه دده شاته کوم مقتدی دلمونځ ورکولولایق نه و لهذا هغه غوښتل چه لمونځ پریږدی اوعلیحده شی، دجماعت ښی اوچپ طرف دامام څخه لس یاپنځلس لمونځ کونکې مخامخ تیرشودامام ځای ته راتلوسره ودریده اولمونځ بې ورکړو آیاپه دی صورت کې دتولولمونځ صحیح شواوکنه فقط؟

جواب :صحیح شوفی الدرالمختارباب الاستخلاف ولم یتقدم احدولوبنفسه وفی ردالمختاراشارالی انه یصیرخلیفة اذاقدمه الامام اواحدالقوم اوتقدم بنفسه کماقدمناه عن النهر-فقط یکم جمادی الاولی ۱۳۲۲ھ امدادص ۵۰ج۱،

ددینوی اواخروی غرض لپاره په غیرعربی ژبه

باندي په سجدی کولوکي ددعاء دحکم تفصیل

سوال :(۳۳۷) دلمانځه په مینځ ددعاء په باره کي یوخط د یوصاحب په لاس ددي ځای یوعالم ته راغلی دی چه ددي عریضی سره یوځای بي ستاسوخدمت ته درلیږم ځکه ځاددي په مضمون کي شک دی لهذا تاسو عالی خدمت مکلف دی چه دلاندي سوالونودباصواب ځوابونو ځخه معززوفرمایي (۱) په فرض یا سنت لمانځه کي په سجدی یاپه بل کوم رکن کي په عربی یاپه کومه بله ژبه کومه غیرمنقوله دعاد دنیا او آخرت لپاره کول جائزدی اوکنه ؟ (۲) دلمانځه په دوران کي مطلقا کومه دعاء مفسده دلمانځه ده او کنه ؟ خصوصا په سجده کي وروسته دتسبیح ځخه (دهغه خط نقل دادی) په سجدی کي ددعاء کولومتعلق صفاحدیثونه دي هودارښتیا دی چه دتسبیح نه علاوه دادي او تسبیح مقدمه ده په مشکوة کتاب الصلاة باب السجود کي راغلی دي کان النبی ﷺ یقول فی سجوده اللهم اغفرلی ذنبی کله دقه وجله واوله واخره وعلانیته وسره رواه مسلم اوپه مسلم کي دی وګوره مشکوة کتاب الصلوة باب السجود (قال قال رسول الله ﷺ اقرب مایکون العبدمن ربه وهوساجدفاکثروالدعاء) دلته ئی په سجدی کي په خصوصیت سره ددعاء دکثرت حکم ورکړی دی ددینه علاوه نورهم حدیثونه شته خودا دوه کافی دی درسول الله ﷺ عمل هم دی چه دماثوره تسبیحاتونه علاوه به بي په سجدی کي دعاء هم کوله اوداحکم هم دی چه په سجدی کي دعاء ډیره کوی نوهرکله چه ددعاء حکم دی نوچه په کومه ژبه بي انسان غواړی ودی غواړی ،یوسړی په عربی نه پوهیږی هغه په خپله ژبه باندي دعاء کولوسره دغه حکم پوره کولی شی دمسلمانانولمونځونه دهمدی لامله بی اثره دی چه په لمانځه اوخصوصاً په سجدوکي دکثرت دعاء ځخه کارنه اخلی آه ؟

جواب :ومنه الصدق والصواب اولاً لاندي مقدمات وړاندي کولی شی سره ددلایلوبي (۱) ددعااطلاق په حمدباندي هم راغلی :عن جابر قال قال رسول الله ﷺ افضل الذکرلااله الاالله وافضل الدعآء الحمدلله رواه الترمذی وابن ماجة مشکوة ج۱ص ۱۹۲ (۲) په فرض لمونځ کي اصل جماعت دی اوپه جماعت کي اصل تخفیف دی (عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ اذا صلی احدکم للناس فلیخفف فان فیهم السقیم والضعیف والکبیر واذاصلی احدکم لنفسه فلیطول ماشاء متفق علیه مشکوة ج۱ص ۹۳ (۳) تطویل صلاة اوادعیه طویله دمقدمی په قرینه

په نوافلوپوري مخصوص دی :ویؤیده ماروی عن محمدمسلمة قال ان رسول الله ﷺ اذاقام یصلی تطوعاً قال الله اکبرالی قوله اللهم انت الملک لااله الاانت سبحانک وبحمدک ثم یقراورواه النسائی مشکوة ج۱ص ۷۰ (۴) په رکوع اوسجده کي اصل اومستمرسنت تسبیح ده عن حذیفة انه صلی مع النبی ﷺ وکان یقول فی رکوعه سبحان ربی العظیم وفی سجوده سبحان ربی الاعلی الحدیث رواه الترمذی وابوداود والدارمی والنسائی وابن ماجة ص۷۵ج۱مشکوة (۵) ددعااصل ځای په لمانځه کي دقعدی حالت دی ددرودشریف نه وروسته عن فضالة بن عبیدقال بینما رسول الله ﷺ قاعد اذدخل رجل فصلی فقال اللهم اغفرلی وارحمنی فقال رسول الله ﷺ عجلت ایهاالمصلی اذاصلیت فقعدت فاحمدالله بماهواهله وصل علی ثم ادعه قال ثم صلی رجل اخربعد ذلک فحمدالله وصلی علی النبی ﷺ فقال له النبی ﷺ ایها المصلی ادع تجب رواه الترمذی وروی ابوداؤد والنسائی نحوه مشکوة ج۱ص۷۸ .په دی مقدماتوکي دتامل کولوسره معلومیږی چه دفرضو په سجدی کي ددعاء عادت ګرځول دسنت دقواعدوخلاف دی دځوجهولامله اول هغه دصلاة دتطویل موجب دی چه په فرضوکي دجماعت په حالت کي ناخوښ دی اودجماعت پرینبودل خپله ناخوښ دی خصوصاً کله چه ددي باب دعاهم ملحوظ وګرځول شي دکوموچه اهتمام واردي چه ددینه وړاندي به درود هم وی داثول یوځای کیدلوسره ډیرتطویل جوړیږی ،دوهم تغیردمحل ددعاء دی دقعوددحالت دریم داصل وظیفي دسجدی ځخه عدول دی چه اکتفاء ده په تسبیح باندي همغه شان چه دنصوصودظاهرمقتضی ده اومو کدسنن ډیراحکم دفرض مشابه دی ،نوهغه هم احتیاطاً دهغو سره ملحق وبل کیږی نوپه کوموحدیثونوکي چه دعافي السجود وارده دی یاخومحمول ده په فعل احیاناباندي ،یاپه نوافلوباندي اوبعضی ئی محمول کوی په مطلق حمد، ثنا او تسبیح باندي ترڅو د نصوصو او روایتونو اودهغوی دمقتضیاتواوقواعدوکي تعارض نه وی نو دا خبری اتری په مطلق دعاء کي دی اوس په خصوصیت کي باقي پاتي شویحث دعاء بالعربیة وحرم بغیرها په نهراوردالمحتارکي راغلی دی (قال فی غرر الافکارشرح دررالبحارفی هذاالمحل ویکره الدعاء بالعجمیة لان عمر نهی عن رطانة الاعاجم اه الی قوله ولایبعدان یکون الدعاء بالفارسیة مکروها تحریمافی الصلوة وتنزیهاخارجهاج۱ص ۵۴۳ .ددي روایت ځخه معلومه شوه چه په لمانځه کي دننه په غیرعربی ژبی باندي دعاء کول حرام یامکروه تحریمی دی

اوحضرت عمراثر په همدې باندې محمول دی اوهمدارنګه داوجه هم ظاهره ده چه کله هم کوم عجمي ته ددې اجازت ندی ورکړی ،اوباتې شوه داچه بې پوهي دعاګانې حضورنه وی ،نودداسې مختصرودعاګانوکوم چه په لمانځه کې په خپل خای کې لوستل کیږی چانه پوښتلوسره ترجمه یادهغه حاصل معلوم کول اودهغه استحضاراول دشواردی ګنی داسې عذرکیدلوکیدلوسره دقران مجیدپه خای کې دهغه ترجمه لوستل په لمانځه کې رائی.به ورکول راشی. ۲۹ربیع الاخر ۱۳۳۴ھ (تتمہ رابعہ ص۲۷)

په فجر،ظهراوعشاء لمانځه کې دقبلیه سنتوله اداء نه بغیر دامامت عدم کراهت

سوال :(۳۳۸)ددین علماء په دی مسئله کې څه فرمایې چه دفجر،ظهر ، عصریاعشاء په وخت کې دفرض نه وړاندې مقتدی سنتونه کوی اوامام صاحب بې له کوم عذر یا بلا عذره ونه کړی په جماعت کې خوبه کومه شبهه دکراهت نه وی؟

جواب :نشته ۱۹ذی الحجه ۱۳۳۸ھ (حوادث خامسه ص۳۷)

دجامع مسجدفضلیت

سوال :(۳۳۹) (۱) پنځه وخت لمونځونه په جامع مسجدکې کول افضل دی اوکه دمحلی په مسجدکې دجماعت سره کول افضل دی ؟ (۲) اودافضلیت دجمعی دلمانځه پورې دی او(۳) که عام دی ؟

جواب : (۱) دمحلی په مسجدکې (۲) هودغیراهل محلی لپاره (۳) هوداهل محلی لپاره. فقط ۲رمضان ۱۳۳۰ھ

دلمونځ کونکودرابللوحکم دلمانځه داداکولولپاره په مسجد کې

سوال :(۳۴۰) (۱) خمونږ په محله کې انتظام وشوچه پنځه وخته هر لمونځ کونکې دلمانځه لپاره راوغوښتل شی دهمدی لپاره څوارلس انسانان ټاکل شوی دی ،کله چه اذان وشی په همدې وخت هغه ټول سرپان په محله کې اوازونه کوی راشی لمونځ کونکولمونځ تیاردی په مسجدکې اذان شوی اوهغوی د خپلوکوروتوڅخه راوتلوسره ادمیان راشواړی مسجدته راځی داسې کول درست دی اوکنه ؟یوه مولوي صاحب وفرمایل چه دا بدعت اومکروه دی ؟

جواب :ماته هم همدا معلومیږی ۱۳۳۹ھ)

سوال (۲)اوکه داذان نه وروسته دمسجد دمینځ نه مؤذن یابل آدمی دلمونځ کونکودعوت وکړی نوبیا هم جائزدی اوکنه اوکه جائزدی نومکروه وغیره خوندی ؟

جواب :همغه حکم دی (پورتنی تاریخ)

باب مایفسدالصلوة ومایکره فیها

په لمانځه دتغنی بالقران حکم

سوال : (۳۴۱) که کوم سړی قران شریف دتغنی په طرز اداء کړی دهغه پسې لمونځ درست دی اوکنه؟

جواب :که دغه لوستونکې محض تحسین داوازکوی نوعین ښه والی دی اوداسې پسې لمونځ جائزبلکه افضل دی (عن البراء بن عازب قال سمعت رسول الله ﷺ يقول حسنواالقران باصواتكم فان الصوت الحسن تزيدالقران حسنارواه الدارمى .اوکه حرف دومره تیټ اوپاس کوی چه الفاظ اومعناګانی ورڅخه متغیر او غلطیږی نودهغه خپل لمونځ هم نه کیږی .دهغه پسې دمقتدیانوبه څنګه وشی[1] (عن حذيفة قال قال رسول الله ﷺ اقرؤا القران بلحون العرب واصواتها واياكم ولحون اهل العشق ولحون اهل الكتابين وسيجى بعدى قوم يرجعون بالقران ترجيع الغناء والنوح لايجاوزحناجرهم مفتونة قلوبهم وقلوب الذين يعجبهم شانهم رواه البيهقى فى شعب الايمان ورزين فى كتابه ۱۲من المشكوة فى كتاب فضائل القران والله اعلم (امدادج۱ص ۱۲)

دامام په محراب کې داودریدلودکراهت معنی

سوال :(۳۴۲) مسجدد محراب نه علاوه دمسجدپه صحن کې دمحراب په بریدودریدلوسره دمقرر امام جماعت کول جائزبلاکراهت دی او کنه؟ اوعلماء کراموچه غیرمحراب کې ودریدل مکروه لیکلی دهغې څه معنا دی ؟ اوتودوڅه دجماعت دتبدل لپاره شرعی عذرکیدلی شی اوکنه ؟ دخینوعلماؤ رواج دی چه د مسجد په محراب کې ودریدلوسره جماعت کول ضروری ګڼی ،برابره خبره ده چه کوم قسم تکلیف وی او طبیعت دقاعدی سره سم دلمانځه په طرف متوجه وی اوکنه ددې کوم سندشته اوکنه ؟

[1] یعنی کله چه په معنی کې هم تغیراوفسادراشی اوکه یوازی حرفونه لاندې باندې شی اوپه معنی کې فسادنه وي نوبیا چه لمونځ کیږی خوشدیدکراهت به وي .۱۲منه

جواب: فی ردالمحتار (تنبیه) یفهم من قوله اوالی سارية كراهة قيام الامام فی غیرالمحراب ویؤیده قوله قبله السنة ان يقوم فی المحراب وكذاقوله فی موضع اخرالسنة ان يقوم فی المحراب وكذاقوله وسط الصف الاتری ان المحاريب مانصبت الاوسط المساجدوهی قدعینت لمقام الامام الاوالظاهران هذافی الامام الراتب لجماعة كثيرة اه لئلا يلزم عدم قيامه فی الوسط فلولم يلزم ذلك لايكره تامل ددې عبارت [1] څخه واضحه معلومیږی چه دمحراب محاذی صحن کښې دریدل بلاكراهته جائزدی بلكه وروستی عبارت څخه خودامفهومیږی چه دمحراب محاذ هم نه وی مگردصف مینځ وی دغه وخت هم جایزدی نومعلومه شوه چه د فقهاؤیه قول کښې دمحراب څخه مینځ دمسجدیاصف مراد دی اوس گرمی دمکان دتیدل لپاره دعذر کیدل داستفسار محتاج پاتې نه شواو بدې باب کښې کوم مرفوع فعلی حدیث له سترگونه نه دی تیرشوی البته قولی حدیث غالباًیه ابو داودکښې شته توسطوا الامام وسدوا الخلل، ددینه هم دمذکوره حکم تایید کیږی اوكه دحضور ﷺ دغیرمسجد دحالت سفرلمونځ کولونه استدلال وکولی شی، چه هلته محراب هم نه ؤو نوامکان لری، او دی تقریرسره درسم مذکورفی السوال بی اصل والی هم ظاهرشو (امداد ص۳۵ج۱)

سوال: (۳۴۳) دجماعت په وخت کښې دمسجدیه دروازه کښې دخلکو ودریدل څنگه دی اوچه کله محراب دومره غوځ وی چه امام بالكل په کښې پټیدونودامام داسې محراب کښې ودریدل څنگه دی؟

جواب: فی ردالمحتارفی مكروهات الصلاة وقيام الامام فی المحراب لاوجوده فيه وقدماه خارجه لان العبرة للقدم مطلقاً وان لم يشتبه حال الامام ان علل بالتشبه وان بالاشتباه ولااشتباه فلااشتباه فی نفی الكراهة وفی ردالمحتارسواء كان المحراب من المسجدكما هوالعادة المستمرة اولاكماقی الحروفيه عن الولوالجية اذالم يضق المسجدبمن خلف الامام لاينبغی له ذلك لانه يشبه بتائن المكانين وفيه بعدصفحة وحكی الحلوانی عن ابی الليث لايكره قيام الامام فی الطاق

---

[1] يه شامی ص۲۷۵ باب الامامه کښې مذکوردی (تنبيه فی معراج الدراية من باب الامامة الاصح ماروی عن ابی حنيفة انه قال اكره للامام ان يقوم بين الساريتين اوزاوية اوناحية المسجداوالى سارية لانه بخلاف عمل الامة اه وفيه ايضاً السنة ان يقوم الامام ازاءوسط الصف الاتری ان المحاريب مانصبت الاوسط المساجدوهی قدعينت مقام الامام اه وفی التتارخانية ويكره ان يقوم فی غيرالمحراب الالضرورة آه ومقتضاه ان الامام لوترك المحراب وقام فی غيره يكره لوكان قيامه وسط الصف لانه خلاف عمل الامة وهوظاهرفی الامام الراتب دون غيره فاغتنم هذاالفائدة فانه وقع السوال عنهاولم يوجدنص فيهاآه) دا عبارت دعبارت منقوله فی الجواب سره معارض ده دهغه دی لپاره په خواب کښې ددې لحاظ سائل هم پكاردے ۱۲ (تصحيح الاغلاط ص۷)

عندالضرورة بان ضاق المسجدعلى القوم وفی ردالمحتارباب الامامة فی الكلام على الصف الاول هكذاويعلم منه باولى ان مقصورة دمشق التی هی فی وسط المسجدخارج الحائط القبلی يكون الصف الاول فيهامايلی الامام فی داخلهاومااتصل به من طرفيهاخارجاعنها من اول الجدارالی اخره فلا ينقطع الصف ببنائهاكمالاينقطع بالمنبر الذی هوداخلهافيمايظهراه ددې روایتونونه څوموره معلوم شول اول دامام دمحراب دننه اودریدل چه قدم هم دننه وی مكروه دی، دوهم داچه كه ضرورت وی نومكروه ندی دریم داچه دصف دانقطاع دكراهت موجب دی نودمسجدیه دروازوکښې دننه ودریدل دصف انقطاع موجب دی، لهذامكروه به وی، ويتايد بحديث رواه الترمذی عن عبدالحميدبن محمودقال صليناخلف اميرمن الامراء فاضطرنا الناس فصلينا بين الساريتين فلماصليناقال انس بن مالك كنا نتقی هذاعلى عهدرسول الله ﷺ لاكن په ضرورت كښې دا هم جائز كيدلی شی، والله اعلم وعلمه اتم واحكم ۱۷ ذالقعدہ ۱۳۲۳ھ (امدادالفتاوی ص۲۷ج۱)

دامام ودریدل په محراب کښې

سوال: (۳۴۴) دمسجدیه دهلیزکښې دامام ودریدل څنگه دی په دلیل سره وفرمایې؟

جواب: فی الدرالمختارمكروهات الصلاة وقيام الامام فی المحراب لاسجوده فيه وقدماه خارجه لان العبرة للقدم مطلقاً وان لم يشتبه حال الامام الخ وفی ردالمحتاراقتصرعليه فی الهداية واختاره الامام السرخسی وقال انه الاوجه الخ ج۱ص۲۷۵، دامام دمسجدیه دهلیزکښې داسې ودریدل چه خپی نی هم دننه وی مكروه دی فقط والله تعالى اعلم ۷ ربيع الثانی ۱۳۲۵ھ (امداد ص۸۹ج۱)

په محراب کښې دلمانځه حکم

سوال: (۳۴۵) محراب په مسجدکښې دننه دی اوكنه كه يوازی محراب کښې ودریدلو سره لمونځ وکولی شی صحیح به وی اوكنه په هرصورت دصحت صورت كوم دی فقط؟

جواب: فی الدرالمختارباب مايفسدالصلوة ومايكره فيهاوقيام الامام فی المحراب لاسجوده فيه وقدماه خارجه الخ، ددینه ثابته شوه چه په محراب کښې ودریدلوسره لمونځ كول مكروه دی، اگركه محراب په مسجد کښې داخل ده، (تتمه اولى ص۱۸)

امام ته دفتح ورکولو دغیر مفسد کیدلو حکم اګر که ددری ایتونونه وروسته دی:

سوال :(۳٤٦)په فرض لمانځه کې وروسته دلوستلو ددری ایتونو که امام ته دمری ضرورت شو که مقتدی مری ورکړه نولمونځ خوفاسدیا مکروه نه .کیږی نوکه فاسدیږی نودچافاسدشواوس مکرر لوستل پکار دی؟

جواب :فوراً ویل یاد امام منتظر کیدل چه ماته څه وایه نوبهترنده بلکه بهتره داده چه دبل ځای نه بې شروع کړې وای ،یابې په کافی اندازه لوستل کړی وی نورکوع بې کړی وی لاکن بیاهم که مقتدی وویلی اوامام واخستله نودهیڅ په لمانځه کې خلل نشته (فی الدرالمختار باب مایفسدالصلاة بخلاف فتحه علی امامه فانه لایفسدمطلقا لفاتح وآخذ بکل حال وفی ردالمختارقوله بکل حال ای سواء قرالا مام قدر ما تجوز الصلوة ام لاانتقل الی اية اخرى ام لاتكرر الفتح ام لاهوالاصح نهرثم قال بعداسطرتتمة يكره ان يفتح من ساعته كمايكره للامام ان يلجئه اليه بل ينتقل الی اية اخرى لايلزم من وصلهامايفسدالصلوة اوالى سورة اخرى اويركع اذاقرء قدرالفرض كماجزم به الزيلعي وغيره وفي رواية قدر المستحب كماجحه الكمال بانه الظاهرمن الدليل واقره في البحروا لنهر فقط والله تعالى اعلم .۵شعبان ۱۳۲۲ھ،امدادص۵۵ج۱)

سوال :(۳٤٧)که امام زیات ددری آیتونودلوستلونه وروسته سهوه شی ،مقتدی هغه ته مری (فتح) ورکړی نوامام بې واخلی اوکنه مشهورداده چه که امام فتح واخستله نولمونځ نه کیږی بیادوهم خل لمونځ کول ضروری دی ،اوکه امام فتح وانه خسته نوویونکې لپاره دوهم خل لمونځ کول پکاردی ماویل لمونځ کیږی یوصاحب وویلی چه دامام شافعی په مذهب کې کیږی دحنفی په مذهب نه کیږی آیاپه حنفی مذهب کې دننه په دی مسئله کې اختلاف شته ؟

جواب :هواختلاف شته خوصحیح داده چه نه دامام لمونځ فاسدشو او نه دمقتدی فی العالمگيرية باب مفسدات الصلوة ومكروهاتهاوان فتح على امامه لم تفسدالى قوله قالوا هذااذاارتج عليه قبل ان يقرا قدرما يجوزبه الصلوة اوبعدماقراولم يتحول الى اية اخرى واما اذا قراوتحول ففتح عليه تفسدصلوة الفاتح والصحيح انه لاتفسدصلوة الفاتح بكل حال ولاصلوة الامام لواخذمنه على الصحيح هكذافي الكافي. ۵ربیع الثانی ۱۳٤۲ھ(تتمه خامسه ص۲۵۷)

په لمانځه کې دتنحنح (غاړی تازه کولو) حکم:

سوال :(۳٤٨)په لمانځه کې مطلقا تنحنح جائزبلاکراهت دی اوکنه ؟او چه تحسین صوت لپاره امام اومقتدی تنحنح وکړی نوڅه حکم دی ؟

جواب :فی الدرالمختاروالتنحنح بحرفين بلاعذرامابه بان نشامن طبعه فلا اوبلا غرض صحيح فلولتحسين صوته اوليهتدي امامه اولاعلامه انه في الصلوة فلافساد على الصحيح (جلداول ص۲٤۲ باب المفسدات) ددې روایت څخه معلومه شوه چه که تنحنح بلااختیاره وی هم جائزده اوکه دتحسین صوت لپاره وی نوهم درست دی اوامام او غیر امام پدې کې یوشان دی،والله اعلم ۲۰ رمضان۱۳۲۲ھ(امداد ص۵۲ج۱)

په لمانځه کې دتاوه حکم:

سوال :(۳٤٩)عرض دادی جناب عالی چه دزیوربهشتی یوځای کې یوی مسئلی باندې دکم فهمی لامله پوه نشوم ،مهربانی فرمایلوسره دهغه تحریروفرمایې په دریمه صفحه ددوم حصی دزیوربهشتی کې دلمانځه په مسئله کې اه یااوه ،یاف ،یاهای اووائی ،یاپه زور سره وژاړی نولمونځ له مینځه لاړ،البته که دجنت ،دوزخ په یادولوسره زړه ډک شی اوبه زورسره اواز راوخی نولمونځ نه ماتیږی ۱۲ددې عبارت معنی داسې اخلم چه که په لمانځه کې بې آه یااف یاهای وویلی یابې په زوره وژړل نولمونځ تلل دی ،اوچه دجنت اودوزخ په یادولوسره زړه راډک شی اوبه زورسره دژړا اوازووخی نولمونځ نه ماتیږی اوکه آه یااف یاهای ووائی نوهم لمونځ تللی دی زمادا پوهه صحیحه ده اوکه غلطه تحریروفرمایې ؟

جواب :فی الدرالمختاروالانین والتاوه والتا فیف والبکاء بصوت یحصل به حروف موجع اومصیبة قيدللاربع الالمريض لايملک نفسه عن انين وتاوة لانه حينئذ كعطاس وسعال وجشاء وتثاؤب وان حصل حروف للضرورة لالذكرجنة اوناروفي ردالمختارلالذكرجنة اونارلان الانين ونحوه اذاكان بذكرهماصاركانه قال اللهم انى اسئلک الجنة وان كان من وجع اومصيبة صاركان يقول انامصاب فعزوني كذافي الكافي اه ملخصاً ج۱ص۲٤۷) ددې عبارت څخه معلومه شوه چه که ددوزخ اوجنت دیادڅخه آه اواف وغیره هم دخولی نه رابهرشی دغه وخت هم لمونځ نه فاسدیږی نودزیوربهشتی عبارت صاف ندی هرکله چه په هغه کې دادی چه په زورسره آواز راووخی هملته داوچتیدل هم پکارول چه اف یاآه وغیره راووت(ترجیح خامس ص۱۳۱)

په لمانځه کې دځان سولول

سوال:(۳۵۰)په لمانځه کې سولول ،موږل ، درست دی اوکنه ؟

جواب:فی الدرالمختار وکره کفه ای رفعه ولولتراب کمشمر کم اوذیل وعبثه به ای بثوبه وبجسده للنهی لالحاجة وفی ردالمحتار قوله لحاجة کحک بدنه لشئ اکله واضره وسلت عرق یولمه ویشغل قلبه وهذا لو بدون عمل کثیر قال فی القنیه الحک بیدواحدة فی رکن ثلاث مرات یفسدالصلوة ان رفع یده فی کل مرة اوفی الجوهرة عن الفتاوی اختلفوا فی الحک هل الذهاب والرجوع مرة اوالذهاب مرة والرجوع اخری ، جلد۱ص۴۲۹مکروهات ، ددې روایت څخه معلومه شوه چه دضرورت په وخت موږل جائزدی ترڅو چه دعمل کثیر حدته نوبت ونه رسیږی اودعمل کثیرپه تفسیرکې مشهور اختلاف شته والله تعالی اعلم ۲۰رمضان۱۳۲۸ھ امدادص۵۷ج۱،

دلمن تولول په لمانځه کې

سوال:(۳۵۱)دلمنی یاپانڅو تولول په سانلودخری والی دتنګسیا یا عموماجائزدی اوکنه ؟

جواب:غالباًدسوال مطلب دادی چه په کوم ترتیب چه د بعضی ادمیانو عادت وی چه اکثرا سجدی ته دتلویادهغې نه داودریدلو په وخت پایڅې ، لمن وغیره راټولوی دادرست دی اوکنه نوکه همدا مطلب وی نوځواب دادی چه که دعمل کثیرپورې نوبت ونه رسیده نومکروه دی البته که سخت حاجت ؤ نوکراهت نشته دلیله مامرفی الجواب عن السوال السابق اوکه څه نورمطلب وی نوبه بیانولوسره ځواب ممکن دی والله اعلم۔ ۲رمضان المبارک ۱۳۲۲ھ امدادص۵۷ج۱،

کراهت دلمانځه په شوارلباس کې دمونځونکې لپاره

سوال:(۳۵۲)کوم چه په اکثره کتابونوکې لیکلی شوی چه که دکوم سړی سره کمیس پرتوګ، اوپګړی،موجودوی نودهغه پوازی په کمیس کې لمونځ کول مکروه دی ،دامسئله په حنفی فقه کې موجوده ده اوکنه ؟

جواب:فی الدرالمختار وصلاته فی ثیاب بذلة یلبسهافی بیته ومهنته ای خدمته ان له غیرهاوالا لاوفسرهافی ردالمحتارعن شرح الوقایة بما یلبسه فی بیته ولایذهب به الی الاکابرو الظاهران الکراهة تنزیهیة ددې روایت څخه معلومه شوه چه کوم قسم لباس سره شریفوخلکو مخی ته

ځوک ورځی په هغی کې لمونځ کول مکروه ندی اوددینه په کم حیثیت کې کراهت دی لکن تنزیهی دی۔والله اعلم۲۱ ذی القعده ۱۳۲۲ھ امداد ص۲۲ج۱،

په غیردنفلوکې داستعانت بالرکب دکراهت دلیل

سوال:(۳۵۳)عن ابی هریرة قال اشتکی اصحاب النبی ﷺ الی النبی ﷺ مشقة السجودعلیهم اذا تفرجوا قال استعینوابالرکب،حنفیه دایه نوافلوحملوی دهغوی څه دلیل دی ؟رواه الترمذی ص۴۸مطبوعه اصح المطابع ؟

جواب:روی مسلم عن البراء بن عازب قال قال رسول الله ﷺ اذاسجدت فضع کفیک وارفع مرفقیک وعن عائشة قالت کان النبی ﷺ اذاسجدلو شاءت بهمة ان تمربین یدیه لمرت مشکوة باب السجود ،دغه دواړه حدیثونه داستعانت بالرکب نفی کوی نودتطبیق لپاره واجب وه چه په نوافلوحمل شي یاپه ضرورت او مشقت باندې لکه چه خپله په حدیث کې ددې قرینه واضحه ده فقط ۱۵ربیع الاول ۱۳۲۵ھ امدادص۸۷ج۱،

دجلسهٔ استراحت بین السجدتین نه مفسدوالی حکم

سوال:(۳۵۴)جلسه داستراحت دلمونځ باطلونکې دی نودحنفی لمونځ دجلسهٔ استراحت کونکې پسی کیږی اوکنه ؟

جواب:ددې مفسدکیدل خماله نظرندی تیرشوی لهذااقتداء دصحت مانع نده ،البته کوم خلک چه دی وخت کې دائمه ؤ د تقلید تارکین دي پسبب دنه مراعات دخلافیاتوپه اوداسه کې او همدارنګه[۱] تجاوز دا فساد په عواموکې دهغوی اقتداء خلاف مصلحت اوداحتیاط خلاف دی والله اعلم وعلمه اتم ۲۱شوال۱۳۳۳ھ امدادص۲۲،

[۱] اوهمدارنګه ددې لپاره چه داحضرات اکثرامتیازی کولوسره لوته نه اخلی اوپه سبب دضعف قوت ماسکه قطره راتلل غالب دي چه کله کله دے نه خبرهم نه وي نوخلوړینځه خل غالب ګمان دادے چه دقدردرهم څخه زیات نجاست په پای جامه باندې ولګیږي نودصلوة دمانع کیدلوپه سبب مانع دصحت دامامت هم دے ۱۲ منه

کراهت [۱] دمفصل په لنډوسورت سره اوقراءت خلاف ترتیب بلا لزوم سجدهٔ سهو

سوال :(۳۵۵)په مسند داحمدبن حنبل کې دی : عن علی رضی الله تعالی عنه قال رسول الله ﷺ یوتربتسع سورمن المفصل قال اسود یقرأ فی الرکعة الاولی الهاکم التکاثر وانا انزلناه فی لیلة القدر واذا زلزلت الارض وفی الرکعة الثانیة والعصر واذاجاء نصرالله والفتح وانا اعطیناک الکوثر وفی الرکعة الثالثة قل یاایهاالکافرون وتبت یداابی لهب وقل هوالله احد،په کوم ترتیب سره چه په دی کې سورتونه ذکرکړی شوی په همدې ترتیب لوستل درست دی .یامقدم اومؤخر کول درست دی یاپه هغه طورچه محکې په نمبر۳، ۲، ۱ ،دوهم ۴، ۲، ۵ ،دریم کې موافق دحدیث یابدې ترتیب لوستل مسنون پاتې کیږی ؟

جواب :دقران دجمع کولو نه وړاندې دسورتونوترتیب اختیاری ول همداوجه ده چه د صحابه ؤپه دی کې اختلاف ؤ داخپله دلیل دی چه دکوم خاص ترتیب رعایت واجب نه ؤکنی صحابهٔ وهغه نه پرېښودو په موجوده ترتیب باندې دصحابه ؤاجماع راغله اوداجماع اتباع ضروری دی اوس دهغې مخالفت ندی پکار اوثابته ده چه دمرفوع عمل په خلاف باندې اجماع کېدل علامه دمنسوخیت ددغه مرفوع ده د همدې په خاطر که اوس داسورتونه لولی نوپه اوسنی ترتیب بې لولی .۲۹ذی الحجه ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه ص۱۰۲)

یوازی دازار اوڅادراغوستلوسره دلمونځ کولوحکم :

سوال :(۳۵۶)دلته یوه مدرسه ده دسجانیه په نوم دهغې مدرسینډیوی استفتاء متعلق عجیبه خبری تحریر کړی دی .سائل داسوال کړی چه څادراولنګی اغوستلوسره لمونځ کول سره له دی چه پرتوګ موجود وی لمونځ درست دی اوکنه ؟ داخواب لیکل شوی چه هرکله عمده لباس وی نومکروه کیږی،اودې ځای امراؤته دعمده لباس اغستلوسره ورځی او د الله په وړاندې دردی لباس سره داسې پکار نده، جناب مولنا منیرالدین صاحب چه څماپه مدرسه کې دی ددې خواب تحریر وفرمایه چه دالباس درسول الله فعل دی ، کله چه کېږه صفا وی نودا بذله جامه چه فقهاؤ مکروه لیکلی ندی اوبذله جامه هغه ده چه ردی وی چه بدبوېې وغیره پکښې وی کله چه دلنګی اوڅادر ښنتن دی نو دا عمده لباس دی .دهغه سره لمونځ نه مکروه کیږی جناب مولنامحی الدین صاحب ددې تصدیق وکړکوم چه مولنامنیر الدین صاحب تحریر

[۱] داسوال اوخواب ج۱ص۱۵۸نمبر۲۳۲باندې راځي (امداد ص۲۸)

فرمایلی ؤ اومولناولایت حسین صاحب هم ددې تصدیق وکړوچه لمونځ نه مکروه کیږی،دسجانیه مدرسی مدرسینو د دی رد په زوراوشور سره وکړورددا ؤ چه فقهاؤ رحمهم الله دبذله جامی عام تعریف وکړ اوهغه دا لایذهب بتلک الثیاب الی الامراء کله چه د خلکوعادت داسې دی چه دلنګی اوڅادراغستلوسره امراؤ ته نه ورځی معیوب ګڼل کیږی نوحتماً جامه بذله شوه اولمونځ مکروه شو.اود رسول الله دهرفعل څخه په جوازبلاکراهت باندې استدلال کول جائز ندی ،کله چه وویل شی چه په فقه کې دخدمت جامه وی یابدبوی لرونکې دالیکل شوی چه هغه فرد دبذله جامی دعام تعریف همغه دی چه دلایذهب بتلک الثیاب الی الامراء څخه ثابته ده تاسی حضور د دی په هکله دڅه تصریح سره تحریروفرمايې چه دلایذهب بتلک الثیاب الی الامراء مطلب څه دی محض دعادت اورواج سره دخلکو څادر اولنګی په بذله جامی کې راځی اولمونځ مکروه کیږی اوحضور علیه السلام دا لباس همیشه اغوستی دی اوکنه ،پرتوګ وغیره د رسول الله فعل دی اوکنه یایوازی خوښول بې

جواب :څماپه نزد محقق ددې تفصیل دی چه کوم شخص دڅادر اوپرتوګ سره لمونځ وکړی آیاسنت ګڼلوسره بې کوی یادمعتادلباس داغوستلوسره دسست کیدلو سره لړلی ، په اول صورت کې کراهت نشته څکه چه داسې سړی ددې لباس سره نورمجموعه هم بې تکلفه تللی شی چه هغه داحترام لباس ګڼی اوپه دوم صورت کراهت شته چه خپله همدالباس دهغه په نظرکې لویدلی (بذله) ندی ددې تفصیل سره ټول دلایل دمتنازعینودرست پاتې شول اونزاع لفظی شوه دموضوع بدلولوسره محمول بدل شو. اشرف علی ۲۵شعبان ۱۳۲۷ھ (تتمه اولی ص۱۷)

ددوه ستنوترمینځ دلمانځه حکم :

سوال :(۳۵۷) (۱) دفتح القدیر اوردالمحتار دباب الامامة ددې عبارت الاصح ماروی عن ابی حنیفة انه قال اکره للامام ان یقوم بین الساریتین اوزاوية اوناحية المسجداوالی سارية لانه بخلاف عمل الامة اه .دحضرت امام ابوحنیفه په قول اوتحقیق دامام دضرورت نه بغیردامامت په حالت کې دمسجدپه دی لیزاودروازه کې چه بین الساریتین وی داودریدلو کراهت ثابتیږی اوکنه ؟ (۲) دکراهت دحکم دثبوت په صورت کې دصحیحین وغیرهماهغه حدیثونه دامام اعظم دقول معارض ګرځی د کومونه چه دحضرت بلال په قول درسول الله په کعبه کې دننه دعمودینو په مینځ کې ودریدلوسره لمونځ کول ثابت دی یاپسبب دمنفردوالی د حضرت علیه الصلاة والسلام مذکوره معارضه قیاس مع الفارق او باطل دی (۳) دبدائع

داعبارت چه الافضل للامام ان یقف فی مقام ابراهیم ،کوم چه شامی ،بسبب دوقوع دمقام ابراهیم بین السارتین ،کې شته اوکنه په دوهم صورت کې دظاهری تعارض ددفع کولوڅه تقرر تنقیح دی ؟

جواب : (۱) کراهت ثابتیږی کماهوظاهر (۲) قیاس مع الفارق دی للوجه المذکورفی السوال (۳) دامقام ابراهیم ویل داسې دی لکه څنګه چه په باب الامامة ددینه لږ وړاندې عبارت کې السنة ان یقوم فی المحراب الخ کې دالمحراب وبنامګردیل دلیل څخه فی المحراب یقیناً مقیددې دقدمینودخروج سره فی مکروهات الصلاة من الدرالمختاروقیام الامام فی المحراب لاسجوده فیه وقدماه خارجة نویه همدې ترتیب فی مقام ابراهیم هم مفیددی دهمداسې قیدسره دهمدی لامله هیڅ تعارض پاتې نه شو (۲۱ ذی الحجه ۱۳۲۷ھ تتمه اولی ص۲۳)

دمسجدپه صحن اودمحراب په مقابل کې دامام داودریدلو حکم

سوال : (۳۵۸) داحناف علماءڅه فرمايې په دی مسئله کې چه دمسجد په صحن یاپه وړاندې چت یاپه سایبان کې دمحراب په سیدايې کې دامام اودریدل مکروه دی اوکنه اودمحراب څخه علیحده کیدل څه وخت متصورکیدلی شی اوپه مکروه کیدلوکې فرض، تراویح اووترو غیره حکم یودی اوکه بیل بیل اوڅنګه ؟ (۲) مقتدی ته یامنفرد ته یاامام ته دمسجد په تنه یاسائبان دستنوپه مینځ کې ودریدل برابره خبره ده چه هغه ستنه دلرګی وی یاوسپنی اویاډبری دبوح عبارت وی اوپه هغه باندې ګرد محراب وی اوکنه وی لکه څنګه چه محراب کې اودریدل مکروه دی په دی کې هم مکروه دی اوکنه اودټولوحکم یودی اوکه بیل بیل ؟

جواب : (۱) په ردالمحتار ۱ ص۵۹۳ او۵۹۴ کې داول معراج څخه السنة ان یقوم فی المحراب اوددې بې داعلت فرمايلی چه لیعتدل الطرفان ددینه وروسته بې دامام صاحب څخه نقل کړی اکره ان یقوم بین الساریتین اوفی زاویة اوفی ناحیة المسجداوالی ساریة لانه خلاف عمل الامة اوپه دی باندې بې ددې حدیث توسطوا الامام څخه استدلال کړی دی، ددینه وروسته بې ددې تایید نی په دی ترتیب کړی دی الاتری ان المحاریب مانصبت الاوسطالمساجدوهی قدعینت لمقام الامام په دې سبب سره ظاهره ده چه مقصود محراب ندی بلکه توسط دامام دی اودمحراب د ترک څخه کله چه په یوه ناحیه دزاویه کې وی دتوسط ترک لازمیږی همدا وجه ده چه په کراهت کې بې دقیام بین الساریتین وقیام فی زاویة وقیام فی ناحیة ذکروکړو دقیام فی الصحن ذکربې ندی کړی څکه چه قیام فی الصحن مستلزم دترک توسط نده ،لکه چه ددې نه

وروسته بې تصریح کړی ده ، والظاهران هذافی الامام الراتب لجماعة کثیرة لئلا یلزم عدم قیامه فی الوسط فلولم یلتزم ذلک لایکره تامل اوپه دغه حکمونوکې مطلقا دامام لپاره ویل شوی دفرض اوغیرفرض کې فرق ندی لیکلی اوکه دچا لپاره دردالمحتارددې عبارت څخه شبهه واقع شوه وفی التاتارخانیة ویکره ان یقوم فی غیرالمحراب الالضرورة اه ومقتضاه ان الامام لوترک المحراب وقام فی غیره یکره ولوکان قیامه وسط الصف لانه خلاف عمل الامة ددې ځواب دادی چه مراد دغیرمحراب څخه غیروسط دمسجددې لکه څنګه ددې څخه پورته عبارت دهغه قرینه ده السنة ان یقوم الامام بازاءوسط الصف الاتری ان المحاریب ما نصبت الاوسط المساجدوهی قدعینت لمقام الامام ص۲۷۵ ج۱ ، اوله وجه داچه وسط د مسجدپرینبودوڅخه کله چه په مسجدکې ټول صف وی نویوطرف مقتدی کم وی اوبل طرف زیات (۲) امام ته مکروه ده لاشتراک العلة او مقتدی ته دانقطاع صف په حالت کې اومنفرد ته مکروه نده لانتفاء علة الکراهة (۲۰ رمضان ۴۳ھ تتمه خامسه ص۳۲۹)

تخلل دستنوپه صف کې

سوال : (۳۵۹) دپنجاب اوخراسان منطقوکې دصیفی اوشتوی مسجدو نو دجوړښت په وخت کې دصف لاندې ددوارودیوالونوپه مینځ کې ستنه ورکوی ،اودلمونځ کونکو د صف تړلوپه وخت هغه ستنی دصف په مینځ کې راځی اودیومصلی ځای نیسی ،بعضی علماء فرمايې چه داحائل کعدم حائل دی نوفرجات الشیطان متحقق شول، ویدخل فیه الشیطین کانها خذف برد مطلق ،اوبعض فرمايې چه دصفونوپه مینځ کې دستون حائل کیدل پشان داودریدل دمصلی دی اودشیطان په فرجاتوکې داخل شو، څکه چه دخول په هغه صورت کې دی چه قصداًپه صف کې فرجه دد ووکسانو په مینځ کې شیطان داخل نه شو، څکه چه دخول دشیطان په هغه صورت کې دی چه قصداً ددووکسانو په مینځ کې فرجه پریښودل شی او داراتلل دستنی اضطراری حالت دی ،نه اختیاری څکه دومره اوږدلرګی چه سرپه سرپه دیوالونو کیښودل شی نادرالوجود دی والضرورات تبیح المحظورات،پدې کارکې چه هرڅه ارشادوشی واجب العمل به وی،که د اول بعض قول درست شی ترڅوستنی دمسجدونوڅخه ویستل کیدلو سره په بل ډول وکولی شی اوکه دبعض ثانی قول درست شی نوموږ به دوعیدد و سواس څخه ایمن یوامیددې چه په دی صورت کې یوه جزئیه نوشته شی په حواله دکتاب صفحه ،باب ترڅوپه مخالف باندې قوی دلیل شی؟

جواب : دا [1] جزئيه تصريحاً دنظرنه نده تيره شوی اونه دکتابونو ذخيره لرم چه پکښې تتبع وکرم لکن هغه څه چه دکلياتو او نظائرو څخه پوه شوی يم دادی چه که په کوم ډول دستنی دراتلو مخنيوی ممکن وی بايد خان ساتنه تری وشی خکه چه مراصه په صفونوکښې ماموربه ده او دسواری حيلولت مفوت دمراصت دی اوکه تحرز ممکن نه وی نوامر واسع دی کمافی ردالمحتار الجلدالاول ص۵۹۵، قال [2] فی البحر تكلموا فی الصف الاول قيل هوخلف الامام فی المقصورة وقيل مايلی المقصورة وبه اخذ الفقيه ابوالليث لانه يمنع العامة عن الدخول فی المقصورة لاتتوصل العامة الی نيل فضيلة الصف الاول ثم قال ويعلم منه بالاولی ان مثل مقصرة

---

[1] مولوی خليل احمدصاحب مدظلهم العالی په تنشيط الاذهان کښې دسرخسی دمبسوط څخه نقل فرمائی والاصطفاف بين الاسطوانتين غيرمكروه لانه صف فی حق كل فريق وان لم يكن طويلاوتخلل الاسطوانتين بين الصف كتخلل متاع موضوع اوكفرجة وبين رجلين وذلک لايمنع صحته الاقتداء آه، ددې عبارت دظاهر څخه په ضرورت اوعدم کښې دعدم کراهت حکم معلوميږي لاشتراک العلة لکن دانس حديث ددې معارض فالح هوالتفصيل المذكورفی الجواب ۱۲ تصحيح الاغلاط ص۱۳،

[2] په دې نقل کښې اختصارمخل دے دهمدی لامله اول ټول عبارت نقل کولی شی ددينه وروسته ضروري تحقيق ليکل کيږی په ص۵۹۵ په شامی کښې دي قال فی البحرفی آخرباب الجمعة تكلموافی الصف الاول قيل هوخلف الامام فی المقصورة وقيل مايلی المقصورة وبه اخذالفقيه ابوالليث لانه يمنع العامة عن الدخول فی المقصورة فلاتتوصل العامة الی نيل فضيلة الصف الاول آه اقول والظاهران المقصورة فی زمانهم اسم لبنيت فی داخل الجدارالقبلی من المسجدكان يصلی فيهاالامراء الجمعة ويمنعون الناس من دخولهاخوفامن العدووعلی هذااختلف فی الصف الاول هل هومايلی الامام من داخلهاام مايلی المقصورة من خارجهافاخذالفقيه بالثانی توسعة علی العامة كی لاتفوتهم الفضيلة ويعلم منه بالاولی ان مثل مقصورة دمشق التی هی فی وسط المسجدخارج الحائط القبلی يكون الصف الاول فيهامايلی الامام فی داخلهاومااتصل به من طرفيهاخارجاعنهامن اول الجدارالی آخره فلاينقطع الصف ببنائهاكما لاينقطع ... الذی هوداخلهافيمايظهروصرح به الشافعية وعليه الفتوی فلووقف فی الصف الثانی داخلهاقبل استكمال الصف الاول من خارجهايكون مكروها ويوخذ من تعريف الصف الاول بماهوخلف الامام ای لاخلف مقتدآخران من قام فی الصف الثانی بحذاء بابه لمنبريكون من الصف الاول لانه ليس خلف مقتدآخروالله تعالی اعلم آه، په دې عبارت کښې امام شامی اول داول صف تعين کښې دعلماؤ اختلاف ملاحظه کړي چه بعضی دهغه صف ته اول وائی چه دامام پسی په مقصوره کښې دننه وي اوځينې هغه صف ته چه مقصوری ته نژدې اوورڅخه بيرون وي، ددينه وروسته مذكوردعلامه ابوالليث رايه ئی ظاهره کړی اوبه دی غرض چه عوام داول صف دثواب څخه محروم نه شی نوقول ثانی اختياروی ددينه وروسته هغه استنباط کړی ده اوويلی دي چه دامام ابوالليث دفتوی څخه دامربالاولی ظاهريږی چه په جامع دمشق کښې په کوم کښې چه مقصوره ديوال دقبلی څخه بهراودمسجدپه مينځ کښې واقع په دې کښې اول صف هغه دے چه دننه په مقصوره کښې واقع دے اوکوم خلک چه دمقصوره څخه بهردمذكورصف په دواړوارخونوباندې ولاړدی، هغه صف اول کښې داخل دے اودمقصوره ددیوالوپه مينځ کښې دحايل کيدلوڅخه صف نه منقطع کيږی اگرکه موصوف علامه ددې استنباط وجه نده بيان کړی مگرخمابه نژددې وجه

دمشق التی هی فی وسط المسجدخارج الحائط القبلی يكون الصف الاول فيهامايلی الامام فی داخلهاوما اتصل به من طرفيهاخارجا عنهامن اول الجدارالی اخره فلاتنقطع الصف، ببنائهما كما لاتنقطع بالمنبرالذی هوداخلهافيما يظهروصرح به الشافعية آه قلت [1] وقدثبت بهذه الرواية ان القاطع فی محل الضرورة ليس بقاطع ويويده ماروی الترمذی فی باب كراهة الصف بين السواری عن عبدالحميد بن محمود قال صليناخلف اميرمن الامراء فاضطرناالناس فصليناببين الساريتين

يعنی : داده چه هرکله ابوالليث دعوامو داول صف دفضيلت دحاصل کولولپاره هغه صف ته اول صف وائی چه صف واقع فی المقصوره شانه دے نوهغه صفونه چه ددې دواړخونوکښې دی هغه نوبالاولی په اول صف کښې داخليږی، اوچه کله هغه په اول صف کښې داخل شونوومېنی صف ته داول صف ويلوکوم ضرورت نشته، لهذا اول صف هغه صف دے چه دننه په المقصوره اوهغه په دواړوارخونوکښې واقع دے، اوچه کله مذکورصف اول صف جوړشونواوس دمقصوره ديوالونه دصف قاطع نشی کيدلی، داتقريرسبب د استنباط وو، لاکن خمابه دي کښې کلام دے اولاً ددې لپاره چه داول صف دفضيلت دحصول لپاره داضروري نده چه دوهم صف ته اول صف وويل شی بلکه ددې لپاره دقرب امام امکانی کوشش کافی دے کمالايخفی علی العارف بقواعدالشرع اوثانياً ددې لپاره چه که دمقصوره څخه خارج صف اول صف ومنل هم شی او داهم منل کيدلی شی چه کوم خلک صف واقع فی المقصوره اوارخونه ئی هغه په اول صف کښې داخل دے د دينه داته لازميږی چه دمقصوره ديوالونه قطع صف په نه وی، دامکن دے چه دلمونځ گذارانولپاره د صف دقطع کولوگناه نه وی، خکه چه ددې نه بچ کيدل دهغوے په اختيارکښې ندے مگردمقصوری دباضيانو د گناه نه محفوظ کيدل مشکل دي خکه چه هغه ددې قطع سبب په خپل اختيارسره جوړکړی، ثالثاً ددې لپاره چه دامام ابوالليث دمقصوری نه خارج صف ته اول صف ويلوڅخه داهم نه لازميږي چه هغه صف چه واقع فی المقصوره ددمشق کښې اول صف وی، اوهغه خلک چه ددې په ارخونوکښې ولاړدي هغوي دي په اول صف کښې داخل وي، خکه چه دکوم ضرورت لامله چه امام ابوالليث خارج صف ته اول صف ويلی وهغه اوس هم موجوددے ددې لپاره چه هغه ددې وجه دابيان کړي چه که دمقصوراتوصف ته اول صف وويل شی نوعوام داول صف دفضيلت څخه محروميږي خکه چه عوام حجری ته داخليدلی نشی اوس زه وايم چه که په جامع دمشق کښې صف اول صف واقع فی المقصوره ته وويل شی نوخلک داول صف دفضيلت څخه محروميږی خکه دمقصوری ددداخليدلوڅخه حکومت ممانعت کوي اوددې په ارخونوکښې داودريدلوڅخه شريعت ممانعت کوي للزوم القطع، نوضرورده چه بيرونی صف ته اول صف وويل شی خلاصه داده چه ته دامام ابوالليث مسلک قوي دي اونه دعلامه شامی ددينه دااستنباط کول چه جامع دمشق کښې اول صف فی المقصوره کښې دے اوکوم خلک چه ددې په ارخونوکښې ولاړدي هغه په اول صف کښې داخليږي اود مقصوره ديوالونه دصف قاطع ندي کله چه داتمهيدي مضمون معلوم شونواوس پوه شه چه ددې روايت څخه غالباً داستدلال وجه داده چه ددې څخه داثابتيږي چه دضرورت په وخت کښې حائل کالعدم دے نودا مضمون صحيح دے اومدعی په دې باندې استدلال درست دے اگرکه داامرچه په جامع دمشق کښې د مقصوری ديوالونه دصف قاطع ندي محل دکلام دے کماتبين ويويدماقلناتصريح ابن الحاج المالكی بلزوم قطع الصفوف ببناء المقاصر لکن ددې په اصل مقصدهيڅ اثرنشته نوداعبارت په خپل خاے دے اوددې بی متعلقی څخه دمقام شبه دفع کيږی کومه چه په اول نظرکښې احقرته وه ۱۲ تصحيح الاغلاط ص۱۲،

[1] دلته دتصحيح الاغلاط ص۱۵ دعبارت تعبيرشوي دي.

فلماصلیناقال انس بن مالک کانتقی هذاعلی عهدرسول الله ﷺ الحدیث فلینظرفی قوله اضطرناوقوله نتقی یحصل التفصیل الذی ذکر (امداد ص۸۰ ج۱)

دپرتوګ دزوړندوالي په حالت کې دلمانځه حکم تحقیق:

سوال :(۳۶۰)په لاندې مسئلوکې ددین علماء څه فرمايي (۱) دکميس وغیره دیټنوبندولو اوخلاصولوسره لمونځ کول یالمونځ ورکول مکروه دي اوکنه ؟(۲) درسول الله یاصحابه کرامو څخه دیټنوخلاصولوسره لمونځ کول ثابت دی اوکنه ؟(۳) دبهشتي ګوهرپه ۵۸ صفحه باب مکروهات الصلاة کې دامسئله ده چه دلمانځه په حالت کې دقانون خلاف دجامواغوستلو یعني کومه طریقه چه ددې داغستلو ده اويه کومه طریقه چه هغه اهل تهذیب اغوندی دهغې خلاف استعمال کول مکروه تحریمي دی ، په دی کې داصورت داخليږی اوکنه څکه چه ټول مهذب خلک دتنيو (بټنو) اوتکمو نښلول اوخلاصول عملاً په تهذیب کې داخل ګڼی ؟

جواب :عن الثالث وهويغني عن الجواب عن الاولين په اصل کې د کراهت حکم په سدل کې منقول دی اودهغه تفسيرپه ارسال ثواب بلا لبس معتادسره دی کذافی الدرالمختاروحواشيه برابره خبره ده چه ټول ثوب وی یاجزوکې لکه لستوني وغيره بعضوپه دی کې توسیع کولوسره مطلق لبس غيرمعتادهم پدیکې داخل کړی دی لکه چه په ردالمحتارکې دی قال فی الخزائن بل ذکرابوجعفرانه لوادخل يديه فی کمیه ولم يشد وسطه اولم يزرازاره فهومسيء لانه يشبه السدل اه عجب نده په علم فقه کې کوم چه دګوهربهشتي اصل دی ، دکوم چه داتنخاب کیفیت دهغه په خطبه کې مذکوردی دکوم په اساس چه خماپه طرف نسبت تام هم نشته ، داقول راخیستی دی لاکن خپله شامي ددې قول ردهم کړی دی ددې نه وروسته يې نقل کړی چه ونصه قلت لکن قال فی الحلية فيه نظرظاهربعدان يکون تحته قميص اونحوه ممايسترالبدن الخ جلد ۱ ص۲۲۸ وص۲۲۹ اوددې سبب ظاهر دی چه عدم لبس معتاد دسدل حقیقت ندی بلکه دهغه دحقیقت یوقیددې یعنی دارسال اوقید وجود دقيدمستلزم ندی اوهمدارنګه ددې لبس غيرمعتادوالي هم مسلم ندی دسل ګونوصالحينواومتواضعينو دا معتاددی دهمدی لامله څومره نا تمام نسبت ددې مسئلې چه خماپه طرف دی زه دهغې نه رجوع کوم (ذی الحجه ۴۲ه ترجیح ج۵ص۱۴۸)

په لمانځه کې دبنځوترڅنګلواوياګټکيوپورې لوڅولو حکم:

سوال :(۳۶۱)دبنځودلاسونولوڅول ترڅنګلوپورې اوهمدارنګه دهغوی دبجلکولوڅول دلمانځ فاسدونکې دی اوکنه ؟

جواب :ذراع ترمرفق پورې کامل عضوه دی دهغه لوڅول مفسددې که ددری تسبيحوپه اندازه وی اوکعبين عضوکامل ندی لوڅول يې مفسدنده (ردالمحتارج۱ص۴۲۳و۴۲۴ اخيری حصه ، ۱۱صفر ۱۳۲۸ه تتمه اولی ص۳۰)

په لمانځه کې دژړلو حکم:

سوال :(۳۶۲)یوسړی په جماعت کې لمونځ کوی اوهغه یوپه یو دخپله ژړی په اوچت اواز دالله لفظ یاحق ، یاهوهوياآه کولوسره لرزه اوچتوی موږته داعلم نشته چه دادالهی ذوق سره کوی اوکه بغيردالهی ذوق په مرقومه صورتونوکې دمذکورشخص لمونځ درست کيږی او کنه اودقرب اوجوار خلکولمونځ وشو یافاسديږی ؟

جواب :فی الدرالمختارمفسدات الصلاة والانين والتاوة والتاو ضيف والبکاء بصوت لوجع اومصيبة قيدللاربعة الامريض لايملک نفسه عن انين اوتاوه الی قوله لالذکرجنة اونارالخ وفيه باب الامامة اماماتعارفوه (عن رفع الموذنين اصواتهم) فی زماننافلايبعدانه مفسداذاالصياح ملحق بالکلام فتح وبسط القول فيه فی ردالمحتارج۱ص۲۱۲ ، ددې روايت څخه معلومه شوه چه که هغه د الهی شوق اومحبت په خاطر داسې کوی دهغه لمونځ درست شواوکنه ندی درست داتفصيل خوخپله ددی په لمانځه کې دی لکن دورسره خلکولمونځ کې په هيڅ حال کې فساد نه راځی (۲۸ذی الحجه ۲۸ه تتمه اولی ص۳۲)

دلمونځ باطلوالی دربع عضوپه لوڅيدلو:

سوال :(۳۶۳)ددين علماء څه فرمايي چه دمصلی څومره ستر په لمانځه کې مکشوف شی نولمونځ باطليږی؟

جواب :که ربع دعضولوڅ شی اوديورکن داداء په اندازه لوڅ پاتې شی لمونځ باطليږی داهغه وخت دی چه یوځای دومره لوڅ شی اوکه ددوه ځايونوڅخه لږ لږ لوڅ شی نوکه په يوه عضوه کې دوه ځايونه لوڅ دی که ددواړوپه یوځای کولوسره ددې عضودربع په اندازه ګرځی دغه

وخت هم لمونځ باطلیږی اوکه په یواندام کې یوځای اوبل کې بل ځای لږ لږ لوڅ وی نوددواړه اندامونوړوکي اندام دی که دهغه دربع برابر ددواړوځایونو څخه جوړیده دغه وخت هم لمونځ باطل شوویمنع کشف ربع عضوقدراداء رکن بلاصنعه وتجمع بالاجزاء لوفی عضوواحدوالافبالقدرفان بلغ ربع ادناها کاذن منع) درمختار، مختصراً ، والله اعلم ،امداد ص۱۰۱ج۱،

په لمانځه کې دعینکو اینودلو حکم:

سوال :(۳۵۷)دلمانځه په حالت کې دعینکواینودل جائزدی اوکنه په دوهم تقدیرکراهت تنزیهی دی اوکه تحریمی متقدمینوفقهاؤکې چا هم ددې مسئلی تصریح کړی اوکنه ؟ بینواتوجروا؟

جواب :دچشمکواینبودلو عادت نوی دی دهمدی لامله امید نشته چه دچاپه کلام کې دی ددې تصریح پیداشی مګرپه قواعدوکې داخواب دی چه فی نفسه جائز دی لکن عبث فعل دی اوعبث په لمانځه کې مکروه دی،دهمدی عارض په سبب دافعل مکروه شو ،تتمه اولی ص۴۱،

تحریمی مکروه کیدل دلمانځه په هغه ځای نماز

چه دسجدی په ځای بې دځاروی تصویر وی

سوال :(۳٦٤)که په کوم مصلی دسجدی په ځای دانسان یاحیوان عکس وی دامام شافعی اوحنفی مذهب علماء په هغه باندې دلمونځ کولوحکم ورکوی اوکنه ؟دمسئلی دحل لپاره ددواړومذهبونوچه په صحیح حدیث یاقرانی آیتونوباندې یاپه نص باندې په پوره طور وضع اوخلاصه تحریروفرمایې چه پدې مصلی باندې لمونځ درست ،یا مکروه ،یاواجب چه څه دحل اوحرمت څخه وی درحمت عنایت په نظرسره آګاهی راوبښی؟

جواب :فی الدرالمختارمکروهات الصلوة وان یکون فوق راسه وبین یدیه اوبحذائه یمنة اویسرة اومحل سجوده تمثال الخ وفیه اولها ذکره هذه تعم التنزیهیة التی مرجعهاخلاف الاولی فالفارق الدلیل فان نخاظی الثبوت ولاصارف فتحریمیة والافتنزیهیة.ددې روایت څخه ثابته شوه چه په مسئوله صورت کې لمونځ مکروه شواوکراهت هم تحریمی شو چه دحراموپه حکم کې دی اوخماسره دشافعی مذهب کتاب نشته ۲۷شوال ۱۳۳۱ه ،تتمه ثانیه ص۸۱،

دلمونځ کونکي استقبال حکم دروضی مطهری نقشی ته:

سوال :(۳٦٥)دمدینی منوری نقشه چه درسول الله ﷺ دمزارګمبزه هم پکښی دی که چیری خپلې مخی ته زړنده کړه نوپه لمانځه کې څوکومه خرابی نه کیږی ؟

جواب :فی ردالمحتارعن الحلیلة وتکره الصلوة علیه (ای علی القبر) والیه لورودالنهی عن ذلک ج۱ص۸٤٥ وفی الدرالمختاراو لغیرذی روح لایکره لانها لاتعبد وفی ردالمحتارفعلی هذاینبغی ان یکره استقبال عین هذه الاشیاء (ای الشمس والقمروالکواکب والشجرة الخضراء) معراج لانها عین ماعبدبخلاف مالوصورها واستقبل صورتها- (ج۱ص٦۷۸) ددینه معلومه شوه چه اګرکه دقبر مخامخ والی مکروه دی لکن دقبرنقشه مخامخ والی کې څه حرج نشته ځکه چه هیڅوک دقبردنقشی پرستش نه کوی البته که د کوم قوم دارسم ثابت شی نوبیاپدې کې هم کراهت راځی ۷/شوال ۱۳۳۲هـ ،تتمه ثانیه ص۱۷۳،

دباران دعذرپه سبب لمانځه دتللو حکم:

سوال :(۳٦٦)امام خپلومقتدیانوته وویل چه وګوری که اوبه اوریدل شروع شول نوزه دمسجددننه ته ورو وروځم اوتاسی ته ځما پسی راتګ پکار دی خومخ دقبلی نه مه اړه وی ،لکه چه امام او مقتدیانو داسې وهم کول نوپه داسې صورت کې په لمانځه کې فسادراځی اوکنه خصوصاکله چه دامام داول ځای اودوم ځای په مینځ کې فاصله دهغه مقدارڅخه خوبرابره زیاته ده چه دووصفونوپه مینځ کې قائموی په شامی کې می کوښښ وکړچه دباران دعذرتخصیص په داسې صورت کې پیداکړم خو نوملاونه شو،که د شامی په حواله خواب عنایت وفرمایې نوډیر سهولت به وی ،دحدث اوخوف عذرونونه علاوه پشرط دعدم تحویل دقبلی نوعدم فساد دصلاة طرف رحجان معلومیږی خوشبهه داده چه باران هم عذردی اوکنه ځکه چه معمول دعلماؤ داسې ندی لیدل شوی چه داوبو داوریدلوپه وخت په لمانځه کې دننه مسجدتهقل به وی خیردلیل شرعی کیدل ضروری دی ؟

جواب :په حدیث کې نص دی اقتلواالاسودین فی الصلوةالحیة و العقرب اوددې باوجوددغه قتل نه عمل کثیرعلی الاصح مفسدد صلاة ویل شوی کمافی الشامی قوله لکن صحح الحلبی الفساد حیث قال تبعاً لابن الهمام فالحق فیمایظهرهوالفساد والامربالقتل لایستلزم صحة الصلوة

مع وجوده کمافی صلوة الخوف بل الامرفی مثله لاباحة مباشرته وان کان مفسداً الصلوة اه ونقل کلام ابن الهمام فی الحلیة والبحروالنهر واقروه علیه وقالوا ان ماذکره السرخسی (من انه عمل رخص فیه للمصلی فهو کالمشی بعدالحدث بحر) رده فی النهایة بانه مخالف لماعلیه عامة رواة شروح الجامع الصغیر ومبسوط شیخ الاسلام من ان الکثیرلایباح اه ج۱ص ۲۸۱ .اوباران خویه نرترتیب دهغه نه اخف دی چه په هغه کې نه کوم داسې نص شته اونه په هغه کې داسې ویره دضررشته دهمدی لامله د هغه په سبب تلل به په درجه اولی مفسد دلمانځه وی البته که په مینځ کې وقفات وی نوهغه ته عمل کثیرنه ویل کیږی کمافی العالمگیریة المشی فی الصلاة اذا کان مستقبل القبلة لایفسداذالم یکن متلاحقاالی قوله لومشی فی صلاته مقدارصف واحدلم تفسدصلوته ولوکان مقدار صفین ان مشی دفعة واحدة فسدت صلوته وان مشی الی صف ووقف ثم الی صف لاتفسد کذافی فتاوی قاضی خان ج۱ص۲۵، ۲۷رمضان ۱۳۳۳ه (تتمه ثالثه ص۸۲)

په لوڅ سرد لمونځ کولو حکم:

سوال :(۳۶۷)دخولی په سرپګړی وتړی اوپګړی دمینځ څخه خولی په نظرراشی یعنی دسرپه اعلی سطح باندې چه کومه خولی ده هغه په سترګوکیږی په دی صورت کې لمونځ وشواوکنه په لوڅ سرباندې پګړی وتړی اودسراعلی سطح وکتل شی لمونځ په دی صورت مکروه شو،په دی باره کې هم ډیراختلاف کولی شی باصوابه ځواب ارقام وفرمایې ؟

جواب :فی الدرالمختارمکروهات الصلاة وصلوته حاسراالی کاشفاراسه للتکاسل ولاباس به للتذلل واماللاهانة فکفرولو سقطت قلنسوته فاعادتهاافضل الااذااحتاجت لتکریراو عمل کثیرمع ردالمختار ج۱ ص ۲۷۰) ددې روایت څخه معلومه شوه چه که توپی ښکاریده نوکراهت نشته لانه لیس بحاسر کیف واذا جازالاکتفاء بالقلنسوة کمایدل علیه قوله ولوسقطت قلنسوته الخ فکیف اذاکانت علی بعضها العمامة ایضاً اوکه سرښکاریده نوکراهت شته .لانه حاسر فقط ۱۲شوال ۱۳۳۳ه (تتمه ثالثه ص۹۰)

دلمانځه دفسادپه باره کې دختمولودسلام دمقتدی حکم

دامام څخه اوپه دی کې دتذکرة الرشید په عبارت باندې شبهه

سوال :(۳۶۸)دقطب الاقطاب حضرت مولناګنګوهی نورالله مرقده یوه فتوی مولوی عاشق الهی صاحب میرتهی په تذکرة الرشید جلد اول کې ارقام فرمایې هغه دادی (چه که مقتدی په خپل اول سلام دامام نه وړاندې ختم کړی نودمقتدی لمونځ فاسد ګرځی ،اکثره خلک دهغه نه غافل دی اوریدونکې دی نوروته وأوروی ددې عبارت اوددرمختارد عبارت په مینځ کې تعارض دی ولواتمه قبل امامه فتکلم جازوکره فلوعرض مناف تفسدصلوة الامام فقط درمختارج۱ص۷۸،مطبوه مطبع مجتبایې دهلی ددرمختاروالادقول څخه ثابتیږی چه لمانځ نه فاسیدیږی قول فیصل په دی باره کې کوم دی ؟ فقط

جواب :داشبهه ماته هم وه خوماګمان دادی چه دحضرت کراهت فرمایل ناقلینوفساد نقل کړی که خپله دجامع تذکره څخه تحقیق وکولی شی شایدهغه څه زیات تفصیل ولیکې فقط ۲۴صفر ۱۳۳۷ ه (تتمه خامسه ص۸۲)

ایادڅادراوبړستن زوړنده ول په اسبال کې داخل دی ؟

سوال :(۳۶۹)دکرتی،جامی اوپرتوګ دبجلکونه لاندې زوړنده ول د تارینه ؤلپاره رواندی آیاپه دوی کې څادر، بړستن داخل دی کله چه دهغوی څنډی په اوږوباندې وانه چول شی اودبجلکونه لاندې زوړندی شی اودوروکون په حالت کې ؟

جواب :دڅادراوبړستنی زړندول په دی کې ندی داخل څکه هغه ددې لپاره نده وضع شوی چه دبجلکوڅخه لاندې پاتې شی بیوازی اتفاقی کار دی .جمادی الاولی ۱۳۲۹ه (تتمه اولی ص۱۴۸)

دعطاء دلفظ لوستل دعذاب په ځای

سوال :(۳۶۳)ددین علماء په دی مسئله کې څه فرمایې چه په قران کې چه کوم ځای کې دعطاء لفظ راغلی دی هغه دانعام اوداعمال صالحه دجزاء په ځای کې راغلی دی که څوک په غلطی سره دغه لفظ دعذاب په ځای ولولی نولمونځ فاسدشواوکنه ؟ اودلمانځه اعاده مستحب ده اوکنه ؟

جواب :فی فتاوی قاضی خان وان تغیرالمعنی بان قراان الابرارلفی جحیم وان الفجارلفی نعیم اوقراان الذین امنواوعملوا الصلحت اولئک هم شرالبریة اوقراوجوه یومئذعلیهاغبرة اولئک هم المومنون حقاتفسد صلوته لانه اخبربخلاف مااخبرالله به ددې لپاره چه په مسئوله صورت کې هم ظاهرا فاحش تغیرراغی دقاعدی اقتضاء فساددی ،لکن داحقرپه نزد ددې داتاویل کیدلی شی چه داپه تهکم باندې محمول وکړی شی لکه څنګه چه په فبشرهم بعذاب الیم اوددې مقتضاعدم فساد دی داول مقتضا وجوب داعادی ده نه دثانی والاول احوط والثانی اوسع ۲۱/رمضان ۱۳۲۵ھ (امدادص ۹۲ج۱)

دمسجدپه سرباندې لمونځ مکروه دی

سوال :(۳۷۰)موږ دمیرمحمودصاحب مرحوم مسجدلمونځ کونکې د لاندې درج امورو په سبب معلومول غواړوچه دمسجدپه سرباندې دجماعت لمونځ اداء کولی شی اوکنه ؟(۱) مسجدتیت جوړشوی دی (۲) اودروازه دوروتنګو،،څخه دی اوپه مسجدکې دهوارفت وآمدکم دی چه دهغې لامله په لمانځه کې دګرمی دشدت لامله طبیعت پریشان کیږی(۳) په مسجدکې دوضع قطع ماتحت داندی معلومه چه دمسجد دجوړولوپه وخت په چهت باندې دلمانځه کول هم مقصود ؤوزینه دځه مودی وروسته جوړه شوی ده (۴) دکوم مکان بی پرده ګی به نه وی.

جواب :فی العالمگیریة الباب الخامس من الکراهیة الصعود علی سطح کل مسجدمکروه ولهذااذا اشتدالحریکره ان یصلوابالجماعة فوقها الا اذاضاق المسجدفحینئذلایکره الصعودعلی سطحه للضرورة کذافی الغرائب اه پدې کې تصریح ده چه په مسئوله صورت کې د چت په سرجماعت کول مکروه دی ۱۴صفر ۵۴ھ (النورمحرم ۱۳۵۵ھ ص۹)

دغضب اوعذاب په ځایونوکې دلمانځه ممانعت اودهغه حکم

سوال :(۳۷۱)دخوورخوراهیسی می په زړه کې شبهه واقع کیږی تر اوسه همداسې شته ،دهمدی دحل کولو لپاره عرض کوم اوهغه داچه بنده ضعیف اوبی وسی دی دیوضددتاثیرپه وخت دبل ضدتحمل نشم کولی مګرددې په خاطرچه الله تعالی قادرمطلق دی اوهغه متاثراو منفعل کیدلی نشی نودغضب اوعذاب دځایونو دتګ اویاپه دغوځایونوکې دلمانځه کولونه نې ولی نهی فرمایلی ده ؟ لکه چه داصحاب حجر متعلق ارشاد دی لاتدخلوا علی هؤلاء

القوم الا ان تکونواباکین فان لم تکونوا باکین فلاتدخلواعلیهم ان یصیبکم مثل مااصابهم الحدیث ،د دې حکمت ارشادوفرمایې ؟

جواب :خمایه گمان یوه توجیه داراتلله مګرپه دی احتمال چه شاید چا دینه ښه توجیه لیکلی وی دکتابونومطالعه می وکړه بحمدالله تعالی فتح الباری څخه دالفاظو په تغیرسره هغه توجیه راووتله کومه چه خماخیال کې راتلله په هغې کې په دی سوال کې دمذکوره شبهې خواب هم شته دهمدی لامله دهغې نقلول کافی ګڼم فقال وجه هذه الخشیة ان البکاء یبعثه علی التفکروالاعتبارفکانه امرهم بالتفکر فی احوال توجب البکاء من تقدیرالله تعالی علی اولئک بالکفرمع تمکینه لهم فی الارض وامهالهم مدة طویلة ثم ایقاع نقمته بهم وشدة عذابه وهوسبحانه مقلب القلوب فلایامن المومن ان تکون عاقبته الی مثل ذلک والتفکرایضاً فی مقابلة اولئک نعمة الله بالکفر واهمالهم اعمال عقولهم فیمایوجب الایمان به والطاعة له فمن مرعلیهم ولم یتفکرفیمایوجب البکاء اعتباراًباحوالهم فقدشابههم فی الاهمال ودل علی قساوة قلبه وعدم خشوعه فلایامن ان یجره ذلک الی العمل بمثل اعمالهم فیصیبه مااصابهم وبهذایندفع اعتراض من قال کیف یصیب عذاب الظالمین من لیس بظالم لانه بهذا التقریرلایامن ان یصیرظالماًفیعذب بظلمه اه (جلد اول باب الصلوة فی مواضع الخسف والعذاب) خمادتوجیه داالفاظ دی چه په کوم ترتیب چه دطاعت په مواضعوکې نورموجودوی اوپه معاصیوپه ځایونوباندې ظلمت حامل وی نودداسې ځایونو تلبس سبب ګرځیدلی شی دقساوت، غفلت ،او معصیت اوپه دی باندې دعذاب نزول مرتب کیږی اوبکاء اوخشیت ددې په اثرمنع کیږی ،نودغه اصابت متلبسینوته دخپلوعملونو مسبب ګرځی ولعل هذا العنون السهل فکان فی قوله علیه السلام ان یصیبکم مثل مااصابهم دون ان یقول یصیبکم مااصابهم اشارة واضحة الی ذلک -والله اعلم ،اشرف علی ۲محرم ۱۳۵۲ھ (النورص۸ربیع الثانی ۵۷ھ)

په لمانځه کښې په دواړوښپوباندې په زورکولوسره اودریدل

مکروه دی اوکه په هره ښپه باندې زورکولوسره ودریدل

سوال :(۳۷۲)نحمده ونصلی علی رسوله الکریم حضرت حکیم الامت السلام علیکم نن ماپه پنځم جلد داعلاء السنن کښې یوحدیث ولیده هغه په دی بیان کښی دی چه په لمانځه

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې په دواړوخپوباندې يو انداز زور کول مکروه دی کله په يوه خپه اوکله په بله خپه زورور کول مستحب دی آياداحديث صحيح دی اوپه مونږ باندې داسې کول پکار دی؟

(داعبارت دترجمې دی ، عن ابن مسعودانه رای رجلاصافا اوصافاقد ميه فقال اخطاهذالسنة ، اخرجه سعيدبن منصورکذافی تخريج الاحيا للعراقی وسکت عنه واخرجه عبدالرزاق بلفظ مرابن مسعودبرجل صاف بين قدميه فقال اماهذافقداخطاء السنة لوراوح بينهماکان احب الی ما کذافی کنزالعمال وقال الطحاوی فی معانی الآثارکمن قام فی الصلوة امران يراوح بين قدميه وقدروی ذلک عن ابن مسعوداه ذکره محتجابه علی ان تفريق الاعضاء اولی من الصاق بعضهابيعض واحتجاج المحدث الحافظ الناقدبحديث دليل علی صلاحيته له ، (احياء السنن جلدخامس صفحه ۸۲)مادمولويصاحب رونق علی نه تپوس وکړنوهغه وفرمايل چه ماداوس نه وړاندې داحديث ندی ليدلی ته دحضرت حکيم الامت څخه پوښتنه وکړه هغه وخت به په دی باندې عمل کول وی فقط ؟

جواب :السلام عليکم دحديث درجه دسندپه اعتبارخوپه اعلاء السنن کې ويل شوی ده چه طحاوی به دی احتجاج کړی اودمذهب په اعتبارپه حاشيه کې ويل شوی دی چه تراوح بين القدمين داحنافوپه نزد افضل دی، طحطاوی دظهيريه څخه نقل کړی چه نص الامام علی ذلک،امام صاحب ددې تصريح کړيده اودفتاوی په خينوکتابونو کې چه کوم کراهت دتراوح مذکوردی دهغه محمل تمايل علی سبيل التعاقب بغير تخلل سکون دی ظفراحمدپه امردسيدی حکيم الامت مولانااشرف علی صاحب دام مجدهم ازتانه بهون ۱۵ جمادی الاول سـ۱۳۵۷ھ

تنبيه په اعلاء السنن کښې صف القدمين ته مکروه ويل شوی دهغه نه مقصدوصل القدمين دی چه دتفريح مقابل دی لکه چه په وړاندې تللو سره ئې دامام مالک وقرن القدمين کراهت نقل کړی شوی دی ، اونصب القدمين چه دتراوح بين القدمين مقابل دی مکروه ندی څکه چه دتراوح يوازې افضل والی منقول دی دهغه دضدمکروه والی منقول ندی نود اعلاء السنن دمصنف دصف القدمين تفسيرپه نصب القدمين سره مسامحت دی،همدارنګه دتراوح افضليت چه په کوم علت معلل کړی شوی وهغه اسيروامکن لطول القيام ،داعلت په قيام قصيرکې ظاهرندی نوپه قيام قصيرکښې تراوح اونصب القدمين دواړه برابردی، قال الطحاوی ثم ان هذه العلة لاتظهرفيمااذاکان القيام قصيرا (ص۱۵۳ مراقی الفلاح) دتراوح

اوصفن په مينځ کې فرق شته صفن دادی چه يوه قدم باندې زورورکولوسره دوهم قدم په داسې ترتيب سسته پريښودل شی چه هغه څومره تاويدلی شی والله اعلم ظفراحمدعفاالله عنه

وفی مجمع البحارکان يراوح بين قدميه من طول القيام ای يعتمد علی احدهمامرة وعلی الاخری مرة ليوصل الراحة الی کل منهما ص۴۳ ج۲، وفيه ايضاً حديث نهی عن الصلواة الصافن ای من يجمع بين قدميه وقيل من يثنی قدمه الی ورائه کفعل الفرس اذاثنی حافره (ص۵۴ج۲، ربيع الاول سـ۵۷ه النورص۱۰)

دغيرمذبوح حيوان دوړيوشته جوړی موزی استعمال

سره د لمانځه دصحت اوعدم صحت تحقيق

سوال :(۳۷۳)که دغيرذبيحه دوړيونه موزی جوړی کړی شی نودهغې داغستلوسره لمونځ جائزکيږی اوکنه برابره خبره ده چه څاروی حرام وی که حلال ؟

جواب :لمونځ روادی اوهغه طاهردی بغيردخنزير[1] څخه فی الدرالمختاروشعرالميتة غيرالخنزير علی المذهب وعظمهاوعصبها وحافرها وقرنها الی قوله طاهراه ۱۳ ذيقعده سـ۱۳۲۲ھ (امدادص۵۹)

په تراويحواوسنتوکښې دقعدهٔ اخيردترک کولوحکم

سوال :(۳۷۴)که مؤکدوسنتوآخره قعده هيره ولوسره پنځم رکعت ته ئې سجده وکوله نودغه سنتو به په نفلوتبديليږی اوکنه همغه شان چه په فرايضوکې چه که اخره قعده اوپريښودل رکعت وکړی نوفرايض په نفلو بدليږی اودلمانځه اعاده ضروری کيږی يامثلاچاپه دوه تراويحوکښې آخره قعده ونکړله بلکه په سهوی سرهٔ ئې دريم رکعت يوځای کولو نه وروسته ئې په يادشواوڅلورم رکعت کولوسرهٔ سجدهٔ سهووکړله نو اوس دغه دوه رکعته تراويح په نفلوبدليږی اودهغو اعاده به وی کنه د فقهې دکتابونودحوالی سرهٔ ارقام وی؟

جواب :فی فتاوی قاضی خان الجلدالاول صفحه ۱۱۵، اذاصلی الامام اربع رکعات بتسليمة واحدة ولم يقعدفی الثانية فی القياس تفسدصلوته وهوقول محمدوزفررحمهماالله ويلزمه قضاء هذه

[1] اوداسان دوينشتواستعمال دتکرم په سبب حرام دې ۱۲ منه

السلیمة وهورواية عن ابى حنيفة وفى الاستحسان وهواظهرروايتين عن ابى حنيفة وابى يوسف لاتفسدواذالم تفسداختلواف قول ابى حنيفة وابى يوسف افالتوب عن تسليمتين كمن اوجب على نفسه ان يصلى اربع ركعات بتسليمتين فصلى اربعابتسليمة واحدة ذكرفى الامالى عن ابى يوسف انه يجوز فكذا ههنا وكذا الوصلى الاربع قبل الظهرولم يقعدعلى راس الركعتين جازاستحسانا او قلت ويلزمه سجدتا السهو.ددي روايت څخه معلومه شوه چه مؤكدسنت اوتراويح دواړه صحيح شول والله اعلم ۲۱ رمضان ۱۳۲۵ھ امداد ج۱ ص ۹۲

په لمانځه کې دلحن فی الاعراب حکم

سوال :(۳۷۵)ددین علماء څه فرمائی په دی مسئله کښی چه یوسړی په لمانځه کښی په سبح اسم ربک کښی دمیم زیرولوست آیالمونځ درست شو که فاسد؟

جواب :دکومی غلطی سره چه دقرآن په معنی کښی تغیرفاحش راځی دهغه سره لمونځ فاسدکیږی او کنه نوته فاسدیږی نودمیم دزیر لوستلو سره په معنی کښی کوم فسادنشته ،دهمدی لامله لمونځ درست شو اذا لحن فى الاعراب لحنًالايغيرالمعنى بان قرالاترفعوا اصواتكم برفع التاء لاتفسدصلوته بالاجماع عالمگیری ج۱ص ۸۰ فقط والله اعلم امداد ج۱ ص ۱۰۵

دقنوت په تکبیرکې دامام دفتح حکم

سوال :(۳۷۶)دتراویح دکولونه وروسته په وترونوکښی داواقعه پیښه شوه چه امام په دریم رکعت کښی بغیردتکبیرویلواورفع یدین کولو څخه په دعای قنوت ویلوباندې شروع وکړه کوم مقتدی دالله اکبرپه ویلوسره هغه آگاه کړلکه چه بیاهغه دالله اکبرپه ویلواورفع یدین په کولوسره دعاء قنوت ولوستله اولمونځ پوره کولوسره ئی سجدهٔ سهوه وکړله ،نوپه لمانځه کې څوکومه خرابی رانغله؟

جواب :فى الدرالمختاروفى واجبات الصلاة وقراءة قنوت الوتروهو مطلق الدعاوكذاتكبيرقنوته فى ردالمختار اى الوترقال فى البحرفى باب سجودالسهوماالحق به اى بالقنوت تكبيره وجزم الزيلعى بوجوب السجودبتركه الى قوله وينبغى ترجيح ، عدم الرجوب الخ ج۱ص۴۸۸ نودوجوب په روايت باندې څوکومه شبهه نشته دی چه ویل تیک وی اودبل روایت څخه یعنی په عدم وجوب باندې داویل زایددې مگردصلاة مفسدندی اوپه هرحال لمونځ صحیح شو.لکه چه په

قرات کښی دبلا حاجت ویناسره لمونځ صحیح کیږی ،اگرچه امام فتحه واخستله اوددې لامله چه داسې کوم کارچه موجب دسجدی دی پیدا نشو دهمدی په خاطر سجدهٔ سهوواجب نه شوه ۸ رمضان المبارک ۱۳۳۳ھ تتمه ثالثه ص ۷۳

دسجدی په وخت دڅاڅکوراتللوحکم

سوال :(۳۷۷)زه بیماریم چه اکثراً څاڅکي راغورځیږی کله چه په سجده کې اوسم په دغه وخت کښی اکثراً دغسی حالت وی ددې لپاره څه څه وکولی شی؟

جواب :که لنگ دتړلو څخه پاتې وی تړل یی پکاردی اوکه هغه پاتې نه وْنوکتل پکاردی چه که سجدی ته په تللو سره کله کله قطری راځی نودغه وخت چه کله راشی اودس دوکړی اوکه همیشه راځی نودسجدی په ځای دی اشاره کوی وفى ردالمحتارعن الذخيرة رجل بحلقه خراج ان سجدسال وهوقادرعلى الركوع والقيام والقاءة الخ ج۱ص ۷۹۳،۲ شعبان ۱۳۳۱ھ تتمه ثانیه ص ۲۲

په هرحال کښی دفتح ورکولونه مفسدوالی

سوال :(۳۷۸)امام اومقتدی دلمانځه په حال کښی ول یودمقتدیانود دریم رکعت قیام کښی چه امام پورته شوسبحان الله ئی وویلی پدې گمان چه دا څلورم رکعت دی،په دی خاطرچه دامام یقین وْچه دادریم رکعت دی غوږ ئی ونه نیوه قیام ئی وفرمایه څلورم رکعت ختم کولو سره خپل اود مقتدیانولمونځ ئی پای ته ورساوه ، په دی صورت کښی دهغه مقتدی لمونځ چه سبحان الله ئی وویله بلاشبه تمام شویاپسبب د کلام لغولمونځ ئی فاسدشومسئوله صورت څه دی،دامام اعظم په مذهب کښی څه دی د امام شافعی په مذهب څه حکم لری اودامام شافعی په مذهب کښی داسی کتاب چه د دې مسئلی په څیرجزییات پکې دیروی که خمادحضرت سره معلومات وی ایماء د وفرمائی؟

جواب :فى الدرالمختارمفسدات الصلوٰة بخلاف فتحه على امامه فان لايفسدمطلقا لفاتح واخدبكل حال. ددې لپاره چه په مسئوله صورت کې دا وینا د سبحان الله په نیت دفتح على الامام دد اوخپله دکلام الناس څخه نده لهذادامام اومقتدی دواړو لمونځ صحیح دی اودامام شافعی مذهب ماته معلوم نده اونه دهغه په مذهب کښی کوم کتاب راته معلوم دی (تتمه اولی ص ۳۱۲)

باب صلوٰۃ الوتر

دوترپه لمانځه کښې دمخصوصه سورت دتعین حکم:

سوال :(۳۷۹) (۱) په وترلمانځه کښې دقدر، کافرون اواخلاص سورتونو لوستلوسره دبواسیرودمرض علاج مجرب ښودلی شوی دی که په التزام سره ولوستل شی نوکوم قباحت خوبه نه وی؟ (۲) دغاښونود پایښت لپاره په وتروکښې دنصر، لهب اواخلاص سورت لوستل مجرب ښوول شوی؟

جواب : (عن کلاالسوالین) په دی کښې دسوال منشادادی چه ددنیوی غرض لپاره مقصودی طاعت ذریعه گرځول .نوپه دی کښې دا تفصیل دی چه داذریعه جوړول دوه قسمه دی یوه بلاواسطه لکه چه د عاملینوطریقه ده چه دادعیه اوکلماتوځخه خاص ددنیویه مقاصد واغراض وی اودوهم قسم ددینیه برکت په واسطه چه دطاعتونوځخه وی اولاً برکت دینیه مقصودوی نودغه دینیه برکت په اغراض دنیویه کې مؤثرګڼل کیږی .په حدیثونوکښې چه کوم قربات اوطاعت خاصه بعضی خواص لکه دنیوی اغراض وارد دې د دغه دوهم قسم ځخه دی لکه چه دواقعی دسورت خاصیت راځلی دی چه لم تصبه فاقة اودغه دنیوی خواص په هغه ترتیب چه دومی ځخه معلومیږی کله کله دالهام سره هم معلومیږی نوعمل مذکوره فی السوال په اولی طریقی سره دلمانځه دوضعی خلاف دی اوپه دوهمه طریقه څه حرج نشته ۱۲ رمضان المبارک ص۴۵ھ (تتمه خامسه ص۵۱۸)

په رمضان کښې دتهجدسره دوترکول افضل دی اوکه د جماعت سره وروسته دتراویحو ځخه

سوال :(۳۸۰) کوم سړی چه په تهجدلمانځه کې وترکولوهغه په رمضان شریف کې وترپه جماعت سره اداکړی یانی دتهجدپه وخت اداء کړی؟

جواب :دجماعت سره بهتردی دجماعت داولویت رعایت دوخت درعایت ځخه مقدم دی اوهمدارنګه داعراض عن الجماعت دصورت ځخه تحرزضروری دی ۲۲ رمضان ۱۳۲۹ھ (تتمه اولی ص۳۸)

سوال :(۳۸۱) یوکارمعلومات کول غواړی چه دعشاء دلمانځه نه وروسته دشلورکعتونو تراویح کولونه وروسته وتروکولی شی اودسحر په وخت تهجدوکولی سی اوکنه؟

جواب :هوهمدا افضل دی ۲۸ شعبان ۱۳۳۷ھ (تتمه خامسه ص۹۰)

سوال :(۳۸۲) یوسړی دتهجدپه وخت کې وتراداء کوی اوپه رمضان شریف کې دوترجماعت وی .نوهغه جماعت ترک کولوسره په آخروخت کې دده لپاره دوتراداء کول افضل دی اوکه هغه دجماعت سره اداء کول پکاردی اودجماعت ثواب ترک کول ندی پکار؟

جواب :هوهمدانې کول پکاردی یعنی جماعت دی نه ترک کوی اګرکه یوازی هم جائزدی ـ فی الدرالمختار وفیه ای فی رمضان یصلی الوتروقیامه بهاوهل الافضل فی الوترالجماعة اوالمنزل وفی ردالمحتار (صحح الکمال الجماعة الی قوله وفی شرح المنیة والصحیح ان الجماعة فیها افضل الا ان سنتهالیست کسنیة جماعة التراویح (ج۱ص۷۴۲، ۲ شوال ۱۳۳۷ھ (تتمه خامسه ص۹۵)

درمضان په مباشت کې په وتروکښې جوازدجهروعدم جواز

سوال :(۳۸۳) کله چه دوترلمونځ په رمضان شریف کې یوازی اداء کوی نو قرات په زورلوستل جائزدی اوکنه؟

جواب :دواړه جائزدی یعنی جهرهم اوخفی هم دلیل المقدمة الاولی مافی ردالمحتاران الجهریجب علی الامام فیمایجهرفیه وهوصلوٰة الصبح والاولیان من المغرب والعشاء وصلوٰة العیدین والجمعة والتراویح والوترفی رمضان الخ ج۱ص۴۸۸ ودلیل المقدمة الثانیة مافی العالمگیریة وان کان منفرداان کانت صلوٰة یخافت فیهافخافت حتماهوالصحیح وان کانت صلوة یجهرفیهافهوبالخیار والجهرافضل ج۱ص۴۴۰ قلت هذاهوالمشهوروان اختلف بعضهم فی التقییدبقوله فی رمضان کمافی ردالمحتارلکن یردعلیه انه یقتضی انه لوصلی الوترجماعة فی غیررمضان انه لایجهربه وان لم یکن علی سبیل التداعی ویحتاج الی نقل صریح واطلاق الزیلعی یخالفه وکذامایاتی من المتنفل باللیل لوام جهرفتامل ج۱ص۵۵۶ لکنه لایضرالحکم بجهرالمنفردفی رمضان وانمایفید عدم تخصیص هذاالحکم برمضان ، والله اعلم ۶،/ رمضان ۱۳۳۷ھ (تتمه خامسة ص۹۴)

وتردتهجدنه وروسته اوکه دتراویح نه وروسته

سوال :(۳۸۴) که تهجداداء کړی شی نودوترونه وروسته دتراویحوکول ښه دی اوکه دتهجدنه وروسته؟

جواب :دتراویحونه وروسته،څکه چه دجماعت افضلیت زیات مهتم بالشان دی دوخت دفضلیت څخه

درمضان نه بغیرپه جماعت سره دوترکولوحکم او

مخصوص والی دجماعت دوتردرمضان شریف میاشت پورې

سوال :(۳۸۵) دوترولمونځ په جماعت اوجهرسره په هرركعت كې یوازې په رمضان كښې دی اوكنه ؟

جواب :دوتروجماعت په تداعی سره درمضان پورې خاص دی اود هغه نه بهرمكروه دی كه تداعی نه وی احیانادرمضان نه خارج هم مكروه ندی اوددرې مقتدیانونه زیات په تداعی كښې داخل دی كه جماعت وكړی نو په امام باندې جهرواجب دی اومنفردمخیردی رمضان وی اوكنه. ۱۲/ رمضان سـ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه ص ۷۰)

دتراویحودجماعت تاركینولپاره په وتروكښې دانفرادحكم

سوال :(۳۸۶)كه په رمضان شریف كښې دعشاء لمونځ دجماعت سره وكړی اوټول خلك تراویح بالكل پریږدی نوپه دی صورت كې وترد جماعت سره جائزدی اوكنه ؟

جواب :فی الدرالمختاربقی لوتركها(ای الجماعة التراویح) الكل هل یصلون الوتربجماعة فلیراجع وفی ردالمحتارتحت قوله بقی الذی یظهران جماعة الوترتبع لجماعة التراویح وان كان الوترنفسه اصلافی ذاته لان سنة الجماعة فی الوترانماعرفت بالاثرتابعة للتراویح علی انهم اختلفوافی افضلیة صلوتها بالجماعة بعدالتراویح كمایاتی اهـ ج۱ص ۴۷۱، ددې نه معلومه شوه چه دقواعدوڅخه دیته ترجیح ده چه په دی صورت كښې دې دغه خلك وترهم فرادی فرادی وكړی (محرم ۳۴ھـ تتمه رابعه ص۲)

دوتروپه نیت كې دواجب لفظ ویلویانه ویلوحكم:

سوال :(۳۸۷)په عالمگیری كښې لیكل شوی :وفی الوترینوی صلوة الوتر كذافی الزاهدی وفی الغایة انه لاینوی فیه واجباللاختلاف فیه كذافی التبیین ،مولوی كرامت علی جونپورې اومولوی امانت الله غازی پورې په خپله رساله كښې دعربی نیت په مینځ كې دواجب الله تعالی لفظ لیكلی دې لوس زه څه وكړم دبنده سره زیات كتابونه سم سنسه ،وپه بنگاله كښې

دمولوی كرامت علی غلبه په زوراوشورسره ده، ټول واجب الله تعالی وائی ،فی الحال دفدوی عرض دادی چه د واجب ویلوسره لمونځ وشواوكنه اوواجب ویل افضل دی اوكنه اود واجب ویلوسره به په لمانځه كې خلل وی اوكنه ؟ محتمادمهربانی له مخی ئی تحریر وفرمائی؟

جواب :فقهاؤ تصریح كړی ده چه دیومذهب مقلدلپاره دبل مذهب رعایت په خلافیاتوكښې اولی دی واجب ندی نوپه غایت كې ئی چه كوم علت لیكلی دی دهغه حاصل دادی چه دمذهب رعایت دنفاتو د وجوب دی نو ددې رعایت واجب ندی دهمدی لامله دواجب ویلوسره هم لمونځ كیږی او په لمانځه كې هیڅ خلل نه راځی. ۱۲جمادی الاولی سـ۱۳۲۲ھ (امداد ص۵۱ج۱)

سوال :(۳۸۸)دوترلمانځه په نیت كښې دواجب لفظ ویل كیږی اوكنه ؟

جواب :فی الدرالمختاربحث النیة ولابدمن التعیین عندالنیة لفرض اوواجب انه وترا خ وفی ردالمحتار ای لایلزم تعیین الوجوب ثم اعلم ان مافی شرح العینی من قوله واماالوترفالاصح انه یكفیه مطلق النیة مشكل لان ظاهره انه یكفیه نیة مطلق الصلوٰة كالنفل الا ان یحمل علی ماذكرناه من اطلاق نیة الوتراخ ، ددینه معلومه شوه چه كه دوتروپه نیت كې دواجب په عنوان تعین نه وی خوبیاهم داتعین ضروری دی چه داوتردی اودمطلق صلاة نیت كافی ندی ،فقط، ۲۰ صفرسـ۱۳۲۵ھ (امداد ص۸۲)

دنخلع ونترك من یفجرك دمعنی تحقیق په قنوت دوتروكې

سوال :(۳۸۹)مونږهره شپه په قنوت كې لولو ونخلع ونترك من یفجرك اوس وفرمائی كه خوی فاجردی نوپلارڅخه وكړی اوكه پلارفاجردی نوخوی څه وكړی ؟

جواب :داخبریه جمله نده بلكه انشاییه دی نوپه دی كښې كذب نشته ددوهم فجورڅخه كفر مراددې اودترك څخه اعتقادی مخالفت دی ،وهو حاصل ،۱۲ذی الحجة سـ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه ص۹۹)

په قنوت نازله كښې درفع یدین وغیره احكام:

سوال :(۳۹۰)دلته دكانپورڅخه د یوسوال په ځواب كښې په قنوت نازله كښې په ارسال یدین باندې دعمل كولو لیكل كړی شوی ؤ،دهغه ځای څخه دیوه عالم یواوږدخط دوضع یدین دترجیح اثبات كښې راغلی دكوم خلاصه چه خپله دځواب څخه معلومیدلی شی كوم چه له دې ځای څخه لیكل شوی او لاندې درج دی ؟

جواب :مولناالسلام علیکم مسئله مجتهد فیها دی ددلایلوڅخه دواړه طرفه گنجایش شته ،اوممکن دی چه دقواعدوڅخه دوضع ترجیح دی کماهومقتضی مذهب الشیخین .لکن دالتباس اودعوامو د تشویش دعارض په وجه ارسال ته ترجیح ورکول کیږی کماهو مقتضی مذهب محمد ،اوثناء اوصلوة جنازه او قنوت په وتر کښي دغه عارض نشته ،دهمدی لامله هلته په راجح باندي عمل کولی شی اوددې عارض قوت اندازه ددې نه لگیدلی شی چه په مجمع عظیم کښی سجود سهو باوجوددوجوب دهغی پرېښودلی شی .اووضع خو په درجه کښی دسجدهٔ سهوڅخه ډیره ادنی ده فهواحق بالترک او دالتباس ارتفاع دقنوت داخفاء سره ددې په خاطر نشی کیدلی چه په سهوباندې محمول کړی شی چه په جهردقرات کښی امام ته سهو و شی. اوپه دی ترتیب ددینه وروسته په سجدی کښی تللو سره هم دهغه ارتفاع نشی کیدلی چه ددینه وړاندې به التباس کیږی،بیا سجدی ته دراتلوسره تشویش اوچتیږی چه ولی بې رکوع ونه کړه کنه داسې ارتفاع خودسجدی سهوی نه وروسته په تشهد کښی ناستی سره بیا وروسته دمکررسلام اړولونه هم مرتفع کیدلی شی مگر فقهاؤ ددې اعتبار ونه کړددې لپاره چه عوام دجهل دغلبی سره دهغو قراینو څخه استدلال کولی شی اوخپل لمونځ تباه کوی والله اعلم باقی په دوم جانب کښی هم ماته تنگی نشته ۲۴رمضان ۵۲ھ(النورص ۷شعبان ۵۷)

باب النوافل

دوترواودماسپښین، مغرب اوعشاءنه وروسته نوافلوکي دقیام دافضلیت حکم

سوال :(۳۹۱)عوام الناس دظهر،اومغرب اوعشاء لمونځونونه وروسته کیناستلوسره دوه رکعته نفل کوی، او په ناسته اداء کول دولاړی داداء کولو څخه افضل اوبهترگنی داصحیح دی اوکه غلط ؟

جواب :ق الدرالمختارعن البحر اجر غیر النبی ﷺ علی النصف الا بعذر اه (ص۱۹۴حکام النوافل ددې روایت داطلاق سره د ټولو نوافلو په ادریدلو سره اداء کول افضل ثابتیږی دهمدی لامله دعوامو الناس سوچ غلط دی ۴جمادی الاخری ۱۳۲۲ھ(امداد ص۵۲ج۱)

سوال :(۳۹۲)امدادالفتاوی می ولیدله دنن صبادوترونه وروسته دوه رکعته په ناسته اداءکول نی خطاگرځولی دی،اوداین ماجه هغه حدیث چه سنن ابی داودکښی هم نقل کړی چه هغوی نفس قرات نی جالساً کولو سره بیااودریدلو په داسې حال کښی چه په سنن ابی

داودکښی بل روایت (که دهغه ضرورت وی نونقل کولوسره ئی دراستوم) چه دحضرت عائشی څخه دی دادی چه قرات اورکوع وغیره ئی ټول جالساً کولو،تردی چه په همدې هغوی وفات شو،ددینه دآخره پورې عمل تصریحاً معلومیږی او همدامی دخپلو استاذانو څخه ترتنه پورې اوریدلی دی او اگرکه دقاعدی په اعتبارسره دهغه اجر د غیر نبی ﷺ لپاره نیمائی کیدل پکاردی لکن دحضرت مولنامحمد قاسم قدس سره څخه منقول دی چه که په دی نیت سره ئی په ناستی وکړی چه دهغو ﷺ څخه همداسې نقل دی نو انشاءالله عجیبه ندی چه په ثواب کښی هم کمبودنه وی.والله اعلم په هر حال مسئله چه هرڅه وی مگرنبوی معمول خوهمدامعلومیږی دقراة او رکوع تفریق فقط همدایوروایت دی دکوم چه دوم معارض روایت موجود دی اودسنن ددغومتعارضه روایتونونه علیحده کیدلوسره لیدل وکولی شی دصحیحینوپه روایت کښی مطلق لفظ دصلی جالسا موجود دې ، د کوم څخه چه باطلاقه متبادر دادی چه رکوع وغیره اوقراة کښی څه فرق نه ؤ شاید درواتو څخه په دی روایتودابن ماجه کښی څه اختلاط وغیره شوی وی،اوهغوی دتهجدپه خینو رکعتونوکوم چه هغوی په دی ترتیب کولوچه قراة خوپه ناستی اورکوع په ولاړی کولوسره دهغو د وورکعتونوسره لگولی وی ،په هرترتیب په ظاهره دنبوی معمول متعلق همغه راجح معلومیږی . والله اعلم بالصواب

جواب :ماته خوتعارض نه معلومیږی چه دترجیح یاداختلاط احتمال قایل کیدل راشی دابن ماجه روایت ته دمطلق صلی جالسا تفسیرولی نه ویل کیږی،اوپه کوم روایت کښی چه درکوع جالسا تصریح ده، دهغه محمول دوختونو په اختلاف باندې کولی شی ، بیا قول مطلق ده دفعل په هغه باندې منطبق کول بنه دی دتخصیص قائل کیدلوڅخه اوظنیه مسئله ده دجانبینو گنجائش شته ۲۳رمضان المبارک ۱۳۳۵ھ (تتمه خامسه ص۱۳)

دوترونه وروسته دوه نفل

سوال :(۳۹۳)په ناسته باندې دوترونه وروسته دوه رکعته نفل افضل او بهتر دی اوکه په ادریدلوسره په دی دواړوکښی سنت کوم دی ؟

جواب :فی سنن ابن ماجة باب ماجاء فی الرکعتین بعدالوترجالسا عن ابی سلمة قال حدثتنی عائشة قالت کان رسول الله ﷺ یوتربواحدة ثم یرکع رکعتین یقرء فیهماوهوجالس فاذا ارادان یرکع قام فرکع ، ددې حدیث نه بالتخصیص دغو نوافلو بعد الوتر کښی درسول الله دقیام ثبوت وشویاتې شوه داچه درکوع نه وړاندې ئی جلوس فرمایلو دهغې وجه داده چه هغوی

اوږدتلاوت کولو،اوپه آخر عمرکښې ضعف زیات شوی ؤدغه جلوس دهمدی عارض په خاطرؤ اوکله چه قرب درکوع ته ؤونوکله چه دغه عارض مرتفع کیدلونو بیا اودریدلو،ددینه معلومه شوه چه اصلی مقصودقیام ؤ،کنی کوم خلک چه په ناسته باندې اداء کول افضل وائی هغوی ددغه قیام هم قائل ندی،اودمذکوره روایت اطلاق هم دهغو مویددې الغرض په عوامو بلکه خواصوکښې چه ددې خلاف مشهوردی دهغې هیڅ دلیل نشته، اوچه په کوموادردو،فارسی رسائلوکښې چه څه لیکلی دی هغه دکوم معتبرځای څخه نقل ندی شوی والله اعلم ۴جمادی الاخری ـ۱۳۲۲ھ

سوال :(۳۹٤)دماسختن دلمانځه دوترونه وروسته دنفلونوحضورپه بهشتی زیورکښې تحریر فرمایلی دی چه اودریدلوسره اداء کول پکار دی اوپه یوه وعظ کښې ارشاددې (وعظ عودالعسدص۱۴) چه د بعض اکابرو قول دی څکه دوترونه وروسته په ناستی سره دوه رکعته کول منقول دی او دقواعدشرعیه څخه په ناستی سره کولوکښې دنیم ثواب استحقاق به وی،لاکن ددې لپاره چه رسول الله په ناستی کړی دی دهمدی لامله مونږ ته په ناسته کول خوښ دی ،دخادم لپاره چه په کوم ترتیب ارشادوی تعمیل به وکولی شی ؟

جواب :دغه ویناددې لپاره چه داتباع مشعرؤو نوما نقل کړه لکه څنګه چی دپورتنی مضمون دلاسته کولوڅخه داامرواضح دی لکن دا عمل موقوف دی په دی پورې چه داثابت هم وی په داسې حال کښې چه د رسول الله ﷺ په ناستی سره کول هم منقول دی ؟ دهمدی په خاطرافضل همدادی تاسونی په ولاړی کوی دلته خو یوازی خینو اکابرو د دی قول مبنی بیان کړی ؤ ۱۵محرم ـ۱۳۴۳ھ (تتمه خامسه ص۳۱۷)

په سهارکښې دفجرداقامت نه وروسته دفجردسنتو د اداء کولوحکم:

سوال :(۳۹۵)یوسړی داودس کولوسره راغی ګوری چه دصباجماعت ولاړ دی ،اوجمات دومره لوی ندی چه که په یوه څنډه کې سنت وکولی شی نودامام دقراءت اواز اوریدل کیږی ترڅو تعمل دآیت واذاقرء القران الایة وشی ،اوس دغه سړی ته څهٔ کول پکاردی ،یوسړی وائی چه حضرت امام محمدداطریقه بیان کړی که دفجر د سنتو چا ته دفضایل کثیره په وجه شوق وی نوهغه ته پکارده چه په مذکوره حالت کې دسنتونیت کولو سره دی مات کړی بیادی جماعت کې داخل شی، دفرضو د اداء نه وروسته دې فوراً سنتونه دفرض کیدلو په سبب وکړی آیا دا وینا دده غلطه ده اوکه صحیح اوپه مذکوره حالت کې دمذکور شخص لپاره څه کول پکاردی ؟

جواب :په داسې حالت کې که دمسجددوه درجی وی نوامام چه په کومه درجه کې وی نوداشخص دی په دومه درجه کې اداکړی اوکه داسې موقع هم نه ؤه نوکوم علیحده ځای کې څومره لری والی چه ممکن وی همالته دی وکړی ؟ اوکومه طریقه چه په سوال کې موجوده ده بالکل ناجائزه ده اوپه امام محمدباندې تهمت دی فی ردالمحتار باب ادراک الفریضة والحاصل ان السنة فی سنة الفجران یاتی بهافی بیته والافان کان عندباب المسجد مکان صلاها فیه والاصلاها فی الشتوی او الصیفی ان کان للمسجد موضعات والافخلف الصفوف عندسارية اه وفی الدرالمختار الباب المذکور ثم ماقیل یشرع فیها ثم یکبر للفریضة او ثم یقطعها اویقضیها مردود وبان درالمفسدة مقدم علی جلب المصلحة وفی ردالمحتارتحت هذاالقول ان ماوجب بالشروع لیس باقوی مماوجب بالنذرونص محمدان المنذورلایؤدی بعدالفجر قبل الطلوع اه-۱۱-رجب ۱۳۲۲ھ امدادص۵۳

دجماعت په وخت دفجردسنتوحکم:

سوال :(۳۹٦)خالد دصبا لمونځ کولولپاره مسجدته راغلی دی په نزدی جماعت کې جماعت کیږی خالد دسنتوله کولوسره په جماعت کې شامل شی که امام په کوم رکن کې پیداکړی شامل شی ؟ مفتی به مسئله په حواله دثقه فقه مزین په خپل مهرسره ابلاغ وفرمایې؟

جواب :څمونږ دحنفیه ؤ مذهب همدادی چه که دفرضودنیولو امید وی نوسنت دی نه پریږدی کذافی الکتب المذهبية، ۲ذی الحجه ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه ۱۰۵)

سوال :(۳۹۷)اول سوال عرض دادی چه دلاندنیوکتابونودعبارتونو سره ماته شک پیدا شوی دی چه دحضرت په بهشتی ګوهرمطبوعه بلالی واقع ساډهورکې چه کومه مسئله موجوده ده صحیح ده یاپه هغو راتلونکو کتابونو څخه چه ظاهراً کومه مسئله پوهی ته راځی هغه صحیح ده اودغه مسئله ستاسی دکتاب بهشتی ګوهرمذکوره مطبوعه د(په جماعت کې د شاملیدونه شاملیدومسایل صفحه ۷۱) ترعنوان لاندې درج ده۔

مسئله : دفرض کیدلوپه حالت کې چه کوم سنت اداکولی شی برابره خبره دی چه دفجروی اوکه دکوم بل وخت هغه دی په داسې ځای کې وکولی شی چه دمسجدڅخه علیحده وی ،ددې لپاره چه کوم ځای کې فرض لمونځ وی هلته بیابل لمونځ کول مکروه تحریمی دی ،اوکه څوک داسې ځای پیدانکړی نودصف نه علیحده دمسجدپه کومه ګوشه کې دی وکړی

(درمختاروغیره) (برابره خبره دی چه دفجروی اوکه دبل وخت) دلفظ څخه تعمیم معلومیږی اوذیل کي مندرجو کتابونودعبارتونوڅخه دفجر تخصیص معلومیږی دهمدی په خاطر ستاسوڅخه په نهایت مؤدبانه دول التجاء دی چه تاسوکافی شافی خواب سره ما ددي ظلمت څخه وباسی په کوم کي چه اوس وخت زه یم او هغه موعودعبارت دادی فی مراقي الفلاح ص۳٤ مطبوعة مصرفصل فی الاوقات المکروهة ویکره (التنفل) عندالاقامة لکل فریضة الاسنة الفجراذا امن فوت الجماعة وفی الکتاب المذکورص۸۶فی باب ادارک الفریضة ومن حضروکان الامام فی صلوة الفرض اقتدی به ولایشتغل عنه بالسنة فی المسجدولولم یفته شیئ وان کان خارج المسجدوخاف فوت رکعة اقتدی والاصلی السنة ثم اقتدی لامکان جمعه بین الفضیلتین الافی الفجرفانه یصلی سنته ولوفی المسجد بعیداً عن الصف ان امن فوته ولوبادراکه فی التشهدوقوله ﷺ اذااقیمت الصلوة فلاصلوة الاالمکتوبة محمول علی غیر صلوة الفجروهولم یصل رکعتی الفجران حتی ان یفوته رکعة ویدرک الاخری یصلی عندباب المسجدثم یدخل لانه امکنه الجمع بین الفضیلتین وان خشی فوتهادخل مع الامام لان ثواب الجماعة اعظم والو عیدبالترک الزم بخلاف سنة الظهرحیث یترکهافی الحالین لانه یمکنه اداؤهافی الوقت بعدالفرض هوالصحیح.اوپه همدي ترتیب په درمختارکي هم موجوددي دعبارت دطوالت دوجهی نه دهغو دوو کتابونو دعبارت نقل بي وکړوګني ددیرو نورو کتابونو نه هم همدا معلومیږی ؟

جواب :د نورو کتابونونه چه څه معلومیږی هغه صحیح دی، معلومه نده چه په علم الفقه کي چه کوم دبهشتی ګوهراصل دی څنګه تعلیم لیکلی دی ،ګوهربهشتی دهغونه پدي ترتیب منتخب کړی شوی دی چه په سرسری نظر سره دمضامینوپه اول اواخربانديِ نشانه جوړه کړیده اوکاتب نقل کړی دی یویولفظ ندی کتل شوی داعتمادپه سبب (ترجیح خامس ص۱۴۲)

دسنتوپه مینځ کي دتکبیرکیدلوحکم:

سوال :(۳۹۸)یوسړی دڅلور رکعتوسنتوکولونیت وکړلودیوررکعت دپوره کولوسره دوم رکعت لپاره اوچت شوپه همدي وخت کي چادفرض لمونځ تکبیروویلی دنفل اوسنت کونکي څلور واړه رکعتونه پوره کړی یاپه دوه رکعتونواکتفاء وکړی اودوه نورر کعتونه دی قضايي وکړی اوکنه ؟

جواب :که دسنت اونفلوپه مینځ کي تکبیروشوپه دوه رکعتونوسلام ګرځولو سره دی په جماعت کي داخل شی راجح [1] او اشهر همدا دی ، والشارع فی نفل لایقطع ویتمه رکعتین وکذاسنة الظهروسنة الجمعة اذااقیمت اوخطب الامام یتمها اربعا علی القول الراجح لانهاصلوة واحدة ولیس القطع للاکمال بلا للابطال خلافالمارجحه الکمال درمختارقوله خلافا لمارجحه الکمال حیث قال وقیل یقطع علی راس الرکعتین هوالراجح لانه یتمکن من قضائها بعدالفرض والابطال فی التسلیم علی الرکعتین فلایفوت فرض الاستماع والاداء علی الوجه الاکمل بلاسبب الخ القول وظاهرالهدایة اختیاره وعلیه مشی فی الملتقی ونورالایضاح والمواهب وجمعة الدرروالفیض وعزاه فی الشرنبلالیة الی البرهان وذکرفی الفتح حکی عن السغدی انه رجع الیه لمارواه فی النوادرعن ابی حنیفة وانه مال الیه السرخسی والبقالی وفی البزازیة انه رجع الیه القاضی النسفی وظاهرکلام المقدسی المیل الیه ونقل فی الحلیة کلام شیخه ابن کمال ثم قال وهو کمال قال هذاومارجحه المصنف صرح بتصحیحه الولوالجی وصاحب المبتغی والمحیط ثم الشمنی وفی جمعة الشرنبلالیة وعلیه الفتوی شامی مجتبایي جلداول ص۴۷۹) نوکه دفرض لمونځ نه وروسته سنت وی نوڅلورواړه دی قضايي وکړی اوکه نفل ول هیڅ څه نه لازمیږی وقضی رکعتین لونوی اربعاغیر مؤکدة علی اختیارالحلبی وغیره ونقض فی خلال الشفع الاول اوالثانی ای وتشهد للاول والایفسدالکل اتفاقاً درمختارباطحطاوی مصری ج۱ص۲۹۰ ، والله اعلم (امدادج۱ص۱۸)

اهمیت دمشغولتیاپه قضاء دنوافلوڅخه:

سوال :(۳۹۹)نوافل کول افضل دی یاقضايي لمونځونه ؟

جواب :فی ردالمحتارعن المضمرات الاشتغال بقضاء الفوائت اولی واهم من النوافل الاسنن المعروفة وصلوة الضحی وصلوة التسبیح والصلوة التی رویت فیهاالاخباراه ای کتحیة المسجدوالاربع قبل العصر والست بعدالمغرب (ج۱ص۷۲۸) ددینه معلومه شوه چه دقضايي لمونځونوکول دنفلونه بهتر دی بغیر دسنن موکده نه اوهغو نوافلو نه چه ذکر ئی په پورته عبارت کي دی. فقط ۱۳۲۵ھ (امدادص۸۳ج۱)

[1] لکن که څوک په بل قول چه اتمام دڅلوروده په سنتوکښی عمل وکړی امکان لري. ۱۲منه

په کورکې دفجردسنت کولوڅخه وروسته په مسجدکې دتحية الوضوء حکم:

سوال :(۴۰۰)دفجردسنت لمونځ په خای کې دکولوسره په مسجدکې دفرض لمونځ دادا، کولولپاره څم په دغه وخت دتحيه المسجدلمونځ کولی شم اوکنه ؟

جواب :په دغه وخت کې نه تحيه الوضوء شته اونه تحية المسجد شته همدارنګه ددغوسنتوپه مسجد کې کول افضل دی،بلکه دتولومؤکدو سنتوترڅوچه داتهام یاتشبه باهل البدعة څخه محفوظ پاتې شی کوم چه ددغو سنتوتارکین دی. ۱۰رجب ۱۳۳۵ھ (تتمه خامسه ص۱۷)

دعشاءلمانځه نه وروسته علاوه دمتواتروده رکعتونود دوه رکعت نفلونبوت:

سوال :(۴۰۱)خمونږ په پنجاب علاقه کې چه دعشاء دډومؤکدوسنتو نه وروسته اکثره خلک په ناستی سره دوه رکعت نفل لمونځ ادا،کوی ددغودوه نفل رکعتونوڅه ثبوت دصحيح ،حسن یاضعيف حديث څخه شته اوکه بدعت دی ؟

جواب :عن عائشة قالت ماصلی النبی ﷺ قط فدخل علی الاصلی اربع رکعات اوست رکعات رواه احمد وابو داؤد واسناده صحيح کذافی آثارالسنن ص۲۳ج۲، ۲۲صفر۱۳۳۳ھ (تتمه ثالث ۲۰)

په تهجدوکې ددولسورکعتونودليل:

سوال :(۴۰۲)په شامی مصری ج۱ص۴۰۲کې شته ; قوله واقلهاعلی مافی الجوهرة ثمان الی قوله والله اعلم ،ددې مجموعی عبارت څخه دتهجد لمانځه دولس رکعت کيدل کله هم نه ثابيتږی بلکه یوازی آته رکعتونه نو د زيوربهشتی مدلل اومکمل دوهمه حصه ص۴۳ عبارت نورزيات نه زيات دولس رکعتونه دی ددې څه مطلب اودکوم خای څخه بې ليکلی دی هيڅ پته ونه لګيدله ؟

جواب :فی مالابدمنه للقاضی ثناء الله الپانی پتی المسلم فی التحديث الملقب عندالشاه عبد العزيز الدهلوی بيهقی الوقت مانصه .اوددولسورکعتونوڅخه زيات هم ثبوت نه دی رسيدلی الی قوله پيغمبر علیه السلام کله کله تهجددوترو سره اوه رکعته کړی اوکله کله يولس اوکله کله ديارلس اوکله کله پنخلس الخ ويتايد بما فی صحيح البخاری عن ابن عباس الحديث بطوله وفيه ثم صلی رکعتين ثم رکعتين ثم رکعتين ثم رکعتين ثم رکعتين ثم رکعتين ثم اوترالخ وفی هامشه فيه دليل علی ان صلوة الليل اثناعشررکعة اه .اوثمان چه هغه اکثراويلی دی هغه په اعتبار

داکثرعادت نبويه سره دی ،کنه نوددې قول دصحاحو خلاف کيدل لازميږی .اوکه دسوال سره مقصدددې تحقيق دی چه د شامی حواله ولی ورکولی شوی ،د دې خواب په اصل کې دحوالی ورکونکې په غاړه دی دچاچه نوم په شروع دکتاب کې شته مګر تير عازه خواب ورکوم چه حواله داهمواجزاؤ په اعتبارده. ۱۹ذی القعده ۱۳۴۴ھ (تتمه خامسه ص۴۳۷)

دمعکوس لمونځ حقيقت:

سوال :(۴۰۳)په بعضی کتابونوکې می دمعکوس لمونځ اصطلاح دنظره تيره شوه لاکن دهغې تفصيل باندې پوه نشوم ،يعنی په داسې حالت کې درکوع سجدی ،قيام وغيره ارکان دلمانځه څرنګه کولو سره به ممکن وی بله داچه ددې ثبوت هم دحضور اقدس اوصحابه کرامو دژوند دحديث اوسيرت په دعام او متداولو کتابونو کې هم له نظره نده تيرشوی ، البته دحضرت محبوب الهی دملفوظات فوائد الفوائدپه شروع کې دا تذکره موجوده ده چه سلطان ابوسعيد ابو الخير په اتباع سنت کې دغه لمونځ هم کولو او حضرت شاه ولی الله په القول الجميل کې دالمونځ په داشغال جشتيه په لړی کې درج فرمايلی ده لکن دايې هم فرمايلی دی چه ددې ثبوت دسنت څخه نه ملاويږی په دی باب کې دجناب دتحقيق څخه مستفيد کيدل غواړم؟

جواب :دی ته مجازاً صلاة ويل کيږی په اصل کې دايوه مجاهده ده يوه معالجه ده اودمعالجی لپاره منقول او ماثورکيدل ضروری نده هومنهی عنه نه کيدل ضروری دی نودا منهی عنه نده لکن مزاجونه پدې وخت کې دهغه متحمل کيدلی نشی لهذامشايخو دا ترک فرمايلی دی (تتمه خامسه۲۵۸)تاريخ ۳۰ربيع الثانی ۱۳۴۷ھ

دقبل العشاء دڅلوررکعتونوتحقيق:

سوال :(۴۰۴)دقبل العشاء څلوررکعته سنت دکوم حديث څخه ثابت دی شيخ دهلوی په لمحات کې ليکلی دی چه ماددې مضمون هيڅ حديث ندی ليدلی فقهاؤ دادکوم خای څخه ثابت کړی ؟

جواب :[1] شاید په ظهر یا په عصر باندې بې قیاس کړی وی فقط والله اعلم ۱۵ ربیع الاول ۱۳۲۵هـ

فصل فی التراویح :

په یوه مسجدکې دتراویحو دتعدد حکم :

سوال :(۴۰۵)(۲) یو جامع مسجد چه طول یې ۲۸ گز او عرض یې ۲۱ گزه دی، که غواړی چه قران شریف په مذکوره مسجدکې دوه خایه ددوو حافظانو په مینځ کې تراویح ورکړی او په مینځ کې کوم یو آواز داسې کړی چه یو د بل آواز ته حرج واقع نه شی آیا جائز دی او کنه ؟

جواب :په یوه مسجدکې دوه خایه تراویح کول په دی شرط چه د نفسانیت په لاره وی او یو د بل نه حرج نه وی جائز دی مگر افضل دادی چه دیوه امام سره تول اداء کړی فی البخاری عن عبدالرحمن ابن عبدالقاری انه قال خرجت مع عمربن الخطاب لیلة فی رمضان الی المسجد فاذاالناس اوزاع متفرقون یصلی الرجل لنفسه ویصلی الرجل ویصلی بصلوته الرهط فقال انی اری لوجمعت هولاء علی قای واحد لکان امثل ثم عزم فجمعهم علی ابی بن کعب، الحدیث ، ددې روایت [1] څخه ثابته شوه چه حضرت عمر په متفرق کونکودتراویحو باندې تشنیع نده فرمایلې نوځرگنده شوه چه داجائزده او دیو امام سره کول ته یې افضل ویلې دی ددینه معلومه شوه چه افضل همدادی. والله اعلم ۱۴ ذی الحجه ۲۳۰۰هـ امداد ص ۱۹ ج ۱،

د عذر په حال کې په دابه باندې دتراویحو جواز:

سوال :(۴۰۶) په رمضان شریف کې دکډې په ورځ دشپې کډه وی تراویح په څه ډول وکړی آیا دنوافلو په شان یې د سورلی په سرکولی شی ، سورلی چه دفیل وی ؟

---

[1] ددې تحریر نه وروسته دصغیری دلیدلو سره ددې مسئلې ځواب چه دلاندنی عبارت چه دعالمگیری څخه منقول دی ظاهریږی معلوم شو هغه عبارت دادے وقال الحلبی فی الغنیة اماالاربع قبل العشاء فلم یذکرفی خصوصها حدیث لکن یستدل بعموم مارواه الجماعة انه ﷺ قال بین کل

[2] اذانین صلوه بین کل اذانین صلوة ثم قال بعد الثالثة لمن شاء فهذامع عدم المنافی من التنفل قبلها یفید الاستحباب لکن کونها اربعا یتمشی علی قول ابی حنیفه لانها الافضل عنده . منه ۱۲

په دی استنباط کښې تامل دے خکه داحالت دهغه وخت وچه کله دجماعت اهتمام نه وو او وجه دعدم تشنیع هم همدا عدم اهتمام و ددې نه دمذکور حکم استنباط مشکل دے بالخصوص په داسې حالت کښې چه کله ددې څخه هغه مقصود فوت شی دکوم لپاره چه حضرت عمر ؓ دا اهتمام وفرمایلو ،تصحیح الاغلاط ص ۵

جواب :اداء کولی نې شی ،فی ردالمحتار بخلاف سنة التراویح لانها دولحاق التاکدفیصح قاعداً وان خالف المتوارث وعمل السلف کما فی البحرقلت وافادت المخالفة الکراهة وتجبربالعذروفی الدرالمختار فهی صلوة وعلی الدابة فتجوزحال العذر الی قوله وذهاب الرفقاء ،شعبان ۱۳۲۱هـ ،امداد ج۱ ص ۳۷،

دتراویحو درکعتونو دعدد عدم تنقیص

سوال :(۴۰۷) که کډه اته نه بجې دشپې شروع کیږی نود تراویحو په تعدادکې کم اداء کولی شی او کنه او ترڅو پورې په کمی کولی شی ؟

جواب :کله چه په سورلی باندې جائز د بیا دکمولو ضرورت نشته څومره چه دکډې نه مخکې کولی شی دهغه بقیه دی په سورلی وکړی . فقط پورتنی تاریخ ،امداد ص ۳۸ ج ۱،

په تراویحوکې داجیرحافظ څخه دقران د

اوریدلو حکم سره دبیا نه دمختلفو صورتونو

سوال :(۴۰۸) خمونږ په هیوادکې دځوکلونو راهیسی رواج شوی چه اکثر حافظ په تراویحوکې دختم کولو لپاره په مسجدونوکې په رمضان شریف کې دمبلغ په مقررولو سره ختم کوی، که کوم خای کې امیدد لاسته راتللو زیاتو پیسووی نو ته فرمایې: دغه امر په اجرت علی الطاعة کې دکوم چه حرمت او منع په شرع کې وارده په دی کې داخل ده او کنه ؟ او بعضی فقهاء نقط کراهت وائی او خینې فقهاء جائز وائی، او متاخر فقهاء په امور اربعه کې یعنی امامت، اذان، تعلیم او وعظ کې ضرورةً جائز وائی نو دغه ختم د داسې امامت باب کې په داخلولو سره د تراویحو امامت ته هم په کوم کې چه ختم وی دامامت څخه خارج نه ویل کیږی ،دفقهاء دعبارت څخه یادنورو کتابونو څخه حرمت داجرت دقران په ختم باندې تصریح کله هم پیداشوی ندی سواء دقاعدی او قیاس څخه که دفیض منظر دنظر تیر شوی نه وی نو لیکل وفرمایې خکه چه دایصال ثواب دقراة په منع کې چه په اجرت سره واقع شوی ، فقهاو ددې په منع کې تشدد کړی دی ،په تراویحوکې چه ایصال نشته دتامل محل وائی ،او دفقهاء دتعلیل نفی الامتناع تضیع دحفظ القران چه دقران دتعلیم دی په حفظ قران کې بې هم جاری وائی ،خکه چه د تراویح ختم ترک کړی نو په حفظ کې به فتوراو قصور واقع شی کله کله دشاه

عبدالعزیز صاحب دهلوی ځکه چه په تعلیم قران کې وائی ،دچا کورته تلل اودسهارنه ترمابنامه کیناستل الخ داجاری محل وقف کولوسره ددې اجرت په اخستلوکې هیڅ قول خلاف ندی ویل شوی ، اوویل شوی اگرکه دمبلغ ورکړه راکړه واقع شوی خودتبادل اوتعارض په طریقه نه وی ،بلکه دصدقی اوهدیې په طریقه وی چه څوک غواړی نوسودگرځی اودالله لوستلی شی اودغه په دی ترتیب په ژبه تصریح کولوکې نوراحتمالات ورک کیږی انتهی،دغوصورتونوکې حق اود واقع مطابق اومدلله صحیح وجه مطلوب دی اوپه دغوامورو سواداکثرولوستونکوعادت دادی چه ذترتیل اوتجوید دقواعدوځخه عاری دزرخلاصولو غوښتونکې اوپه گنوخایونوکې غلطی ویونکې خای په خای توته کوی یاگډوډ کیږی یاوقفه کوی بیاپه خپل خیال کې راځی بیادمعین مقام پورې لوستلوسره بغیردسهوی لمونځ کول اوپه اعراب اوالفاظوکې دکفرلحاظ نه ساتل داسې ختم کې داجر امیدشته اوکه دگناه موجب بینوا توجروا؟

سوال :(۴۰۹) الفصل الثالث امورمبتدعة باطلة لااصل لها فی الشریعة اکب الناس علیها علی ظن انها قرب مقصودة وهذه کثیرة فلنذکر اعظمها منها وقف الاوقاف ای النقود لتلاوة القران العظیم فی اجراء قرانیة عین الواقف قراءها فی مکان مخصوص اولم یعین له مکانا او لان یصلی نوافل اولان یسبح ای یقول له سبحان الله کذاوکذا اولان یهلل اولان یصلی اواطلق فی ذلک کله ولم یذکرعددا ویعطی ثوابها لروح الواقف اولروح من اراده واصل المسئلة صحیح فیمن قرأالقران اوسبح اوهلل اوصلی کذارکعة واهدی ثواب ذلک لفلان الحی او المیت قال الوالدفی شرحه علی شرح الدرر فی بیان الحج عن الغیر اعلم ان الانسان له ان یجعل ثواب عمله لغیره صلوة اوصوما اوصدقة اوقراءة قران اوذکرا اوطوافا او حجا اوعمرة اوغیرذلک عنداصحابنا کذافی البحراماقوله علیه الصلاة والسلام لایصلی احدثن احدولایصوم احدعن احدفهوفی حق الخروج عن العهدة لافی حق الثواب فان من صام اوصلی اوتصدق وجعل ثوابه لغیره للاموات والاحیاء جازویصل الیهم ثوابه عنداهل السنة والجماعة کذا فی البدائع ثم فی البحروبهذ اعلم انه لافرق بین ان یکون المجعول له میتا اوحیا والظاهرانه لافرق بین ان ینوی به عندالفعل للغیراویفعله لنفسه ثم بعدذلک یجعل ثوابه لغیره لاطلاق کلامهم ولم ارحکم من اخذشیئا من الدنیا فیجعل شیئامن عبادته للمعطی وینبغی ان لایصح ذلک قال الوالدرحمه الله فیه نظربل اطلاق ماسبق یقتضی

الصحة انتهی ووجهه ان اخذالدر اهم صدقة من المعطی واخذالصدقة لایمنع الثواب للمعطی وجه الاول فی المتن ان ثواب العبادة لایدخل تحت عقدالبیع لان ذلک مخصوص بالاعواض الدنیویة بهذاالسبب یبطل الوقف المشروط فیه ذلک لان بدله اخذ المعلوم من الوقف فی مقابلة فعل الشرط الذی شرطها الواقف فهوکالبیع للثواب وان اعتبرناوجه کونه صدقة علی من یقرا الواقف القران اویصلی له الی اخره لاان ذلک المعلوم عوض عن تلک القربة وثمن لثوابها ولکنه بمنزلة مااذاکان الواقف علی امام الجامع اوالخطیب ونحوذلک فانها مشروط علی من اتصف بذلک فهی صدقة من الواقف علی صاحب هذه الوصف المذکور لان الوقف لیفعل الموقوف علیه ذلک فی مقابلة اخذه للمعلوم المعین له ومنها الوصیة باتخاذ الطعام والضیافة یوم موته اوبعدها وباعطاء دراهم معدودة لمن یطلب القران لروحه اویسبح له اویهلل اوبان یبیت عندقبره اربعین لیلة اواکثراواقل اوبان یبنی علی قبره بناء وکل هذه بدع منکرة ای انکرهاالشرع لمخالفتها لمقتضاه حیث اشتملت علی بیع ثواب الطاعة واخذ الشئ من الدنیافی مقابلته والوقف والوصیة باطلان والمأخوذ منها حرام للاخذوهوعاص بالتلاوة والذکرلاجل الدنیاوالمفهوم منه ان الذی یاخذذلک لوتلی القران اوذکرالله تعالی اوصلی کذارکعة اوهلل اوکبرونحو ذلک من انواع القربات لالاجل مایاخذه من المعلوم المعین له فی الوقف لمن فعل ذلک بل لوجه الله تعالی واخذالمعلوم صدقة علیه من الواقف جازوصح الوقف حینئذ وهوماذهبنا الیه فیماتقدم فی حق جمیع الوظائف فی الاوقاف کلها ولیس الامرمخصوصاً بهذاالنوع منهما انتهی،حدیقة الندیه شرح طریقه محمدیه ۱۲،دعالمگیری عبارت دادی: واختلفوافی الاستیجار علی قراءة القران علی القبر مدة معلومة قال بعضهم یجوزکذافی سراج الوهاج ،جلدثالث فی کتاب الاجارة ص۱۳۵، په درالمختارکې ددې عبارت توجیه دعلی قراءة القران په ځای علی تعلیم القران ضروروېلی دی کنه نودتولوفقهاؤ دتصریح خلاف بې ویلی دی دمدار سوفاضل مولوی صاحب دجوازصورت پدې ترتیب تحریرفرمایې دمتقدمینوفقهاء حنفیه په نزداجوره دعبارتونوباطله دی،لکن متاخر ینوپه اذان ،امامت اوتعلیم دقران وغیره کې جائز گرځولې ، او امامت دپنځه وخته لمونځونو،اخترونو اوتراویحوته اودتراویحو دامامت په ویستلوباندې سندنه پیداکیږی ،اوهغه څه چه فقهاءبې په علت دجوازتعلیم دقران کې وائی چه لظهورالتوانی فی الامور،

الدينية ففي الامتناع تضيع حفظ القران دتراويحوپه امامت کې هم جاری کیږی چه دتراويحو
دامامت لپاره دقران شریف بنه حفظ کوی اودجيد حفظ نه بغيردتراويحو امامت نشی کولی
،اوليدل کیږی چه هغه حفاظ چه دتراويحوامامت نه کوی یابې ترک کړی دهغوی په حفظ کې
قصور وی،نودجوازدمانع کیدلونه وروسته به هیڅکله دتراويحوامامت ونکړی اودقران په
حفظ کې به قصور راشی ،بلکه حفظ به پريږدی داهغه وخت دی چه امامت په اجاره واقع شی
لاکن که په نوروکارونو باندې دامامت نه بغيراجاره واقع شی اوامامت ضمناً واقع شی دهغه
عدم جواز کوم دلیل نه لری ،اوشاه عبدالعزیزیه فتوی کې واقع شوی دی چه اجاری قاعده
هغه ده چه په واجب اومندوب شی باندې نه منعقد کیږی ،اودقران تعلیم کفایې فرض دی
اومندوب على المعين نوداجاری خای ندی،هوادچاکورته تلل دسهارنه ترماښامه پورې
کیناستل اودهغه دماشومانو پالل دتعليم نه بغيربوکاردی چه اجاره پری منعقدکیدلی شی
انتهی،ددې عبارت څخه معلومیږی چه د مفتی صاحب داجاری دوه قسمه کولوسره په دوهم
جهت کې بې د تعمیم خیال دی والله اعلم نور هم داسې فتوی شته ،اوکه د هغوی په مینځ کې
داجاری ترون واقع نه شی نو اگر که دالمعروف کالمشروط په قاعدی به په اجاره محمول وی
،لکن په دغه وخت بې نیت دمعاوضی درلوده ، نیت بې دصله رحمی اوصدقی درلودنوپه
اجاری به محمول نشی، خصوصاً که تصریح وکړی دغه روپی دصله رحمی اوتبرع په طور
دحديقه الندية عبارت په همدې محمول دی اوپه عزیزیه فتاوی کې واقع شوی چه یوسړی
دديني علم ، يادقران حفظ يابه بل اطاعت باندې مشغولتيا غواړی خو د تنگلاس
اودمعاش دسبب دفقدان په وجه دغوکارونوته وزگارتیانه لری اوبل دسرمایې لرونکې ذمه وار
سړی دهغه دقوت سبب شی ترڅوپه فارغه زړه په اطاعت باندې مشغوله شی په دې صورت
کې دواړوته په هرطاعت دهغه کامل اجر حاصلیږی قال تعالی للفقراء الذين احـ لخ،اوپه
حديث کې چه کمک په اطاعت خای په خای ستایل شوی دی همدا دی ،لکن دیته اجرت ویل
مجاز دی انتهی والله اعلم ؟

جواب: کليه فقهيه قاعده ده کل طاعة يختص بها المسلم لايجوز الاستيجار عليها عندنا اودهغې
نقلی دلیل دادی لقوله عليه السلام اقرؤاالقران ولاتاكلوابه اوعقلی دادې:لان القربة متى
حصلت وقعت عن الحاصل ولهذاتعين اهليته فلايجوزله اخذالاجرة من غيره كمافى الصوم
والصلوٰة هكذافى الشامية المجلدالخامس ص۵ او متاخرينوڅوفروعی ددې کلی څخه

استحساناًدبقاء اوحفظ شعائردين دضرورت په علت مستثنی اومخصوص کړی دی، فی
الدرالمختار باب الاجارة الفاسدة ويفتى اليوم بصحتها لتعليم القرآن والفقه والامامة والاذان اه
فی ردالمحتاروقدذكرنامسئلة تعليم القرآن والفقه والامامة والاذان اه وفی ردالمحتار وقد ذكرنا
مسئلة تعليم القرآن على استحسان اه.يعنى للضرورة آه جلد۵ص۵۳، ددينه معلومه شوه چه
اصلی مذهب حرمت استيجارعلی الطاعة دی اودبعضی فروعو استثنا داصل مذهب خلاف
ده دمذکورضرورت په علت دي نود مذکوره فروعوسوادبقيه اطاعتونوحکم په خپل اصل پاتې
شو، قال فی الشامية يعيدالعبارة الاولى المذكورة وقداتفقت كلمتهم جميعا على التصريح باصل
المذهب من عدم الجوازثم استثنوابعده ما علمته فهذادليل قاطع وبرهان ساطع على ان المفتى به
ليس هوجواز الاستيجارعلى كل طاعة بل على ماذكروه فقط ممافيه ضرورة ظاهرة تبيح الخروج
عن اصل المذهب من طردالمنع فان مفاهيم الكتب حجة ولومفهوم لقب على ماصرح به
الاصوليون بل هومنطوق فان الاستثناء من ادوات العموم كماصرحوابه ايضاًاه، ددې عبارت
سره معلومه شوه چه دختم فی التراويح تصريح په خصوصيت اساس نه گرځول (که مسلم وی)
داستيجاردحرمت لپاره مضرندې څکه اولاپه فقهيه روايتونوكښی مفهوم مخالف حجة دي
ثانيا: دكلام دصدرد عموم په وجه دالمستثنی نه ماسوادې ختم على الاجرت حرمت منطوق او
منصوص دی،لکه چه آنفامذکوره عبارت په دی باندې دال دی ، اوکه دکليه قواعدووروسته
هم دهر جزيې دتصريح خصوصيت سره ضروری وکولی شی نودکوم مسکرجديد التركيب په
حرمت باندې په كل مسكرحرام څخه به استدلال جائزنه وی وهوباطل دوهم تلاوة لايصال
الثواب په کوم کښی چه حرمة استيجاربه خصوصی دول مصرح ده ددې تعليل په تقرير
دحرمت کښی علامه عينی دهدايې په شرحه کښی فرمايلي دي ويمنع القارى للدنيا والآخذ
والمعطى آثمان فا لحاصل ان ماشاع فی زماننا عن قراءة الاجزاء بالاجرة لايجوز لان فيه
الامربالقراءة واعطاً الثواب للآمروالقراءة لاجل المال فاذالم يكن للقارى ثواب لعدم النية
الصحيحة فاين يصل الثواب الى المستاجرلولا الاجرة ماقرء احد لاحد فی هذاالزمان بل جعلوا
القرآن العظيم مكسباو وسيلة الى جمع الدنيا اناالله وانااليه راجعون اه كذافى الشامية ص۵۳ من
المجلدالخامس ،اوظاهره ده چه داعلت په ختم فی التراويح کښی جاری دي نوداعلت په اشتراک
سره دا ختم هم بالخصوص مصرح شو څکه چه په ختم دتراويحوکښی هم مقصودثواب وي

کنه نوفی نفسه ددین په شعائروکښی ندي اوخلکو دا مکسبه جوړه کړي ده نواشتراک دعلت ثابت شو په هرحال خصوصا واخستل شی اوکه عموماً ،بیاپه عموم کښی مفهوم اخستل کیږی یا منطوقاپه هرترتیب سره حرمت استیجارعلی الختم ثابت شو،اوددینه اضافه تصریح نه کیدلوچه داکیدلی شی چه دابه په هروخت کښې فاسد رسم نه وي هرمصنف دخپلې زمانې په مفاسدوباندې تنبیه کوي،لکن هر کله چه دحرمت دلیل قائم دي نودحکم ثبوت متیقن دی اوس پاتې شوه دا چه دجوازدتوجیهاتوخواب نودجوازهذالختم لپاره ددي تقریرضرورت کوم چه سوال کښی مذکوردي محض فاسددي چه منشابې سوء تدبردي اودمزعومه ضرورت په اساس دهغه په تعلیم دقرآن باندې قیاس کول بناء الفاسدعلی الفاسددي ځکه چه تعلیم دقرآن په اعتبارداصل وضع دتعلیم لپاره موقوف علیه دي کوم چه دحفظ لپاره موقوف علیه دي نوپه اعتباردهغې قاعدی چه موقوف علیه دموقوف علیه ،موقوف علیه وی، تعلیم دحفظ لپاره موقوف علیه دي،اوپه اعتباردعارض دعادت دغه تعلیم موقوف دي اخذ اجورې دحفظ لپاره موقوف علیه شوه، بخلاف دختم مقیس چه هغه په اعتبارداصل سره موقوف علیه ندي دحفظ لپاره بلکه معامله بالعکس ده چه خپله حفظ دختم لپاره موقوف علیه دي لکه ښکاره ده نودحفظ توقف په ختم پورې ثابت نه شو،غاية مافی الباب ختم اوختم بی واسطی دحفظ په همدې اجرت پورې موقوف دي کوم چه دختم په مقابل کښی اخستل کیگی ،لکن ددې لپاره په تعلیم باندې قیاس جائزندي چه ختم دحفظ په شان ددین دمهماتونه ندی، لکه چه فقهاؤددې دسنت والی تصریح کړیده بلکه دائی هم ویلی دي چه که په قوم باندې ختم دروندوی نوترک ئی افضل دي فی الدرالمختار وردالمحتاروالختم مرة سنة ولایترک لکسل القوم لکن فی الاختیارالا فضل فی زماننا قدرمالایثقل علیهم واقره المصنف وغیره الی قوله ومن لم یکن عالماً باهل زمانه فهوجاهل قوله الافضل فی زمانناالان ... الجمع افضل من تطویل القراءة الی قوله ولهذا قال فی البحر فالحاصل ان المصحح فی المذهب ان الختم سنة لکن لایلزم منه عدم ترکه اذالزم منه تنفیرالقوم وتعطیل کثیرمن المساجد خصوصاً فی زماننافالظاهراختیارالاخف علی القوم مجلداول ص ۷۳۹، ددې روایتونونه دختم د ضروریاتونه نه کیدل ظاهردی نوچه کله ختم دضروریاتونه نشوه نوددې توقف په هغه اجرت باندې چه عارض دعادت سره مثبت اومسلم وی دهغه جواز د ضرورت دعلت سره څنګه ثابتیدلی شی بلکه په داسې حالت کښی ددې ختم اهتمام پرینبودل کیگی لکه چه فقهیه مقرره قاعده ده:

اذا تردد الحکم بین سنة وبدعة کان ترک السنة راجحاعلی فعل البدعة کذافی الشامیة المجلدالاول صفحه ۲۷۱، نوهرکله چه ددې سنت په اداء سره دیوبدعت دارتکاب کول راځی نوداسنت به پریگدو،اوکه کوم سړی دتوقف حفظ علی الختم الموقوف علی الاجره داتوجیه وکړی چه مراد توقف الحفظ علی تصورالختم بالاجرة وتوقعه دي نواولاخوددې عادت خورول اوشایعول غلط دی ثانیا: دقرآن اوحفظ دتحصیل په وخت کې داکثرومحصلینو دی طرفته التفات هم نه وي په دی ترتیب که داتوجیه وکولی شی چه بدون داجرت په ختم نه کوم اوبی له ختم نه به محفوظ پاتې نشی نوددې هم اولاً عادة خوروالی غلط دي په زرګونه بندګان دالله د اوریدونکوپه لیدلوسره دخپل حفظ دبقاء لپاره تلاوت کوی ثانیا: دغه توقف په دوارو توجیهګانوکښی داصل وضع په اعتبارسره ندی لکه څنګه چه په تعلیم کې وه ،بلکه دخپلې بدی طمعی څخه دی که هغې راشی اوددینه بغیردې هیڅوک نه کوي نوښکار ده چه داسې تقریرسره همهلته هم د آخذ اجرت دجوازحکم ورکول شی وهوباطل بالاجماع والتنصیص من الشارع والفقهاء. اوپه تعلیم کې دی عادة ته پدې خاطر اعتبار ورکول شوچه په تعلیم کې دومره مشغولتیاوی چه په بلی طریقی سره دمعاش اکتساب نشی کیدلی اوهرسړی فارغ البال اومرفه الحال ندي په خلاف دمتنازع فیه حکم چه دهغه سره دمعیشت نوری لاری نه مختل کیگی دهمدی لامله د تعلیم متعلق عادة شرعامعتبر اومخفف دحکم شواوهغه عادت چه متعلق دختم وهغه معتبراو مخفف دحکم نه شوفافهم ،په همدې ترتیب دغه ختم په باب دامامت کې دداخلولودعوه اوپه همدې بناء باندې هغه مستثنی ګڼل شول چه باطل دی ځکه چه ختم نه عین امامت دی اونه موقوف علیه جزئیة یالزوماده ،ځکه چه امامت بې دختم نه هم متحقق کیږی ،کماهو مدرک بالحسن نوپه دی اساس باندې داستثناء د دعوی ګنجایش نشته ،اودشاه صاحب داولی فتوی له دی سره هیڅ تعلق نشته ځکه هغه توجیه دحبس مخصوصه دی دضرورت دصورت سره اوکوم ځای کښی چه مذکوره ضرورت وی هلته دغه تاویل مقبول ندي بلکه دیو طاعت فردبه هم پاتې وی ،په کوم باندې چه حکم دحرمت داستیجار کولی شی ځکه دغه تاویل په هرځای کښی چلیدلی شی،علی هذاد دوهمی فتوی ددې سره څه تعلق نشته ځکه اعانة علی الطاعة بیل څیزدي، اګر که دیته مجازاً اجرت ویل کیگی ،اواجرت علی الطاعة جداڅیزدی اودمشاهدی نه ثابته ده چه اوس کوم رواج دي هغه حقیقة اجرت دي کماهوظاهروسیاق قرینة عن الامام الاستاذ او همدارنګه داجرت تاویل کول په اعانت سره معلل دي په ضرورت سره اودلته ضرورت نشته کما مراودا تاویل چه دا ئی

حسبة لله لولی او هغه نی حسبة لله ورکوی الخ بالکل دحسیاتونه انکاراوتاویل العمل بمالا یرضی به العامل دي کوم شخص چه دي فاعلینومعامله وینی گوری هغه ته به هیڅکله شبه پاتې نه شی چه اصلی مقصداجرت دي،او داسې تصریح چه دفعل خلاف وی اودمتعاقدینو په نزدغیرمقصودوی محض هزل دي چه په شرع کښی بغیرد معدوده مستثنیاتو داعتبار قابل ندی قال الامام الاستاذ لا یطیب والمعروف کالمشروط اه قلتُ وهذامما یتعین الاخذبه فی زماننا لعلمهم انهم لایذهبون الاباجرالبتة کذافی الشامیة المجلدالخامس صفحه ۵۲ فی تقریرمسئلة اخری اوردناهااحتجاجاً بالعلة ، اوبعضی بزرگانونه چه داتوجیه نقل کولی شی ممکن دی چه دهغوی په زمانه کښی په نیتونوکې به دومره فسادنه و،گنی ددې توجیه غیرمقبول کیدل ظاهردي،اوپه حدیقه کې چه دبحرکوم عبارت منقول دي دهغه په حقله په شامی کې ردامنقول دي : وقداغتربمافی الجوهرة صاحب البحرفی کتاب الوقف وتبعه الشارح فی کتاب الوصایاحیث یشعرکلامهما بجواز الاستیجارعلی کل الطاعات ومنها رقراءة وقدرده الشیخ خیرالدین الرملی فی حاشیة البحرفی کتاب الوقف حیث قال اقول المفتی به جواز الاخذ استحساناً علی تعلیم القران لاعلی القرءة المجردة کماصرح به فی التاتارخانیة الخ جلدخامس صفحه ۵۳ اودرسم المفتی د قواعدو مطابق هرکله چه داقول مرجوح دي ،لهذاپه دی باندې به عمل جائزنه وی اوکوم عبارت چه په عالمگیری کښی دی دهغه متعلق علامه شامی لیکلی دی والصواب ان یقال علی تعلیم القران فان الخلاف فیه کماعلمت لافی القراءة المجردة فانه لاضرورة فیهافان کان مافی الجوهرة سبق قلم فلا کلام وان کان عن عمدفهومخالف لکلامهم قاطبة فلایقبل وقداطنب فی رده صاحب تبیین المحارم مستنداً الی النقول الصریحة الی اخرماقال،جلدخامس صفحه ۵۲ په همدې ترتیب دجوازالقراءة علی القبرنه په جواز الاستیجارباندې استدلال کړی دي محقیقینوددې هم تغلیط کړی دي قال الشامی وفیه ردایضاًعلی صاحب البحرحیث علل البطلان بانه مبنی علی القول بکراهة القران علی القبروليس کذلک بل لمافیه من شبهة الاستیجار علی القراءة کماعلمت وصرح به فی الاختیاروغیره ولذاقال فی الولوالجیة مانصه ولوزارقبرصدیق اوقریب له وقرء عنده شیئاً من القران فهوحسن اماالوصیة بذلک فلامعنی لهاولامعنی ایضاً لصلة القاری لان ذلک یشبه استیجاره علی قراءة القران وذلک باطل ولم یفعل ذلک احدمن الخلفاء اه جلدخامس صفحه ۵۳، په یوځای کې

شامی ویلی دي : ولاضرورة فی استیجارشخص یقرا علی القبراوغیره اه جلدخامس صفحه ۲۷۷، دغیره په دی لفظ کې غیرقراءة علی القبرهم داخل دي کوم چه تراویح ته هم شامل دی دخواب حاصل داشوچه په سوال کې مذکوررواج بالکل باطل اودشرعی مخالف دی اوداسې ختم هیڅکله دثواب موجب ندی بلکه دمعصیت موجب دي . والله اعلم رابع ذی الحجة ۱۳۲۱ھ،امدادص۴ج۱)

په تراویحو کې په بیلو طریقوسره داجیرحافظ نه دقران د اوریدلوحکم

سوال :(۴۱۰) مسنون سلام لاندې سوالونه داستفسارپه توگه خدمت ته درروان دی ،او صواب والاخواب نه مومطلع وفرمایې؟

(۱) په دی منطقه کښی په عمومی طورپه اکثرومسجدونوکې په ټول رمضان کې دتراویح لمونځ دجماعت سره وی لکن خوان حافظ په تراویحوکې امام جوړیدوسره دکلام شریف ختم کوی بی له عوضه، او نقدی نه ملاویگی (۲) دلته حافظ ته دمعاوضی ورکولودوه صورته رواج لری اکثره خومخکې دشروع د تراویحونه معامله صفاصفاکوی ،لکن دداسې حافظانوشمیرزیات دی چه دعوض تعین نه کوی بلکه په کومه ورځ چه کلام شریف ختمیگی دتراویح لمونځ مقتدیان په خوشحالی سره اوپه شوق سره حافظ صاحب ته نقودوراندې کوی کوم چه حافظ صاحب دیې درده خلوا په شان هضموی (۳) یودا صورت هم مستعمل دی چه دمحلی ربیس یاکوم دقدرت خاوندسړی یوحافظ محض دختم کلام شریف لپاره په خپل مسجدکې مقرروی ،اودهغه په خدمت کې نقدی معاوضه دخپل خاص جیب نه پوره کوی په مقتدیانو دهیڅ څه ورکول نه راځی (۴) د هغه مخدوم داصلاح الرسوم درسالی دمطالعی نه صفاظاهره دی چه دالله په اطاعت باندې اجرت نشته دی لهذاپه پورتنیوسوالونوکې کوم یوصورت په غرض دجواز داقتداء دامام ماجوراختیارکولی شی ؟

(۵) هرکله چه دماجورحفاظووباء عالمگیره ده نومحض په شل رکعتو دتراویح دلمانځه باجماعت په کوم کې چه دکلام پاک څو سورتونه لوستل کیږی افضل اوانسب ده په نسبت سره اقتدادغوماجورو حفاظو (۶) که دحافظ صاحب سره نه دتراویحومخکې معامله وکولی شی اونه دکلام پاک په اختتام باندې هغه ته اجوره ورکولی شی بلکه دټول کال په دننه کې بغیردتعین دتاریخ دهغه کماحقه خدمت په نقدوسره وکولی شی ، نو آیا دغه نقدی معاوضه اخستل حافظ ته جائزدی اوداسې حافظ اقتداء کولی شی ؟ (۷) په یوی محلی کې

دتراویحولمونځ په جماعت سره اداءکولی شی لکن په هغه کې دکلام پاک ختم درواج مطابق نشته دی لکن صرف دالم ترکیف نه تراخره پورې څه سورتونه وائی نویه دی دوه سریوکې دچاعمل افضل دی ؟آیادهغه سړی چه په خپله محله کې په داسې تراویح لمونځ کې شاملیږی یادبل سړی چه په محله کې دکرایه دارحافظ پسې اقتداء کولوسره په ختم کولوباندې فخرکوی (۸) که په کوم ښار کې دحسن اتفاق په اساس په کوم خاص مسجدکې کوم حافظ محض په نیت دثواب بلادکومی نقدی معاوضی کلام پاک په تراویح لمونځ کې ختموی نوپداسې حالت کې په نوروسجدونوکې یوازی په الم ترکیف سره جماعت قائمول جائزدی اوکنه؟(۱) کله هغه مسجدپه دی محله کې نه وی (۲) کله هغه مسجدپه بله محله کې وی ؟

جواب :ددې په خاطر چه په تراویحوکې دقران اوریدل ددینیه مقاصدو څخه دی اودسلفونه ددې اهتمام متوارث دی اوهغه اوس دزمانې دفسادپه وجه مخلص اوروونکې خلک کم پیداکیږی که دداسې حفاظو سره دقران اوریدل ونه شی ،نویقیناً په بعضی ځایونوکې به ځینې خلک ټول عمرکې دقران داستماع نه محرومه پاتې شی ،دهمدی لامله اوریدونکې به مضطروګڼل شی اوشرعی قاعده ده چه اضطرار د تیسیر غوښتونکې دی دهمدی په خاطرکه ممکن وی ددغو اوریدونکو په حق کې ددې فعل څه تاویل کول مناسب دی اودلته دغه تاویل ممکن دی[1] چه دغه اجوره (برابره خبره ده چه مشروط وی اوکه معروفه چه هغه هم دمشروط په حکم کې دی) دامامت په مقابل کې وویل شی ،کوم چه متاخرینوجائز ګرځولی اوددې لپاره چه ختم اوروونکې مضطرندی دهغوی په حق کې ددې تاویل اعتبارېه نه شی کولی نودهغوی په حق کې دغه اجرت بحالهادرست ندی ،کیدی شی چه په دی تقریرسره دټولو سوالونوځواب په شوی وی ، که دکوم خاص انسان ددې سره انطباق ظاهرنه وی نومکرردی پوښتنه وشی (خوداپارچه هم بیاراوړی) ۸رمضان المبارک ۱۳۳۱ھ (حوادث ۱-۲ص۱۱۲)

[1] ددینه بعدپه ۱۰رمضان ۱۳۳۲ھ کی یوه ددې دعلی الاطلاق ممنوع والی نوشته شوه په هغی کی دویل شوی تاویل خوا ب هم شته اوهغه ویل شوی ددې ختم دینیه مقاصد کیدل دی اوهغه خواب چه ددې فتوی خلاصه ده داده چه کوم ځاے کی چه فقهاؤبوه ختم ته سنت ویلی دکوم نه چه ظاهراً سنت موکد مراددے هلته بې داهم لیکلی دی چه کله په خلکوباندې تقیل وی هلته دی په الم ترکیف سره وکړی نوکله بې چه دجماعت دتقلیل نه دخان ساتل لاره ددې سنت دترکولواجازه ورکړه نویه اطاعت باندې داستیجارمحذورددینه لوی دے ددینه دساتلولپاره ولی ونه ویل شو چه الم ترکیف ولولی او ددې په خاطر چه دافتوی وروستی ده دمجیب لپاره هم دعمل کولو لپاره متعین ده باقی دسابقی فتوی نقل کول ددې لپاره دے چه نوراهل علم هم ددواړوځوابونویه اساسونوکی غورووفرمایې اوچه کوم راجح وی په هغه فتوی ورکړی ممکن ده چه دمجیب احقرنظرقاصروی ۱۲منه عفی عنه

دترجیح الراجح نه دمذکوره مسئلی توضیح ص ۲۲٤

په حوادث الفتاوی ۱۳۳۱ص۱۱۸کې داستماع قران من الحافظ الاجیر مسئله شته دهغه په نهمه کرښه باندې یوه حاشیه[1] ده هغه ملاحظه وفرمایې : اوپه تتمه ثانیه امدادالفتاوی ص۱۲۲ کې هم ددې مسئلی تحقیق[2] شته هغه هم وګوری (ترجیح ثالث ص۲۳۴)

سوال :(٤١١) کوم حافظ چه تراویح اوروی هغه ته ورکول هم جائزدی یاورکول اواخستل دواړه ناجائز (۱) اوکه بلااجوری حافظ پیدانشی نویه اجوره مقررکړی یاپه الم ترکیف سره تراویح وکړی ؟ (۲) اوکله چه په امامت باندې اجوره جائزه وی نویه تراویحوکې بوقران هم موکدسنت دی په هغه باندې ولی اجوره ناجائزده ؟

جواب :(۱) زه خوېې ناجائز ګنم (۲) زه خوېې په الم ترکیف سره ورکوم (۳) کوم ځای کې چه فقهاؤیوختم سنت ویلی دی دهغه په ظاهراً مؤکد سنت مرادی دی هلته بې داهم لیکلی دی چه کوم ځای کې چه په خلکو باندې دروندوی هلته دی دالم ترکیف وغیره لوستلو سره وکړی ،نوچه کله دجماعت دتقلیل نه دبچکیدوپه خاطرددې سنت دترک اجازه ورکول شوه ،نوداستیجارعلی الطاعت محذور خوددینه ډیرلوی دی ددې نه دبچ کیدلولپاره ولی نه ویل کیږی چه په الم ترکیف سره بې وکړی اوددینه د ۱-۲نمبروجه هم معلومه شوه ۱۰رمضان ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه ص۱۲۲)

په تراویحوکې دختم لپاره داستیجاردحیلی باطلول :

سوال :(٤١٢) که زیدته څوک دبی اجرت ختم دپوره کولوپه سرپه خوشحالی سره لس روپی ورکړی یابې دیوی میاشتی لپاره امام مقررولوسره څه اجرت ورکړی پدې ترتیب سره عندالشرع اجرت حلال شواوکنه؟ اودامامت په صورت کې دغه حلال والی کې کومه شبهه خونه معلومیږی ځکه متاخرینو علماؤدامامت په اجرت باندې فتوی ورکړی دی ستاسوڅه رایه ده په تفصیل سره تحریر وکړی ؟

[1] داحواله دپورتنی سوال (۱) دحاشیی مربوط دے
[2] داسوال ۴۰۷ دے چه ددینه وروسته درج شوی ۱مصحح.

جواب: دغه دجواز فتوی هغه وخت ده چه کله امامت خپله مقصودوی په داسې حال کې چه دلته مقصددتراویحوختم دی اودا محض یوه حیله ده،په دیانتونوکې چه معامله فی مابین العبدوبین الله وی حیلی دجواز لپاره ربنتینی مفیدی ندی لهذادغه ناجائزشو. ۲شوال ۱۳۳۳ھ

په یوازی تراویح اوتهجدکې جهریه قرات:

سوال: (۴۱۳) په دی طورکله چه یوازی تراویح اوتهجدهم کوم نوقرات په جهرسره لوستلی شم کنه؟

جواب: لوستلی شی ودلیله مامر ۲شوال ۱۳۳۷ھ

دمشهوره شبینی متعلق ددوومختلفوفتواگانو

ترمینځ فیصله اومحاکمه دشبینی حکم

سوال: (۴۱۴) حامدا ومصلیاً د دوارو فتواگانو په لیدلو سره معلومه شوه چه په حقیقت کې د دوارو تر مینځ لفظی اختلاف دی ، ځکه د جواز د حکم تعلق د نفس عمل سره په شرط د خلو من المفاسد دې ، او د منع حکم د لزوم او اقتران مفاسد په صورت کې دی او دواړه حکمونه صحیح دی ،اوربنتینی حکم ډیرښکاره دی چه که مفاسد نه وی نوجائز ده اوکه مفاسد وی نوروا نده،اوس یوازی دغه امرپاتې دی چه آیاپه دغه وخت کې مفاسدغالب دی اوکنه؟ نو دا امرمربوط دی دمشاهدی پورې اوپه صفانظرمشاهدی نه ښرگندیږی چه بلاشبه مفاسد غالب دی ، مثلاً که دتراویحونه وروسته دا عمل وی نوپه مجمع کثیرسره دنفل جماعت کیدل چه مکروه دی اوکه په تراویحو کې وی نوامام ته چه کوم حکم دتخفیف صلاة دی دهغه مخالفت راځی،او د قراؤ دچالاکې په سبب دترتیل اوتجوید ترک کول او اکثرا په د فخر اوخان ښودنی قصدوی،او ډیردعالی عوض امید درلودل، او اکثراوریدونکې دقران داستماع ادبونوپربښودل ومثل ذلک مما یطول ذکره اوفقهیه قاعده ده چه په کوم جائز بلکه مندوب کارکې چه شرعاً داهتمام سره مطلوب نه وی اودمفاسدوغلبه وی دهغه ترک کول پکار دی برابره خبره ده چه هغه مفاسد د فاعلینوپه اعتبار سره وی اویا دنورو کتونکو عوامو په اعتبار سره وی دهمدی په خاطرپه دی زمانه کې ددې عمل ترک کول مناسب بلکه ډله کله واجب دی لاندنی روایتونه ددې تقریرمؤیددې فی الدرالمختارمکروهات الصلاة وترکها ای القلب الحصی

اولی وفی ردالمحتار لانه اذا تردد الحکم بین سنة وبدعة کان ترک السنة راجحا علی فعل البدعة اه وفی الدرالمختار الافضل فی زماننا قدر مالایثقل علیهم وفیه ای یکره ذلک (ای النفل بالجماعة) لوعلی سبیل التداعی بان یقتدی اربعة بواحدالی قوله وفی الاشباه عن البزازیة یکره الاقتداء فی صلاة رغائب وبراءة وقدروبعیدهذا و لاینبغی ان یتکلف کل هذاالتکلف لامرمکروه وفی ردالمحتارتحت هذا القول فلوترک امثال هذه الصلوة تارک لیعلم الناس انه لیس من الشعائر فحسن اه وظاهره انه بالنذر لم یخرج عن کونه اداءالنفل بجماعة وفی الدرالمختارتحت سجدة الشکر لان الجهلة یعتقدونها سنة اوواجبة وکل مباح یودی الیه فمکروه اه وفی هکذاکفایة انشاء الله تعالی لمن کان له قلب اوالقی السمع وهوشهید- والله تعالی اعلم بحقائق الامور.فقط ۱۹رمضان ۱۳۲۵ھ (امداد ص ۹۱ج۱)

سوال: (۴۱۵) ددین علماء په دی مسئله کې څه فرمایې چه دکلام مجیدپه توله شپه کې خلاصول کوم ته چه په عرف کې شبینه ویل کیږی برابره خبره ده چه یوحافظ ختم وکړی یاځوحافظان په جمع کیدلوسره یې پوره کړی جائزده اوکنه دشرع موافق دمذهب حنیفه بیان وفرمایې سره دسنده دفقهاؤ د عبارت وغیرهم بینواتوجروا؟

جواب: دحدیث دظاهرنه ممانعت معلومیږی چه ددری ورخونه کم د قران ختم وکولی شی فی المشکوة عن عبدالله بن عمروان رسول الله ﷺ قال لم یفقه من قرالقران فی اقل من ثلث رواه الترمذی وابو داود والدارمی ۱۲ په همدې بناء بعضی علماؤ دغی شبینی ته مکروه فرمایلی دی لکن دسلف عادت په ختم دقرآن کې مختلف منقول شوی دی ،تردی چه بعضی بزرگانو په یوه شپه اوورځ کې دری ختمه کړی اوبعضواته ختم کړی د همدی په خاطر مطلقا ددری ورځونه کم ختم کولوته مکروه ویل مناسب ندی ، بلکه اقرب الی التحقیق دامعلومیږی چه که شبینه کې قران صفاولوستل شی اود حفاظومقصود ریانه وی ، چه فلان دومره ولوست ، اوفلان دومره اوجماعت کې سوستیانه راځی اودحاجت نه زیاته رڼایې کې تکلف ونه کړی اوتراویح کې ولولی اوقصددحصول دثواب وی جائز[1] د اودمذکورحدیث معارض ندی ځکه علت دمنع عدم تفقه دی، او هرکله چه داسې صفا ولوستل شی چه تدبراوتفقه ممکن وی نوممنوع ندی لکه څنگه چه دبعضی سلفوعادت تحریرشودغه جرئت نشی کیدلی چه دغه

[1] داحکم دفی نفسه دے لاکن څمونږپه زمانه کی مفاسدعادتاً دلازم په شان وی لهذامنع کول به وی؟؟ ۱۲منه

فعل نه مکروه وویل شی لکه چه دمذکورحدیث په حاشیه باندې لیکل شوی ، ظاهره المنع من ختم القران فی اقل من هذه المدة ولکنهم قالوا قداختلف عادات السلف فی مدة الختم فمنهم من کان یختم فی کل شهرین ختمةً واخرون فی کل شهر و فی کل عشروفی اسبوع الی اربع وکثیرون فی ثلث وکثیرون فی یوم ولیلة فی جماعة ثلث ختمات فی یوم ولیلة وختم بعض ثمانی ختمات فی یوم ولیلة والمختارانه یکره التاخیرفی الختمة اکثرمن اربعین یوماً وکذاالتعجیل من ثلثة ایام والاولی ان یختم فی الاسبوع والحق ان تختلف باختلاف الاشخاص ۱۲ط ولمعات مختصرا (۱) اوکه دومره [2] په جلدی سره یې ووائی چه یوه حرف هم په پوهه کې رانه شی نه زیر اونه زورنه دغلطی خیال اونه دمتشابه اوبوازی ریا کاری مقصود وی اوجماعت هم اخواديخوا پراته وی یادحاجت نه زیاته رناپې وی یادتراویحویه کولو سره جماعت په نوافلو کې وکړی دایقینا مکروه دی لقوله تعالی ورتل القران ترتیلا ولقوله واذاقاموا الی الصلوة قاموا کسالی یراون الناس الخ وبقوله ان الله لایحب المسرفین ولقول الفقهاء ان جماعة النوافل مکروهة– والله اعلم. ۲۲ رجب ورځ جمعه ۱۳۰۲ھ امدادص۱۰۳ج۱.

سوال :(٤١٦) ددین علماء په دی مسئله کې څه فرمايي چه په مسجديا علاوه دجامع مسجدپه بل کوم مسجدیادمسجدنه علاوه په بل کوم ځای کې شبینه کول څنګه دی؟

جواب :په څوشرطونوسره درست دی خوعادةً دغه شرطونه کم پیدا کیږی (۱) ترتیل پری نړدی (۲) په تراویحوکې یې ولولی (۳) دجماعت په وخت کې تخلف ونه کړی. ۵شوال ۱۳۳۲ھ تتمه خامسه ص۲۵.

دکوم خاص سړی په مراعات سره دهغه نه فوت شوی قران په تراویحوکې اعاده کول

سوال :(٤١٧) ددین علماء دهغه امام په حقله څه فرمايي چه دکوم خاص شخص په رعایت سره دقران شریف دترتیب دپوره کیدویعنی که ددې سړی په رمضان شریف کې دقران شریف اوریدل ترک شوی وی، نودهغې په دوهمه ورځ دهغه په شلورکعتونوکې لوستل په دی حالت کې په مقتدیانوباندې باراوتکلیف اودوخت تنګی وی اوامام اکثرادډې سړی رعایت کوی دهغه پسی لمونځ کول جائزدی اوکنه بینواتوجروا؟

[2] روی الطحاوی بسنده عن عبدالله بن زبیرانه قراالقران فی رکعة وعن سعیدبن جبیرانه قراالقران فی رکعة ف البیت انتهی ۱۲

جواب :لمونځ خودهغه پسی جائزدی خوځیله دافعل چه دیوه سړی رعایت وکړی اوپه نوروباندې سختی وی مکروه تحریمی ده البته که دغه سړی مفسدوی چه دضرراندیښنه ورځنی وی نومکروه هم ندی، فی الدرالمختاروکره تحریماً اطالة الرکوع اوقراءة لادراک الجائی ای اذاعرفه وفی ردالمحتار الا اذا کان داعراشریراًوفی ردالمحتاروان لم یعرفه فلاباس الی قوله لکن یطول مقدارمالم یثقل علی القوم ج۱ص۱۲ سلخ، جمادی الاولی ۱۳۲۸ھ تتمه اولی ص۳۰.

په تراویحوکې په دوهم رکعت باندې دناستی وجوب

سوال :(٤١٨) که په تراویحوکې په دوم رکعت باندې ناسته ونه کړی او ودریږی نودسیده ودریدلونه وروسته کیښینی اوکنه ؟اوپه څلورم رکعت کې سجدهٔ سهوه وکړی اوکنه اولمونځ تراویح شواوکه نفل اوداعادی ضرورت شته اوکنه ؟

جواب :جزئیه می نده لیدلی دکلیه مقتضی داده چه :کیناستو ضرورت نشته په اخرکې دی سجده وکړی اوتراویح وشوی اوداعادی حاجت نشته فی الدرالمختاروالاصل ان کل شفع صلاة الابعارض اقتداءا وبنذراوترک قعوداه مع ردالمحتارج۱ص۷۱۴ووجوب سجدة السهوظاهر فقط ۱۱شعبان ۱۳۲۱ھ تتمه اولی ص۳۷.

په تراویحوکې دترویحې (جلسه) اندازه

سوال :(٤١٩) مقداردترویحی چه په جلسه کې توقف کولومقداردی ددې ترویحی نه مراد څه دی ؟آیاهغه څلوررکعته چه قران په کې لوستل شوی دی یاخومره خندکې څلوررکعته نفل کوی په ادنی مایجوزبه الصلاة سره

جواب :دبعدکل اربعة بقدرهانه ظاهرامعلومیږی چه هغه خاص رکعتونه په خومره خندکې کولی شی خوقول دقهستانی فیقال ثلاث مرات سبحان ذی الملک والملکوت الخ اوپه قول دنهرط واهل المدینة یصلون اربعاًنه معلومیږی چه مطلق اربعه مراد دی ،وهذایسرکذافی ردالمحتاربحث التراویح .۲۵رمضان ۱۳۲۹ھ تتمه اولی ص۳۹.

په نارینه او ښځو باندې د تراویحو سنت والی:

سوال :(٤٢٠) د دین علماء په دې مسئله کې څه فرمایي چه تراویح سنت کفایه دي او کنه په درمختار کې دي چه تراویح کفایه سنت دي؟

جواب :د تراویحو سنت کفایه کیدل کوم ځای کې هم مذکور ندي په دې کې صفا لیکل شوي سنة موكدة للرجال والنساء اجماعاً دا صریح ده په سنت علی العین کیدو کې ۲۰ شوال ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه ص ۹۰)

د جماعت د سنت عین کیدلو فوت په تراویحو کې

او د هغه د دینې مصالحو سره موافقت:

سوال :(٤٢١) د دین علماء د تراویحو په باره کې څه فرمایي چه جماعت د تراویحو سنت کفایه دي؟ د عالمگیری نه؟

جواب :په ربښتیا یو قول دا هم دی مگر بل قول د هغه خلاف دی کما فی ردالمحتار وقیل ان الجماعة فیها (ای التراویح) سنة عین فمن صلاها وحده اساء وان صلیت فی المساجدوبه کان یفتی ظهیرالدین ج۱ ص۷۳۸؛ او په دغه وخت کې د دین مصالحو ته کتلو سره په دې باندې فتوی ورکول پکار دي. ۳۰ شوال ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه ص ۹۰)

د تراویحو په یوه رکعت د قل هو الله د تکرارکولو تحقیق:

سوال :(٤٢٢) جنابه کوم کتاب چه د حضور د فیض نه دولتمند دې او مسمی په بهشتی گوهر دی یو ولسمه حصه چه بهشتی زیور دی په هغه کې لیکل شوي چه د تراویحو د ختم لمانځه کې دری خله لوستل د قل هو الله مکروه دي کنه، که مکروه وي په څه وجه آیا په سبب د تکرار د سورة یا بسبب د رواج گرځولو او که مکروه وي نو کوم مکروه؟ جنابه دا قسم لوستل د بنگال په هیواد کې ډیر رواج شوي دی که څوک یې منع کړي عالم او جاهل ټول د هغه نه نفرت کوي او وائي چه دا قسمه لوستل د جناب مولنا حافظ احمد د زمانې نه جاري شوي دي، که منع وای نو هغه به هم منع کړي وای دغه نه منع کول دلیل دی په جواز باندې او ډیرو مولویانو انکار کړی دی او څو مولویانو اقرار کړی دی اوس فساد او لانجې شوا او هغه په تحقیق کې مشغول شوي د څو ورځو وروسته یو سړي د مفید القاری د کتاب نه چه د مولنا عبدالمنان د تالفاتو څخه دی

راوړی دی چه د فقیه ابواللیث په نزد دری ځل لوستل د قل هو الله جائز دي او ځینو مستحسن بوره شوی او ځینو غیر مستحسن، او د هغه نه وروسته یې لیکلي دي چه د منیه په شرحه کې یې لیکلي دي ویکره تکرار السورة فی المکتوبة دون النوافل، نو باقی پاتې شو چه د تراویح لمونځ نفل دي او که سنت که نفل دي نو جائز دي په اتفاق سره او که سنت وي نو جائز به وي او کنه هغوی کتاب د جناب ولیدلو ویلي دي چه د کوم کتاب نه یې نقل کړي آیا هغه معتبر دي او که غیر معتبر هل یجوز تکرار السورة فی السنة والواجب، که معتبر وي متین علماء دې دستخط وکړي ترڅو چه په هغه باندې په عمل کولو کې شک پاتې نه شي فلهذا امید دې چه د جناب په نزد دا چه د شفقتا د الله د رضاء له مخې یې د وه قلمه تحریر فرمایلي دي مکروه دي او کنه ثابت کړی ده او هم دی هغوی د کتاب څخه عبارت یې نوشته د څو تکره علماؤنه مسجل کړي ترڅو د غه فساد لرې او د دارینو ثواب حاصل کړي ان الله لایضیع اجرالمحسنین؟

جواب :بهشتی گوهر خلاصه د علم الفقه ده چه د مولوی عبد الشکور صاحب لکنهوی د تالیفاتو څخه دی نه پوهیږم چه د کوم ځای نه یې نقل کړی دی د خلاصه کولو په وخت کې بسبب د وثوق په هغوی باندې د ماخذ تفتیش ونکولی شي، که زړه وغواړي د هغوی نه به تحقیق وکولی شي د هغوی پته لکنهو مدنیه چوک مولنا عین القضاة صاحب کافی دی لاکن تبرعاً د دلیل د تحقیق لپاره بنده هم کتابونو ته رجوع کړی ده لاندې روایت په عالمگیری کې د نظره تیر شو، ویکره تکرار السورة فی رکعة واحدة فی الفرائض ولاباس فی التطوع کذافی فتاوی قاضیخان واذا کررایة واحدة مراراً فان کان فی التطوع الذی یصلی وحده فذلک غیرمکروه وان کان فی الصلوة المفروضة فهو مکروه الخ ج۱ ص۲۸، نو ظاهره ده چه تکرار السورة او تکرار الایه متساوی الحکم دی، او عدم کراهت د تکرار آیت فی التطوع قید الذی یصلی وحده اضافه کړی ده نو واضح شو چه مراد د تطوع نه په تکرار د سورت کې هم هغه تطوع ده چه یوازې وکولی شي او تراویح چه د فرضو په شان په جماعت سره اداء شي په دې حکم کې د فرضو په شان ده په نو د فرائضو په شان په هغو کې د سورت تکرار مکروه دی، د دینه علاوه د اسې التزام او اصرار چه خلکو اختیار کړی هم مستقل دلیل دی په کراهت باندې او د اول دلیل مقتضی کراهت تنزیهی دی او د دوهم دلیل مقتضی تحریمیه دی والله اعلم (تتمه ثانیه ص۱۷۸)

سوال :(٤٢٣) د څو میاشتو موده وشوه چه د لته څه جگړې وشوې د اخلاص سورت شریف په تراویحو کې په دری ځل لوستلو په مسئله کې مجوزین فرمایي چه هیڅ سبب د منع نشته بلکه

دادثواب موجب دی خکه دری خل لوستل دمذکورسورت دقران دثواب برابردی اومانعین فرمایي چه تکرار په لمانځه کي نشته اولکه څنګه چه دحضورعالی دبهشتی زیورپه یوولسم حصه دبهشتی ګوهرکي مرقوم دی اصح داده چه مکروه دی همغه شان چه نن صبارواج دی نوهغه سوال کوی چه دهغه څه معنی ؟دنن صبا رواج په کوم طوردی ؟ نوجناب عالی تکلیف فرمایلوسره دکتاب دحوالی سره خواب باصواب تحریر وفرمایي فقط؟

جواب :په دی وخت خاص ددي جزئيه په چالاکي کي میلاونه شوه لکن ددرمختارداقول باندي چه لاباس ان یقرء سورة ویعیدهاق الثانیة د علامه شامی داقول میلاوشوافادانه یکره تنزیهاً وعلیه یحمل جزم القنیة بالکراهة ویحمل فعله علیه الصلوة والسلام لذلک علی بیان الجوازج ۱ص ۵۷۰ددینه معلومیږی چه هرکله په دوه رکعتونوکي دیوه سورت اعاده کول مکروه دی نوپه یوه رکعت کي دهغه اعاده د تکرار خوبه په اولی درجه مکروه وی ؟ اوکه شبهه وی چه ددینه وروسته په درمختارکي دی ولایکره فی النفل شئ من ذلک دهغه خواب دادی چه په ردالمحتارکي دفتح نه په دی باندي نقل کړی وعندی فی هذه الکلیه نظرالخ بیایه ردالمحتارکي بي دحلبی نه نقل کړی دی انهم نصواباِن القراءة الخ ج۱ص۵۷۱. ددینه معلومه شوه چه په دی کي اختلاف شته اوددلیل دقوت په سبب دکراهت ترجیح معلومیږی همدا حاصل دی دبهشتی ګوهر دمسئلی همغه شان چه داقول چه صحیح دادی الخ دال دی په اختلاف باندي هم اوپه بهشتی کي چه کوم څه لیکلی دی چه لکه څنګه چه نن صبادستوردی دهغه معنی ظاهره ده خکه چه نن صبادغه قسم کوی .بیاد تحریرنه وروسته ددي خواب جزیبه هم ملاوشوه دکومی نه چه دمذکور خواب تاييد کيږی اوهغه جزيبه داده دمنيه په شرح کي نی راوړی قراءة قل هوالله احدثلث مرات عندختم القران لم یستحسنهابعض المشائخ وقال الفقیه ابوالليث هذاشئ استحسنه اهل القران وائمة الامصار فلا باس به الا ان يكون الختم فى المكتوبة فلايزيده على مرة انتهى ، او د همدي كتاب په بل خاى كي راغلى دى ويكره تكرار قراءة السورة فى الفرض ولايكره تكرارالسورة فى التطوع لان باب النفل اوسع ملخصاً فتاوى مولاناعبد الحی جلددریم ص۱۳۵۹ذی الحجه ۱۳۳۳ھ رتتمه ثالثه ص۱۱۸،

دتراویحوپه رکعتونوکي داختصارممانعت

سوال :(۴۲۴) که کوم سړی دجسمانی ضعف یابل مرض په شکایت سره شل رکعته تراویح ونه کولی شی اوانه یادولس وکړی نو ګنهګار خوبه نه وی؟

جواب :شلوته بي سنت موکدویلی دی ددینه کم کونکي تارک دسنت موکد دی نوهغه عذرچه دسنت موکده دترک لپاره معتبردی هغه به په دی کي هم معتبروی ګنی که ودریدل مشکل وی نودمشکلاتوپه اندازه دی په ناستی وکړی. رمضان ۱۳۳۳ھ رتتمه ثالثه ص۷۳،

په تراویحوکي دسورت په مینځ کي دبسم الله دجهرتحقیق

سوال :(۴۲۵) که دحفص په مروجه روایت په رمضان المبارک په تراویحو کي قران مجیدو اوروول شی نوبین السورتین بسم الله په اوچت راز سره لوستل پکاردی اوکه خفی ؟ په شاطبی کي بي لیکلی دی چه په قراء سبعه ؤکي ددري نیمو قراؤپه نزد بین السوربسم الله شته او ددری نیموپه نزد بین السورتین بسم الله نشته فقط اول کله چه دحفص په نزد بین السورتین بسم الله شته نوپه اوازسره دنه لوستلووجه څه دی دامام خوقران مجیدپوره شی لاکن داوریدونکودقران مجیدپه ختمیدوکي په ۱۱۴ ایتونوکي کمبود راځی ؟

جواب :دبسم الله دبین السورتین کیدلونه دهغي جزئیت خونه لازمیږی دمذهب په کتابونوکي تصحیح ده چه بسم الله دمطلق قران جزء ده دکوم خاص سورت یادهرسورت جزء نده ،نوددي تقاضا داده چه یوځای هرومرو جهر وی ګنی دسامعینو قران پوره نه شو اګرکه دقاری خوبسم الله په اخفاء کي هم کیږی خکه دبعضی اجزاء جهراود بعضی اجزاء اخفاء جائزدی ددي مسئلی دفن قرات سره فقط همدومره تعلق ده وریسی دفقه سره تعلق ۰ه اوپه هغی کي دبسم الله اخفاء ده. ۲ ذالقعده ۱۳۳۵ھ رتتمه خامسه ص۳۷،

دقران په اورو ولو سره د اجوری حکم

سوال :(۴۲۶) دقران داورولواودقراءة قران داجرت ترمینځ څه فرق دی چه دوهم حرام اواول حلال دی ؟

جواب :دقران دسماعت نه غرض دادی چه کله وویل شی وښودل شی نوداتعلیم دی او د تعلیم په اجرت اخستلوباندي دجواز فتوی شته په خلاف دقرات په هغه کي تعلیم مقصودندی

دهمدی پخاطر کلیه دحرمت اجرعلی الطاعت کې داخله پاتې شوه فقط والله اعلم ۱رمضان ۱۳۲۲ھ (امداد ص ۲۱ج۳)

دجماعت په عذردوترونه بعدتراویحودتتمیم حکم:

سوال :(۴۲۷) دتراویحوجماعت ولاړشودڅلوریاشپږرکعتونودکولونه وروسته یوسړی راغی اودفرضو د کولو سره دامام سره دتراویحوپه جماعت کې داخل شوکله چه دامام لمونځ پوره شی نوهغه سړی دامام سره دوترو په جماعت کې شامل شی یاخپل ماقات اداء کړی ؟

جواب :فی العالمگیریة واذافاته ترویحة اوترویحتان فلواشتغل بها یفوته الوتربالجماعة یشتغل بالوتر ثم یصلی مافاته من التراویح کان یفتی الشیخ الامام الاستاذظهیرالدین کذافی الخلاصة ص۱۷۵ ج۱، ددې روایت نه معلومه شوه چه دغه سړی دې په وترو کې شریک شی بیادی نوری تراویح وکړی ۱۰محرم ۳۴ھ (تتمه رابعه ص۲)

داوریدونکولپاره په تراویحوکې داجیرقاری نه دثواب د حاصلولوتحقیق:

سوال :(۴۲۸) په کوم ځای کې چه دقران حافظ په اجرت باندې راو غواړی اودهغه نه په تراویحوکې کلام الله اوری معینوی خوېې نه خوعام رواج به په دی خبره وی چه دخلکونه په وصول کولوسره دختم په شپه بې حافظ ته ورکوی نوپه دغه صورت کې د تراویحو د اوریدلو ثواب به وی او کنه ؟ که ثواب نه وی نو څه وکړی ؟ آیا په کورکې بې یوازې وکړی ؟ خوپه دی صورت کې دجماعت نه محرومیږی بلکه غالباً دفرضونودجماعت ترک هم راځی ؟

جواب :اوریدل جداعمل دی په هغه کې کوم امرمانع دثواب نشته دهغه ثواب[1] به وی ۱۱۲شعبان ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه)

د څلوررکعتونوکولوحکم چه ددودوتراویحو

په ځای سهواً یاترک دقعدی سره وکولی شی

سوال :(۴۲۹) که په تراویحوکې امام ددوو رکعتونوپه ځای څلوررکعته وکړی اوپه مینځ کې قاعده ونه کړی اوپه اخره کې سجدهٔ سهووکړی نود تراویح لمونځ وشواوکنه ؟ که کیږی نودوه

[1] په دی کی داشرط دے چه اوریدونکی امام ته په معاوضه ورکونکوکی داخل نه وی والله اعلم ۱۲ محمد شفیع

کیږی اوکه څلورکه دوه کیږی نواول دوه کیږی که آخردوه اودکوموررکعتونودقران شریف داعادی ضرورت به وی ؟

جواب :فی الفتاوی ولوصلی اربعاًبتسلیمة ولم یقعدفی الثانیة ففی الاستحسان لاتفسدو هواظهر الروایتین عن ابی حنیفة وابی یوسف واذالم تفسدقال محمدبن الفضل تنوب الاربع عن تسلیمة واحدة وهو الصحیح کذافی السراج الوهاج وهکذافی فتاوی قاضیخان وعن ابی بکرالا سکاف انه سئل عن رجل قام الی الثالثة فی التراویح ولم یقعدفی الثانیة قال ان تذکرفی القیام ینبغی ان یعودویقعدویسلم وان تذکر بعدما سجد للثالثة فان اضاف الیهارکعة اخری کانت هذه الاربعة عن تسلیمة واحدة وان قعدفی الثالثة قدر التشهداختلفوافیه فعلی قول العامة یجوزعن تسلیمتین وهو الصحیح هکذافی فتاوی قاضی خان اھ عالمگیریة ج۱ ص۷۵. ددینه معلومه شوه چه په قعده نه کولوسره اوله شفعه هم نه فاسدیږی،البته مجموعه به هم معتبره نه وی، نویوه بله شفعه دی وکړی،پاتې شوه داچه دکومی شفعی لوستل شوی قران به معتدبه وی،اوکوم یوه به داعادی قابل وی ،نوداپه دی پورې مربوط دی چه دامتعین شی چه کومه شفعه تراویح دی چه په هغی کې لوستل شوی قران معتدبه شی ، اوکوم نفل چه په هغه کې لوستل شوی داعادی قابل شی ،نوپه دی کې ماته تردد دی دنوروعلماؤنه دی تحقیق وکولی شی اوخماپه خیال کې که یوازې دقران اعادی په حق کې داسانی لپاره په بل قول باندې عمل وکړی کوم چه دواړه شفعی معتبری گڼی نوامکان لری نوشفعه دی بله وکړی اودقران اعاده دی نه کوی ۵ رمضان المبارک ۲۲ھ (تتمه خامسه ص۳۰۹)

په تراویحوکې دقران دختم په سنیت موکدی

باندې بحث اوپه هغی باندې ددلیل غوښتنه

سوال :(۴۳۰) پرون یوصاحب په مرادآبادکې یوروایت بیان کړو چه حضور والاپه یوه مجلس کې چه په هغه کې مولنا،،صاحب اومولوی ،،صاحب هم ول دا وفرمایل چه ماته د صحابه ؓاو تابعینواو تبع تابعینو ؒ اجمعین داثارونه دقران شریف دختم سنتوالی ثابت شوی ندی اوپه دغه رمضان کې په تراویحوکې بې دقران شریف ختم ټول ونه لوسته،ددینه بعد دهمدغه راوی صاحب بیان دی چه ،،صاحب په خدمت کې دغه روایت بیان کړی شو،په دی کې هغه

صاحب وفرمایل چه په دی صورت کې دلوی فتنی امکان شته ، خلک به وائی چه دغوخلکوته تراوسه دمسائلوتحقیق معلوم ندی ،څه معلوم دی چه ووائی چه دلمانځه متعلق جدیدتحقیق نه کیدل دی وغیره وغیره غرض دادی چه دمرادآبادنه دغه روایت سیوهارته ورسیده اومخالفینواعتراضونه شروع کړل ددې په خاطرچه صحیح واقعی علم نشته دهمدی په خاطردخپل علم مطابق خدامو معترضینوته خواب ورکړ،مادغه وخت ددغی مسئلی تحقیق په کتابونوکې کتلو،د خوشی قسمتی نه همدا مضمون د حجت الاسلام سند المحدثین مولنا شاه محمدعبدالعزیزصاحب قدس سره په فتاوی کې دنظره تیرشو فالحمدلله تعالی علی ذلک دالله تعالی په زرگونه زرگونه شکرونه دی چه دحضوروالا هم خیال په سلف صالحین کې هم موجود دی اوس که دحضورپه طرف نسبت دفتنی کولی شی نواول بې نسبت دحضرت شاه صاحب قدس سره په طرف دی نعوذبالله تعالی عن ذلک - حضرت شاه صاحب قدس سره لیکل فرمایې اوهم دقران شریف ختم ته په دغه لمانځه کې سنت وائی دادکوم ځایه نعم: په حدیث کې راغلی دی چه حضور علیه السلام به په هررمضان کې دجبریل علیه السلام سره مدارست دقران کولواوپه اخررمضان بې دوه ځل وکړو دهمدی ځآیه په رمضان کې دقران دختم سنت ثابیتږی دلیلاً ونهاراً خارج الصلوة الخ ص۱۰۹ مجموعه فتاوی عزیزی مطبوعه مطبع مجتبایې دهلی امید دی چه جناب عالی دصحیح واقعی مونږ نه مطلع وفرمایې؟

جواب: ځماپه دی معامله کې دوه تردده وه یوداچه آیادختم سنت والی اصل مذهب دی اوکه دمشایخو قول دی فقهیه کتابونو ته په مراجعت سره دا ثابته شوه چه داپه احنافو علماؤ کې مختلف فیه ده داکثرو قول خو د تاکد دی اودبعضی قول دعدم تاکد هم دی اوداختلاف منشا دا په علم کې راغی چه امام حسن دامام صاحب نه ددې سنیت نقل کړی دی من غیرتصریح بتاکدها وعدمه اکثر مشایخوددې تفسیرپه مؤکد سنت سره کړیدی اوخینودتاکد ددلیل دنه میلاویدوسره په مطلق سنت باندې حمل کړی دی ولومستحبا دهمدی لپاره په بعضی متونوکې ددې سنیت اخستی دی اوبعضو لکه قدوری کې ندی اخستی بیاپه قائلین بالتاکدکې هم متاخرینو دعذرپه حالت کې تاکد ساقط کړی دی منه کسل القوم او نحوه په خانقاه کې کله کله ختم نه کیدل دهمدی عدم تاکدپه قول مبنی دی برابره خبره ده چه دغه عدم تاکدد اصل نه وی اوکه دکوم عذرنه وی اود هر یوه عذرجدادی بل تردد داؤو چه دقائلین دلیل کرم دی نوپه دی کې څه د متعدوؤعلماؤ نه استفسارکومه چه دهغ ... ...ود دنفی تاکدندی بلکه په هغه باندې ددلیل طلب دی ،که په هغه باندې هم اعتراض دی نوددغه

اعتراض،حاصل خوداشوچه کوم امر معلوم نه وی دهغه طلب نه کول پکاردی نواهل انصاف دی په خپله غوروکړی چه آیاپه دین کې دعلم طلب مقصوددی اوکه بقاء علی الجهل اشرف علی ۲۴شوال ۴۳هـ(ترجیح ۵ص ۱۲۰)

په کوموهیوادونوکې چه شپه اوورځ ډیره لویه وی هلته د لمانځه،روژی،زکات احکام

سوال :(۴۳۱) دیوکالج طالب العلم دیوه بی دینه اعتراض ماته نقل کړی چه مسلمان وائی چه خمونږ شریعت دوما ارسلناک الاکافة للناس په مقتضی دټولوانساناتولپاره دی اوکه داسې وی نوپکاروه چه دټولو ځایونو د انساناتو لپاره په هغه کې احکام وی په داسې حال کې چه مونږ گورو چه په قطبین کې اوسیدونکو لپاره چه هلته شپږ شپږ میاشتی شپه اوورځ وی په هغه کې احکام نشته ،مثلاددغه ځای خلک په څه ترتیب روژه ونیسی که دشپږومیاشتوحکم ورکول شی نوبنا ممکن العمل دی اوکه ددینه کم نوپه قران اوحدیث کې دصاحب مذهب نه څه منقول پکارؤو مادهغه خواب ورکړوداسې چه قانون داکثری حالت تابع وی اوددې لپاره په قطبینوکې خوابادی کیدل ثابته ندی اوکه وه هم توددې لپاره چه په اکثره حصودزمکې دغه حالت نه دی دهمدی لامله داکثری حالاتومطابق احکام مقررشول ،پاتې شول نادر اومستثنی صورتونه دهغو لپاره دقیاس په ذریعه خاص احکام مستنبط کولوسره حکم ورکول کیږی . دهر جزحکم صراحةً په قران او حدیث کې وجود ضروری ندی بلکه دکثیرالوقوع کارونو حکم دصاحب شریعت نه منقول دی چه داصولوپه منزله کیدلی شی ،همغه شان چه دهغو ځایونو لپاره چه تولـه شپه شفق نه غائبیږی دهښت دکتاب دلیدلونه معلومه شوه چه د ۲۲ می نه واخله تر ۲۱ دجولایې پورې د لندن دافق نه لمر ۱۸ درجی لاندې نه ځی لهذادغه مودی پورې ټوله شپه شفق باقی پاتې وی ،دلندن عرض البلد ۱-۲، ۱۵ درجی دی ، بعضی فقهاؤ لیکلی چه هلته دعشاء وخت نه راځی ،اودهغوی نه دعشاء لمونځ ساقط دی خینې فقهاؤاختلاف هم کړی دی دبلغار یاد ځمکې متعلق علامه شامی هم حکم لیکلی دی ،ماخودغه خواب ورکړی وه لاکن دروژی متعلق می په عالمگیری کې دتلاش کولوسره هم کوم جزء میلاونه شو. یعنی مثلاً دلندن خلک دغه وخته پورې په سحری کې خوراک کولی شی اوتراویح چه دعشاء تابع معلومیږی اداء کړی اوکنه ؟آیا د جناب والاد نظره ددې مقاماتو د روژو او تراویحو متعلق څه

جزئیه تیره شوی یا د قیاس موافق څه حکم کولی شی همدارنګه خپاخواب خوغلط یاناممکل ندی که وی ئوتصحیح اوتکمیل وفرمایې که کوم بل خواب کیدلی شی نوهغه هم تحریروفرمایې دهئیت دکتاب نه داهم معلومه شوه چه په لندن کې دټولونه لویه ورځ د ۱۲ساعتونواودټولونه وړه شپه ۱-۲، ۴ ساعتو نووی سینټ پټر سرک دروس دارالسلطنت په ۲۰درجی شمال عرض البلدباندې دی هلته لویه ورځ تقریبا د۱۹ګهنټووی داسې اوږده روژه ئې سخته وی ددینه علاوه بعضی داسې مقامات هم شته چه هلته دټولونه لویه ورځ ۲۴ګهنټی یاددینه زیاته وی یعنی لمربغیردغروب نه درجوعی حرکت کولوپه حالت کې په نظراخی همغه شان چه په ۲۵ درجی او ۵۴دقیقی عرض البلدشمال باندې دټولونه لویه ورځ د ۲۴ګهنټواویه ۲۲درجی ۵۳ دقیقو باندې په ګرمی که د۱۳ورځوپورې دلمرغروب نه وی یعنی یوه ورځ د ۳۱ورځوبرابره وی هلته دروژی حکم څه دی ؟

جواب : تاسوچه کوم خواب ورکړی هغه بالکل کافی اومکمل دی د ټولوهیوادونوکلیه قوانینوباندې مقامی احکامونه دجزئیه احکامو تفریع کول لازمیږی، دهغو څخه په خینوکې داستنباط حاجت هم وی اوهغه ټول ددغوکلیاتولاندې داخل اوقوانین دهغو لپاره شامل ګڼل کیږی ددغو مقامیه جزئیاتو په کتب القانون کې مصرحاً نه ذکر کیدلونه دائرالسلطنة نه ددغومقاماتو په خارج کیدلو باندې هیڅ استدلال ندی کول پکار کله چه ددې سلطنت احاطه دصحیح دلیل نه ثابته شوه اوکه کوم استدلال کول وی نومحقق دغه استدلال دصحیح دلیل تابع ګرخوی په همدې ترتیب هرکله چه دلایل قطعیة وسره دبعثت عموم ثابت دی نودمعارض په دفع کوو.لکه چه څرنګه اشتمال په مذکورمثال کې شته همداسې اشتمال په کلیات شرعیه کې متحقق دی .په کوم بناء چه داسلام فقهاؤ ددې مقاماتواحکاموته تعرض هم کړی دی اګرکه دهمدی وجهی نه چه څوک په کومه کلیه کې داخل وګڼل شی اودکوم دکوم سره باهمی اختلاف هم شته لکن دغه اختلاف خمونږ لپاره په اصل مقصودکې قادح ندی، ځکه چه ددغو کلیاتوپه اساس حکم کولو سره خوداثابته شوه چه محمدیه شریعت داسې کلیات مقررکړی دی چه ددغومقاماتودضرورتونوحاوی دی، اګرکه په وجه دتطبیق کې داراؤو اختلاف وی.لکه څنګه چه یوه محکمه کې یوحکم دیوقانون په بناء وی .اودعدالت په اپیل دبل قانون په اساس ددې خلاف حکم کیږی .لکه چه دلمانخه نه دفقهاء تعرض خوخپله په سوال کې منقول دی پاتې شوه روژه که بالخصوص دی ته تعرض هم نه وی دغه وخت هم همغه دلایل دلمانخه دلته هم په اشتراک داصولودروژی لپاره هم کافی کیږی .لکن فقهاؤپه هغو باندې

اکتفا نده کړی بلکه دروژی بلکه ددینه علاوه نوروا عمالو اومعاملاتوته هم تصریحاتعرض فرمایلی دی .فی ردالمحتارعن الرملی فی شرح للمنهاج ویجری ذلک فیمالومکثت الشمس عندقوم مدة اه وفیه عن امداد الفتاح قلت وکذلک یقدرلجمیع الآجال کالصوم والزکوة والحج والعدة وآجال البیع والسلم والاجارة وینظر ابتداء الیوم فیقدرکل فصل من الفصول الاربعة بحسب مایکون کل یوم من الزیادة والنقص کذافی کتب الائمة الشافعیة ونحن نقول بمثله اذاصل التقدیرمقول به اجماعاًفی الصلوات اه ج۱ص ۳۷۸وفیه بعد نصف صفحة لم ارمن تعرض عندنالحکم صومهم فیمااذا کان یطلع الفجرعندهم کماتغیب الشمس او بعده بزمان لایقدر فیه الصائم علی اکل مایقیم بنیته ولایمکن ان یقال بوجوب موالاة الصوم علیهم لانه یؤدی الی الهلاک فان قلنابوجوب الصوم یلزم القول بالتقدیر وهل یقدرلیلهم باقرب البلادالیهم کماقاله الشافعیة هناایضاً ام یقدر لهم بمایسع الاکل والشرب ام یجب علیهم القضاء فقط دون الا داء کل محتمل فلیتامل ولایمکن القول هنابعدم الوجوب اصلاً کالعشاءعند القائل به فیهالان علة عدم الوجوب فیهاعند القائل به عدم السبب وفی الصوم قدوجدالسبب وهوشهودجزء من الشهر وطلوع فجرکل یوم هذاما ظهرلی والله اعلم اه ص۳۷۹ج۱ ، په دی تحریرسره دهغه اعتراض خواب خوشواوس داخبره چه خمونږ دفقهاؤ په اقوالوکې چاته په چاباندې ترجیح ده په تحقیق پورې اصل خواب موقوف ندی .هوخپله یومستقل تحقیق دی دکوم ضرورت چه دمسلم لپاره وی نوپه لمانخه کې دااحوط معلومیږی چه اندازه کولوسره دی ټول لمونخونه اداءکړی .اوروژه کې چه کوم مقامات داسې دی چه هلته په بعضی زمانه کې شرعی شپه نه وی په رمضان کې دی روژه نیسی چه دمیاشتی ګواهان پیداشول اوددې په خاطرچه افطار،سحر اونهارشرعی کې واقع شوی دهمدی په خاطردشبهه په بله زمانه کې دی قضاهم وکړی اوکوم ځای کې چه شرعی لیل وی ، هلته دی په کوم ځای کې چه دنهارطول دتحمل په اندازه روژه وی اوفطرة دهغې تحمل زمونږ نه زیات شو.لانهم معتادون بطول النهاروطول اکثرالاعمال فیه هلته دی روژه ونیسی ،دسره هم اداء ګرخی ،اوکوم ځای کې چه دتحمل په اندازه نه وی هلته داندازه کولوسره دی عددپوره کړی، که د اداء نه وروسته داسې ورځی میلاوشوی چه دهغه تحمل کولی شونو احتیاطًا دی قضاهم وکړی اوکه داسې ورځی میلاونه شوی نوهمغه اندازه روژی کافی کیږی وفی ردالمحتارفی جواز فطرمن لایقدرثم قضاء مانصه وقال الرملی وفی جامع

الفتاوی هولوضعف عن الصوم لاشتغاله بالمعیشة فله ان یفطرویطعم لکل یوم نصف صاع اه ای اذالم یدرن عدة من ایام آخریمکنه الصوم فیهاوالاوجب علیه القضاء وعلی هذاالحصاداذالم یقدرعلیه مع الصوم ویهلک الزرع بالتاخیر لاشک فی جوازالفطر والقضاء الی اخرماقیده بمااذالم یکن عنده ما یکفیه وعیاله واذاخاف هلاک زرعه اوسرقته ولم یجدمن یعمل له باجرة المثل وهویقدر علیها ج۲ص۱۸۴۔ ۲۰جمادی الاولی ۱۳۳۴ه (تتمه رابعه ص ۳۳)

باب ادراک الفریضة وقضاء الفوائت

دترتیب دخاوندتعریف تحقیق

سوال :(۴۳۲) یوسړی دصاحب ترتیب تعریف دډیروعلماؤنه تپوس وکړی بیلا بیل خوابونه میلاوشول دحضور والاخوابونه تیرشول داطمینان ور کونکي خواب غوښتونکي دی؟

خوابونه (۱) زیددي علی الاتصال دځلوینښتو ورځوپوري لمونځ وکړی دهغه څه لمونځونه فوت شول دفایتی داداکولونه وروسته زیدصاحب ترتیب دی، (نمبر۲) زیددفرضیت دزمانی نه یوشان لمونځ کوی دهغه څه لمونځونه قضاشول دقضادپوره کولونه بعدزید دترتیب صاحب شو(۳نمبر) دفقه نه ثابته شوه چه دزیدنه پنځه یادپنځونه کم لمونځونه فوت شول دفائتی داداکولولپاره په زید باندي ترتیب فرض دی دهمدی لپاره زیدصاحب ترتیب دی ترڅو چه زیدپه ټول عمرکي لمونځ ندی کړی دعشاء دوخت نه بي په خپل خان باندي لمونځ کول لازم کړل دداسي عشاء دصبح نه بي بیاپنځه، پنځه نه کم لمونځونه بي خلاص شی شپږم لمونځ په ترتیب سره کول په زیدباندي فرض دی، اوزیدپه دی صورت کي هم صاحب دترتیب دی دری واړه خوابونه دشبهاتوپه حیث دی ملاحظه فرمایلوسره دصاحب ترتیب جامع، مانع په عام فهم لفظوکي تعریف لیکلوسره موتږمطمئن وفرمایي بینوا توجروا؟

جواب :وفی الدرالمختارلوفاتت ست اعتقادیة الی قوله ولومتفرقة اوقدیمة علی المعتمدلانه متی اختلف الترجیح یرجح اطلاق المتون بحرو والفقه الشامی ج۱ص۷۲۲ ددینه معلومه شوه چه دچاپه غاړه شپږ لمونځونه وی برابره خبره ده چه زاړه وی اوکه نوی، مسلسل یامتفرق هغه صاحب ترتیب ندی اودچاپه ذمه چه دانه وی په هغه باندي ترتیب واجب دی ۲۴جمادی الثانی ۱۳۳۱ه (تتمه ثانیه ص ۴۵)

دقضاء په وخت په نیت کي دتعین دلزوم تحقیق

سوال :(۴۳۳) په دوهمه حصه دزیوربهشتی کي لیکل شوی دی چه دځومیاشتو یاځوکلونو لمونځونه قضاء شوی وی نودمیاشتی اوکال نوم دی هم واخلی اوودی وائی چه دفلانی کال دفلانی میاشتی د فلانی تاریخ دفجرلمونځ کووم، ددي ترتیب نیت نه بغیرقضاء نه صحیح کیږی چاته دداسي نیت کولوعلم نه ؤاوهغه ددوه کلونوقضاء لمونځونه (صرف دومره ویلوسره نیت کوم زه دقضاء عمر) اداکوی نودهغه لمونځ درست شواوکنه اوپه هغه باندي په صحیح نیت کوم چه په دوهمه حصه دزیوربهشتی کي تحریردی) دنوی سره ټول لمونځونه کول واجب دی اوکنه؟

جواب :فی دراالمختارقیل لایلزمه التعین الی آخر ماقال واطال ص ۷۷۰ج۱، ددي روایت نه معلومه شوه چه په دی کي اختلاف دی، لهذا په قضاء اداء کیدونکولمونځونوکي ددي په خاطرچه هغه ډیردی ددفع حرج لپاره په هغه قول باندي دعمل کولوامکان شته ۱۲رمضان المبارک ۱۳۳۳ه (تتمه ثانیه ص۱۲۴)

په ارتدادسره دعدم قضاء تحقیق

سوال :(۴۳۴) زیدمسلمان ؤبیامرتدشو، اوبیامسلمان شواودمرتد کیدو نه وړاندي حالت اسلام اول کي دهغه څولمونځونه اوروژی قضاء شوی وی نواوس بي چه دارتدادنه بعداسلام راوړی دهغو لمونځونو قضادی وکړی اوکنه؟

جواب :فی رداالمختارعن البحرعن الخانیة اذاکان علی المرتد قضاء صلوات وصیامات ترکهافی الاسلام ثم اسلم قال شمس الائمة الحلوانی علیه قضاءماترک فی الاسلام لان ترک الصیام والصلوة معصیة والمعصیة تبقی بعدالردة اه فافهم ج۱ص۱۳۷۲۹محرم۱۳۳۳ه (تتمه ثالثه ص۸)

د وترو او فرضو پوري د قضاء داختصاص حکم

سوال :(۴۳۵) که دکوم وخت لمونځ قضاء شی، دوهم وخت قضاکولو سره سنت ترک کولوسره فقط فرض اووترکول بس دی اوکه مع سنت کول به وی، حضورپه زیوربهشتی په دوهمه حصه کي تحریرفرمایلی دی (په قضاء کي فقط فرض لمونځونه اووترکولی شی دسنتوقضاء نشته) اوپه ص۱۹۹دعالمگیری کي بي لیکلی دی والقضاء فرض فی الفرض

وواجب فی الواجب وسنة فی السنة ددې عبارت نه معلومیږي چه دسنتوقضاء کول سنت دی اوحضورفرمایې چه دسنتوقضاء نشته په دې کې څه رازپټ دی دبنده په ناقصه پوهه کې نه راځی حضوردی ددې فیصله وفرمایې ؟

جواب :دزیوربهشتی مطلب دادي چه دوخت دخروج نه بعددسنتو قضاء نشته اودعالمگیری دعبارت مطلب دادی چه وخت کې دننه دسنتوقضاء شته اوهغه هم دټولوسنتولپاره نده بلکه دکوم لپاره چه وی لکه چه دقبل الظهروالاسنت پاتې شی اوبعضی فرض دې اداء کړی دیته هم مجازاً قضاء ویل کیږی ،دغی قضاء ته په سنت کې قضاء ویل کیږی لکه څنګه چه دصاحب درمختاریه دی قول القضاء فعل الواجب بعدوقته واطلاقه علی غیرالواجب کالتی قبل الظهرمجازاً اه باندې علامه شامی ویلی دی قوله واطلاقه الخ ای کماق قول المصنف الاتی وقضاء الفرض الواجب والسنة الخ وقول الکنزوقضی ا لتی قبل الظهر فی وقته قبل شفعه الی قوله اما اذا اتی بها بعده فهی قضاء اذلاشک انه لیس وقتهاوان کانت وقت الظهرفافهم،ددېنه بعدد درمختاریه دی قول باندې وقضاء الفرض والواجب والسنة فرض و واجب وسنته لف ونشرمرتب الخ.علامه موصوف لیکلی دی قوله والسنة یوهم العموم کالفرض والواجب ولیس کذالک فلوقال وما یقضی من السنة لرفع هذا الوهم رملی ص۷۵۰ج۱وفی الهدایة ظمان الاصل فی السنة ان لاتقضی لاختصاص القضاء بالواجب الی قوله واماسائرالسنن سواهالاتقضی بعدالوقت وحده او اختلف المشائخ فی قضائهاتبعاللفرض وفی الحاشیة عن العنایة فقال بعضهم یقیضیهاوقال بعضهم لایقضیهالاختصاص القضاءبالواجب وهو الصحیح ص۱۳۳ج۱ ددې روایتونونه ټول شبهات رفع شول ۲۲ذی الحجه ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه ص۱۱۲)

دتوبی نه وروستو دقضاپي لمونځ نه معافیدلوپه هکله دشبهی دفع

سوال :(۴۳۶) په ظاهره په یوی مسئلی کې اشکال معلومیږی نولدینه ټول صغیره اوکبیره گناهونه معافیږی الاحقوق العبادمګرخونې فقهاء داهم فرمایې چه که دکوم سړی لمونځ یاروژه قضاء شی نوتوبه دی هم وکړی اوقضایې دی هم اداکړی نوهره گناه معافیږی لمونځ نه معافیږی اشکال داهغه وخت راځی کله چه لمونځ دحقوق الله نه وی نومحض دتوبی په سبب نه معافیږی اوچه کله په توبی سره گناه معافیږی نوبیاپه قضانه کولوباندې گرفت څنگه

او گناه څنګه ؟ دا خو په پوهه کې راځی چه دقضاء په نه کولوسره محروم پاتې کیږی دلمانځه فضیلت اوتقرب الی الله نه مګرولی گنهګاریږی ،که داوویل شی چه په لمانځه کې دننه دوه حیثیت دی یودلمانځه داداء کولواوبل هغه په خپل وخت اداء کول ،اوپه توبه باندې دلمانځه دوروسته کولوگناه معافیږی لمونځ نه معافیږی ،دغه وخت بی اشکاله هغه پاتې کیږی چه دحقوق الله څخه ده لمونځ بیاولی په توبی سره نه معافیږی اوکه داومنل شی چه لمونځ من وجه دحقوق العبادنه ده څکه چه دهغه ګټه ده ته رسیږی،دهمدی په خاطر نه معافیږی نوحضوروالا په همدې ترتیب په هرمعصیت کې دوه حیثیته دی مثلاً کذب په یوحیثیت دحقوق الله څخه دی اوددې لپاره چه دهغه گناه نه دهغه ځان ته نقصان رسیږی نوحقوق العباد شو د همدی لامله هغه هم په توبی سره معافیدل پکار نه دی خوکذب معافیږی ؟

جواب :دحقوق الله دمعافیدلومطلب دادی چه گناهونه معافیږی نه چه طاعتونه ،نولمونځ دطاعتونو نه دی اودهغه بدل ممکن اوشروع دی لهذا قضاء واجبه شوه نودقضاء بدله بیا فدیه ده که په قضاء باندې قدرت نه وی فدیه به واجب وی یادهغې وصیت که په دی باندې هم قدرت نه وی یاوسعت نه وی اونه ددې کوم بدله شته اوس دغه تقصیرمحض ذنب پاتې شوه دایه توبی سره دمعافیدوامیدځای دی ،اوس ټول اشکالات رفع شول لنډه خلاصه داشوه چه په شرع کې دکوم عبادت بدله وی دبدل دقیمت کیدلوپورې هغه په توبی سره نه معافیږی دعجزنه هم بعدهغه هم معافیږی ۹شعبان ۲۴ھ (تتمه خامسه ص۲۸۷)

دترتیب دسقوط حکم دهغه چاپه باره کې چه دفسادعلم نه لری

سوال :(۴۳۷) دترتیب کوم خاوند دسهارلمونځ بې په جماعت سره وکړو بیا دمغرب په وخت معلومه شوه چه دامام لمونځ صحیح نه وُنو دغه دظهر اوعصرلمونځونه صحیح شول اوکنه ؟

جواب :فی البحرعن المحیط لوصلی العصرثم تبین له انه صلی الظهربلاوضوبعیدالظهرفقط لانه بمنزلة الناسی ردالمحتارباب الفوائت ج۱ ص۷۲۱ددې روایت نه څرګنده شوه چه بعدی لمونځونه ټول صحیح شول یوازی دسهاردلمانځه کول لازم دی ۹شعبان ۱۳۳۲ھ (تتمه خامسه ص۲۸۸)

دثانیه رکعت دسجدونه وروسته دمغرب دفرضونوداداراک حکم

جواب :اوس دی دسجدی تلاوت کولوسره سجدهٔ وکړی دکومی نه چه مخکې اووروسته تشهددې بیادی دفراغ سلام وگرځوی.فی الدر المختار ولونسی السهواوسجدة صلبیة اوتلاویة یلزمه ذلک وفی ردالمحتار فاذا تذکر یلزمه ذلک الذی تذکره الی قوله ثم یتشهدو یسلم ثم یسجد للسهو ج۱ص۷۸۶وفی الدرالمختار لان سجود السهو یرفع التشهددون القعدة لقوتها بخلاف الصلبیة فانهاترفعهما وکذا التلاویة علی المختاروفی ردالمحتار لانها اثر القراءة وهی رکن فاخذت حکمها بحرابې تاخذ حکمها بعد سجودها اما قبله فانها واجبة حتی لو سلم ولم یسجدهافصلوته صحیحة بخلاف الصلبیة فانهارکن اصلی من کل وجه کماسیاتی ج۱ص۷۷۳، ۱۲ شعبان ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه ص۲۴) چاپه اخرینورکعتونوکې سهواًضم دسورت وکړلواوهغه بې دسجدی سهوی موجب گڼلوسره سجده وکړله

نودهغه لمونځ صحیح شواوکنه ؟

سوال :(۴۶۹)که چاپه اخرینن کې دسورة ضم په سهوی سره وکړاوهغه بې سجدهٔ سهوموجب گڼلوسره سجده سهوهٔ بې وکړه نولمونځ کیږی او کنه آیابې ضرورته سجده زیادت فی الرکن گرځولوسره اعاده دصلاة لازمه وگرځوواوکنه ؟

جواب: فی الدرالمختارواجبات الصلاة ولفظ السلام مرتین فا لثانی واجب وفیه قبیل باب الاستخلاف ولوظن الامام السهوفسجدله فتابعه (ای المسبوق) فبان ان لاسهوفالاشبه الفساد لاقتدائه فی موضع الانفراد وفی ردالمحتاروفی الفیض وقیل لاتفسدوبه یفتی وفی البحر عن الظهیریة قال الفقیه فی زماننا لاتفسد لان الجهل فی القراء غالب اه ددي روایتونونه لاندې امورمستفاد شول (۱) لمونځ کیږی «۲» که دواړه طرف بې سلام ګرځولی وی نواعاده واجبه نده اوکه یوطرف بې سلام ګرځولی دی نوددې لپاره چه یوواجب یعنی دوهم سلام بې پریخودی دی اعاده به واجبه وی (۳) که داسې امام دی ددی سره که کوم مسبوق وی اوهغه هم په سجده سهواودهغه نه وروسته په قعده کې دهغه اقتداء وکړه ددغه مسبوق لمونځ ددرمختاریه قول اوهمدا دقواعدومقتضی ده فاسدشو لاکن که هغه ته ددغې فضولی سجدی پته هم ونه لګیده نودی معذوردی اوځمایه نزدکه دصاحب فیض او ابواللیث دعدم فساد حکم محمل داسې څیز وګرځول شی نوبهتره ده چه کله مسبوق ته پته نه لګی نو په دواړو قولونوکې تطبیق کیږی «فقط محرم ۱۳۳۳ھ تتمه ثالثه ۵»

په مؤکده سنتوکې دقعدهٔ اولی د ترک کولو حکم

سوال: (۴۷۰) یوسړی دظهردوخت دڅلوررکعتونوسنتونیت وتړلو او اوله قعدهٔ په فراموشی سره دریم رکعت لپاره اوچت ودریده اوقرات بې شروع کړه نوایادی ته یادیدلو سره دقعدی په طرف بیاعودکول پکاردی اود لمانځه پوره کولوسره سجدی سهوه کول پکاردی ـ اوکه دنه یادیدو اونه یادیدو باندې قعدی په طرف عودونه کړی اولمونځ پوره کړی نوڅه حکم دی ؟

جواب: فی الدرالمختاروالاصل ان کل شفع صلوة الابعارض الخ وفی ردالمحتارینبغی ان یستثنی ایضاً من الاصل المذکور المؤکدة بناء علی اختیارالحلبی وغیره (ج۱ص۴۷۴) وفی الدرالمختارسهاعن القعود الاول من الفرض الخ وفی ردالمحتاراماالنفل فیعودالخ جزم به فی المعراج والسراج وعلله ابن وهبانؒ بان کل شفع منه صلوة الی قوله قیل یعود وقیل الاوفی الخلاصة والاربع قبل الظهرکالتطوع الخ (ج۱ص۷۷۸) دثانیه روایت نه دهغه مختلف فیه کیدل اود اول روایت نه دحلبی وغیره په قول باندې دعدم راجح کیدل اودلمانځه دسجدی سهوصحیح کیدل معلومیږی ؟ وبهذاافتی انا ۸ رمضان المبارک ۱۳۳۳ ھ تتمه ثالثه ص ۷۳»

دمانع بناء د وجود په صورت کې دسجدی سهوی دسقوط حکم

سوال: (۴۷۱) په ج۱ص۵۹ دقاضی خان نولکشوری باندې دی کل مانع یمنع البناء اذاوجد بعدالسلام یسقط السهواه ـ آیا سجده سهویه هرصورت کې ساقطیږی برابره خبره ده چه مانع بناءٔ سهوه پیدا شی اوکه عمداًاوبرابره خبره ده چه هغه فعل چه موجب دسجدی سهوی سجدی موجب ګڼی اوکنه یادکوم خاص صورت پورې مخصوص دی ؟ همدارنګه دسجدی دسقوط مطلب څه دی ؟ آیاسقوط من هذه الصلاة مع وجوب اعادة تلک الصلوة یامطلقابلاوجوب اعادة الصلوة ـ که دامقصدوی چه سجده په هرصورت کې ساقطه ده برابره خبره دی چه منافی فعل دسجدی سهودتذکرسره کړی وی یاد سهوی په حالت یاپه داسې صورت کې چه هغه ته دسجدی سهود وجوب علم نه ؤاوکه دسقوط دامطلب دی چه ددې لمانځه اعاده هم ضرورنده نودسجدی سهوی دوجوب ثمره یوازی اخروی عقاب کیدلی شی هغه هم دقصداً پریښودلوپه حالت کې ؟

جواب: فی الدرالمختارفلوطلعت الشمس فی الفجراواحمرت فی القضاء اووجدمنه مایقطع البناء بعد السلام سقط عنه فتح وفی ردالمحتاربقی اذاسقط السجودفهل یلزمه الاعادة لکون ماأداه اولاً وقع ناقصاً بلا جابر والذی ینبغی انه ان سقط بصنعه کحدث عمداً مثلاً یلزم والافلاتامل (ج۱ص۷۷۳) مصریة ددې نه معلومه شوه چه سجدهٔ سهویه هرصورت کې ساقطیږی، اوداهم معلومه شوه چه هغه مانع بناء عمداً پیدا شوی وی دغه وخت نو اعاده لازمه ده اوکنه نونشته ۱۷ رمضان المبارک ۱۳۳ ھ تتمه ثالثه ص۷۷»

دسجدی سهوی په پریښودوسره دلمانځه داعادی حکم

سوال: (۴۷۲) یوسړی باندې په لمانځهٔکې سجدهٔ سهولازمه شوه لکن دمسائلونه د ناخبرتیا په سبب ده ته معلومه نه وه چه په هغه باندې سجدهٔ سهوه لازمه ده نوهغه سجده ونکړه اودسلام نه وروسته بې قصداًکوم منافی فعل وکړو په دغه صورت کې دلمانځه اعاده لازمه ده اوکنه ؟ والذی ینبغی انه ان سقط بصنعه کحدث عمداً مثلایلزم والافلا تامل څخه خو په ظاهره لزوم داعادی ده ؟

جواب: هوبیشکه په دواړوصورتونوکې دداسې روایت نه داعادی لزوم پوهیدل صحیح دی ۲۹ رمضان ۱۳۳۳ ھ تتمه ثالثه ص۵۸»

داولی رکعت دسجدی دقضا.کولوحکم په مابعدرکعت کي

سوال :(۴۷۳)مصلی سهواً په یوه رکعت کي یوه سجده وکړه په یادیدو سره په دوم ،دریم رکعت کي دری سجدی قصداً وکولی اویه آخره کي دسجدی سهوی په کولوسره لمونځ پوره کړونودهغه لمونځ صحیح شو او کنه ؟

جواب :فی الدرالمختارواجبات الصلوة ورعایة الترتیب فیما یتکرر فی کل رکعة کالسجدة الخ وفی ردالمحتار الکاف استقصائیة اذلم یتکرر فی الرکعة سواهاثم قال والمرادمنهاالسجدة الثانیة من کل رکعة ثم قال حتی لوترک سجدة من رکعة ثم تذکرها فیما بعدها من قیام اورکوع اوسجودفانه یقضیهاولایقضی مافعله قبل قضاء هامما هوبعدرکعتها من قیام اورکوع اوسجودبل یلزمه سجودالسهوفقط ، ج۱ص۴۸۱.ددي روایت نه ثابته شوه چه ددي سری لمونځ درست شو. ۱۰شوال ۱۳۳۳هـ،تتمه ثالثه ص۸۸،

بغیرداولی قعدی نه دریم رکعت ته دامام دقیام دمتابعت کولو دوجوب حکم

سوال :(۴۷۴)ددین علماء اودشرع متین مفتیان په دی مسئلی کي څه فرمايي چه څلور رکعتونو والا لمونځ کي امام په هیری سره اوله قعده ونکړه اودریده نومقتدیان په اوله قعده کي تشهدلوستلوسره دقیام لپاره ودریږی یابغیردتشهدلوستلودامام دتابعداری لپاره قیام وکړی؟

جواب :فی الدرالمختارخمس یتبع فیهاالامام قنوط وقعوداول وفی ردالمحتارقوله وقعود اول الظاهر انه ینتظرامامه الی ان یصیرالی القیام اقرب لاحتمال عوده قبله ثم یتابعه لان الامام اذاعادحینئذ تفسد صلوته علی احدالقولین ویاثم علی القول الاخروليس للمقتدی ان یقعدثم یتابعه لانه یکون فاعلامایحرم علی الامام فعله ومخالفاله فی عمل فعلی بخلاف مااذاقام الامام قبل فراغ المقتدی من التشهد فانه یتمه ثم یتابعه لان فی تمامه متابعة لامامه فیمافعله الامام فافهم ج۱ص۷۰۲ و۷۰۳.ددي روایت نه معلومه شوه چه په دغه حالت کي دی مقتدی دتشهدپه پریښودلوسره دامام متابعت وکړی ۲۳رمضان ۳۹هـ،تتمه ج۵ص۱۹۲۱،

په دوه څله ویلودفاتحي دلمانځه داعادی وجوب:

سوال :(۴۷۵)زیدانفراداًدمغرب دلمانځه په اول رکعت کي الحمدشریف ولوستله دټولی الحمد دلوستلونه وروسته گمان ئی راغی چه په جهر لوستل پکاروونودوهم ځل ئی الحمدپه جهرسره ولوستله اوبغیردسجدی سهوه کولونه ئی سلام وگرځاوه آیاپه دی صورت کي لمونځ اداء شواو کنه؟

جواب : واجب الاعاده دی ځکه چه واجب ئی پریخودی دی اوهغه واجب جهردی ځکه چه په منفردباندي جهرواجب ندی بلکه هغه واجب دوه کاره دی یوعدم تاخیرسورة عن الفاتحه بمقداراداء رکن اودوهم عدم تکرارفاتحه لان فی التکرارزیادة واجب وهوموجب لسجودالسهو فی مراقی الفلاح لترک واجب بتقدیم اوتاخیراوزیادة اونقص فی الطحطاوی وان لایؤخرالسورة عنهابمقداراداء رکن وفیه ولوکرر الفاتحة اوبعضهافی احدی الاولیین قبل السورة سجد للسهو ص۲۲۷ ،تتمه خامسه ص۳۲۲،

دهغي سهوی حکم چه په کثرت سره په لمانځه کي واقع شي:

سوال :(۴۷۶)څماکورکي په لمانځه کي دسهوی راتلوشکایت کوی یعنی څوسجدی ئی وکړی وغیره په یادکي ئی نه پاتي کیگی نوڅه څه وکړی ؟

جواب :[1] کومه خبره چه زیاته راځی په هغی دی عمل وکولی شی او سجدهٔ سهودی نه کوی.البته که په سوچ کولوکي څه ځندراغی اویه همدي ځندکي په قرات یارکن کي مشغول پاتي نه شو نو سجده سهوه د وکړی : فی الدرالمختاربعدمانقل عن الفتح وجوب سجودالسهوفی جمیع صورالشک سواء عمل بالتحری اوبنی علی الاقل مانصه لکن فی السراج انه یسجد للسهوفی اخذالاقل مطلقا وفی غلبة الظن ان تفکر قدر رکن وفی ردالمحتارقبیل القول المذکورثم الاصل فی التفکرانه ان منعه عن اداء رکن کقراءة اية او ثلث اورکوع اوسجوداوعن اداء واجب کالقعود یلزمه السهوالی قوله وان لم یمنعه عن شئ من ذلک بان کان یؤدی الارکان ویتفکرلایلزمه السهوعن الشرح الصغیرللمنیة اه ۸،ارجب سنه ۱۳۴۲ھ،تتمه خامسة ص۲۷۰،

[1] په اصل کتاب کي داسي دے په ظاهره دلته څه لفظ پاتي دے مثلا په خیال کي، ۱۲ محمدشفیع

باب صلوٰة المریض

كنه چه بالايماء (اشاره) لمونځ مضروی اومعالج ئې ممانعت وكړی دلمانځه دترک جواز:

سوال :(۴۷۷)په یوه سترګه کې اوبه ولویدلې محترم جورونکې اجازه راکړه لاکن اوریدلي مې دي چه دري ورځي په هسپتال کې سرچپه تیرول غواړي اودبل کوم ترتیب حرکت حکم په نه وی

فقط په (شیدی) میلاویګی نود لمانځه په باره کې دحضور څه حکم دی ؟

جواب :فی الدرالمختاروان تعذرالایماء براسه وکثرت الفوائت بان زادت علی یوم ولیلة سقط القضاء عنه وان کان یفهم من ظاهرالروایة وفی الدرالمختاروقیل لایسقط القضاء بل تؤخرعنه اذاکان یعقل وصححه فی الهدایة الخ وفی الدرالمختارولم یوم بعینه وقلبه وحاجبه فلافالزفروفیه امره الطبیب الاستلقاء لنزع الماء من عینه صلی بالایماء لان حرمة الاعضاء کحرمة النفس وفی نفع المفتی والسائل ولوکانت امراة لواشتغلت بالصلوٰة یبکې ولدهاباالجوع ویضرعلیه ضرراغالباوان ارضعته یفوت الوقت جازلها ان ترضعه وتؤخرالصلوٰة شی ای سیف سائلی شم ای شرف الائمة المکی کذافی القنیة باب من یبتلی بامرین یختاراهونهما. ددې روایتونونه مستفادشوه چه که دسرپه اشاری سره لمونځ مضرنه ؤنو په اشاری سره کول واجب دی اوکه اشاره هم مضره وه نودلمانځه قضاکول هم روادی. (۱۰محرم ۱۳۳۳ھ تتمه ثالثه ص۷)

باب فی سجدة التلاوة

دمصلی دغیرمصلی نه دسجدی دایت داوریدلو حکم:

سوال :(۴۷۸)دلمانځه نه بهرکوم سړی قرآن شریف لولی اولمونځ کونکې دسجدی آیت واوریده نوهغه باندې سجده واجبه شوه کنه؟

جواب :واجبه شوه دصلاة نه خارج وروسته دفراغ صلوة نه فی العالمگیریة ولوسمع المصلی من اجنبی یسجدبعدالفراغ ولوسجد فی الصلوٰة لایجزیه ولاتفسدصلوٰته کذافی التهذیب هوالصحیح کذا فی الخلاصة ج۱ص۲۵، ۸۵ (رمضان ۱۳۲۲ھ تتمه خامسه ص ۳۱۰)

ثبوت داداء د سجدهٔ تلاوت په رکوع یاپه سجدی کې د صلاة په موقوف حدیث سره:

سوال :(۴۷۹)دتلاوت سجده په رکوع سره اداکیګی اوکنه که اداکیګی نودکوم حدیث نه ثبوت شته اوکنه ددواړومسئلومتعلق حدیث شریف یاکم ازکم دهغه کتاب نوم چه په هغه کې دغه حدیث مذکور دی دباب دحوالی سرهٔ تحریرفرمایلوسره مشکوروفرمائی ؟

جواب :فی فتح الباری المصری ص۴۵۷ ج۲واستدل بعض الحنفیة من مشروع السجودعن قوله وخر راکعا واناب بان الرکوع عندهاینوب عن السجودفان شاء المصلی رکع بهاوان شاء سجدثم طرده فی جمیع سجدات التلاوة وبه قال ابن مسعوداه ولم ارحدیثامر فوعافیه مع التتبع وقول الصحابی حجة عندالامام الاعظم ویقدم علی القیاس. ۲۲صفر۱۳۳۳ (تتمه ثالثه ص۲۱)

سوال :(۴۸۰)که کوم سړی دسجدی آیت لولی نوفی الفوردرکوع وکړی اود هغې نه وروسته دپه ترتیب سره ټول ارکان دلمانځه اداکړی نوپه دغه رکوع کې دتلاوت سجده هم اداکیګی اوکنه ؟اوکه فی الفور سجده ونه کړی بلکه دسجدی آیت سره نورهم څوآیتونه میلاوکړی اودهغونه وروسته په رکوع کولوسره په ترتیب ټول ارکان اداء کړی نوپدې صورت کې څه حکم دی بینواتوجروا؟

جواب :فی الدرالمختاروتودی برکوع صلاة اذاکان الرکوع علی الفورمن قراءة آیة او آیتین وکذا الثلاث علی الظاهرکمافی البحران نواه ای کون الرکوع لسجودالتلاوة علی الراجح وتودی بسجودها کذلک ای علی الفوروان لم ینوبالاجماع ولونواهافی رکوعه ولم ینوها المؤتم لم تجزه الخ وردالمختارقوله علی الفورالخ فلوانقطع الفورلابد لهامن سجودخاص مادام فی حرمة الصلوٰة قوله علی الظاهرالخ قال بعداسطرلکن فی البحرعن المجتبی ان الرکوع ینوب عنهابشرط النیة وان لایفصل بثلاث الااذاکانت الثلاث من اخرالسورة اه ومثل له قبله کسورة الانشقاق وسورة بنی اسرائیل .ددې روایتونونه څوکارونه مستفاد شول :(۱) فی الفوردرکوع صلوة کولو سره هغه وخت سجدهٔ تلاوت اداء کیګی چه کله په دی رکوع کې ددې سجدی داداءکولونیت هم وکړی ،که نیت ئې نه وی کړی نونه اداء کیګی دهغې لپاره به خاصه [۱] سجده کول وی .(۲) که امام نیت وکړی اومقتدی ئې ونه کړی دمقتدی اداء نه شواوداامام اداء شو .(۳) که فی الفورئې رکوع ونه کړه اوبیائې رکوع دسجدی دنیت سره وکړه نو که وغه

[۱] و (۲) یعنی بیالمونځ کې اداکول دي ځکه چه کومه سجده په لمانځه کې واجبیږی هغه دلمانځه نه خارج نه اداءکیږی اودواجب په پرینښودلوسره ګناه لازمیږی دکوم چه کفاره صرف استغفارده ۱۲منه

سجده دسورت دختم سره قریب دی لکه چه په سوره انشقاق یاسورة بنی اسرایل کي چه دی نوهم حکم د فوردی اوکه دسورت په مینځ کي ده نو فور پاتي نه شواودهغي په رکوع کي نه ادا کیگی. (۴) که په رکوع کي ئی نیت نه وکړی نویه سجدهٔ صلوة کي په خپله اداکیگی برابره خبره ده چه دهغي نیت وکړی اوکه نیت ونه کړی مګرفورشرط دی (۵) دفورمعنی داده چه دسجدی دآیت نه وروسته یودوه آیتونو نه زیات ونه وائی په دی سره دټولو سوالونو خواب وشو. ۲۱ جمادی الثانیه ۱۳۳۲ھ (تتمه ثالثه ص ۱۴۷)

سوال :(۴۸۱)ددین علماو دشرع متین مفتیان په دی مسئلی کي څه فرمائی چه امام صاحب دفرضویه جماعت کي دسجدی آیت ووایه بیا زر رکوع ته لاړیبا رکوع ته تللو کي ئی دتلاوت دسجدی نیت هم وکړیه دی ترتیب سره دتلاوت سجده اداء کیدلی شی اوکنه؟ بیاپه لمانځه کي څومره خلل وشو؟ په دوهمه حصه دبهشتی ص ۷۷ کي داسي درج دی: که دسجدی آیت په لوستلوسره زر رکوع ته روان شی اویه رکوع کي دانیت وکړی چه زه دتلاوت سجدی په ځای هم همدا رکوع کوم دغه وخت هم هغه سجده اداء کیگی آیادغه حکم دبنځولپاره دی یا دامام هم په فرضونو کي همداسي اداکیدلی شی؟

جواب :همداسي طریقه دتلاوت سجده اداء کیگی لکن ددې په خاطرچه په رکوع کي داداء کیدولپاره نیت هم شرط دی اودامام دنیت ذکر سائل کړی نودامام سجده خواداء کیگی لکن په مقتدیانو کي چه کوم نیت وکړی دهغوی سجده خوکیږی اوکوم چه نیت ونکړی د هغوی سجده اداء نه شوه ،اوکه په رکوع کي نیت ونه کړی نویه سجدهٔ نمازکي دټولوسجدهٔ تلاوت بلانیت هم اداکیږی پدې شرط چه د سجدی آیت لوستلو سره فوراركوع ته لاړشی دهمدی په خاطر بهتره همداده چه په رکوع کي نیت ونه کړی ۱۶ ربیع الاول ۱۳۳۹ھ (تتمه خامسه ص ۱۸۳)

عندالحنفیه دحج دسورت ددوهمی سجدی تحقیق:

سوال :(۴۸۲)دحج په سورت کي دوه سجدی دی احناف اوله سجده کوی او دوهمه نه کوی لکه چه ناخیزه هم اوله سجده کوی یوصاحب فرمائی چه دواړه سجدی کول پکاردی لهذاددي په باره کي څنګه چه ارشادوی دواړه سجدی وکړم اوکه یوازی اوله سجده وکړم؟

جواب :داحنافویه نزد اوله سجده واجبه دی اودوهمه سجده ثابته نده ، لاکن احنافویوه کلیه لیکلی چه په اختلافی مسئلو کي داختلاف مراعات افضل دی په دی شرط چه په خپل مذهب کي دمکروه ارتکاب لازم نشی،نوددي قاعدي په اساس دلمانځه نه بهرخود دوهمی سجدی

کول به بهتر وی البته دننه په لمانځه کي ددې په خاطر چه زایده سجده بغیردسبب نه د صلاة دموضوع خلاف دی دهمدی لپاره په لمانځه کي دننه دی نه کولی شی البته په یوه خاصه طریقه دی وکولی شی نوددغه مکروه دارتکاب نه به هم بچ پاتې شی اوهغه طریقه داده چه ددوهمی سجدی دآیت په لوستلو سره دی فوراً رکوع ته لاړشی نویه سجدی دصلوة کي دغه سجده هم اداء کیگی. ۱۰ رجب ۱۳۳۵ھ (تتمه خامسه ص ۱۸)

مستحبه طریقه دتلاوت دسجدی کولو

سوال :(۴۸۳)زید دتلاوت سجده داسي اداکوی اول قیام کولوسره الله اکبروائی اوسجدی ته ځی اودری ځلی سبحان ربی الاعلی ویلوسره الله اکبرویلوسره پورته ودریږی اوبیا الله اکبروائی اوبلی سجدی ته ځی پدې ترتیب زیدپه خپلې ذمی باندې لس واړه سجدی یوځای اداء کوی اوس زیدبکر ته وائی چه داسي سجده کول کثرت دی یعنی لاندې باندې کول دی نو بکرد شرعی له مخی ملزم دی اوکنه؟

جواب : دقیام نه سجدی ته تلل اوبیاقیام کول واجب ندی،فقهاؤ مستحب لیکلی دی دهمدی په خاطرنه دهغودوجوب اعتقاد کوه اونه دهغه استهزاء کوه فقط. جمادی الاخری ۱۳۲۹ھ (تتمه اولی ص ۳۵)

په خطبی اودرس مثنوی کي دسجدی دآیت په

بعضی الفاظولوستلوسره دسجدی دوجوب حکم

سوال :(۴۸۴) ددین علماء په دی مسئلی کي څه فرمائی: که یویادوه لفظه دسجدی والآیت کوم شعریاد مثنوی شریف په بیت کي دتقریریه وخت ولوستل شی آیاسجده ضروری ده او واجبیږی؟ لکه څنګه چه په دی بیت کي راغلی

گفت واسجدواقترب یزدان ما
قرب جان شدسجدهٔ ابدان ما

جواب :فی ردالمحتار اول باب سجدة التلاوة عن السراج الوهاج والصحیح انه اذاقراحرف السجدة وقبله کلمة اوبعده کلمة وجب السجود والافلاوقیل لایجب الا ان یقرااکثرایة السجدة مع حرف السجدة الخ، دغه روایت نه څرګنده شوه چه په مسئوله صورت کي داصح قول پربناء د تلاوت سجده په لوستونکي او اوریدونکي باندې واجبه ده. ۱۹ شعبان ۱۳۵۰ھ (النورمیاشت ربیع الثانی ۱۳۵۱ھ)

دتلاوت دسجدی نه وراندې اووروسته دقیام کولودلیل

سوال :(۴۸۵)دبهشتي زیوردومه حصه کې دتلاوت دسجدی په بیان کې دامسئله ده اودریدلو سره الله اکبرویلوسره دی ودریږی نوعمرو د دی مسئلی حدیث غواړی نودا مسئله د کوم حدیث نه ثابته ده ؟

جواب :هیڅ حدیث می له سترګوندی تیرشوی،خوشرعیه حکمونه همغه شان چه دحدیث نه ثابتیږی دقیاس نه هم ثابتیږی په کوم کې چه نص نه وی اوپه دی کې اګر که نص نشته مګرقیاساًعلی المنصوص دا ثابتولی شی یعنی دغه هیئت سره هغه دسجودصلاۃ مشابه ګرځولو سره اقرب الی التعظم ګڼل کیږی، بیا خپله دهمدی [1] هیئت په بعضی اجزاؤکې اختلاف هم شته لکه چه عدم تکبیرمطلقا ،اوتکبیر او محض وضع اومحض رفع اونفی دقیام ثانی داتول قولونه [2] هم منقول دی خو په تکبیر کې ظاهرالروایة ده اوقیام ماخوذاومعمول دی فقط ۲۵جمادی الاخری ۱۳۲۹هـ (تتمه اولی ص۳۲)

دسجدی تلاوت دتاخیرحکم

سوال :(۴۸۶)که کوم سړی دتلاوت په وخت کې دسجدی ایت ولولی او سجده ونه کړی اوهغه هم سره داودسه چه وروسته دتلاوت دختمولونه وکړی نوپه دغه مودی کې په نه کولوباندې ګنهګاریږی اوکنه ؟

جواب :نه لان وجوبهاعلی التراخی لکن بشرط عدم الفوت (تتمه اولی ص۳۲)

دکلام مجیددختمولونه وروسته دسجدوداداء کولوحکم

سوال :(۴۸۷)دیوه سړی معمول ده چه کله ټول قران شریف ختموی نوهغه وخت ټولی سجدی یوځل کوی داڅنګه دی ؟

جواب :جائزدی (تتمه اولی ص۳۲)

---

[1] یعنی دغه مذکوره هیئت چه په هغی کې دااجزادی:قیام،تکبیرسجده پنډیږی دسجدی تکبیرنه اودریږی داهم قیام ته ثانی ۱۲

[2] یعنی دبعضی فقهاؤاقوال ۱۲منه

دتلاوت دسجدوشمیر

سوال :(۴۸۸)داحنافوپه نزدپه قران مجید کې څومره سجدی دی ؟

جواب :څوارلس دی پوره تنی حواله ،

دمتعددوتلاوت سجدوداداء کولوطریقه

سوال :(۴۸۹)که دډیروتلاوت سجدوکول وی نویوځل ناستی سره هغه ټولواداکول پکاردی اوکه باربارودریدلوسره علیحده ،علیحدی ،اداکولو اوغوږونیوړې هم لاس ویسی اوکنه ؟

جواب :که یوځل ناستی سره دغه ټولی اداکړی نوداسې هم جائزدی مګرهو [1] بهترداده چه بار بار ودریدو سره علیحده علیحده یې اداکړی اوغوګونیوړې لاس رسول څه ضروری ندی (امدادج۱ص۳۴)

دتلاوت سجده

سوال :(۴۹۰)که امام دتلاوت سجده ایت ووائی اونورلمونځ کونکې لمونځ کوی نوپه هغوی باندې سجده واجبیږی اوکنه ؟

جواب :فی العالمگیریة ولوسمعهامن الامام اجنبی لیس معهم فی الصلوة ولم یدخل معهم فی الصلوة لزمه السجودکذافی الجوهرة النیرة وهوالصحیح کذافی الهدایة سمع من امام فدخل معه وان دخل فی صلوة الامام بعدماسجدهاالامام لایسجدهاوهذااذا ادرکه فی اخرتلک الرکعة امالوادرکه فی الرکعة الاخری یسجدهابعدالفراغ کذافی الکافی وهکذا فی النهایة ج۱ص۸۵،ددې نه معلومه شوه چه په دغه خلکوباندې خو سجده لازمه شوه لکن یوازې په یوه صورت کې تبعاًاداء شوه هغه صورت داچه دسجدی داوردیدونه وروسته اوددې سجدی دکولونه وروسته دا اوریدونکې په همدغه رکعت کې مقتدی شوی دی اوباقی ټولو صورتونو کې هغه باندې مستقل سجده کول به وی .

---

[1] څکه په نزددبهترکیدوڅه وجهه نشته څکه چه مطلوب سجده ده اوقیام په کومه درجه کې مطلوب ندے نو د هغه په هیڅ دخل نه وی ۱۲منه تصحیح الاغلاط ص۷

دمری په ذمه دتلاوت سجده

سوال:(۴۹۱)که دچاپه ذمه دتلاوت سجده وی اومرشی نو د هغوځه کفاره ورکولی شی ؟

جواب:هیڅ نشته دهغه لپاره استغفارکولی شی

باب صلوة المسافر

داقامت دوطن بطلان په سفر سره معنی:

سوال:(۴۹۲)خمااقامت وطن کانپوردهغه ځای نه قنوج ته لاړم هغه ځای نه دلته (گورکهپور) ته راغلم اوس خوماته ددې سبب نه هیڅ تردد نه دی راپیښ شوی چه داقامت نیت کولوپه سبب هلته هم اتمام کووم لکن که کوم داسې صورت فرض کړای شی اوکه ومنل شی چه یوسړی داقامت وطن پرېښودلوسره په دی نیت قنوج ته لاړچه دری څلوروړځی وروسته به گورگهپور ته راځی اوداهم ومنل شی چه د کانپورنه قنوج ته په موده دسفرکې څواوس دراګرځیدوپه وخت دقنوج اوکانپورترمینځ قصرشته اوکنه؟خماپه خیال کې داسې راځی چه قصرکول پکارندی ،ځکه چه داقامت وطن یاپه سفرسرباطلیږی یاپه بل وطن اقامت سره یاپه اصلی وطن سره لهذا دقنوج پورې ورتلوسره دکانپوروطن اقامه والی باقی دی لهذا اگرکه دقنوج نه دمودې دسفر اراده ده ،خوپه مینځ کې وطن هم دی لهذاترهغه وخته پورې چه دهغه نه تجاوزنه وی دغه وخته پورې به دسفرحکم نه وی لکه چه یوسړی دپنځومنازلوقصد کولوسره په اول اودوهم منزل باندې دده اصلی وطن ملاویږی،نوبلاتجاوزدوطن اصلی نه هغه باندې دمسافرکیدلوحکم به نه وی ،دجناب عالی چه کومه رایه وی دهغې نه مومطلع وفرمایې؟

جواب:[۱]په دی مسئلی کې خوتصریح نده میلاوشوی خودامی گمان ته راځی چه دقنوج پورې سفردگورکهپوردسفربرخه نده ځکه چه قنوج دگورکهپورپه لارکې واقع نده دهمدی لپاره دقنوج پورې به قصرنه وی ، هوکله چه دقنوج نه دگورکهپورته دتللولپاره لاړشی دغه وخت کتل پکاردی چه کانپورته دداخلیدواراده شته یابیرون تللو قصددی په اول صورت کې به دکانپورپورې قصرنه وی اوپل صورت کې به قصرکول وی ، اگرکه دسفرپه مینځ کې کانپورته دداخلیدلو ضرورت رامینځ ته شواوهغه وردننه شولکه په شامی کې دی انشاء السفربطل

---

[۱] ...اب دتصحیح الاغلاط ص۲نه نقل شوي ۱۲مصحح

وطن الاقامة اذاکان منه اماالوانشاه من غیره فان لم یکن فیه مرورعلی وطن الاقامة اوکان ولکن بعدسیرثلثه ایام فذلک ولو قبله لم یبطل الوطن بل یبطل السفرلان قیام الوطن مانع من صحته .او په قاضی خان کې دی المسافراذا جاوزعمران مصره فلماساربعض الطریق تذکرشیئا فی وطنه فعزم الرجوع الی الوطن لاجل ذلک الی قوله وان لم یکن وطنااصلیاله فانه یقصر الصلوة مالم ینوالاقامة بها خمسة عشریومات اه اوکومه جزیپه چه تاسو وړاندې کړیده دهغې وړاندې کول ددې لپاره صحیح ندی چه په هغې کې دوطن اصلی بیان دی اودلته دوطن اقامت ذکردی اووطن دانشاء سفر سره نه باطلیږی په خلاف دوطن اقامت.والله اعلم (امدادص۳۰ج۱، تصحیح الاغلاط ص۶ج۱)

سوال:(۴۹۳)دیوسړی دقامت وطن کانپوردی دهغه ځای نه هغه دسهارنپورپه نیت روان شولکن دکوم کاردپاره اناؤته تلل ضروری ول ، لهذا اول اناؤته لاړدهغه ځای نه کانپوربیا سهارنپورته لاړنودغه صورت کې دغه سړی په اناؤکې نورځی راځی داناؤاوکانپورپه مینځ کې قصروکړی که اتمام ،خماگمان دادی چه اتمام وکړی اوکوم وخت هم چه واپسی داناؤ کانپورته دسهارنپورپه طرف روان شی دغه وخت دی قصروکړی ځکه چه داقامت وطن یاخوپه وطن اصلی سره ساقطیږی یاپه بل وطن اقامت سره یاسفرسره اواناؤنه اصلی وطن دی اونه وطن اقامه اودهغه ځای نه کانپورته دواپسی قصددې لهذا کانپورداقامت وطن پاتې شودغه داناو تگ راتگ سفرشرعی سفرندی ،دبیرته راتلوپه وخت کې په لاراوکانپورته راتلوکې قصرکول پکاردی؟

جواب:ددې لپاره [۱]چه د اقامت په نیت کې شرط دادی چه هغه موضع داقامت لپاره صالح وی اومفازه ته غیرصالح ویل کیږی ، لهذاداکتل پکاردی چه داناؤنه دبیرته راتلوپه وخت دکانپوردننه داخلیدلوسره راځی برابره خبره دی چه دریل نه کوزشی یاپه ریل کې دښارپه مینځ کې ووځی یادکانپورنه بهر بهرلاړشی که دننه کیدلوسره لاړشی دغه وخت خو دکانپورنه اناؤته دروانیدوپه وخت دسفراراده نشته او ددې روانیدو سره دکانپورداقامت وطن والی باطل شولکه چه ظاهره ده ، او د کانپور نه بهربهرته دتلوارا ده دی،نوکوم وخت چه دکانپورنه اناؤته روان شوی دسفراراده متحققه شوه اوکانپورد اقامت وطن پاتې نه شواوکانپورته ورگرځیدل

---

[۱] داحقرپه نزدپه دی خواب کې هم دتغیرضرورت دے اوهغه خواب کیدل پکاردي کوم چه احقردسفرد قنوج وگورکهپورپه باب کې درکړی وو تصحیح الاغلاط ص۷.

ددې لپاره په دې کې قادح نه شوچه مفازه محل داقامت ندی اومراد دسفرمبطل لوطن الاقامه نه انشاء السفردی نه وجودالسفرکما صرح به فی الدر المختار فقط والله اعلم (امداد ص۳۱ ج۱)

سوال :(٤٩٤)زه لمړی خپل حالت عرض کوم چه په ظاهره کې دفتحپورقيام اميدندی اونه خاکوم مکان ؤهغه خادکوم اسباب لرونکې هستوګنځی يوتمن دنيادی چه دوصيت په طورماته ميلاوېږی هغه بالکل ناکافی اوددې لپاره چه هلته کوم قريب اوعزيز نشته تول غيردی غيردی دهمدی په خاطرمکان اخستل، جوړول داسې دی لکه چه چرته په پرديسی کې جوړول دهغه لپاره څنګه عجب دی چه داسې رابې قرار پيدا کړی چه په قنوج کې مکان تعمير کول وغواړی اګرکه تراوسه په هغه ځای کې دقيام هم کوم مستقل سوج ندی قائم شوی، اوس دپوښتنې وړ داده چه فتحپور خماوطن شوکنه اوزه هلته په تللو سره به قصر کووم که اتمام يوازی دومره تعلق خماپاتې دی چه نيا صاحبه می هلته اوسيږی اوبس همدارنګه دنيا صاحبی دهلته اوسيدو په صورت کې که په کوم سبب هلته ورتګ وی نوڅه حکم دی پداسې حالت کې دقنوج څه حکم دی قصروکړم اوکه اتمام په نکاح کولوسره فقهاء داتمام حکم ورکوی پدې شرط چه هلته دقيام اراده وی حتی چه که دوه دری ځايه نکاح وکړی اودهغه ښځونه دبنځود راوستلو اراده نه وی په دری واړو ښځونوکې داتمام حکم دی اوخماحالت هغه دی چه مذکورشولهذا تردد پاتې کيږی چه په ماباندې قصردی اوکه اتمام ؟

جواب :[1] فتحپوريوی مودی پورې يقيناستاوطن اصلی پاتې شوی اوس ترڅوچې دوهم ځای خپل اصلی وطن جوړولوعزم نه وی کړی هغه به همغسی اصلی وطن پاتې وی ،اوددې پخاطرچه تراوسه پورې په دې باندې ستاسی رای قرارنه دی موندلې نوپه فتحپورکې اتمام واجب دی فی الدرالمختارالوطن الاصلی يبطل بمثله وفی الاصل ان الشئ يبطل بمثله وبمافوقه لابمادونه اه ،اوتراوسه پورې ماته په دې مسئلې کې شرح صدرندی شوی چه يوازی په تزوج سره هغه ځای ددې لپاره وطن اصلی جوړيدل اوخپله دهميشه اوسيدلولپاره کيدلی شی په همدې اساس بې هغه داصلی وطن جوړولوسبب ګرځولی دی ګنی مدار خپله دده دوطن نيولونيت دی،که خمادغه پوهه صحيح ده نوقنوج تراوسه ستااصلی وطن ندی ګرځيدلی اوکه مطلق تاهل سره اصلی وطن جوړيدلی شی نوپه وطن اصلی کې تعدد ممکن دی لکه چه

[1] داسې مسئلې متعلق نی په ترجيح الراجح حصه دريمه اوم فصل کې علماؤنه دتحقيق نولومسوره ورکړی ده . تصحيح الاغلاط ص۷

فقهاؤ تصريح کړی ده دهغه دوطن اصلی کيدلونه دفتحپورنه وطن اصلی کيدل نه لازميږی دقاضيخان يوه جزئيه خما مؤيده ده المسافراذاجاوزعمران مصره الی قوله ان کان ذلک وطنا اصليابان کان مولده وسکن فيه اولم يکن مولده ولکنه تاهل به وجعله داراالخ ،په دې کې د تاهل نه وروسته جعله داراپې رازياته کړی لکه چه دکان مولده نه وروسته بې وسکن فيه رازياته کړی ده ، نو څرنګه چه يوازی کان مولده دسکن فيه نه بغيروطن اصلی نه ګرځی همدارنګه په تاهل سره بی دجعله دارا نه به وطن اصلی نه وی فافهم.۱۸ربيع الاول ۱۳۲۱ھ امداد ص۳۲ ج۱،

دپورتنی مسئلی متعلق ترجيح الراجح

په ص۳۲ج۱امدادالفتاوی کې دتوطن په تزوج مسئله شته هغه دی د نوروعلماؤنه تحقيق وکولی شی

سوال :(٤٩٥)زيدخپل مکان اومولدنه سل کوسه تللوسره پنځلس ورځی مقيم پاتې شوبيا دهغه ځای نه بې بل ملک ته دتللوقصدو کړه، نودهغه ځای نه لاړ،ددری منزلونوقصدپه دقصرلپاره معتبروی يا مطلق دهغه ځای نه وتل به معتبروی يامطلق دوه څلورکوسه چه لاړ شی نوقصردی وکړی ؟

جواب :مطلق وتل معتبرندی بلکه دقصردمسافت په نيت سره وتل به دقصرمبطل وی ،فی الدرالمختار ويبطل وطن الاقامة الی قوله وبانشاء السفراه والسفرالمعتبرهوالسفرالشرعی . فقط والله اعلم .۱۲ذيقعده ۱۳۲۵ھ امداد ص۹۵ ج۱،

داورګادی په شپيلی وهلودافساد صلوة حکم دسفرپه حال کې

سوال :(٤٩٦)دڅه مقدارپه نقصان فريضه يانوافل يادسنتودنيت ماتول پکاردی ،اوکه دنيت کولونه وروسته شپيلی دروانول وکول شی نوڅه وکړی ؟

جواب :ديرونقصانانوپه سردلمانځه نيت ماتول درست دی،اوداورګادی په اعلانولو باندې هم لمونځ ماتول درست دی که سفرنه کولوکې څه حرج نه وی ،حوادث ۱،او۲ص۲۲،

په سورلی کې د لمانځه حکم

سوال :(٤٩٧)په سورلی باندې لمونځ کول جائزدی اوکنه؟

جواب: فی الدرالمختارفہی صلوۃ علی الدابۃ فتجوزفی حالۃ العذر المذکورفی التیمم لافی غیرھا ومن العذرالمطروطین یغیب فیہ الوجہ وذھاب الرفقاء ودابۃ لاترکب الابعناء الی قولہ حتی لوکان مع امہ مثلا فی شقی محمل واذا نزل لم تقدرترکب وحدھا جازلہ ایضاً کما افادہ فی البحرفلیحفظ اہ ، ددې روایت نه ثابته شوه چه په کجاوه کې په عذرسره فرض کول جائزدی اوکه خکبته کیدل اودقافلې ملګرتیا تول آسانه وی نوبه کجاوه اداء کول جائز ندی واللہ اعلم ۰ ۲شعبان ۱۳۲۱ھ امدادص۳۹ج۱۔

په ریل کې دلمانځه حکم

سوال: (۴۹۸)دریل په سورلی کې ودریدلوسره اوکه ناستی سره لمونځ کول پکاردی، که په ولاړې لمونځ کول غواړی نودریل چت په سر لګیږی دوهم داچه کومه تخته دمشرق په طرف ده اودمغرب طرف تخته ده په مینځ کې فاصله دومره ده اوپه مینځ کې هم خای تش دی چه دلویدلو اندیشه ده دریمه داچه دقیام په حالت کې دریل نه د کوزیدوسره دلمونځ په اداکولوکې داخیال دی چه ریل روان شی اود مال نقصان هم دی اوخپله هم پاتې کیږی نوپه دغومذکوره حالاتوکې څرنګه لمونځ اداء کړی؟

جواب: دلمونځ کولولپاره دریل نه دکوزیدوحاجت نشته که ریل د سریرموضوع علی الارض په مثل وی نوظاهره ده اوداصحیح هم معلومیږی وان لم یکن طرف العجلۃ علی الدابۃ جازلوواقفۃ لتعلیلھم انھاکالسریر۔ درمختارقولہ لوواقفۃ کذا قیدہ فی شرح المنیۃ ولواراہ لغیرہ یعنی اذاکانت العجلۃ علی الارض ولم یکن شئی منہاعلی الدابۃ وانماھاحبل مثلاتجرھاالدابۃ تصح الصلوۃ علیہا کانھاحینئذ کالسریر الموضوع علی الارض ومقتضی ھذاالتعلیل انھالوکانت سائرۃ فی ھذہ الحالۃ لاتصح الصلوۃ بلاعذروفیہ تامل لان جرھابالحبل وھی علی الارض لاتخرج بہ کونھاعلی الارض ویفیدہ عبارۃ التاتار خانیۃ عن المحیط وھی لوصلی علی العجلۃ ان کان طرفہاعلی الدابۃ وھی تسیرتجوزفی حالۃ العذرلافی غیرھاوان لم یکن طرفہا علی الدابۃ جازت وھوبمنزلۃ الصلوۃ علی السریر آہ فقولہ وان لم یکن ہایفید ماظنالانہ راجع الی اصل المسئلۃ وقد قیدہ بقولہ وھی تسیرو لوکان الجوازمقیدابعدم السیرلقیدہ فتامل شامی ج۱ ص۴۷۱،او که په مثل دعجله محموله علی الدابۃ هم ومنل شی دغه وخت هم دعذربه سبب د کوزیدلو کوم

ضرورت نشته اوعذرهمدادی چه په روان اورګاډی کې کوزیدل نشی کیدلی په ولاړ اورګاډی کې دریل دتللویادمال دتلف کیدلو اندیښنه وی، واماالصلوۃ علی العجلۃ ان کانت طرف العجلۃ علی الدابۃ وھی تسیراولاتسیرفہی صلوۃ علی الدابۃ فتجوز[1] فی حالۃ العذرالمذکور فی التیمم لافی غیرھاومن العذرالمطروطین یغیب فیہ الوجہ وذھاب الرفقاء ودابۃ لاترکب الابعناء وتعین —درمختار—فقولہ المذکورفی التیمم بان یخاف علی مالہ اونفسہ اویخاف من فاسق — شامی ج۱ص۴۰۷، اګرکه داامید هم وی چه دلمانځه دوخت پاتې کیدوپورې ماته کوزیدوسره لمونځ کول ممکن دی دغه وخت هم په ریل کې په هرحال کول به جائزوی ځکه چه دلمانځه دوخت په شروع کیدوعذرمعتبردی اګرکه دوخت اخرکې دعغه زوال متوقع دی .

تنبیه : بقی شئی ولم ارمن ذکرہ وھوان المسافراذاعجزعن النزول لعذر من الاعذاروکان علی رجاءزوال العذرقبل خروج الوقت کالمسافرمع رکب الحاج الشریف ھل لہ ان یصلی العشاء مثلاً علی الدابۃ ویحمل فی اول الوقت اذاخاف من النزول ام یؤخرالی وقت نزول الحاج فی نصف اللیل لاجل الصلوۃ والذی یظہرلی الاول لان المصلی انمایکلف بالارکان والشروط عندارادۃ الصلوۃ والشروع فیہاولیس لذلک وقت خاص ولذاجازلہ الصلوۃ بالتیمم اول الوقت وان کان یرجووجودالماء قبل خروجہ وعللوہ بانہ فدادھا بحسب قدرتہ الموجودۃ عندانعقادسببہاوھو مااتصل بہ الاداءہ ومسئلتنا کذالک شامی ج۱ص ۴۷۱، البته په داسې صورت کې داخروخته پورې انتظار کول مستحب دی وندب[2] لراجیہ رجاء قویا اخر الوقت المستحب ولولم یؤخروصلی جازان کان بینہ وبین الماء میل والالا ،درمختارمع الشامی ص۱۲۲ ، نوهرکله چه معلومه شوه چه دکوزیدوځه حاجت نشته نوکه په قیام باندې وس نه وی نوبه ناستی سره کول درست دی په هرشکل سره چه کیښنی اووجدلقیامہ الماشدیداً صلی قاعداً کیف شاء علی المذھب درمختارص۵۰۹ صلی الفرض فی فلک جار قاعدا بلاعذرصح لغلبۃ العذر واساء وقالالایصح الالعذروھو الا ظھربرھانا۔ درمختارص۵۱۲، اوکه رکوع اوسجودبه سبب دزیاتوالی دفصل په مینځ شرعی اوغربی تختومتعذروی نودسرپه اشاره سره دی رکوع اوسجدی وکړی لکن معمولی وخت دی تعذرنه

---

[1] ددې عبارت نه په ریل کې دتیمم جواز هم ثابتیږی ۱۲منه

[2] ددینه معلومه شوه چه په اورګاډی کې هم انتظارپاتې کیدل داخرمستحب وخت پورې بهتردے ضروری ندے ۱۲منه

گئی او سجدی دی د رکوع نه لګ ټیټه کوی ،وان تعذر اوماء قاعداوبجعل سجودی اخفض م رکوعه

- درمختارص۵۰۹. والله اعلم ،۲۳شوال ۱۳۰۴ھ امدادص۳۵ج۱.

سوال:(۴۹۹)په اورګاډی کې لمونځ څنګه کیږی زه نی کله په ولاړی کوم په دی ترتیب چه یوی تختی په طرف ودریږم او په بله تخته سجده کوم ،یوه صاحب دااعتراض وکولو چه سجده کې دځپو زنګونو په زمکه نه لګیږی لهذا لمونځ نه کیږی په حدیث شریف کې دی چه دسجدی په وخت داوو ځیزونو په زمکه لګول پکاردی لکه چه اول داوونه یو څنګونه هم دی اودهمدی وجهی نه دمری په زنګونو باندې کافور لګول کیږی ،دهغه په نظر داسې کول پکاردی چه په یوی تختی باندې کینښی لکه دلمونځ کونکې په شان او په بلی تختی باندې سجده وکړی خو په دی صورت کې قیام چه فرض دی پریښودل کیږی لهذاد جناب څه رایه ده آیا د زنګونو لګول په څمکه باندې دسجدی په وخت کې لازم دی؟

جواب:فی ردالمحتار تظافرت الروایات عن المتابات وضع الیدین والرکبتین سنة ولم تردروایة بانه فرض -ج۱ص۵۲۱. ددې نه ثابته شوه چه دزنګونو لګول فرض ندی بلکه واجب [۱] هم ندی او ودریدل فرض دی نوسناطریقه درسته ده اودصاحب قول غلط دی دپورتنی وجهی [۱] نه علاوه یوه وجه داهم ده چه کومه خرابی هغه دقیام په حالت کې ویلی ده یعنی دسجدی په حالت کې زنګونو نه لګیدل دی همدغه خرابی دقعود په حالت کې هم شته فافهم والله اعلم امدادص۷۹ج۱.

سوال:(۵۰۰)دریل په سفر کې چه کومی مواقع مخی ته راځی هغه لاندې عرض کولی شی .

(۱) په هغه حالت کې چه اورګاډی روان وی اودناستی ځای مخ په قبله ندی یعنی شمال اوجنوب دی اودراتلونکې استیشن ته درسیدلو نه مخکې وخت تیریږی یااستیشن باندې په کوزیدو سره اداکول دقیام دقلت په وجه ممکن نه وی نو په یوه ځای باندې په ناستی سره دواړه

[۱] په متونو کې په عام طورهمداده لاکن په فتح القدیربحرالرائق شامی وغیره کی بې دیته ترجیح ورکړیده چه دزنګونو لګول په سجدے کی واجب دی قال الشامی واختارفی الفتح الوجوب لانه مقتضی الحدث مع المواظبة قال فی البحروهوانشاء الله تعالی اعدل الاقوال لموافقته الاصول انتهی وقال فی موضع اخرقدمنا الخلاف فی انه سنة اوفرض اوواجب وان الاخراعدل الاقوال انتهی په مذکوره سوال دضرورت کی هر کله چه دقیام فرض فوت کیدل لازمیږی که په دغه خاص حالت کی دسنت قول ته ترجیح ورکول شی نو مضائقه نشته لکه چه حضرت مصنف قدس سره کړی دی والله اعلم بندے محمدشفیع عفی الله عنه.

[۱] اضافه دتصحیح الاغلاط نه شوی د ے۱۲ مصحح

ښې زوړنه زلو سره په بلی یوړی باندې سجده کول به په دی ترتیب درست وی او که څنګه برابره خبره ده چه جماعت وی او که یوازی ؟

جواب:بې عذره ناستی درست نده په یوی باندې ودریدو سره په بله سجدی وکړی .۱۸محرم ۳۴ھ تتمه رابعه ص۲۲.

سوال:(۵۰۱)په اورګاډی کې دتنګ په حال کې بې دعذرنه دفرض لمونځ کول جائز دی او کنه بینوا توجروا ؟

جواب:جائز دی قال فی ردالمحتارشرح الدرالمختار(من باب الوتر والنوافل) تحت قوله وان لم یکن طرف العجلة علی الدابة جازلو واقفةً الخ کذا قیده فی شرح المنیة ولم اره لغیره یعنی اذاکانت العجلة علی الارض ولم یکن شئ منهاعلی الدابة وانماقاحبل مثلاً تجرهاالدابة تصح الصلوة علیها لانها حینئذ کالسریر الموضوع علی الارض ومقتضی هذاالتعلیل انهالوکانت سائرة فی هذه الحالة لاتصح الصلوة علیها بلا عذروفیه تامل لان جرهاباالحبل وهی علی الارض لاتخرج به عن کونه علی الارض ویفیده عبارة التاتارخانیة عن المحیط وهی لوصلی علی العجلة ان کان طرفهاعلی الدابة وهی تسیرتجوزفی حالة العذرلافی غیرهاوان لم یکن طرفهاعلی الدابة جازت وهوکالسریرانتهی فقوله وان لم یکن طرفهاالخ یفید ما قلنالانه راجع الی اصل المسئلة وقدقیدهابقوله وهی تسیرولوکان الجواز مقیدابعدم السیرلقیده به فتامل انتهی اقول وکذایقیدمالفادنا السیدقدس سره عن عبارة المحیط عبارة فتاوی قاضی خان وهی اما الصلوة علی العجلة ان کان طرف العجلة علی الدابة وهی تسیرا ولاتسیرفهی صلوة علی الدابة تجوز حالة العذر ولاتجوزفی غیرهاوان لم تکن طرف العجلة علی الدابة جازوهی بمنزلة الصلوة علی السریر انتهی قبل باب الصلوة المریض فلما جازت الصلوة علی العجلة اذالم یکن شئ منهاعلی الدابة وهی تسیراولاتسیربدون العذروکانت بمنزلة السریرفی الحالتین فبالطریق الاولی تجوزعلی المرکب الدخانی الذی یجری علی الارض حال کونه سائراً بدون العذرفظهران مافی غایة الاوتار-ج۱ص ۳۴۳تحت قوله وان لم یکن طرف العجلة علی الدابة جازلوواقفة (فی باب الوتروالنوافل) دهندعلماء مختلف دی چه داورګاډی چلولو کې فرض او واجب لمونځونه درست ندی او ښتني بې درست وانی الخ منشاء عدم اطلاع الفریقین والمؤلف ایضاً علی ماحققه السیدالعلامة تحت

القول المذکورکما نقلنا هذاو اعترض (فی باب الوتروالنوافل) مفتی المصرعلی قول السیدقدس سرہ وفیه تامل لان جرهاخ حیث قال وهی وان لم تخرج بالجر بالحبل عن کونهاعلی الارض الاان هذالقیدلابدمنه اذبدونه یفوته اتحادمکان الصلوۃ الذی هوشرط لصحتها الابعذراخ ویقول العبدالضعیف ان هذامنه عجیب جداقان مکان الصلوۃ فیمانحن فیه العجلة ولوح من الواحهادون الارض التی تحتها۔الاتری ان الصلوۃ علی السفینة السائرۃ جائزۃ واعتبار العذرهنالا لماکانت علی المادون الارض فکانت کالدابة لالعدم اتحادمکان الصلوۃ فان الحکم فی السفینة المربوطة بالشط اذاکانت علی القرارمن الماء ولم یکن شئ منها مستقراً علی الارض ایضاً کذلک بهذاظهران کون السفینة علی الماء والماء علی الارض ممالاینتج نتیجة تفیدحکماً من الاحکام ان قیل قدتقرران بعض الائمة اذاصرح بقیدوجب اتباعه قلت هذااذاکان من اهل الترجیح وابن امیرالحاج شارح المنیة لیس من اهل الترجیح (کذافی الحموی شرح الاشباه ثم الفن الثالث فی احکام الخنثی) بل هومن نقلة المذهب فکان علیه عزوالقیدالمذکورالی کتاب من الکتب المعتبرۃ ولعل الیه اشارالسیدالمحقق بقوله ولم اره لغیره بقی هل یجب التوجه الی القبلة وکلمادارالمرکب الدخانی عنهاعند استفتاح الصلوۃ وفی خلال الصلوۃ الظاهرنعم فان لم یمکنه یمکث عن الصلوۃ الااذاخاف فوت الوقت هذاماظهرلی - والله تعالی اعلم واعلمه احکم -

الجواب من المولوی حبیب احمد

فی الدرالمختارالمربوطة بالشط کالشط فی الاصح اه وقال فی ردالمحتارقوله المربوطة بالشط کالشط فلاتجوزالصلوۃ فیهاقاعداً اتفاقاً وظاهرمافی الهدایة وغیرهاالجواز قائماًمطلقاً ای استقرت علی الارض اولاوصرح فی الایضاح بمنعه فی الثانی حیث امکنه الخروج الحاقالهابالدابة نهرواختاره فی المحیط والبدائع بحر- وعزاه فی الامدادایضاًالی مجمع الروایات عن المصفی وجزم به فی نور الایضاح وعلی هذا ینبغی ان لا تجوزالصلوۃ فیهاسائرۃ مع امکان الخروج الی البروهذه المسئلة والناس عنهاغافلون شرح المنیة اه ص۷۹۷، ددې عبارت نه څرګندیګی چه دسفینې ددابې په شان کیدلوکې اختلاف دی دصاحبِ دهدایې اوغیره دبیان نه څرګندیګی چه هغوی داددابې په شان نه ګڼی اوپه هغې کې لمونځ بلاعذر جائز دی اونوروعلماو تصریح کړی دی چه هغه

ددابې په شان دې اولمونځ په کې بلاعذر جائزنه دې ،اوراجح داده چه هغه ددابې په شان دی هرکله چه دامعلومه شوه نوپه دی پوهیدل پکاردی چه په الامداد کې څه لیکلی شوی دی رفع د(اشتباه) دغه جهازدی ددریائی جهازپه مثل نه ګڼل کیګی څکه چه هغه په واسطه داوبو مستقر علی الارض دی اودهغې استقرارپه اوبواوداوبواستقرار په څمکه باندې بالکل ظاهردی ،آه، ددې مطلب دادی چه ددغه استقرارد ظهورپه سبب که هغه د دابې په مثل ونه ګڼل شی بلکه دسریرپه څیروګڼل شی نو اګر که دامرجوح دی خوددې ګنجایش شته لکه چه دظاهر دهدایې وغیره نه معلومیګی په خلاف دهوائی جهازچه هلته داامکان نشته فاتضح فائدۃ هذاالکلام واندفع مااوردعلیه بقوله بهذاظهران کون السفینة علی الماء والماء علی الارض ممالاینتج نتیجة تفیدحکماً من الاحکام اه ۔

التماس : اوس دی کتونکې په علماوددې تنقیدوکړی ۴ذی الحجة ۱۳۳۲ه (ترجیح خامس ص۹۲)

دسیاچ لپاره دقصرصلاۃ تحقیق :

سوال :(۵۰۲)څوک تول دولس کاله ساحت کوئ نن دی کورونوکې صباح هغوکورونوکې پاتې کیګی نوهمیشه دی قصرکوی اوکنه ؟

جواب :په دی کې دری صورتونه دی (۱) دکوم ځای نه دروانیدوپه وخت ددری منزلویازیات سفر کولو قصد شته، او کوم ځای ته په رسیدلود پنځلسویازیاتوورځودقیام قصدنشته په دی صورت کې دی قصر کوی (۲) دکوم ځای نه دتللوپه وخت ددری منزلویازیاتود سفر قصدشته اوکوم ځای ته په رسیدلوهلته دپنځلسویازیاتوورځودقیام قصدشته په دی صورت کې دی په لاره کې قصرکوی اودغه ځای کې په اوسیدودی پوره لمونځ کوی (۳) دکوم ځای نه دتللوپه وخت ددری یازیاتومنزلودسفرقصد نشته یعنی دکوم ځای نه چه اوس روان شوی نه ددغه ځای نه دروانیدوپه وخت اونه ددې مخکې چه کوم ځای نه روانیدلو د هغه د روانیدلو په وخت کې هم ددری منزلو اراده نه وه نو پوره لمونځ دی کوی. فی الدرالمختار من خرج من عمارۃ موضع اقامته قاصدا ولوکافرا و من طاف الدنیا بلا قصد لم بقصدمسیرۃ ثلثة ایام ولیالیهاصلی الفرض الرباعی رکعتین حتی یدخل موضع مقامه او ینوی اقامة نصف شهراه، والله تعالی اعلم وعلمه اتم ، ذیقعده ۱۳۲۲ه (امداد ص۲۳ ج۱)

په اس باندي لمونځ

سوال :(۵۰۳)که په آس باندي سوردی اوکوم آدمی ورسره نشته اونه دټرلو کوم څیز شته ،اودتیختی ډارهم، یا د شپی کیدلو ډار شته نو فرض لمونځ په آس باندي کولی شی اوکنه ؟

جواب :فی الدرالمختارباب النوافل فهی صلوۃ علی الدابة فتجوز حالة العذرالمذکورفی التیمم الی قوله وذهاب الرفقاءودابة لاترکب الا بعناء اوبمعین وفی ردالمختاربان یخاف علی نفسه اوماله آلخ ،نوپه مسئوله صورت کي چه کله دآس نه دکوزیدوسره دآس دتختیدلو ډار شته اودشپی په راتلو سره دځان خطردی نوفرض لمونځ په آس باندي درست دی داحکم خوپه هغه صورت کي دی چه دآس دتللوډیرزیات غالب گمان وی اوکه داسي یوه شبهه وی نوپه آس دی لمونځ نه کوی بلکه زمکي ته په راکوزیدودی شروع وکړی بیاکه آس په تیښته ؤنودلمونځ په قطع کولو سره دی راونیسی وفی الدرالمختاراخر مکروهات الصلوٰۃ ویباح قطعها لنحوقتل حیة وتدابة وفورقدر وضیاع ماقیمته درهم له اولغیره اه،والله تعالیٰ اعلم،ذیقعده ــ۱۳۲۲ھ،امدادص۲۳ج۱،

په مختلفو ځایونوکي داقامت دنیت حکم

سوال :(۵۰٤)زید د سیاحی په اراده دپنجاب نه بنگال ته راغی اوپه یوه ضلع کي هم داقامت په نیت شپږ میاشتی او سیده په دی صورت چه دوه ورځی یوځای کي وعظ کړی اودوه ورځی بل ځای کي په دی صورت سره پنځه شپږمیاشتی په یوه منطقه کي چه لس خلی دهغي نه په وسعت کي دی تیری کړی آیاپه دی صورت کي قصروکړی اوکنه ؟

جواب :قصربه کوی فی الدرالمختارفیقصرالی قوله اونوی فیه لکن بموضعین مستقلین کمکة ومنی الخ،والله اعلم۱۲ذیقعده ــ۱۳۲۵ھ،امدادص۹۴ج۱،

بیړی داقامت لپاره صالح ځای نه کیدل

سوال :(۵۰۵)زیدپه یوه داوبوملک په یوی چت لرونکي بیړی کي دخپل اهل وعیال اومزدوراونوکراوسیگی اوپه کومو کورونوکي چه وعظ کوی دهغوپه نزدی سیندکي کشتی ځای نیولی دی دورځی وعظ کولوسره دشپی بیرته کشتی ته راځی اوکله کله دکشتی نه بهریوځای کي هم پنځه شپږورځی تیره وی خوپه کشتی کي مقیم پاتي کیگی نو آیاپه دی صورت کي په اهل اخبیه کي په داخلیدلوسره پوره لمونځ وکړی اوکه قصر؟ د مالابدعبارت

نه معلومیگی چه پوره لمونځ به کوی (اوکوم چه همیشه په تللو کي پاتي کیگی اوپه کوم ځای کي اقامت نه کوی مگرپنځه لس ورځی نودغوخلکوته حکم دی چه همیشه داقامت لمونځ وکړی قصردی نه کوی،هو! کله چه یووخت په یوځل د ۴۸ کوسی تللو اراده وکړی نودغه وخت دی قصر کوی) خوپه اهل اخبیه اومقیم فی السفینه کي دومره فرق دی چه داخبیه اوسیدونکي لکه دکوچیان،شپانه وغیره همیشه په پیابان کي دآبادی نه لری پاتي کیگی،اومقیم فی السفینه کله کله دنژدی موضع سره متصل اوکله کله په فاصله دیوه میل اوکله کله دوه دری میله وعلی هذانوپه دی کي هغه واعظ اونوکر د هغه آیاقصروکوی یاپوره؟ عالمگیری کتبی د متاخرینوپه دی مسئلی کي اختلاف بیان کړی دي؟

جواب :قصربه کوی، فی الدرالمختارفیقصرالی قوله اونوی فیه لکن فی غیرصالح کبحرالخ وفی ردالمختار قال فی المجتبی او الملاح مسافر الاعندالحسن وسفینته ایضاًلیست وطن اه بحروظاهره ولو کان ماله واهله معه فیهاثم رایته صریحاً فی المعراج ، اوددي لپاره چه داهل بحرحکم داهل اخبیه په شان ندی لهذاپه عالمگیری کي چه داهل اخبیه په باب کي کوم اختلاف منقول دی دلته ددي سره هیڅ تعلق نشته ۱۲۰ذی القعده ــ۱۳۲۵ھ

سوال :(۵۰٦)حضرت والا ستاسود۱۳۳۵کال دجمادی الاول دمیاشتی نشرشوی فتوی په رسالة الامداد کي داحقرله نظرنه تیره شوه تاسوچه کوم خواب لیکلی دی دهغه متعلق داحقرپه ذهن کي خوشبهی پیدا شوی دی امیددي چه تاسوتشفی فرمایلوسره ممنون وفرمایي تاسو تحریرفرمایلی دی چه دخواب خلاصه داشوه چه په کشتی اوجهازکي داقامت نیت معتبرندی ترڅوچه دهغي داودریدلوځای دخواب خلاصه دآبادی دځای سره متصل نه وی،داخوتاسی هم تسلیموی چه په کشتی اوجهازکي د اقامت نیت معتبرندی لکن کله چه کشتی دآبادی سره متصله ولاړه وی نو داقامت نیت درست فرمایي اوس عرض دادی چه تاسودغه حکم دکوم ځای نه اخیستی دی ؟ (۱)که تاسويي په فناء مصرباندي کړی نوقیاس مع الفارق معلومیگی ځکه چه فناء دمصرد اقامت ځای دی لهذاهغه دمصر سره ملحق کولی شی لکن هله چه په کشتی او جهاز کي داقامت صلاحیت پیداشوه (۲) که تاسودکومو فقهاؤ تصریح په دی باره کي لیدلی وی نودهغي نه مومطلع فرمایي ترڅودتشویش دفع وشی ،(۳) تاسوچه پدي حقله کوم فقهیه عبارتونه تحریرفرمایلی دی دهغونه خودانه مستنبط کیگی چه کله کشتی دآبادی سره متصل وی نوداقامت نیت درست دی، دهغونه یوازی داثابتیگی چه کله کناره دآبادی

سلسله دهغه پورې متصل چليږي دمصريه فناء کې داخل دی، لاکن ددينه دانه ثابتيږي چه سيندهم په فناء مصرکې داخل دی ‹۴› کله چه دمصراوفناء مصريه مينځ کې کوم باغ يالوی ميدان ياځنګل حايل وی دغه وخت هغه دمصردحکم نه خارجيږي نوجهازاو کشتي چه په سيندکې لنګراچولی وی په هغې کې دغه تبعيت دمصر ښکه کولوسره اقامت درست کيدلی شی،په داسې حال کې فناء د مصراوباغ،ميدان،ځنګل په مينځ کې په قطع دمسافت کې کوم څيز مانع نده او د جهاز اوچې په مينځ کې داوبوبرخه دتګ راتګ مانع دی اوبغيردحيله اوعلاج نه عبورعادةً ممکن ندی ‹۵› کله چه دا کليه قاعده ده چه بحراوکشتی داقامت محل ندی نوترڅوچه ددې خلاف د فقهاؤکوم تصريح ميلاونشی نودهغه خلاف حکم ورکول ښکه درست کيدلی شی؟‹۲› تاسوچه دعتابيه په حواله د عالمګيری نه کوم عبارت نقل کړی هغه دهغه سړی په حق کې دی چه دخپل اصلی وطن نه سفر کوی ظاهره ده چه دکشتی دراګرځيدونه وروسته هغه خپل اصلی وطن ته رسيدلی دی نودهغه اقامت داصلی وطن په سبب دی فقط فی الحقيقة دلته دهغو خلکو متعلق بحث دی چه دلری مسافی نه دلته راتلوسره کار کوی چه ترڅنه دسيندسره متصل کوم کلی ياآبادی کې مقيم نه وی دهغو خلکومتعلق بحث ندی چه کوم مصر يا کلی کې دمقيم کيدلونه وروسته په جهازکې ملازم وی ښکه چه دهغه داقامت صحت دوطن اصلی يا د وطن اقامت په وجهی سره دی دکوم چه تفصيل په فتوی کې چه دهغه سره مسلک دی موجوده دی ‹۷› سيند د مصريه فناء کې داخل دی که ندی ‹۸› دبحرالرائق دغه عبارت نه «لان نية الاقامة لاتصح فی غيرهما فلاتصح فی مفازة ولاجزيرة ولابحرو لاسفينة اه» معلوميږي چه سمندراوکشتی داقامت محل ندی. د شامی وغيره په عبارت کې هم بحرپه سفينه باندې عطف کولی شی دکوم نه چه دامستنبطيږی چه اګرکه کشتی په کناری باندې متصل ولاړه وی خوهم په هغې کې اقامت درست ندی،په بحرباندسفينی عطف په دی دلالت کوی چه دواړونه دوه څيزونه مراددې ،ښکه چه په بحرکې بغيردکشتی داقامت کوم صورت نشته نوپه هغې باندې د سفينی عطف کول په دی امردلالت کوی دسفينی نه به دامرادوی چه هرکله هغه په کناری باندې دآبادی سه متصل ولاړه وی نوهم په هغې کې اقامت درست ندی،دحقيقت نه مجازطرف ته رجوع کول بدون دصارفه قرينی صحيح نده ، خلاصه دفقهاؤ دتصريحاتونه مترشح کيږی چه بحراوسفينه د اقامت محل ندی ،نوددې خلاف حکم ورکولو لپاره دصريح دليل ضرورت دی اوس لاس تړلی عرض دی چه ددغو شبهوددفع کولوپه طرف توجه مبذول وفرمايې دجناب هغه فتوی چه په

سـ۱۳۳۴هـ جمادی الاول په مياشت کې په الامدادرساله کې درج ده دلاسته راوړلونه وړاندې مادافتوی ليکلی وه که ددينه وړاندې ستا فتوی ميلاوشوی وی نوبغيرد تحريردخواب نه محض شبهات به مې ستاسوخدمت ته درليکلی ؤاوس عرض دی چه د نوازش له لاری خواب تحريرفرمايلو سره تسکين وفرمائی؟

جواب :دجامع الفضائل دامت افاداتهم په خدمت کې السلام عليکم ورحمة الله خط د د مسئلی دتحقيق سره راورسيدو ددې خير خواهی نه ممنون شوم ښکه چه احقرپه هغه وخت کې په يوسفرکې ؤځه وخت په هغه کې اوځه وخت دبيرته راتلونه وروسته دانتظار په فرصت کې تير شو کله چه توقع دفرصت پاتې نه ؤ خپل يوه عزيزته مې يوازی دتاسوفتوی ورکړه په کومې کې چه خمافتوی ذکروه ترڅوخالی الذهن کيدلوسره هغه ووينی هغه ووينی هغه خپله رايې بې وليکله چه دملاحظی لپاره راليګل شوی دی ددينه وروسته کله چه ماستاخط ورکړپه کوم کې چه خمارايه مذکوره ؤه دکوم نه چه وروسته نوموړی عزيزڅه اندازه تفصيل وکړدغه خواب خمادخواب مويدې بلکه په دی کې دومره زيادت دی چه ماکوم داتصال آبادی شرط لګولی ؤپه هغه کې هغه هم نشته ،ددې په خاطرچه خماپه نزددغه خواب صحيح دی نومادغه اشراط نه رجوع کړی ده والله اعلم ۲۷رجب سـ۱۳۴۲هـ

تنبيه پورتنی مذکورليک سره دمولويصاحب خط اوخواب دموصوف عزيزداتول په امدادالاحکام مسئله مرقومه ۱۱رجب سـ۱۳۴۲هـ او مسئله مرقومه ۱۴رجب ۱۳۴۲کې مذکوردی ترجيح خامس ص۱۳۹،

په قصراواتمام کې داجيردتبعيت تحقيق :

سوال :(۵۰۷)په کوم ځای کې چه زيد وعظ کوی هغې ته نژدی مثلاً لس دولس کوسه شاوخوا خلک په ملاحانو کې نوکرګرځوی اوددغو علاقوقريب په پنځلس شل کوسه کې دکال دورځی پورې سياحی کوی په پورتنی مذکورصورت سره دهغه دلمانځه حکم تابع دقريب د صاحب السفينه به وی يابه هغه د هميش لپاره کامل لمونځ کویٔ اوبه دی کې داهم دی چه کوم وخت هغه خلک نوکری پريخودوسره مکان ته روان شی نوهيڅوک دهغه مانع ندی ؟

جواب :داجيرتبعيت دوه شرطونوباندې مشروط دی يوداچه دهغه خروج دخپل وطن نه دقصرمسافت په نيت سره وی ، دوهمه داچه هغه په مياشتنی ياکليزه تنخواه باندې نوکر وی صرح به فی ردالمحتار عن التاتارخانية نوددغوملاحانوحکم دداسې قاعدی نه راويستل

کبری ، ددې لپاره چه په سؤال کې دواړه کارونه مبهم دی لهذاځواب مجمل کیدلی شی ۱۲ ذیقعده ۱۳۲۵ھ (امداد ص۹۵ ج۱)

دامام سره دصلاۃ فاسده داعادی په وخت دقصرلزوم

سؤال :(۵۰۸)مقتدی مسافردی امام مقیم دی مقتدی گمان وکړ چه موږ به ددوررکعتونه وروسته سلام وګرځوو نو داسې ئی وکړل وروسته دامام ددې خبری نه په انکارکولوسره هغه څلوررکعته کړی دی دمعلومولو لپاره داخبره ده چه دغه مقتدی لپاره فقط دوه رکعته دوباره کول ؤیا دامام پسی اقتداء کولو سره دتمام نه کولوسره څلوررکعته کول درست دی فقط؟

جواب :فی الدرالمختارواماالقتداء المسافربالمقیم فیصح فی الوقت ویتم لابعده فیمایتغیروفی ردالمحتار تحت قوله فیصح فی الوقت وتم ای سواء بقی الوقت اوخرج قبل اتمامهالتغیرفرضه بالتبعیة لاتصال المغیر بالسبب وهوالوقت ولو افسده صلی رکعتین لزوال المغیراه جلداول ص ۸۲۸. ددې روایت نه دوه امره معلوم شول یوداچه مسافرته دمقیم امام سره لمونځ پوره کول پکارؤ دوهم داچه کله هغه لمونځ فاسدشونودیوازی کولوپه وخت قصرکول پکاردی فقط والله اعلم ۱۵ جمادی الاول ۱۳۲۷ھ (تتمه اولی ص۱۲)

ایاعورت ته دښادی نه وروسته په وطن اصلی (میکه کې) قصر کول به وی؟

سؤال :(۵۰۹)هنده دخپل مولوده وطن نه په سلوکوسونوبل ځای ته تللی ده په واده کله چه دخسرګنی نه خپل اصلی وطن مولوده ته دڅلورو پنځو ورځوکې اتفاقاراشی نولمونځ به قصرکوی که پوره؟

جواب :فی الدرالمختارالوطن الاصلی یبطل بمثله وفی ردالمحتار فلو کان له ابوان ببلدغیرمولده وهوبالغ ولم یتاهل به فلیس ذلک وطناله الااذاعزم علی القرارفیه وترک الوطن الذی کان له قبله شرح المنیة ج۱ ص۸۲، ددې روایت نه ښکاره شوه چه دغه ښځه به په مسئوله صورت کې قصر کوی. فقط ۷ رجب ۲۷ھ (تتمه اولی ص۱۷)

په ځنګل کې اوسیدونکولپار دقصریااتمام حکم

سؤال :(۵۱۰)کوم خلک چه همیشه دځنګل اوسیدونکې دی دداسې قوم چه ...... لپاره میشته کیګی ګنی شپه تیروی اوځی داسې ځای کې چه مزدوری میلاوشی هلته دخپلې قافلې سره کلی په کلی چالاکې کوی په کوم ځای کې چه مزدوری میلاوشی هلته میشته کیګی ګنی شپه تیروی اوځی داسې خلک مسافردی اوکنه؟

جواب :داخلک مقیم دی،البته که داسې کوم ځای ته ورسیګی چه وروسته یودم ددغه ځای نیت وکړی چه ددې ځای نه دقصرپه مسافی باندې وی نومسافربه وی هکذافی الدرالمختارورد المحتار، ۱۸ رمضان ۱۳۲۷ھ (تتمه اولی ص۱۹)

دجهازدملازمینولپاره دقصریااتمام حکم

سؤال :(۵۱۱)کوم خلک چه په واړه جهازکې نوکری کوی اودهغه همیشنی کارهمدادی په هغوکې بعضی داسې دی چه په هفتوکې راځی اوبعضی داسې دی چه په میاشتوکې بیرته راځی اوځینې داسې چه په کلونوکې بیرته راځی په دی کې بعضی کشتی خوداسې دی چه په مستقیم ډول دیوه ملک نه بل ملک ته روانیګی اوبعضی داسې دی چه ملک په ملک ښارپه ښارادمیانوته کوزول ،پورته کول اومال اخستل ورکوی ،اوکله پوره هفته اوکله ددینه کم زیات ودریګی اودا خبره ښکاره دی چه دغه خلک اختیارنه لری،ترڅوچه دکشتی د مال کپتان یادهغه قائمقام ولاړوی دغه وخت پورې به دی هم ولاړوی کله چه هغه روان شی دی هم روانیګی آیادغه خلک مسافردی که مقیم که مسافردی نوخپل لمونځ قصرکړی او روژه افطارکړی کنه؟ فقط.

جواب :جهازدکوریعنی دوطن په حکم کې خوندی نودهغه حکم څه جدا ندی کوم چه د نورو مسافرو دی همغه دده دی یعنی دغه خلک کله چه دخپل اصلی وطن یااقامت وطن نه (یعنی هغه ځای نه چه دپنځلس ورځوداقامت قصدوی) روانیګی دروانیدلوپه وخت کتل پکاردی چه دڅومره مسافی دقطع کولو کلکه اراده ئې کړی ده که په اندازه ددری ورځومسافی (یعنی په سیندکې اعتدال په حالت کې کشتی دری ورځوکې چه څومره ځی) اراده وی نوقصربه کوی اوکه ددې نه کم وی نونه به کوی ،هکذافی کتب الفقه ،والله اعلم ۹ محرم ۱۳۲۸ھ (تتمه اولی ص۲۹)

سؤال :(۵۱۲)خمونږ سره په مولمین ښارکې دیرولرو ملکونونه خلک راځی اوکمائی کولوسره ځی اوس دهغوی په کسب کې فرق دی څوک دوچی کارکوی لکه بزازی ،آهنګری،خیاطی وغیره اوڅه داوبو کار کونکې دی (لکه چه ددهلی ښارپه مشرق طرف دجمناسیند بهیږی همغه

شان خمونړ دښارمولمین چپ طرف ته وسیندبهیږی چه کرار کرار سمندرسره خان یو خای کوی ،دکوم په سبب چه دنورو ملکونونه اونورو ښارونو نه خمونړ خای ته جهاز، کشتی وغیره د سودا گری راتگ کوی ؛ یعنی څه په داسې جهاز کې نوکری کوی چه د لری لری ښارونو نه تجارتی شیان اخستلوسره راتگ کوی اوځه په دروورو کشتیو کې کار کوی چه دیوه ځنگ نه بل ځنگ ته خلک راوړی یادیوی یادوورځو لاری باندې دمال اخستلوراتگ کوی، د شپې په وخت همیشه بیړی لنگراچوی اوپه بیړی کې ویده کیگی،او بعضی خوداسې دی چه کومی وړی وړی کشتی د لویو لویو جهازونونه روانیگی کومی چه دسیندپه مینځ کې لنگراچونکې وی دمال راویستلو سره په کشتیو کې په اخستل کولوسره په کناروباندې ئی راوړی اوبعضی کشتی والادې کناری خلک هغه ځندی ته وړی،اوبعضی کشتیوالادوه دری ورځو لاری کې هم په کرایه اخستلوسره خی بیا دهغه خای نه په ښار کې روان راځی اودتولوبیړیووالو اوکشتیو والاولپاره خپلې خپلې کشتی د لنگر اچولو لپاره یویوخای مقرردی هملته راتلوسره دشپې په لنگرکولو دغی کشتی یاجهازکې اوسیگی دهغوی لپاره اصلی وطن اوداقامت وطن همدادی دغه خلک داسې ځه ورځې سفرکولوسره ځه کمائی کوی بیا خپلوخپلوملکونوته روانیگی، دښارنه یادځندونه راتگ کوی دښار یا ځنگ سره د هغوی څه سراوکارنه وی هودکوم ځیزداخستلویادکومی کرایی د لیدلولپاره په کنار ویاښارکې راتگ کوی گنی همیشه دهغه اوسیدلو او رنځ گاللو خای کشتی یا جهاز دی دغو خلکو مسافرویل کیگی اوکه مقیم ؟ ددې خای علماء په دی مسئلی کې دوه فریقه شوی دی :اول فریق داوائی چه :دی خلکوته ترهغه وخته چه خپل ملک ئی پریخودی وی ؛اواوسیگی ؛ په کشتی یا جهاز کې؛ مسافرویل کیگی اودسفر حکمونه وریاندې جاری کیگی،خکه چه دهغوی نیت ته هیڅ اعتبار نشته کشتی یاجهازداقامت صلاحیت نشی درلودلی ، اوپه کوم خای چه لنگراچونکې وی هغه هم د اقامت دنیت کولولپاره کوم لائق خای ندی، او که دمولمین ښارکې داقامت نیت وکړی هغه هم نشی کیدلی، خکه هغه ښارکې یعنی په ځنډه باندې خشکې کې هم نه پاتی کیگی همیش په سیندکې اوسیگی دهغه دغه نیت به ځنگه صحیح شی،نو دغه خلک دهمیش لپاره مسافردی مقیم کیدلی نه شی . اودوهم فریق داوائی چه داخلک هرکله نیت داقامت وکړی نوصحیح دی هرکله چه هغوی په مولمین ښارکې دکال دوه کالوداوسیدلونیت وکړی اود همدې ښاریته په خط اوکتابت کې کیدلی شی اوهغه سیندچه په هغه کې هغه خلک کشتی چلوی دښارلاندې دی ، هرکله چه دغه خلک د ښارنږدی سیندته قریب لنگراچونکې

پاتې کیگی گواکې په ښارکې پاتې کیگی، گواکې دهغو د اقامت وطن دمولمین ښاردی دکومی پتی نه دهغو خط اوکتابت کیدلی شی نودهغوی د اقامت نیت صحیح دی اگرکه دغه خلک په جهازیاکشتی کې اکثره وخت اوسیگی دغه خلک مقیم دی ،تر هغه وخته پورې چه ملک ته دراتلو اراده ونه کړی فقط اوس امیددې چه حضوردغه مسئله دځه دلیلونوسره فیصله فرمایلوسره سرفرازو فرمائی؟

جواب: فی الدرالمختاراوینوی اقامة نصف شهربموضع واحد صالح لهامن مصراوقریة اوصحراء دارنااوهومن اهل الاخبیة فیقصران نوی الاقامة فی اقل منه ای من نصف شهراونوی فیه لکن فی غیر صالح کبحر وجزیرة آلخ وفی ردالمحتارقوله کبحرقال فی المجتبی والملاح مسافرالاعندالحسن وسفینة ایضالیست بوطن اه بحروظاهره ولوکان ماله واهله معه فیهاثم رایته صربحافی المعراج ج۱ص۸۳۳ وفی الدرالمختار بخلاف اهل الاخبیة کعرب وترکمان نووهافانها تصح فی الاصح وبه یفتی اذاکان عندهم من الماء والکلاء مایکفیهم مدفالان الاقامة اصل وفی ردالمحتارقوله کعرب المناسب قول غیره کاعراب لمافی المغرب هم الذین استوطنوالمدن والقری العربیة والاعراب اهل البدووفیه قوله لان الاقامة اصل علة لقوله فانهاتصح ای نیتهم الاقامة قال فی البحروظاهر البدائع ان اهل الاخبیة لایحتاجون الی نیة الاقامة فانه جعل المفاوزلهم کالامصاروالقرای کاهلها آلخ ، فی العالمگیریة الصحیح ماذکرانه یعتبرمجاوزة عمران المصرلاغیر الا اذاکان ثمه قریة اوقری متصلة بربض المصر فحینئذتعتبرمجاوزة القری بخلاف القریة التی تکون متصلة بفناء المصرفانه یقصرالصلوٰة وان لم یجاوزتلک القریة کذافی المحیط ج۱ص۸۹وفیها ولایصیر مقیماً بنیة الاقامة فیها(ای فی السفینة) وکذلک صاحب السفینة والملاح الا ان یکون السفینة بقرب من بلدته اوقریته فح یکون مقیماً باقامته الاصلیة کذافی المحیط وفیهاعن العتابیة ولوکان مسافراو شرع فی الصلوٰة فی السفینة خارج المصرفجرت السفینة حتی دخل المصریتم اربعاً کذافی التارخانیة ج۱ص۹۲ ،ددغوروایتونونه لاندې امورمستفادشول :(۱)جیله کشتی یاجهازموضع صالح للاقامة نده اگرکه ځه مال اواهل ورسره وی نوهغه کې داقامت په نیت کولو سره مقیم نه کیگی که ددینه وراندې په هغه باندې شرعادمسافرو صف صادقیږی نوهغه مسافرپاتې کیږی،اوکه اوس هم شرعاًمسافرنه شو،نوپه اقامت اصلیه سره به هغه مقیم گرځی نه په اقامت فی السفینه سره (۲) البته کومه کشتی یاجهازکې لنگراچونکې وی هغه

خنده که کوم ښار یا کلی سره متصل وی یعنی د ښار سره دهغه ځای پورې دآبادی سلسله متصلاً اروانه وی په مینځ کې پالیز یا باغ یا کوم لوی میدان او ځنګل حائل نه وی نو هغه ځنده به هم دمصریه حکم کې وی په دی صورت کې هلته به دا قامت نیت معتبرو ګرځول شی، کما فی المصر والقریة ،او که په دی شان متصل نه وی نو هغه به دمصریه حکم کې نه وی او هلته به د اقامت نیت معتبرنه وی، کما فی ردالمحتار: ارادبالعمارة مایشتمل بیوت الاخبیة لان بهاعمارة موضعها قال فی الامدادفیشترط مفارقتها ولو متفرقة وفیه یشترط مفارقة ماکان من توابع موضع الاقامة کربض المصروهوماحول المدینة من بیوت ومساکن فانه فی حکم المصروکذاالقری المتصلة بالربض فی الصحیح بخلاف البساطین ولومتصلة بالبناء لانهالیست من البلدة ولوسکنهااهل البلدة فی جمیع السنة وبعضهاولا یعتبر سکنی الحفظة والاکره اتفاقا،امدادج۱ص ۸۱، ۳، دهمدی روایتونو نه دقائلین بکونهامحلاصالحاللاقامة دلائلوخواب هم راووت چه محض دښارلاندې یاتعلق کې کیدل دهغه لپاره کافی ندی ترهغه وخته پورې چه دآبادی اتصال نه وی او شاید دکوم اهل اخبیه دحالت سره په دی استدلال وکولی شی نو داهل اخبیه حقیقت مذکوره فی الروایات السابقه دمعلوم والی نه بعدهغه استدلال هم صحیح پاتې نشو ځکه چه داهل اخبیه خو هیڅ کور نه وی پخلاف دهغوی ،دخواب خلاصه دا شوه چه په کښتی او جهازکې به د اقامت نیت معتبرنه وی ترهغه وخته چه دهغې دودریدلوموقع دآبادی سره متصل نه وی ؟

۸ربیع الاول سـ۱۳۳۴ھ (تتمه رابعه ص۱۲)

ترڅو چه کوم بل ځای وطن اصلی ونه ګرځوی اولنی وطن به اصلی وطن پاتې وی

سوال :(۵۱۳)یوه نوی مسلمانه ښځه ده خپل هندومیړه نی پریخودواو مسلمانه شوه کوریاراندیوال تول نی پریخودی دی خپل اصلی وطن دهغوی یوهم قائمه نه کړدغه ورځ کله پنځلس ورځی ده‌پروآخورسود کولوسره ګذاره کوی ډیر وحج هم نه کړی هغوی معلومات غواړی چه هر کله ځماکوم اصلی وطن نشته نوزه به همیشه قصرلمونځ کوم او د اقامت په وطن کې به زه پوره لمونځ اداء کوم ځنګه ارشاددې ؟

جواب :فی الدرالمختارالوطن الاصلی یبطل بمثل لاغیرددې روایت نه معلومه شوه چه هر کله پورې هغه کوم ځای خپل اصلی وطن جوړنکړی دغه وخته پورې ،ئه اصلی وطن به سابقه وطن پاتې وی نوهلته به رسیدو اتمام واجب دی اودهغه ځای نه ...په وخت کتل کیږی

چه دخو مره لری په نیت روان شوی دی که ددری منزلویه نیت سره روان شوی قصر به کوی کنه نو اتمام. ۱۸شوال سـ۱۳۲۹ھ (تتمه اولی ص۳۹)

سوال :(۵۱٤)یوسړی چه دسکونت ځای نی زادبوم وطن اصلی کې دی دهغه اوله ښځه اونورعزیزان اوخپلوان نی تول هملته دی په بل ښار کې نی یوازې ددوهمې ښځې دقیام اوسکونت لپاره ځای جوړکړی دځوکلونود اوسیدونه وروسته دناموافقت دآب وهواویه مرضونویه مبتلاکیدلویه خاطردزوجهٔ ثانیه وطن زادبوم ته دبوتللوضرورت پیداشواوهغه ددوهم ښارځای نی قفل کړ تراوسه پورې بعض اسباب دکورهملته دی اوتراوسه پورې دزوجه ثانیه بیاراتګ بل ښارته مشکوک دی پداسې حالت کې که هغه سړی یودوه ورځولپاره دځه ضرورت لپاره یادځای دځارنی په خیال ددې ښارمسافت وهلوسره راشی نوپه هغه به قصرکول وی او که څلور رکعته پوره فرض اداء کول به وی ؟ په دی مسئلی کې چه کوم قول محقق اومفتی به دمذهب حنفی وی مع نقل عبارت معتبره تحریروفرمائی:بینوا ایها العلماء الکرام احسن الله جزاکم یوم القیام ؟

جواب :فی ردالمحتارقال فی النهرولونقل اهله ومتاعه ولودورفی البلدلاتبقی وطناله وقیل تبقی کذافی المحیط اھ ج۱ص۸۲۹، ددینه معلومه شوه چه په مذکوره صورت کې دوه قوله دی اودغه دواړه قوله ئی په فتح القدیراوبحرالرائق کې هم نقل کړی دی اوپه بحرکې ئی ددواړو قولونودلیلونه هم نقل کړی دی اوپه فتح القدیرکې ئی ددواړوقولونود تطبیق په طرف اشاره کړی دی اوځماپه نزد همدا تطبیق مختاردی .لکه چه په دی صورت کې ئی دامام محمدداقول: هذه حالی واناارى القصران نوی ترک وطنه .نقل کولوسره لیکلی دی الان اباپوسف کان یتم بهالکنه یحمل علی انه لم ینوترک وطنه آه. دتطبیق خلاصه دا شوه چه که ارادهٔ بیا په دی بل ښارکې دوطن په طورداوسیدلونه وی په هغه ترتیب چه مخکې اوسیده دهغه وخت خونه پاتې کیږی هلته به په تللوسره قصرکوی کله چه دسفردمسافې په وهلوسره راشی، او که اوس هم په هغه ترتیب سره د اوسیدو اراده ده نو هغه هم وطن ته راغی نو ددغه سړی به دوه وطنه شی ۷محرم سـ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه ص۱۵)

دلمانځه حکم په هغې سفینې کې چه تړلې وې اوثابته نه وې

سوال :(۵۱۵)دصلوۃ فی السفینه په حقله دفقهاؤدبعض اقوالونه معلومیګی چه په مربوطه غیرمستقره کې لمونځ دخروج دامکان پشرط ناجائزدی اود بعضونه جوازمعلومیګی بعضې وختونه په څنډوباندې مکان هم موجود یګی اوپه بعضوځایونوکې آبادی نه وی نودګرمی دسختی یاخیني ځایونوکې ختی وی نو دوتلو امکان څووی خوپه تکلیف اوتکلف سره نود امکان نه څه مرادواخستل شی ، او بعض اهل علم اکثراً په مربوطه کې په لمونځ کولوباندې لیدل شوی دی غالباً دهغوی عمل به دهدایه وغیره په روایت باندې وی په دی کې فیصل قول کوم یودی ؟ اودامکان حدتر څه پورې دی، که کومه مربوطه سفینه مستقره علی الارض کې په ولاړی لمونځ اداء شوی وی یانې اوس کوی نودهغه لمونځ بالکل ناجائزداعادی قابل دی اوکنه؟

جواب :په اختلافاتوکې فیصل قول څوک لیکي دهمدی په خاطر دومره پوهیدل پکاردی چه جواز اوسع وارفق دی اومنع احوط دی، که څوک په احوط باندې عمل وکړی نو په اعاده کې څه لګ احتیاط بهتر دی په کثیر کې تکلیف مالایطاق دی اوامکان دتعذریه مقابل کې دی اوتفسیرته هم شامل دی ۲۳ذی القعده سـ ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه ص ۹۷)

په ریل وغیره کې دسجدې دځای دنه میندلوپه وخت کې په اشاری سره دسجدې حکم

سوال :(۵۱٦)په تختی باندې دخلکو دکثرت په وجه ځای نشته په دوهمه پوړی باندې سجدی کیدلی مثلاً هغه خلک دوه ولی دی په وینا سره به ځای ورکړی اوکنه نوپه داسې صورت کې څه کول پکاردی، یعنی دهغوی نه درخواست کول وشی اوکه ونه شی که ونه غوښت شی یادغوښتنی سره سره هغه خلک ځای ورنکړی یادهغې امکان لاته وی نولمونځ په اشاری [1] سره وکولی شی اوکه څنګه ؟

[1] په دی مسئلی کې دفقهاء داقوالونه دامعلومیږی چه په دغه وخت دی لمونځ په اشاری سره وکړی مګربیادهغه اعاده لازمه ده په بحرالرایق کې دی: فی الخلاصة وفتاوی قاضی خان وغیرهما الاسیرفی یدالعدواذامنع الکافرعن الوضوء والصلوۃ یتیمم ویصلی بالایماء ثم یعیداذاخرج (الی قوله) ، کالمحبوس لان طهارۃ التیمم لم تظهرفی منع وجوب الاعادۃ ثم قال ، فعلم منه ان العذران کان من قبل الله تعالی لاتجب الاعادۃ وان کان من قبل العبدوجبت الاعادۃ (بحرص۱۴۹ج۱) په همدې ترتیب که په ریل کې ځاے لګ وی نوپه ناسته دی لمونځ وکړی، لکن وروسته دهغه اعاده لازمه ده محمدشفیع عفی عنه

جواب :درخواست دی وکولی شی اوچه کله نې ځای ورنکړنود تختی نه لاندې دی دلمانځه موقع راوباسی ، که په کوم ترتیب ممکن نه وی بیا دی سجده اشاری سره وکړی ۱۸محرم سـ ۱۳۳۴ھ (حوادث رابعه ص ٦)

په سفر کې د مسافی اعتبارنه دوقت اعتبار په سرعت دمرکب سره

سوال :(۵۱۷)خمونږ دځای نه دچاتګام ښاردوچې له لاړی دری ورځی لاره ده همداسې معمولی کشتی باندې تګ سره ددری ورځو لاره ده دغودواړو صورتونوکې به قصرکوی لاکن دلوګی کشتی دخوکلونونه چلیګی په جهازوغیره کې سوریدلوسره په اتوګنټهوکې رسیږی، نوکه مونږ په جهاز کې سوریدلوسره چاتګام ته لاړشوپه لاره اوهلته ښارته په رسید وقصروکړوکه نه ؟

جواب :هوقصر دوکولی ی مسافی ته اعتبار ده اګر که دسورلی په تیز والی سره هغه زر قطع ی لکه چه دریل په سفر کې همدا حکم ده ۲۰ صفر ۳۴ھ (حوادث رابعه ص ۲۳)

دالوتلو په وخت په هوائی جهاز کې دلمانځه دجواز تحقیق :

سوال : (۵۱۸)کله چه هوائی جهاز په هوا کې وی ولاړوی اوکه روان په هغه کې فرض لمونځ جائز ده اوکنه ؟

جواب :فی ردالمختارهو(ای السجود) لغة الخضوع قاموس وفسره فی المغرب بوضع الجبهة فی الارض وفی البحروحقیقة السجودوضع بعض الوجه علی الارض الخ ج۱ص۴٦۵وفیه تحت قول الدرالمختاروان لم یجدحجم الارض مانصه تفسیره ان الساجدلوبالغ لایتسفل راسه ابلغ من ذلک فصح علی طنفسة وحصیروحنطة وشعیر وسریروعجلة ان کانت علی الارض لاعلی ظهرحیوان کبساط مشدود بین اشجارالخ ،ج۱ص ۵۲۳، ددې روایتونونه معلومه شوه چه په سجده کې وضع وجبهه یاوضع دوجه په ځمکه باندې شرط دی اوداهم معلومه شوه چه کوم شی مستقر علی الارض وی تبعاًدارض په حکم کې دی په دوه شرطونوپوجدان دحجم بالتفسیرالمذکوراو دهمدی لپاره په بساط مشدودبین الاشجارباندې رواندی اودوهم داچه هغه څیز ساه لرونکې نه وی ځکه چه ساه لرونکې کې په سبب دتحرک بالاراده کیدلوپرقسم استقلال شته، هغه دجماداتو په څیرتابع للارض ندی،دهمدی لپاره په حیوان باندې بلاعذرجائزندی او سریراوعجله وغیره کې ددواړوشرطونوسره تبعیت پیداکیګی په هغو لمونځ جائز دی نودلته

خلور خیزونه راووتل (۱) ارض (۲) عجله وغیره (۳) ترل شوی بساط (۴) مثله حیوان، په دری اولوجائزدی اوپه ورستیوجائزندی الابعذرفی الحیوان ددې تمهیدنه وروسته پوهیدل پکاردی چه داخو ظاهره دی چه هوائی جهازخوخمکه نده اودبساط مشدودبین الاشجار په مثل هم نده په سبب دوجدان دتفاوت اوعدم وجدان دحجم، اوس دوه احتماله پاتې شول یوداچه دعجلی په مثل وی اوبل داچه دحیوان په شان وی اگرکه ظاهراً دعجلی په شان معلومیګی چه په واسطه دهغې هواچه مستقرعلی الارض دی هغه هم مستقرعلی الارض دی خودسوچ کولوسره معلومیګی چه نه په هوامستقره ده اونه دارض په هواباندې مستقره ده لکه چه د هواميلان الی المحیط ظاهردی نوهغه په خمکه باندې څنګه مستقر دی، اواتصال بیل خیزدی اود هوارقیقه ماده هم دجهاز د ثقل معادل نشی کیدلی. لکه چه که دهغې نه ګیس ووځی نوفوراً په زمکه باندې راوغورځیګی نوحقیقة هغه په خمکه باندې غیرمستقرشوه، او حیوان چه حقیقةً مستقرؤخوحکماً مستقرنه ؤنوهرکله چه په هغه باندې بلاعذرلمونځ جائزندی نوپه جهاز باندې به چه حقیقة غیر مستقردی په څه ترتیب لمونځ جائزوی الابعذر معتبرفی الصلاة علی الحیوان، دخواب حاصل داراووت چه دکومو عذرونوپه سبب په خره اواوښ وغیره باندې لمونځ جائزدی که همغه عذرونه پیداشی مثلاً په نزول کې دهلاکیدلو ډار وغیره وی یاپه کوزیدوقادرنه وی، او دغه وروستی عذردپیلوټانولپاره دی کوم چه ددې په کوزولو یا ودرولو قادر دی متحقق نه شو، دغه وخت خو په هغه لمونځ جائزدی اودداسې عذرونونه بغیرجائزندی (دفع داشتباه)، دغه جهازدبحری جهازپه شان ونه ګڼل شی څکه چه هغه په واسطه داوبو مستقرعلی الارض دی اودهغې استقرارپه اوبواوداوبواستقرارپه خمکه بالکل ظاهردی

تنبیه دغه خواب په قواعدوسره لیکل شوی دی دعلماؤنه امیددې چه که داخواب صحیح نه وی نوددین نصیح لپاره دی احقرمجیب مطلع و فرمائی دپوهیدلونه وروسته به دخپل خواب نه په رجوع کولوسره داشائع کړم ۲۲ذی القعده ۳۴هـ (حوادث اربعة ص۷۴)

سوال: (۵۱۹) دطیران یاوقوف دطیاری کې په طیاره کې په هواکې سجده کول یافرضی لمونځ اداکول جائزدی اوکنه بینواتوجروا؟

جواب: والله اعلم بالصواب قال العلامة القهستانی فی شرح مختصر الوقایة والسجودلغة هوالخضوع وشرعاوضع الجبهة علی الارض وغیر هاانتهی وفی البحرشرح الکنزتحت قوله وکره باحدهما اوبکورعمامة من فصل ارادالدخول فی الصلوٰة فی اثناء مابسطه والاصل انه کماتجوز

السجدة علی الارض تجوزعلی ماهوبمعنی الارض ممایجدجبهته حجمه وتستقرعلیه وتفسیروجدان الحجم ان الساجد لو بالغ لایتسفل راسه ابلغ من ذلک انتهی وفی الوقایة فی اخرباب صفة الصلوٰة فان سجدعلی کور عمامة اوفاضل ثوبه اوشئ یجد حجمه وتستقرعلیه الجبهة جازوان لم تستقرلاتجوزانتهی، فالمرکب الهوائی ان کان مرکبامنم اشیاء صلبة بحیث تستقرعلیه الجبهة ولاتسفل بالسفیل تجوزالسجدة علیه والظاهرانه ملحق بالدابة کالسفینة السائرة والموقوفة بالشط الغیر المستقرة علی الارض فانهاملحقة بالدابة کمایستفادمن ردالمحتار قبیل سجدة التلاوة فالصلوٰة المکتوبة علی المرکب الهوائی لاتجوزبدون العذر کماهوحکم الصلوٰة علی الدابة والسفینة السائرة وهل یلزم التوجه الی القبلة ههناکمافی السفینة اولاکمافی الدابة والظاهرانه یلزم لان المرکب الهوائی بمنزلة البیت کالسفینة فان لم یمکنه یمکث عن الصلوٰة الااذاخاف فوت الوقت لماتقررمن ان قبل العاجزجهة قدرته، ومامن حادثة الاولهاذکرفی کتاب من الکتب المعتبرة امابعینهااو بذکرقاعدة کلیة تشملها، ۱۲ والله تعالی اعلم (ترجیح خامس ص۹۲)

سوال: (۵۲۰) په دی زمانه کې چه هوائی جهازونه پیداشوی دی په هغو باندې په سفرکولوکې کارکرار ترقی کیګی سؤال دادی چه دغه سفر دبحری اوبری سفرونونه علاوه دریم قسم هوائی سفر ګرځول پکاردی اوکه په بحری بری سفرونوپه کوم قسم کې داخلول پکاردی په کوم ترتیب چه دریل دسفرحال دی، چه کوم سری په پخپله تګ سره دشپې اوورځ مسافه دریل په ذریعه دوه دونیمو ګینټهوکې طی کړی دی نو هغه ته دمسافرحکم ورکول کیګی نوپه هوائی جهازباندې سفرکولوکې په څومره مسافی باندې دقصرصلاة اعتباروکړی یعنی ددری ورځو اوشپومسافه دهوائی جهازپه اعتبارسره اوکه په مینځ کې که سمندر کې لمونځ کوونودبحری جهازدری شپواوورځومسافی لحاظ به کوی، یاوچه کې پراته وی نوددری ورځواوشپوپه څپرتګ مسافه په لحاظ به اعتبارکوو؟

جواب: دقواعدونه دامعلومیګی چه په دی کې به دمحازات اعتبار وی یعنی څومره چه دیرد سفر محازات وی په هواکې همغه دبری سفرپه حکم کې به وی اوڅومره هواچه دبحرمحازات دی هغه دبحری سفر په حکم کې دی په شریعت کې ددې نظیرهم شته، چه دحج مواقیت دی، کوم خلک چه دمواقیتونه لری لری تیریګی چه دغه مواقیت دهغوی په لاره کې نه راځی

هلته دمواقیتومحاذاتوته اعتباردی یعنی دغه دمواقیتومحاذات خاېونه دهغوی لپاره دمواقیتوپه حکم کې دی ،والله اعلم ۲۲ محرم ـ۱۳۵۱ هـ(النورباب رمضان مبارک ۱۳۵۱ هـ ص۷)

دهوائی جهازپه سفرکې دقصرمسافه:

سوال :(۵۲۱)که څوک په هوائی جهازکې سفروکړي نوڅومره مسافه کې د لمانځه قصرکول پکاردی؟

جواب :کله چه دسفرد احکام شرعیه متعلق موضوع وه دغه وخت سفرفی البروالبحروالجبل واقع وه فی الهواء نه وه اوحکمونه دواقعاتو تابع وی ،دهمدی په خاطرپه شریعت کې داتصاً مسکوت عنه دی لاکن په شریعت کې دهغه یونظیرواردد ې نوپه هغه باندې په قیاس کولو سره دهغه حکم ورکول کیګی اودد ې لپاره چه قیاس مظهردی مثبت ندی دغه حکم ته هم حکم واردفی الشرع ویل کیګی نظیردادی چه په حج کې چه بیشماره مواقیت دی په هغوی کې داهل نجدلپاره قرن مقرر فرمایل شوی هرکله چه دعمر ﷺ په زمانه کې کوفه او بصره فتح شوی وه نودغوخلکوعرض وکړچه قرن خمونږ دلاری نه شاته دی اوهلته تللوکې مشقت دی نوهغوی وفرمایلی چه ددې محازی مقام وګوری لکه چه بیاذات عرق مقرره شوه، رواه البخاری اواګرکه په دی باب کې مرفوعه احادیث هم شته ،مګراول خومتکلم فیها دی دوهم ددې اجتهادپه وخت حضرت عمرته دهغو اطلاع نه وه نودومره خوثابته شوه چه حضرت عمرپه دی کې داجتهاد نه کاراخستی دی ،لکه چه دهمدی جوازاجتهادپه بناء خمونږ فقهاؤ فرمایلی دی ومن کان فی بحراوبرلایمربواحدمن المواقیت المذکورة فعلیه ان یحرم اذاحاذی اخرها ویعرف بالاجتهادفان لم یکن بحیث یحاذی فعلی مرحلتین من مکة فتح القدیر نوپه همدې ترتیب دلته ددې هوائی مسافی محاذی ته به ګوروچه بحردی که بریاجبل اوددغه محاذی مسافه دقصرته به ګورواودهمدی اعتبارنه په هوائی مسافه کې کولوسره دهغه موافق به حکم ورکوو احتیاطاً دی په دی کې نوروعلماؤته هم رجوع وکولی ی . ذی القعده اومه ـ۱۳۳۵ هـ(حوادث خامس ص۱۰)

دسفرپه مینځ کې دسفردقصدفسخ کولوحکم

سوال :(۵۲۲)محترمه ! دکورنه دروانیدوپه وخت کې دد اراده وه چه دقصرمسافه ده ، لکن دکاندهله دراتلونه وروسته چه دقصرمسافه نده کورته دبیرته تللو اراده وشوه بیاتقریباً دشپږ ساعتونونه وروسته اراده وشوه چه دهره ته به څم چه دکاندهلی نه هم دقصر مسافه ده ددې نه

وروسته دارادی دبدلیدونه د عشاء لمونځ می پوره وکړ[1] اوپه همدې وخت په سبب دعزم ددهره ظهرمی کې قصروکړاوس په دی کې څه حکم دشرع شریف دی ؟

جواب :فی الدرالمختارحتی یدخل موضع مقامه ان سارمدة السفر والاقیتم بمجردنیة العودلعدم استحکام السفروفی ردالمحتار قوله ان سارقیدلقوله حتی یدخل ای انمایدوم علی القصرالی الدخول ان سارثلثة ایام ج۱ص۸۲۲،ددې روایت نه معلومه شوه چه سائل څه کړی ټیک دی ۱۲ ربیع الاول ۱۳۴۱ هـ(تتمه خامسه ص۲۳۵)

دمستخدمانوپه دوره کې قصر

سوال :(۵۲۳)دکارکولوددوری صورت داده چه پنځه سوه شپږسوه کوسه علاقه کې دګشت کولوپه نیت سفرکولی شی لکن منزل عموماً په شپږ اوکوسه مشرق یعنی په څوارلس پنځلس میله کې پروت دی کوی اوبعضی مقاماتوباندې دوه دری ورځی قیام هم وی تول سفرمسلسل سرته رسول کیږی یعنی اګرکه مستخدم دګشت دپوره کولونه وروسته واپس کیږی روانیدل اوځای تول تجویزکیږی په دی صورت کې لمونځ قصرکولی شی اوکه پوره فقط ؟

جواب :لمونځ قصرپه کولی شی فقط ۱۵ شعبان ۱۳۲۱ هـ(امدادص۳۷ج۱)

سوال :(۵۲۴)سرکاری ملازم چه کومه دوره کوی هغوی ته دقصرلمونځ جائزدی اوکنه په غیرمعروف طریق سره دخپل اساس موافق دکلیو دوره دوطن نه وطن پورې شپږ دیرش کوسی یادری ورځی پوره مسافه وی او همدا هغه دسفرغایه ده یعنی ددائری په صورت کوم کې چه دوطن نه بغیرکوم ښارته دسفرغایه نشی ویل کیدلی ؟

جواب :[2] په مسئوله صورت کې قصردرست ندی ۱۵ صفر ۱۳۲۵ هـ(امدادص ۸۵ج۱)

سوال :(۵۲۵)دقصرلمانځه متعلق ماته داستفتاء ضرورت دی اوحالت دادی چه خاملازمت دګشت اوراتولونی دی زه حکماً مستقرباندې دلسوورځونه زیات قیام نشم کولی دسفرپه صورت کې داده چه هر کله دګشت لپاره دمستقرنه روانیږم کله دوه کله دری

---

[1] دغه استفتاء دماسپښین دلمانځه نه وروسته په اورګاډی کې ورکړی وه ۱۲ منه

[2] په اوله طبع کې دی ځای کې دقدردرسئوالې حکم مذکوروه دتصحیح الاغلاط په ۱۲ صفحه کې دی ته رجوع وفرمایله دهغې موافق دلته نقل کړای شوه اواضافه توضیح دامدادالفتاوی تتمه ثانیه ۱۳ صفحه کې مذکوره وه کومه چه دهغې نه لاندې نقل کړای شوی ۱۲ محمدشفیع

کله خلور کله پنځه کله لس کوسو پورې سفرکولوسره دقیام موقع پیداکیږی لکن په دی کې دنه دمودی اومسافی تعین نه وی ،دضرورت مطابق قیام او سفر کوم لکن کله چه دمستقرنه روانیدل وی دټولی ضلع دګرځیدو اراده وی،په کوم کې چه لس پولس قصبی شاملی دی ،اوټوله مسافه طولاً خلوېښت میله ضرورده اوکه محیط راواخستل شی نویقیناً دشپږ اویاته زیاته مسافه به وی، نوپه دغوصورتونوکې خماپاره به قصرلمونځ درست وی اویانه ؟ ځکه چه په جمله دی پولسوقصبوکې یوه قصبه مستقردی اوپه لس قصبو اودهغوپه مفصلاتی چوکیوباندې زه دګشت لپاره دوراندې شوی صدربه صورت دراتولونی اوګشت لپاره سفرکول ضروری دی ؟

جواب :قواعدونه داپوهی ته راځی چه په دی دوره کې چه مقام داسې دی چه هلته رسیدوسره زرمخکې تلل بیرته تلل دمستقرته ګنم یعنی هغه مقام چه هغه پورې تللوسره خودمستقرنه وقتاًفوقتاً وروسته لوبیږی اودهغه ځایه چه کله سفرکولی شی نودمستقرنه قریب کیږی ،دغه مقام ته منتهادسفرویل کیږی اودمستقرنه ددې مقام پورې مسافه دی وکتل شی که هغه مسافه دقصرباندې وی نوقصربه کولی شی هرکله چه نور شرائط دقصرهم پیداشی اوکه هغه مسافه د قصرنه وه نوقصربه نه وی هرکله چه نورشرطونه داتمام هم پیداشی مثلاً په لاندې دائرهٔکې آب مستقره نقطه ده توروته په رسیدوسره بیاداسره قرب شروع شونو(ب) منتهی ګڼل کیږی اوپه هغه کې همغه پورتنی تفصیل جاری کیږی که (ب) دقصربه مسافی دی نوپه هرحال به قصر وی اوکه (ب) دقصربه مسافی نه وی نوپه دی کې به داتفصیل وی چه که په مستقرکې په حکم شرعیه سره دی اتمام کوی نوبیاددې محیط په سفرکې قصرنشی کولی اوکه په مستقرکې اتمام نشوکولی نوبیاد شام سفرکې به قصروی ،ددې لپاره نه چه دامسافه په قصرباندې ده بلکه په دی وجهی چه دغه سړی لامقیم شوی ندی ،خمایادته راځی چه ماددې نه مخکې په بل ترتیب [1] فتوی ورکړی ده ،یعنی دمستقرنه می وړاندې دیوه مقام دمسافی اعتبارکړی دی اوهغه می دسفر منتهی ګرځولی ده ځکه چه ددینه وروسته خودمستقرقصددی خو اوس دقواعدونه دغه مذکورعلم اقرب معلومیږی لهذاضروری ده چه دادنوروعلماؤاویاد مدرسی دیوبندسهارنپورنه هم تحقیق وفرمایلی شی اوخمادغه تحریرهم وړاندې کړی شی ۷صفر ۱۳۳۱ھ (تتمه ثالثه ص۱۳)

[1] داجواب امدادالفتاوی مجتبائی صفحه ۸۵کې چاپ دے تاسو پدې جواب باورمه کوی ۱۲منه

دقصرد مسافی دنه ارادی په صورت کې دمسافی په قطع کې عدم قصر

سوال :(۵۲۶)زیددوطن نه دمظفرنګرعازم کیدوسره روان شو او اراده ئی ده چه دوه ورځوکې به بیرته راشی هلته په رسیدوسره ضرورت محسوس شوچه سهارنپورته راشی اودسهارنپورنه بیرته میرټهٔته راشی دمیرټهٔ نه دمظفرنګرسفرشرعی نده اونه دمظفرنګرنه سهار نپورته هودمیرټهٔ نه سهارنپورته سفردی نودسفردوه ټوټی علیحده او مستقل نیت سره دمظفرنګرنه دروانیدوپه وخت سفرجوړیږی اوکنه ؟ یعنی دسهارنپورنه میرټهٔ ته دراتلوپه وخت خودسفرحکم وی دمظفر نګرنه سهارنپورپورې به هم سفروی اوکنه ؟

جواب :فی الدرالمختارومن طاف الدنیابلاقصدلم یقصروفی ردالمحتارقوله بلاقصدبان قصدبلدة بینه وبینهایومان فلمابلغهابدا له ان یذهب الی بلدة بینه وبینهایومان وهلم جرا(ح) قال فی البحرو علی هذا قالواامیرخرج مع جیشه فی طلب العدوولم یعلم این یدرکهم فانه یتم وان طالت المدة اوالمکث اما فی الرجوع فان کانت مدة سفر قصراه ،ددې روایت نه معلومه شوه چه دغه سړی به دمظفرنګرنه سهارنپورته راتلوکې قصرنه کوی اودسهارنپورنه میرټهٔ ته راتلوکې به قصرکوی فقط ۱۸صفر۱۳۲۵ھ (امدادص۸۵ج۱)

مسافرپسی دمقتدی دمسبوقه رکعتونودانمام طریقه

دامسئله ددې جلدپه ص۳۱۹،۴۲۸باندې راځی (ترجیح ثانی ص۱۹۱)

دسجدی دفوت کیدلوحکم

سوال :(۵۲۷)که په لمانځه کې یوه سجده خطائشی نوځه کول پکار دی ؟

(۲) نارینه دخپلې ښځې دمړینی نه وروسته دهغې چهره کتلی شی او کنه؟(۳)اومعصوم ماشوم یعنی دنابالغ دجنازې لمونځ بې وکړواو سلام بې ونه ګرځاوه نوآیادهغه لمونځ وشواوکنه ؟

جواب :(۱) کله چه وریه یادشوهمغه وخت دی اداکړی بیاچه دکوم رکن نه دغی سجدی ته راغلی هملته دی ورشی اوپه اخرکې دی سجدهٔ سهوو کړی فی ردالمختارعن شرح المنیة لوترک سجدة من رکعة ثم تذکر ها فیما بعدها من قیام اورکوع اوسجودفانه لقضیهاولا یقضی ماوقع قبل قضائها مما هو

بعد رکعتها من قیام اورکوع اوسجود من یلزمه سجود السهو[1] فقط لکن اختلف لزوم قضاء ماتذکرها فقضا ها فیه ففی الهدایة انه لاتجب اعادة بل تستحب وفی الخانیة انه یعید والا فسدت صلوته ومثله فی الفتح والمحصدماقی الهدایة فقدجزم به فی الکنز وغیره باب الاستخلاف وصرح فی البحر بضعف مافی الخانیة هذاانتهی ، ملتقطا (۲) کتلی شی فی الدرالمختار ویمنع زوجهامن غسلهاومسها لامن النظر الیها علی الاصح منه ،اوقبرته کوزول چه کله محارم نه وی دزوج لپاره درست دی ،لانه مس من حائل ، (۳) دغه مقیم به دامام دسلام نه وروسته ادریدلو سره اول دوه رکعته بلافاتحه وکړی اوکه دغودوه رکعتونو کې سهوه وشی نوسجدهٔ سهوه هم واجب ده دقعدی نه وروسته بیادی دوه رکعته دسورت او فاتحی سره وکړی اوکه دغه دوه رکعتونوکې سهوه شی سجدهٔ سهوه به وکړی (۴) فی الدرالمختارصلوة الجنازة ورکنه اشیاان التکبیرات الاربع والقیام وسنها ثلثة التحمید والثناء والدعاء فیهاه، دمذکوره روایت نه معلومه شوه چه سلام گرځول فرض ندی لهذا لمونځ وشوفقط والله اعلم ۱۷شعبان ۱۳۲۶ھ امداد جلداول ۳۹

رساله نافع الاشارة الی منافع الاستخاره

یعنی دیوسړی علی الترتیب (د څوخطونوځوابونه)

لمړی خط سره ځوابه:

سوال :(۵۲۸) دمعلی القاب جناب عالی شریف مولنامولوی اشرف علی صاحب خدمت ته دام ظلکم ،السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته دلته ددې علاقی قریب یوخای دی چه هلته قیمتی شیان میلاویږی او په زرگونه انسانان تلاش کوی او هرکال یودوه قیمتی شنان پیدا کیږی دباران په موسم کې دقیمتی کانی تلاش کولی شی اوډیرو خلکوته لاس ته ورځی لهذاعرض دی چه اوه ورځی استخاری کولوسره که دزړه رجوع وی نودکانی تلاش لپاره دغه ځای ته راتلل جائز دی اوکنه ؟

جواب :که دزړه رجوع وی نوځه اعتقادبه وی چه قیمتی کانی ضروری ملاویږی.

تتمه سوال :اودقیمتی کانودلټولولپاره استخاره کول جائزدی او کنه ؟

[1] حمدالاضافه تصحیح الاغلاط ص۸ اخخه شوې ده ۱۲منه

جواب :داستخاری غرض ستاسویه اعتقادکې څه دی ؟

دوهم خط سره ځوابه:

سوال :(۵۲۹) دعالیجناب مولنامولوی اشرف علی صاحب په شریف خدمت کې دام ظلکم ،اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ستاسوعنایت نامه ترلاسه شوه کوم چه ملفوفه ده تاسولیکلی دی (که دزړه رغبت وی نوځه اعتقاد به وی چه کانی ضرور میلاویږی) جواباعرض دی چه که د زړه رغبت وی چه امیدوساتی نوچه خدای وغواړی کانی به ترلاسه کړی)

جواب :السلام علیکم یقینی امیداوکه مشکوک.

سوال تتمه :که کارپوره نه شونودغه وخت هم په قیامت کې به دهغه ثواب ضرورمیلاوشی دااعتقاددې ؟

جواب :داستخاری ثواب چرته لیکل شوی یعنی داستخاری خصوصیت اوپه هغې کې ددعاء کیدلو حیثیت کې کلام نشته

دریم خط دځواب سره:

سوال :(۵۳۰) دجناب عالی معلی القاب مولوی مولنامحمداشرف علی صاحب دام ظلکم په شریف خدمت کې السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته دتاسوعنایت پاڼه ملاوشوه چه ملفوفه ده تاسولیکلی دی که دزړه غوښتنه وی نویقینی امیدلری یامشکوک جواباً عرض دی چه دداسې ډول مسئلی اعتقادساتل دخدای اورسول حکم دی ساتل یې غواړم مطلع وفرمایې؟

جواب :دیقینی امیدکوم دلیل نشته دثمری مرتب کیدل مشکوک پاتې کیږی اودشک درجه کې هم داستخاری کوم دخل نشته بلکه داستخاری نه وړاندې چه څه قسم مشکوک وه همغه شان مشکوک پاتې کیږی.

سوال تتمه :تاسوخمایه دی لیکلی چه په استخاره کولوسره برکت وی،اوپه کارکې کامیابی وی،دالیکلی دی (بالکل غلط دغه اعتقاد تاسی چرته لیکل لیدلی دی) جواباًعرض دی چه تاسویه زیوربهشتی کې لیکلی دی چه نورکوم کارکوی نوهم دی بغیرداستخاری نه کوی نوانشاءالله کله به هم په خپلوکړو پښیمانی نه وی او کار به په کامیابیدوکې وی کنه نوپښیمانی به نه وی ؟

جواب :غلط بلکه ددې دعا په دغه برکت وی چه که کامیابی هم نه وی نو دهغه لپاره به پښیمانی نه وی چه کامیابی نه کیدل خیر گڼی ، لکه چه اهل تفویض مسلک دی چه کوم حال مخې ته راشي هغه مصلحت گڼی

سوال تتمه مالیکلی ؤیه استخاره کولو سره په قیامت کې به ضرور ثواب میلاوېشی تاسو په دی جملی باندې لیکلی دی چه داستخاری ثواب چرته لیکلی شوی ، جواباً عرض دی تاسو په بهشتی زیور کې صفا لیکلی دی چه په حدیث شریف کې داستخاری ډیر ترغیب راغلی دی نو د کوم کار چه رسول الله ترغیب ورکړی نو دهغه کار په کولو سره په قیامت کې ثواب میلاوېږی ، په دی باندې په پوهیدو سره مالیکلی دی چه په قیامت کې ضرور داستخاری ثواب میلاوېږی ،

جواب :دهمدی څه دلیل دی په حدیث کې ددواکولو لپاره هم ترغیب شته مگر په هغی کې هیڅوک دثواب قائل نده وجه داده چه هغه دثواب لپاره موضوع نده بلکه دنیوی مصلحت لپاره موضوع ده په همدې ترتیب استخاره هم ددنیویه مصلحت لپاره موضوع ده او ثواب په هغه کې وی چه دینیه مصلحت لپاره موضوع وی باقی دنیت سره ثواب میلاویدل داپیله خبره ده نو په اکل اوشرب کې هم ثواب شته مگر ددې نه عبادت موجبه ثواب جوړول ندی پکار

تتمه سوال داستخاری په باره کې زه تقریباً دیولسو میاشتو نه استفسار کوم په مهربانی سره مطلع وفرمایې همیشه استخاره کولو سره معامله کول ښه دی اوکنه ؟

جواب :هو ښه دی مگر په دی معامله کې داقید دی چه په دی کې دنفع او ضرر دواړو احتمال شته او کوم چه عادةً یا شرعاً یقیناً نافع وی یا یقیناً مضر وی په هغی کې استخاره نشته ،لکه دکوم لمونځ کولو لپاره استخاره کول وی یا دواړو وختونو کې دخوراک خوړلو لپاره استخاره کول وی یا دغلاکولو لپاره استخاره کول وی یا دکومې مریضې ښځې سره دنکاح کولو لپاره استخاره کول وی

سوال تتمه: ددې لپاره چه په زړه کې داخری خط سره لږ اندېښنه شته تاسو لیکلی دی چه دکامیابی کیدلو اعتقاد غلط دی او دثواب ملاویدل بې چرته لیکلی دی ، بې ادبی دی معاف وی اوس داسوال پاتې شو چه بیا داستخاری کولو څه ضرورت دی هرکله چه ثواب هم نه میلاوېږی او کامیابی هم نه وی ؟

جواب :استخاره یوه دعا ده چه یاالله ! که دغه معامله خما لپاره خیر وی نو خما زړه متوجه کړی او په دی کې خما لپاره خیر وگرځوه اوکه نو خما دزړه نه بې اوباسه او چه کوم خما لپاره خیر وی دهغه تجویز وکړه نو ددینه وروسته که په دی طرف زړه متوجه وی نو دهغه اختیار کول وته

ظناً خیر گڼل پکاردی برابره خبره ده چه دکامیابی صورت وی اوکه دناکامی صورت وی اودناکامی خیرکیدل په دی اعتبار سره په اشاره دخیر کې ده برابره خبره ده چه په دنیا کې دهغه نعم البدل میلاوشی اوکه په اخرت کې داجر ثواب میلاوشی ،او په استخاره کولو کې په مجموعی طور ددغه خیر وعده نشته برابره خبره ده چه کلاً یا بعضاً عطاء مینځ ته راشی نو داستخاری تسلی ده چه مونږ ته به ضرور خیر را کول کیږی او داستخاری او عدم استخاری په دی اثاروکې وجه دفرق داده چه داستخاری نه وروسته که هغه موثره شوه نو په زړه کې داسې څیز نه راځی چه په هغه کې بې احتیاطی وی او بدون داستخاری د داسې څیز دراتلو هم احتمال وه چه د لږ دقت سره دهغه مضر کیدل معلومیدلی شو مگر هغه غور ونکړلو او په بې احتیاطی سره بې هغه اختیار کړه نو چه په خپل لاس چه کله مضرات اختیار کولی شی نو په هغه کې دخیر وعده نشته

سوال تتمه: زه هره معامله اکثره استخاره کولو سره کوم مانه همیشه په استخاری کولو سره معامله کولو کې کامیابی وی مگر ددې مخکې کال دتخم معامله په خساره کې ده ؟

جواب :دهمدی نه پوهه اخستل پکاردی چه په استخاره کې دکامیابی وعده نشته بلکه دحصول خیر وعده شته برابره خبره ده چه خیر ظاهری وی اوکنه باطنی خیر

سوال تتمه: کومه چه زه خپله غلطی گڼم ؟

جواب :دغلطی تقریر کول پکار ؤو

سوال تتمه: اوس چه تاسی څنگه حکم راکړی کوم به بې اوس تاسی دمهربانی له مخې مطلع وفرمایې ؟

جواب :خما حکم ورکول ندی حقیقت بیانول دی لکه چه طبیب ددوا خاصیت وائی حکم نی نه دی ورکړی چه ښځې اوکه نه ښځه مریض گڼلو سره دخان لپاره لازه تجویز کړه

سوال تتمه: په هر کار کې او دکوم مال په خرڅولو او اخستلو کې هم استخاره کول ټیک دی اوکنه ؟

جواب :پورته می لیکلی فی قوله هو ټهیک دی الخ

سوال تتمه: په استخاره باندې څنگه اعتقاد ساتل داستخاری نه څه غرض در لودل (اعتقاداً)

جواب :بره می لیکلی دی فی قولی استخاره یوه دعا ده الخ

سوال تتمه: باقی استخاره څنگه کول دا خو تاسو په زیوربهشتی کې ویلی دی ؟

جواب :هو مسنون طریقه هماغه ده (تمت رسالة نافع الاشاره) ربیع الاول ۱۳۵۲ھ ،التور بابت میاشت شعبان ورمضان وشوال ۱۳۲۵ھ

باب صلاة الجمعة والعیدین

دعاء وروسته داختردلمانځه اوخطبی نه اووعظ داخترد خطبی

سوال :(۵۳۱)ددین علماء په دی مسئلی کي څه فرمايي چه دی ګاوندکي دامعمول ده چه داختردخطبی نه وروسته دمنبرنه په کوزیدوسره په مصلی باندي په ناستی په بعضی صلاة عیدنه بعد دعاء غواړی دغه کارشرعاً څنګه دی ؟ بینواتوجروا؟

جواب :هیڅرته ثابت ندی اګرکه دعاء هروخت جائزده خودا تخصیص بلادلیل شرعی دی البته پس له لمانځه په اثارکثیرکي مشروع ده او دبر [۱] الصلوٰة اوقات داجابت ددعاء هم دی په هرحال دلمانځه نه وروسته دعانه کول اودهغه په ځای دخطبی نه وروسته مقررول دسنت تغیردی اوداحترازقابل، وهذا (کله ظاهروالله تعالی اعلم (امدادص۳۳ج۱)

سوال :(۵۳۲)یومولویصاحب دلته تشریف راووړاوهغه دعیدالاضحی لمونځ ورکړاودلمانځه نه مخکي يې په عیدګاه کي وعظ وفرمایه دلمانځه نه وروسته يې بغیرددعاء کولوخطبه ولوستله اودخطبی نه دفارغیدو نه وروسته يې هم دعاء ونه کوله په دی کارخلک ډیرراوپاریدل مولویصاحب راوستونکو خلکو خما نه پوښتنی کول شروع کړی ماسکوت وکړاوداخیال می وکړچه دهغه جناب نه دتپوس کولوسره به څه ووایم تراوسه يې خواب ندی راکړی ،اوس چه څه ارشادوی همغه شان به په عمل کي راولو همدارنګه خلکوپه مولویصاحب باندي دااعتراض هم وکړوچه هرکله دعاء غوښتل ناجائز دی نوپه عیدګاه کي وعظ کله روادی، نودی متعلق هم تحریر وفرمايي چه وعظ .کول دلمانځه نه مخکي په عیدګاه کي جائزدی او کنه؟ څکه مولنادخطبی نه فارغیدوسره فرمایلی ؤچه دخطبی اولمونځ داخترنه وروسته دعاکول دصحابه تابعین تبع تابعین نه منقول ندی دهمدی لپاره داتباع په غرض دعاء نه کول پکاردی په دی باندي یوصاحب حدیث پیش کړواووی ویل چه منقول دی اوددي حدیث نه ثابته ده عن ام عطیة قالت امرنان تخرج الحیض یوم العیدین وذوات الخدورفیشهدن جماعة المسلمین ودعوتهم وتعتزل الحیض عن مصلاهن قالت امراة یا رسول الله ﷺ الخ مشکوة باب صلوة العیدین ،دمتنازعه فیهادعاء په باره کي ددعوتهم لفظ

[۱] یعنی دلمانځه نه وروسته په حدیث کي دی چه رسول الله ﷺ وفرمایل ؛ چه دعاء دلمانځه نه وروسته قبلیږی محمدشفیع عفاالله عنه

نه يې استدلال کړی نودامعلومول غواړوچه دهغه دغه استدلال صحیح دی اوکنه که صحیح نه دی نوددي حدیث څه مطلب دی ؟

جواب :ربښتیاداختردلمانځه اوخطبی نه وروسته دعاء غوښتل بالخصوص منقول خوندی لیدل شوی اوددعوتهم نه استدلال ناتمام دی څکه چه په هغه کي دکوم ځای تصریح نشته چه دغه دعاپه کوم وخت وی بیاپه خاص محل کي ددی په کیدواستدلال کول ظاهردی چه غیر تمام ده ممکن ده چه دادعاء هغه وی چه په لمانځه کي دننه یاخطبه کي دننه په عاموصیغوسره کیږی،چه ټولومسلمانانوته شاملیږی اودهغي برکتونه به اول په حاضرینوباندي فائض وی لاکن بالخصوص نه منقول کیدلوسره دابتداع حکم هم مشکل دی څکه چه دنصوصود عموماتونه فضیلت ددعاء بعدالصلاة ثابت ده نوپه دی عموماتوکي دهغي داخلیدلوامکان شته اوکه کوم سړی دبالخصوص منقول نه کیدوپه سبب هغه پریږدی په هغه هم ملامت شته په هرحال دامسئله داسي مهتم بالشان نده په دواړوجانبو کي توسیع ده پاتي شوه وعظ کول ددي لپاره چه هغه په التزام نه وی دهغه دجواز لپاره دلیل دمنع کیدل کافی دی ۱۲ ذی الحجه ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه ص۱۲۰)

سوال :(۵۳۳)دعیدینودلمانځه یادخطبی نه بعددعاء غوښتل دنبی علیہ السلام اودهغه دصحابه اوتابعینواوتبع تابعینونه منقوله نده او که دغوحضراتوکله هم دعاءکړی وی نوضروربه نقل کیدله لهذاداتباع په غرض دعاء نه کول ددعاء کولونه بهتر دی انتهی هکذافی بهشتی ګوهر، اوالرشیدجمادی الاولی ۱۳۳۴ھ صفحه ۳۱اوپه لاندي فتاوی دیوبند کي لیکل شوی دی اودعاکول داخترونودلمونځونونه وروسته دټولولمونځونوپه شان مستحب ده لعموم الادلة انتهی ماالتوفیق بینهما؟

جواب :په اول کي نفی دجزيي نقل دی اوثانی کي اثبات کلی دی فلاتعارض لکن خماپه خیال کي راجح ثانی معلومیږی وهوالمعمول لی وان کنت نقلت الاول من علم الفقه والامرواسع ولعل موافقة الجمهور اولی (ترجیح رابع ص ۸۰)

سوال :(۵۳۳)دعالیجناب کرامت مآب ،غوره دازکیاوبهتر داصفیاؤ جناب مولناصاحب دام ظله دخپو د ښکلولو د امید نه وروسته اودلاس ښکلولودشوق نه وروسته معروض خدمت دحاشیه ښکلونکوبارګاه قدوسی رانبی چه هغو صاحبانوپه خپل تصنیف یعنی بهشتی ګوهر دعیدینوپه باب کي داسي فرمایلی دی چه حضور علیہ السلام اوصحابه واوتابعینواوتبع

تابعینو د عیدینو د صلاة نه وروسته دعاء نه ده کړی که دعاء یې کړی وی نو ضرور به یې نقل کړی وه د دعاء کولو نه نه کول افضل دی او هغه صاحب د بحرالرائق حواله ورکړی ده عرض دادی چه مونږ دا مسئله په باب عید کې پیدا نکړه د دعاء په مطلب کې په شامی کتاب کې لیکل شوی دی من صلی صلوة ولم یدع فیهافهو خداج او بل د الله تعالی قول فاذافرغت فانصب ، د ایت او حدیث نه دا خبره معلومیږی چه د هر لمانځه نه وروسته باید دعاء وشی لاداسې عرض دی چه هغه صاحب د خپل کلام او حدیث او ایت شریف توفیق باید کړی وای ، چه خمونږ شک رفع شوی وی که عنایت وی په خواب سره مو سرفرازو فرمایې بی ادبی معاف کړی خکه د دین په باب کې دغه کار اولی دی ؟

جواب :السلام علیکم بهشتی گوهر بو مستقل تصنیف ندی بلکه د علم الفقه تلخیص دی نو د علم الفقه نه ناقل یو چه مولف یې ژوندی دی اگرکه که علم الفقه د بل چانه ناقل وی نو د ناقل په ذمه تصحیح د نقل به وی او خمونږ په ذمه تصحیح د نقل د علم الفقه نه دی او په ذمه د علم الفقه تصحیح د نقل د بحرالرائق نه دی مونږ ذمه وارنه یو ، دا کلام د نقل او د هغه د تصحیح متعلق اما خپله مسئله اقرب الی کلیات الشرع همغه ده چه تا سو لیکلی ده او خما او خما د مشرانو عمل د همغې موافق ده یعنی د اخترونو د لمانځه نه وروسته دعاء معمول ده په هرحال خومره چه د بهشتی گوهر مضمون د قواعدو سره معارض دی د هغونه می رجوع وکړه . والسلام ۱۸ ذی الحجه ۱۳۳۴ هـ (ترجیح حصه رابعه ص۸۴)

سوال :(۵۳٤)په یولسمه حصه د بهشتی گوهر کې دا مسئله مندرجه ده د اخترونو د لمانځه یا د خطبی نه وروسته دعا کول د نبی علیه السلام او د هغه د صحابه ؤ او تابعینو او تبع تابعینو نه نه منقول نده که د دغو حضراتو دعاء کړی وای نو ضرور به یې نقل شوی ؤ لهذا د اتباع په غرض دعاء نه کول د دعا کولو نه بهتر دی او په امدادیه اوله حصه کې جواباً مرقوم دی چه البته د لمانځه نه وروسته په ډیرو آثارو کې مشروع ده او دبر الصلاة اوقات د اجابت د دعا هم دی په هرحال دعانه کول او د هغې په ځای د خطبی نه وروسته مقرر ول د سنت تغیر ول دی او قابل احتراز د گوهر د عبارت نه خو د عیدینو د لمانځه نه وروسته دعاء نه کول اولی معلومیږی او د فتاوی امدادیه نه نه کول د سنت تغیر ظاهریږی په دی صورت کې راجح او اقوی قول د لمانځه نه وروسته دعاء کول دی او که نه کول ؟

جواب :د دواړو خوابونه په قواعدو سره دی او د دواړو کې تعارض نشته . په فتاوی امدادیه کې په دې بد ویل دی چه د لمانځه نه وروسته په ځای د خطبی نه وروسته دعا وکولی شی او هغه په بهشتی گوهر کې هم جائز نه ده گرځولی ترجیح خامس ص۱۰۴)

سوال :(۵۳۵)د اخترونو د لمانځه نه وروسته دعاء د قبلی په طرف مسنون ده او که یمین اویسار ته هم د اخترونو د خطبی نه وروسته دعاء کول مسنون دی په څه ډول او دریږی یا کینی یا کوم طرف ته ؟

جواب :د اخترونو د لمانځه یا د خطبی نه وروسته دعاء کول یا نه کول په خصوصیت سره د نظرنه می نه دی تیر شوی ظاهرا د عامه قواعدو نه د لمانځه نه وروسته دعا بهتره معلومیږی په هغه هیئت سره په کوم هیئت چه د نورو لمونځونو نه وروسته ده ۱۵ رمضان ۱۳۳۲ هـ (تتمه ثانیه ۱۲۵)

ممبرته د ختلو نه وړاندې او وروسته د خطبی

په وخت د امام د سلام د جواز تحقیق

سوال :(۵۳٦)زید دیوه مسجد خطیب او امام دی او کثره وختونه همدې لمونځ ورکوی او خینې وختونه یې نوروته ورکوی کله چه هغه د خطبی لوستلو لپاره د خپل ځای نه پورته کیږی نو خینې خلک پورته پورته کیدو سره هغه ته سلام کوی او مصافحه ورسره کوی او هغه د سلام خواب ورکوی او مصافحه کولو کې په منبر باندې ناسته کوی آیا د طرفینو مصافحه او سلام په دا سې وخت کې ممنوع او حرام ده او کنه ؟ اذاخرج الامام فلاصلوة ولاکلام نه د دې ممانعت او حرمت راووځی او کنه د الفاظو د ظاهر نه خو همدا معلومیږی چه د صلاة او کلام ممانعت دی نو د سلام و مصافحه خو به په درجه اولی وی ، دا صورت هله دی چه کله خپله زید لمونځ ورکولو لپاره روانیږی او کله چه هغه د نورو پسی لمونځ کوی دغه وخت هم خلک د زید سره سلام او مصافحه کولو سره په خپلو ځایونو کې ناست وی ، البته هرکله چه خطبه شروع کیږی نو خلک دا سې نه کوی خو دومره وی چه که زید د خطبی په ترځ کې کوم طرف ته گوری نو بل سړی د لاس په اشاری سره سلام کوی آیا د غی اشاری سره سلام کول هم ممنوع کیږی د هر صورت خواب ارشاد وفرمایې ؟

جواب :په اذاخرج الامام کې یو قول دا دی چه خروج نه مراد صعود علی المنبر دی لکه چه عینی د هدایې په حاشیه کې نقل کړی او همدا راجح معلومیږی نو د هغې نه وړاندې سلام او مصافحه دواړه جائز دی او اشاره د دې لپاره چه کلام نده لهذا د خطبی په وخت د هغه حرمت د کلام په

شان خوندی مگرچه مشابه دکلام سره دی دهمدی لپاره د کراهت نه خالی ندی، خصوصاً کله چه خپله سلام کول هم په اشاری سره مطلقاممنوع دی په حدیث کې دی ومن مس الحصی (ای فی الخطبة) فقدلغاروله مسلم کله چه دمس الحصی نه ممانعت دی څکه چه په دی کې مشغولیت دی دغیر خطبی په طرف نودسلام په اشاره کې خو د دینه زیاته مشغولتیا ده اوپه حدیث کې دی چه لیس منامن تشبه بغیر نا لا تشبهوا بالیهود ولا بالنصاری فان تسلیم الیهود الاشارة بالا صابع وتسلیم النصاری الاشارة بالاکف رواه الترمذی، ددینه دسلام بالید ممانعت مفهومیږی فقط والله اعلم ربیع الاول ۱۳۲۱ھ (امداد ص ۳۳ ج ۱)

سوال :(۵۳۷)په نمبر ۵ د دیباچی دخطب ماثوره په منبرباندې اوچتیدو سره دخلکوپه طرف متوجه وی بیاد سلام کوی اوکینی ددې متعلق داسوال دی چه په فتاوای رشید په دوهمه حصه ص ۱۳۳ مطبوعه مراد آباد کې لیکل شوی دی چه هرکله امام دخپل ځای نه دخطبی په غرض پورته شی دغه وخت په مقتدیانو باندې سکوت واجبیږی نوکله چه خطیب سلام وکړی نولامحاله سامعینوته خواب ورکول لازمیږی بیا د سکوت قید له مینځه ځی لهذاددې صراحت وفرمایې چه دافعل خاص دهمدوی لپاره مخصوص ؤیا اوس هم عامو خطباؤ ته ددې پابندی کول پکاردی اومقتدیانو باندې چه کله دضدردصراحت سره سم د سکوت حکم دی دهغه څه خواب دی ؟

جواب :ربښتیاپه دی تحریر کې اجمال دی دهغې نه وروسته به احیاء السنن کې ددې مسئلی په دی ترتیب تحقیق کولی شوی وفی البحر فاستفیدمنه (ای من قول البدائع انه لایسلم اذاصعدالمنبرورُوی انه یسلم کمافی السراج الوهاج ص ۱۸ جلد ۲ وهوالمختارعندی للحدیث وان کان المشهورفی المذهب هوالقول الاول کمافی الدرالمختار وغیره والمتمسک فیه العمومات وعلیه یأول ماوردمن السلام من حمله علی ماقبل تحریم الکلام فی الصلاة وفی الخطبة قلت واذلیس السلام واجباً واحتمل الکراهة بالنسخ فلعل الاولی للعمل ترکه والاعتقاد تجویزه - والله اعلم اه، ددینه معلومه شوه چه احتیاط همدادی چه امام سلام ونکړی نودخپل تحریرد اجمال نه چه موهم داجازه دسلام بلا اختلاف ده رجوع کووم اگرکه مجوزدوجوب سکوت سره هغه مخصوص کولی شی. ۴ صفر ۱۳۳۵ھ (ترجیح خامس ص ۳)

سوال :(۵۳۸)په الخطب الماثوره نمبر ۵ صفحه اول باندې نوشته دی چه رسول الله ﷺ په منبرباندې اوچتیدلو سره دخلکوپه طرف متوجه کیدو اوبیابې سلام کولو سره کیناسته ددې سلام په سنتوباندې عمل ندی لیدل شوی آیادا سنت ژوندی کړای شی یاپه هغه باندې په عمل نه کولو کې کوم مصلحت دی دلاعلمی په خاطرد استفسار دی ؟

جواب :حنفیه داپدې خاطرندی خپل کړی چه عوام هغه دخطبی دلوازمونه گنی چه بدعت ده لکه چه احنافوډیرکارونه په همدې اصل باندې منع کړی دی اوشافعی دنقل په اساس جائز فرمایلی دی لکه چه په همدې مسئلی کې همداختلاف دی کمافی الدرالمختارومن السنة جلوسه فی مخدعه عن یمین المنبرولبس السوادوترک السلام من خروجه الی دخوله فی الصلاة وقال الشافعی اذاستوی علی المنبر سلم مجتبی اوبعضی حنفی علماؤنه چه کوم دسلام استحباب یا اباحت منقول دی هغه ته غریب ویل شوی دی کمافی ردالمختارتحت قوله ترک السلام نوامام شافعی دمنقولی جزیې په بناء دسلام حکم کوی حنفیه دمنقوله کلیاتوپه بناء هغه ته ترک دسنت وائی همدارنگه دسوج کولوسره می دمنع یوجزیې منقول هم ذهن کې راغلی اوهغه حدیث دی اذاخرج الامام فلاصلاة ولاکلام اویقیناً سلام هم یاملحق بالصلاة دی اودابه دخروج نه وروسته وی چه دمذکورحدیث په بناء ممنوع دی اوقاعده ده چه اذاتعارض المبیح والمحرم ترجح المحرم نوهغه سلام چه منقول دی په همدې قاعدی سره منسوخ شو نود حنفیه ؤمذهب روایة اودرایة قوی شو، والله اعلم ۱۸ رجب المرجب ۱۳۵۳ھ (النوررجب ۴۵ھ)

په عیدگاه کې داخترد لمونځ دکولوتاکید

سوال :(۵۳۹)زیدپه خپل مسجد کې داخترونولمونځونه کوی په عید گاه کې یې نه کوی اوخوک چه په عیدگاه کې د کولو عادی دی هغه هم منع کوی کله وائی چه داخترونولمونځ په مسجد کې هم جائزدی لکه چه د فلانی مولوی صاحبانوفعل ددې دجوازلپاره کافی دی کله وائی د چاچی زماسره محبت اوتعلق وی اوخما د وینا څه احترام او لحاظ ورسره وی همداخماپه مسجد کې به لمونځ کوی .اوکله وائی. په عیدگاه کې خو ډیرخلک وی دلته هم پنځوس ،شپیته کسان وی نوبهتره ده . او کله وائی په مسجد کې هم دهمدی خدای لمونځ دی اوپه عیدگاه کې هم دخدای لمونځ دی چرته چه غواړی هلته یې کوی خلاصه داچه په مختلفوطریقوسره عیدگاه ته دتللو نه ممانعت کوی اوهغه سره په میلاویدونکوکې چه کوم

روانیږي دهغه نه خفه کیږي اوشکایت کوي ددې سړي په پاس اولحاظ ځیني خلک عیدګاه ته دتللونه منع کیږي ،که دغه سړي په عیدګاه کې لمونځ وکړي بانورخلک منع نه کړي نوپه دغه مسجدکې اداکونکې به ټول عیدګاه ته راشي،دداسې سړي شرعاچه حکم دی اودهغه په مسجدکې لمونځ کول څنګه دی اوعموماً په مسجدونوکې داخترونولمونځ کول اوبلاعذرد باران اوضعف دتللو وغیره دعیدګاه پریښودلو کې څه ګناه شته اوکنه ؟

جواب :فی الدرالمختاروالخروج الیهاای الجبانة لصلوة العیدسنة وان وسعهم المسجدالجامع هو الصحیح او د حدیثونو نه هم معلومیږي چه حضور علیه‌السلام پرته دیوځل نه چه دباران دعذرپه سبب بې په مسجدکې اداء فرمایلی همیشه بې میدان ته تشریف راوړو حتی چه چاپاندې به دشرعی عذرپه اساس لمونځ هم نه ؤ هغه ته دراوستلو اهتمام فرمایلولکه په کثرت سره حدیثونه وارددې نودکوم کارچه دحضور علیه‌السلام قولاً وعملاً اهتمام وی دهغه خلاف قولاً وفعلاً اهتمام کول صریحاً دسنت مخالفت دی چه په ګناه کیدلو کې بې څه شبهه نشته په حدیث کې دی فمن رغب عن سنتی فلیس منی. والله اعلم ۱۸ربیع الاول ۱۳۲۱ھ ،امدادص۳۴ج۱،

دجمعی په لمانځه کې دلمونځ کونکوشمیراشتراط

سوال :(۵۴۰)که دکمپ دمسلمانانوجماعت ډیروی یاالته لس کسانو پورې وی دجمعی لمونځ دسفرپه حالت کې کولی شی اوکنه؟

جواب :دجمعی لپاره کم ازکم څلورکسان شرط دی ددینه کم جمعه صحیح نده اوپه څلور اوزیاتوسره جائز ده پدې شرط چه هغه ځای دجمعی داقامت قابل وی،لکه چه په [1] راتلونکې کې راځی ،په داسې ځای کې په مسافرپاندې جمعه فرض نده خوکه وی کړي نو صحیح ده فقط ۱۵شعبان ۱۳۲۱ھ ،امدادج۱ص۳۸،

په بالاخانه اوبنګله پاندې دجمعی جوازپه دی شرط چه ښلدیي ته نزدی وی

سوال :(۵۴۱)بالاخانه دښارنه علحده ده اوهرجامع مسجدډیوه میل نه ترډری میلوفاصلی پورې دی ددې فاصل ملازمینوته دبالاخانی نه بغیرد چوتی نه دبیرون وتلواجازه هم نشته ،په داسې حالت کې دبالاخانی په احاطه کې یاکوم ځای کې جمعه کولی شی څکه چه د کمپ

[1] یعنی دراتلونکی سوال په ځواب کې ۱۲منه

آبادی دښارپه توابعو کوروونو کې څونه راځی د جمعی لمونځ خو غالباً فرض کیږي د مسجدنه بغیرکولی شی اوکنه ؟

جواب :که دغه ځای دښارپه توابعوکې وی لکه چه ښکاره ده نوجمعه پکې صحیح ده او د هغه ځای نه چاته دوتلواجازی نه ورکول خومضرندی لاکن داکتل په کاردی چه په دی جدکې دښه اوبهراوسیدونکې هم راتللی شی اوکنه ؟ که راتلای شی نودغه وخت بلاترددجمعه جائزده اوکه نه راځی نودجمعی په جوازکې تردد دی دهمدی لپاره مسافرته پدې صورت کې اولی داده چه ظهروکړي څکه چه مسافرپاندې جمعه فرض نده نودغیرفرض لپاره په ترددکې لی څنګه وکړي اوجامع مسجددجمعی لپاره شرط ندی ،وجه التردد مافی الدرالمختاروالاذن العام الی قوله فلایضر غلق باب القلعة لعدولو او لعادة قدیمة وفی ردالمحتاربعدنقل عدم جواز الجمعة ان منعوا عن الدخول مانصه قلت وینبغی ان یکون محل النزاع مااذاکانت لاتقام الافی محل واحدامالوتعددفلا لانه لایتحقق التفویت کما افاده التعلیل تامل وفیه عن المنح وکذااذا لایصح لوجمع فی قصره بحشمه ولم یغلق الباب ولم یمنع احدالا انه لم یعلم الناس بذلک اه ، ۱۵شعبان ۱۳۲۱ھ امدادص۳۸ج۱،

په کلااودفترپه ځای کې دجمعی دکولوحکم

سوال :(۵۴۲)دننه دفترته دعاموخلکو د راتګ اجازه نشته ،خوحاکم اجازه ورکړي چه دجمعی په ورځ یوازې دلمانځه د کولو لپاره چه څوک راتګ غواړي هغه دی راشی ممانعت نشته پدې حالت کې په دفترکې دننه دجمعی لمونځ کول جائزدی اوکنه ؟

جواب :کله چه عامه اجازه ده درست دی کنه نوبیرون وتلوسره دی په میدان کې وکړي. ۲جمادی الاخری ۱۳۳۱ھ ،حوادث۱-۲ص۲۲،

سوال :(۵۴۳)آنجناب ته دی معلومه وی چه اوس دجمعی دورځی په هرسرکاری دفترکې دجمعی لمونځ د ادا کولو اجازه میلاوشوی ده ، خواحقرپه بدقسمتی سره په کلاکې ملازم دی عرض دادی چه اوریدلی می دی چه په قلعه کې دجمعی لمونځ نه کیږي ،خواوس کله چه سرکاراجازه ورکوی اوپه خوشحالی سره اجازه ورکوی نوپه قلعه کې جمعه جائز ده اوکنه یوبل شرط چه دجمعی متعلق دی شایدهغه به دشارع عام کیدل ضروری وی نوددې متعلق عرض دادی چه دفیروزدچهاونی قلعه دلوی کلی په شان دی ،اودهغې مختلفی ځانګی کوی چه

دهغې په احاطه کې دننه دی ،دمکانانو په منزله دی او هر يو سړی ته برابره خبره ده چه مزدوروی او که منشی وی ديوی بجې په چوټی کې دلمانځه کولو اجازه ده ،نو آيا دغه حالت کې هم دشارع عام ضرورت ده ؟ دا قيدچه سرکار لګولی ده هغه بې پوازی دنقصان نه دبچاو په خاطر دی او موږ داسې هم عموماً په خپلې لويې کارخانې کې کوو فقط ؟

جواب :دعام اذن کيدل هم دصحت دجمعې دشرائطو په جمله کې دی چه معنای داده چه خپله لمونځ کونکو ته منع کول هلته مقصودنه شی، باقی که بندول منع کول دکوم بل ضرورت په اساس وی هغه داذن عام مخل نه دی فی الدرالمختار والاذن العام من الامام وهو يحصل بفتح ابواب الجامع للواردين کاف فلايضر غلق باب القلعة لعدو او لعادة قديمة لان الاذن العام مقرر لاهله وغلقه لمنع العدو لا المصلی نعم لولم يغلق لكان احسن اه فی ردالمحتار وينبغی ان يكون محل النزاع ما اذا كانت لاتقام الا فی محل واحد مالو تعددت فلا لانه لايتحقق التفويت كما افاده التعليل تامل ج۱ص۸۵۱.دپورتنی روايت په بناء دغه قلعه کې دجمعې لمونځ درست دی ۸شعبان ۱۳۳۱ھ حوادث ۱ ،۲،۱۱۱،

په متفرق الاجزاء اباديوکې دجمعې حکم

سوال :(۵۴۴) (۱) په يوه کلی کې تقريباً دری څلورسوه بالغ،عاقل نارينه مسلمان اوتقريباً دری سوه بالغ نارينه کافرمقيم دی او په هغی کې يو بازار چه ضروريه شيان هميشه پکې موجودوی او تهانه ،ډاګخانه ، بيسيم ، هسپتال،او منصف ټول موجود دې اوس دغه کلی ته ښاروبل کيدلی شی او کنه ؟که کلی ومنل شی نو په دغو مقيمو مسلمانانو باندې جمعه فرض ده او کنه ؟ که فرض نه وی نو هلته دجمعې په اداء کولو سره صلوة ظهردذمې نه ساقطيږی او کنه ؟ (۲)، خمونږ په وطن برهما په کليوکې خای خای خونارينه مکلف مسلمان دزر دوه زروپورې مقيم دی،خوداسې کلی ډير کم دی او په ادنی درجه کې په بعضو قريوکې لس شلوپورې هم موجود دی او کوم خای کې سل دوه سوه څلورسوه پنځه سوه مکلف نارينه مقيم دی داسې کلی ډيرزيات دی په خينو قريوکې داواتوسوو پورې مقيم دی نو په دې کليوکې کوم کلی دښار په حکم کې کيدلی شی او کنه ؟که ټولی کلي ومنل شی نو ددغو قريو په اوسيدونکو باندې جمعه فرض ده او کنه ؟ که فرض نده که څوک دقريونه دجمعې لمونځ اداکړی نو د هغه له غاړی نه دماسپښين لمونځ ساقط شواو کنه که په لويولويو قريوکې جمعه صحيح وی نو کوم کلی ته

ددغو کليو نه نوي ويل کيږی ؟ (۳)، خينې قريې دزراعت وغيره په سبب فقط ميل نيم ميل په فاصلې باندې آبادی دی په خپل مينځ کې دهر يو نوم هم جداجدا دی مګرپه اطرافو کې دواړه په يوه نوم باندې مشهوردی نو آيادواړه عليحده عليحده کلی وګنل شی او که دواړه يوخای کولو سره يو لوی کلی وګڼل شی ددې ټولوسوالونو خواب مدلل اومفصل طور سره خمونږ دنابينا پيانولازبنونه وفرمايې؟

جواب :دسوال دعبارت نه خوددغو آباديانو صورت اوحالت په ښه ترتيب ذهن کې رانغلو البته ددغو نواحو اوسيدونکې يودوست نه دتحقيق کولو سره دامعلومه شوه چه اګرکه دهغه خای آباد متفرق حصو کيدلو سره کلی دی ، او دهر کلی نوم هم جدادی لکن بياهم څوڅو حصی يوخای کيدلوسره دهغو ټولو مجموعه په يوه نوم سره مشهوردی ، او هغه حصه نوته ګڼل کيږی ،مثلاً دولت پور په عرف کې ديوی آبادی نوم دی په کوم کې چه وړی وړی ډيری حصی دی ،اوهر حصه هم په بيل نوم سره موسوم ده لکن په کومه حصه کې چه کوم مسافرتلل غواړی دپوښتنی په وخت دهغه حصی دنوم په خای وائی چه دولت پورته خم ددينه داثابته شوه چه هغه نوته دمحلو په خای ده او د دغو ټوټو مجموعه يوه آبادی ده اګرکه د هغو ترمينځ څه اندازه فصل هم شته لاکن ظاهره ده چه ديوی آبادی په اجزاوکې فصل راتلل ددې آبادی ديووالی منافی نده ، لکه چه عموماً د کومو ښارونو متعلق چه انګريزی چهاونيانی دی ، دهغوی همدا حالت دی او د بعضی امصارو او قصباتو بلاچهاونی هم خپله همدا حالت دی لکه چه د شاه جهانپور او بعضو قصباتو د ضلع سهارنپور او مظفرنګر چه دهغو د متفرقو آباديو مختلفی حصی دی او په مينځ کې ميدان اوکښت اوباغ فاصل دی خوجداجدا آبادی نه ګڼل کيږی ،نوخمونږ دغواضلاعوکې لکه چه دبعضو آباديو حالت دی ،دغه نواحيوکې کل يااکثر آباديانی داسې دی دغه حالت خودهغه خای دټولو آباديوکې مشترک دی بياهم په ټولوکې يوتفاوت دادی چه دهمدغو مجموعه آباديونه په بعضوکې خوتهانه ، ډاکخانه ،منصفی وغيره شته اګرکه ددغی مجموعی کومی خاصی حصی اوبرخی ته ددې مجموعی آبادی محکمه وائی، او په بعضوکې د اخيزونه نشته،اوددغوبعضو داوسيدونکوچه کوم حاجت دتهانی ، ډاکخانی،وغيره متعلق واقع کيږی نوهغوی دغو محکموته راځی او ديوی يوی محکمې متعلق چه دغسی ډيری آباديانی وی او داسې آباديانی دکليو په نومو باندې مشهوره کوی نو په دی حکايت کې دغورکولونه معلوميږی چه داول قسم مجموعه کوم ته چه هلته محکمه ويل کيږی مصردی ،اوعرفاً دمحکمې لفظ دمصردلفظ سره مرادف دی اوددوهم

مجموعه کلی دی ،نویه همدي بناسره په مجموعه آبادی دقسم اول کې جمعه صحیح ده ،اویه مجموعه آبادی دقسم ثانی کې جمعه درسته نده ،اوس مستفتی صاحب په خپل مسئول عنهاصورت کې په همدي قاعدی باندي منطبق کولوسره دهغه موافق ځوآب باندي پوه شی ، نوچرته چه جمعه صحیح وی هلته د ظهر لمونځ ساقطیږی ،اوهلته چه جمعه صحیح نده د ظهر لمونځ فرض پاتي کیږی اودمصرداشتراط د روایتونونه ټول متون اوشروح اوفتاواگانی دمذهب حنفیه مملوءاو مشحون دی والله اعلم ۲شوال ۱۳۲۲ھ (امداد ص۵۷)

په قصباتوکې دجمعې جواز

سوال :(۵۴۵)زیدوائی چه دهندوستان په قصبوکې جمعه اوعیدین دحنفیه ؤیه نزدجائزندی ځکه جمعه اوعیدینولپاره مصر (ښار) کیدل شرط دی ،اوقصبی په کوم ترتیب ښارندی ،نه په عرف عام کې اونه بل کوم عرف کې په حدیث اوفقه حنفیه کې دوه لفظه راغلی دی ،یاد مصر (ښار) لفظ یادقریې (کلی) لفظ ،د قصبی لفظ کله هم ندی راغلی دقصبودوه حیثیتونه دی دیوه حیثیت نه خودغه ته ښاریامشابهه دښار ویلی شی ، په بل حیثیت سره کلی یامشابهه دکلیوویلی کیږی دکهینچ کهانچ ښارکې یې داخلوی خو دا صحیح ندی بلکه هغه په قریه (کلیو)کې داخلول پکاردی یوځیزهمیشه دارذل تابع وی داعلی دارذل تابع کیدلوکې هیڅ شک نشته بلکه یقینی وی اوداعلی تابع کول بی احتیاطی ده دهمدی لپاره په قصبوکې دجمعی او عیدینو منع کول پکار دی ، د زید دا وینا څنګه ده ؟ (۲) د ښار، قصبو او کلیو څه تعریف دی ددوی په تعریفونوکې درقبې او آبادی هم دخل شته اوکنه ؟بعضی حضرات وائی چه چرته دومره رقبه دومره آبادی وی هغه قصبه اوچرته چه دومره رقبه اودومره آبادی وی هغه ښار دی اودرقبې اوآبادی اندازه معلوموی خوددي سره داهم وائی چه وړی رقبی اووړی آبادی دزیات اوکم کیدوسره په تعریفونوکې فرق نه راځی ، خلاصه داده چه جامع مانع تعریف نه وائی کوم تعریف چه وائی هغه ماتیږی داځوهرحنفی پوهیږی چه زمونږ دمذهب له مخی په کلوکې جمعه اوعیدین جایز ندی مګردکلیودجامع تعریف په نه پوهیدوسره اوپه تعریف کې د رقبی اوابادی داخلولوسره اکثره غلط اختلاف اوتنازع پیدا ده د همدې په خاطردمانع او جامع تعریف اشدضرورت دی کوم خلک چه تعریفونوکې معینه رقبه اومعینه آبادی داخله ګڼی دهغوی استناد کوم حدیث اودفقه روایت څخه دی اوکنه ؟ (۳) یومقام په عرف عام کې قصبه نوروکلوته ویل اوګڼل کیږی لاکن داقصبه دخپلې رقبی یاخپلې آبادی په لحاظه سره

دومره وړه ده چه هغوته کلی ګڼل وویل مناسب وه نوآیاپه دغه قصبه کې جمعه اوعیدین نه منع کول وکړوعلی هذالقیاس هغه کلی دخپلې رقبی یا د خپلی ابادی په لحاظه سره دومره لوی دی چه هغه قصبه ګڼل اوویل مناسب ؤ،نو آیا په دغو کورونو کې دجمعی اوعیدینواجازه ورکړو؟ (۴) په سلطان پورملک اودضلع کې مسافر خانه یوځای دی که دهغه په آبادی باندي نظرواچول شی نویووړوکې کلی دی مګرهغه په عرف عام کې قصبه ویل اولیکل کیږی اودعرف عام په لحاظه سره غالباً په سرکاری کاغذونوکې هم قصبه لیکل کیږی،ددي حیثیت دادی چه دلته یوځ سړک شته دسورلی لپاره پخکړی میلاویږی،بازارشته چه روزمره دضرورت شیان ورکوی ،د آبادی نه بیرون په هفته کې غالبادوه ځله بازار کیږی په کوم کې چه دبهرنه خرڅونکې اخستونکې راځی ، دتیلوکارخانی شته ،ډاکخانه اوډیره لویه ډاکخانه شته یعنی شعبه دډاګخانی نشته سرکاری هسپتال (شفاخانه) شته،سرکاری سکولونه شته خودآبادی دکمبودیه خاطرد مدل کلاس پوري خوانده ګی نشته ، لکه څنګه چه په عام طوریه قصبو کې وی دریم درجی پوري خوانده ګی وی همغه شان چه په بانډوکې وی ،تهانه (دپولیسوچوکې) شته سرکاری عمارتونه شته دتحصیل عدالت شته ،دمنصفی عدالت شته ،دتحصیل خزانه بیله ده ، دډاګخانی متعلق دعواموبینګ جداده ،ډاګ بنګله جوړه شوی ده په کومه کې چه انګریزحاکمان په راتلوسره آرام کوی اودمقامی حکامو لپاره علیحده سرکاری یوځ ځای جوړیدونکې دی یوځ تالاب (حوض) شته دمسافرودمیشته کیدولپاره متعددسرایونه دی د دوو مسجد ونه په یوه کې جمعه کیږی دابادی نه بیرون عیدګاه جوړه شوی خلاصه داچه په لویو لویوقصبوکې کومی خبری تن صبا په عرف عام اوسرکاری عرف د انګریزی په لحاظه سره کیږی هغه ټولی په مجموعی ډول دلته په اتمه درجه موجودي نوایادآبادی دکمبوددلحاظ کولو سره داقریه اوکورونه ګرځول دغه ځایونوکې جمعه اوعیدین منع کول پکاردی اوکه عرف عام اودعرف عام دمؤیداتودلحاظ کولوسره دجمعی اوعیدینو اجازه ورکول پکاردی ؟ (۵) که کوم ښاریاقصبه دڅه سبب په خاطر بالکل تش شی اوڅوک سړی هلته پاتې نه شی اواتفاقاً څومسافریامقیم هلته راشی اوجمعه اوعیدین وکوی نوجمعه او عیدین کول به صحیح وی اوکنه ؟

جواب :فی الدرالمختار کمالورکع الامام قبل ان یکبرفان الامام یکبرفی الرکوع ولایعودالی القیام لیکبرفی ظاهرالروایات فلوعاد ینبغی الفسادوفی ردالمختارقوله فی ظاهرالروایة تبع فیه المصنف فی المنح والذی فی البحروالحلیة ان ظاهرالروایة انه لایکبرفی الرکوع ولایعودالی القیام وعلی ماذکره الکرخی ومشی علیه فی البدائع وهوروایة النوادر یعودالی القیام ویکبرویعیدالرکوع دون القراءة اه وهذه الروایة ایضاً تخالف مافی المتن نعم صرح بمثله فی البحروالحلیة والفتح والذخیرة فی باب الوتروالنوافل الخ قوله فلوعادینبغی الفسادتبع فیه صاحب البحر وقد علمت ان العودروایة النوادرعلی انه یقال علیه ماقال ابن الهمام فی ترجیح القول بعدم الفسادفیمالوعادالی القعودالاول بعد مااستتم قائماًبان فیه رفض الفرض لاجل الواجب وهووان لم یحل فهوبالصحة لایخل ج۱ص۸۷۳و ۸۷٤ وفی الدرالمختاروالسهوفی صلوة العیدوالجمعة والمکتوبة والتطوع سواء والمختارعندالمتاخرین عدمه فی الاولین لدفع الفتنة کمافی جمعة البحروافره المصنف وبه جزم فی الدرروفی ردالمختار قوله عدم فی الاولین الظاهران الجمع الکثیرفیما سواهماکذلک کمابحثه بعضهم (ط) وکذابحثه الرحمتی وقال خصوصاًفی زماننا وفی جمعة حاشیة ابی السعودعن العزمیة انه لیس المرادعدم جوازه بل الاولی ترکه لئلا یقع الناس فی فتنة اه ج۱ص۷۸۷) ددې روایتونونه دااموراستفادشول (۱) درکوع نه ګرځیدل پکارنه وو بلکه هغه تکبیرونه په رکوع کي ویل پکار وو (۲) لکن په ګرځیدلوسره لمونځ نه فاسدیږی (۳) سجدهٔ سهوه هم مناسب نه وه (۴)لاکن وی کړله نوهم جائزشوه دخواب خلاصه داچه لمونځ اوقربانی تول صحیح شول ۵ذی الحجه ۱۳۳۳ه تتمه ثالثه ص۱۱۹،

دخطبة الوداع تحقیق

سوال :(۶۲٤)څه فرمایي ددین علماء اودشرع متین مفتیان په دی کي چه دعید او آخره جمعه درمضان په خطبه کي لوستل دلفظ دالوداع والفراق السلام دنبوی سنت موافق دی یاسنیه بدعت اوناجائز؟ دعدم جوازپه تقدیرکي په مجوزینواومعتقدینودهغه چه په جن

اوزړه سره ددې قدیم رسم په ابقاء کې کوشش کوی دغه اشریعت اوبیضاءملت مطابق څه حکم
نافذشوی اوفسق ته به منسوب شی اوکنه بینوا توجروا؟

جواب: دخطبة الوداع حاصل اظهاردتاسف دی درمضان په انقضاء اوداسې تاسف دنبوره حضرت یادسلف صالحونه په خیرالقرون په کرم خای کې منقول شوی ندی البته تنویه په مجئې درمضان اوتنبیه په فضل دهغې په حدیثوکې راغلی دی .چه دشعبان په آخره جمعه کې بې وفرمایل نوهغه پرېښودل او د رمضان اخری جمعې لپاره خاصه خطبه مقررول ظاهره ده چه تغیردمشروع اوقلب دموضوع دی .بلکه که ښه سوچ وکړی دتاسف په خای یونوع سروراوخوشحالی دهغې په خلاصیدوباندې مطلوب ښکاری .لکه چه په حدیث کې منصوص دی . للصائم فرحتان عندالافطاروفرحة عندلقاء ربه اوظاهره ده چه که درمضان دخلاصیدوپه وخت تاسف مشروع وی یوه برخه دهغه تاسف ددې داجزاو دانقضاء په وخت چه دهری ورځی روژه ده به هم مشروع وای .هرکله چه ددې داجزاء دانقضاء په وخت کې چه ورځوکې افطاراو سرورمحمودشو .لامحاله د مجموعه دانقضاء په وخت چه لوی افطار دی هم فرح اوسرور مقصود شو ، نودتاسف اظهارددغه ماموربه سره مزاحمت دی ، اوهمدارنګه دمغفرت وعده اوبشارت چه دعید قدوم متعلق په نصوصوکې واردشوی مشعردی په عدم استحسان دتاسف په مقدمه دهغه چه انقضاء درمضان ده ، لان مقدمة الشئ فی حکم ذلک الشئ اوکه ددغودلائلونه قطع کولوسره په اباحت باندې قائل شی . غایت مافی الباب دهغه مطلق اباحت به مسلم شی مګرهرکله چه په هغه کې علمیه وعملیه منکرات دالتزام اودهغه دلزوم داعتقاددهغه نه په عامل اوعوام کې منضم شو ، لامحالة دنورو بد عتونوپه شان چه بعضی دهغو فی نفسه مباح وی لاکن دداسې مفاسدوپه انضمام سره واجب الانکارکیږی ،دابه هم قبیح اوشنیع وی اوداچه دبعضوبدعتونو قبح غامضه وی مصلحینواومنکرینوته لازمه ده چه په دا سی بدعتونو کې په عامل اوملتزم باندې تشددونکړی ، چه اکثراً د زیادت اودو نوع اصرارمضمون ،اذاقیل له اتق الله اخذته العزة بالاثم باندې منجر کیږی بلکه په رفق اولطف سره دی هغوی راوباسی ،والله الموفق والله اعلم ۲۸ رمضان ۱۳۳۲ هـ (حوادث ثالث ص۱۵۳)

په قریه کې دجمعې دترک نه دفتنې دوقوع په وخت کې داحتیاط طریقه

سوال: (۶۲۵)دلته د مبتدعینوبی اندازې زوردی لکه چه دبدعت دشدت داحالت دی چه په هرکارکې یونوی صورت پیداکولوسره پاتې کیګی ، خما په رفع سبابه سره هم څه پوزی

نیغیګی څکه چه دایوه قریه ده دهمدې لپاره دلته دجمعې لمونځ جائزندی اودغه خلک نی کوی ، زه نی نه کوم دهمدې لپاره هغوی ماته غیرمقلدوائی ممکن دی چه څه وخت وروسته دغه مخالفت اونصرت نازک حالت اختیارکړی دعاوفرمائی چه الله جل جلاله مونږددې دلی دچلونونه په امن کې کړی همدارنګه دجمعې کولوپه حقله څه حکم دی ؟

جواب: که دناقابل تحمل فتنې احتمال قوی وی نومقتدی جوړېدو سره جمعه وکړه بیامنفرداً ظهروکوی (تتمه خامسه ص۴۶)

دشافعي مذهب په اختیارسره دحنفیه ؤلپاره په کلیو کې دجمعې دکولوحکم

سوال: (۶۲۷) ددین علماء اودشرع متین مفتیان په دی مسئلی کې چه په بعضوقریوکې په هرکلی کې دجمعې لمونځ کوی دخلکوشمیره کې ډیروی اوکه لګ .اوداحنافویوه ډله علماء وائی چه اګرکه خمونږپه مذ هب په کلیوکې دجمعې لمونځ رواندی مګرمونږپه دی مسئلی کې د نورو ائمه ؤپه مسلک عمل کوو، دهغوی ویناڅنګه ده ؟ اوکه دا حنافو یوڅوک په کلیو کې دجمعې لمونځ اداء کړی نوددمی نه به ئې دظهر لمونځ ساقط شی اوکنه ؟ مدلل اوصفاء خواب تحریروفرمائی؟

جواب: عدم صحت دجمعې په کلیوکې عندالاحناف ظاهردی اوهغه ئې چه دشافعیه ؤپه مذهب کوی اوظاهره ده چه هغوی دلمانځه نور فرضونه چه دشوافعویه نزدثابت دی په عمل کې نه راولی لکه قراءة خلف الامام ، اوهمدارنګه دمصاینوعددچه دشافعیه ؤپه نزدمعتبردی رعایت نه کوی نوددوی جمعه نه عندالحنفیه درسته شوه لعدم قول الحنفیة بالجمعة فی القری اونه عندالشافعیه به درست وی ، لعدم شرائط صحة الصلاة اودی ته تلفیق وائی چه فقهاء هغه ته باطل ویلی دی فافهم ۹ ربیع الاول ۱۳۳٤ هـ (تتمه رابعه ص۱۶)

تحقیق دعدم صحت قیاس دجوازدجمعې په قری کې په اجتماع دمسلمانوپه امردسلطان سره

سوال: (۶۲۸)په امدادالفتاوی ج۱ص سطرکې کومه مسئله دجوازجمعه فی القری بامر السلطان په باره کې مذکورده په دی کې ماته اشکال پیداشوی دامدادالفتاوی عبارت دادی س دافغانستان هیوادکې دا قاعده ده چه دامیرصاحب خلدالله تعالی ملکه په فرمایش

دبعضی علماؤیه تحریک په قریوکې جمعه اداء کوی اودځلور پنځو کلیو لپاره یوخطیب دامیرله طرفه مقرر وی، فقط دپادشاه اذن د مصرد اشتراط نه مغنی گنی،په دی علاقی کې که کوم ځای جمعی ته حاضرنشی خطیب صاحب انکارکوی کله کله نوبت امیرته دشکایت رارسیږی په مذکوره صورت کې جمعی دوه رکعته دظهرخلف کیږی اوکنه داذان په تاخیرکې په عذراوحیلی سره به آثم وی اوکنه ؟

جواب :قال الشافعی قال ابوالقاسم هذابلاخلاف اذااذن الوالی القاضی الی قوله وصلواف القری لزمهم اداء الظهروهذااذالم یتصل به حکم فان فی فتاوی الدیناری واذابنی مسجدبامرالامام فهوامر بالجمعة اتفاقاً.نوپه مسئوله صورت کې جمعه صحیح ده لاکن د حکومت دتبدیلی په وخت کې دسابقه امیراجازه کافی نده دنوی امیر اجازه شرط ده ، قال الشامی لایبقی الاالیوم الاذن بعدموت السلطان الاذن بذلک الااذااذن به ایضاسلطان زماننانصره الله . ص ۸۴۰،والله اعلم.ماته په دی کې دااشکال دی چه هرکله دفقهې له مخی په لویو ښاروکې هم دپادشاه اذن دجمعی لپاره شرط دی که هلته پادشاه دکوم عناد وغیره په سبب دجمعی اذن ورنکړی یاپادشاه غیرمسلم وی،نومسلمانان به څپل مینځ سره یوځای کیدلوسره یوامام جوړولو سره جمعه اداکړی نوپه مذکوره صورت کې دامدادالفتاوی نه لازمیږی چه فقط دپادشاه امردجمعی لپاره ضروری دی. ښاروی اوکه نه وی. لهذاهرکله چه په ښارکې دپادشاه داذن نه بغیرهم په اتفاق سره جمعه کیږی،نوپه کلی کې هم بغیرداذن دپادشاه،خکه چه اوس مخصوصامسلم پادشاه نشته ، که قوم اتفاق کولوسره دجمعی لمونځ وکړی نوپه دی کې دجوازامکان نشته اوکنه ؟ خکه چه په فقه کې اتفاق دقوم دپادشاه داذن قایمقام گرځول شوی دی. نولکه څنگه چه په مذکوره صورت کې دپادشاه په اذن سره په کلی کې جمعه کیگی همداشان اوس په دی زمانه کې دقوم اتفاق سره په کلی کې کیدل پکاردی بس همدااشکال دی خواب تحریرفرمایلوسره د اشکال دفع وفرمائی فقط؟

الجواب عن الاشکال دجمعی داقامت فی القری بامرپادشاه دامبنی ده چه فعل مجتهدفیه یعنی مسائل مختلف فیهاسره چه هرکله دسلطان امریادقاضی قضاء میلاوشی نوبیامامورته په دی مسئلی کې دخپل مجتهد تقلیدپرینښودل واجبیگی.او ظاهره ده چه په دی امرکې دمسلمانا نوجماعت دسلطان قائمقام ندی لکه چه که جماعت دمسلمینوته په کومی مسئلی کې تقلیددترکولوامروکړوهلته دتقلیدترک جائزندی اودجماعت نیابت مناب سلطان صرف په

انتظامیه کارونوکې ده،نوددې لپاره چه دجمعی لپاره دسلطان وجود مقصودأشرط ندی صرف رفع دنزاع فی التقدیم والتقدم دی لکه چه په هدایه کې مصرح دی، اوداکارانتظامی دی دلته جماعت دامام قائمقام کیدلی شی نودیوه امرقیاس په بل با ندی مع الفارق دی ۳۰ رمضان ۱۳۳۶(تتمه خامسه ص ٦٤)

کله چه سلطان حنفی وی په قریه کې دجمعی

داداء کولود حکم دنه نافیذودشبهی رفع

سوال :(٦٢٩)هرکله چه سلطان اووالی دامام ابوحنیفه مقلدوی نوهغوی ته دخپل امام دمذهب خلاف په کوم اساس باندې اذن داقامت دجمعه فی القری امکان شته کماقی الدرالمختار واماالمقلدفلاینفذقضائه بخلاف مذهبه اصلاکما فی القنیة قلت ولاسیماق زماننا.اوکه دامام دمذهب خلاف یادشافعی مذهب کیدلوپه سبب سره داقامت جمعه فی القری اجازه ورکړی نوحنفیه مقلدلپاره هم همدااجازه دصحت جمعه فی القری به کافی وی اوکنه ؟

جواب :دابیله خبره ده چه داکارخپله دسلطان وغیره لپاره په کوم حالت کې څنگه ده ددې حکم حاصل خوصرف دادی چه که سلطان داسې وکړی نوددې به اثرڅه وی نوددې اثرصحت دجمعی دی اوددې اثرقبلول خپله د حنفیه مذهب اتباع دی اگرکه دغه فعل په کوم خاص حالت کې دسلطان د مذهب موافق نه وی اودډرمختارعبارت دهغې مخالف ندی خکه چه د هغه نه مرادهغه مقلد دی چه کوم سلطان دتولیت په وخت کې دقضاء بخلاف مذهبه نه صراحة یادلالة منع کړی،کنه نو که سلطان هغه ته اذن ورکړی وی نودهغه هم همداحکم دی ،اوچون په سلطان باندې څوک والی نه وی دهغه اذن مطلقانافذدی ۱۳ذی القعده۱۳۳۲ھتتمه خامسه ص۷۲

دجمعی دجوازپه قریه کې لپاره داشرط کیدل

چه په هغی قریې کې دبل مجتهدپه نزد صحیح وی

سوال :(٦٣٠)هغه کومی قریې دی چه په اذن سره په هغوکې دجمعی صحت وی علی العموم برابره خبره ده چه لس دولس کوره وی اویا د هغو کوم تخصیص شته ؟

جواب: صرف یوتخصیص شته یعنی هغه قریه داسې وی چه هلته یونه دیوه مجتهدپه نزدجمعه صحیح وی اوداخبره دمذاهب اربعه کتابونودلیدلونه معلومیږی ،ځکه چه ددې فرعی مبنی دااصل دی چه الحکم الاالاقی فصلاًمجتهدافیه نفذ۱۳ذیقعده ۱۳۳۲ه(تتمه خامسه ۷۳)

دمصرد تعریف متعلق د اختلافونو سوال اوځواب

سوال: (۶۳۱) یوه وړه قریه ده چه هرڅوک ورته قریه وائی هیڅوک هم ورته قصبه یابنارنه وائی ،دری مسجده په کې شته ،که دهغه ځای اوسیدونکې په لوی جمات کې راټول نه شی نوهلته به جمعه قائمول د لاندې روایت مطابق صحیح وی اوکنه؟په درمختارکې دی المصرو هومالایسع اکبرمساجداهله الخ ، یا ددې تعریف نه علاوه کوم بل تعریف هم شته،نوبیان یې وفرمایې تتمه دسوال دقول البدائع ص۴س ۲ کې راغلی دی چه دااختلاف عنوان دی د معنون ندی اوعلامه شامی د درمختاردقول لاندې داليکلی دی ،قوله لايسع الخ ، هذايصدق على كثيرمن قرى،ددې نه څرګندیږی چه دوتعریفونه دغواکثروقریوباندې نه صادقیږی،نوکه ددې تعریف اونوروتعریفونوترمینځ تباین نشته نوعموم اوخصوص خوضرورشته ددینه جوته شوه چه دااختلاف په معناګانوکې هم نشته فقط ددې عنوان تصفیه وفرمایې ؟

جواب: په دغوتعریفاتوکې دوه احتمال دی،اختلاف دعنوان او اختلاف دمعنون نودشامی یاطحاوی اختلاف معنون ګڼل په نورو باندې حجت ندی ځکه چه دایوه توجیه ده فتوی اوحکم نده نوهغوبه د تطبیق قایل نه وی مونږ دتطبیق قایل یو ،پاتې شوه داچه دعدم تطبیق دقول نه وروسته دهغوی څه فتوی ده دابیله خبره ده ،اودپورتنی تحقیق نه وروسته داحقردتوجیه حاصل دادی چه دمصریه تعریف کې حنفیه فقهاؤ مختلف ندی نوکه دکوم مصنف اومحشی په نزدمختلف فیه وی نومونږ ته به څه مضروی مونږبه دغومختلف فیه کې په دلیل سره یوه ته ترجیح ورکوو.۱۳ذی القعده۱۳۳۷ه(تتمه خامسه ص۷۲)

یوسوال اوځواب راغلی ؤاودلته دهغه تصحیح

وکړی شوی وه دهغه دمفیدکیدوپه سبب ټول نقلولی شی

سوال: (۶۳۲) ددین علماء اودشرع متین مفتیان څه فرمایې په دی مسئلې کې چه په کوموم‌قاماتو کې د اسلامی آبادی دومره وسعت وی چه د هغه ځای په لوی مسجدکې

مسلمان نشی راټولیدلی ،ددې نه عام چه دهغه ځای ټولونه لوی مسجدنورو ځایونودټولونه وړو کې مسجدوی اویه دی مقام باندې ولی اطلاق د کوروتو د لفظ نشی کولی ، داسې مقام ته په قول اصح المصر مالايسع اكبرمساجداهله ، شرعی مصر ویل کیږی او جمعه به په هغه ځای کې درست وی اوکنه ؟ د مصر د فناء تعریف اودهغه مسافه څومره ده اود مصراوفناء مصریه اوسیدونکوباندې جمعه واجب ده اوکنه بینواتو جروا؟

الجواب من متلص الرحمن موضع حافظ پورواکخانه منصر وی ضلع ډهاکه

حامداًومصلیاًدمصریه تعریف کې چه کوم اقوال مذکوردی یوهم د هغونه دمصرحدنه دی چه په دی شان وی چه ، كل ماصدق عليه الحد صدق عليه المحدودبالعكس اى كل ماصدق عليه المحدودصدق عليه الحد، بلکه هغوه ټول تعریفونه رسوم دی،ځکه چه دحدتعدد محال دی اودرسوموجائز دی ،دمصریه تغیرکې چه فقهاؤکوم مختلف تعریفونه بیان فرمایلی دی دهغویه غورمطالعه کولوسره دا معلومیږی چه داټول اخلاقات دعنوان اختلاف دی نه اختلاف دمعنون یعنی دالفاظوبیان جداجدادی اودټولو مصداق یو دی، ټولو خلکو د خپلې زمانې په اعتبارسره چه کومی علامې دمصرپیداکولی بیان کړی دی په اوله زمانه کې په امصاروکې اکثرأحدوداوقصاص ول ،اودخصوما تودفیصلی لپاره قاضی ؤ،په دهاتوکې هغه کارونه نه ول چه نن صبا دی،کچری فوجداری ،منصفی وغیره په دهاتوکې نه ؤ،دهمدې لپاره راتلونکو خلکوهمداعلامې بیان کړی بیاکله چه په زمانه کې تغیر راغی نوهغه علامې لری شوی اوخلکومختلف تعریفونه وکړل بلکه دیو نه یوسړی نه څوڅوتعریفونه دفقهې په کتابونو کې مروی دی او داالمصر مالايسع اكبرمساجده اهله ، تعریف هم په همدې بناء باندې صحیح دی هرکله چه دیته رسم ناقص اوعلامه ویل کیږی اوکه حد وویل شی نویه دغه تقدیرباندې لازمیږی چه مدینه اومکه مصریاتې نشی او دغو دواړو ځایونو کې جمعه درسته نه وی ځکه چه په موسم حج کې دټولې دنیاحجاج جمع کیږی،بیاهم مسجد تش پاتې کیږی نو لایسع چرته شوه بلکه یسع صادق شواوکوم تعریف چه په مکه مدینه باندې صادق نه شی هغه صحیح ندی لکه چه په کبیری دی ،اختلفوا فی تفسیرالمصراختلافاً کثیراوالفصل فی ذلک ان مكة والمدينة مصران تقام بهماالجمعة من زمانه عليه الصلوة والسلام الى اليوم فكل موضع كان مثل احدهمافهومصروكل تفسيرلايصدق على احد همافهوغيرمعتبر حتى التعريف الذى اختاره جماعة

من المتاخرین کصاحب المختاروالوقایة وغیرهماوهومالواجتمع اهله فی اکبر مساجده لایسعهم فانه منقوض بماذکل منهمایسع اهله وزیادة ولم یعلم ان مکة والمدینة فی زمان النبی ﷺ واصحابه اکبر مما هی الان ولان مسجدهاکان اصغرمماهوالان فلایعتبرهذا التعریف،ددینه وروسته فرمایی (والحد الصحیح مااختارصاحب الهدایة انه الذی له امیروقاض ینفذالاحکام ویقیم الحدودوتزییف صدرالشریعة له عنداعتذاره عن صاحب الوقایة حیث اختارالحد المتقدم ذکره لظهورالتوانی فی احکام الشرع سیمافی اقامة الحدود فی الامصارمزیف اوچاچه په دی تعریف کښي دحدودو داقامت قید لګولی دهغه مرادقدرت داقامت دحدودو دی نه اجراء دحدودبالفعل کمافی الشامی بان المرادالقدرة علی اقامة الحدود) هو د مذکوره تعریف یعنی المصرمالایسع الخ دصحت صورت داکیدلی شی چه هر کله دیته رسم ناقص او د مصر علامی ویل کیږی خکه چه په مصرکښي اکثرمتعدد مسجدونه وی اوپولوی مسجدداسي وی چه هلته دهغه خاي خلک راټولیږی داعلامات اوعوارض دی نه د مصرحقیقت ترڅو لازم شی چه دهغودارتفاع نه هغه ښارونه مصرپاتي نشی .بلکه دمصر اوقریه کیدومدارپه عرف باندي دی چه په عرف کښي کومه آبادی لویه وی دومره چه خلک دغه ته ښاریاقصبه وائی اوهغه لویه قریه چه د قصبی سره مشابه وی اوهلته دکانونه بازارپه کثرت سره وی اوپه دی شان سره وی چه داطلاق په وخت کښي اګرکه په فلان کلی اویابازارسره موسوم کوی. لاکن که څوک دیته ښاروروائی نوهغه تسلیموی او هیڅوک هغه رد اوتکذیبوی نه خلاصه داچه دآبادی نه علاوه کوم خاي کښي چه بازاراودکانونه وی اود خرڅولواواخستلو لپاره کوم بیرون بل خای ته نه تلل لازم شی داسي آبادی ته قریه کبیره اوشرعی مصر ویل کیږی.عرف هم ددي دمصرکیدلونه انکارنه کوی په داسي آبادی کښي جمعه جائزدی کمافی الشامی وتقع فرضافی القصبات والقری التی فیهااسواق ، اوکوم کلی چه په دی شان نه وی هغه دښارلفظ سره اطلاق کول هرخاص اوعام ردوي اوهغه قایل که په دي اصراروکړی نوکذاب اشراومجنون فیداوی ویلوسره بي دفع کوم. داسي آبادی ته عرفاً وشرعاً قریه ویل کیږی په داسي کلی کښي که اکبرمساجدوی نواتفاقی امردی چه دیته هیڅ اعتبارنشته اودحنفیه د مذهب له مخی دجمعی اوعیدینولمونځ په داسي قریه کښي ناجائزاومکروه تحریمي دی کمافی القنیة صلوة العیدفی القری تکره تحریما، اوپه شامی کښي دی قوله صلوة العیدالخ ومثله الجمعة ، یعنی دعیدینوپه شان دجمعی لمونځ هم مکروه

تحریمی دی .دمصردفناتعریف دادی چه دکوم خاي سره دمصرد اوسیدونکومصالح اواغراض متعلق وی هکوم مقداراو مسافی تحدید نشته. علامه شامی فرمایي (والتعریف احسن من التحدیدلانه لایوجدذلک فی کل مصروانماهوبحسب کبر المصرو صغره بیانه ان القدیربغلوة اومیل لایصح فی مثل مصرلان القرافة والترب التی یلی باب النصریزیدکل منهماعلی فراسخ من کل جانب ثم هوممکن لمثل بولاق فالقول بالتحدید بمسافة یخالف التعریف المتفق علی ماصدق علیه بانه المعدلمصالح مصرفقدنص ائمة علی ان الفناء مااعدلدفن الموتی وحوائض المصرکرکض الخیل والدواب وجمع العساکرو الخروج للرمی وغیرذلک.دمصراوفناء مصرنه بیرون اوسیدونکو باندي جمعه واجب ده لکه چه په فتاوی خانیه کښي دی (ومن کان مقیماعمران واطرافه ولیس بین ذلک الموضع وبین المصر فرجة فعلیه الجمعة ولوکان بین ذلک الموضع وبین عمران فرجة من المزارع والمراعی نحوالقلع ببخارالاجمعة علی اهل ذلک الموضع وان کان النداء یبلغهم الغلوة والمیل والامیال لیس بشئ هکذاروی الفقیه ابوجعفرعن ابی حنیفة وابی یوسف رحمهماالله تعالی وهواختیار شمس الائمة الحلوانی - والله اعلم وعلمه اتم)

تصحیح الجواب من صاحب الفتاوی نعم التحقیق ونعم التطبیق فی الجزء الاول یعنی مایتعلق بتعریف المصروامالجزء الثانی ای وجوب الجمعة اوعدم وجوبهاعلی اهل الفناء فمختلف فیه ونقل هذا الاختلاف مع تصحیح بعضهافی ردالمحتارص۸۵۲ج۱ ،ولم یحضر لی الی الان التنقیح فیه لکن یلتصق بالقلب وجوبهاعلیهم ،والله اعلم ۱۲ شوال ۱۳۳۷ھ (تتمه خامسه ص۹۲)

دمصرپه تعریف کښي داختلافاتو متعلق دسوالاتو ځواب:

سوال :(۶۳۳)دیوی شرذمة قلیله اوفتنه شاذه دعوی ده چه دنصاری ؤیه علاقه کښي لکه دبهارت په هندوستان اوبنګاله کښي برابره خبره ده چه عرفی ښاروی اوکه قصبه وکبیره قریه ووائی دجمعی لمونځ صحیح ندی اوکونکښي ئی مخطی او مغالطه کښي دی او د هغوی مستدل دادی چه دجمعی دصحت لپاره مصر شرط دی او د مصرتعریف په ظاهر الروایة کښي دادی المصرکل موضع له امیروقاض اه ، دکوم نه چه صفا پوهیدلی شی چه دامیراوقاضی نه بغیرمصرنشی کیدلی چه څومره لویه آبادی وی لکه چه دقاضیخان عبارت څمونږ دعوی صاف طورواضح کوی .خکه چه په قاضیخان کښي دحصرسره لیکل شوی دی ، ولایکون

الموضع مصرافی ظاهرالروایة الاان یکون فیه مفت وقاض اه .اوهمدارنګه دمالابدمنه عبارت هم په دی مدعاباندې صفادلیل دی حیث قال یو مصریعنی هغه ښارچه هغه کې امیراوقاضی وی ،اوداکبرمساجدو الاقول اولاً دهغه مصداق مکه معظمه همه نشی کیدلی ،ددې لپاره چه دهغه خای تول مصلی په حرم شریف کې راتولیدلی شی ددینه علاوه داکبرمساجدکوم تعین نشته.نوبعضی واره کلی په اعتبارد صغرد مسجد مصر ویل کیدلی شی ،اودبعضی لوی کلی هم دمسجد دکبرپه تقدیرکلی بلل کیږی ،او تولونه لویه خبره داده چه دظاهر الروایة په مقابله کې ددې هیڅ حیثیت نشته ځکه چه دقواعدفقهیه په اساس ظاهرالروایة همیشه ماخوذبهاوی اوددې مخالف مرجوح اویه مرجوح باندې عمل داجماع ماتول دی.اوهمدارنګه کوموفقهاؤ چه په اکبرمساجدباندې فتوی ورکړی ده په هغوی کې یوهم په اصحاب ترجیح اوارباب تصحیح کې نه دی لهذاساقط عن الاعتبارده اوصاحب هدایه چه په اصحاب ترجیح کې دی،هغه هم ظاهرالروایت والاقول ته ترجیح ورکړی ده حیث قال والاول اختیارالکرخی والثانی اختیارالثلجی دهمدی لپاره چه په نقل اقوال کې ماهرالمذکوراولاً هغومختار کیږی.لکه چه ددې مصطلحاتونه واقف دی اودمختار کرخی دمختارثلجی نه په دی ترتیب هم په درجوسره مختارول پکار دی ،ددې لپاره چه بینهما تفاوت فی المراتب ډیردی اودکفاروپه بلادکې دجمعه دکولوکوم صورت چه په معراج الدرایه کې بیان شوی دی په هغه کې هم شرط دادی چه مسلمان والی دمسلم نه التماس کولوسره مسلم والی مقررکړی اوبیادمسلمانانوپه خوښی سره یوقاضی هم تعین شی، او خمونږپه علاقوکې داکله هم نشته .په هرحال په ښار یاقصبه یاکبیره قریه کې دجمعی دجوازپه باب اجازه دحاکم ضروری شوه او همدارنګه د جمعی دصحت لپاره سلطان یوجدامستقل شرط دی داهم نشته ،ددینه علاوه عامه اجازه چه یودریم شرط دی دجمعی دصحت لپاره ددې وجود هم دسلطان په متعلقاتوکې ؤواذلیس فلیس لهذاپه بهارت کې جمعه قائمول ددری واړوشرطونوخلاف ملاتړل دی بلکه دحنیفه فقهاؤ سخت مخالفت کول دی نودفقه حنفیه مطابق دنصاری ؤپه حکومت اوعلاقه کې چه داکثردرابې په موجب دارالحرب دی دجمعی دجوازصحیح دلیلونه بیان فرمایلوسره دماتعینودشبهاتو کافی اوشافی خواب عنایت وفرمایې؟

جواب: فی النهایة شرح الهدایة للعینی قوله والمصرالجامع الخ قداختلفوا فیه فعن ابی حنیفة هومایجمع فیه مرافق اهله وعن ابی یوسف کل موضع فیه امیروقاض ینفذالاحکام ویقیم

الحدودوهکذا وری الحسن عن ابی حنیفة فی کتاب صلاته وفیه ایضاًقال سفیان الثوری المصرالجامع مایعدالناس مصراًعندذکرالامصارالمطلقة کبخاراوسمر قندوقال الکرخی هوماقیمت فیه الحدودونفذت فیه الاحکام وهواختیارالزمخشری وعن ابی عبدالله البلخی انه قال احسن ماسمعت انه اذااجتمعوافی اکبرمساجدهم لم یسعوافیه فهومصر جامع وعن ابی حنیفة هوبلدة کبیرة فیهاسکک واسواق ویرجع الناس الیه فی ماوقعت لهم من الحوادث اه وفی الهدایة فی علة اشتراط السلطان لانهاتقام بجمع عظیم وقدتقع المنازعة فی التقدیم وقدتقع فی غیره فلابدمنه تتمیماللامرهاوفی ردالمحتارعن التحفة بعدنقل تعریف ابی حنیفة وهذاهو الاصح اه الا ان صاحب الهدایة ترک ذکر السکک والرساتیق لان الغالب ان الامیروالقاضی الذی شانه القدرة علی تنفیذالاحکام واقامة الحدودلایکون الافی بلدکذلک اح وفی الدرالمختارونصب العامة الخطیب غیرمعتبرمع وجودمن ذکرامامع عدمهم فیجوزللضرورة وفیه السابع الاذن العام من الامام وفی ردالمحتارقوله من الامام قیدبه بالنظر الی المثال الاتی (من قوله دخل امیرحصناالخ) والافالمراد الاذن من مقیمهالمافی البرجندی من انه لواغلق جماعة باب الجامع وصلوافیه الجمعة لاتجوزاسمعیل اه) دپورتنیومجموعه روایتونونه لاندې کارونه مستفاد شول اول دمصر تعریف دائمه ؤپه مختلفوعبارتونوکې منقول دی اودائمه ؤپه اصل کلام کې تعارض نشته ،الان یتعذرتوددې صورت دادی چه دغه تول تعریفاتوته دمعنون واحدعنوانونه وویل شی ،چه حاصل به یې داشی چه کوم ته شرعاښارویل کیږی هغه ښاردی اودقضاتووغیره وجودتول امارات دی ،نویه دی بناء باندې په هندوستان کې سل ګونه ښارونه دی،اوقصبات هم په ښارونوکې داخل دی ځکه چه عوام په خپلو خبرواتروکې هغوته هم ښاروائی،په محاوراتوکې فرق کول دخواصو عادت دی،دوهم دسلطان اشتراط دقطع تنازع سره تعلل دی،نوکه عام مسلمانان یوخای کیدلوسره داتفاق وکړی اګرکه هغه حاکم نه وی نوکافی ده البته که امام وی نودعوامومقررول کافی ندی،دریم په عام اذن کې امام شرط ندی نویه هندوستان کې په ډیروخایونوکې دری واړه شرطونه پیداکیږی دهمدی په خاطربلاشبهه جمعه صحیح ده داخودسلب کلی رفع ده چه ویل کیږی چه جمعه چرته هم جائزنده . باقی دسلب کلی درفع سره د.ایجاب کلی تحقیق لازم ندی چه په هر خای کې جمعی ته صحیح ووایو بلکه صرف ایجاب جزیې لازم دی ،چه چرته

داشرطونه دنورو شرطونوسره پیداشی هلته جمعه صحیح ده والله اعلم ۱۱/رجب ۱۳۵۲ھ (النورص ۸ جمادی الاخری ۵۳ھ)

دمحاذات مشروط کیدل اوداامام نزدیوالی په اذان بین یدی المنبرکي

سوال :(۶۳۴)په دی باب کي دعلماؤځه تحقیق دی چه دجمعی داذان ثانی کول چه عندالمنبریامابین یدی الخطیب لیکل شوی یامرادورنه مطلق قرب دی خواه بالمعنی المتبادریاددینه عامه یابرابره خبره ده چه مع المحاذات یاددینه عام افیدوناد متم مفیدین ؟

جواب :داکثره کتابونوعبارت خودوه وجهینوته محتمل دی خودجامع الرموزعبارت صریح ده په قرب متبادراومحاذات کي وهوهذه بین یدیه ای بین الجهتین المسامتتین الیمین المنبراوالامام ویساره قریباً منه ووسطهمابالسکون فیشمل مااذااذن فی زاویة قائمة اوحادة اومنفرجة والحادة اذاکان فی غیرحذائه وصورتهما هکذاوقلت دلیل ذلک کلی التوارث قرب ۱۳۳۷ سه تتمه خامسه ص ۷۷ نقشه)

وقلت　مؤذن مؤذن

خلاصة الکلام فی اذان الجمعة بین یدی الامام :

سوال :(۶۳۳)داامرخومتحقق دی چه اذان ثانی دیوم الجمعة دمسجد په داخل کي جائزدی ،بلکه همدامتوارث دی (واذانودی للصلوةمن یوم الجمعة الاية، النداء الاذان اه تفسیرنسفی ای اذان هاه بیضاوی اطلقه وله اذانان اذان خارج المسجدواذان بعده بین یدی المنبراذا جلس الخطیب علی المنبراه تبصرة الرحمن والمعتبراول اذان بعدزوال الشمس سواء کان علی المنبراوعلی الزوراءیجب السعی وترک البیع بالاذان الاول لقوله تعالی فاسعواالی ذکرالله وذرواالبیع ،واختلف المرادبا لاذان الاول قیل الاول باعتبارالمشروعیه وهوالذی بین یدی المنبرلانه کان اولافی زمنه علیه السلام وزمن ابوبکروعمرحتی احدث عثمان الاذان الثانی علی الزوراء حین اکثرالناس والاصح ان الاول باعتبارالوقت وهوالذی یکون علی المنارة بعدالزوال انتهی مستملی وکذلک فی الهدایة وحاشیته الکفایة والعنایة وغیرهامن المتون والشروح والحواشی والفتاوی- وفی حاشیة

الشیخ وجیه الدین علی شرح الوقایة اذن ثانیا بذلک جری التوارث من لدن رسول الله ﷺ الی هذا الزمان الاذان امام المنبراه وفی العنایة شرح الهدایة وکان الحسن بن زیاد یقول المعتبرهوالاذان علی المنارة لانه لوانتظرالاذان عندالمنبرتفوته اداء السنة وسماع الخطب کذافی تنشیط الاذان (۱۰ص) وفیه ایضاً عن مبسوط السرخسی والمعتبراول اذان بعدزوال الشمس سواء کان علی المنبراوعلی ازوراء اه،په دغوعبارتونوکي علی المنبرعندالمنبر،امام المنبربین یدالمنبر داټول الفاظ داظاهره وی چه اذان ثانی دمنبرمخی اوهغه ته نزدی پکار دی ،خوددي قرب داول صف سره محدودول صحیح ندی،قال فی جامع الرموزاذا اجلس الامام علی المنبراذن اذاناً ثانیاً بین یدیه ای بین الجهتین المسامتین لیمین المنبراوالامام ویساریه قریباً منه ووسطهمابالسکون فیشتمل مااذااذن فی زاویة قائمة اوحادة او منفرجه اه من التنشیط (۱۰ص) په دی کي قریباً دمنه قیدخوشته لکن داول صف قیدنشته اودکوم عبارتونوله خلاصی نه چه درام پوربعضی مفتیانوداول صف قیدثابت کړی دی دهغونه استدلال نشي کیدلی ، ځکه چه دخلاصی صحیح عبارت دادی .ویکره البیع والشراء یوم الجمعة اذااذن المؤذن والبیع جائز والاذان المعتبراذان الخطبة الصف الاول فی المقصورة ومنهم من قال مایلی المقصورة وبه اخذالفقیه اه (ص۲۱۳ج۱) اوپه بعضونسخوکي چه دغه عبارت دفی دلفظ د زیادت سره په دی ترتیب دی والاذان المعتبراذان الخطبة فی الصف الاول فی المقصورة الخ . نودازیادت دفی صحیح ندی ،ځکه چه پدې صورت کې به مطلب داوی چه دخطبی اذان په اول صف کي وی اوپه مقصوره کې وی،په داسې حال کې چه په مقصوره کې داذان کیدلو سره دامام اومنبر مساحت بالکل فوتیږی اودفقهاؤدمذکوره الفاظونه دامعلومیږی چه اذان دامام اومنبرمخی ته وی کماصرح به فی جامع الرموزوقدمرقال الشامی اقول والظاهران المقصورة فی زمانهم اسم لبیت فی داخل الجدارالقبلی من المسجدکان یصلی فیهاالامراء الجمعة فی یمنعون الناس من دخولها خوفامن العدد فعلی هذا اختلف فی الصف الاول هل هومایلی الامام من داخلهام مایلی المقصورة من خارجهافاخذالفقیه بالثانی توسعةً علی العامة کی لاتفوتهم الفضیلة اه (ص۵۹۵ج۱) اوظاهره ده چه منبردمقصوره نه بیرون دي نوکه اذان دمقصوری په داخل کې وی نوپه دی باندې به دبین یدی الامام بین یدی المنبر،وعندالمنبروغیره اطلاق صحیح نه وی

بلکه صحیح عبارت همغه دی چه دفی دلفظ نه بغیربه اول کې ولیکل شواوالصف الاول فی المقصوره دامستقل کلام دی په کوم کې چه صاحب دخلاصی دجمعی داول صف بحث بیان کول بې غوښتی دی ځکه چه دغه مسئله هغه وخت متکلم فیه وه .لکه چه په بحرکې هم دغه بحث لیکلی دی قال ثم تکلموافی الصف الاول قیل هوخلف الامام فی المقصورة وقیل مایلی المقصورة وبه اخذالفقیة ابوالليث لانه يمنع العامة عن الدخول فی المقصورة فلاتتوصل العامة الی نیل فضیلة الصف الاول اه ,ص۱۵۷ج۲, دی بحث نه په کتلوسره هیڅ عاقل هیڅ کله الصف الاول فی المقصورة نه دخطبی داذان سره متعلق نشی ویلی بلکه یقیناهغه به مستقل کلام ومنل شی اوس داخبره پاتې شوه چه دجمعی دخطبی داذان نه سواء نور اذانونه په مسجدکې بلاکراهت جائزدی یا به هغه کې څه کراهت شته ددې متعلق لاندنی روایتونه دی (قال فی ردالمحتارلانه علیه السلام صلی اخرصلاته قاعداوهم قیام وابوبکریبلغهم تکبیره وبه علم جوازرفع المؤذنین اصواتهم فی جمعة وغیرها(ای فی تبلیغ تکبیرالامام) یعنی الاصل الرفع وامامانعارفوه فی زماننافلایبعدانه مفسداذالصیاح ملحق بالکلام اه من التنشیط ,ص۸, وفیه ایضاًمن السعایة شرح شرح الوقایة– لغرة ای اذان لایستحب رفع الصوت فیه قال هوالاذان الثانی یوم الجمعة الذی یکون بین یدی الخطیب لانه کالاقامة لاعلام الحاضرین اه , ص۹, وفیه ایضاًعن جامع الرموزوفیه ایذان بوجوب الجهربالاذان لاعلام الناس فلواذن لنفسه خافت لانه الاصل فی الشرع کمافی کشف المناروبانه یؤذن فی موضع عال وهوسنة کمافی القنیة وبانه لایؤذن فی المسجدفانه مکروه کمافی النظم وفی الجلالی انه یؤذن فی المسجداومافی حکمه لافی البعیدعنه اه (ص۲۵) وفی العالمگیریة وینبغی ان یؤذن علی المئذنة اوخارج المسجدولایؤذن فی المسجدکذافی فتاوی قاضی خان والسنة ان یؤذن فی موضع عال یکون اسمع لجیرانه ویرفع فیهاصوته –کذافی البحرالرائق اه,ص ۳۴جلد۱ په دی ټولوکې دغورکولونه دا ښکاریږی چه بقیه اذانونه په مسجدکې کول دکراهت تنزیهی یعنی دخلاف اولی نه خالی ندی .او علت به غالباً داوی چه په اذان کې رفع صوت زایداوصیاح وی او صیاح خپله ملحق بالکلام ده اګرکه صیاح بالذکر ده هدارنګه چیغې دمسجد دادب نه هم خلاف دی (لاترفعوااصواتکم فوق صوت النبی ولاتجهر واله بالقول کجهربعضکم لبعض ان تحبط اعمالکم – والمسجدمحل مناجات

الحق ویکون الحق فیه تجاه العبدفلاینبغی الصیاح فیه وروی عن واثلة بن الاسقع مرفوعاً جنبوامساجدکم صبیانکم ومجانینکم وقال ورفع اصواتکم واقامة حدودکم الخ من الترغیب ,ص۲۵ رواه البیهقی والطبرانی وغیرهما) اودجمعی اذان دخطبی په وخت کې دومره جهراوچیغې نه وی بلکه هغه خوداقامت په شان وی ،دهمدی په خاطرهغه په مسجدکې جائزدی ددینه علاوه هغه په مسجدکې متوارث دی .پاتې شوه داچه دام زیدبن ثابت دحدیث نه معلومیږی چه درسول الله ﷺ په زمانه کې بلال دمسجدپه چت باندې اذان وکړو نوددې خواب دادی چه دهغه لپاره دمسجدپه چت باندې څه برخه اوچته جوړه شوی وه چه منذنه وه . اوپه منذنه باندې اذان ورکول په داخل دمسجدکې هم بلاکراهت جائزدی (کمایشیربه مافی عبارةالعالمگیریة ینبغی ان یؤذن علی المئذنة اوخارج المسجداخ من التقابل بین المئذنة وخارج المسجدوالله اعلم ولعل السرفیه کون المئذنة خارجاً عن المسجدفی نیة البانی اوالواقف فلا یکون لهاحکم المسجدنقل فی السعایة عن طبقات ابن سعدحدثنی محمدبن عمرقال ثنی معاذبن محمدعن یحیی بن عبدالله بن عبد الرحمن بن سعدبن زرارة قال اخبرنی من سمع النوارام زیدبن ثابت تقول کان بیتی حول المسجدفکان بلال یؤذن فوقه من اول مایؤذن الی ان بنی رسول الله ﷺ المسجدفکان یؤذن بعد علی سقف المسجدوقدرفع له شئ فوق ظهره اه من التنشیط (ص۱۹) ومافی حدیث عبدالله بن زیدانه ﷺ قال له فاخرج مع بلال الی المسجد فالقها علیه ولینادبلال فانه اندی صوتامنک قال فخرجت مع بلال الی المسجدفجعلت القیهاعلیه وهوینادی بهاه فیحمل علی مافی حدودالمسجداویرادبه سقف المسجدومارفع له فوقه – والله تعالی اعلم قلت وقال فی ردالمحتارفی تعریف المکرمه وهوضدالمحبوب قدیطلق علی الحرام وعلی المکروه تحریماوعلی المکروه تنزیهاوعلوماترکه اولی من فعله ویرادف خلاف الاولی اه من التنشیط (ص۲۰) اودعذریه حالت کې داکراهت مرتفع کیږی مثلاً دمسجدنه سواداذان لپاره دمسجد قریب هیڅ ځای نشته (قال فی الدربعدبیان کراهة قیام الامام فی المحراب وانفراده علی الدکان وعکسه ان هذاکله عندعدم العذر (واما عندالعذر) کجمعة وعیدفلو قاموا علی الرفوف والامام علی الارض اوفی المحراب لضیق المکان لم یکره اه قال الشامی حکی الحلوانی عن ابی اللیث لایکره

قیام الامام فی الطاق عندالضرورة بان ضاق المسجدعلی القوم اه (ص۶۷۶جلد۱) حرره الاحقر ظفر احمدعفا عنه ۲۷شعبان ۴۴ ه (تتمه خامسه ص۴۲۵)

دجمعې ثاني اذان په مسجدکي کيدل

سوال :(۶۳۴)حضرت اقدس مرشدی ادام الله ظلالهم دنیازمندانه ادابونه وروسته التماس دی چه په دی مدرسی کي رومبئي دااستفسار [1] راغلی ؤ چه دکوم خواب چه مندرجه دی پارچه کي ليکلوسره ليکل شوی ؤاوس دوباره په دی باندي سوال کونکي خوشکونوليکلوسره رارسولی دی ، داصل استفتاء نقل اوشکونه بعینه دعالی خداموبه خدمت کي مرسل دی ،همدارنګه په سنن ابی داودباندي چه کومه حاشیه دغیرمقلدینودعون المعبود په نوم ده دهغه دعبارت نقل هم رارسول کیږی ،هغه دمسجد خارج کیدلوباندي ډيرزورورکړی دی دعنایه اوکفایه دعبارت څخه په ظاهرکي دمنبرقریب معلومیږی، په هغه کي دخارج مسجدتاویل مشکل دی ،دهغه عبارت کي منضم دی ،همدارنګه دمولوی احمدرضاخان صاحب یوه مطبوعه استفتاء هم منسلکه ده که په دی موقع باندي اثار السنن ج۲ص۹۴ته ملاحظه وفرمايي نومناسب ده ، هغه په مسجدکي دننه دمنبرقریب کيدل تاپيدکړی دی اودابی داودپه حديث يې جرح کړی ده ،دفقهاؤنه داتعجب ده چرته چه داذان نه په مسجدکي دننه ممانعت کوی هملته که ثانی اذان په مسجدکي وی نودهغه استفتاء ولی نه کوی ، اګرکه ددغه عام تحریرونولیدل به دحضرت قدس سره قیمتی وخت ضائع کړی ،لکن ددي په خاطرچه نن صباددي په نسبت اختلاف خوريږی نوتوجه ډيره ضروری ده مولوی عبدالحی مرحوم صاحب په حاشیه دشرح وقایه کي دمسجدخارج کیدلوته يې ترجیح ورکړی ده دهغه هم ملاحظه وفرمايي ،دتولونقلول داوږدوالی باعث ګرځیده دهمدی لپاره په دی باندي اختصاروکولی شو په بین یدیه کي خوخیرتاویل هم کیدلی شی لکن دعندالمنبرالفاظ چه په عنایه اوکفایه کي مذکور دی دهغه تاویل ډيرسخت دی ؟

جواب :عزیز! السلام علیکم ورحمة الله !ماتول تحریرات په غورسره خونه مګرسرسری نظرسره څه اندازه زیات ولیدل،آثارالسنن ته می وکتل دمجموعه کتلوسره دذوق په ګواهی سره خمایه ذهن کي چه کومه خبره راغلی هغه داده چه اذان ثانی دجمعه لپاره دمسجددننه افضل اواولی

---

[1] هغه استفتاءاوپارچه دلته منقول ندی خواصل مضمون دلاندي خواب نه معلومیږی ۱۲منه

ده اودابوداود روایت که مجروح هم نه وی نودهغه وجه داده چه هغه وخت دغه اذان دعام اعلان لپاره ؤ ،لهذامسجدنه خارجیدل مناسب ؤ د داخل دمسجدپه نسبت په هغه کي اعلان زیات کولی شو کله چه دحضرت عثمان په زمانه کي دصحابه ؤپه اتفاق اول اذان اوجت شونواوس هغه علت چه دمسجدد خارج کیدوپه دغه ثانی کي ؤهغه په اول کي متحقق شودهمدی لپاره دهغه دمسجد نه بیرون کیدل به مناسب وی اوهغه علت دبیرون دمسجد کیدلو ددغه ثانی نه منتفی شو د همدی لپاره دمسجدنه بیرون کیدلوحکم هم ورنه منتفی کیږی ،اود اعلان عام حکمت په ځای اوس په دی کي حکمت صرف توجه الحاضرین الی الخطبه دی ، نوهغه خلک چه دخطبی په محل یعنی مسجدکي موجوددي دهغوی دمتوجه کولومصلحت زیات مقتضی دهغه ترجیح ته دی چه داخل د مسجدکي وی،لکه څنګه چه اقامت دالی الصلاة متوجه کولولپاره بالاجماع مسجدکي دننه وی اوهغوفقهاؤچه اذان يې په داخل مسجدکي منع فرمايلی هغه هم محمول ده په خلاف اولی باندي اوپه دی کي حکمت همغه داعلان ابلغ کیدل وی ،اواګرکه فقهاؤتصریحاً دجمعی ثانیه اذان ددینه ندی مستثنی کړی لاکن دبین یدی بالمعنی المتبادر اودعندالمنبر لفظ بل علت دابلغ کیدلو داعلان ده اوپه دی کي داعلان عام علت نه میندل داستثناء ددلیل لپاره کافی دی ؛ هذاماطمان الیه قلبی ولعل الله یحدث بعدذلک امراً ،فقط والله اعلم ، ۲۸جمادی الاولی ۱۳۲۲ه (تتمه اولی ص۱۱)

سوال :(۶۳۵)ددین علماء اودشرع متین مفتیان په دی مسئلی کي څه فرمايي چه کوم اذان حضرت عثمان مروج کړی دی هغه اذان دمسجدنه بیرون مخامخ باڅنګ کي وی اودمسجدنه په څومره فاصلی باندي وی اوکوم مقام چه داذان حضرت عثمان مقررکړی دی هغه دصحن نه په څومره فاصلی باندي دی دفاصلی حساب په شرعی ګزسره لیکل پکار دی ؟

جواب :هغه مقام زوراء دی لکه چه په صحیح بخاری وغیره کي شته په مجمع البحارکي دهغي متعلق دغه اقوال لیکلی دی (۱) موضع بسوق المدینة (۲) وقیل انه مکان مرتفع کالمنارة (۳) وقیل حجرة کبیرة عند باب المسجد (۴) الزوراء هودارفی سوق المدینة یقف المؤذن علی سطحه للنداء الثالث (ای باعتبار الشرعیة وهوالاول باعتبار الوقوع) ، باقی مخامخ کیدل، باڅنګ کي کیدل اوفاصلی اندازه اوصحن نه دهغه طرف اوبعدخصوصاً دګزونوپه حساب دا می دنظرنه ندی تیرشوی اونه ددي دتحقیق څه ضرورت شته . شاید دسایل به داخیال وی چه اوس کوم مسجدونه دی هغه دسنت خلاف دی نودهغه خواب دادی چه اصل خوداده چه په نداءکوم طرف رابلل کیږی په همغه مقام باندي وی خوددي اصل نه عدول ددي لپاره شوی دی

چه نوی خېژو، خلکوته اطلاع کیدله چه دجمعې دلمانځه نه وېر وړاندي هم اذان وی، دکوم نه چه دجمعې دلمانځه تیاریانې شروع کوی، د همدې لپاره په همداسې مقام باندي دهغه کیدل مناسب ؤ، چه ټول متوجه شي، بیاچه کله دامعمول شواوس خلک په خپله دهغه د اوریدو کوښښ کولو کي لګیادی، بیاداصل موافق تعامل شوچه یو قسم اجماع ده نواوس ددې مخالفت جائزندی ۱۳ ربیع الثانی ۱۳۵۱ هـ (النور محرم ص۵۲۷هـ)

دهغه حدیث دمعنی بیان چه په قصر خطبه اوطول دلمانځه کي واردی

سوال :(٦٣٧) خطبات الاحکام چه حضورعالی تصنیف فرمایلی دی اول خوهغه ټوله مختصره ده کله چه دضعیفانوپه رعایت سره قرات مختصره وی، اودوه څلور کرښې خطبه لولی نوپه دی کي څه کراهت وغیره خوبه نه وی اوتعمیلاً په خطبه اختصارکولی شی آیندې چه کوم ارشاد وی خادم خوبه همغه لولی ؟

جواب :په حدیث کي چه کوم قصردخطبې اوطول دصلوة وارد دی کماروا‌ه مسلم عن عمارپه دی کي مراد دصلاة نه ټول لمونځ دی نه چه صرف قرات نوځکه په خطباتو کي چه هیڅ خطبه یکي دمرسلات سورت نه لویه نده په مسنون قرات اومسنون اذکاروحالت کي اګرکه واړه دری سورتونه وی دمجموعی لمانځه نه عادةً لویه کیدلی نشی ،البته یوازی دعیدین دخطبې دمقدارپه نسبت نور هغه اوږه . اته تکبیرونوپه اندازه زیاته ده، مګردمسنون قرات اواذکاروپه حالت کي هغه هم دمجموعی لمانځه نه نشی لویدلی ،دهمدی په خاطردقرات وغیرهادااختصارپه حالت کي هم هرکله چه دسنت موافق وی په مذکوره خطباتو کي داختصار د تصرف حاجت نشته ،والله اعلم ۸صفر ۵۵ (النور ص۲۲ ذالقعده ۵۵هـ)

دجمعې ثاني اذان په مسجدکي دننه باندي شبهه اودهغه ځواب

سوال :(٦٣٨) خونږپه زمانه کي په اکثرومقاماتوکي اذان ثانی دجمعې چه بین یدین ورکول کیدل اوس د مسجد دروازی سره نژدې یاپه کوم ځای باندي دامام محاذی ویل کیږی اوددې تایید دابی داود روایت ،کان یوذن بین یدی رسول الله ﷺ اذاجلس علی المنبریوم الجمعة علی باب المسجدالخ ؛ اوهمدارنګه دطبرانی روایت هم لکه چه عینی شرح دبخاری کي کړی دی وهکذافی فتح الباری په مکمل طورسره کوی اوددې دجوازاوثبوت لپاره کافی شاهددی ، لاکن فقهیه روایتونه متناً وشرحاً په یوه چیغه وائی ،واذاصعدالامام المنبرجلس واذن الموذنون

بین یدی المنبرانتهی ،هدایة ویوذن ثانیاً بین یدیه ای الخطیب درمختار ، که صرف په بین یدیه باندي اکتفاء شوی وی نوبالفرض ؤتوهم کیدلی شی مګرکله بې چه بین یدی المنبرویل شوی دی اودموذنون جمع لفظ راوړل شوی دی په دی سره اعلام هم کافی کیږی . بیادمسجدپه دروازه یادکوم بل ځای باندي داذان کولوضرورت هم نه معلومیده اوکلام مول هم نه کول مشکل دی دعون المعبودحاشیه چه په ابوداودباندي دغیرمقلدوده په هغې کي ډیرزور ورکول شوی چه اذان دجمات نه بیرون پکاردی، مولناعبدالحی صاحب هم دشرح وقایه په حاشیه کي د همدی تایید کړی دی اوروایت لیکل دخداموقیمتی وخت ضائع کوی د همدی لپاره په همدې باندي اکتفا کوم اګرکه داهم دمخل تطویل نه خالی ندی مګرمجبورأمی عرض وکړو؟

جواب :په فقهاؤباندي هغه وخت شبهه وه کله چه د حضورپرنورپه زمانه اذان بین یدی الامام دوهم اذان وای خوهغه وخت خوداول اذان ؤ نودهغه خارج مسجدکیدل ضروری ؤ ،اوچه کله دصحابه ؤپه اجماع ددینه مخکي یوبل اذان اوچت شواوداذان بین یدی الامام کارددي نه واخستل شونو صرف ددې خارج عن المسجدکیدل کافی شول اوس دثانی خارج عن المسجدکیدل څه ضرور؟ نودحالت دتبدل په سبب چه ماخذبې اجماع ده د اذان ثانی هیئت منقوله فی عهد النبی ﷺ دهغه دهیئت متاخره لپاره مقیس علیه نشی جوړیدلی ،که اوس هم کومه شبهه پاتې وی دمذکوره تقریرپه ملاحظې سره بې مکرراولیکي ؟ ۲۸محرم ۱۳۳۰هـ (تتمه اولی ص۲۲۷)

دعیدین نه وروسته دمصافحې رواج

سوال :(٦٣٩) په اخترونوکي مصافحه اومعانقه روا‌ده اوکنه ؟

جواب :کلیه قاعده ده چه په عبارتونوکي چه حضرت شارع علیه السلام کوم هیئت اوکیفیت معین فرمایلی دی په هغه کي تغیراو تبدیل جائزندی اومصافحه چه سنت ده نودعباداتوځینې ده . نود مذکوره قاعدی موافق په دی کي دهیئت اوکیفیت منقوله نه تجاوزبه جائزنه وی ،اوشارع علیه السلام څخه فقط داولی لقاء په وخت بالاجماع یا دوداع په وخت کي هم علی الاختلاف منقول دی اوبس اوس ددې لپاره ددغو دوو وختونونه سوابل کوم ځای اوموقع تجویزکول دعبادت تغیرول دی، چه ممنوع دی لهذادعیدینوپانځه وخته لمونځ نه وروسته مصافحه مکروه اوبدعت ده په شامی کي ددې تصریح موجوده ده فقط والله اعلم ۲شعبان ۱۳۲۰هـ (امداد ص۹۰ ج۴)

دجمعې دخطبې نه وړاندې دوعظ جواز

سوال:(٦٤٠)دکوم ښارپه جامع مسجدکې چه داسې فراخه ده چه دهغه دنیماهې پورې لمونځ کونکې دجمعې په لمانځه کې راتولیږي، ددې نه علاوه مسجدسره متصل دالان وغیره موجوددی چه هغه کې سنت کونکې سنت کولی شي مقصدداچه دجمعې نه وړاندې وعظ کولو سره دچاپه لمانځه کې خلل نه غورځیږي، متدعینوخپل بداثرپه عامو مسلمانانو باندې غورځولی دی داضرورت دی چه وعظ وشي، په دی باندې کوم واعظ یامولوی دمبتدعینوتردیدیاددینې فوایدوضروری خبری مسلمانانوته په قبل جمعه وعظ کې بیان کړی عوم مسلمانان په سبب دکسبه کارکیدلودجمعې نه وروسته نشي ادریدلی نوپه داسې حالت کې د واعظ یامولوی صاحب وعظ بیانول اودضروری عقایدونه واقفول اوداسلام فوائدبیانول دخطبې نه مخکې جائزدی اوکنه اوداوعظ همیشه اوهره جمعه کې نه وی بلکه کله کله؟

جواب: فی الدرالمختاراحکام المسجدویحرم فیه السوال الی قوله ورفع صوت بذکرالاللمتفقة وفی ردالمحتارقوله ورفع صوت بذکرالی قوله اجمع العلماءسلفاوخلفاعلی استحباب ذکرالجماعة فی المساجد وغیرهاالاان یشوش جهرهم علی نائم اومصل اوقاری الخ ج۱ص۲۹۰ استثناء الاللمتفقة واستثناء الاان یشوش الخ ، ددېنه معلومه شوه چه کله دعدم تشویش مصلین په صورت کې ذکرجائزدی نود دین مسائل بیانول دعدم تشویش په صورت کې په اولی درجه جائزدی اوپه مسئوله صورت کې عدم تشویش ظاهردی چه مسجد فراخه دی ،اودالان وغیره هم شته ، خصوصاکله چه کله وی کله نه وی ۲ رمضان ۱۳۳۳ھ(تتمه ثالثه ص۷۱)

په جمعې کې دبنځې دخطبې ورکولو حکم

سوال:(٦٤١)په جمعه کې ښځه دنارینه ؤپه مینځ په مسجدکې عامو مسلمانانوپه وړاندې په منبرباندې کښیني اوخطبه ووائي نوداځنګه دی ؟ ښځه ګنهګاره شوه اوکنه ؟ اوخطبه دوباره ولوستل شي اوکنه خطبه کامله ده اوځه نقصان په لمانځه کې وشواوکنه ؟ځکه چه دجمعې لمونځ ښځې نه دی فرض کړی نارینه ورکړی دی دامعامله داسې شوی ده دلته ځکه چه په دغه ورځ دجمعې کوم سړی دخطبې لوستونکې نه ؤ، دمجبوری په درجه کې ښځې ته دخطبې لوستل وربه غاره شول دامعامله دغیرمقلد تاپیدؤ؟

جواب: فی العالمگیریة واماالخطیب فیشترط فیه ان یتاهل الامامة فی الجمعة کذافی الزاهدی وفیهافی شرائط صلوة الجمعة ومنهاالخطبة قبلهاحتی لوصلوابلاخطبة اوخطب قبل الوقت لم یجز کذافی الکافی وفیهافرائض الخطبة والثانی ذکرالله تعالی کذافی البحرالرائق وکفت تحمیده اوتهلیله او تسبیحه کذافی المتون ج۱ص۹۴، ددې روایتونونه ثابته شوه چه دښځې خطبه صحیح نه شوه اوهرکله چه خطبه دجمعې د صحت شرائطوکې دی نوجمعه هم صحیح نه شوه په دغوټولوخلکوباندې د ظهرلمونځ قضاپې کول پکاردی ،که څوک دخطبې لوستونکې نه ؤنو چاچه لمونځ ورکولوهغه به څه ذکرالله یاڅه قران لوستلی ؤ،حتی چه سبحان الله الحمدلله ،الله اکبرلوستلی وی نودخطبې فرض اداء کیدلو په کوم سره چه فرض لمونځ اداکیدلو ۲۱ رمضان المبارک ۴۲ھ(تتمه خامسه ص۳۰۴)

دلمونځ کونکوپه مینځ کې په ولاړه دخطبې لوستلو حکم

سوال:(٦٤٢)اوس په څوجامع مسجدونوکې امام صاحب داجرت چه دمنبرپه ځای دبیرون درجه کې دجمعة الوداع خطبه وویله اوداعذرېې وکړوچه خلک بې واوریدلی شي که دادلیل دخطبې لپاره دی نود لمانځه لپاره هم چه دوړاندې ودریدوپه ځای امام په مینځ کې ولاړوی ،په هرحال داترکومې پورې جائزدی ؟که ددې متعلق اطلاع وفرمایې نو مناسبه به وی ؟

جواب: فی العالمگیریة احکام الخطبة واماسننهافخمسة عشرو ثالثهااستقبال القوم بوجهه ج۱ص۹۴، په دې کې تصریح ده چه ټول قوم ته د خطیب مخامخ کیدل سنت دی، نودبعضې شانه کیدل بدعت دی او ظاهردی چه داسې اتفاقاً ندی شوی ،بلکه دیته په سنت استقبال باندې ترجیح ورکولی شي،اوددې مقابله کې مستحسن وګڼل شونو دبدعت عملیه سره بدعت اعتقادیه منضم کیدوسره په کراهت او شناعت کې اشداواقبح وشو په خطیب باندې واجب ده چه ددې بدعت پرینبودوسره سره دخپلې غلطی اعلان هم وکړی ترڅوپه آینده کې دغه بالکل انسدادوشي ،۱۱ شوال ۱۳۴۲ھ(تتمه خامسه ۳۱۳)

په سورلۍ باندې دمعذورلپاره جامع مسجدته دتللوحکم

سوال:(٦٤٣)که کوم لمونځ کونکې سړی دضعف یابیمارۍ په سبب جامع مسجدته په پیاده راتللو مجبوروی خوهغه سره دومره قدرت شته چه په کرایه سورلۍ باندې راشي ،نوپه داسې حالت کې که رانه شي نوآیا ګنهکاربه وی ؟اودفرض لمونځ پرینبودل به ګڼل کیږي ؟

جواب: فی الدرالمختارشروط الجمعة صحته والحق بالمریض الممرض والشیخ الفانی وفی ردالمختار فلووجد المریض مایرکبه ففی القنیة هوکالاعمی علی الخلاف اذا وجدقائدا وقیل لایجب علیه اتفاقا کالمقعدو قیل هوکالقادر علی المشی فتجب فی قولهم وتعقبه السراجی بانه ینبغی تصحیح عدمه لان فی التزامه والحضورزیادة المرض قلت فینبغی تصحیح عدم الوجوب ان کان الامرفی حقه کذلک حلیة ج۱ص۵۵۲ وفی ردالمختار ایضاباب الجماعة ولاتجب علی المریض الی قوله وشیخ کبیر عاجز واعمی وان وجدقاعدا وفی ردالمختاروکذاالزمن لوکان عیاله مرکب وخادم فلاتجب دلیلها عندی خلافا لهما حلیة عن المحیط وذکرفی الفتح ان الظاهرانه اتفاق والخلاف فی الجمعة لافی الجماعة اه ،وبین السطور فی الکتب المشهورة خلافه حلیة ج۱ص۵۸۰، ددغو عبارتونه معلومه شوه چه په دې کې مختلفه اقوال دی ،دقواعدونه داتفصیل ښکاره کیږی چه که کوم تکلیف نه وونوحاضریدل پکاردی ،اوکنه معذوردی ،والله اعلم ۲صفر۴۳ھ تتمه خامسه ص۳۲۱،

دلمونځ کونکوپه مینځ کې دتکبیرتشریق دزیاتوالی جواز

سوال: (۶۴۷)خمونږ دې ځای کې دتکبیرتشریق متعلق دوه ډلې شوې بعضې وائی چه تکبیرتشریق د لمانځه نه روسته یوځل الله اکبرالله اکبرالخ ویل دی ددینه زیات ویل خلاف سنت دی ،اوبعضی وایی چه یوځل وینا واجب ده اوچه په دې بې زیات کړنومستحب به وی اوس دواړه ډلې ستاسودوالاحضرت دامضاشوې ځواب په انتظاردی امید دی چه دکرم له لارې دمسئوله صورت مدلل ځواب باصواب سره ممنون وفرمایی؟

جواب: فی الدرالمختار بعدقوله مرة وان زادعلیهایکون فضلاقاله العینی وفی ردالمختارتحت قوله زادالخ افادان قوله مرة بیان للواجب لکن ذکرابالسعودان الحموی نقل عن القراحصاری ان الاتیان به مرتین خلاف السنة اه قلت وفی الاحکام عن البرجندی ثم المشهور من قول علمائناانه یکبرمرة وقیل ثلاث مرات) ددې عبارت نه ښکاره کیږی چه مسئله مختلف فیهاده ،اوداهم معلومه شوه چه مشهورقول دمرة دی اومقابل قول ضعیف دی اوقطع نظردضعف نه مرة والا زیادت ته خلاف سنت وایی اواهل زیادت دمرة په سنت کیدومتفق دی نواحتیاط په مرة کې شو۔ ۱۵محرم ۱۳۴۷ھ تتمه خامسه ص۲۲۹،

داخترونوپه خطبه کې وعظ

سوال: (۶۴۸)په عیدینوکې دضروری مسائلواووعظ کول دی نود خطبې دخلاصیدونه وروسته یې وکړی یادخطبې په وسط کې ؟

جواب: که په وسط کې وی نوقلیل کول پکاردی لانه تکلم فی اثناء الخطبة ولوامرابالمعروف فلایعتاده ولایکثره ، اوکه وروسته وی نوکوم قیدنشته ۱۵رمضان ۱۳۳۲ھ

فصل فی الاستسقاء

داستسقاءپه لمانځه کې دڅادرداړولووخت

سوال: (۶۴۹)داستسقاءپه لمانځه کې دڅادراړولووخت کوم دی ددعانه وروسته اوکه مخکې؟

جواب: یادکې راخی چه بیخی په اخرکې دی یعنی ددعانه وروسته اشارة الی التفاؤل بقول الدعاء، ۱۴شوال ۱۳۳۹ھ تتمه خامسه ص۹۲،

باب الجنائز

دلوټې اورانجوداستعمال حکم دمړی لپاره

سوال: (۶۵۰) (۱)دغسل په وخت کې مړی ته لوټه نیول شرعامسنون دی اوکنه ؟(۲)مړی ته رانجه استعمالول جائزدی اوکنه ؟

جواب: (۱) فی الدرالمختارویمسح بطنه رقیقاوماخرج منه یغسله اه ددې نه معلومه شوه چه که دمړی په موضع استنجاء باندې حقیقی نجاست لګیدلې وی دهغه وینځل مشروع دی ،اودلوټې مسنون کیدل په کوم دلیل ثابت ندی،(۲) فی ردالمختارالتزیین بعدموتها والامتشاط وقطع الشعرلا یجوزنهر،ددې نه معلومه شوه چه مړی ته رانجه پورې کول چه زینت دی هم ناروادی ۱۴رمضان المبارک ۱۳۲۱ھ امداداول ص۱۴۵،

دنارینه په لاس دښځې دتکفین عدم جواز

سوال: (۶۵۱)ښځې ته به ترکفن وراغوندی اوکه ښځه ؟

جواب :دامسئله ډیره ظاهره ده هرکله چه دټولپاره ښخې ته کتل، مسه کول روالدي، نوالحاله کفن په ښخه وراغوندي . والله تعالی اعلم ۱۲ جمادی الثانی ۱۳۲۲ھ امداداول ص۱۴۵

په ښی اړخ باندې دمړی داېښودلو مسنونیت په قبر کې

سوال :(۶۵۲)دمړی په قبرکې په ښی اړخ باندې څملول مسنون مخ په قبله دی بادشاپه اړولوسره فقط مخ دقبلې طرف کول ددې ځای ځینې علماءاول ته مسنون وائی په دې کې څه تحقیق دی؟اوپه اولینوهدایوکې دیوجه الیهاڅه معنی ده ؟

جواب :فی الدرالمختارویوجه الیها الی قوله وینبغی کونه علی شقه الایمن وفی ردالمختارعن الحلیة بخلاف ماذاکان بعداقامة اللبن قبل اهالة التراب فانه یزال ویوجه الی القبلة عن یمینه اھ دا رایتونه په دې کې صریح دی چه مړی په قبرکې په ښی طرف مخ په قبله واړول شی،نود هدایې یوجه الیهابه هم په هغې محمول وی . والله تعالی اعلم ۱۱ رمضان ۱۳۲۲ھ امداد ص۱۴۵

سوال :(۶۵۳)مړی په قبرکې په شاطرف څملولوسره خوله یې دکعبې په طرف واړول شی یاپه ښی طرف وګرځول شی؟ځکه چه څماله طرفه دارواج دی چه مړی په قبرکې شاه اړولوسره صرف خوله دکعبې په طرف وګرځول شی اوس په دې دواړوکې کوم یوبهتراوجائزدی ؟

جواب :مړی په ښی طرف مخ په قبله ایښودل پکاردی،فی الدرالمختارویوجه الیهاوجوباًوینبغی کونه علی شقه الایمن وفی ردالمختارلکن صرح فی التحفة بانه سنة اھ ۱۲ ربیع الاول ۱۳۲۹ھ تتمه اول ص۴۸

په رافضی باندې دجنازې دلمونځ حکم

سوال :(۶۵٤)په دې ځای کې یوې ډلې داهل سنن دخپل امام سره دیوه رافضی دمړی جنازه وکوله آیاپه دې امام اوهغو جنازې کونکوباندې څه حکم لګولی شی بعضې هغوی ته فاسق وائی اومفتی عزیزالرحمن دیوبندی تحریرفرمایلی چه څه حرج نشته ؟

جواب :رافضی په دوه قسمه دی،یوهغه چه عقایدیې دکفر حدته رسیږی،دداسې سړی دجنازې لمونځ اصلاًدرست ندی، ځکه چه دجنازې د لمانځه دشرائطونه دمیت اسلام دی، او دوهم هغه چه دهغه عقایدصرف د بدعت ترحده پورې وی ددې حکم دادی چه که چادهغه دجنازې لمونځ نه کولونه دغه وخت یې کول پکاردی ځکه چه دمسلم جنازه فرض علی الفکایه

ده،اوکه چانه کولومثلاًدهغه هم مذهبه خلک موجود دی اوهغه یې وکړی نوپه دغه صورت کې دې اهل سنت هیڅکله نه کوی،کماروی احمدابوداؤد عن ابن عمرقال رسول الله ﷺ القدریة مجوس هذه الامة ان مرضوا فلاتعودوهم وان ماتوافلاتشهدوهم کذافی المشکوة فقط والله تعالی اعلم وعلمه اتم ۲۱ ذیقعده ۱۳۲۳ھ امداد اول ص۱۴۵

دهغه مړی حکم چه بلاغسل اوکفن دفن شی

سوال :(۶۵۵)مړی ته غسل اوکفن ورکولوسره دفن کول لازم اوفرض دی مګرکومه وجه یاموقع داسې وی چه بغیردغسل اوکفن همداسې تیل یا دفن شی ددې دعلم نه وروسته به ددې لمانځه.غسل اوکفن څه تدارک وی آیاهغه راوېستلوسره غسل اوکفن ورکولوسره لمونځ وکولی شی او دفن یې کړی یاراونه ویستل شی اودجنازې لمونځ ورباندې وشی ؟

جواب :فی رداختاراماالودفن بلاغسل ولم یهل علیه التراب فانه یخرج ویغسل ویصلی علیه جوهرة،،ددې روایت نه معلومه شوه چه که بې غسل اوکفن دفن شوې وی نوراویستل دې نه کوی همداسې دې په قبرباندې دې لمونځ وکړی فقط والله اعلم ۹ صفر ۱۳۲۴ھ امداد ص۱۴۲ ج۱

دښځولپاره درنګین کفن جواز

سوال :(۶۵٦)دبعضی حدیثونه اوفقهې روایتونونه دښځې مړی ته د رنګینې کپړې کفن ورکول جواز معلومیږی لاکن اولی اوبهتردغو روایتونونه سپین دی اصح به کوم ګڼل کیږی که رنګین ورکول شی نوټول کفن به رنګین وی یادکفن نه څوکپړې وی ددې په باره تشفی کافی دی ؟

جواب :فی الدرالمختارولاباس فی الکفن ببردوکتان وفی النساء بحریرومزعفرومعصفر لجوازه بکل مایجوزفیه حال الحیوة واحبه البیاض اوماکان یصلی فیه،ددېنه څرګنده شوه چه دښځولپاره هم ډیر بهترسپین دی.لاکن رنګه هم روادی برابره خبره ده چه ټول رنګه وی یابعض اوداصح چه کله تپوس وکولی شی چه په روایتونوکې تعارض راغی اودجائزاواولی په مینځ کې تعارض نشته،فقط ۲۰ ربیع الاول ۱۳۲۵ھ بېورتنی حواله

دبلي جنازې دانتظارپه سبب دجنازې په لمانځه كي دتاخير كولو حكم

سوال :(۶۵۷)په يوه وخت كي د دووم‌روتيارى وشو،اودواړه قبرونه هم تياروى اوصفابى ته قريب وى لاكن يومړى راغى ،اودوهم مړى دپاخه تيارى په خبرباندې بې انتظاروكړ،اوبيابې دواړه يوځل جنازې كولو سره دفن كړل توځنګه شول؟په داسي حال كي چه دځوجنازويوځل دحاضرى په وخت كي كول درست دى، لاكن دومړه دتوقف په حقله دې تشريح وشى چه آيادغه انتظارجائزدى اوكنه ؟

جواب :فى الدرالمختاروكره تاخيرصلوٰة ودفنه ليصلى عليه جمع عظيم ، ددينه څرګنده شوه چه محض ددوهم مړى په انتظاركي ديوى جنازې په لمانځة كي تاخيركول په اولىٰ درجه مكروه دى فقط۔ ۲۰ربيع الاول ۱۳۲۵ھ،امداداول ص ۱۴۷،

دزمزم په اوبوباندي لوندشوى اواحرام جامونه دكفن عدم جواز:

سوال :(۶۵۸)يوه حاجى دخپل احرام جامى په دې نيت وساتلې چه د مړه كيدونه بې وروسته دهغه نه دده كفن جوړكړى خيني خلك درخت تاتونه دزمزم په اوبوكي لامده كړى په همدې غرض بې ساتى آيادسنت سنيه له مخي يادسلف صالح آثارددې كاروتو لپاره كوم سند رسيږى اوكنه ؟په دوهم صورت كي به بدعت حسنه ياسيئه وى اوكه څه ؟

جواب : [1] جزئيه مصرحاًله نظره نده تيره شوې لكن دفقهاؤحكم په كراهت داستنجاء په ماء زمزم سره يو صريح دليل دى دهغه داحترام په وجوب اوپه بل ځاى كي بې تصريح كړې ده په وجوب دصيانت د محترمو شيانو له تعريض دمړى دنجاست اوصديدنه .لكه چه اول كاردرمختاريه كتاب الطهارةاوكتاب الحج اوامرثانى په كتاب الجنائزدردالمحتاركي مصرحا مذكوردى،اودتولونه ددې كاركراهت مستفاد كيږى، البته كه داسي څيز وى چه ساتل بې واجب نه وى اوپه يوه وجه دوجهودهغه نه دبركت اميد وى، لاباس به دى فقط،والله اعلم ۲۴جمادى الاولىٰ ۱۳۲۵ھ،امداداول ص ۱۴۷،

دسوال خلاصه

---

[1] په دى خواب باندې هم بعض علماؤكلام كړى دے چه دامدادالفتاوى تتمه اولى په ملحقاتوكي درج دے اوصحيح كلام دے يعني كفن په زمزم اوبوكي لمدولوكي كوم خرابى نشته،مزيدتفصيلات په ملحقاتوكي ګوره ،تصحيح الاغلاط

دزمزم په اوبو لوند شوى دك كفن نه .

خلاصه خواب عدم جواز .

تسامح دوراندې نه داغسل په تولوحاجيانوعرب اوعجم كي جارى دى اوبلانكيرتول مخلوق دا كار كوى. حتى الامكان دهغوى صحيح نعل په صحيح محل كي كول بهتردى، دبنده په ګمان دمجيب عليه الرحمة وقدس سره دقياسيه دلايلو څخه دغه جزئيه دتفسيرروح البيان اولى ده ، ولذاقال فى الاسرار المحمدية لووضع شعر رسول الله ﷺ اوعصاه اوسوطه على قبرعاص لنجاذلك العاصى ببركات تلك الذخيرة من العذاب ومن هذاالقبيل ماء زمزم والكفن المبلول به وبطانة استارالكعبة والتكفن بهاانتهى ۱۲تفسيرروح البيان ص ۵۵۹ مطبوعه مصر ، اودانسان دغسل په ماءزمزم باندې جوازدفقهې په تولو كتابونو مصرح ده ... او د زمزم اوبه دلانده كفن نه لكه دانسان دبدن نه به وچ شى د هغه ذات موجودندى اوتبرک يومعنوى كاردى فافهم فانه دقيق ،تتمه اول ص ۲۳۲،

دميره نښځي ته دغسل دعدم جوازپه حقله دشبهاتو دفع:

سوال :(۶۵۹)په ابن ماجه،دارقطنى اومسنداحمدوغيره كي داحديث موجوددى ، عن عائشه قالت رجع النبى ﷺ ذات يوم من جنازة من البقيع فوجدنى واناجدصداعاوانااقول واراساه قال بل اناياعائشة واراساه قال وماضرک ان مت قبلى فغسلتک وكفنتک وصليت عليک ، الحديث ، ددينه صراحةً ثابته ده چه زوج دمرګ نه وروسته زوجې ته غسل وركولى شى اوهمدارنګه ثابت ده چه حضرت على فاطمې ته د وفات نه وروسته غسل وركړى ؤ،مګر حنفيه بغيرد كوم حديث نه دعدم جوازقائل دى،محض په رابې سره وائى چه دوفات نه وروسته دزوجې نكاح فسخه كيږى نوداحنافوكلام په څووجهو باطل دى (۱) زوجيت دزوجينوتقابل تضايف دى كه حقيقيه زوجيت دوفات نه بعدزايل شى نودطرفينونه او كه حكمينه زوجيت باقى پاتې كيږى نودطرفينو نه د زوجې له طرفه ثبوت او دزوج دطرفه انتفاء ممكن نده ،دوم ، ددې لپاره چه حق دارث دطرفينونه جارى دى نوحكميه زوجيت دطرفينونه باقى ده ، دريم ، په كوم شان چه د ممات نه وروسته اطلاق زوجه په قران كي راغلى دى دزوج اطلاق هم موجود دى نوزوجه يازوج ته داجنبيه يااجنبى په شان ويل صحيح ندى ،څلورم، دامام ابوحنفيه په نزدضعيف حديث درابې نه اوچت دى څه وجه ده چه محض رابې سره حديث ترک كولى شى،باقى څوک

جواب :ددینه وړاندی هم کلام شوی ؤکمافی ردالمحتارویوضحه انه لواهدی الی اربعة یحصل لکل منهم ربعه فکذا لواهدی الربع لو احدوابقی الباقی لنفسه اه ملخصاًقلت لکن سئل ابن حجرالمکی عما لوقرء الاهل المقبرة الفاتحة هل یقسم الثواب بینهم اویصل لکل منهم مثل ثواب ذلک کاملافاجاب بانه افتی جمع بالثانی وهواللائق بسعة الفضل ج۱ص۹۴۴، مګرهیڅاهم په دلیل کې کوم نص ندی ذکرکړی او ظاهره ده چه مسئله قیاس نده،دهمدې لپاره دنص نه بغیرپه دی کې کوم حکم نشی کیدلی،البته د پورتنی سوال په ځواب کې چه کوم حدیث دطبرانی مذکوردی دهغه ظاهرالفاظ په ظاهرسره په عدم تجزی باندی دال ویلی کیدلی شی ځکه چه داجرهامرجع صدقه دي د کوم چه حقیقی مفهوم کل الصدقه دي نه چه جزء الصدقه دي اود لهمانه تبادراودشائع اطلاق په وخت کل واحدوی،اودمجموعه مراد کیدل قرینی ته

محتاج دي، اود قرينى فقدان ظاهردي نومعنى داشوه چه په دواړوكي هريوه ته دپوره صدقى
اجريه ميلاويږي، اونور احتمالات مخالفه غيرناشئ عن دليل دي،نومعتبر ندي،اومسئله
دقطعياتونه نده دهمدي لپاره هم داسي احتمالات مضر ندي،همدارنگه دسابق سوال په خواب
كي لكه چه څرگنده شوه چه تعديه ثواب من محل الى محل موجب نقص فى احدالمحلين
نده،په همدي ترتيب لدينه داهم لازم راغى چه دتجزئي لكه چه ظاهرى مقتضاتشريک محل
مع محل دي همدارنگه موجب دنقص فى احدالمحلين نده څكه چه تعديه او تجزيه په آثاروكي
متماثل وى والله اعلم ۱۹ربيع الاول ۴۴ھ (تتمه خامسه ص۹۹)

په مقبره باندی په تعمیردشبهې ځواب

سوال :(۷۱۳)دسيدناومولنادامت بركاتهم السلام عليكم ورحمة الله وبركاته په حضوركي
ادنى خادم عرض كوي چه دالنور شوال مياشت كال ۱۳۴۴ھ ص۱۸په رساله كي حضورليكلى دى (
دقبرونو د زيارت كونكو د ارام لپاره په دى توته كي يوه درى سطرنجى اويوه څاه جوړه شوى
ده اود همدي غرض لپاره دسيورى لرونكوونودلگولوخيال شته او د دغو څيزونو دساتنى
لپاره يوسړى هم په تنخواه چوكيدارلگول شوى) دمونږدبندگانو دخانونوقبله خمونږ په ملک
كي داسي رواج دى چه غالبا دقبلى په ملک كي به هم همدا رواج وى چه چيرته چه داولياء
كرام په قبرونوباندي د غسى دراحت اسباب دزيارت كونكولپاره مهياوى هلته بدعتونه هم
وى اوچيرته چه نه وى بدعتونه هم نشته، او گمان دى چه دقبله مبارک الفاظ مي ليدلى دى
يامي د چا نه اوريدلى دى چه يوسړى دحضرت حاجى صاحب نه سفارش نامه او رضوانه د
حضرت مولنا گنگوهى په نزد دبناء په باره كي دحضرت مولنا محمدقاسم صاحب دمزارسره د
زائرينو د استراحت لپاره راوړى وه مولناقبوله نكړه اووى فرمايل چه په داسي كارونوكي
مونږ دحاجى صاحب مقلدين نه يو،نن دى عريش جوړشي، ورو ورودى صباته بناشي، او
حضرته اكثرو زايرينوا مداد د منجاورو سره وركړو، حضور د انتقال نه وروسته هغه داسي منع
كړ، غيرابعيداحتمال دى چه دهغه د خوش آمد لپاره به دروغجن خوبونه چه صاحب
قبردناسونه راغى ده او دعاكوى جوړكړى نونا چار د نذرونو وغيره په راوړلو كي به اضافه
وكړى،اوددې هم قطعى دليل نشته چه هغه منجاور به دحضور والا په طريقه وى بدليږى به
نه،خپله حضورعالي په دى وصيت پانه كي ليكلى دى (اودهغوى نه وروسته دمدرسه
دارالعلوم اوخانقاه دامداد القلوب چه كوم متولى وى په دى شرط چه دخپلوبزرگانو په شان

وى) معلومه شوه چه طريقه اينودل قطع نده ،حضرت ! خما ناخيزپه زړه كي داسي پريشان
كونكي اثرېنكاره شوى چه وايم چه كوم بدعتى دا برخه دوصيت پانى ونه گورى كه وى ليدله
حجت به وايي او اعتراض به وكړى، حضرت ! هرڅه مي چه په ناجوړه زړه كي بې دسوچ نه راغلل
عرض مي كړل لكه چه طالب العلم دخپلى شبهي سوال ظاهروى غلط وى اوكه صحيح ؟

جواب :دمخدومي ،مكرمي دام فيضهم په خدمت كي السلام عليكم ورحمة الله وبركاته
دپاملرنى صحيفه ستا چه په دوه مشورو مشتمله وه زه ممنون او مسرور كړم جزاكم الله تعالى
على هذالنصح ،داول كار متعلق چه كوم مصلحتونه چه دجوړولونه وړاندى په ذهن كي راغلى
وه داوه چه دسخت باران اوگرمي دضررلرى كول چه ددفن د تهيه كولو په وخت كي راپيښ
شو،او اساتياداودس او لمانځه چه په دغسى وخت ضرورت پريوزى، اوارام دزائرينوچه
داعى ده رغبت دراتللوته او هغه دايصال ثواب دكثرت سبب گرځى مروته او دا هم د شرعيه
مطلوباتونه ده اوهغه مفسده چه هغوى تحريرفرمايلى دى په دى ځاي كي دنه واقع كيدو د
احقر په ذهن او همدارنگه دمحتاطوعلماوپه ذهن كي چه استشارة مي دهغوى په خدمت كي
پيش كړى وه خطورنده كړى، اوس هم احتمال ني په زړه كي نه لوېږى اونه داسي تنگ
اولندعمارت دداسي خرافاتولپاره كافى كيدلى شي لكه چه دحضرت مولنا گنگوهى په
مزاريومسجد جوړشوى چه ددې منكراتونوم اونشان نه لرى اوچه كمزورتيايي ددې سره مشابه
ده دعمارت وړانول چه يقينا د مال ضائع كول دى امكان نه لرى ،بيادبانى تصريحات په
انكارد داسي كارونودمحتمل احتجاج لپاره كافى خواب دي اوكنه نو حكايت دى
فقالواابنواعليهم بنيانابه جائزنه گرځولى شي اوددې تولو سره سره دستنويه طريقه وايو
لواستقبلت من امرى مااستدبرت الحديث،اوددوهم امرمتعلق يعنى د(اجيرتقررهلته) داده چه
هغه انتظام هلته دوامدارنده كنه نوهغه مزدوردزائرينوپه سترگوكي هيڅ حيثيت نه لرى چه
دهغه نه داسي خيرى قبولى كړى نوقيام يې محدود ده داشجارو د پرورش پورې،چه انشاء الله
په اسرع وخت كي به لاسته راشي، نو په دې كي هم دمفاسدواحتمال نشته،اوپه حقيقت كي د
جناب عالي درائې اوخمادبيچاره درائې ترمينځ تعارض نشته،دهغه مكرم درائې اساس
عزيمت ده اوخارجيه عوارض دى،اوددې بيچاره د رائې اساس تعارض نده ذات فعل
اورخصت دى، اوچون مذكوره مفاسدپه آخركي مرجوح دى عمل په رخصت باندى امكان لرى
،اود مخكې زمانى نه په داسي مباحه كارونوكي دهمدغودرجوپه اساس په كثرت سره

اختلاف دآراؤکړی دی ولکل وجهة هوموليهاباقی ددعاء په استدعاء سره ختموم، اشرف علی
۲۲ ذی الحجة ــ ۱۳۴۴هـ (تتمه خامسه ص۴۳۸)

دجنازی لمونځ کولوپه وخت دمړی دقرضدارکیدلودتحقیق کولوحکم

سوال :(۷۱۴)زه اکثروختونه د جنازی لمونځ ورکوم په حدیث شریف کې دی چه حضور علیه السلام جنازی ته راتلونکونه استفسارکولوچه مقروض خونده کله به چه کوم صحابی دقرض ذمه واری واخستله دغه وخت به یې لمونځ ورکولونوآیازه هم په اتباع سنت کې تپوس وکړم اوکه دمغه خوی یارشته داردقرض ذمه واری وانخلی نوڅه وکړم ؟آیایوخل دلمونځ ورکولونه انکاروکړم یادجنازی لمونځ بی تپوسه اوبی استفساردکوم امرنه ورکړم ؟

جواب :دحضور علیه السلام په نه لمونځ ورکولوکې کوم حکمت ؤهغه دتاسویه لمونځ ورکولو کې نشته دهمدې لپاره دتاسوداسی کول به د سنت اتباع نه وی.۵ربیع الاول۱۳۵۴ھ(النورص۱۰محرم الحرام ــ ۱۳۵۵ھ)

دشهیدپه بعضی حکمونوکې دغلطی دفع

سوال :(۷۱۵)دلته فی الحال یوه واقعه پیښه شوی ده چه یوحنفی المذهب سړی چه ریلوی لاین باندی روان ؤدشاه لخواګاډی راتلوسره وواهه په کوم سره چه دهغه دواړه خپی د زنګنونو پورې ناکام شو،هغه یې دپورته کولو سره نژدی مسجدته مخامخ وی ووړدهغه ځای پیش امام صاحب (حنفی) دتحریک سره مجروح پنځه کلیمې په ښه شان اداکړی اویه خپلو خبرواتروکې دمعافی غوښتونکې ؤ،ددینه وروسته هغه هسپتال ته ولیګل شواوهلته څه ملهم،پټی وغیره ولګول شو،لنډه داچه تقریباد۹ بجوپورې زخمي ؤ او یولس نیمې بجی الله ته خان وسپاره کله چه دهغه د غسل اوکفن تیاری شروع شونو مذکورپیش امام صاحب دا فتوی ورکړه چه ددې په خاطرچه مرحوم د دوواسپونودباولاندی له مینځه تللی نوهغه دشهید درجه لری اود غسل اوکفن ضرورت نه پاتې کیږی،لکه چه په همدې ترتیب په مړی د جنازی کولونه وروسته بی غسل او کفن نه دفن کړی شو،سوال داده چه آیادشرع محمداودحنفی مذهب مطابق همدا حکم ده ؟ کوم چه پورته بیان شویاددې برعکس ،غرض داچه څه حکم وی دهغه فتوی پکار ده دکتابونوحواله هم ضروره چه دحجت ګنائش پاتې نه شی ،د توجه له مخی دهمدې سوال

بانی په شاباندی تحریر فرمایلو سره ارسال وفرمایې الله دی تاسوته عظیم اجردرکړی دخواب لپاره تکټ تنبلول شوی ده والسلام؟

جواب :هیڅ دا شهیدتعریف داسی ندی کړی چه داوسپنی نه هلاک شوی وی بلکه دهغه تعریف دفقهې په کتابونوکې داده : هوکل مکلف مسلم طاهرقتل ظلماً بجارحة ای بمایوجب القصاص ولم یجب بنفس القتل مال الی قوله وکذالوقتله باغ اوحرب اوقاطع طریق ولاوتسبباو بغوالة جارحة او وجد جریحاً فی معرکتهم کذافی الدرالمختار اودغه تعریف په دی مجروح باندی نه صادقیګی نوامام صاحب په دی فتوی کې سخته غلطی کړی ده والله اعلم ۲۰ ربیع الاول کال ۳۵ھ (حوادث خامسه ص۲)

حکم بناء القبر

سوال :(۷۱۶)دمشائخودروضوپه مقابروباندی جوړونې درستی دی او کنه؟

جواب :فی تیسیرالوصول عن جابرقال نهی رسول الله ﷺ ان یجصص القبروان یبنی علیه وان یکتب علیه وان یقعد علیه وان یوطاأخرجه الخمسة الاالبخاری وفیه عن ابن عمر رضی الله عنه انه رای فسطاطاعلی قبر عبدالرحمن فقال یاغلام انزعه فانما یظلله عمله اخرجه البخاری،وفی ردالمحتارواماالبناء علیه فلم ارمن اختار جوازه الی قوله وعن ابی حنیفة یکره ان یبنی علیه بناء من بیت اوقبة اونحوذلک لماروی جابر وذکر الحدیث المذکور انفا اه ، ددغو حدیثیه اوفقهیه روایتونواوخپله دصاحب مذهب دتصریح نه ددې بناء کراهت اوممانعت ثابت شوفقط اول شعبان کال ۱۳۲۱ (امداد ثانی ص۱۵۲)

په قبرونوباندی قلعی

سوال :(۷۱۷)دخاموقبرونوپه خفیفه چونه باندی قلعی کول څنګه دی؟

جواب : :که داستحکام لپاره وی نوجائزدی اودزینت لپاره جائزنده والله اعلم ۲رمضان ــ ۱۳۱۹ھ (امدادثانی ص۱۸۵)

دخپل فرض اوواجب عمل دثواب ایصال میت ته

سوال :(۷۱۸)کوم غریب سړی چه دخپل مړی دفاتحی خوراک خپل واړه ماشوم باندی په خوړلوسره ایصال ثواب وکړنوجائزده اوکنه؟

جواب: که دهغه هلک ډودی اونفقه دهغه په ذمه فرض اوواجب نده نودغه وخت خوهغه ته خوراک ورکولوسره ثواب بېنېل جائزدي او که فرض اوواجب ده،نوبه دی کښې اختلاف ده (کمافی ردالمحتاروانه لافرق بين الفرض والنفل اه وفی جامع الفتاوی وقيل لايجوزفی الفرائض اه ج ا ص ۹۴۳) اوخمابه نزد احتياط په دی کښې دي چه د فرض ثواب هيچاته ونه بښی ۳ ربیع الاول سنه ۱۳۳۳ه (تتمه ثالثه ص ۹۱)

سوال (۷۹۹): علامه ابن کثیرددي آيت (ان ليس للانسان الاماسعى) نه لاندی ذکرکړی چه ددينه امام شافعی اودهغه متبعينواستدلال کړی چه د قرآن شريف ثواب مړی ته نه رسيږی، ځکه دادمړی دځپلی سعی نه نه دی دهمدې لپاره نه رسول الله ﷺ دی طرفته چاته دعوت ورکړی اونه دصحابه ؤکې چانه دغه ايصال ثواب تلاوت قرآن منقول شوی اگرکه علامه ابن تيميه عموماً په دی باندی په قوت سره استدلال کړی دي چه ميت ته دنوروعمل نه فايده رسيږی ،مگر ددې جزيې خاصی اهداء دثواب دتلاوة دقرآن ذکرئې نده کړی ددې متعلق تحريرو فرمائې چه دقرآن شريف دتلاوت ثواب رسيږی اوکنه ؟

جواب: په دی باب کښې دری مذهبه دی :يودمعتزله ؤچه هغوی د هيڅ قسم عبادت ثواب ميت ته درسيدلوقايل ندی .دوهم دشافعيه او مالکيه ؤچه هغوی دمالې عبادت دثواب درسيدوقائل دی او د عبادت بدنيه منکر دی په کوم کښې چه روژه لمونځ،تلاوت ټول داخل دی دريم د حنفيه ؤ،چه هغوی دهر قسم عبادت دثواب درسيدلوقايل دي،كذا فی ردالمحتار باب الجنائز. معتزله ؤدآيت مذكوره فی السوال سره استدلال کړی ده د کوم خواب چه په قائلين دوصول ثواب العبادات الماليه يعنی شافعيه وغيرهم په ذمه هم دی،نوکله چه دمعتزله ؤپه خواب کښې هغوی آيت عام پری نخودونوبيايه نفی دوصول ثواب عبادت بدنيه کښې په دی سره څنگه استدلال کولې شی؟ نوداستدلال ضعف دهمدې نه معلوميږی،اوس د آيت معنی زده کړی: په درمنثور کښې دابن جريرپه روايت دابن زيدنه نقل کړی چه کوم شخص اسلام قبلولولپاره راغلی ؤچاهغه ملامت کړهغه ووېل زه دعذاب نه ډاريږم .هغه ووېل ته ماته څه راکړه زه به دتاله طرفه عذاب په ځپل سرباندی واخلم لکه چه څه ئې ورکړل هغه نه وغوښتل په نهايت کښې په جنجال سره يې نورهم څه ورکړل اونورئې ددستاويزدگوايها نوسره وليکل آه په دی باندی دغه آيت نازل شودکوم چه حاصل داده چه هيڅ سړی د خداگناه په ځپلواوړوباندی په داسی شان نه شی وړلی (چه گناه کونکې بری شی بيادغه سړی څنگه پوه شوچه خماتوله [illegible] دغه سړی ملامت کيدلوسره په ځپل سراخلی اوانسان ته (دايمان په حقله) صرف ځپله

کمايې حاصليږی، (يعنی دکوم بل چاايمان دهغه په کارنه ورځی)نوکه ددې ملامتونکې سره ايمان وی هم دغه وخت به هم دغه سړی ته پکارنه ووړغلی دالاځه چه هلته هم نه لری) الخ په دغه تفسير باندی چه دشان نزول سره تنبتی هم ده داضلال سره گناه کيدل اودثواب رسولوسره ثواب رسيدل کوم چه په ظاهردلالترزاوليس للانسان دآيت معارض معلوميږی دغه تعارض دفع شو.اوکه دآيت دعاموالفاظونه شبهه وی نوخواب داده چه په دی عموم کښې دالشرط ده چه مرادمتکلم نه متجاوزنه وی لکه چه په ليس من البرالصيام فی السفرکښې دټولو ائمه ؤپه نزدداقيدده ددينه علاوه د(اذاجاء الاحتمال بطل الاستدلال) مسئله مسلمه ده داخودااستدلال خواب دی اوس دمسئلې دليل وگوره فی شرح الصدورعن ابن ابی شيبة برواية الحجاج بن دينارقال رسول الله ﷺ ان من البر (ای بالوالدين) ان تصلی عنهمامع صلوتک وتصوم عنهمامع صيامک وايضاً فيه عن علی مرفوعامن مرعلى المقابرو قراقل هوالله احداحدیٰ عشرمرة ثم وهب اجره للاموات اعطی من الاجربعددالاموات اخرجه ابو محمد السمرقندی فی فضائل قل هوالله احدوفيه عن ابی هريرة قال رسول الله ﷺ من دخل المقابر ثم قرافاتحة الکتاب وقل هوالله احدوالهاکم التکاثرثم قال اللهم انی جعلت ثواب ماقرات من کلامک لاهل المقابرمن المؤمنين والمومنات کانواشفعاء له الی الله تعالی اخرجه ابوالقاسم بن علی الزنجانی فی فوائده قال السيوطی وهی وان کانت ضعيفة فمجموعهايدل علی ان لذالک اصلاً ويؤيده بظاهره مافی الجمع الفوائد عن الشيخين وابی داؤدعن عائشة مرفوعامن مات وعليه صوم صام عنه وليه اه واقرب محامله اهداءثواب الصوم اليه وماوردعن ابن عمروقدسئل هل يصوم احدعن احدوهل يصلی احد عن احدفيقول لارواه مالک محمول علی عدم اجزاء القضاء عنه وفی جمع الفوائدعن ابی داؤدعن صالح بن درهم قال لنا ابو هريرة الی جنبکم قرية يقال لهاالابلة قلنانعم قال من يضمن لی منکم ان يصلی فی مسجد العشاء رکعتين اواربع رکعات ويقول هذه لابی هريرة الحديث) وروستی حديث په دی دلالت کوی چه دبدنی عبادت ثواب ژ ژوندی ته هم رسيږی سره له دی چه هغه ځپله دعمل قدرت لری نوميت چه عاجزدی په اولی درجه ددې مستحق دی لکه چه په ردالمحتارکښې دابن قيم رحمه الله نه دبعضی علماؤ داقول هم نقل کړی دی: هکذااختلف فی اهداء الثواب الی الحی فقيل يصح لاطلاق قول احمديفعل الخير يجعل لابيه وامه

(۱) په بعضی روایتونودمذکوره روایتونوکې خود تلاوت تصریح کړی ده اوکوم کې چه تصریح نشته هغه هم په همدې شان ددې مثبت دی چه په بدنیه عبادتونوکې اجماعاتماثل شته والله اعلم ۲۵جمادی الثانی سـ۱۳۵۰ھ (النور ۷ذی الحجة ۱۳۵۰ھ)

دښځولپاره دقبرونوزيارت

سوال :(۷۲۰)دقبرونوزیارت مستوراتوته په حرمینوشریفینوکې کومه اجازه شوی ده حالانکه لعن الله علی زائرات القبورواردذي په کوم صورت کې په عجم کې دعجمیه مستوراتولپاره به جوازوی اوکنه بینواتوجروا؟

جواب :دښځولپاره دقبرونوپه زیارت کې دری قوله دی: یو مطلقامنع : لقوله علیه السلام لعن الله زوارات القبور) دوهم مطلقا جواز لقوله علیه السلام کنت نهیتکم عن زیارة القبور الافزوروها فانها تزهد فی الدنیا وتذکر الاخرة، الحدیث قالو المانسخ النهی بلغ الرخصة الرجال والنساء جمیعا) دریم قول تفصیل په دی شان چه که دزیارت نه مقصدندبه اونوحه وغیره کول وی نوحرام وهومحل قوله علیه السلام الاول اوکه دعبرت اوبرکت لپاره وی نوزړولپاره جائزده وهو محمل قوله علیه السلام الثانی اودځوانانولپاره ناجائزلکه مسجدته راتلل. لقول عائشه رضی الله عنها لوان رسول الله ﷺ رای ما احدث النساء بعده لمنعهن کمامنعت نساء بنی اسرائیل) دغه تفصیل په ردالمحتارکې دخیرملی نه نقل کولوسره ویل دی: وهوتوفیق حسن اهـ اوعربی ښځی اوعجمې ښځی په دی حکم کې تولی یوشان دی،خمونږ شریعت دټولوتوروااوسرولپاره دي والله اعلم (امدادثانی ص۱۳۲ھ)

سوال :(۷۲۱)داخبارمضمون په کوم کې چه دښځوراتلل قبرستان ته جائزګرځول شوی ستاسوخدمت ته ارسال دی چه حضورهم په دی متعلق څه ارشادوفرمایې ؟

جواب :په دی مضمون کې صرف په یوه اړخ باندی سترګی اچول شوی دي ،دکوم وجه چه داده چه دلیکلوپه وخت اصول دنظرنه غایب ؤ. اصل داده چه دقبیح یوقسم قبیح لغیره ده ددې مضمون تولونه تول حاصل دقبیح لعینه نفی ده مګرددغی قبیح لغیره نفی څنګه لازمه شوه؟ اوچه کله قبیح لغیره ده نوچرته چه غیرغالب الوقوع داده هلته ممانعت کولی شی اوپه ممانعت کې تفصیل نشی کولې ،اوهمدا حاصل دممانعت دفتوی دي . اوچرته چه غالب الوقوع نشته هلته تفصیل څنګه راغی اوهمدا حقیقت دی داثارقبیحه .۲ذالقعده سـ۱۳۴۸ھ

خلاصه دتهذیب نسوان درسالې دمضمون دکوم حواله چه په سوال کې ده.

اول دقبروزیارت تولوته ممانعت ؤوبیادتولولپاره منسوخ شو،اود حضرت عائشه دبعض اثارونه ددې تائید کولې شی اوپه مینځ کې یې په علماؤطعن کړی دی په همدې سوال کې نې د ښځولپاره د ممانعت احتمال باندی په شرعی حکم بې ناخوښی ظاهره کړی ده،دکوم چه دالفاظ دی: یادهغوی لپاره الله تعالی دتسلی دغه لازهم بنده کړی ده اومجیب صاحب په دی ګستاخی باندی هیڅ مؤاخذه نده کړی اوپه علما ؤباندی دشرعی اجتهادی حکم په تحقیق کولوکې طعن شوی دی، الله اکبریوسړی طاعت وکړی اومطعون شی اوبل سړی ګناه قریب کفرته وکړی اوهغه په دی باندی مطلع کولې هم نشی نه خودهغه تاکید کولې شی؟۸ذالله شوال سـ۱۳۳۸ھ (تتمه خامسه ص۱۵۸)

سوال :(۷۲۲)ددې لپاره چه دښځوزیارت دقبرونومنع ده په دی وجه که مستورات دزیارت دخانه کعبه اومدینه طیبه دقبرونواونوروااطرافونه دقبرونودزیارت نه منع کړی شی نوجائزدی اوکنه؟اودجناب رسول الله ﷺ دروضی اوازواج مطهراتواوصحابه کرامودروضو دزیارت نه هم منع کړی شی اوکنه؟ شرح بیان وفرمایې؟

جواب : زیارت د قبرونو د ښځو لپاره چه کله احتمال دجزع،فزع نه وی یشان د حضور د مساجد او جماعتونو ده دیوه اجازت اودبل ممانعت بی معنی ده .ذی القعده سـ۱۳۳۰ھ (تتمه اولی ص۲۱۰)

سوال :(۷۲۳)ددین علماء رحمهم الله څه فرمائي مسلمانانوته تعزیه د اهل الذمه جائزده اوکنه خصوصاپه نیت ددوستی دهغوی اودهغوی په مال کې ددنیوی طمع په نیت مفصل خواب ته ارتیاده؟

جواب :که حق دشرکت دبلدیامحله په ګمان سره عیادت وکړی نوجائزده فی الدرالمختار وجاز عیادة الذمی) بالاجماع اودوستی اوطمع فی نفسه مذموم ده لهذاتخلیص دعیادت دهغه نه ضرورده .۱۷ربیع الاول سـ۱۳۲۲ھ (امدادثانی ص۱۷۰)

په مربوب مسلم دکافرنابالغ بچی باندی دجنازی دلمانځه حکم

سوال :(۷۲۴)ددین علماؤاودشرع متین مفتیان په دی مسئلې کې څه فرمایې چه دیوه بیدین نه پیداشوی ماشوم دموردمرینی نه بعددهغه پلاردپرورش کولونه عاجزکیدلوسره یومسلمان شخص په نام احمد شاه ته راغی او وی ویل : چه ما په خوښی اورضایوه میاشتنی

لورد پرورش لپاره اوداسلام په خاطرتاته درکړه،اودنن تاریخ نه څماڅه واسطه اودعوی په دي انجلی باندی نشته اوداحمدشاه په کورکښ هیڅ اولاد موجود نه ؤدی واقعی سره دهغه ویناورته پسندشوه په خوښی اورضاسره یې مذکوره نجلی په خپله قبضه کښ واخستله اوځه زراونغدی ورکولو سرهٔ دهغی پلاررخصت کړدیوکال پرورش نه بعد احمدشاه مولویصاحب بذل الرحمن په رابللوسره دنجلی نوم یې عزیزه بیګم کیښودنوداحمدشاه په کورکښ تول دوه کاله دری میاشتی پرورش وشو،داﷲ کارونه دی چه داحمدشاه په علاقه کښ موصوفه نجلی بیماره شوه څو ورځی وروسته وفات شوه اوس دهغی دجنازی لمونځ دشرع شریف مطابق وکولې شی اوکنه ؟

جواب :د کافر نابالغ بچی ترڅو چه عاقل او ممیز نه وی مستقل مسلمان نه ګڼل کیږی ، بلکه تبعا للدار الاسلامئی یاتبعالاحدالابوین المسلم مسلمان ګڼل کیږی،په مسئوله صورت کښ نه احدالابوین مسلم دی اونه خپله بچی ممیزده . نودی ته مسلمان نه ویل کیږی اوکه داراسلام وی نوهغی ته مسلمانه ویل کیږی اوپه دی کښ اختلاف ده لکن په داسی اختلاف کښ دبچی دنفع رعایت ته ترجیح ورکول کیږی اوپه هغی باندی دجنازی لمونځ کولې شی۲رمضان س۴۹ھ (النورص ۷جمادی الاول کال ۵۰ھ

سوال :(۷۲۵)ددین علماء اودشرع متین مفتیان په مفصله لاندی مسئله کښ څه فرمایي په مدلل اومحقق خواب سره موسرفرازوفرمایي بینوا توجروا؟ یوه مسلمان یونادان وړوکښ بچی دمشرک والدین نه دپالنی په غرض دهمیشه لپاره حاصل کړدخومیاشتومودی نه وروسته بچی دمسلمان په قبضه کښ فوت شود تدفین په وخت کښ په علماؤکښ تنازع وشوه یوی ډلی په بچی باندی لمونځ وکړاودمسلمانانو په ادیره کښ ئې ښخ کړدهغوی استدلال داده چه هریوبچی دغیراسلام په طرف وړونکښ والدینوقبضه متقطع شوه بلکه داسلام په طرف وړونکښ په قبضه کښ راغی اوس دمسلمان په لاس کښ مړی بچی دغیراسلام په طریقه باندی تدفین کول دپرورش اودهغه داستحقاق فراموش کول لازم شول اوپه دی امرکښ دعالمګیری فتاوی یوروایت تائیدکوی چه که په دارالحرب کښ کوم بچی په لشکراسلام کښ راشی اودمسلمان په لاس باندی مړشی نوپه هغه باندی دی دجنازی لمونځ وکولې شی ځکه چه هغه مسلمان دمسلمان په قبضه کښ ؤددینه علاوه مولنا محمدشفیع صاحب مدظله ددیوبنددارالعلوم مفتی دیوی استفتاء په خواب کښ داسی فرمایي : چه پدی مسئلې کښ داحتیاط مقتضی همداده چه په دی بچی باندی دجنازی لمونځ وکولې شی او د فریق اول

استدلال صحیح معلومیږی اودفریق ثانی قول ده چه دجنازی دلمانځه لپاره اسلام شرط ؤ، اودمړشوی بچی اسلام معتبرنده اوحدیث دهریو مولودداسلام په فطرت باندی وی ددنیاداحکامولپاره نه دی بلکه د آخرت لپاره دي، اودغه امردبحرالرایق ،درمختاروغیره نه ثابتوی په مذکوره پورتنیو امورو کښ تحقیق فرمایلوسره دخواب نه موسرفرازو فرمایي ترڅومونږ دنالایقولپاره هدایت شواوکوم تشویش چه راپیښ ده رفع کیدلوسره یې داطمنان باعث شی اﷲ دی ستاسوحضراتو سیوری پرمونږ باندی تردیرویرږ قائم ولری آمین ثم آمین والسلام؟

جواب :درروایتونودتتبع خونه فرصت شته اونه همت پاتې شوه احکام دقواعدونه پوهیږم هغه عرض کوم (نمبر۱) دعالمګیریه درروایت دالفاظ دی : والصبی اذاوقع فی یدالمسلم من الجند فی دارالحرب وحده ومات هناک صلی علیه تبعاللصاحب الیدکذافی المحیط الفصل الخامس فی الصلوٰة علی المیت) (دوهم نمبر) دباب په احکامو کښ تصریح ده چه اصل په تبعیت کښ والدین دی لکه چه دابوینوسره که ماشوم اسیر کیدلو سره داراسلام ته هم راشی دغه وخت هم هغه غیر مسلم ده (کمافی الدرالمختاروصبی سبی مع احدابویه لایصلی علیه لانه تبع له ای فی احکام الدنیالاالعقبی اه) (دریم نمبر) : که دابوینومعیت منقطع شی دغه وخت به دصاحب یدتبعیت حکم کولی شی (څلورم نمبر) او ددغه یدقوت هغه وخت ظاهرشوکله چه دایددغلبی وی (پنځم نمبر) اوپه مسئوله صورت کښ ددغه مسلم یدیوتغلب نشته د همدي لپاره دعالمګیریه په روایت کښ داداخل نده ، دمن الجندلفظ هم ددي قرینه ده. (شپږم نمبر) دتغلب یدنه کیدل ظاهره ده چه دوالدینوپه رضاء سره داید حاصل شوی ده نو د انابت د احدالابوین ده (اووم نمبر) په اصل حالت کښ دابوین یدمنقطع نده دهمدي لپاره دصاحب یدتبعیت ظهوررونه شو.(اتم نمبر) په همدې اساس باندی دوحدهٔ قیدهم متحقق نه شو،نودهغه صبی اودهغه دابوینوتولوکښ معیت وشو (نهم نمبر) او د ابوینو د تبعیت داسراو احراز فی دارالاسلام په حالت کښ هم قاطع نسبت الی الابوین نشی کیدلی .(کمافی نمبر۲ ایضا (لسم نمبر) ددي مجموعه مقتضا داده چه په هغه باندی لمونځ ونه کړی البته که صبی داسی وی چه خپله اسلام قبول کړی نودغه وخت هغه مسلم ده (۱۱نمبر) البته که کوم مفتی ته په یدکښ دتغلب دقید متعلق شرح صدرنه وی بلکه دواړه احتماله وی هغه احتیاطاً دصلاة فتوی ورکولې شی (دولسم نمبر) اود حدیث خودی مسئلې سره هیڅ تعلق هم نشته ده،کنه نوپه هرصبی باندی به په شرط د قدرت لمونځ مشروع ؤ،اوشرعیه احکام به باطل ؤنودحدیث هغه

محمل ده کوم چه په دوهم نمبرکې مذکورده یعنی صلاة د دنیویه احکامونه ده او دحدیث مدلول دعقبی داحکامونه ده والله اعلم ۹ذی الحجة سـ۵۳ھ (النورص۸شوال سـ۵۴ھ)

په رمضان کې دتضاعف په وجه دایصال ثواب دتعین حکم :

سوال :(۷۲۶)په رمضان المبارک کې همیشه داضعاف ثواب په غرض که دایصال ثواب کیدوبه غرض سره مسکینانوته خوراک وغیره ورکول شی نوتعیناتوکې خوبه داخلیږی نه ؟

جواب :عن ابن عباس قال کان رسول الله ﷺ اجود الناس بالخیر وکان اجود مایکون فی رمضان الحدیث متفق علیه کذا فی المشکوٰہ باب الاعتکاف وعن سلیمان قال خطبنا رسول الله ﷺ وفیه من تقرب فیه بخصلة من الخیر کان کمن ادی فریضة فیماسواه ومن ادی فریضة فیه کان کمن ادی سبعین فریضة فیما سواه وفیه شهر المواساة وفیه ومن اشبع صائماًسقاه الله من حوضی وعن ابن عباس قال کان رسول الله ﷺ اذا دخل شهررمضان اطلق کل اسیرواعطی کل سائل رواهماالبیهقی فی شعب الایمان کذا فی المشکوٰة اخرکتاب الصوم ، ددې لپاره چه منشاد دغوتعیناتودثواب دتضاعف اعتقادده اودغه تضاعف خپله په همد غوروایتونوکې منصوص ده دهمدې لپاره دادهغوتعیناتوسره مشابه نده دکوموچه منشامحض رسم اورائې ده نوداعمل بلاکراهته جائزاو مطلوب ده والله اعلم ۱۳شعبان ۳۷ھ (تتمه خامسه ص۸۹)

په قبرباندی دوهم ځل دخاورې اچولوحکم :

سوال :(۷۲۷)په قبرباندی نوره خاوره اچول دشپږومیاشتونه بعدکله چه قبرتیټ شی نوپه هغه باندی دبل ځای په کنده کولوخاوره اچول جائز دی اوکنه ؟

جواب :جائزدی پدی شرط چه په کوم معین تاریخ یاتاکلی میاشت کې نه وی (فی ردالمختارعن السراجیة کمانقله الرحتی ذکرفی تجریدابی الفضل ان تطین القبورمکروه والمختارانه لایکره اه وورد فی کراهة تقییدالمطلق نصوص مشهورة، ۱۰شوال سـ۴۹ھ (النورص ۲جمادی الثانی سـ۵۰ھ)

دمړی لاس په کوم ځای اېښودل شی ؟

سوال :(۷۲۸)دمیت لاس په سینه باندی اېښودل پکاردی اوکه دواړو اړخونو ته؟

جواب :په سینه باندې نه بلکه په دواړواړخونوکې (فی الدرالمختار ویوضع یداه فی جانبیه لاعلی صدره لانه من عمل الکفار، ۱۹شوال المکرم سـ۴۹ھ (النورص۷جمادی الثانی سـ۵۰ھ)

په اديره کې چه کومې ونې لګول کیږی هغه به هم وقف وی :

سوال :(۷۲۹)ددین علماءاودشرع متین مفتیان پدی مسئلې کې څه فرمایې چه دمسلمانانو ډیر زوړ قبرستان ده، په کوم کې چه په ځمکې پاخه اوخام قبرونه جوړشوی دی اوڅه ځمکې تشې پاتې شوی دی اوس ددیرش څلویښت کلودمودی راهیسی هغه قبرستان دسرکارپه حکم بندکړی شوی ده، مګردهغه حفاظت وغیره د لاهور د اسلامې انجمن دنګرانی لاندی شوی دی،په مذکوره قبرستان کې په مختلفو ځایونواته پاخه قبرونه شته اوباقی ځمکې لویدلی ځمکې په کوم کې چه خام قبرونه ول تماملوسره یې دځمکې دېنجروپه شان شول په کوم کې چه بوس پیدا کیږی ، او هغه لیلام کولو سره دلیلام قیمت په[1] انجمن کې داخلیږی په بنجره اراضی کې چه کوم قبرونه ول دهغواوس کوم نوم اونښان باقی نده پاتې،اوسنی معمرخلک هم نه شی ویلی چه په کوم کوم ځای کې قبرونه ول یوصاحب غواړی چه په مذکور قبرستان کې ونې ودروی چه دهغه ددرخواست نقل بنجنسه دی استفتاء کې شاملولی شی اودهغه صاحب ددې سوچ وجه داده چه دلته دیوه بزرګ مزارده چه دده استاذهم ده نوپه دی طریقی سره هغه دبی حرمتی نه ساتل غواړی،اوددغوونودوچو،لاهدولرګیواومیوونه به خپله مستفید کیږی خوداانتقال حق به نه وی لکه چه ددرخواست په (۴) کې یې تصریح دهمدارنګه درخواست کونکې ددغی ځمکې به څه کرایه ورکولوته آماده ده کوم چه په (۱)او(۵) کې یې د مالیاتواو نذرانوپه عنوان لیکلی دی،لهذادشرع شریف په موجب د درخواست موافق ددغه قبرستان په تیکه ساتنی وغیره ورکولوکې کوم مانع امر خونشته اوواضح دی چه کله داضلع دلاهورقائمه شوی وه هغه وخت مسلمانانوڅه ځمکې دقبرستان لپاره دحکامودوخت نه غوښتی وی اوبواسلامې انجمن یې هم دهماغه وخت نه قائم کړی ؤ اودټولو مسجدونو،عیدګاه،قبرستان انتظام هم دهمدې انجمن په سپارښت کې وشو؟

[1] ددغه لیلام حکم هم قابل تحقیق ده. ۱۲اشرف.

په پورتني سوال کې دمذکوردرخواست نقل

دلاهوراسلاميه انجمن جناب صدرصاحب په خدمت کې، جناب صدر انجمن صاحب السلام عليکم دلاهورپه لژه يوزوړقبرستان ده ،چه وران اودحال ويلونه ده زه غوارم چه دمذکوره قبرستان ځمکې ماليات سالانه ياکوم چه دانجمن ممبران تجويزوفرمايي ماته دباغ دلګولوپه غرض راکولې شي(۱) دځمکې اندازه به ددې فن په ماهرانوکولوسره خلورطرف ته به پوخ فلزلرونکې ديوال جوړوم اوهغه ديوال به موقوفه ملکيت تصورکولې شي (۲) په ظاهره دوه قبرونه او يو مزار د مولنا ممتاز الحق صاحب رحمه الله ځرګند حيثيت لرى د هغه ساتنه او تعظيم او تکريم به کوم ،او د مذکور مزار چاپيره به ګلان وغيره لګول کيږى (۳) مذکوره اراضى به کندلوسره وبالې وبالې جوړودهراستعمال به نه وى،اودکندلوپه دوران کې چه کوم قبربرآمدشي دهغه نشان او احترام به قائم وى.(۴) درول شوى ونى به هم موقوفه متصوروى خو دغورځيدلى پريوتى لرګى اوميوو داخستلولپاره به ماته اختياروى، انجمن ته ،څماورڅه ژته اوماته دهيڅ قسمه انتقال اختياربه حاصل نه وى (۵) انجمن به دديوال دتعميراودونو لګولوتحريرى اجازه سائل ته په حيث دمتولى دمذکوره قبر،سالانه نذرانه اداء کولوباندى ورعطاء کوى کوم چه موجوده حالت سره ممبران مناسب تصورفرمائلوسره تجويزفرمايلوسره پيشنهادکړى هغه سالانه يا شپږمياشتى وروسته د اداموروى (۲) اوکوم مزيدمناسب شرطونه دقبرستان دتحفظ متعلق انجمن تجويزوفرمايي دهغوپابندى په ماوخمايه ورته اوقائمقام باندى واجب التعميل به وى؟

جواب: فى العالمگيرية فى فصل الالفاظ التى يتم بها الوقف ولو قال جعلت حجرتى هذه لدهن سراج المسجد ولم يزدعلى ذلک قال الفقيه ابوجعفريصيرالحجرة وقفاعلى المسجداذاسلمهاالى المتولى وعليه الفتوى كذافى فتاوى قاضى خان) په همدې ترتيب چه کله حکاموداويلى دى چه مونږ دغه ځمکې دقبرستان لپاره تجويزکړى دى نوداهم دقبرستان لپاره وقف شوى اوددې لپاره چه دونواتصال دځمکې سره اتصال قرارده هغه ونى به دعمارت په حکم کې وى.(كما فى الهداية كتاب البيوع ومن باع ارضادخل مافيهامن النخل والشجروان لم يسمه لانه متصل به للقرارفاشبه البناء) اودعمارت جوړولوحکم په وقف ځمکه کې داده چه هغه د ارض په شان مصرفا و شروطاًوقف به وى،نودغه ونى به په همدې شان وقف وى اوددې ځمکې نه انتفاع دکوم خاص شخص ته دانتفاع حق نشته نودځلورم نمبرشرط سره ددغې ځمکې ورکول چانه

جائزندى اوکومه کرايه چه په نمبر(۱) او (۵) کې مذکوره ده ظاهره ده چه دادونودبقاء پورې معامله ده اودځمکې وقف ددرى کلونونه اضافه په کرايه باندى ورکول جائز ندى،همدارنګه داځمکه دهميشه لپاره دمتولى دقبضى نه راوتلو سره دکرايه دارقبضى ته راځي چه دوقف داحکامونه مخالفه ده داځوپه قواعدوسره حکم ده ددينه علاوه،نظريه مصالحودنمبر۴شرط نتيجه به ديوى مودى نه وروسته داوى چه دا ځمکه هم دناصب ملک وګڼل شي په کوم کې چه دوقف لپاره عظيمه ضررده لهذادى ته اجازه ورکول درست ندى ۳صفر ۵۰ھ(النورص۹ شعبان ۵۰ھ)

په سورلى باندې دجنازى دوړلوتحقيق

سوال:(۷۳۰)دزبانى سوال په جواب د جنازى دحمل په مرکب باندى تحقيق فى مراقى الفلاح ويکره حمله على ظهر و دابة بلاعذروقال الطحطاوى اما اذا كان عذرابان كان المحل بعيد ايشق حمل الرجال له اولم يكن الحامل الاواحداً فحمله على ظهره فلاكراهة اذن ص۳۵۲) دروايت حاصل داده چه په عذرسره ددې اجازت شته،مثلاديره لرى ده چه په اوګوباندى وړل شاق دى،اودهغه مقتضاداده چه څومره لرى شاق نه وى په اوګوباندى به وړل کيږى کله چه شاق پريوځى په مرکب دى کيدى.۲۲شعبان س۱۳۵۰ھ(النورص۷ماه ربيع الثانى س۱۳۵۱ھ)

دانبياؤداجسادوعدم تغير

سوال:(۷۳۱)دانبياؤداجسادودمحفوظ پاتې کيدوپه باره کې صرف يو روايت مې له نظره تيرشوى ده چه ماسلطت الارض على اجسادالانبياء او كماقال لاكن دحضوردوفات نه بعدچه کوم حالات دنظرنه تيرشول په هغو کې يوروايت داده چه دهغوى نوک شين شوى و.يوه داده چه د حصرداستثناء نه دهغوى وفات معلوم شوچه هغوى ترهغه وخته پورې دفن نه شوحتى رباقميصه اوپه يوه کې دى چه حتى ربابطنه اوپه همدې تغيرسره حضرت صديق ددفن مانعينوباندى حجت قائم کړچه وګورى ستاسونبى وفات شو،بياحضرت ابن عباس هم وفرمايل چه : ان رسول الله ياسن كما ياسن البشر.ماددې تغيردجسدنه داتيجه راوويسته چه ددفن مانعينو لپاره داسى يوه خفيفه تغيرظاهره کړى شو ترڅوهغوى دفن شى اود رومى معراج دخيال نه راوګرځى . والله اعلم .اوکنه نوباليقين دهغوى مبارک جسدشريف په قبرکې په خپل اصلى حالت کې محفوظ اومصؤن ده ،ډيرتعجب داده چه دحضرت معاويه په زمانه کې په احدکې يونهرجارى کړى شوپه نهرکې دشهداؤ قبرونه مانع ول نوماهرينوحضرت

معاویه ته ولیکل چه سوادقبرونو په سردویستلو خمونږ لپاره کومه بله لاره نشته نوهغوی اجازه ورکړه نو کله چه دنهرلپاره قبرونه کندل کیدل نودجابربن عبدالله په روایت د شهداؤلاشونه په داسی شان برآمدشول چه معلومیدل گلونه دی بیا هغوی په کندوباندی دخپو لاندی کولوسره دهغه ځای نه علاحده کړی شول اوپه همدې سلسله کې دحضرت حمزه ﷺ په خپوکې بیلچه ولگیده نووینه راووته په داسی حال کې چه داواقعه کم ازکم دشهادت نه څلویښت کاله وروسته ده دکوم ځایه چه ماته معلومه ده داسی کوم روایت نشته چه په هغه کې دشهداؤد اجسادودمحفوظ پاتې کیدو وعده وی،هرکله چه دشهداؤاجسادمحفوظ پاتې کیږی نودانبیاؤ اجسادبه په اولی درجه محفوظ وی ځکه چه دهغوی لپاره خووعده شته؟

جواب :فی التفسیرالمظهری اخرج الحاکم وابوداؤدعن اوس بن اوس قال قال رسول الله ﷺ حرم علی الارض ان تاکل اجسادالانبیاءً واخرج ابن ماجة عن ابی الدرداء نحوه ،په دی باب کې نور حدیثونه هم شته اوکوم تغیرات چه په سوال کې نقل شوی هغه دارض تاثیرات ندی دهغوی لپاره تعارض نشته بلکه تغیرات دخواصوپه موت سره هم ندی داسی تغیرات په ژوندیوکې هم دمرض په سبب راتلای شی او د حضرت عباس قول به په همداسی تغیراتوباندی محمول وی،او استدلال به دتقریب فهم لپاره وی،اوداتول هغه وخت دی چه کله ددې روایتونورجال ثقات وی اوکنه روایتونه حجت ندی نو تعارض نشته، باقی دشهداؤلپاره هم بلکه دبعض نوروصلحاؤ لپاره هم وعده په احادیثو کې وارده ده. فی التفسیرالمظهری بروایة الطبرانی قال قال رسول الله ﷺ اذامات حامل القران اوحی الله تعالی الی الارض ان لاتاکل لحمه فتقول الارض یارب کیف اکل لحمه وکلامک فی جوفه قال ابن منده وفی الباب عن ابی هریرة وابن مسعود واخرج المروزی عن قتادة قال بلغنی ان الارض لاتسلط علی جسدالذی لم یعمل خطیئة) اومونږته ددغو روایتونو د صحت یاحسن تحقیق نشته لکن تعددخپله دتقویت داسبابونه ده نورکوم معارض دلیل نشته نوقبولول یې ضروردی اود صاحب دروح المعانی داقول : مایحکی من مشاهدة بعض الشهداء الذین قتلوا منذمات سنین وانهم الی الیوم تشخب جروحهم دماًاذارفعت العصابة فذلک مما رواه هیان بن بیان وما هو الاحدیث خرافه وکلام یشهدعلی مصدقیه تقدیم السخافة اه) واجب الردده لکونه مخالفا للمشاهدة المتواترة فمنهامافی المظهری اخرج مالک عن عبدالرحمن بن صعصعة انه بلغه ان عمروبن الجموح وعبدالله بن

جبیرالانصاری کان قدحفر السیل قبرهماالی قوله فوجدالم یتغیراکانهماماتابالامس وکان بین احدوبین حفرعنهماستة واربعین سنة واخرج البیهقی ان معاویة لما اراداان یجری کظامة نادی من کان له قتیل باحدفلیشهدفخرج الناس الی قتلاهم فوجدوهم رطابایتثنون فاصابت المسحاة رجل رجل منهم فانبعث دماواخرج ابن ابی شیبة نحوه وارج البیهقی عن جابروفیه فاصیبت المسحاة قدم حمزة فانبعث دماًاه، اوکه ددې خلاف کومه واقعه یې ...اشی دهغی خواب دبیان القرآن په متن ،حاشیه اوموائدا عوائدکې مذکور ده حاشیه علی قوله . اوداتول هغه وخت دی چه د روایتونو رجال ثقاة وی کنه روایتونه بیخی حجت ندی اه اوپه دی احتمال کې دلاندی مضمون سره نورقوت راځی فی اصح السیرلمولنا عبد الرؤف القادری ، طبقات ابن سعددمودی راهیسی ورک ؤ د مسلمانانوسره ددې مکمله نسخه کله هم موجوده نه وه، اوس هغه د یورپ عیسائیانوچاپ کړی ده او همدغه خماد سترگولاندی ده مگرد هغه کومه نسخه داصل تصنیف سره موافق ده په هغه کې درسول الله ﷺ د وفات متعلق اودامهات المؤمنین متعلق بعضی داسی روایتونه موجوددې چه هغه په اسلامې تصنیفاتو کې سره دهلوخلوماته یې پته میلاونشوه دابن سعداکثرروایتونه متاخرینونقل کړی دی مگردا مهملات هیچاندی لیکلی دیقین سره خوبې نه شم ویلی چه دیورپ الحاق ده ددې لپاره چه طبقات ابن سعدخپله داسی کوم کتاب نده چه دهغه ټول روایتونه قابل قبول دی،بیاهم هرکله داپوره کتاب مونږته دیورپ په واسطه میلاوشوی ده په همدې اعتمادباندی د ابن سعد حواله هم جائزنده ترڅوچه دهغه سندپه متداولو کتابونو کې میلاونشی، د حدیث، سیرت، تفسیر نور کتابونه هم عیسویانو چاپ کړی دی، ددغوکتابونوهم کوم سندنشته ده،اونه په هغو اعتماد شته په هغوی کې صرف هغه خبری قابل قبول دی چه دکوموسندچه په متداولو کتابونوکې میلاوشی ملا علی قاری په موضوعات کبری کې لیکلی دی: (قلت ومن القواعدالکلیة ان نقل الاحادیث النبویة والمسائل الفقهیة والتفاسیرالقرآنیة لایجوزالامن الکتب المتداولة لعدم الاعتماد علی غیرهامن وضع الزنادقة والحاق الملاحدة بخلاف الکتب المحفوظة فان نسخهایکون صحیحة متعددة) داقاعده دهغوکتابونولپاره هم ده چه اتفاقیه یې کومه نسخه دکوم مسلمان سره پیداشی خو هغه به متداول کتاب نه وی نوکوم کتاب چه بالکل دمسلمانانوسره نه وی محض د عیسویانوپه ذریعی سره راغلی وی په هغه څه اعتبار ده.ربیع الاول ـ ۱۳۵۲ھ(النورص۹)

دمولنامحمداسحاق صاحب بردواني دام فيضهم لخوا ضميمه

حضرت اقدس مدظله العالي دتسليماتونه بعدعرض ده چه الله تعالى دى حضوريه عافيت سره لري په خيريت سره دى مطمئن وفرمايي (النور ص ۹، دربيع الاول سنه ۱۳۵۲ھ په باره کي دتغيرمتعلق سوال ده دکوم چه حضورځواب مرحمت فرمايلی ده، دتغيرمتعلق وکيع بن الجراح داسماعيل بن ابی خالدنه روايت کړی ده اواسماعيل اوجراح اگرکه دلوبي مرتبی دی اواسماعيل تابعی دی مگردهغونه وروسته څوک دی ددي پته نشته اوځومره راويان محذوف دی دهغو ځای نشته اويه دی روايت باندی په هغه قرن کي چه دتابعينوقرن ده سخت انکاروشواويه صدرثانی کي چه کله چه دحدنه انکاروشونو معلوميږی چه داروايت محض بی اصل اوغلط ده (فی نسيم الرياض ص ۳۹۰ ج ۱) شرح شفاء القاضی عياض لشهاب الخفاجی وقدحرم الله جسده على الارض واحياه فی قبره کسائرالانبياء عليهم الصلوٰة والسلام وقدرايت فی بعض الکتب ان السلف اختلفوافی کفرمن قال ان النبی ﷺ توفی يوم الاثنين وترکه ليلة الاربعاءلا شغالهم بامرالخلافة واصلاح امرالامة وحکمته ان جماعة من الصحابة رضی الله تعالى عنهم قالوالم يمت فارادالله ان يريهم آية الموت فيه ولماحدث وکيع بهذابمکة رفع الى الحاکم العثمانی فارادصلبه على خشبة نصبهاله خارج الحرم فشفع فيه سفيان بن عيينة واطلقه ثم ندم على ذلک ثم ذهب وکيع الى لمدينة فکتب الحاکم لاهلهااذاقدم اليکم فارجموه حتى يقتل فابردله بعض الناس بريدا اخبره بذلک فرجع للکوفة خيفةمن القتل وکان المفتی لقتله عبد المجيد بن ابی روادوقال سفيان لايجب عليه القتل وانکرهذا الناس وقالوارايتابعض الشهداءنقل من قبره بعداربعين سنة فوجدرلبالم يتغيرفی شئ فکيف بسيد الشداء والانبياء عليه وعليهم الصلوة والسلام، وهذه زلة قبيحة لاينبغی التحدث بهاه) او همدارنگه د چهار شنبی شپی پورې دمبارک جسدپی دفنه پريخودل غلط دی (فی الطبقات لابن السعد ص ۳ ج ۳، وتوفی صلوات الله عليه يوم الاثنين (حين زاغ الشمس ص ۱۳۰ ج ۲) په څليرېشتوگېنټوکي په معمولی لاشونوکي تغيرنشی راتلای فکيف بسيدالمرسلين، ددي عرض نه دا مقصود ده چه که حضور عالي ئی خوښه کړی دضميمه ځواب فرمايلو د شائع کولو حکم وفرمايي، النورکي ددغه مضمون ليدلو سره سخت په اضطراب کي ووم اوددي مضمون عرضه کيدل ماليدلی وه مگرد تفحص نه بعدنه وه ميلاو شوی تول مي دالله لپاره وليده نوفوراًراؤوت الحمدلله على هدايته ډير ادب ۲۷ جمادی الاول سنه ۱۳۵۲ھ (النور ص ۹ جمادی الاول ۱۳۵۲ھ)

دوهمه ضميمه دمولوی صاحب عبدالماجدرياباندی

لاندی عبارت په ابن هشام سيرت کي ميلاوشو دغسل په موقع باندی (ولم يومن رسول الله ﷺ شي ممايری من الميت) اوس ددينه اوچت صراحت بل کوم کيدی شی؟ بياداستنادپه لحاظ هم د سيره ابن هشام مرتبه دطبقات ابن سعدنه څومره لوړه ده داکتاب خاص په سيره نبويه باندی دتحقيق کولولپاره ليکل شوی ده، طبقات خويه اصل کي دصحابه وٌاوتابعينوتاريخ ده نبويه سوانح محض ضمنا راغلی دی بياهمداشان په سيرة ابن هشام کي همداهم مذکوردی چه حضرت على غسل ورکولواودالفاظ يې ويلولگياؤ وعلى يقول بابی انت وامی ماطيبک حياوميتا) ددي نه علاوه يوبل روايت خپله په صحابه وٌکي ميلاوشو، ابن ماجه کتاب الجنائزباب ماجاء فی غسل النبی ﷺ کی دي عن على ابن ابی طالب قال لما غسل النبی ﷺ ذهب يلتمس منه مايلتمس من الميت فلم يجده فقال بابی الطيب طبت حياوطبت ميتا) اوس خود طبقات) ددغه لغوه روايت ترديدځماپه خيال بالکل واضح کيږی مناسب ده چه همداهم د ضميمي په قسم په النورکي درج وفرمايل شی. والسلام النور ص ۹ محرم سنه ۵۴ھ

په بعض حالاتوکي قبرونوطرف ته دښانه کولوجواز:

سوال :(۷۳۲) بنده د حضور نه تپوس کړی وٌچه عوام خلک دمقابرونه تيريږی ادباً شاه نه وراړوی تاسو وفرمايل چه دا ادب طبعی ده يانوره کومه عقيده هم ده؟ بنده عرض کوی چه صرف طبعی ادب ده نوره کومه عقيده نشته بينواتوجروا؟

جواب :په دی حالت کي څه حرج نشته په دی شرط چه دعوامومخی ته داسی ونه شی په کوم کي چه احتمال تجاوزعن الحدودوی والسلام ۲ جمادی الاول سنه ۱۳۳۵ھ (تتمه خامسه ص ۱۰)

دکفارونه دقبردساتنی په نيت دقبرورکوالي:

سوال :(۷۳۳) دلته دکلاددیوال په بيخ کي يوقبرده کوم ته چه ددي ځای مسلمان اوهندودفتح پيرمزاروائي، اودا روايت هم مشهورده چه د سابق رئيس په وخت کي شايدچادلته دغيرذبيحه

هدوکي یاکوم بل ناپاک ځيز اچول نوشيی ته رئيس ته چه (هندراجپوت ده) په خوب کي صاحب دقبرتنبيه کړی چه په هغی باندی رئيس دقبرڅلورديوالونه جوړکړل، مګرددې په سبب چه پورته سايبان ياچت نشته اودقبربرسر ته محل جوړشوی ده د کوم دمينځ نه ګندګی، فضله شيان يادمرداری غوښی هدوکي يادشرابود څاځکودلويدلواحتمال شته اوس دغه رياست دماشومانودانتظام د اداری داهتمام لاندی ده دمصرف بجټ کي شپږروپی دکال دچراغی په نام سره اودری روپی فقيرته دداسی خدمت دورکولولپاره درج مګرماد پورته مذکوره بی ادبی دبچاو لپاره پورته دسايبان دکراپه ورکولولپاره دا رقم ددری کلوبچاوکولو سره ساتلي دی، اوس سوچ راغی چه معلوم نده چه په داسی کولوکي کوم شرعی وبال خوبه نه وی؟ دهمدي لپاره عرض ده چه په دی باره کي کوم شرعی حکم وی ارشادوفرمايل شی اوکه دساتنی لپاره د جسودڅادرونويادکوم بل قسم کول به جائزوی نوهغه به جوړکړی شی اوپه راتلونکوکلونوکي دچراغ په فلتواوحق الخدمت دفقيرکي مصرف کيږی اوکه داجائزنه وی نوهغه رقم چه ددری کلونوجمع دی هغه بيرته په رياست کي جمع کړی شی ياچرته خرچولی شی بياجمع کولوکي غالب احتمال ده چه په راتلونکي بجټ کي داسی رقم منظور نه شی ځکه چه هرکله روميی په مصرف ونه رسيدلی نوبيامنظوری نه ميلاو يږی په هرحال څرنګه چه شرعی حکم وی عمل درآمدپه به کولي شی تر څوپه مابانديی کومه مؤاخذه پاتي نشی؟

جواب: دموقع په خصوصيت سره دتاسوتجويزمناسب ده په حسن نيت سره به ګناه نه وی بلکه دقبردحفاظت من الهانت په سبب اجرشته. ۸ رمضان المبارک سـ۱۳۳۵هـ (تتمه خامسه ص ۲۲)

په مسجدکي دجنازی دلمانځه دکراهت تحقيق:

سوال: (۷۳٤) ددين علماء اودشرع متين مفتيان رحمهم الله په لاندی امورو کي څه فرمايي:

(۱) دجنازی لمونځ په داسی صورت کي چه جنازه امام، مقتدی ټول خلک مسجدکي وی نوڅنګه ده؟

جواب: مکروه ده علی الارجح کمافی الشامي مګرصرف دهغولپاره چه مسجدکي دی. (۲) که جائزنده نومکروه ده نوداکراهت څنګه ده تنزيهی اوکه تحريمي؟

جواب: اختلاف ده (۳) دکوموحديثونونه چه صلوة جنازه فی المسجدمکروه ثابت شوی د هغو د رواياتو سند څنګه ده آياهغوی چا جرح کړی دی اوکنه؟

جواب: په آثارالسنن کي دهغواسنادوته حسن ويل شوی دی اوپه اعلاء السنن کي ديرتفصيل ده خو د هغو د مسودو چاپول تيرشوی دی. کنه دهغه نه هم نقل کولو اوکوم خواب چه دجرحي ورکول شوی هغه مضر نده اود جوازحديث فعلی ده اودعدم جوازپه فعلی باندی ترجيح وی (۴) دسهيل بن بيضاء ﷺ د جنازی لمونځ چه په مسجد کي وُهغه په کوم عذرسره وو؟

جواب: مختلف عذرونه نقل شوی دی لکن مطلق عذريقينی ده ځکه چه دحضرت عائشی په داسی درخواست باندی صحابه وُ نکير وفرمايلو اودغه حديث هغونه په اوريدلوسره هم رجوع ونه کړله (رواه مسلم) (۵) په صلوة جنازه فی المسجدکي دنوروائمه وُڅه مسلک ده؟

جواب: نووی په شرح مسلم کي دشافعی ،احمدبن حنبل اوبعضی مالکيه وُمذهب دجواز ليکلی دی اودامام صاحب اودخپله امام مالک دعدم جواز (۲) په مقابرواوشارع عام کي صلاة جنازه څنګه ده؟

جواب: که په شارع عام کي تنګی راځی نومکروه ده اوپه مقابروکي غيرصلاة جنازه خومکروه ده اودصلاة جنازی دکراهت کوم دليل نشته ځکه چه په دی کي چه کله مخامخ ايښودل دميت پسندولی شی نوپه قبر کي څه حرج ده بياپه بعض وختونوکي خپله صلوة علی القبر هم مشروع ده. د (۲) تتمه: که لوپه مجموع وی اوکوم ځای سوادمسجد نه داسی نه وی چه په هغه باندی دامجمع سنبال شی نوپه داسی صورت کي که جنازه او امام دڅومقتديانوسره دمسجدنه بهروی او ټول خلک په مسجدکي وی آيادغه صورت به په اعذارو کي شميرل کولي شی اوکنه فقهاؤرحمهم الله داسی صورت دکراهت نه مستثنی کړی اوکنه؟

جواب: ګنائش نه کيدل عذرده مګرميت په مسجدکي کيدل د مصلينوپه مسجدکي کيدلونه اهون ده (۷) ددي لپاره چه دجنازی لمونځ فرض کفايه ده پداسی صورت کي کله چه مجمع زياته وی اود مسجدنه سوابل کوم ځای دومره فراخه نه وی چه دامجمع په کي ځای شی نوآياد دی مجمع نه څوکسان دصلاة جنازی لپاره منتخب کړی شی اوباقی منع کړی شی دافعل څنګه ده جائزده اوکنه؟

جواب: دافعل بی اصله ده (۸) نن صباپه مسجدحرام کي دجنازی لمونځ په کوم ځای کي وی؟

جواب: ماته معلومه نده لکن که هلته په مسجدکي هم کولي شی نواصل فعل دادبل مذهب والاؤده اوممکن ده چه دمسئلي دمجتهد فيه کيدوپه سبب احناف هم شريک شی نوپه دی فعل سره تمسک نشی کيدلی. ۵ جمادی الاول سـ۱۳۵۲هـ (النور۷ماه جمادی الاول سـ۵۴هـ)

دشپې داړواهو د راتللوكورته تحقيق:

سوال :(۷۳۵)په ص۹۸دوهمه حصه دفتاوی رشيديه کې ديوسوال څواب کې فرمايي چه دنارينه وروحونه دجمعې په شپه کې کورته نه راځي دا روايت غلط ده.اوددې خلاف په نورالصدورص۱۲۸باندی دابوهريره په روايت بيان فرمايي دکوم چه مطلب داده چه دجمعې په شپه دمومنانو روحونه دخپل خپل ځاى په مقابل کې ودريدوسره چيغې وهي چه مونږ ته څه دوااوهرروح زرنارينه اوبنځوته چيغې وهي .روايت ددې حديث شيخ ابن الحسن ابن على په خپل کتاب کې کړی اوس عرض داده چه شرعاً صحيح معامله کومه ده؟

جواب :اول خوددې سندقابل تحقيق ده بله داچه دثبوت په تقدير مقيدده په اذن پورې اودعوی دنفی دحکم دعموم په تقديرده نودوارو کې تعارض نشته.۲۲جمادی الاولی ۱۳۵۳ھ النورص۹ماہ جمادی الثانی ۵۴ھ.

په شپه کې ددفنولوحکم:

سوال :(۷۳۶)حضرت والاددې حديث متعلق څه فرمايي کوم چه په لاندی طريق موجود ده: (لاتدفنو امواتكم بالليل الاان تضطروا)ددې حديث له مخې دشپې دمړی دښخولونه ممانعت ثابتيږی لاکن په اوسنی زمانه کې په هيڅ ځاى کې په شپه کې دميت نه دفنول ناراٸج ندی اونه دکوم عالم نه اوريدل شوی دی .چه داحديث په عمل کې راوستل شی اوکنه ؟ اودفتاوی عالمگيريه عبارت غالباً داده :لاباس به ؟ ۲۰ذی الحجه ۱۳۵۳ھ

جواب :الحديث المذكورفى السؤال ضعيف بابراهيم بن يزيدنعم روى مسلم عن جابربن عبدالله ان النبى ﷺ خطب يومافذكررجلامن اصحابه قبض فكفن فى كفن غيرطائل وقبرليلافزجرالنبى ﷺ ان يقبر الرجل بالليل حتى يصلى عليه الا ان يضطرانسان الى ذلك وقال النبى ﷺ اذا كفن احد كم اخاه فيحسن كفنه قال النووى قوله ﷺ حتى يصلى عليه هو بفتح اللام واماالنهى عن القبرليلاحتى يصلى عليه فقيل سببه ان الدفن نهارًايحضره كثيرون من الناس ويصلون عليه ولا يحضرفى الليل الاافراد.وقيل لانهم كانوايفعلون ذلك بالليل لرداءة الكفن فلايبين بالليل ويويده اول الحديث واخره قال القاضى العلتان صحيحتان قال والظاهران النبى ﷺ قصد هما معا قال وقد قيل قوله ﷺ الا ان يضطر انسان الى ذلك دليل انه لاباس فى وقت الضرورة وقداختلف

العلماء فى الدفن بالليل فكرهه الحسن البصرى الابضرورة وهذاالحديث ممايستدل له به قال جماهيرالعلماء من السلف والخلف لايكره واستدلوابان ابابكرالصديق وجماعة من السلف دفنواليلامن غيرانكاروبحديث المراة السوداء اوالرجل الذى يقم المسجدتوفى بالليل فدفنوه ليلاوسالهم النبى ﷺ عنه فقالواتوفى ليلاً فدفناه فى الليل فقال الا آذنتمونى قالواكانت ظلمة ولم ينكرعليهم واجابواعن هذاالحديث ان النهى لمن ترك الصلوٰة ولم ينهه عن مجردالدفن بالليل وانمانهى لترك الصلوة اولقلة المصلين اوعن اساءة الكفن اوعن المجموع كما سبق اه وقال المحشى قوله حتى يصلى عليه الخ قال الامام النووى يصلى هوبفتح اللام وقال الشيخ ابن حجر فى شرح صحيح البخارى قوله يصلى عليه هومضبوط بكسرا اللام اى يصلى النبى ﷺ فهذاسبب آخرللنهى غيرسبب عدم تحسين الكفن يقتضى انه ان رجى بتاخيرالميت الى الصباح صلوة من ترجى بركته عليه استحب تاخيره والافلاوبه جزم الطحطاوى اه قلت وقددفن (مبنيا للفاعل) النبى ﷺ بالليل كمافى جمع الفوائدعن الترمذى انه ﷺ دخل قبرًاليلافاسرج له سراج فاخذه من قبل القبلة معترضاوقال رحمك الله ان كنت لاواها تلاءللقران فكبر عليه اربعا وايضا قد دفن (مبنياللمفعول) النبى ﷺ بالليل كمافى جمع الفوائدعن القزوينى انه دفن ﷺ وسطا الليل من ليلة الاربعاء الحديث وكان كل ذلك دليلافعلياًعلى الجوازوالدليل القولى عليه بل على كراهة انتظارالنهاربلاضرورة مافى جمع الفوائدعن ابى داودان طلحة بن البراء لما مرض اتاه رسول الله ﷺ يعوده فقال لا اراه الاقدحدث به الموت فاذنونى به وعجلوافانه لاينبغى لجيفة مسلم ان تحبس بين ظهرانى اهله وبذلك كله قال فقهاء نا كما فى ردالمحتارولذاكره تاخيرصلاته و دفنه ليصلى عليه جمع عظيم بعدصلوٰة الجمعة وفى الدرالمختاره يكره الدفن ليلا۲۲ذي الحجة ۱۳۵۳ھ النورص۱۰شوال ۵۴ھ

دايصال ثواب اعمال طريقه:

سوال :(۷۳۷)ايصال دثواب دمتوفاه لورکې حضور علیہ السلام هم شريک کولې شی يابلاشرکت صرف دمتوفات نوم اخستل کيږی او درودشريف په اول اوآخرکې ولوستل شی کوم دول طريقه افضله ده د هغی نه حضرت مطلع وفرمايي مثلاياسين شريف په لوستلوسره داوويل شی چه ددې ثواب دی آنحضرت سره داصحابوته ورسی اومتوفاة ته دی ورسی ،(۲) ايصال ثواب

بالاشتراک یا با لافراد (۳) اوکوم ثواب چه مړی ته رسیږی بلا شراکت د ﷺ هغه مړی دغه ثواب دانحضرت په خدمت کښ پیش کوی لکه چه همرشته مکتوب ملفوف کښ لیکل شوی ده دادحدیث نه ثابت دی اوکه محض د حضرت مجدد کشف ده بینواتوجروا؟

جواب: دمکتوبات متعلق چه څه لاندی لیکل کیږی دهغه نه دټولو سوالونوخواب کیږی: **دمکتوب نقل**: دامام ربانی مجدد الف ثانی دریم دفتر (۲۸ مکتوب) د مکتوباتونه. دی بیان کښ چه دسرو ارواحگانو ته دصدقه کولو کیفیت څنګه ده دملاصالح ترک په طرف صادر فرمایلی دی: الحمدلله وسلام علی عباده الذین اصطفی یوه ورځ مې سوچ راغی چه دخپلونژدی خپلو انومړودبعضوروحانیت لپاره صدقه وکولې شی، په دی اثناء کښ ظاهره شوه چه په دی نیت سره هغه مرحوم میت ته خوشحالي حاصله شوه اوخوشحاله اوتازه په نظرراغی کله چه ددې صدقی دور کولووخت راغی اول مې دحضرت رسالت خاتمیت علیه السلام لپاره ددې صدقی نیت وکړ لکه چه عادت ؤ دهغی نه بعدمې ددې مړی دروحانیت لپاره په نیت کولوسره ورکړه دغه وخت هغه مړی کښ ناخوښی اوغم محسوس شواوکلفت اوکدورت ظاهرشوددې حال نه ډیرمتعجب شوم اودناخوښی اوکلفت کومه وجه ظاهره نه شوه، په داسی حالکه چه محسوسه شوه چه په دی صدقی سره ډیربرکتونه دی مړی ته رسیدلی دی خوبه هغه کښ سروراوخوشحالي ظاهره نشوه، په همدې شان یوه ورځ مې څه نقدی د حضور علیه السلام لپاره نذرکړی اوپه نذرکښ مې ټول انبیاء هم داخل کړل اوهغوی دحضور علیه السلام لپاره طفیلی جوړکړل په دی کارکښ د حضور علیه السلام مرضی اورضانیت معلوم شو، په همدې ترتیب بعضی وقتونوکښ چه مادرودلیګل که په هغه مرتبه کښ په ټولوانبیاؤ باندی هم درودلیګلونوپه هغی کښ به حضور علیه السلام مرضی نه ظاهریده حالانکه چه معلومیږی چه که دیوه مؤمن دروحانیت لپاره صدقه کولوسره ټول مؤمنان شریک کړی نو ټولوته رسیږی، اوددغه سړی داجرنه چه په کوم نیت سره یې ورکړی وه هیڅ کمیږی نه، ان ربک واسع المغفرة، یقیناستارب لوی بښونکې دی، پدی صورت کښ دناخوښی او نارضانیت وجه دڅرمودپورې دغی مشکلی خبری څماپه زړه کښ غوټه پاتې وه بالاخره دالله تعالې په فضل سره ظاهره شوه چه دناخوښی اوکلفت وجه داده چه که صدقه بغیرد شرکت نه دمړی په نام ورکول شی نومړی دغه صدقه دخپل ځان طرف نه دهدې په طوردحضورپه خدمت کښ وړیسی، او دهغودوسیلی سره برکات اوفیوضات حاصل کړی اوکه صدقه ورکونکې خپله دحضور علیه السلام نیت وکړي نو مړي ته به څه نفع وي، د شرکت په صورت کښ که صدقه قبوله شي نومړی ته یوازې دهمدې صدقی ثواب میلاویږي

اودعدم شرکت په صورت کښ که صدقه قبوله شی نود همدې صدقی ثواب هم میلاویږی اوددې صدقی دتحفی اوهدیه کولو فیوض اوبرکات هم دحبیب رب العلمین علیه الصلاة والسلام سره پاتې کیږی په همدې شان هرسړي لپاره چه څوک شریک کړی همدا نیت موجودده چه په شرکت کښ یوه درجه ثواب شته اوعدم شرکت کښ دوه درجی ثواب چه هغه مړی دځان له طرف هغه ته پیش کوی شی او داهم معلومه شوه چه هدیه اوتحفه چه کوم غریب یې دکوم بزرگ په خدمت کښ راوړی بغیردچادشراکت نه اګرکه طفیلی وی نوددې تحفی په خپله پیش کول بهتردی اوکه دشرکت سره، هیڅ شک نشته چه د شرکت نه بغیربهتر ده اوهغه بزرگ خپلووروتوته دخپل ځان نه ورکړنو ددې خبری نه بهترده چه داسړی بی فائدی نورځان سره شریک کړی، اوآل اواصحاب چه د حضور علیه السلام دعیال په شان دی هغوی که څوک طفیلی جوړولو سره دحضور په هدیه کښ داخلولی شی نوښه او مقبول په نظرراځی هو، مشهوره ده که څوک په هدیات مرسوله کښ د کوم بزرگ سره دهغه ما تدینی شریکې کړی نوداد ب اورضامندی نه لرې معلومیږی اوکه دهغه خادمان طفیلی ګرځولوسره هدیه ورسوی نوهغه ته پسند ښکاری څکه چه دخادمانوعزت دهغه عزت ده نو معلومه شوه چه ډیره دمړورضامندی دصدقی په افرادکښ ده نه د اشتراک په صدقه کښ لاکن ښکارده چه کله دمړی لپاره دصدقی نیت وکړی نواول دحضورپه نیت باندی هدیه جداکړی بعددهغی نه دغه میت لپاره صدقه وکړی، څکه چه دحضور علیه السلام حقونه دنورو د حقوقونه اوچت دی په دی صورت کښ دحضور علیه السلام په طفیل ددې صدقی دقبولیدواحتمال هم شته، دافقیردمړوپه بعض صدقاتو کښ چه کله دنیت ددرست کولولپاره خپل ځان عاجزګرځندوی نود دینه په بهترعلاج باندی هیڅوک نه پوهیده چه داصدقه دحضور علیه السلام په نیت مقررکړی اودغه میت دهغه طفیلی وګرځوی امیدده چه دهغودوسیلی په برکت سره قبوله شی علماؤفرمایلی دی چه د حضور علیه السلام پورې رسیږی اګرکه دهغه ثواب درودلیګو نکوته میلاونه شی څکه چه داعمالوثواب په نیت درست کولوپورې موقوف ده اوحضور علیه السلام لپاره چه کوم قبول اومحبوب ده بهانه کافی ده داایت کریم وکان فضل الله علیک عظیما د حضور علیه السلام په شان کښ نازل شوی علیه وعلی اله الصلاة وعلی جمیع اعوانه الکرام من الانبیاء والعلماء العظام الی یوم القیام

دمکتوب متعلق تحقیق

ددې مکتوب دمضمون په بناء څه منقول ندی غاية مافی الباب یو کشف کیدی شی نورهم صرف داول حصه یعنی په شرکت کې سرورنه کیدل پاتې شوه آخره برخه یعنی دناخوښی وجه دامحض ذوق معلومیږی چه اصطلاحی کشف نده اوکه په دی کې داخل هم وی داسی داقعاتوکې بالکل دادنی درجی کشف وی،اودهری درجی کشف هم حجت نده خصوصاً دغیر صاحب کشف لپاره دهغه رعايت اواتباع په هیڅ درجه کې هم مطلوب نده خصوصاکله چه ذوق هم ذوق ته ونه لګیږی څکه چه د هدې پیش کول په شرکت کې هم ممکن ده خپله حصه پیش کولی شی، اوکه دعدم سرورانکشاف هم صحیح ومنل شی نودهغه اساس غالباً یل څه دی،اوهغه موقوف دی دیوی مقدمې پورې اوهغه داده چه بعضی طبعیه اموردوفات نه بعدهم باقی پاتې کیږی لکه چه حدیث دعروج دروح،اودنوروواروا‌حو استقبال اودهغوډده نه دمتخلیفینوحال پوښتنه کول اوبیادکوم روح داوېناچه لګ هغه ته دساه اخستلووخت ورکړی دا ټول ددې دعوی دلیلونه دی هرکله چه داامقدمه معلومه شوه نوپوه شه چه داامرطبعی ده چه کوم خیزلوی اوواړه ته په شرکت کې ورکول شی نو وړوکې انسان دهغه په تقسیم کې شرمیږی په همدې شان هلته ممکن ده په همدې ترتیب لوی سړی که دنورشرکاؤاحترام دلوېانوپه شان کوی هغه هم دهغوی خپل طفیلی ګرځولوکې شرمیږی اودکوم سره چه دخاد میت اومخدومیت په شان تعلق ده کله دخپل اتباع دهغودطفیلی ګرځولو باندی هم نه شرمیږی مګرتراوسه ددغه طبیعی امروقوع په برزخ کې خپله ثابت نده.،دهمدې لپاره څمايه نزدداسی امورویه کومه درجه هم لحاظ نشته .نوپه کومه طريقه چه زړه غواړی ایصال یې کړی برابره خبرده چه دایصال ثواب کولوپه وخت کوم عزیزته حضور علیہ السلام شریک کړی یانکړی،اودرودشریف ددعاء دادابونه ده دتلاوت دادابونه نه ده او نه داکله ثابته ده چه مړی خپل ثواب دحضور علیہ السلام په حضورکې پیش کوی،ددینه دټولو سوالونو خواب وشو،۲۵ ربیع الثانی سـ۵۴ھ النورص۷ربیع الاول سـ۵۵ھ.

داعمالودایصال ثواب طریقه:

سوال :(۷۳۸)چادخیرعمل کولوسره دهغه ثواب یې مړوته وبابښه کوم،ته چه په عام عرف کې ایصال ثواب ویل کیږی ددې کومه طريقه په قران پاک کې ښوول شوی اوکنه ؟ اوددې کوم دستوردرسول الله په مبارک عهداودخلفاء راشدینوپه عهدکې ﷺ ؤواوکنه که ؤنوڅنګه ؤ؟

جواب :کله مې دنظرنه نده تیره شوی البته فقهاؤدېته تعرض فرمایلی ده: لکه چه علامه شامي په درمختارکې بحث زیارة القبور تحت قول ویقرايسين دشرح الباب نه نقل کړی : ويقرء من القران ما تيسرله الی قوله ثم يقول اللهم اوصل ثواب ماقراناه الى فلان اواليهم اه ص۹۲۳ج۱، دهغوی داسی نظرده لکه چه دلمانځه لفظی نیت د سلف نه منقول نده خو فقهاؤهغه ته مستحسن ویلی دی په همدې شان دهغه حکم هم ده بس دا صیغه نه ضروری ده اونه بدعت ده والله اعلم ۱۲شعبان کال ۵۴ھ النور ص ۷ شوال کال۵۵ھ.

دورځوپه تعین سره دایصال ثواب حکم:

سوال :(۷۳۹)دکال په اکثروحصوکې دبزرګانوداروا‌حودایصال ثواب لپاره دخلکوجمع کولوسره دکوم خاص انتظام نه بغیراومعینه اوقات دقرآن شریف لوستل کیږی نوجائزخودخپل دوستانواواحبابود شمولیت لپاره وینا څنګه ده؟

S :داغیرمقصودلپاره تداعی ده چه بدعت اومکروه ده ۲ جمادی الاولی سـ۱۳۵۴ھ النورص۴ربیع الثانی کال ۵۵ھ.

الجزء الثالث = اعلم انه لاخلاف بان المذاهب الاربعة فی ندب الدعاء سرللامام والفذواجاز المالکیة والشافعیة جهرالامام به لتعلیم المامو مین اوتامینهم علی دعائه فامانصوص المالکیة ففی المعیارقال ابن عرفة مضی عمل من یقتدی به فی العلم والدین من الائمة علی الدعاءبترالذکرالواردبترتمام الصلاة وماسمعت من یکره الاجاهل غیرمقتدی به ورحم الله بعض الاندلسین فانه لماانتهی الیه ذلک الف جزء رداعلی منکرة اه وفی نوازل الصلاة منه ایضامن الاموراتی هی کالمعلوم بالضرورة استمرارعمل الائمة فی جمیع الاقطارعلی الدعاءادبارالصلوات فی مساجدالجماعات واستصحاب الحال حجة واجتماع الناس علیه فی المشارق والمغارب منذالازمنة المتقادمة من غیرنکیرالی هذه المدة من الادلة علی جوازه واستحسان الاخذبه وتاکده عندعلماء الملة اه باختصار، وقال القاضی محمدبن العربی والدعاء بعد المکتوبة افضل من الدعاء بعدالنافلة اوفی الاکمال ذکرعبدالحق اماکن قبول الدعاء وان منها الدعاء اثر الصلاة وانکرالا مام ابن عرفة وجودالخلاف ذلک وقال لااعرف فیه کراهة قلت ان عنی بقوله لااعرف فیه کراهة ای لمتقدم فصحیح وان عنی به مطلقا ففیه شیئی لان الشیخ الشهاب الدین القرافی رحمه الله تعالی ذکره فی آخرقواعده وعللهابمایقع بذلک فی نفس الامام من التعاظم اه واقول مقتضاه ان القرافی کرهه مطلقاسراوجهراولیس کذلک ففی ابی الحسن علی الرسالة مانصه من العلماء لائمة المساجدو الجماعات الدعاءعقیب الصلوات المکتوبة جهرللحاضرین فیجتمع لهذاالامام التقدم وشرف کونه نصب نفسه واسطة بین الله تعالی وعباده فی تحصیر مصالحهم علی یدیه فی الدعاء فیوشک ان تعظم نفسه ویفسدقلبه ویعصی ربه فی هذه الحالة اکثرممایطیعه ف : قال الجامع الکراهة لوجودالعارض الغیرالغالب لاینفی الاباحة اذاانعدم العارض .

الجزء الرابع ،وقداکثرالناس فی هذه المسئلة اعنی دعاءالامام عقب الصلاة وتامین الحاضرین علی دعائه وحاصل ماانفصل عنه الامام ابن عرفة والغبرینی ان ذلک ان کان علی نیة انه من سنن الصلاة وفضائلها فهو غیرجائزوان کان مع السلامة من ذلک فهوباق علی حکم اصل الدعاء والدعاء عبادة شرعیة فضلها من الشریعة معلوم عظمه.

الجزء الخامس ،وامانصوص الشافعیة ففی فتح المعین مع المتن وسن ذکرودعاء سراعقبهای الصلاة ای یسن الاسرارفیهمالمنفردو ماموم وامام لم یردتعلیم الحاضرین ولاتامینهم لدعائه بسماعه اه وفی شرح العباب لابن حجروفتاویه الکبری ویسن للمصلی الاکثار منفرداوماموماکمافی المجموع عن النص بعدالسلام عن الصلوة اکثارذکرالله تعالی والدعاء سرللاخبارالصحیحة لکن قال الاسنوی الحق انه یسن للامام ان یختصر فی الذکروالدعاء بحضرة الماموین فاذاانصرف فاطول

الجزء السادس= بعدقوله وامانص الحنابلة باسطرفیوخذمن مجموع ذلک ان الدعاء اثرالصلوات مسنون عندالحنابلة لانه من ساعات الا جابة کمادلت علیه الاحادیث المارة بل قال الشیخ منصوربن ادریس الحنبلی فی شرح الاقناع مع المتن یسن ذکرالله والدعاء والاستغفار عقب الصلوة المکتوبة الی ان قال ویدعو الامام بعدفجروعصر لحضورالملئکة فیهمافیؤمنون علی الدعافیکون اقرب للاجابة وکذا یدعو بعد غیرهمامن الصلوة لان من اوقات الاجابة ادبارالمکتوبات ویبدالدعاء بالحمدلله والثناء علیه ویختم به ویصلی علی النبی ﷺ اوله واخره ووسطه ویستقبل الداعی غیرالامام هناالقبلة لان خیرالمجالس مااستقبل به القبلة ویکره للامام استقبال القبلة بل یستقبل الماموین لماتقدم انه ینحرف الیهم اذاسلم ویلح الداعی فی الدعاء ویکرره ثلاثا لانه نوع من الالحاح والدعاءسرا افضل منه جهرالقوله تعالی ادعواربکم تضرعاوخفیة لانه اقرب الی الاخلاص قال ویکره رفع الصوت به فی الصلاةوغیرهاالالحاج فان رفع الصوت له افضل لحدیث افضل الحج العج والثج اه المرادوالظاهر انهم لایکرهون الجهربالدعاء لقصد التعلیم والتامین فتدبر،

الجزء السابع – واما نص الاحناف ففی شرح نورالایضاح للشیخ حسن الشرنبلالی الحنفی مع المتن یستحب للامام بعده ای بعدالتطوع وعقب الفرض ان لم یکن بعده نافلة ان یستقبل الناس ان شاءان لم یکن فی مقابله مصل لمافی الصحیحین کان النبی ﷺ اذاصلی اقبل علینابوجهه وان شاء الامام انحرف عن یساره وجعل القبلة عن یمینه وان شاء انحرف عن یمینه وجعل القبلة عن یساره وهذااولی لمافی مسلم کنااذاصلیناخلف رسول الله ﷺ احبناان نکون عن یمینه حتی یقبل علینابوجهه

وان ذهب لحوائجه قال تعالی فاذاقضیت الصلوة فانتشروافی الارض وابتغوا من فضل اللہ والامر للاباحۃ الی قولہ رافعی ایدیھم حذاء الصدور وبطونھامایلی الوجہ بخشوع وسکون الخ ۔

الجزء الثامن ، فتحصل من ھذاکلہ ان الدعاء بر الصلوات مسنون ومشروع فی المذاھب الاربعۃ لم ینکرہ الاناعق مجنون قدضل فی سبیل ھواہ ووسوس لہ الشیطان فاغواہ ، ظن الجھول بان مطلق عقلہ یھدیہ یومالسبیل المستوی فاضلہ حق الشریعۃ ردھابمجرد البھتان والسفہ القوی یارب سلمنا وسلم دیننا واھدالعبادلمنھج الحق السوی ، الجزء التاسع ،فیمایتعلق برفع الیدین عندالدعاء قال السیدمحمدبن عبدالرحمن الاھدل اعلم وفقنی اللہ وایاک لمرضاتہ ان رفع الیدین فی دعای دعاءکان فی ای وقت کان بعدالصلوات الخمس وغیرھادلت علیہ الاحادیث خصوصاًوعموماًفمن العموم مااخرجہ ابوداودوالترمذی حسنہ وابن ماجۃ وابن حبان فی صحیحہ والحاکم وقال صحیح علی شرط الشیخین من حدیث سلمان قال قال رسول اللہ ﷺ ان اللہ حیی کریم یستحیی اذارفع الرجل الیہ یدیہ ان یردھماصفراخائبتین واخرج الحاکم وقال صحیح الاسنادمن حدیث انس رضی اللہ عنہ قال قال رسول اللہ ﷺ ان اللہ رحیم کریم یستحیی من عبدان یرفع الیہ یدیہ ثم لایضع فیھماخیراو اخرج احمدوابوداودمن حدیث مالک بن یسارقال قال رسول اللہ ﷺ اذاسالتم اللہ فاسئلوہ ببطون اکفکم ولاتسالوہ بظھورھا واخرج ایضامن حدیث ابن عباس نحوہ وزادفیہ فاذافرغتم فامسحوابھاوجوھکم واخرج الترمذی من حدیث عمربن الخطاب رضی اللہ عنہ قال کان رسول اللہ ﷺ اذارفع یدیہ فی الدعاء لم یحطھماحتی یمسح بھماوجھہ وقال فی فتح الباری کتاب الدعوات فی باب رفع الیدین فی الدعاء وقدوردت الاخبارفی مشروعیۃ الرفع وقدجرج ابوداودوالترمذی وحسنۃ وغیر ھمامن حدیث سلمان رفعہ ان ربکم حیی کریم یستحیی من عبدہ اذا رفع یدیہ ان یردھماصفرا بکسر المھملۃ وسکون الفاء ای خالیۃ وسندہ جیداہ، ومن الخصوص مامرفی الفصل الاول ف/ قال جامع ای من اصل الکتاب وھوماسبق فی الجزء الاول من ھذاالا نتخاب ف ۲ قال الجامع امااستحباب رفع الایدی للدعاء علی کل حال فمر ادہ اذاقراء الفاظ الدعاء وبنیۃ الدعاء وطلب الحاجۃ کماھوداب الداعی واما اذا ذکر بعض الادعیۃ الماثورۃ بنیۃ الذکروالا ستان بسنۃ النبی ﷺ کمافی ادعیۃ الصباح

والمساء والنوم والیقظۃ ودخول الخلاء والخروج عنہ ودخول المسجدوالخروج عنہ والدعاء عند الوضوء والقیام من المجلس ودخول السوق وامثال ذلک علی مابسطہ علماء ھذاالفن کمافی عمل الیوم واللیۃ لابن السنی، والاذکارللنووی والحصن الحصین وغیرھافلم یسمع بمن قال بسنیۃ رفع الیدین فی ھذہ المواضع ولم یسمع فی السلف والخلف بمن یفعل ذلک کیف ولوکان کذلک لرایت الناس فی عامۃ احیانھم واحوالھم رافعی ایدیھم وھذاالفرق فی ذکرالفاظ الادعیۃ قدرعاہ الفقھاء حتی الرعایۃ حیث قالوا فی الجنب انہ لایجوزلہ قراۃ الادعیۃ اذاکان بنیۃ التلاوۃ واما اذا ذکرھابنیۃ الدعاء فیجوزکمافی عامۃ کتب الحنفیۃ انتھی ۔

الجزء العاشر: فی حکم رفع الیدین علی المذاھب الاربعۃ اماعند المالکیۃ ففی عتبیۃ قال مالک رایت عامربن عبداللہ یرفع یدیہ وھوجالس بعدالصلاۃ یدعوفقیل لمالک اتری بھذاباساقال لااری بہ باسا ولایرفعھما جدًاوقال ایضاًرفع الیدین الی اللہ تعالی عندالرغبۃ علی وجہ الاستکانۃ والطلب محمود،وقال القاضی ابومحمدابن العربی اختلفوافی الرفع الی این یکون فقیل الی الصدروقیل الی الوجہ وجاء عن النبی ﷺ انہ کان یرفع یدیہ فی الدعاءحتی یبدوبیاض ابطہ ۔

الجزء الحادی عشر،واماعندالشافعیۃ ففی فتح المبین علی الاربعین لابن حجرورفع الیدین فی الدعاء سنۃ فی غیرالصلواۃ وفیھافی القنوت اتباعالہ ﷺ ۔

الجزءالثانی عشر،واماعندالاحناف فقدمرعن الشرنبلانی طلب رفعھمافی الدعاء دبرالصلواۃ حذاء الصدروبطونھممایلی الوجہ بخشوع وسکون ۔

ف . قال الجامع وسبق ماعن الشرنبلانی فی الجزالسادس ۔

الجزء الثالث عشرواماعندالحنابلۃ فمقتضی قول الشیخ البھوتی فی شرح المقنع فی باب الاستسقاء ویرفع یدیہ استحباب فی الدعاء لقول انس کان النبی ﷺ لایرفع یدیہ فی شئ من دعائہ الافی الاستسقاء وکان یرفع حتی یری بیاض ابطہ متفق علیہ وظھور ھمانحوالسماالحدیث رواہ مسلم اہ ان رفعھمامکروہ فی غیرالا ستسقاء لکن مرعنہ رفعھمافی القنوت بل قال الشیخ منصوربن ادریس الحنبلی فی شرح الاقناع مع المتن ومن اداب الدعاء بسط یدیہ ورفعھماالی صدرہ لحدیث مالک بن یسارمرفوعااذاسالتم اللہ فاسئلوہ ببطون اکفکم ولاتسالوھابظھورھارواہ ابوداؤد

باسنادحسن وتکون یده ۱-مضمومتین لماروی الطبرانی فی الکبیرعن ابن عباس کان النبی ﷺ اذادعاضم کفیه وجعل بطونهمایلی وجهه وضعفه فی المواهب.

الجزء الرابع عشر.فیمایتعلق بمسح الوجه بالیدین بعدالدعاءقد مرمایدل علی طلبه من الاحادیث واماحکمه علی المذاهب الاربعة فعندالمالکیة قال فی المعیارقال ابن زرقون وردالخبروقال ابن رشدانکرمالک مسح الوجه بالکفین لکونه لم یردبه اثرواتماالخذمن فعله الصلوٰة والسلام للحدیث الذی جاء عن عمررضی الله تعالی عنه قلت قال بجوازمسح الوجه بالیدین عندختم الدعاء الامام الاستاذ ابوسعید بن لب وابوعبدالله ابن علاق وابوالقاسم بن سراج من متاخری ائمة غرناطة وابن عرفه والبرزلی والغبرینی من ائمة تونس والسیدابویحیی الشریف وابوالفضل العقبانی من ائمة تلمسان وعلیه مضی عمل ائمة فاس اه والمرادبالحدیث الذی جاء عن عمر رضی الله عنه مااخرجه الترمذی عنه قال کان رسول الله ﷺ اذرفع یدیه فی الدعالم یحطهماحتی یمسح بهماوجهه اه نقل ذلک المازری وغیره کذافی شرح الشیخ محمدبن ابی القاسم المالکی علی نظمه للمسائل التی جری بهاعمل الائمة قال الشیخ ابو القاسم البرزلی وهذایردانکارعزالدین بن عبدالسلام المسح اه وعند الشافعیة والاحناف انه سنة فی کل دعاء الافی القنوت کمافی کتبهم، ومرعن الحنابلة انه سنة فی کل دعاء حتی فی القنوت وقدعده ابن حجرفی شرح العباب کمامرمن آداب الدعاء وقال قال الحلمی والمعنی فیه التفاؤل بان کفیه قدملئتاخیرًافیفیض منه علی وجهه والله اعلم.

ف. قال الجامع وهذاالقول من مسح الوجه فی القنوت مذکورفی اصل الکتاب فی اخرالمطلب الثانی من الفصل الاول تحت عنوان نص الحنابلة بهذه العبارة وفیه ایضاً فی مبحث صلوة الوترویقنت فیهای فی الثالثة الی قوله ویمسح وجهه بیدیه اذافرغ من دعائه هناوخارج الصلوة اه

اوله برخه:دامام نسایي شاګرد، ابن سنی په خپل کتاب **عمل الیوم واللیة**، کې لاندی اسناددمتن سره دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت کړی ده چه نبی علیه السلام فرمایلی دی چه هر کله دالله تعالی کوم بنده دهرلمانځه نه وروسته لاس خورولواوېدلوسره دادعاء وکړی نوالله تعالی په خپله ذمه باندی لازموی چه دهغه لاسونه محروم ونه ګرځوی (بلکه دهغه دعاقبوله فرمائي) اوددعاء ترجمه داده:یاالله ای خمامعبوده اودحضرت ابراهیم ،اسحاق اویعقوب معبوده اودجبریل

کذافی الاصل والظاهریداه ۱۲

دمیکائیل اواسرافیل معبوده زه له تانه سوال کوم چه خمادعاء قبوله کړه ددې لپاره چه زه مضطر (مجبور)یم اوددین په معامله کې خماحفاظت وکړی ځکه چه مبتلې په معاملویم،اومایه خپل رحمت کې واخله،ځکه چه زه ګنهګاریم، او خمانه فقراومحتاجی لری کړه ځکه چه زه مسکین یم،ددې حدیث په اسناد کې یوراوی عبدالعزیزبن عبد الرحمن هم دی ،دکوم په باره کې چه دعلماؤکلام (اختلاف)ده اوپه میزان الاعتدال وغیره کې یې ددې تصریح کړی ده چه داحدیث ضعیف ده،لکن په فضایل اعمال کې پدی باندی عمل کولې شی لکه چه هراهل علم پوهیږی اوددې حدیث تقویت په دی روایت سره هم کیږی کوم چه حافظ ابوبکربن ابی شیبه په خپل مصنف کې داسودعامری عن ابیه په روایت سره نقل کړی ده چه هغه بیان کړی چه مادحضور علیه السلام سره دسهارلمونځ وکړکله چه هغوی ﷺ سلام وګرځاوه نودقبلی په طرف بیرته کیدلوسرهٔ دواړه لاسونه پورته کړل اودعاء یې وکړه د(راتلونکې دعاهمغه ذکرده چه په پورتنی حدیث کې تیره شوه)اوداخبره پته نده چه دحدیث ائمهؤفرمایلی دی چه دیره ضعیف روایت سره چه کله بل ضعیف روایت (دهغه موید میلاوشی) نوهغه ساقط اوغیرمعتبرکیدو ددرجی نه ترقی کولوسره داعتماداواعتباردرجی ته رسیږی اوحافظ جلال الدین سیوطی په خپلی رسالې:(فض الوعاء فی احادیث رفع الیدین فی الدعاء) کې دابن ابی شیبه په حواله دمحمدبن یحی اسلمي نه نقل کړی ده چه مایوخل عبدالله ابن زبیرپه دی ترتیب ولیده چه هغه یوسړی ولیده چه دلمانځه نه دفارغیدومخکې یې لاس اوچتولوسره دعاء کوله کله چه هغه سړی دلمانځه نه فارغ شونوده ته یې وفرمایل چه رسول الله ﷺ ترهغه وخته پوري چه دلمانځه نه فارغ نه ؤدعالپاره لاس نه اوچتولوددې روایت ټول راویان ثقه دی آه داتحقیق علامه سیدمحمدبن عبدالرحمن بن سلیمان بن یحی بن عمربن مقبول اهدل زبیدی رحمه الله بیان فرمایلی ده اوپه کتاب المعیارکې دی چه (دحدیث امام) عبدالرزاق داروایت نقل کړی چه دنبی کریم ﷺ نه چاپوښتنه وکړه چه کومه دعاډیره اوریدل کیږی؟ (یعنی زیاته قبولیت ته قریبه ده) حضور علیه السلام وفرمایل :دشپی آخری نیمایې وخت کې اودفرض لمونځونونه وروسته .دی حدیث ته محدث عبدالحق اوابن قطان صحیح ولی دی اوامام محدث ابوالربیع په خپل کتاب مصباح الظلام کې دنبی کریم نه روایت کړی ده چه هغوی ﷺ فرمایلی دی چه :کوم سړی ته دالله تعالی نه دکوم حاجت غوښتنه وی هغه دی دفرض لمونځ نه بعدو غواړی اهـ

دوهمه برخه: امام ابن سنی دحضرت ابوامامه نه روایت کړی چه زه به کله هم درسول الله سره په فرض یانفل لمانځه کې قریب ؤم نودادعابه یې کوله وامې وریدل چه یاالله زماټولی ګناهګانی

اوخطاګانی معاف وفرمایه،یاالله ماواوچت کړه اوخمادنقصان جبیره وکړه،اوماد عمده اخلاقواواعمالوپه طرف هدایت وفرمایه ؛ ځکه چه ښواخلاقواو اعمالوطرفته هدایت کول سوادتانه بل څوک نشی کولې،اونه دبدو اخلاقواواعمالونه دتاسونه سواځوک لرې کولې شی،اوامام [۱] نسائي دحضرت کعب نه روایت کړی چه هغه فرمایلی دی: چه قسم ده په هغه الله چه موسی لپاره یې سیندد وه ځایه کړی ؤچه مونږ په تورات کې دالیکلی پیداکړی دی چه نبی الله حضرت داود علیه السلام چه کله به دخپل لمانځه نه فارغیدلونوداد عاء به یې کوله یاالله خمادین درست وفرمایه کوم چه تاسوخمالپاره پناه ګرځولی،اوخمادنیادرست کولو سره راکړه په کومه کې چه تاسوخماګذاره ګرځولی یاالله زه دتاسود غصی نه ستاسوپه رضاسره پناه اخلم او دتاسو د عذاب نه دستاسوپه معافی سره پناه اخلم اوزه ستانه په هم ستاسره پناه اخلم کوم څه چه تاسوعطاء فرمایې څوک دهغی منع کونکې نشته اوکوم څه چه ته منع کړی دهغی څوک ورکونکې نشته اوستاپه مقابله کې دکوم کوښښ کونکې کوښښ نه چلیږی .راوی وایې چه حضرت کعب داهم وفرمایل چه حضور علیه السلام هم دلمانځه دخلاصولونه بعدداد عافرمایله او په تلخیص درسالې کې په ضمن دفائدی دمستدرک حاکم باب الدعاء بعدالصلاة سره ددې روایت هم اضافه کړی شوی ده چه حضرت معاذ رضی الله عنه فرمایلی دی چه یوه ورځ نبی علیه السلام خمالاس ونیوه اووی فرمایل ای معاذه! قسم په الله ؛ زه له تاسره محبت لرم معاذ عرض وکړ یارسول الله خماموراوپلار دی په تاقربان شی قسم په الله زه هم دتاسوسره محبت لرم بیایې وفرمایل ای معاذه زه تاته وصیت کوم چه دهرلمانځه نه وروسته دادعاکله هم مه پریږده ‹دعاداده› یاالله په خپل ذکر، اوشکراوښه شان عبادت کولوسره خما مددوفرمایه.راوی وایې چه بیامعاذ همداوصیت صنابحی ته وفرمایه اوصنابحی عبدالرحمن ته اوعبدالرحمن عقبه بن مسلم ته ، حاکم دی حدیث ته علی شرط البخاری ومسلم صحیح ولی دی،او علامه ذهبی هم په تلخیص کې داقبول کړی دی

تتمة الفائدة : او ابو داود روایت کړی چه حضور علیه السلام فرمایلی دی چه کله تاسود ماښام دلمانځه نه فارغ شوی نواوه ځله دادعاووایه یاالله ماته داورنه نجات راکړه که دا دعا ولولی اوبیاپه همدې شپه تاته مرګ راغی نوستالپاره به دجهنم داورنه نجات لیکل کیږی ، اوچه کله دصبح

---

[۱] په اصل رساله کې دنسائی حدیث ناتمام لیکل شوی ؤ،کوم چه تلخیص کې دفائدی په عنوان مکمل لیکل شوی ده دهمدی په خاطرپه ترجمه کې دمکمل حدیث ترجمه اخستل شوی ده بیاپه اصل رساله کې چه څومره اجزاء اخستل شوی دهغوترجمی حاجت باقی نشو،۱۲منه

لمونځ وکولې شی هلته هم دادعاپه همدې ترتیب ولولی که په همدې ورځ تاته مرګ راشی نوستالپاره به دجهنم نه نجات لیکل کیږی

دریمه برخه ښه پوه شه چه په مذاهب اربعه ‹یعنی حنفیه،شافعیه، مالکیه، حنابله› کې په دی باره کې هیڅ اختلاف نشته چه ‹ دلمانځه نه وروسته › په ورودعاء کول دامام اومقتدی دلپاره مستحب ده اومالکیه اوشافعیه دامام لپاره ددې اجازه هم ورکوی چه دعاء په زوره ووایې ترڅومقتدیانوته تعلیم شی یاهغوی دده په دعاباندی آمین وویلی شی،په دی باره کې دمالکیه ؤفقهیه روایات دادی . په معیارکې راغلی دی چه ابن عرفه ویلی دی چه په علم اودین کې دکومو علماؤاقتداء کولې شی دهغوعمل په دی پاتې شوی دی چه دلمانځه دختمولونه وروسته یې ماثوره ادعیه لوستلې اومادچانه دی اوریدلی چه ددې نه انکارکوی بغیردهغه جاهل نه چه دهغه اتباع نشی کولې اوالله تعالی دی داندلس په بعضی علماؤرحم وفرمایې چه کله هغوی داواوریدل چه بعضی خلک ددینه انکارکوی نودهغی په تردید کې یې یوه رساله تصنیف وفرمایله اه.

اودمعیارکتاب،په نوازالصلاة کې مرقوم دی په هغوامورو کې چه ثبوت یې دضروریاتو اوبدیهیاتوپه شان ده دټولی دنیادا طرافودانمه کرامو هم داعمل ده چه دلمنځونونه بعدپه مسجدونواوجماعتونوکې دعاګانی کوې، او استصحاب حال یوشرعی حجت ده اوپه مشرق اومغرب کې دټولو مسلمانانوپه دی باندی متفق او مجتمع کیدل اوهیچاانکارنه کول ددې عمل جائزاو ددې اختیارولو، مستحب او مستحسن کیدلو او د مذهب د علماؤپه نزد ددې د مؤکد کیدلو د دلایلو په ډله کې دی انتهی باختصار او دریم نمبر قاضی محمدابن العربی فرمایې چه دعاء دبعدالفرض افضل ده ددعاء بعدالنفل نه اودڅلورم نمبرپه اکمال کې دی چه عبدالحق رحمه الله هغه مواضع جمع کړی دی په کومو کې چه دعاقبلیږی،په هغو کې یودلمانځه نه بعد دعاء هم ده.اوامام ابن عرفه په دی باره دکوم خلاف کیدونه انکار فرمایلی ده اوویلی دی چه زه په دی کې کوم قسم کراهت باندی نه یم پوه شوی زه وایم چه که امام ابن عرفه په خپل قول کې دکوم کراهت نه پوهیدلونه دامراداخستی وی چه کوم متقدم بزرګ دیته مکروه نده ویلی نوصحیح ده،که مطلقا مکروه نه ویل مراد ده نوپه دی کې یو تردد شته اوهغه داده چه شیخ شهاب الدین قرافی رحمه الله د خپلو قواعدوپه آخر کې کراهت ذکرکړی ده اود کراهت علت ئي دابیان کړی چه دامام په نفس کې دهمدې په سبب تکبر او تعاظم پیداکیږی، انتهی زه وایم چه ددې مقتضا داده چه علامه قرافی دیته مطلقا مکروه ویلی دی سراوی اوکه

جهراً حالانکه واقعه داسې نده څکه چه دابوالحسن درسالې په حاشیه کې دالفاظ دی: قرافی وایې چه امام مالک اوعلماؤبوجماعت دمسجدونواوجماعتونو امامانو لپاره دفرض لمونځونونه بعددحاضرینودااورولولپاره جهراً دعاکول مکروه ګڼلی ده څکه چه په دی صورت دهغه لپاره دوه څیزونه دلویې اوسیادت جمع کیږی،دامامت په وجه دتولونه وړاندی کیدل بل داچه هغه خپل ځان دالله اودهغه دبند ګانویه مینځ کې په دعاءکې یوه واسطه ګرځولوسره ودرولی ده نوتعجب نده چه دهغه په نفس کې تکبر پیداشی اودهغه زړه فاسدشی اوپه دی حالت کې چه دحق تعالی څومره عبادت کوی دهغونه زیات په ګناه کې مبتلا کیږی (ف، حضرت جامع په استحباب الدعوات، رسالې کې فرمایې :چه کومَ کراهت چه دکوم داسی عارض په وجه وی چه دهغه وجوداکثراوغالب نه وی هغه کراهت دعارض دمعدوم کیدوپه وخت کې داباحت فی نفسه سره معارض اومخالف نده.

څلورمه برخه : خلکوپه دی مسئلې کې ډیربحث اوخبری اتری کړی دی،یعنی دلمانځه نه بعددامام دعاء کول اودحاضرینوپه هغې باندی آمین ویل اوددې تحقیق چه کومه خلاصه امام ابن عرفه اوغبرینی فرمایلی ده داده چه داسی دعاکه په دی نیت سره وی چه دادلمانځه په سنتواومستحبوکې یوسنت او مستحب ده نو بیا خو ناجائز ده اوکه ددې عقیدی نه په سلامتی سره (محض دیوی مستجابی دعاء کیدو په حیثیت سره) وی نوهغه داصل دعاء په حکم کې ده او دعاء یو شرعی عبادت ده دکوم فضیلت چه دنصوص شرعیه نه معروف اومشهور ده. آه دی خایه پوری دعدوی کلام ختم شو څه اندازه تصرف اوزیادت سره.

پنځمه برخه : اودشافعیه مذهب فقهیه روایتونه (په دی مسئلې کې) دادی : په فتح المعین اودهغه په متن کې دی: او مسنون ده ذکراودعاء دلمانځه نه بعدپه وروسره یعنی ددعاء ورولوستل مسنون دی منفرد لپاره هم اودامام اومقتدی لپاره هم اودهغه امام لپاره هم چه دااراده ونه لری چه حاضرینوته تعلیم شی یاحاضرین دده دعاءاوریدوسره بیا آمین ووایې آه او(۲) دابن حجررحمه الله علیه په شرح عباب کې او د هغه په فتاوی کبری کې راغلی دی: مسنون ده دلمونځ کونکې لپاره کله چه هغه منفردیامقتدی وی (لکه چه په کتاب مجموع کې په حواله سره مذکورده) داچه دلمانځه نه دسلام ګرځولوسره په کثرت سره دالله ذکروکړی،اوپه وروواوازسره دعاء وکړی،لکه چه په صحیحه احادیثو کې واردشوی دی.لکن امام اسنوی فرمایلی دی چه حق داده چه دامام لپاره مسنون داده چه دمقتدیانوسره په ذکراودعاء کې

اختصاروکړی .کله بې چه وکړه همغه وخت چه هغوی لاړشو یا منتشر شی) بیا اوږدذکراودعاء کولې شی.

شپږم جزء،اودحنابله مذهب دفقهیه روایتونومتعلق چه څه عبارات صاحب د رسالې نقل کړلونه بعدفرمایلی دی چه ددغوعبارتونود مجموعی نه دازده کیږی چه دعاء دتولولمنځونونه بعددحنابله ؤپه نزد مسنون ده ،ددې لپاره چه داوخت داجابت په ساعتونوکې ده لکه چه مذکوره حدیثونه په دی باندی دلالت کوی بلکه شیخ منصورابن ادریسی حنبلی په شرح اقناع کې فرمایلی دی چه دفرض لمانځه نه بعدذکرالله دعاء،اواستغفارمسنون دی تردی نې فرمایلی دی چه امام دی دفجراوعصرنه وروسته دعاوکړی څکه چه دی دؤولمنځونوکې فرښتی حاضریږی،نوهغوی به دده په دعاءامین وایې په کوم چه هغه اقرب الی القبول ګرځی اوپه همدې ترتیب ددغودوولمنځونونه علاوه نوروولمنځونوکې دی دعاکوی څکه چه داجابت دوختونوځینی یو وخت دفرض دلمنځونونه بعدهم ده اوپکارده چه دعاء دحمداوثنانه شروع کړی اوپه همدوی بې ختم کړی اوپه نبی کریم باندی دی په اول اوآخرکې درودووایې اوپه مینځ کې هم اوټول دعاءکونکې دی په دغه وخت خپل مخونه دقبلی په طرف کړی علاوه دامام نه څکه چه بهترین مجلس هغه ده چه په هغه کې استقبال قبله وی لکن دامام لپاره د (لمانځه دخلاصیدونه بعد) استقبال قبله مکروه ده بلکه مقتدیانوپه طرف توجه کولوسره به کښینی،څکه چه پورته تیره شوی چه امام ته د سلام نه بعدمقتدیانوپه طرف بیاراتلل پکاردی،اوپکارده چه دعا کونکې په دعاکولوکې الحاح اواصراروکړی اودعاء دری ځلی مکرر کړی څکه چه دری ځلی مکررکول هم دالحاح صورت ده،اوپه او رو اوازسره دعاچه نسبت سره جهرته افضل ده څکه چه دالله تعالې ارشاد ده ،ادعواربکم تضرعاً وخفیه،یعنی خپل رب ته په الحاح اوزاری سره په خفی اوازسره ،څکه چه خفیه اوسراً دعاءکول داخلاص په طرف اقرب ده فرمائي (یعنی شیخ منصور) اوپه دعاءکې جهراووچت آوازی په لمانځه اوغیرلمانځه کې مکروه ده مګرحاجیان ددې نه مستثنی دی چه دهغوی لپاره آوازاوچتول افضل دی ددې حدیث په سبب چه افضل حج هغه ده چه هغه کې آوازونه (دعاء او تلبیه) اوچت وی اود (قربانیو) وینی وبیول شی آه.مراد په ظاهره کې داده چه که ددعاء جهردحاضرینودتعلیم اودهغودآمین ویلوپه نیت سره وی نوعلماؤدیته مکروه ندی ویلی

اووم جزء : اودحنفیه مذهب او فقهیه روایتونه دادی : دعلامه شرنبلالی دنورالایضاح شرح اودهغی په متن کې راغلی دی مستحب ده دامام لپاره دنفلونه وروسته اودفرضونه وروسته

که ددې فرضونه بعدڅه نقل نه وی داچه که غواړی دخلکوپه طرف متوجه کیدوسره دی کښینی په دی شرط چه دهغه په مواجهه کښې کوم شخص لمونځ نه کوی ځکه چه په صحیحینو (بخاری مسلم) کښې شته چه کله نبی ﷺ به لمونځ کولونه خوتړ په طرف به متوجه کیدلو، اوکه غواړی نوامام داهم کولې شی چه دخپل چپ طرف ته دی راوګرځی اوقبله دی خپل ښی طرفته کړی اوکه غواړی په خپل ښی طرف دی راوګرځی اوقبله دی خپل چپ طرفته کړی اودااوروستی صورت بهتراواولی ده دهغې لپاره چه دمسلم په حدیث کښې دی کله چه موږ د نبی ﷺ شاته لمونځ کولونوده غوښتل چه موږ دهغوی ښی طرف ته ودریږو، ترڅودهغه چهره مبارکه خوتړ په طرف وی اوامام ته دا اختیار هم شته چه دلمانځه نه بعدنه کښینی، بلکه دخپل حاجت لپاره اوچت ولاړوی دحق تعالی ارشادده چه کله لمونځ پوره شی نودزمکې اطرافو کښې خپاره شی اودالله تعالی رزق اوروزی طلب کړی اوداحکم (دخپریدو) داباحت او جواز لپاره ده (الی قوله) د دعاء په وخت لاس پورته دخپلوسینوپه برابروی، اودلاس داخلی طرف یعنی دورغووطرف د خپلی چهری په طرف وی، اوداټول کارونه دخشوع اوسکون سره کیدل پکاردی

اتم جزء نودمذاهبودعباراتواوټولوحدیثونونه داحاصله شوه چه دټولو لمنځو نونه وروسته دعاکول په ټلورومذهبونوکښې مسنون اومشروع ده، ددې انکارسواد هغه جاهل مجنون نه ندی کړی کوم چه دخپلی نفسانې هواپه لاره کښې ګمراه شوی اوشیطان دهغه په زړه کښې وسوسه اچولوسره هغه دوکه کړی ده، (دنظم ترجمه) جاهله دازده کړه چه محض دهغه عقل په کوم وخت هغه سیده لاری ته هدایت کړی دهغه دغه ګمان دی ګمراه کړی تردی چه په شریعت باندی محض بهتان اوخپلی انتهایې بیوقوفی سره ردکول کوی، ای خوتړه ربه موږاوخوتړدین سلامت وساته اوخپلوبند ګانوته صحیح اوسیده لاره هدایت وفرمایه!

نهم جزء ددعاء په وخت دلاس اوچتولومتعلق سیدمحمدبن عبد الرحمن اهدل فرمایلی دی: پوه شه! الله تعالی دی مااوتاسوته دخپلی رضاء توفیق عطاو فرمائې چه ددعاء په وخت کښې هره دعاء چه وی اوچه څه وخت وی دلمنځونونه بعدوی یادهغونه سواپه نوروختونوکښې دلاس اوچتولو دلالت نبویه احادیث کوی د خاصو* خاصو وختونو لپاره هم او د عامو وختونو لپاره هم د عمومو الفاظو روایتونه خو دادی ابو داود، ترمذی، او ابن ماجه روایت کړی دی او ترمذی دی روایت ته حسن ویلی دی اوحبان داروایت په خپل صحیح کښې درج کړی ده، اوحاکم په مستدرک کښې داصحیح علی شرط الشیخین لیکلی دی، هغه حدیث داده: حضرت سلمان

فارسی فرمایلی دی چه رسول الله ﷺ وفرمایل چه الله تعالی ډیرحیاء کونکې اوکریم دی، ددې نه حیاکوی چه کوم سړی د هغه طرفته ددعاء لپاره لاس پورته کړی اوهغه خالې اومحروم رد کړی، اوحاکم دوهم نمبردحضرت انس نه روایت کړی اوصحیح الاسنادئې ورته ویلی دی رسول الله فرمایلی دی چه الله تعالی رحیم اوکریم دی، دهغه بنده نه حیاء کوی چه دهغه په طرف لاس اوچت کړی چه دهغوی په لاسونوباندی څه خیراوعطاکښینږدی، اوامام احمداوابوداؤددحضرت مالک بن سیارنه روایت کړی ده چه حضور علیه السلام فرمایلی دی چه کله تاسوالله تعالی نه سوال کوی نود لاسونوپه باطن طرف باندی سوال کوی په ظاهری طرف سره مه کوی (یعنی ورغوی دی دمخ په طرف وی اودلاس شاه دی لاندی طرف وی) اودحضرت ابن عباس نه هم همداسی روایت نقل شوی اوپه هغه کښې دازیادت ده چه کله ددعانه فارغیږی نولاس په خپل مخ باندی راوګرځوه، اوترمذی دحضرت عمربن الخطاب نه روایت کړی چه کله به رسول الله ددعالپاره لاس پورته کولونوهغه به یې نه غورځولو ترڅوچه به یې په مبارکې خیری باندی مسح نه فرمایلو، اوپه کتاب الدعوات باب رفع الیدین فی الدعاء دفتح الباری کښې راغلی دی چه ډیرحدیثونه دلاس داوچتولوپه مشروعیت کښې وارد دی، اوحضرت ابو داوددحضرت سلیمان نه روایت کړی اوترمذی په روایت کولوسره ورته حسن ویلی دی، چه حضورعلیه السلام فرمایلی دی چه ستاسورب حیا کونکې کریم دی، دخپل بنده نه حیاء کوی چه کله لاس اوچت کړی اوهغه خالې ردکړی اردډې حدیث سندعمده ده، اوهغه روایات چه په هغوکښې په خاصوخاصواوقاتوکښې په دعاګانوکښې دلاس اوچتولو ارشاد وی هغه ددې رسالې په اول فصل کښې تیرشوی دی.

(ف) ددې رسالې تلخیص کونکې حضرت حکیم الامت دامت برکاتهم فرمایې چه داول فصل نه مراد داصلی رسالې (مسلک السادات) اصل مرادده، اودغه په تلخیص رساله کښې داروایات دجزءاول عنوان لاندی تیرشوی.

(ف۲) حضرت جامع فرمائې چه دمصنف دافرموده چه ددعاءپه وخت لاس اوچتول په هرحال، هروخت کښې دلمانځه نه بعدوی یانوروختونو کښې وی په هرحال مستحب دی داهغه وخت دی چه کله ددعاالفاظ دحاجت دطلب په قصداونیت سره ولولی لکن هرکله چه داقصدنه وی بلکه دمسنون ذکرپه طورویل وی، لکه سهارماښام، دخوب اوبیداری دوختونودعاګانې اوبیت الخلاته دتللواوراوتلواوداودس دعاګانې اودمجلس نه دپورته کیدو، او بازارته داخلیدووغیره دعاګانې لکه چه په عمل الیوم واللیله کتاب اونووی اذکار، اوحصن حصین

کې دعاگانې مفصلې مذکورې دي نو په دې دعاگانو کې لاسونه اوچتول سنت ندی، او په سلف اوخلف کې دکوم عالم یافقیه نه ندی اوریدل شوی چه هغوی په دغوکې دلاس اوچتولو داستحباب یاسنتیت قایل دی. اوځنګه کیدلی شی ځکه چه که داسی وی نو دمسلمان هیڅ وخت به هم دلاس دپورته کولو نه خالي پاتې نشی ځکه چه دادعاګانی خود انسان په هرنقل اوحرکت پاندی مسنون دی اوکوم فرق چه ذکرشوددې رعایت فقهاؤحضراتو په نوروموا قعوکې هم فرمایلی دی. مثلاً جنب لپاره حکم ده چه که قرآن تلاوت دتلاوت په نیت وکړی نوجائزنده اوکه دماثورذکر یادحاجت طلب په نیت یې وکړی نوجائزده لکه چه په عامو کتابونو دفقهې کې موجوددې

لسم جزء : درفع یدین فی الدعاءمتعلق داربعه مذاهبوتصریحات: د مالکیه حضراتوخودا روایت ده چه په عتبیه کې راغلی دی چه امام مالک فرمایلی دی چه ماعامربن عبدالله ولیده چه دلمانځه نه وروسته ناست ؤاودعاءیې کوله ،دامام مالک نه چاتپوس وکړچه آیا تاسوپه دی کې څه کراهت ګنې؟وی فرمایل زه په دی کې هیڅ کراهت نه ګنم البته لاسونه ډیرزیات مه اوچتوی اوداېې هم وفرمایل: دالله تعالی په طرف لاس اوچتول دعاجزی داظهار درغبت په وخت اودطلب په طورمحموداومستحسن ده اوقاضی ابواحمدابن العربی فرمایی : چه په دی باره کې دعلماؤاختلاف ده چه رفع یدین ترکوم حده پورې کیدل پکاردی، بعضی فرمایې چه ترسینې پورې،اوبعضودمخ پورې، اودنبی کریم ﷺ نه منقول دی چه هغوی په دعاکې تر دی حده پورته کولوچه دهغومبارک دتخرګونوسپین والې ظاهریده.

یوولسم جزء : اودشوافعودمذهب فقهیه روایت دادی چه په فتح المبین شرح داربعین دابن حجرکې دی اوپه دعاکې دلاسونوپورته کول سنت دی په لمانځه اوغیرلمانځه کې صرف دقنوت په وخت مطابق داتباع دنبی کریم ﷺ.

دولسم جزء: اودحنفیه مذهب فقهیه روایات دشرنبلالي دشرح نور الایضاح په حواله پورته تیرشوی دی په کوموکې چه دتولولمنځونونه بعددخشوع اوخضوع سره دسینی پورې لاس اوچتول اودهغوداخلی حصی دمخ طرف کولومطلوب اومستحب کیدل مذکوردی.

ف، حضرت جامع مذظلهم فرمایې چه دشرنبلالې دغه عبارت په اووم جزء کې مذکورشول

دیارلسم جزء : اودحنابلهؤدمذهب روایات دادی په شرح مقنع باب الاستسقاء کې دشیخ بهوتی قول ده چه دواړه لاسونه خپل په دعاکې اوچت کړی استحباباپه سبب دارشاددانس ﷺ چه نبی کریم ﷺ داستسقاء نه سواپه بله کومه دعاء کې لاس نه اوچتولواوپه (استسقاء کې) به نې تردی اندازی پورې اوچتولو چه دارخونو سپینوالې به یې ښکاره کیده داروایت په بخاری

اومسلم کې ده.اوپه (استسقاء کې) دلاسونوشا آسمان طرف ته ګرځول پکاردی اوددې روایت مسلم کړی،اوددې قول مقتضی داده چه دلاسونواوچتول دصلاة استسقاء نه سوا نورو مواقعوکې مکروه ده،لاکن خپله دشیخ بهوتی قول داهم تیرشوی چه په قنوت کې هم لاس اوچتوی،بلکه شیخ منصوربن ادریس حنبلی په شرح اقناع کې فرمائي چه ددعاءداابوخینی دلاسونوخورول اوپورته کول دهغوترسینې پورې دی دحضرت مالک بن سیاردحدیث په سبب چه نبی کریم ارشادفرمایلی چه کله تاسودالله تعالی ته سوال کوی نودلاسونوپه باطنی اطرافونوسره سوال کوی اوپه ظاهری طرف سره یې مه کوی. دا ابو داود روایت کړی په حسن اسنادسره.اولاس یو خای کیدل پکاردی ددې لپاره چه طبرانی په معجم کبیرکې دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت کړی ده چه کله به نبی علیه السلام دعافر مایله نودواړه ورغوی به یې یوځای کول اودلاسونوداخلی طرف به یې دخپل مخ په طرف کول اوپه مواهب کې دی روایت ته ضعیف ویلی شوی دی.

څوارلسمه برخه : ددعانه وروسته په مخ باندی دلاس سولولومتعلق هغه حدیثونه اوروایات وراندی تیرشوی دی کوموکې چه ددعاء نه وروسته په مخ باندی دلاس دا راکښولو مستحب کیدل معلومیږی اوس پاتې شویه څلورومذهبونوکې ددې حکم.نودمالکیه دمذهب روایت خوداده چه په معیارکې یې دابن زرقون قول نقل کړی ده چه په حدیث کې راغلی دی: مسح کول دخپلی چهری په دواړولاسونوددعاءداختتام په وخت.اوددې سره سره دټولوعوامو، خواصواوعلماؤ عمل میلاو شوی په کوموسره چه ددې روایت تقویه وشوه.اوابن رشد فرمایې:چه امام دلاسونومسح کول په مخ باندی په دی وجهې انکارکړی ده چه ددې لپاره کوم حدیث ندی راغلی،البته دهغه دفعل نه دااخستلې شی کوم چه دحضرت عمرنه منقول ده .زه وایم:چه امام استاذ ابو سعیدبن لب اوابوعبدالله بن علاق اوابوالقاسم بن سراج چه دغرناطی په متاخرینوعلماؤکې دی اوابن عرفه،برزلی اوغبرینی چه دتونس ائمه دی اوسیدالبویحی شریف اوابوالفضل عصبانی چه د تلمسان اما مان دی داټول حضرات ددعانه وروسته په مخ باندی دلاسونومسح کولوقائل دی اوپه همدې باندی دفارس دعلماؤعمل ده اودهغه حدیث نه مرادچه حضرت عمرنه منقول ده هغه ده کوم چه ترمذی د حضرت عمرنه روایت کړی ده،چه رسول الله ﷺ به کله ددعالپاره لاسونه پورته کول ترهغه به یې نه غورځول ترڅوبه یې چه په مبارک مخ باندی نه سولول .آه دامازری وغیره نقل کړی ده.د اذکرکړی شیخ محمدبن ابوالقاسم مالکې په شرح نظم کې په کوم کې یې چه هغه مسائل جمعه کړی په کوموباندی چه

دامت عمل پاتې شوی،شیخ ابوالقاسم برزلی فرمایي چه ددینه دحضرت عزالدین ابن عبدالسلام دانکارمسح تغلیط کیږی اوپه دی کې دشافعیه مذهب روایت داده چه داپه هره دعاءکې سنت ده سواددعاءقنوت نه لکه چه دشوافعو په کتابونوکې ددې تصریح ده.او دحنابله ودمذهب نقل تیرشوی ده چه هغه سنت ده په هره دعاء کې بجز دعاء قنوت اوابن حجرپه شرح عباب کې دا د دعاء په آدابو کې شمیرلی ده او ویلی دی چه حلیمي رحمه الله فرمایلی دی. چه ددې فعل په مستحب کیدلوکې رازداده چه گواکې دده لاس دخیرنه ډک شوی ده اوهغه په خپل مخ راغورځوی اهـ والله اعلم

(ف، حضرت جامع دامت برکاتهم فرمایي چه داقول مسح وجه فی القنوت په اصل کتاب کې په مطلب ثانی فصل اول کې دنص الحنابله دعنوان لاندی دهمدې مذکوره عبارت سره منقول ده اوپه هغه کې دصلاة وتربحث کې هم دامذکوردی چه په دریم رکعت کې دعاء قنوت وکړی، (الی قوله اوپه خپلو دواړولاسونوباندی په خپل مخ مسح وکړی کله چه دخپلی دعاء نه فارغ شوی په دغه موقع (قنوت) کې هم اوخارج دلمانځه هم آه، داستحباب الدعوات عقیب الصلوة درسالې ترجمه پوره شوه. والحمدلله الذی لعزته وجلاله تتم الصالحات النورص۹ربیع الثانی سـ۵۵هـ ترالنورص۴شعبان سـ۵۵هـ

تمت الـــــــرسالة

دنارینه دبلوغ عُمر:

سوال :(۷۷۷)شریعت دبلوغ عمرڅه مقررکړی ده؟

جواب : ددولسو کلونونه وروسته چه کله دبلوغ علامې ظاهری شی دبلوغ حکم به کولې شی اوکه کومه علامه ظاهره نه شی نوپه مفتی به قول سره د پنځلسو کلوپه عمرکې به دبلوغ حکم کولې شی. والله اعلم اشرف علی ذی الحجة ۵۵والمسئله مشهورة فی کتب الفقه مذکورة النورربیع الاول ص۱۵ـ۵۷هـ

دلمانځه په پریښودو جرمانه:

سوال :(۷۷۸)بنده چه کوم خای کې پاتې کیږی خلکوپه بی لمانځه مسلمانانو باندی جرمانه مقررکړی ده،اوس دځوروخوراهیسی خپتی لمونځ کونکو اهتمام همداکړی دکوم په وجه چه خلک چه بیلماځه وپه لمانځه راغلل اود جرمانی متعلق حضوریه کانپورکې په وعظ کې

څه تحقیقات بیان فرمایلی وچه په یادکې مې پاتې ندی یعنی هغه حدیثونه په کوموسره چه جرمانه مقررکول په خپل خان باندی کومه چه جائزده اونورخلک یی په چاباندی مقررکړی ددې نارواکیدل بیاددې جرمانی مال وصول کولوسره په کوم نیک کارکې مصرفول ددې ناجائزکیدل،الغرض ددې متعلق چه کوم حدیثونه یافقهیه دلایل دی حضرت دی دغه دلایل تحریروفرمایې ترڅودجوازاوعدم جواز صورتونونه خلک مطلع کړی شی اوخادم دخپل یادلپاره ددلایلو تکلیف درکړی چه تحریریې وفرمائې؟

جواب :دجرمانی مسئله فقهاؤدتعزیرپه باب کې لیکلی ده،دکوم حاصل چه داده چه احناف ددې قایل ندی اوکوم آثاردصحابه وچه په دی باره کې دی یااجتهادی دی یاکه حکمې مرفوع دی نومنسوخ دی اوناسخ حدیث داده : لایحل مال امرء الابطیب نفسه اودآیت لاتاکلوا اموالکم بینکم بالباطل ، (تتمه اولی ص۲۰۰)

دفجردفرض اوسنتوپه مینځ کې اوردغزیدلو حکم:

سوال :(۷۷۹)دصبح دفرضواوسنتوپه مینځ څه اندازه په بنی طرف د غزیدلود مسنون وغیره کیدلوڅه اصل شته؟

جواب :مسنون په دی معنی خوارونشته چه په شرع کې مقصودده اوپه دی معنی چه دحضور علیه السلام منقول دی اگرکه په طورد عادت وی نوشته. ۹رمضان المبارک سـ۱۳۲۷هـ (تتمه اول ص۲۰۱)

په لمانځه باندی دهغواورادومتکي کول چه بعدالصلاه ویل کیږی:

سوال :(۷۸۰)په اکثرومسجدونوکې دلمانځه وخت مقررنده کله چه څلورکسان وی نوجماعت کیږی که وروسته راشی نوجماعت نه میلاو یږی اوکه وراندی راشی نوپه ناسته ناسته سترتیامعلومیږی نوپه دی ناسته کې چه څوک خپله وظیفه ووائي چه دلمانځه نه بعدیې لولی نوآیادانشی کیدلی؟

جواب :کیدلی شی، ۱۰رجب سـ۱۳۳۵هـ (تتمه خامسه ص۱۹)

تکفیرکي اختلاف:

سوال :(۷۸۱)په دی مقدمه کي ددین علماڅه فرمايي چه دکوم سړی زوجه لمونځ کول نه کول وی نودهغی اولاد حرامي ده اوکه څنګه ؟

جواب :صحابه،تابعینو، تبع تابعینو د تارک صلاة په کفرکي اختلاف کړی دی (فی التفسیر المظهری تحت قوله تعالی حافظوا علی الصلوات واماتارک الصلوة عمداً فقال احمدیکفر وقال مالک والشافعي وهورواية عن احمدانه لایکفرلکن یستتاب فان تاب والاقتل وقال ابوحنيفة لایقتل لکن یحبس ابداحتی یموت اویتوب آه وفی نفع المفتی والسائل وقداختلف الصحابة والتابعون فی کفرمن ترک الصلوٰة متعمداوجزائه فقال من الصحابة سیدناعمروعبدالله بن مسعودوعبدالله بن عباس ومعاذبن جبل وجابربن عبدالله وابوالدرداء وابوهريرة وعبدالرحمن بن عوف ﷺ ومن غیرالصحابة احمدبن حنبل واسحق بن راهویه والنخعي وایوب السجستانی وابو داؤدالطیالسی وابوبکربن ابی شیبة ان من ترک الصلوٰة فی وقت عمداًبلاعذریکفروقال حمادبن زیدومکحول والشافعي ومالک لا یکفرولکن یقتل وعندنا لایکفرو لا یقتل ویعزر تعزیرا آهـ) نوکوموچه تارک صلاة ته کافرویلی دی نوددي په خاطرچه ارتداد احدالزوجین مبطل دنکاح ده دهغوی په نزدیه نکاح ماته وی ددینه وروسته چه څوک وطی وکړی حرام ده اوچه کوم اولادوی هغه ولدالحرام ده او جمهورچه ترک صلوة موجب دکفرنه وايي دهغوی په نزدنکاح باقی پاتي ده اووطی حلال او اولاد ولدالحٓلال ده اودجمهورومذهب راجح ده (لقوله علیه السلام فی حدیث طویل ومن لم یفعل ای احسان الوضوء والصلوٰة بوقتهاواتمام الرکوع والخشوع فلیس علی الله عهدان شاء غفرله وان شاء عذبه رواه احمد وابو داؤد والنسائی نحوه تفسیرمظهری) نوخونږ مذهب داده چه په مسئوله صورت کي به اولادحرامي نه وی. والله اعلم

امدادص۱۲۴ج۴،

دصلوة نه بعددمصافحی حکم اودطحطاوی د موهم جواز عبارت مطلب

سوال :(۷۸۲)بعضی دوستانودطحطاوی دکتاب عبارت کوم چه مطبع مصرصفحه ۳۰۸کي واقع ده (وکذا تطلب المصافحة فهی سنة عقب الصلوٰة کلهاوعند کل لقی)دمصافحه بعدصلوة فجروعید وغیره سنت کیدلودعوی کړی ده مګرزه چه ددي خلاف پوهیږم اويقيني خلاف پوهیږم

، لهذاکوم څه په ذهن کي راغلل ددي خواب مي ورکړی مګرخپله ددي خواب نه مطمئن نه یم لهذادخدامودآسانی نه غوښتونکي یم چه کوم تشفی ورکونکي خواب مرحمت شی ؟

جواب :خماسره طحطاوی نشته چه پکي وګورم،لکن په هغه کي دا عبارت وی نوددي سړی حق ده چه دهرملاقات په وخت کي مصافحه کوی څکه چه دی صورت کي تخصیص نه پاتي کیږی چه دبدعت کیدوعلت ده عندکل لقی ددي قرینه ده ددي مصافحی حکم دسلام په شان کیدلی شی.ددي لپاره چه ددي حدیث چه (ان من تحیاتکم المصافحه) موافق مصافحه دسلام لپاره متتممه ده اودسلام افشاء د دي اندازی پوري وارده ده چه که په مینځ کي دیوال حائل وی بیاهم سلام وکړی په همدي ترتیب دهغه په متمم کي عموم کیدلی شی او څوک چه ددي وختونوتخصیص کوی دهغوی په حق کي بدعت کیدل دنورو محققینو د تصریحاتو نه ثابته ده لکه چه په شامي ج۵کي راغلی دی: نقل فی تبیین المحارم عن الملتقط انه تکره المصافحة بعداداء الصلوٰة،بکل حال لان الصحابة رضی الله تعالی عنهم ماصافحوابعد اداء الصلوٰة الخ

۲۷جمادی الاولی ـــ۴۳هـ(تتمه خامسه ص۳۲۳)

دمکبرالصوت الی (لاسپیکر) عدم جواز:

سوال :(۷۸۳)ددین علماپه دی مسئلي کي څه فرمايي چه داسي يو مشین ایجادشوی چه دمقررآوازلری خای پوري په داسي ترتیب رسوی چه په کوم ترتیب يي ورسره خلکوته رسیږی نوآیاداجائزده چه دداسي مشینونوپه ذریعه دخطیب آوازټولواوریدونکوته ورسول شی؟

جواب :اول يوه قاعده زده کول پکاردی کومه چه عقلی هم ده او نقلی هم ده اوحنفی فقهاؤپه دی قاعدی باندی ډیرحکمونه متفرع کړی دی:هغه داچه کوم مباح یامندوب دضرورت مقصودیت فی الشرع درجی ته نه وی رسیدلی اوپه هغه کي کومه مفسده په قریب احتمال سره محتمله وی نوددي مباح یا مندوب ترک اوورنه منع کول لازم دی.عقلی والي خوپي ظاهرده،اودفقهاؤد قول نه بعددهغه دنقلی ماخذدنقل ضرورت نه ؤمګرتبرعاً هغه هم نقل کوم نودهغه دنقلی کیدوتقریرداده چه حق تعالی ارشادفرمایلی ده: ولاتسبو الذین یدعون من دون الله فیسبوالله عدواً بغیرعلم . ظاهره ده چه دسب دالهۀ باطله مباح خوحتماده اوپه بعضی حالاتوکي مندوب هم ده،مګرمستقل مقصود نده څکه چه دا هدف په بلی طریقی سره هم حاصلیدلی شی یعنی په حکمت، موعظت اومجادلۀ حسنه سره اوپه دی کي مفسده وه سب دمشرکین لاله الحق،دهمدي په خاطرددي نه نهی وفرمایله شوه،نوددي قاعدی دتمهید نه وروسته

تکفیرکې اختلاف:

سوال :(۷۸۱)په دی مقدمه کې ددین علماڅه فرمايي چه دکوم سړی زوجه لمونځ کول نه کول وی نودهغی اولادحرامي ده اوکه څنګه ؟

جواب :صحابه،تابعینو، تبع تابعینو د تارک صلاۃ په کفرکې اختلاف کړی دی (فی التفسیرالمظهری تحت قوله تعالی حافظوا علی الصلوات واماتارک الصلوة عمداً فقال احمدیکفر وقال مالک والشافعی وهورواية عن احمدانه لایکفرلکن یستتاب فان تاب والاقتل وقال ابوحنیفة لایقتل لکن یحبس ابداحتی یموت اویتوب آه وفی نفع المفتی والسائل وقداختلف الصحابة والتابعون فی کفرمن ترک الصلوٰة متعمداوجزائه فقال من الصحابة سیدناعمروعبدالله بن مسعودوعبدالله بن عباس ومعاذبن جبل وجابربن عبدالله وابوالدرداء وابوهریرة وعبدالرحمن بن عوف ﷺ ومن غیرالصحابة احمدبن حنبل واسحق بن راهویه والنخعی وایوب السجستانی وابو داؤدالطیالسی وابوبکربن ابی شیبة ان من ترک الصلوٰة فی وقت عمداًبلاعذریکفروقال حمادبن زیدومکحول والشافعی ومالک لا یکفرولکن یقتل وعندنا لایکفرو لا یقتل ویعزر تعزیرا آهـ) نوکوموچه تارک صلاۃ ته کافرویلی دی نوددي په خاطرچه ارتداد احدالزوجین مبطل دنکاح ده دهغوی په نزدبه نکاح ماته وی ددینه وروسته چه څوک وطی وکړی حرام ده اوچه کوم اولادوی هغه ولدالحرام ده او جمهورچه ترک صلوۃ موجب دکفرنه وايي دهغوی په نزدنکاح باقی پاتي ده اووطی حلال او اولاد ولدالحلال ده اودجمهورومذهب راجح ده (لقوله علیه السلام فی حدیث طویل ومن لم یفعل ای احسان الوضوء والصلوٰة بوقتهاواتمام الرکوع والخشوع فلیس علی الله عهدان شاء غفرله وان شاء عذبه رواه احمد وابو داؤد والنسائی نحوه تفسیرمظهری) نوځمونږ مذهب داده چه په مسئوله صورت کې به اولادحرامي نه وی. والله اعلم (امدادص۱۲۴ج۴)

دصلوۃ نه بعدمصافحي حکم اودطحطاوی د موهم جواز عبارت مطلب

سوال :(۷۸۲)بعضی دوستانودطحطاوی دکتاب عبارت کوم چه مطبع مصرصفحه ۳۰۸کې واقع ده (وکذا تطلب المصافحة فهی سنته عقیب الصلوٰة کلهاوعند کل لقی)دمصافحه بعدصلوۃ الفجروعید وغیره سنت کیدلودعوی کړی ده مګرزه چه ددې خلاف پوهیږم اویقیني خلاف پوهیږم

، لهذاکوم څه په ذهن کې راغلل ددې خواب مې ورکړی مګرخپله ددې خواب نه مطمئن نه يم لهذادخدامودآسانی نه غوښتونکې يم چه کوم تشفي ورکونکې خواب مرحمت شي ؟

جواب :خماسره طحطاوی نشته چه پکې وګورم،لکن په هغه کې دا عبارت وی نوددې سړی حق ده چه دهرملاقات په وخت کې مصافحه کوی ځکه چه دی صورت کې تخصیص نه پاتې کیږی چه دبدعت کیدوعلت ده.عندکل لقی ددې قرینه ده ددې مصافحی حکم دسلام په شان کیدلی شي.ددې لپاره چه ددې حدیث چه (ان من تحیاتکم المصافحه) موافق مصافحه دسلام لپاره متتممه ده اودسلام افشاء د دې اندازی پورې وارده ده چه که په مینځ کې دیوال حائل وی بیاهم سلام وکړی.په همدې ترتیب دهغه په متمم کې عموم کیدلی شي او څوک چه ددې وختونوتخصیص کوی دهغوی په حق کې بدعت کیدل دنورو محققینو د تصریحاتو نه ثابته ده لکه چه په شامي ج۵کې راغلی دی. نقل فی تبیین المحارم عن الملتقط انه تکره المصافحة بعداداء الصلوٰة،بکل حال لان الصحابة رضی الله تعالی عنهم ماصافحوابعد اداء الصلوٰة الخ
۲۷ جمادی الاولی ــ۳۴هـ (تتمه خامسه ص۳۲۳)

دمکبرالصوت الی (لاسپیکر) عدم جواز:

سوال :(۷۸۳)ددین علماپه دی مسئلې کې څه فرمايي چه داسی یو مشین ایجادشوی چه دمقررآوازلری خای پورې په داسی ترتیب رسوی چه په کوم ترتیب یې ورسره خلکوته رسیږی نوآیاداجائزده چه دداسی مشینونوپه ذریعه دخطیب آوازتولواوریدونکوته ورسول شي؟

جواب :اول یوه قاعده زده کول پکاردی کومه چه عقلی هم دهٔ او نقلی هم ده اوحنفی فقهاؤپه دی قاعدی باندی ډیرحکمونه متفرع کړی دی.هغه داچه کوم مباح یامندوب دضرورت مقصودیت فی الشرع درجی ته نه وی رسیدلی اوپه هغه کې کومه مفسده په قریب احتمال سره محتملهٔ وی نوددې مباح یا مندوب ترک اوورنه منع کول لازم دی.عقلی والې خوېې ظاهر ده،اودفقهاؤد قول نه بعددهغه دنقلی ماخذدنقل ضرورت نه ؤمګرتبرعاً هغه هم نقل کوم نودهغه دنقلی کیدوتقریرداده چه حق تعالی ارشادفرمایلی ده. ولاتسبو الذین یدعون من دون الله فیسبوالله عدواً بغیرعلم . ظاهره ده چه دسب دالهۀ باطله مباح خوځتماده اوپه بعضی حالاتوکې مندوب هم ده،مګرمستقل مقصود نده ځکه چه دا هدف په بلی طریقی سره هم حاصلیدلی شي یعنی په حکمت، موعظت اومجادلۀ حسنه سره اوپه دی کې مفسده وه سب دمشرکین لاله الحق،دهمدې په خاطرددې نه نهی وفرمایله شوه،نوددې قاعدی دتمهیدنه وروسته

خواب ظاهر ده چه تبلیغ دآواز لری اوریدونکوپوري شرعاغیرضروري ده ځکه بعید پنوته نوروغیر مخدوش طریقوسره تبلیغ ممکن ده اوبه دی کي دامفسده محتمله ده چه خلک ددینه داګنجایش زده کړی چه په دی کي دلهو استعمالول یا داآله په لهوکي استعمال کړی لهذاترک اومنع به لازمه وی داخو هغه وخت ده چه دخطیب نه مرادمطلق واعظ یالیکچرورکونکي وی اوکه دهغه نه مراددعیدینواوجمعی خطیب وی نودغه وخت دتبلیغ صوت غیرضروری کیدل اظهردی ځکه چه خطبه کي حضورمقصودده نه چه سماع صوت ، او مفسده اقوی ده ځکه چه مسجدته به ددي آلي داخلول وی کوم چه د هغه داحترام خلاف ده،همدارنګه تشبیه ده دمجالس غیر مشروعه سره د همدي تشبیه په اساس فقهاؤغرس الاشجارفی المسجدمنع وفرمایلی او په تشبه بالبیعه والکنیسة سره یې معلل کړی. ١٣رمضان ــ١٣٤٢ھ(تتمه خامسه ص٥٩١)

التحقیق الفرید فی حکم آلة تقریب الصوت البعید.

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

حامداً ومصلیاً.

په صلوة اوخطبه کي دمکبرالصوت الې حکم

سوال :(٧٨٤)استفتاء دعالم اودعالم دشیانواودهغوی دخالق اعظم علم اومعرفت وروستی اوکامله ذریعه خاتم الانبیاء حضرت رسول اکرم روحی فداه ؛ کوم ذوات علیه وته دانبیاء بنی اسرائیل هم برابر رتبه عطاء فرمایلی ده اودحضرت شیخ شهاب الدین سهروردی رحمة الله علیه نه دهغه یوه غلبه دعبادت کي دفلیسوف ارسطاطالیس غوندی قدسیه نفوسوته اولئک هم الفلاسفة حقاویلی دی ددوی په خدمت عالیه کي دحق دتحقیق اواهل دین اوایمان په لحاظ عرض ده:-اول : داچه دتاسواوکوم شخص نه داامریټ نده چه د عیدینو په لمانځه کي عموماًپه هرځای اوخصوصاًپه لویولویوښارونوکي دلمونځ کونکو تعداد او د هغوی دجماعت سلسله دومره طویل طویل وی،[1] چه دامام اوازخودتولولمونځ کونکوته نه رسیږی،لاکن .یرکرته دمکبرینود متعین اومقررکیدونه وروسته دهغوی آوازنه تولولمونځ کونکوته په صحیح طوریاندی دهغه علم نه وی چه امام څه وخت نیت تړلی ؟رکوع اوسجده کله کړی؟ .امام څه وخت څه ولوستل اوڅه کوی؟اوهغوی محض دخپلی مخی د لمونځ کونکوحرکاتولیدلوسره په خپل ګمان سره یوه اندازه لګولوسره د لمانځه ارکان اداء کوی

بیاهم پدی کي غلطی کیږی اواکثرداسی کیږی چه امام اوس هم قرات کوی اوشاته مقتدی رکوع ته تللی یاامام رکوع ته تللی اوآخرنی مصلی سجدی ته تللی اوپه همدي ترتیب نوری غلطیانی هم وی خصوصاً تکبیرات واجبة عیدین خوتقریباهمیشه اوهرځای کي دوکه کیدوسره کیږی.اوداحال هلته هم ده په کوم ځای کي چه دعیدګاه(مصلی) امام اومنتظمینوته دمسلمانانود اجتماع اودجماعت دلوی والي دوراندی نه اندازه وی،اوهغه په همدي لحاظ سره هغوی دوراندی نه دمکبرینودتعین اوتقرراتنظام کولي شی اوهلته چه تر آخره پوري

---

[1] داکوم نوی څیزنده کوم چه اوس راپیښ شوي په عهدنبوت کي هم عظیم الشان اجتماع به وی اوپه مینځ کي دقائم کولوپاره کافی ګڼل کیده اوددي سره سره که کله هم کومه غلطی کیږی نوداتفاقی غلطی لپاره انتظام بدل کولی نشی ١٢محمدشفیع عفی عنه

دلمونځ کونکودراتلوسلسله جاری پاتي کیږی اودنیت دترلونه بعددلمانځه ترآخره پورې
دابتداء په مقابل کې د زرګونو لمونځ کونکو تعداد لوریږی اوکوم ځای کې چه دمصلی دامام او
منتظمینوپه خیال سره دمکبرینو زیات تعین اوتقرردوراندی نه نه وی شوی دهغه ځای حال دویلونه ده
هلته کوم نظام [۲] اوباقاعده ګی ممکنه نده په همدې ترتیب په داسی مواقعو او مجامعو کې
اوبالخصوص [۱] دعیدین په موقع باندی دخطیب خطبه بغیرد ډیرولږوخلکوچاته هم
داوریدلونه وی او هلته دغه وخت خلک خپله ناسته بیکاره ګڼلوسره دهغه ځای نه پورته
کیږی، دخطبی د اوریدو د فوائد او خطبه لوستلوپورې ناست پاتې کیدوثواب نه محروم پاتې
کیږی، بلکه ددینه زیات داچه دیو موکد او ضروری شرعی امردترک کولومرتکب ګرځی. دوهم
داچه د علامه شیخ محمدبخیت المطیعی رئیس مجلس علمې محکمه شرعی اود مصری
ولایتونو مفتی دقول مطابق ددافلاطون دقدیم مخترعاتونه اودعام رواج اومشاهدمطابق
دجدیده مخترعاتونه یوشی داسی هم موجودده کوم ته چه مکبرالصوت ویل کیږی، دکوم چه
په انګریزی کې نوم لاؤ ډسپیکرده، اوکوم چه دعلم البرق اوعلم الصوت په اختلاط اوترکیب
سره دصوت اوبرق د فلسفی په نظرکې لرلوسره ددې لپاره اختراع شوی چه په دی ذریعه
دلاسلکې یادبرقی تارونونه وصول شوی آوازلری اونژدی دواړوځایونوپه نهایت صاف اوواضح
طریقی سره بغیردکوم تغیراوتبدل نه په اصلی حالت کې واورل شی دهغې ظاهری صورت
اوشکل دمتوسطی درجی هغه ګهړی(تایم پیس) ته ډیرځه مشابه دی دکوم عقربه باندی چه
ستن اوهندسی نه وی دهغه دنصب اواستعمال طریقه داده چه هغه دویونکې نه دوه څلورګزه
فاصلی باندی بلارعایت دتقابل اوتواجه په داسی یوځای باندی کینبودل شی چه دویونکې

[۱] وروسته کې دمجمع لونیدل اوداول نه دهغه اندازه نه کیدل هم کومه جدیده واقعه نده، په سلفو قرونوکې هم داسی
واقعات راپیښیدل مګرددې باوجودهغوی دکوم نوی انتظام ضرورت ونه فرمایه . دانشې ویل کیدې چه دهغوی په زمانه
کې آلات مکبرالصوت نه ول نودهمدې لپاره توجه نه وه ځکه چه اول خوددې نظایرمثلاً دمکبرینوپه احتیاطی طورزیات
مقررکول یاپه آخري صفونوکې دوه څلورو انسانانوته ددې هدایت کول چه صفونه ډیرشول نوته په لوړاواز تکبیرواتی
وغیره ،دوهم ددې خوبه دا معنی وې چه په اسلامی عباداتوکې دټولونه لوې اواهم عبادت اودهغه دتکمیل انتظام
دمکبرالصوت د آلې دایجادپورې موقوف وأوټول اسلامی قرون داسی بدنظمي اونقصان باندې روان ؤترڅوچه دموجوده
زمانی نصاری اوهریانوپه اسلام باندې احسان وکرچه دهغه دعبادت انتظام ئی صحیح کړي ۱۲محمد شفیع عفی عنه .
[۲] ددې هم هداځواب ده چه داکوم نوي ضرورت نده اوداعقیده ساتل چه ضرورت داول نه ؤاوددې آلې نه
بغیرددغوعباداتوپه انتظام کې نقص هم ؤ ،مګرهغه په قرون خیرکې پوره نشو ،دعهدحاضرنصاراؤ پوره کړدکوم مسلمان
نه متصورنده بلکه ددینه واضح طوردازده کړی شي چه اوضرورت نه ؤځکه نوحق تعالی به دده ایجادپه هغه وخت
ظاهرفرمایلی وې ۱۲محمدشفیع

دخلی دالفاظودتلوپه وخت کې کومې ترانی پیداوی هغه ددې آلې بیرونی سطحی پورې (کوم
ته چه عقربه ویل کیږی) رسیدوسره ددې سره ټکرکیږی بیالری اونژدی دکوم ځای پورې چه
آوازرسول مقصودوی دهغه په وسط کې یاآخرکې یابل مناسب مقام باندی دآدم دقدنه
تقریبادری چنده اوچت څوبانسونه دضرورت مطابق نصب کیږی، بیاددې آلې شاته دبجلی
څوداسی تارونه لګول شوی دی، کوم چه دمتذکره بانسونوبالای حصوسره ترل شوی وی،
بیاددې تارونوپه آخری حصوکې چه بانسونودسرونوسره بند وی دغوایې دلکې یادښکرپه
ساخت په څلورطرف یاهغه طرف ته چه اواز رسول مقصودوی نوډیردفراخی خولی قیف (ټیم)
لګول کیږی چه هغه ته په عربی کې انبوبه اوپه انګریزی کې هارن ویل کیګی دکوم چه لفظی
معنی ښکرده. ددینه وروسته که په دی ځای کې داسی کومه کارخانه وی چه دهغې بجلی پکې
چلیږی اورڼایې وغیره وی نودغه آله د هغه ځای دکارخانی دبجلی په مټ یعنی کرنټ سره کنه
نودبجلی داسی مشینونوسره چه دخپل خانه داسی وخت کې دبجلی دپیداکولو قوت
موجودوی، تړلوسره بجلی جاری کولې شی، اوس ددې تولودپوره کیدلونه بعدکله چه ویونکې
څه وائې اودهغه دژبی په حرکت سره په هواکې تموج پیداکیږی هغه ددې آلې بیرونی برخی
یعنی عقربی (صفحی) سره تصادم کوی، اوددې لپاره چه هغه صفحه نهایت درجه سپکه
اونازکه وی نوهغه داډیرزیات محسوسوی، اوددې نه ډیرزیات متاثره کیږی اودهمدې تاثرپه
زیاتوالې اوکموالې باندی په هغه کې قوت داوچتوالې اولوړوالې پیداکیږی، خوددې په
خاطرچه واضح ددې زیاتوالی اوکموالی هم دفلسفی دقانون لاندی اختیاری ګرځولوسره دهغه
مدارج قائم کړی دی. لهذادغه وخت چه څومره اوچت اولوی کول دآوازمنظوروی په همدې
لحاظ سره دهغه یوه درجه قائمولی شی، بالاخره دغه تصادم سره دزیاتوالې دتاثردکوم نوم چه
قوی قرع ده، کله چه دبرقی قوت په ذریعه دغی هواپورې منتقل کیږی کومه چه دمتذکره
مخروطوی (ښکر) شکل نلونو(فیفونو) نه بهرفضاکې خور شویدی اوهغه انسانی داوریدلو
قوت پورې رسیږی ،نوهغه زیات اوچت اوزیات لوی کیدوسره اوریدل کیږی، اوداتولی خبری
دفلسفی په کتابونوکې په خپل خپل ځای دقدیم نه ثابتې دی اوپه شرح مواقف او تفسیرکبیرکې
هم دصوت اوسماعت دبحث لاندی بحث کړی ده. راتلونکې کې دهغه نه په لاندی ترتیب
اموروباندی روښنی غورځولی شی :-(۱)، دقارع اومقروع په مینځ کې دولاړی شوی
هوادامواجونه د راپیداشوی کیفیت نوم آوازده.(۲)دقارع په قرع کې چه څومره زیات قوت وی
په همدې اندازه قوی امواج دهغه نه به پیداوی ،اود دی تموج سره همدې اندازه زیات قوی

هغه کیفیت هم پیداشوی دکوم چه حامل ؤاود کوم نوم چه آوازده. (۳) په دی تموج کې چه څومره زیات قوت وی په همدې اندازه دهغه موجونه زیات پلن اوعریض وی. (۴) دغو موجونو کې چه څومره ضخامت اوعرض وی په همدې اندازه به هغه دزیاتودورونوپورې خوربږی. (۵) دکوم خای پورې چه خوربږی . ددې لپاره چه دهغوسره هغه کیفیت هم وی چه نوم یې آوازده. ترهغه وخته پورې به هغه اوریدل کیږی اوفلسفی دکتابونودی تصریح سره داعیان ده چه دآلة زیربحث یعنی مکبرالصوت دخبرودکولودذریعی دآوازاوچتیدل اودلرو پورې اوریدل، یو فلسفی اوقدرتی کارده، په کوم کې چه ویونکې ته کوم تکلف اومشغولیت نه وی، اودهغه له طرف دکوم قسم تقابل اوتواجه هم ضرورت نه پریوځی، او د بحث لاندې آله نه دسروداوغناالة ده اونه دلهواولعب آله مګرداچه کوم سړی دایه دغه کاروکې استعمال کړی خویه دی سره دهغه دآله غناوسروداولهواو لعب کیدل نه لازمیږی. دریم داچه په دی موقع اومحل باندی لاندی شپږ اصلونه هم دتوجه وړدی۔

اول اصل ایت کریم هوالذی خلق لکم مافی الارض جمیعا ددینه د اسلام فقهاؤ دهرشی په [1] اباحت باندی استدلال کړی۔

دوهم اصل اصل کل شئ اباحة الان یردعلیه المنع کوم چه داصل فقه یوه مشهوره کلیه ده دی دواړواصلونونه دامفهومیدلی شی چه د مکبرالصوت [2] آله اصلاً مباح ده ځکه چه ددې په حق کې نه راساً کومه منع وارده ده اونه هغه ضمناً دکوم ممنوع امرلاندی شمیرلی شی.

دریم اصل اذان ورکول بیاپه مناره باندی اوچتیدوسره داذان ورکول ، دامام شاته دتکبیرونو په زوره ویل دمکبرینو بیادمکبرینو په بعضی خایونوکې په مکبره باندی په اوچتیدوسره تکبیرات ویل په میدان عرفات کې یوم النحر کې دامیرالحج په اوښ سوریدوسره خطبه ورکول بیاددې اوښی په جبل رحمت باندی اوچتولوسره خطبه ورکول اودجمعی اوعیدین دخطبی په وخت د خطیب په ممبرباندی ختلوسره خطبه ورکول، بیادقبلی له طرف نه مخ اړولو سره اوقوم ته مخ کولوسره خطبه ورکول وغیره لکه چه په احکام شریعت کې موجوددي اودټولو مقصد دي نه بغیرهیڅ نشته چه دغه وخت مصلیون ته دکوم څیز اورول مطلوب دی

---

[1] داستدلال دلته هم صحیح ده فی نفسه دهغه استعمال مباح ده خوددي آیت نه داځکه لازم راغی چه په لمانځه کې هم مباح ده.

[2] صحیح ده مګرخبري اثري په مطلق اباحت کې ندي بلکه په اصلیه عبادت کې دلته په اباحت کې بحث ده اوددي دواړواصلونونه په کوم ترتیب هم په عباداتوکې په اباحت باندي استدلال نشي کیدلي ۱۲ محمدشفیع عفی عنه.

هغه دوی اوریدلی شی ، اوپه آوازکې دومره اوچتوالی [1] پیداکیږی چه بلاتکلفه د هغوی پورې رسیدلی شی ددینه دامستفادکیدلی شی چه چرته چه دنورومتوجه کول دالله تعالی دذکرپه طرف مقصودوی هلته دالله تعالې ذکرکول په اوچت آوازسره پکارده اودغه دآوازبلندی بغیردهغوصورتونودکوم دممانعت چه په شریعت کې تصریح [2] موجوده ده هرهغه صورت اختیارولی شی دکوم اصل چه په کوم ترتیب هم په شریعت کې پیداکیږی یادهغه له طرف کلی سکوت وی.

څلورم اصل په ص ۳۴۳ دتفسیرکبیرج ۴ کې د (واذاقری القرآن فا ستمعواله وانصتوا) لاندی راتلونکې عبارت لیکل شوی : اعلم ان قارياً یقرالقران بصوت عال حتی یمکنهم استماع القران ومعلوم ان ذلک القاری لیس الاالرسول علیه الصلوٰة والسلام وکانت هذه الاية جارية مجری امرالله محمداً ﷺ بان یقرا القران علی القوم بصوت عال رفیع والمامره بذلک لیحصل المقصودمن تبلیغ الوحی والرسالة) ددې نه دامستخرج کیدلی شی چه دقرآن پاک د قرات یوغرض داهم ده چه نورهغه واوری اوچرته چه داغرض وی هلته ددې په اوچت آوازسره لوستل پکاردی [3] ترڅوسامعین ددې فهم وکړی اوددې داورولوغرض اصلی حاصل شی.

پنځم اصل په ص ۷۵ ج ۱ دفتاوی عالمګیری مطبوعه مصرکې لاندی عبارت مسطورده: لان الامام انما یجهر لاسیماللقوم لیدبروافی قرائه لیحصل احضارالقلب ، ددینه دازده کولې شی چه دامام لپاره دخپلو مقتدیانودضرورت [4] مطابق په خپل قرات کې جهرکول پکاردی ترڅوقوم دهغه په قراة باندی تدبراوتفکروکولې شی اوقوم ته حضورقلب حاضرشی.

شپږم اصل په ایه کریمه ولاتجهربصلاتک ولاتخافت بهاوابتغ بین ذلک سبیلا سره په قراة کې دهغه اعتدال اوتوسط حکم ورکول شوی دی اومفسرینوچه ددې کوم علت ویلی دی یعنی په لمانځه کې خشیت اوتذلل کیدل پکاردی ، دهغه اقتضاء داده چه په قرات کې کوم تصنع

---

[1] مګرداسې ساده طریقی باندې دالتوپه ذریعه اوچتوالی پیداکولوباندې په دې سره استدلال نشی کیدی

[2] دغه تصریح دقیدغورقابل ده آیاهغه شرعی حکمونه دمنلوقابل ندي کوم چه شرعیه قواعدونه مستنبط دي اوکه هغه منل کیدلی شي نودهغه ممانعت هم دهغونه مستفاددی لکه چه په اصلی رساله کې موجودده.

[3] صحیح ده مګردلته کلی سکوط نشته لله صحیح ده مګریدې کې کلام اړوشته نه کلام په هغه کې ده چه داوچت اواز دی دومره زیات اهتمام وشي چه دالاتواستعمالول ضروری شي لهذادمستقل دلیل ضرورت دی چه موجودنده ۱۲ شفیع عفی عنه

[4] داصحیح ده خوخپل طاقت اومقدور مطابق ددینه دزیات اهتمام مکلف ندی جوړ شوی

اوتکلف پیدا نشی. کوم چه دجرات اوعدم خشیت باعث ده ددې دامتثال سره سره ددینه داخیال کولې شی چه که داول تمبراصل، دریم نمبراصل څلورم نمبراصل اوپنځم نمبراصل لاندې دمصلیانو پورې آوازرسول په دې ترتیب ممکن وی چه امام ته په خپل قرات کې کوم تکلف اوتصنع نه کول پریوځی، اوهغه ته په کوم طرف مشغولیت هم نه وی¹ نوهغه به جائزوی، لکه چه په لمانځه کې لاس پکې وهل ناجائز اومکروه دی، خودبرقی پکوچلول جائز ګڼل کیږی ځکه چه پدی کې لمونځ کونکوته کوم تکلف اومشغولیت نه وی، بناءً علیه که داخترونو په لمونځونو کې دمذکوره غلطیونه دچکیدو، اوداامام قرات په پوره طورسره داوریدواودهغه داعمالودپوره پوره دپیروی اواعتداء. کولویه خیال سره موصوف الصدرآله مکبرالصوت چه کومه نهج داله دغنا او سروداواله دلهوولعب نده ودرول شوی اوددې نه په دغه وخت فلسفی اوقدرتی دغه فایده واخستل شی چه دامام آوازاوچت شی او هغه هرمصلی چه هرخومره لرې وی یانه وی په خپل ځای پاندې بلا ادنی تغیرسره یې اوریدلی شی نودا امرتحقیق غوښتونکې ده چه ددې متعلق دشریعت غراءمحمدی څه حکم ده؟بینواتوجروا؟ ۱۵ ذی القعده ـ۱۳۴۶ه مطابق ۲ مې ـ۲۷م

مکرمي ومحترمي ! زادمجدکم ! مسنون سلام! دا استفتاء دحضور شریف په خدمت کې ارسال ده ترڅومې پورې چه ممکن دی دهغه خواب سره مومشرف وفرمایې ، دعیدالاضحی نه دوه دری ورځې وړاندې دلته ددې سخت ضرورت محسوسیږی ، دخواب لپاره ټکټ هم مرسل ده.

الجواب من اشرف علی

السلام علیکم په تیررمضان کې یوداسې سوال راغلی ؤ خومجمل ؤ هغه چه کوم خواب لیکل شوی ؤ هغه نقل کول کافی ګڼم کوم چه لاندې درج ده.

خواب لمړی یوه قاعده زده کړی چه عقلی هم ده اونقلی هم ده او حنفیه فقهاؤ په دې قاعدې باندې ډیرحکمونه متفرع کړی دی هغه دا چه کوم مباح یامندوب دضرورت اومقصودیت فی الشرع درجې پورې نه وی رسیدلی اوپه هغه کې کومه مفسده یاحتمال قریب محتمل وی ،نوددې مباح یامندوب ترک کول اوددینه منع کول لازم دی، عقلی کیدل خوظاهردی اودفقهاؤ دقبول نه بعدددې دنقلی ماخذ دنقل ضرورت نه ؤ ،مګرتبرعاً هغه هم نقل کوم نوددې دنقلی کیدوتقریرداده چه حق تعالی ارشادفرمایلی ده ولاتسبو الذین یدعون من دون الله

¹ پدی شرط چه پدې کې کوم بل محذورشرعی نه وي لکه چه مکبرصوت کې دي والله سبحانه اعلم احقرمحمدشفیع

فیسبوالله عدواً بغیرعلم ظاهره چه دسب دالهة باطله مباح خوځتماده اوپه بعضی حالاتوکې مندوب هم ده، مګرمستقل مقصودنده ځکه چه دهدف په بلی طبقی سره هم حاصلیدلی شی یعنی په حکمت، موعظت اومجادلة حسنه سره اوپه دی کې مفسده وه سب د مشرکین بلاله الحق، د هغې په خاطرددې نه نهی وفرمایله شوه، نوددې قاعدې دتمهیدنه وروسته خواب ظاهرده چه تبلیغ دآواز لرې اوریدونکوپورې شرعاغیرضروری ده ځکه بعیدینوته نوروغیر مخدوش طریقوسره تبلیغ ممکن ده اوپه دی کې دامفسده م حتمله ده چه خلک ددینه داګنجایش زده کړی چه په دې کې دلهواستعمالول یا داآله په لهوکې استعمال کړی لهذاترک اومنع به لازمه وي داخوهغه وخت ده چه دخطیب نه مرادمطلق واعظ یالیکچرورکونکې وی اوکه دهغه نه مراددعیدینواوجمعی خطیب وي نودغه وخت دتبلیغ صوت غیرضروری کیدل اظهردی ځکه چه خطبه کې حضورمقصودده نه چه سماع صوت اومفسده اقوی ده ځکه چه مسجدته به ددې آلې داخلول وي کوم چه دهغه داحترام خلاف ده، همدارنګه تشبه ده دمجالس غیر مشروعه سره دهغې تشبه په اساس فقهاؤ غرس الاشجارفی المسجد منع وفرمایلی اودتشبه بالبیع والکنیسة سره یې معلل کړی ۱۳ رمضان ـ۱۳۴۲ه (تتمه خامسه ص۵۹۱)

الزیادة علی الجواب المذکور(حسب خصوصیة السؤال الحاضروهی هذه) باقی په سوال کې دکومو احکامو دمطلوبیت سره چه ددې تقویت اوتایید کولې شی هغه دمدعامفیدندی ځکه چه داحکمونه اګر که مطلوب دی مګر شریعت دهغو دمطلوبیت لپاره درجات اوحدودمقرر کړی دی کوم چه دمذهب په کتابونوکې مضبوط اومبسوط دی دهغو نه تجاوزکول تعمق اوغلوفی الدین ده کوم چه دشارع په نظرکې غیر مرضی ده لکه چه په حدیث کې یونظیروارد ده (فی جمع الفوائد قضاء الحاجة ابووائل کان ابوموسٰی یشدد فی البول ویبول فی قارورة ویقول ان بنی اسرائل اذااصاب جلداحدهم بول قرضه بالمقاریض فقال حذیفة لوددت ان صاحبکم لایشدد هذا التشدید فلقدرایتنی انا و رسول الله ﷺ نتماشی فاتی سباطة قوم خلف حائط الی قوله فبال (الحدیث) وګوری تنزه عن البول په شریعت کې په دی درجه مطلوب دی چه په هغه کې په کوتاهی کولوباندې سخت وعیدهم وارد ده اوداسې مبالغه فی التنزه په آسانی سره ممکن هم ده ځکه چه دقار وری شیشی هرسړی ته میسرکیدلی شی مګربیاهم نه حضور اقدس د هغې اهتمام فرمایلی اونه حضرات صحابه ؤ، اوکه حضرت ابوموسی د حال په غلبی سره ددې اهتمام کړی هم ده نوحضرت حذیفه په هغه باندې نکیرفرمایلی ده اوحضرت ابوموسی په بدی ویلوباندې څه خبره نده کړی اونه یې نوروته دداسې کولورائې ورکړی ده

اوفروع مذکوره فی السوال دتکمیل انتظام کې تساهل باندی اخفض الصوت فی التکبیرباقی القراة باندی نه وعیدشته اونه ددې تکمیل مخترع انتظام سهل ده،نوبه دی کې داسی مبالغه کول اوددې داشاعة اهتمام کول سراسردیسرفی الدین خلاف ده وفی هذاکفایة لمن طلب الحق ۲۰ ذی القعده ۱۳۴۲ھ

په پورتنی ځواب باندی دالاندی خط راغی چه دځواب سره منقول ده

سوال ...... بسم الله الرحمن الرحیم حامداً ومصلیاً مکرمي ومحترمي دام فضلکم وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته په ځواب داستفتاء مرسله ۱۸ ذی القعده ۱۳۴۲ھ دجناب گران قدرفتوی مؤرخه ۲۱ ذی القعده سنه مذکور ۲۳ ذی القعده موصول شوه جناب اعلی چه په خپلی زرینی فتوی کې کوم څه تحریرفرمایلی دی هغه په سرسترګولاګن دجناب اعلی علمي تبحراو نظری وسعت سره ددې تحریرلاندی یوولس امورچه پنځو دفعاتولاندی دتحریرلاندی راوستل شوی دی زبانه استفاده مطلوب ده لهذامعروض دی:

اوله دفعه: دجناب اقدس په خپله فتوی کې چه کوم تحریرفرمایلی دی تبلیغ دصوت لری سامعینوپورې شرعاغیرضروری دی ځکه چه بعیدینوته په بلی غیرمخدوشی ذریعی سره تبلیغ ممکن ده اوپه هغه کې دغه مفسده محتمله ده چه خلک به په دی کې ګنجایش وګنی چه دغه آله په لهوکې داستعمال کولو یادنوروالاتودلهوی استعمال کولو الخ ددې لاندی دغه اموربه پوه کې ندی راغلی ضرورت ده چه هغه هم تشریح وفرمایل شی:

(اول امر) دوری غیرمخدوشی ذریعی کومې دی؟ (دوهم امر) په کوم عبارت باندی چه خط کش شوده هغه مطلب څه ده؟ (دریم امر) په خط شوی عبارت کې که لفظ د (آله) اولفظ د (لهو) په مرجع کې لفظ غلط ده اودلهولفظ نه وروسته درته (لفظ راوستل پکاروُاصل عبارت داسی ده ددې آله لهوته استعمال کولوالخ نوددغه آله دملاهی دالاتونه کیدودلیل څه ده؟

دوهمه دفعه: عزتمندجناب په خپله فتوی کې داعبارت کوم چه هغه قلم لاندی راوستی دی (که ددیته مراددجمعی اوعیدین خطیب ده نو دغه وخت دتبلیغ صوت غیرضروری کیدل اظهردی ددې لپاره چه په خطبه کې حضورمقصوددې نه چه اوریدل دصوت اومفسده اقوی ده ځکه چه مسجدته به ددې آلې داخلول راځی کوم چه دمسجدداحترام خلاف ده همدارنګه شبهه ده دمجالس غیرمشروعه سره ددې نه لاندی داخدشات پیدادی چه ضرورت ده چه جناب اعلام هغه رفع وفرمایې (څلورم امر) که دشریعت حقیقت مقصود په خطبه کې محض

حضورده نودعیدینواوجمعی په وخت دخطیب درکوب علی الناقة وتطلیعهاعلی جبل الرحمة څه حکم ده؟ځکه چه ددری واړوکارونودنشتوالې په حالت کې هم دخطیب خطبه اودقوم حضور ممکن ول اوآیاپه دی سره ددې ظاهرکیدوکې څه شبهه شته چه ددې وخت دموجوده اسبابولاندی شریعت په خپل رخصت کې دخطیب آواز دقومه پورې په رسولوکې په هری ممکنی طریقی سره تعلیم ورکړی ده اودحضور محض مقصدجوړول ددې لپاره وُچه هغه وخت د نن په شان کومه ذریعه دسماعت ټول قوم لپاره په سترګونه راته.

(پنځم امر) ترهغه وخته چه دآلة زیربحث د الات ملاهی کیدل ثابت نه شی په مسجدکې دهغې داخلولوته به څه نقصان وی اوپه دی کې څه مفسده ده؟

(شپږم امر) دغیرمشروعه مجالسونه کوم مجالس مراددې په کوم کې چه هغه آله نصبولی شی اودهغوسره تشبه نه راتلل ضروری دی.

(دریمه دفعه) محترم جناب په خپله فتوی کې داعبارت چه قلم ته حواله فرمایلی ده ځکه چه داحکمونه اګرکه مطلوب دی مګرشریعت دهغود مشروعیت درجات اوحدودمقررکړی دی کوم چه په کتابونو د مذهب کې مضبوط اومبسوط دی دهغونه تجاوز کول تعمق اوغلوفی الدین ده کوم چه دشارع په نظرکې غیرمرضی ده ددې لاندی تصریح شوی اندیښنی پیدادی ضروری ده چه مکرم جناب هغه رفع کړی:

(اوم امر) ددغه خاص مقصدلپاره شریعت دمتعینه اومقرره درجاتواو حدودو کې آیاکوم حداودرجه دآیته کریم ولاتجهربصلاتک ولاتخافت بهاوابتغ بې بن ذلک، نه زیات صریح هم موجودده؟اوکه نه وی اویقینا نشته نوداامردیرد ملاحظی قابل ده چه مفسرینوددې دعلت په بیان کې کومه تصریح فرمایلی ده چه دعدم اعتدال دجهراواخفاء په صورت کې دخشیت اوتذلل درفع احتمال شته کوم چه دصلوة روح ده آیادا تصریح ددغه صریح امراظهار نده؟ چه کوم جهرفی الصلاه کې داعلت نه پیداکیږی ،هغه به دشریعت دمعینه حدودونه بهرنه وی اوهغه به جائزوی،اوداامرواقع ده چه ددې آلې په ذریعه کوم جهر وی په هغه کې علت ممنوعه نه پیداکیږی ځکه چه دامام جهربحاله معتدل ده،اود هغه وصول ماموميئنوپورې دامام پوری تعلق نلری ، او دامام دعمل هغه کې کوم کردارنشته (اتم امر) کوم حدوداودرجات چه شریعت مقررکړی دی آیاهغه توقیفی او مبنی په حصرعقلی دی ؟ او کنه اویقیناچه ندی نوبه کوم ترتیب چه دوهم اذان اودمکبرینوپه مکبره سره تکبیرونه ویل نظم ترتیب د بقاء جماعت او تحفظ دنیت سره د حضور علیه السلام نه وروسته جاری شواوجائز ګڼل کیږی په همدې ترتیب ددې

نیت او غرض سره خنګه نشي جاري کیدلی ؟ اوولی جائز نه ګڼل کیږي ؟ آلي استعمال صیانة عن خطاء المصلین فی اقتدالامام اود حصول المقصد من خطبة الخطیب

(څلورمه دفعه) د حضرت ابو موسی اشعری او حضرت حذیفه رضی الله عنهما واقعه کومه چه په نظیر کي جناب معظم په خپله فتوی وړاندی کړي ده په دي باندي دااعتراضات په دماغ کي پیداکیږي ضرورت ده چه جناب مفخم دهغه سدباب وفرمایي؛

(تهم امر) دحضرت ابوموسی اشعری فعل دیوه جلیل المرتبه صحابی فعل ؤ دکوم سره چه داکیدای شي چه هغه دراتلونکي لپاره اساس وګرځي، او مسلمان داضروري ګرځوي او په دین کي دیسرپه ځای عسر پیدا شي، اوپه همدي خیال سره حضرت حذیفه په هغه باندی ستا سوپه قول بدویلی دی خو دلته هغه صورت نشته دلته که کوم شخص دجهرصوت لپاره دمکبرالصوت اله استعمال کړی اوهغه شخص به هم څنګه وی؟ نودهغه د فعل نه خودکوم وخت اساس پیداکړي شوی او نه هغه مسلمان کله هم ضروري ګرځولی شي اوپه همدي وجهي د سره په دین کي دیسراوعسرکوم سوال نشي پیدا کدلي ،اوپه دي موقع باندی چه کوم قیاس کړی شوی دی هغه قیاس مع الفارق ده؛

(لسم امر) د حضرت ابوموسی الاشعری په فعل باندی حضرت حذیفه په لوددت ان صاحبکم لاینشدد هذا لتشدد سره محض خپله ذاتی رائي بیان فرمایلی ده نه داچه هغه ته یي دهغه فعل یوممنوع امرګرځولو سره منع فرمایلی ده خومقدس جناب؛ دلته خماسوال ته یودیني ممنوع امرګرځولوسره مامنع فرمایي؛

(پنځمه دفعه) معلی جناب؛ داستفتاء په ځواب خپله فتوی کي په مجموعی حیثیت سره کوم څه هم تحریرفرمایلی دی دهغه متعلق داخیال پریشان کړی ده.ضرورت ده چه جناب عالي د خپلو ارشاداتو په ذریعه ددي نه هم مطمئن وفرمایي (یولسم امر) د جناب ګرامي ټوله فتوی محض په قیاس اواجتهاد باندی ولاړه ده. اوپه دی کي کومه خبره هم په صریحه اومستقیمه اوامرو اونواهیوکي ندی،اوچه کله جناب سامي په خپله هغه جائزساتي،نوآیا همداقیاسی او اجتهاد د کوم بل لپاره هم دهغه عقل اوفهم ددین اودیانت په رعایت مطابق جائز ده اوکنه ؟او که ددي ځواب په اثبات کي ده نوپه دی موقع باندی په استفتاء، د کومو امورو او قیاساتو نه ستاسو په قول تقویت وکړل شوی او تائید یي شوی هغه ولی د مدعا مفید نده؟ اوپه هغوکي څه شان قباحت ده؟ امدیده چه جناب مستغنی عن الالقاب بغیردکوم انقباض او دباو د طبع په خپلو عالیه اخلاقو سره خما دغو معروضاتو او خدشاتو باصوابه ځواب خوپه نمبر او جدا جدا

حتماً اوزرمرحمت وفرمایي چه طبعیت مطمئن شي اودبحث لاندی مسئلي متعلق مزیدبصیرت اوعلم حاصل شي .خماپه زړه کي ستاسو د اوصافواوعلومرتبی دموودونه رعب او شوکت جمع شوی دی،اوخماپه دی یقین ده چه که خمادمعروضاتو کوم لفظ هم صحیح راوڅی نوجناب فضیلتماب به په نهایت فراخی دزړه دهغی حق کیدل هم تسلیم وفرمائي مصطفویه شریعت هرڅیز متعلق صفااوپانستی احکام بیان کړی دی حرام که حلال،جائزناجائز اوخماپه نزدهیڅ څیزیي بین بین نده پریخودی لهذازه غواړم چه ددي آلي متعلق صفاصفاحکم معلوم شی،حرام وی هغه ظاهرشی اوحلال وی چه هغه ظاهرشی اوهمداامردزمانی قتضی ده څکه چه یوه داسی ورځ راتلونکي ده چه داآله وی یاپه دی قسم نورالات وغیره په عام ډول باندی په استعمالولی شي اوکه دعلماؤفتوی په همداسی تذبذب او بین بین حالت کي پاتي وی نوخلک به دهغوی دپرواکولونه بغیردهغو استعمال کوی اودا هغه مواقع دی په کوموکي چه دعلماؤاحترام او وقارخدشه دارکیږي په داسي صورت کي چه کوم شرعی صورت وی د هغه په نهایت صفاصورت کي خوسره ددلایلواوبراهینوظاهرول ضروری دی وماعلیناالاالبلاغ ومااریدالاالا صلاح ماستطعت وما توفیقی الابالله (۲۷ذی القعده سنه۱۳۴۶ه ۱۸مئی ۱۹۲۸م)

مزیدداچه :ماته دخپلی مطبوعی استفتابالکل ضرورت نشته ده،د هغی خیال تاسی مه فرمایی اوخماسره دهغی عریضی نقل هم موجود ده،دهمدي لپاره هغه به هم اختتل کیږی،اوپه ځواب کي خماد عبارت دنقل هم ضرورت نشته،حواله کافی ده جناب مخدومي؛ السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ؛ تقدیرنامه دی مشرفه وفرمایله اګرکه ددي دټولواجزاء ځواب خماپه سابقه عریضه کي موجودده ځواب ته مي احتیاج نه لیده خوامتثالاللامر دتوضیح په طورڅه مختصراً عرض کوم

تمهید:خمادسابقه ځواب په شروع کي تصریح ده چه داځواب مستقلا دیوبل سوال ده خوممکنه ده چه دهغه ځواب بعضی اجزاؤمي دهغه سوال د خصوصیت په بناسره لیکلی وی،خودجدیدسوال په ځواب کي دهغه نقلول په دی بناء ؤچه کوم اجزاء چه په دواړوسوالونوکي مشترک دی دهغوځواب خو په دی منقول سره کیږي،اوکوم اجزاء چه د جدیدسوال پوري مختص دی دهغو ځواب دنوی زیادت سره کیږي، د دي تمهیدنه بعددمسئول عنهااجزاؤمتعلق عرض کوم: (اول امر) په دی عبارت کي دخطبي اوعیدین تبلیغ مرادنده بلکه تبلیغ دوعظ او لیکچرمرادده لکه چه راتلونکي قریب عبارت کي ددي تصریح

ده فی قولی. داهغه وخت ده چه کله دخطیب نه مراد مطلق واعظ اولیکچرار وی الخ نو په دغه صورت کې هغه ذرائع نورواعظان دی چه بعیدین هغوی اورولی شی (دوهم امر) مطلب داده چه ددې په استعمال سره عوام داګڼلی شی چه ددې آلې استعمال مطلقا جائز ده. اګرکه دلهووی یادازده کولې شی چه په دی آله اونوروآلاتودلهوکې مثلاً ګراموفون کې څه فرق ده کله چه ددې استعمال جائزاودنورونا جائزده. (دریم امر) دته، لفظ په خپل مقام ده غلط ندی لیکلی شوی (څلورم امر) خمایه عبارت کې دتبلیغ صوت نه مراد مطلق تبلیغ نده بلکه تبلیغ الی الکل ده یعنی که مجموعه حاضرین بې وانه وری نو دبعض سماع اودبقیه ؤحضور کافی ده دهمدې په خاطر خمایه عبارت کې دحضور دلفظ سره دمحض لفظ نشته. اودمطلق سماع په مقصودیت کې نفی دسماع مقصودنده، نو سماع هم ضرورمقصود شوی دهمدې په خاطرشریعت ددې اهتمام هم وفرمایه مګردی حده پورې چه دیُسرسره وی ددې دلیل کلیه قواعداودهمداسی واقعاتو متعلق جزئیه حکمونه دی کوم چه ددې واقعی نظیردی دکوم په طرف چه مادحضرت ابوموسی په حدیث کې اشاره وکړه. (پنځم امر) ددې خواب دسابقه خواب په دی عبارت کې مذکورده. داآله په لهوکې استعمالولوالخ اوافضاء الی المفسده دفقهاؤدتصریح مطابق په مفسده کې داخله ده. (شپږم امر) مثلاً: درقص اوسرودمجلس چه هغه کې تبلیغ صوت الی البعید لپاره استعمالولی شی که ددې وقوع هم نه وی خوقرب وقوع عادةً یقینی ده. (اووم امر) دیوه علت په ارتفاع سره د نورو مؤثره عللوارتفاع لازمه نده، اوهغه مؤثره عللونه داحقرپه فتوی کې مذکوردی. او چاته چه دهغوپه موثر کیدوکې خدشات دی هغه په همغه وخت رفع کوم (اتم امر) هغه حدودخوکماتوقیفی ندی چه مثلاً داسماع کوم معین مقداروی، لاکن کیفاً توقیفی دی، یعنی داچه دتعمق اوتکلف حدته ونه رسیږی، اوثانی اذان وغیره دتعمق ترحده ندی رسیدلی، اودغه آله دتعمق حدپورې رسولی ده. اوددې انطباق مداردسلفوپه ذوق او اجتهادباندی ده. نودهغوی ددوهم اذان تجویزول اوددغې آلې دنظائرو باوجودسهولیت ددغونظائروتجویزنه کول ددغه فرق دلیل ده په همدغونظائروکې دحضرت ابوموسی یوه واقع ده. (نهم امر) که داخبره وی نوفقهاؤداقاعده مطلقاً دخواصولپاره نده مقررفرمایلی چه که دخواصوفعل دعوامولپاره موهم ګرځی نوخواصو لپاره هم دهغه اجازه نشته، همدارنګه دعواموحالت اوس هم مشاهده کیږی چه هغوی داهل علم فعل متمسک ګرځولوسره دحدودونه ووځی (لسم امر) محض رائې نده بلکه رائې ماخوذعن فعل الشارع کیدوپه سبب شرعی حکم ده اودصحابی داسی قول دحنفیه ؤپه نزد حجت اومجتهدلپاره واجب التقلید ده

چاته چه داقول رسیدلی وی هغه ته په خپل اجتهادباندی عمل جائزنده. کماصرح به فی اصول الفقه. باقی د: لوددت الخ عنوان اختیارول دادب فی التعبیرده دفتوی کیدلو منافی نده لکه څنګه چه خپله خمونږ مجتهدین مذهب مکروه په لااحب اوحرام په اکره سره تعبیرفرمایي الغرض په اساس د: (القیاس مظهرلامثبت) دانبوی فتوی ده خودصحابی داجتهادپه واسطه اوس تبرعاً یوه بلاواسطه دنبوی فتوی هم نقل کوم (ابن عمر) (قلت یارسول الله التوضاء من جرجدیدمخمراحب الیک ام من المطاهرقال لابل من المطاهران دین الله یسرالحنفیة السمحاء قال وکان النبی ﷺ یعث الی المطاهرفیوتی بالماءفیشر به یرجوبرکة ایدی المسلمین للاوسط کذافی جمع الفوائداحکام المیاه) اوددې دنظیرکیدلوتقریرهمغه شان ده لکه څنګه چه په نظیرسابق کې لیکل شوی ده. (یوولسم امر) دمدعادنه مقیدکیدلودلیل خپله په فتوی کې مذکورده باقی په مقدمات دلیل کې کلام دا ستاسواجتهادده کوم سره چه خماتوافق نشته اودهمدې فرمایلو حق هم ستاسوده. وړاندی تول دخپل خپل عمل ذمه واردې خواب ختم شو. ددینه بعدچه تاسوکوم کلمات دمحبت نه ارشادفرمایلی دی د هغوخواب بغیرددې دعانه څه کولې شم چه احبکم الله کماتحبوننی. د دینه بعدتاسوچه په دینی خیرخواهی سره کومې مشوری راکړی دی اګرکه دهغویه اجزاؤکې خماکلام شته مګرستاسوپه صدق نیت باندی نظرکولوسره دومره عرض کول کافی بولم چه تاسی خماحق دافرمایلی ده جزاکم الله تعالی وړاندی خان اوستاسو لپاره دادعاده اوستانه هم دهمداسی دعاءاستدعاده (اللهم ارناالحق حقاًوارزقنااتباعه والباطل باطلاًوارزقنااجتنابه) دتولونه په آخرکې دکاغذونودابینودلو اجازه عطافرمایلوباندی خاصه شکریه عرض کوم چه زه یې دصعوبت د نقلولونه بچ کړم فاالله تعالی سهل صعبکم کماسهلتم صعبی والسلام خیرختام، نیازمندانه ګزارش ددې لپاره چه ددې مسئلې متعلق خما معلومات خلاص شول دراتلونکې لپاره دمعافی اودمعافی سره د دعاء درخواست کوم فقط ۱ ذی الحجة ســ۱۳۴۲ھ

ددینه وروسته دیورتنی سوال یوځواب دمدرسه دارالعلوم دیوبند نه

دراتلی هغه دراتې سره لاندی منقول ده:

دراتې معلومولوپه غرض راغلی

جواب: په حواشی درمختار للعلامة ابن عابدين الدمشقي ج۱مبحث سنن صلاة کی دی: ثم اعلم ان الامام اذاکبر للافتتاح فلابدلصحة صلوته من قصده بالتكبير الاحرام والافلاصلوة له اذاقصدالاعلام فقط فان جمع بين الامرين بان قصدالاحرام والاعلان للاعلام فذلك هو المطلوب منه شرعاوكذلك المبلغ اذاقصد التبليغ فقط خالياًعن قصدالاحرام فلاصلوٰة ولالمن يصلى بتبليغه فى هذه الحالة لانه اقتدى بمن لم يدخل فى الصلواة فان قصدبتكبيره الاحرام مع تبليغ المصلين فذلك هوالمقصودمنه شرعاًكذافى فتاوى الشيخ محمدبن محمد العزيزى الملقب بشيخ الشيوخ اه، اوپه درمختارباب مفسدات الصلاة کي دی وفتحه على غيرامامه الااذااراداالتلاوة وكذاالاخذاه) په حواشی دابن عابدين کی دی: قوله : وكذاالاخذاى اخذالمصلى غير الامام بفتح من فتح عليه مفسدايضاكمافى البحرعن الخلاصة لواخذ الامام بفتح من ليس فى صلوته فيه عن القنية اه) اودرمختارباب سجودالتلاوة کی :لايجب سماعه من الصدى والطير– په حواشی کی دی :قوله من الصدى هومايجيبك مثل صوتك فى الجبال والصحارى ونحوهماكمافى الصحاح) دپورتنیو مذکورونصوصونه ښکاره شوه چه ددې په خاطرچه داله مکبرالصوت او نلوتوهارنونه ، په آوازکې کوم چه دصُفحی اوغیره سره داوازدتکرکیدوسره دصدی (گنبزوغیره کې منعکس کیدونکې اوتکرکیدوسره پیداشوی آواز) یو یاڅوسیلوسره پیداکیږی اوددې لپاره چه داآلات اوبانسونوپه سرا نبوب نه خپله مکلف دی اونه دلمانځه اوجماعت داخل بلکه خارجی داسی شیان دی چه دهغوپه ذریعی سره مقتدیانوته تلقین اوتعلیم ورکولې شی،اوددې لپاره په دغوتکبیرونوکې دمحض تبلیغ قصدوی دغه الات نه لمانځی دی اونه هغوسره دلمانځه کولواراده ساتلې شی دهمدې په خاطرهغه خلک چه فقط ددغوآلاتوپه ذریعی سره لمونځونه ادا،کوی ددغوټولولمونځ فاسدیږی،اودغیرمسلم نه دتعلیم او استفادی زهریله اثردهغوی ټولولمنځونه دمعنوی موت په کنده کې وروغورځوی لهذاددې نه بچاوکول لازم دی کوم چه دسوال په وجهو کې دجوازیااستحباب لپاره بنودل شوی دی دفقهي نقطة نظرسره د یوی وریشی برابرهم قدراومنزلت نشی لرلی ،ننگ اسلاف حسين احمد غفرله،

راتې الاحقرفی هذالجواب

که داثابته شي چه ددې آلې نه عین صوت نه اوچتیږی،بلکه د انعکاس اوتکر اوسره دهغه حکایت رسیږی نوصواب منحصرفی الجواب ده اومظنون همداده،اودکوم سایئسی [1]ماهردتحقیق نه داظن دتیقن درجی پورې رسیدلی شی،اوکه ثابته شی [2]چه عین صوت بلندیږی نوپه دی صورت کې هغه حکم ده کوم چه احقرپه خپل ځواب کې عرض کړی ده اوکه دواړه احتماله وی نوبیاهم ځواب همغه ده کوم چه حضرت مصیب سلمه الله الرقيب القريب

[1] ددی تحریرنه وروسته ددی متعلق سوال متعددوماهرینوته ولیکل شوکوم ځوابونه چه راغلل په دی متفق دی چه کوم اوازلری پوری رسیږی هغه عین صوت ده کوم چه اوچتیږی دصوت حکایت اوانعکاس نده ،لکه چه لاندی هغه سوال اوځوابونه منقول دی

[2] دسائینس دماهرینومکمل تحقیق چه کوم چه اوس اوس دپاکستان دمملکت دفن دماهرینونه حاصل شوی دهغه نه همداثابته شوه چه عین صرت دلری پوری رسیږی،انعکاس یاداوازصوت نده لهذاددی تحقیق پراساس خپله دحضرت سیدحکیم الامت دځواب خلاصه به داوی چه دهغه په اواز باندی په لمانځه کی به نقل اوحرکت کولوسره دلمانځه دفسادحکم به نشی ورکولی البته دفسادد احتمال په اساس باندی دهغه پریخودل اوپه ساده طریقی باندی دلمونځ ادا،کول به بهتروی ،پدې مسئلی باندی دسایئنس دماهرینومکمل تحقیق اودهغه متعلق په زیربحث مسئلی باندی دنوروااکابرو علماؤ خصوصاً دحضرت مولنابشیراحمدعثمانی رحمه الله اوعلامه سیدزاهدکوثری مصری وغیرهم فتاوی اود هغوی تحقیق بیادمسئلی مکمله فیصله داحقررساله ،مکبرالصوت ، کی شائع شوی ده که ضرورت وی نوهغه ملاحظه وفرمائی ۱۲محمدشفع عفی عنه .

داهل سایئنس تحقیقات دمکبرالصوت متعلق

دلاسپیکرپه صفحی سره چه دمقررکوم اواز اوچتیږی اوترلری پوری کارکوی هغه عین اواز ده اویا حکایت داواز یعنی دانعکاس داوازپه شان ده چه اوازخوپه صفحه باندی راتلوسره ختم شواودانعکاس اوازخلکوته رسیږی په همدی ترتیب دوهمی صفحی نه در یمی باندی دبازگشت غږ کاپی ده اودریمی نه څلورمی باندی دانعکاس دصدابازگشت ده ،مطلب داده چه په صفحه باندی اصل اواز اوروول ورکوی یامحض کاپی ده دهغه اوازمثل لکه په غرونواوځنگلونو کی راتاویږی چه هغه په دی ځای باندی ،دغه آله کی ، دبرقی شعلی په استعانت سره باقاعده اوداصل سره مشابه کړی ده څومره به ده چه مستندی حوالی هم په ځواب کی وی؟

الجواب: دسیدبشیرعلی ایم ای پروفیسورمحکمه سایئنس علی گړدنوروصحابودمذکوره محکمی په مشوره په معرفت دمنشی سراج الحق صاحب دمسلم یونیورسټی ماسترسکول علی گړ اوهغه توجیه داده چه دعین صوت عدم وصول الی البعیداول نه متیقن ده اواوس په دې کې شک واقع شوې دلاسپیکر په صفحه باندې چه کوم اوازاوچتیدوسره لرې څي هغه بجنسه دمتکلم یاخطیب آوازده کوم چه دلاسپیکرپه ذریعه قوي کیږي اوازپه اصل کې په هواکې دامواجوپیداکیدلونوم ده کوم چه دزیې د حرکت نه پیداکیږي اودغوگونوپه پردوباندې په راتلوسره همداسې شان کیفیت پیداکوې دغوگونوپردو ته درسیدونه وړاندې که هغه امواج ضعیف شوي وي ،دکوم چه مختلف اسباب کیدلې شي بقیه لاندې

تحریرفرمایلی ده خودتوجیه مختلف فیه ده چه دعین صوت عدم بلوغ الي البعید داول نه متیقن ده اواوس په هغه کې شک واقع شو

باتي۔ مثلاً مخالف باد، شور، غوغاوغیره، اوبیاهغه دلاؤډسپیکرپه ذریعه قوي شوي ده نوځوهغه ډیرلري پوري لاړشي نوپه داسي صورت کې دلاؤډسپیکرنه بعدچه کوم اوازراووځي هغه فی الحقیقت اصلي ده اوازپه صفحې باندي راتلوسره نه ختمیږي بلکه دضعیف نه قوي کیږي لاؤډسپیکرپه هغوضعیفوامواجوکې یونوي قسم ساه ورغورځوي اوددغوامواجودفعل دمعدوم والي سره وړاندي کیږي یعنی هغه امواج دمتکلم دخولي نه راووني، بیجنسه په خپل اصلي حالت باندي قائم وي۔ داوازپه بازګشت کې داواز نوعیت داسي وي چه دمخرج یامبلغ نه اوازراوتلوسره کوم څیزسره تصادم کوي اوشاته کیږي، چون ددي داصلي دطې کولولپاره دوخت ضرورت واوداوازرفتاره یوتیزده۔ دهمدي لپاره دوهم اوازاوریدل ورکوي دبازګشت په اوازکې همدااوازتصادم کولوسره دوهم ځل اورول ورکوي اوپه لاؤډسپیکرکې همدغه اواز ضعیف نه قوي ګرځي لهذاپه دي کې دوه اوازونه نه اوریدل کیږي اه

بل خواب دبهوپال یوماهرسائینس لخواهرکله چه کوم څیزکې حرکت وي نوپه دغه عالم کې په بیروني هواباندي دهغه صدمي سره یوصورت دتموج پیداکیږي، کوم چه داصل حرکت سره بجنسه مطابق کیږي دغه تموج ته کله چه دچاڅخوادهغه سدراه کیږي نوپه هغوکې بازګشت یاشعاع کیږي، اوډخواصلونو لاندي ددغوشعاعواجتماع په یوه مرکزباندي وي، که په دي مرکزباندي څوګونه کیښودي شي نوهغه اواز اګرکه ابتداء ډیرورووالوچت اوصفااوریدل ورکوي، نوپه درمیاني مقام باندي هغه هیڅکله اوریدل نه ورکوي، که دچرته نه آوازوي اوچرته چه داتموج دي دواړومقامونومینځ کې دیوي خاصي معینې فاصلي نه کم نه وي نوپه دي کې انعکاس اودبیرته راګرځیدوآوازپیداکیږي، کوم چه داصل اوازنه اوچت وي، او بعضي وختونه دمیلونولوري اوریدل ورکوي کله چه خپ اوازکومي تنګي نلکي کې راتلوسره تیریږي نوپه مشاهده کې راغلي ده چه هغه اوچت ګرځي اولري پوري ځي دوجوهاتوتفصیل اوږدده ماهرینویوه وجه دابیان کړي ده چه دنلکي دننه هواکې تموج پیداکیږي کوم چه داصل اوازمطابق اوبجنسه وي لدینه اصل نه تقویت حاصلیږي اوساعمینوته هغه اوازاوچتیدوسره اوریدل ورکوي، دلاؤډسپیکردجملي ساخت خمایه خیال داده چه دهغودواړواصول په نظرکې نیول شوي په کوم کې دټیلفون اصول مدهم اختتل کیږي افسوس ده چه ماسره یاخمایه علم کې کوم په لاس کې کتاب موجودنده په کوم کې چه ددي جدیدایجاد ذکرشوي وي لاکن یقین ده چه که کوم علم دطبعیاتو کوم چه اوس تیارشوي دي اوکوم کې چه دجدیدو خبروذکروي په دي کې دهغه تصدیق میلاویدلي شي البته دراقم دبیان تصدیق دطبعیاتویادکوم بل علم صوت دبیان لوستلوباندي معلومیږي

بل خواب بیادبهوپال نه دماسترمحمد مظهرداتحریرراغلی چه په راتلونکي کې منقول ده دلته نن په مدرسه کې دسائنس ماسترهمالمه چه یورته یادشوي، میلاوشوي وه هغه ویلي ذکوم اوازچه دلاؤډسپیکر نه پیداکیږي هغه دویونکي داوازاثرده خوهغه دهغه دبازګشت قایل ده، واني په غره باندي کوم اواز اوریدل کیږي هغه دغیرمحسوس مودي نه بعدپه دي وجه اوریدل کیږي چه هغه اوازخپل په خپله تاویږي لاکن دلته دبرقي شعاع هغه کې خند نه ورپریږدي، دقائل دژبې حرکت صرف یوموج پیداکوي، اودلته خوځو موجونه پیداکیږي، اوپه هغوکې قوت پیداکیږي په کوم ترتیب چه دیوه سندري والاتغني آوازچه وي که نورخلک لاس میلاوکړي نوموترپه داونه شوویلي چه دغه قسم اودچااوازده برقي قوت همداشکل پیداکوي الغرض هغه داواني چه دبرقي قوت په وجهې سره زه خوکم ازکم ددي منلو وینا کوم چه دااصلي اوازده اودینه انکارهم ماته ممکن نده چه ثبوت مشکل ده آه نوټ: ددي خواب حاصل تردده اودتردد حکم احقردمولاناحسین احمدصاحب دخواب متعلق چه کومه راې لیکلی ده دهغه په آخرکې ذکرکړي ده اشرف علی ۲۳ محرم ۔۴۷ھ بل خواب بیادحیدرآبادنه دمولوي عبدالحی صاحب راغلی چه لاندي منقول ده: سوال دسائنس اوحکمت دعلماؤپه خدمت کې معروض ده چه نن

المقالات المفیده فی حکم اصوات الات الجدیده

(په دوه دفتواګانو مشتمل)

تمهید: دراډیومتعلق دخانقاه امدادیه نه اول چاپوی استفتاء کولو سره خواب حاصل کړی وددې لپاره چه چه په هغی کې څه شبهه پیدا شوی وه نواحقر[1] بیله استفتاء وکړه دواړه استفتاوی دخوابونوسره لاندی منقول دی

اوله استفتاء: ددین علماء څه فرمایې په دی مسئلې کې چه نن صباد راډیو رواج ډیریږی په کومه کې چه خبرونه هم وی، اوتقریرونه هم اوسازاو سرودهم اوبعضی وختونه دخوش اوازوقاریانوقران هم په کې اورول کیږی۔

صبا یوه آله (لاؤډسپیکر) کوم ته چه مکبر الصوت وائي اواليقين لايزول بالشک، دهمدي لامله دعدم بلوغ حکم کولوسره هغه صوت دصدی په شان حکم ورکول کیږي، ۵ذی الحجة ۱۳۴۲ھ اوهم وائي ددي دتحقیق ضرورت ده چه په هغه کې دویونکي اوازبعینه اوچتیدوسره اوریدل کیږي یادګنبزداوازپه شان حکایت کوي ددي خواب په مستندو جرالواووجوهوسره عنایت وفرمایئ څکه چه ددي په تحقیق باندي دځوفقهیه مسائلوتفریع موقوفه ده ۲۸محرم ۴۷ھ جواب: داوازمتعلق دسائنس دعلماؤداراې ده چه دکوم جسم نه اوازووځي هغه دیوه خاص قسم ارتعاشي حرکت مادي په واسطه کې بجنسه منتقل کیږي، اوپه عام ډول بالاخره هواته

منتقل کیدوسره داوریدونکي غوږپوري رسیږي دمکبرالصوت مختلف قسمونه دي دبرق نوعیت مکبرالصوت کې ویونکي څېرې کوي نوداوازموجونه براه راست منعکس کیدوسره اوریدونکوته منتقل کیږي داوازداوچت والي وجه په دي خاص صورت کې داده چه دموجونوتوانائي دهواپه وسیعو رقبوکې خپریدوسره منتشرنه پاتي کیږي بلکه یوخاص سمت کې دهغوموجونه هدایت کولوسره آواز تقریبادخپلي اولي توانائي سره داوریدونکي پوري رسیږي، دغه اوازبلاشبهه دویونکي اوازبیژندل کیږي ددغه مکبرالصوت نه داوازانتقال ډیرلري پوري نشي کیدلي، که مکبرالصوت دبرقي نوعیت ده لکه چه دمعمولي لاسلکي ټیلفون سره استعمالیدونکي آله ګرځي، نودهغه نوعیت بالکل جداګانه ده دلته داواز پیداکونکي والاجسم ارتعاشي حرکت خپل نوعیت بدلولوبل قسم ارتعاشي صورت اختیاروي، ګواکې چه داوازنقل په برقي شعاعویابرقي موجونوکې تیارولي شي اوهغه داوریدونکوهغه داوریدونکوپه اله سماعت کې داخلیدلوسره بالاخرداوازدمادي ارتعاش په شکل کې تبدیلیږي کوم چه داوازدپیداکولولپاره لازمي ده اوپه همدي ترتیب اوریدونکي ته نقل په نقل یابالواسطه طریقي سره اوازاوریدل پیداکیږي د داسی لاؤډسپیکرونواوازدابتدائي اوازمحض نقل یاحکایت ګڼل کیږي ۳اصفر ۱۳۴۷ھ

نوټ: ددي خواب حاصل ددي حکم ده چه دااوازدګشت غګ ده نوپه دي بناء دمولناحسین احمدصاحب پورته مذکورخواب متعین ده۔ اشرف علی ۱۰اصفر ۔۴۷ھ

[1] استفتاء کونکي وصل بګرامي مرحوم ده۔ ۱۲ محمدشفیع

اوکوم خوش الحان قاری په راډیوباندی قرآن لولی هغه ته معقوله معاوضه ورکول کیږی نو په دی صورت دراډیولګول په کورکي یاپه کوم ډول دهغی اوریدل اوپه هغی باندی قرآن لوستل اومعاوضه اخستل دراډیونه قرآن اوریدل جائزدی اوکنه بینواتوجروا؟

الجواب: که کومه راډیودلهولعب اوسازاوسرود نه بالکل پاکه وی یعنی په هغی کي په کوم پروګرام کي هم داخرافات نه وی اوپه هغی کي صرف دکوم واعظ یادمقرراسلام تقریروی یاخبرونه وی نوداسی راډیوباندی قرآن لوستل اوقرآن اوریدل ورنه فی نفسه جائزوه اګرکه دقرآن لوستلومعاوضه اخستل حرام دی اوپه کومه راډیوکي چه ګانابجاناهم وی نوپه هغی کي په هیڅ ډول هم نه قرآن لوستل جائزدی اونه اوریدل بلکه په هغی باندی دقرآن پراوول دقرآن دبی حرمتی سبب ده دقران سره تلاعب ده داخوددي فی نفسه حکم ؤیه کوم کي چه تفصیل مذکورو لاکن دعوام الناس په حدودوکي پاتي کیدل عادتا نزدی ناممکن ده لهذاعلی الاطلاق په هغوی باندی دقران اوریدل منع کول واجب دی اوپه همدي تفصیل سره دراډیوپه کورکي لګول اوپه کوم طورد هغی داوریدلوحکم هم معلوم شوچه داول قسم لګول فی نفسه جائزاودوم قسم حرام ده.مګرددي لپاره چه داول قسم تحقق اودنشته په عام طورصرف ددوهم قسم تحقق شته لهذاددي لګول او اوریدل علی الاطلاق حرام دی والله اعلم بالصواب دستخط سـ۱۳۵۲ الجواب صحیح ،مولناظفراحمدعفاعنه تهانه بهون خانقهاه امدادیه ۲۲رمضان اشرف علی عفی عنه ۲۳رمضان ۱۳۵۲هـ

دوهم **استفتا**، دپورته ذکرشوی سوال اوځواب نه بعدعرض ده چه شاید دځواب تحریرفرمایلوپه وخت کي دادهغوپه ذهن کي ؤچه راډیو د ګراموفون په شان ریکارډده په کوم کي چه هرقسم آوازساتل کیږی اوچه کله وغواړی ددغه رکاټ نه کاراخستلي شی اوداسی ریکارډتیارولو سره خرڅیږی اواخستلي شی.لهذا ددي امرضرورت ده چه دراډیو مفهوم اوحقیقت بیان کړی شی د هغی نه وروسته چه کوم شرعی حکم ده هغه تحریروفرمایل شی، راډیو دټیلفون په شان ده فرق صرف دومره ده چه دټیلفون اوازصرف یوسړی اوریدلی شی اودراډیواوازچه څومره اوریدونکي هلته موجوددي اوریدلی شی،ګراموفون دیوی کمپنی په انتظام کي ده چه غرض یي صرف تجارت ده دهغه ریکار دلهو،لعب،سازاوسرود توقی تقالي، کهیل، تماشووی یاعلمي مضامین یادقرآن شریف آیتونه وی،لاکن دراډیومحکمه دحکومت په انتظام کي ده په هغی کي چه کوم وی فنی،ترقی یاداوریدونکود دلچسپی په غرض سره هرقسم سازاوسرودوی اوکنه په هغی کي چه یوځل اوازواوریدل شی هغه دوهم ځل نشی اوریدل

کیدی.په هغی کي داوریدلوپه وخت کي د اورونکي وجوداوپه خپلی ژبی سره اوروول لازمي دی اوداکلام.دوهم ځل نشی قائمیدلی په هغی کي قرآن شریف وی یاحدیث یادیهودوکتاب یاسرګذشت یانعت وی یاکوم تکړه عملی،فنی،جذباتی افادی مضامین وی یاتمدنی اوشعراوخبرواترو الغرض دهرقسم مضمون دهرقسم چه وی اوپه کومه ژبه چه وی، نثر وی یانظم.اوریدل کیږی محکمه داسی خلکوته چه محنت کوی او اوروول کوی یوه مقرره معاوضه ورکوی اودهغوی قدرکوی.دراډیومختصرحقیقت ده په داسی حالت کي دراډیو لړول، اوریدل، چه هرقسم مضمون وی یاپه مزدوری باندی دکوم مضمون لوستل یااوروول په کوم کي چه دهرقسم مضامینونظم اونثراوقرآن شریف شامل دی جائزده اوکنه؟ بینواتوجروا؟

الجواب: په سوال کي چه دکوموډری الاتوذکرده هغه دځیلودری غرضونو په اعتبارسره قابل تحقیق دی هغه دری الات دادی: ګراموفون، تیلیفون،ریډیو،اودری غرضونه دادی اصوات نمبرامباحه اصوات نمبر۲محرمه اصوات نمبر ۳طاعات او د دغو دریو اصواتو بعض احکام شریک دی،اوبعضی مخصوص غیر مشترک، مشترک حکمونه دادی چه مباحه اصوات مباح اومحرمه اصوات حرام اود طاعاتو د اصواتو د نفس ذات مقتضی داده چه اشتراک دحکم وی مګرد یوعارض په سبب په دی کي تفصیل وشواوهغه عارض ددي الاتود دلهوی لپاره موضوع کیدل یانه کیدل دی.اوهغه تفصیل داده چه کومه آله دتلهی لپاره موضوع ده هغه د اصوات طاعت داسماع لپاره استعمالول ناجائزدی.اوکوم چه دتلهی لپاره موضوع نده دهغو استعمال ددغواصوات طاعات لپاره جائزدی ،اوس ددي تعین پاتي ده نوددوحالت خوموتږ ته دمخکي نه معلوم ده یعنی دتیلیفون دتلهی لپاره نه موضوع کیدل اود ګراموفون دتلهی لپاره موضوع کیدل نود هغوحکم هم ظاهرده چه دتیلفون استعمال په هغواصواتودطاعت کي جائزده اوګراموفون ناجائزده اودقواعدونه داحکم ظاهرده مګرتبرعاً یوخاص حدیث ددي دتائیداوتشیید لپاره سره د تقریرداستدلال نقل کوم حدیث داده ,فی المشکوة باب اعلان النکاح الفصل الاول بروایة البخاری عن الربیع بنت معوذبن عفراء قالت جاء النبی ﷺ فدخل حسین بن علی فجلس علی فراشی کمجلسک منی وجعلت جویریات لنایضربن بالدف ویندبن من قتل من ابائی یوم بدر اذقالت احدهن وفینانبی یعلم مافی غد فقال دعی هذه وقولی با الذی کنت تقولین قال الشیخ الدهلوی رحمه الله فی اشعة اللمعات فی شرح الحدیث، اوویل شوی دی چه دحضور علیه السلام ممانعت ددي قول نه ددي لپاره ده چه په هغه کي حضور علیه السلام ته دعلم غیب اسناد ده او حضور علیه السلام خفه شوی ده،اوبعضی وایي ددي لپاره ده چه

ذکرشریف دلهوی په مبنخ کې مناسب نده آهزه وایم چه اگرکه ددې حدیث په توجیه کې دواړه احتماله شته اوپه غورکولوسره د وهمه توجیه راجحه هم معلومیږی ځکه چه که اول احتمال ددې بناء وی نو شدید ممانعت به دزجرپه صیغی سره وی.لکن ددې ترجیح نه په قطع نظرکولوسره هم دامت دعلماؤددواړودتجویزکولو واضح دلیل ده د دواړوبناگانودفی نفسه صحیح کیدواگرکه دلته یومحقق وی نوپه دوهمې توجیه سره داستدلال تقریرداده چه حضوراقدس صرف په مجلس لهوکې دطاعت ذکرباندې بدویل فرمایلی دی حالانکه دلته د ذکرآله یعنی ژبه دلهوی لپاره موضوع نده صرف اقتران فی المجلس په منع کې موثرگرځول شوی ده نوچرته چه خپله آله ددغواذکارو دلهوی لپاره موضوع وی هلته خوبه قبح اوشناعت ډیرزیات وی په دی تقریرسره په گراموفون اوتیلفون کې دقرآن مجیداونوراذکار طاعات تعبدیه داستماع حکم معلوم شوچه په اول کې دهغه مذکوره علت په اساس باندې عدم جوازده اوپه ثانی کې جوازکله چه بل کوم علت دمنع نه وی، نود دغودواړوحالت خومونږته دمخکې نه معلوم ده لهذادهغوی حکم هم معلوم ده،باتې شودراډیو حالت تراوسه معلوم نه ولهذادتحقیق نه مخکې دهغی حکم کې به تشقیق وی،یعنی که هغه دگراموفون سره مشابه وی نودهغی حکم به دگراموفون په شان وی او که هغه دتیلیفون سره مشابه وی نودهغی حکم به دتیلیفون په شان وی داولی فتوی دتصدیق کولوموده وشوه په یادمې ندی چه دهغی کوم اساس ؤ. مگرغالباً مې هغه وخت په ذهن کې به داؤچه هغه د گراموفون سره مشابه ده لکه چه دځواب دبعضی عباراتونه هم مفهومیږی اوس په دوهم سوال کې دهغی حالت دتیلیفون سره مشابه ظاهرولی شی نوکه داسی ده نود هغی حکم به دتیلیفون په شان وی یعنی په هغی کې داصوات طاعت تعبدیه داستماع جواز.البته که دآلة تلهی نه کیدوسره سره که کوم بل عارض مانع د جوازوی نوددغه عارض په سبب به بیامنع کولې شی مثلاً قاری ته مزدوری ورکول یاد مسمع یامستمع دغیرطاعت په قصدسره اورول یااوریدل لکه چه فقهاؤتصریح فرمایلی ده چه دتاجردمتاع دفتح په وخت دتروي سلعه یا ترغیب مشترین په غرض سره درودشریف ویل یادحارس ایقاظ نائمینوپه غرض سره دتهلیل په جهرکول ددغوتولو عوارضوپه سبب باندی دممانعت حکم به کولې شی،داټول تفصیل په دی بناء ده چه راډیو د لهولپاره موضوع نه وی لکن که کوم وخت کې سره دی نه موضوع کیدودتلهی په عام طوریا غالب طورباندی دلهوی لپاره استعمال شي نودغه وخت هم دهغی حکم به د موضوع للتلهی په شان وی.ځکه چه داهل شر اعتبارپه درجه دلزوم تشبه هم فقهاؤپه احکامو کې موثرمنلی ده،دبعضی اهل خبرت نه

اوریدل شوی دی چه اوس د هغی حالت همداسی شوی ده،د سوال دبعضی الفاظونه هم دهغوی شبه کیږی نوهغی ته دی اهل داستعمال د تدین سره خپله وگوری اودا ټول حکمونه دی دهغه الاتوچه مذکوردی فی السوال دهغو مناسبت او ضرورت د وخت سره ؤ دیوی خلورمې آلې دحکم لیکل هم ضروری دی اگرکه په سوال کې دهغی ذکرنشته مگرنورسائلین هم دهغی متعلق سوال کوی،اوهغه آله ده لاسپیکریعنی مکبرالصوت په کوم کې چه اواز لوړیږی دهغی اجمالي حکم داده چه په تقریرونوکې دهغی استعمال جائزده اوعیدینو او جمعه په خطبه کې بدعت اودعیدینوپه تکبیراتو کې د هغی اتباع مفسدصلاة ده اوس د ټولو د دلائلو گنجایش نشته اودتکبیرات صلوة دمذکورحکم دلایل کې داحقریوه مستقله رساله ده ، التحقیق الفریدفی آلة تقریب الصوت البعید، دهغی ملاحظه کافی ده دا ټول تحقیقات مې دخپلومعلوماتوموافق لیکلی دی که چاته ددې نه زیات یاددې خلاف تحقیق وی هغه دی په خپل تحقیق عمل وکړی او که مونږهم مطلع کړی نوماجوربه وی والله اعلم وعلمه اتم واحکم تمت رسالة المقالات المفیده. کتبه اشرفعلی تهانه بهون. ۱۵/محرم الحرام سـ۱۳۵۷هـ

ضمیمه دامدادالفتاوی اول جلد

دمکبرالصوت مسئلې په بابله

داحقرمحمدشفیع عفی عنه ربه

بسم الله الرحمن الرحیم دمکبرالصوت آلې متعلق دټولونه وړاندی د حضرت سیدحکیم الامت قدس سره د قلم نه فتوی په ۱۳رمضان سـ ۱۳۴۲هـ مې راوېستلې ده کومه چه ددې کتاب په صفحه سـ ۵۱۰ عدم جوازاله مکبرالصوت دعنوان لاندی ذکرشوی ، کې پوره درج ده دا هغه وخت وه چه داآله نوی نوی چلیدله خاصوخاصوښارونوته راغلی وه په خاص طورباندی ددې شکل اوهیئت اوداستعمال طریقه باندی هم خلک واقف نه ول[1] هغه وخت چه کوم ځواب لیکل شوی ؤدهغه منشاداوه چه هغه هم دگراموفون په شان یوه داسی آله گڼل کیدله چه دلهواوطرب په مجالسوکې استعمالیدله اوکوم ضرورت هغی پورې موقوف نه ؤ،چه دځواب

---

[1] حاشیه متعلقه امدادالفتاوی جلداول ص۸۷دااستنجاپه کاغذجاذب په هکله دحضرت ﷺ دتحریرنه معلومه شوه چه په جاذب کاغذباندي داستنجاء عدم جوازپه هغه صورت کې ده چه کله هغه دعلم اوکتابت د آلاتونه وي یامعتدبه قیمت ولري ددینه ځرگنده شوه چه هغه کاغذچه تن صباخاص داستنجالپاره جوړشوي اوبومرته چه خومره په استعمال کې خرچ شي دهغي کوم معتدبه قیمت نه وي، په دي کې داستنجاءکومه مضائقه نشته البته په ځته باندي استنجادسنت والي په سبب افضل ده بنده محمدشفیع عفی عنه ۱۲صفرسـ۱۳۸۲هـ

نه وراندی دمزیدتحقیق اوتفتیش انتظاروکولې شی لهذا دعامو حالاتوتابع دهغی په لهواولعب کي استعمال کیدلووالایوه اله گرځولوسره په عام وعظ اوتقریرکي هم د هغی استعمالول منع گرځولی شوی ؤ.اومسجدته دهغی داخلول ممنوع فرمایل شوی ؤ دهغی نه وروسته دوهمه فتوی څومیاشتی بعدذی الحجة ۱۳۴۲ھ کي دیوه صاحب نه دطویل مراسلت او مکاتبت په ضمن کي لیکل شوی وه په هندي زمانه کي حضرت مولنا سیدحسین احمدصاحب مدني قدس سره ددارالعلوم دیوبندنه دیوه سوال خواب کي دهغی استعمال بي مفسدصلاة گرځولي اوحضرت قدس سره دهغه تصدیق وفرمایه (دغه مفصل مکاتب اوفتوی د (التحقیق الفرید فی استعمال آلة التقریب والتبعید) په نام سره په النورکي شائع شوکوم چه ددي کتاب په ص۵۸۲ درج ده، په دی کي هم مطلقاددي آلي داستعمال ممانعت ؤاویه لمانځه کي استعمال مفسد دلمانځه گرځولی شوی ده دهغی نه یولس کاله وروسته په محرم سـ۱۳۵۷ھ کي بیاکوم صاحب درادیووغیره جدیده آلاتومتعلق سوال وکړکله چه ددي استعمال عام شوی ؤیه دی سوال کي داحقیقت هم واضح شوی ؤچه رادیونه دساز او طرب کومه آلة ده اونه دلهواولعب مجالسوپوري خاص ده بلکه ددینه ډیرمفیدکارهم اخستل کیږي،هغه په هیوادکي دحکومت د انتظام لاندی وي،په دی کي حضرت درادیود حکم سره دمکبرالصوت آلي حکم هم تحریرفرمایلي دي دافتوی هم دیوی مستقلي رسالي په صورت کي د (المقالات المفیده فی حکم اسماع الالات الجدیده) په نامه باندی په کومه کي چه عام وعظ او تقریروغیره کي ددي آلي داستعمال اجازه ورکول شوي ده، اوپه خطبه اواذان کي بدعت،په کومه کي چه دحضرت دغه دریواړه تحریرونه جمع شوي دي کله چه څمادارساله حضرت مولنا شبیر احمد عثماني رحمه الله ته په ډابجهي ضلع سوات کي ورسیده نوموصوف په یوه مفصل خط کي دلمانځه دفساددحکم سره داختلاف اظهاردځه دلایلوسره وفرمایه احقرددي ذکردحضرت قدس سره ته وکړ نو هغه وفرمایل چه په خط اوکتابت کي ډیرطول راځي،کله چه مولنادلته تشریف راوړي هغه وخت به په زباني خبرواتروسره مسئله وځیړو،اتفاقاً ددینه وروسته داسی موقع پیداشوه چه دحضرت په خدمت کي د موصوف مولناپه معیت کي په دي مسئلي باندي خبری اتری وشي تردی چه رجب سـ۱۳۶۲ھ کال کي د حضرت قدس سره دفات مصیبت رامینځته شو،بیاموصوف مولنااوداحقردپاکستان د تحریک په مساعیوکي مشغول شولواوبالاخره په رمضان سـ۱۳۶۷ھ کي موصوف مولناپاکستان ته منتقل شو،بیاداتومیاشتو وروسته په جمادی الثانی کال۱۳۶۸ھ کي

حضرت هم هجرت کولوسره پاکستان ته راغی دغه وخت دمکبرالصوت استعمال په عامومسنجدونواو لمنخونوکي شوی ؤ.ددي متعلق دسوالونوکثرت ؤاحقردحضرت قدس سره دفتوی مطابق هغه مفسددلمانځه لیکلو،حضرت مولنا شبیراحمدصاحب عثماني رحمه الله اگرکه داحقراستاذمربی ؤمگرد ډیری تواضع سره بي کاراحقرته وسپاره په دي مسئلی کي اگرکه دهغه اختلاف ؤمگرداختلاف اظهارني نه کولوځکه چه په هرحال داحتیاط تقاضه همدي کي ؤچه په لمانځه کي هغه استعمال ونشی کولي تردی پوري چه په حرمین شریفین کي ددي آلي استعمال په ټولولمنځونوکي شروع شو،اودعالم داطرافونه دسوالونوسلسله بنده شوه اوس یوازی داسوال پاتي شوچه خلک احتیاطا ددینه منع کولی شي بلکه دلکونو مسلمانانودلمانځه دصحت اوفسادمسئله جوړه شوه خصوصاً هغه لمونځ کوم چه په لوی مشکل سره کوم خوشنصیب ته په حرمینوکي په نصیب کیږي دغه وخت موصوف مولاناماته وفرمایل چه اگرکه څماپه نزددلمانځه دفسادحکم مخکی هم صحیح نه ؤدکومي اطلاع چه ماهغه وخت ورکوله،لاکن په دی پوهی سره مي داختلاف اظهارنه کولوچه په هرحال په لمانځه کي ددي آلي استعمال په کومه درجه کي هم ضروري خونده اواحتیاط په اجتناب کي ده نوسکوت مي بهتر وګڼلومگر ددي ابتلاء نه وروسته دمسئلي اړخ بدل شواوس داد کروړونومسلمانانودلمانځه دصحت اوفسادمسئله جوړه شوه لهذا اوس زه په دی کي احتیاط نه گڼم چه مفسددلمانځه ئي نه گڼم محض احتیاطی طورباندی دهغه دلمانځه د مفسد ویناسره اتفاق کوم لهذا اوس ضروری شوه چه په دی مسئلي باندی له سره نظرواچول شی د لمانځه دفسادحکم په دوه څیزونوباله ؤ اول داچه ددي آلي آوازبعینه دامام آوازنده بلکه دهغه نقل اوحکایت ده دوهم داچه دلمانځه په حالت کي دداسي څااتباع چه په لمانځه کي شریک نه وي دلمانځه مفسد ده،موصوف مولناته په دی دواړوجزئیوکي اشتباه اواختلاف ؤ اوله مسئله خودسائنس مسئله ده دکومي چه ددي دماهرینونه حاصلول ؤ،دوهمه مسئله خاصه فقهیه وه لکه چه وویل شول چه داولی مسئلي متعلق درادیواوصوتیاتوماهرینوته سوالونه رسیدلی دی اودوهمي مسئلي کي څوورځوپوري دخپل مینځی بحث اوتمحیص سلسله جاری وه،ددي بحث او تمحیص په دوران کي ماته داانداژه وشوه چه په فقهي طورپه دی معاملی کي فساددصلوة حکم دومره واضح او جلی نده چه په هغه کي دنورونظریات وغورځول شی،خوتراوسه پوري کوم جانب ته شرح صدرنه ده شوی اوډیر وخت مسایل دغه بحث بیا په التواء غورځولي دي،ماپه دی دوران کي دخپلی فتوی دلمانځه دفسادحکم دلیکلوپه ځای

دالیکل شروع کړل چه په لمانځه کې دی ددې نه اجتناب وکولې شی اوافسوس چه په همدې دوران کې ناڅاپه دسلفوبوآخرې یادګارهم په صفر ۱۳۲۹ھ کې خمونږ نه رخصت شو،دغی حادثې پاتې تلې همت هم مات کړ،بیادغه مسئله په التواء کې وغورځیده مګردغه وخت کې چه کوم اصول اوجزئیات فقهیه دبحث لاندې راغلل اوهغوسره په مسئلې کې دګنجایش اړخ په نظرکې راغی هغوته په کتلوسره دابتلاء عام په زمانه کې دلمانځه دفساد حکم کولوسره دلکونومسلمانانو لمانځه ته دفسادوبناکولوکې کوم اړخ داحتیاط پاتې نشو مګراوس هم دجوازصلوة حکم په خپلې بوازې رائې سره دلیکلوهمت نه ؤتردې چه کومومحکموته چه ددې آلې داوازمتعلق سوالونه رسیدلی ؤدهغه ځای نه په متفق ډول داخواب میلاوشوچه ددې آلې آوازبعینه دمتکلم امام دی،دغه تحقیق دفسادلمانځه دحکم اساس وران کړنودغه وخت احقرپه شعبان ۱۳۷۲ھ کې دالله تعالی په نامه په دې موضوع باندې یوه جدیده رساله مرتبه کړله په کومه کې چه دالیکل شوی دي چه په لمانځه کې ددې آلې په استعمال باندې دیرمفاسدراپیښیدل دغوعوارضو او مفاسدوته په کتلوسره په لمانځه کې ددینه اجتناب کول پکاردي لکن که په کومې وجهې سره په لمانځه کې استعمال کړی شی نولمونځ به فاسدنه وي،ددې غوراوفکرپه زمانه کې داهم په سوچ کې پاتې شوچه که نن حضرت قدس سره په دنیاکې تشریف فرماوی اودغه عامه ابتلاء بې مشاهده کړې وای دافقهې توسع به هم په مخې نه راتله کوم چه اوس د بحث اوتمحیص نه وروسته راغلی ده. خصوصاً کله چه دآوازماهرینوهم هغه نه بعینه دمتکلم آوازویلې دی نوآیاهغه به خپله سابقه فتوی باندې ولاړپاتې کیږی یادخپل هغه خدای اوحق پرستی اودعوامولپاره دسهولت په نظرکې ساتلوسره کوم چه ټول عمر د هغو په فتاوی کې بې دترجیح الراجح په عنوان سره مشاهده کیږی تاسوخپله فتوی بدلوی ماته دخپل ناقص غوراوفکر او د حضرت قدس سره دذوق څومره برخه حاصله وه هغه مداخواب ورکړچه دغو حالاتوکې به ضرورحضرت قدس سره دفسادلمانځه فتوی نه رجوع فرمایله مګرداوخت هم یوازې په خپلی رائې باندې مې اعتماد ونکړ د رسالې مسوده مې داشاعت نه وړاندې دارالعلوم دیوبند مظاهرعلوم سهارنپور،خیرالمدارس ملتان، جامعه اشرفیه لاهورتندو الیهاسند و غیره مرکزی مدارس ته اسْتولوسره دهغو ځایونوعلماؤته مې رجوع وکړله په مصرکې ددغه وخت علامه زاهدکوثرې ژوندې ؤ کوم چه په خپل وخت کې دفقهه حنفی امام ګڼل کیدودهغه خدمت کې مې سوالونه ورسول موصوف په پوره یقین سره دجوازصلوة فیصله وکړله ددارالعلوم دیوبندټولومشرانوپه کوموکې چه دټولونه ړومبی د

لمانځه دفساددفتوی لیکونکې حضرت مولنامدنی قدس سره هم شامل ؤدخپلی سابقه فتوی نه رجوع کولوسره داحقردتحریرسره یې پوره پوره اتفاق وکړ،دمظاهرعلوم سهارنپورعلماؤد بعض اجزاوسره د اختلاف باوجوددلمانځه دفساددحکم نه یې رجوع وکړله؛په همدې ترتیب نورودینی مراکزونه هم په داسې ترتیب خوابونه راورسیدل دغه وخت احقر دغه رساله شائع کړه،درسالې داشاعت نه وروسته دځو علماؤلخوا ددې خلاف څه تحریرونه راورسیدل هغوته په کتلوسره په رساله باندې له سره نظر کولواودمزیدفقهې تحقیق سره په محرم ۱۳۸ھ کې دارساله بیاشائع شوه په کومه کې چه دمسئلې پوره تاریخ هم شته اودخپل علم اوبصیرت تر حده پورې تحقیق هم کوموحضراتوته چه تحقیق مطلوب وی دغه رساله دې وګوری ددې رسالې په آخر کې یوه خبره لیکل شوې ده هغه دلته بیاهم اعاده کوم چه داکوم څه چه لیکل شوی دی دخپلو نانامو معلوماتو او ناقصی رائې نه مې لیکلی دی که نوراکابرینو یې تصدیق نه وی فرمائلی نوداشاعت همت به نه ؤ مګردې عاجزبنده په اندازه دطاقت سره خپل کوښښ خرڅولوسره سترې شوی کوموحضراتوته چه ددینه اطمینان نه وی هغه دې نورو علماؤته رجوع وفرمایی

والله المستعان وعلیه التکلان

بنده محمد شفیع عفا الله عنه

کراچی نمبر ٥/ ١٥ / صفر ١٣٨٢ھ

☼ ☼ ☼

ترجمه : الحاج مولوی سیف الرحمن

کمپوزنګ : اسد الرحمن